د فیضانِ سنت د دریم جلد یو باب



# د نمونځ فیضان

- د جمعې فضیلتونه
- په خشوع او خضوع سره د نمونځ ادا کولو فضائل
- د نمونځ نهٔ کولو عذابونه
- د نمانځه د عاشقانو 86 حکایات


شیخ طریقت، امیر اهل سنت، باني دعوت اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الیاس عطار قادري رضوي دامت برکاتهم العالیه

# ياد داښت

د مطالعې په دوران کښې ضرورتاً کرښه لګوئ، اشارو ليکلو سره صفحه نمبر نوټ کوئ. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم په علم کښې به مو ترقي کيږي

| عُنوان | صفحه | عُنوان | صفحه |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |

| عُنوان | صفحه | عُنوان | صفحه |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |

**نمونځ د مومن معراج دے۔** (مرقات ج1ص55)

په مخ به يــې وي نُور چې کوي څوک نمونځونه
جنت نه به وي لرې چې څوک نهٔ کوي نمونځونه

# د نمونځ فيضان



| | | | |
|---|---|---|---|
| د نمونځ کولو ثوابونه | 02 | د سجدې فضائل | 287 |
| د پينځهٔ نمونځونو فضائل | 92 | خُشُوع او خُضُوع سره د نمونځ کولو فضائل | 316 |
| جَمعې سره د نمونځ ادا کولو فضائل | 153 | د نمونځ نهٔ کولو عذابونه | 470 |
| د جومات فضائل | 260 | د نمونځ د عاشقانو 86 حکايتونه | 518 |



شيخ طريقت اميرِ اهلِ سُنَّت حضرتِ علامه مولانا ابو بِلال

**محمد اِلياس عطّار قادري رَضَوِي** دامَت بَرَکاتُهمُ العاليه

چاپ کوونکے: مکتبةُ الْمدينه کراچۍ

www.dawateislami.net

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د کتاب نوم : **د نمونځ فیضان**

مؤلف : شیخِ طریقت، امیرِ اهلِ سُنَّت، باني دعوتِ اسلامي حضرت علامه مولانا

**ابوبلال محمد الیاس عطار قادري رضوی** دامت برکاتہم العالیہ

په وړومبي ځل : ----------------------------------------------

شمیره : ---------------------------------------------------------------

ناشر : مکتبةُ المدینه، عالمي مدني مرکز فیضانِ مدینه کراچی۔

## د مکتبةُ المدینه بعضي ځانګي

01 ❁ کراچی: فیضانِ مدینه زړه سبزي منډی | فون: UAN92 26 25 111 21 92 +

02 ❁ لاهور: داتا دربار مارکیټ ګنج بخش روډ | فون: 92 312 4968726

03 ❁ فیصل آباد: امین پور بازار | فون: 041-2632625

04 ❁ میرپور کشمیر: فیضانِ مدینه چوک شهیداں میرپور | فون: 05827-437212

05 ❁ حیدر آباد: فیضانِ مدینه آفندي ټاؤن | فون: 022-2620123

06 ❁ ملتان: نزد پیپل والي مسجد اندرون بوهړ ګیټ | فون: 061-4511192

07 ❁ راولپنډی: فضل داد پلازه کمیټي چوک اقبال روډ | فون: 051-5553765

08 ❁ نواب شاه: چکرا بازار نزد MCB بینک | فون: 0244-4362145

09 ❁ سکهر: فیضانِ مدینه، مدینه مارکیټ بیراج روډ | فون: 0310-3471026

10 ❁ ګوجرانواله: فیضانِ مدینه شیخوپوره موړ | فون: 055-4441616

11 ❁ ګجرات: مکتبةُ المدینه فواره چوک | فون: 0333-6261212 / 053-3512226

**عرض: بل چا ته د دې کتاب د چاپ کولو اجازت نشته دے۔**

# مختصر فهرست


| عُنوان | صفحه | عُنوان | صفحه |
|---|---|---|---|
| د نمونځ کولو ثوابونه | 02 | د سجدې فضائل | 287 |
| حُضُور ﷺ تقريباً 20 زره نمونځونه ادا کړي وو | 02 | د سجدې اندامونه به د دوزخ د وور نه محفوظه اوسي | 303 |
| د ځمکې نه دِينارونه راوِيستلو والا نمونځ گزاه (حِکايت) | 10 | څۀ چې هم اوغواړئ حضور ﷺ يې عطا کوي | 305 |
| د نمانځۀ په ذريعه د جِسماني او روحاني بيمارو نه د شفا وغيره مُتَعَلِّق 21 مَدَني گلونه | 27 | زيرے اوريدلو باندې سجده کول سُنَّتِ مُستَحَب دي | 307 |
| د بالغ اولاد اصلاح کله واجب ده؟ | 60 | خُشُوع او خُضُوع سره د نمونځ کولو فضائل | 316 |
| ځمکه او آسمان ولې ژاړي؟ | 71 | په نمونځ کښې ظاهري او باطني خشوع څه ته وائي؟ | 319 |
| د پينځۀ نمونځونو فضائل | 92 | خُشُوع و خُضُوع سره د نمونځ نۀ کولو نُقصانات | 362 |
| د تَهَجُّد يا سحر د پاره د پاځيدلو نُسخه | 99 | د صحابه عظمت او شان د قرآن نه | 370 |
| مړي ته قَبر کښې داسې ښکاري لکه نمر چې پريوتو والا وي | 117 | د هر حرف په بدله کښې 100 نيکئ | 416 |
| د رزق تقسيميدلو وختونه | 118 | سُوۡرَةُالزِّلزال مع ترجمه و تفسِير | 451 |
| د نمونځونو د نومونو وجه | 125 | په نمونځ کښې د خشوع پيدا کولو 27 مدني گلونه | 466 |
| وړومبي اذان کيدو سره کاروبار هم ناجائِز | 148 | د نمونځ نۀ کولو عذابونه | 470 |
| د خطبې 7 مدني گلونه | 149 | د بيلمانځه 15 سزاگانې | 476 |
| جُمعې سره د نمونځ ادا کولو فضائل | 153 | تور ماريې څُله خوړله! (حِکايَت) | 485 |
| د جُمعې فرض نمونځ په يو نظر کښې | 155 | نمونځ نۀ کول د بې بَرَکتئ سبب دے | 494 |
| جُمعې سره د نمونځ کولو 11 حِکمتونه | 174 | خوک چې ښخ نۀ کړے شي نو آيا په هغه به هُم عذاب وغيره کيږي؟ | 512 |
| د جُمعې جُدا جُدا 30 مدني گلونه | 182 | په ځوانئ کښې د توبه کولو انعام | 515 |
| د جُمعې نمونځ له جومات ته د تللو 30 نيّتونه | 188 | د نمونځ د عاشقانو 86 حکايتونه | 518 |
| نظر ښکته ساتلو سره زړۀ پاک کيږي | 191 | د وادۀ په وړومبي سحر هم په جُمعه کښې حاضري (حکايت) | 520 |
| د وړومبي صف فضيلت | 215 | نيکئ پټولو کښې خير دے | 546 |
| د جومات فضائل | 260 | څلويښت کاله ترينه جُمعه نۀ وه تلې (حکايت) | 550 |
| جومات کښې د ناستې 5 نيتونه | 268 | ازمرې خبرې وکړې! (حکايت) | 564 |




www.dawateislami.net

| عُنوان | صفحه | عُنوان | صفحه |
|---|---|---|---|
| په جومات کښې چنده ورکوونکي دپاره په جنّت کښې کور | 271 | خوشحالي وکړم که غم؟ | 598 |
| په جومات کښې د خلکو د تکليف سبب جوړيدونکي 40 کارونه | 281 | فيضان سُنَّت نه د درس ورکولو طريقه | 620 |

# فهرست

﴿۱﴾ زوئي يـې پوليس پريښودلو (حِکايت)......... 21
﴿۲﴾ تيز باران وشو.... څنګه؟ (حِکايت)........... 22
﴿۳﴾ چينه جاري شوه (حِکايت)................. 23
د دوه رکعاتو د مُسْتَحَب کيدو موقعې ............ 24
چې کله د تحرير په دوران کښې زلزله راغله (حِکايت)................. 25
بنده په مصيبت کښې رب يادوي او...... 25
نـه د شـفا وغـيره مُتَعَـلِّق 21 مَـدَنـي ګلونه.. 27
کوم نبي کوم نمونځ ادا کړے وو........ 28
د ماسپښين نمونځ ......... 29
د مازيګر نمونځ ......... 29
سَل کاله پس دوباره ژوندے کړے شو (حِکايت).. 29
د ماښام نمونځ ......... 30
دَ ماسخوتن نمونځ......... 30
نمونځ دَ جنَّت کنجي ده......... 30
د کنجئ غاښې......... 31
هر مسلمان جَنَّتي دے ......... 31
اوداسه کښې کيدونکي بعضې غَلَطئ ......... 32
که يو اسلامي ورور هُم کوشش وکړي نو... ......... 33
نمونځ نُور دے ......... 35
د سَجدې نښه به پل صِراط باندې د بيتړئ کار کوي......... 35
نمونځ د دِين ستن ده ......... 36
څليدلي مخونه......... 36
د جنتونو دروازې برسيره کيږي ......... 37
د عرش فرښتې د مسلمانانو د پاره بخښنه غواړي . 38
د دې کتاب د لوستلو 12 نيّتونه"زمونږ احمد رضا" د دولس حروفو په نسبت......... 1
د نمونځ کولو ثوابونه......... 2
د دُرُود شريف فضيلت......... 2
حُضُور ﷺ تقريباً شل زره [20000] نمونځونه ادا کړي وو ......... 2
نمونځ په چا فرض دے؟......... 3
د نمانځهٔ مختلف 25 فضائل ......... 5
د نمانځهٔ د وختونو د خيال ساتونکي فضيلت ...... 8
د څمکي نه دِينارونه راوِيستلو والا نمونځ ګزاه (حِکايت)......... 10
ارکانِ اسلام پينځهٔ دي ......... 13
اُمَّتِ مُصطَفیٰ سره د مُوسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام همدردي.... 14
پينځهٔ نمونځونه کوئ او د پنځوسو ثواب حاصلوئ......... 15
مُوسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام مدد وکړو......... 15
د لوبو شوقي ......... 16
په صبر او نمانځهٔ سره مدد اوغواړئ ......... 17
چې کله به په بارګاهِ رِسالت کښې لوَړه حاضره شوه......... 18
چې کله د زوئي د وفات نه خبر شو (حکايت) ...... 18
د جومات هوا د ايمان صحيح کولو د پاره فائده منده ده ......... 19
په څنکدن کښې د خوږ مُصطَفیٰ ﷺ د دِيدار خوندونه......... 20


www.dawateislami.net

﴿٤﴾ د پئيو ماشومان هُم د عذاب لرې اوسيدو سبب دي ........................................ 56
﴿٥﴾ سلو کورونو نه مصيبتونه لرې.................. 56
د جَنَّتي ګلاب نه پيدا شوې حُورې ................... 57
ماشوموالي نه يې د نمانځۀ عادت جوړ کړئ ...... 58
ماشوم ته د ټولو نه مخکښې دِين زده کړئ ......... 59
باکرامَته پلار او زوئي (حِکايت) ........................ 60
په هر قدم باندې نيکي او د درجې اوچت والے..... 61
ماشوم سکروټو سره لوبې کولې ......................... 61
د حاجت پوره کولو عظيم الشّان فضيلت........... 62
د سَيلونو د پاره وخت شته خو د نمانځۀ د پاره وخت نشته ........................................... 64
مَدَني چينل نمونځ ګزاره جوړ کړو.................. 64
د الله احسان دے د دوو رکعاتو توفيق نصيب کيدل ........................................................ 66
دا د چا قَبْر دے ........................................... 66
د جَنَّت په مقابله کښې دوو رکعاتو ته ترجِيح...... 67
زما د پاره د دُنيا ټولو څيزونو نه ښۀ دوه رکعاته (حکايت)............................................... 67
د قَبْر خوا ته اُودۀ کس خوب اوليدو................. 67
عجيبه خواهش (حکايت)................................ 68
د مړ کيدونکي په نظر کښې د اعمالو قدر ....... 68
نمونځ کولو نه پس په هُم هغه ځائے د ناست اوسيدلو فضيلت....................................... 69
د ځمکې د حِصّو بزرګي ................................ 70
جَمعې نه پس شا ته تلونکو د پاره دوه نِيَّتونه ...... 70
ځائے په چا پسې ژاړي .................................. 71
د آسمان دروازه ژاړي................................... 72
يولا کهِ فرښتې ............................................ 39
د فرښتو د تَعَجُّب کولو 9 وجهې...................... 39
نمونځ د ګناهونو نه منع کول کوي.................... 40
صرف صحيح نمونځ د ګناهونو نه بچ کول کوي... 41
رُکوع و سَجُود صحيح ادا کوئ!........................ 41
الله پاک کوم نمانځۀ ته د رَحمت په نظر نۀ ګوري.. 43
د ملا نه نيغولو والا مثال................................ 43
تذکرۀ مولٰی علي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ ............................. 43
د مولٰی علي رَضِیَ اللهُ عَـنۡهُ شان په ژبه د نبِيِّ غيب دان ﷺ........................................................ 45
تۀ زما نه يې ............................................... 45
علي ته کتل عبادت دے .................................. 46
د مَولٰی علي نور درې فضائِل .......................... 46
وفات شريف ............................................... 46
صرف پوره نمونځ قبليږي .............................. 48
رزق کښې د تنګئ خطره ............................... 48
آخر د نمونځ ګزاره اصلاح وشوه ...................... 49
که غل هُم صحيح نمونځ وکړي نو اصلاح يې کيدے شي..................................................... 49
د يو عاشِقِ مجازي عجيبه حکايت ..................... 50
شيطان په ژړا شو (حکايت) .............................. 52
يا الله مونږه پاخه نمونځ ګزاره جوړ کړې............ 52
زۀ دعوتِ اسلامي کښې څنګه شامِل شوم!......... 52
د نمانځۀ ډير زيات خيال ساتئ ........................ 54
د نيکو بندګانو په خاطر مصيبتونه لرې کيږي .... 55
﴿٢﴾ د څلويښتو ابدالو په بَرَکت باران ................ 55
﴿٣﴾ زۀ چې کله د عذاب ورکولو اِراده کووم ...... 56

د سحر د نمانځهٔ پابندي څوک کولے شي ......... 95
رحماني او شيطاني ډله ......... 96
د شيطان درې غوټې لګول ......... 96
د سحر د وخت د مزيدار خوب سبب ......... 96
و خت شروع کيدو سره سمدستي د سحر سُنَّت
ادا کول بهتر دي......... 97
د پريشانۍ په حالت کښې سحر کوونکے څوک
دے؟ ......... 97
شيطان ورته په غوږ کښې متيازې کړې دي....... 98
د تَهَجُّد يا سحر د پاره د پاڅيدلو نُسخه ......... 99
پاڅيدلو د پاره الارم ولګوئ ......... 100
خوب کښې د کمي راوستلو طريقې......... 101
دوه ځله يې جَنَّت په بيعه واخستو ......... 104
د جُمُعې د سحر د جَمعې خُصُوصي فضيلت ...... 105
د نبي ګمان د يقين برابر وي ......... 105
د جَمعې سره د کولو عظيم الشّان فضيلت ........ 106
د رسالو بَرَکت ......... 106
د فرښتو د بدليدلو وختونه ......... 107
هر بالِغ سره 62 فرښتې ......... 108
د سحر او مازيګر نمونځ کوونکي به جَهنَّم ته نهٔ
ځي......... 109
د سحر او مازيګر د فضيلت حِکمت ......... 109
د پروردګار 100 ځله ديدار......... 112
د دوه هومره اجر د وجوهاتو مَدَني ګلونه ......... 114
د مازيګر نمونځ د پريښودو عادت لرونکي
باندې د کفر انديښنه ......... 115
څلويښت مِنټه مخکښې تياري (حِکايت) ......... 115
اهل و عيال او مال يې برباد شو......... 117
نمونځ ګزاره ښځه او مهے (حکايت)......... 73
مدني چينل ما ته اودس رازده کړو......... 74
د يو صاحِب نه چې کله ګناه وشوه ......... 75
د صغيره ګناهونو د پاره کفّاره جوړيدونکې
بعضې نيکۍ ......... 76
څلور فرامِينِ مُصطَفیٰ ﷺ......... 76
حضرتِ عُثمان اودس [چار اندام] وکړو او ويې
فرمائيل ......... 77
حضرت عيسیٰ عَلَيۡهِ السَّلام او خِيرنه مرغۍ ......... 78
ګناهونه داسې رژيږي لکه......... 79
د پَردۍ وَنې د پاڼو څنډلو مسائل......... 80
نمانځهٔ نه فارغيدو سره سمدستي ګناهونه معاف
کيږي ......... 80
دوه رکعاته کولو سره ټول صغيره ګناهونه معاف ... 81
کوم ګناهونه يې چې کړي وو د نمانځهٔ په بَرَکت
معاف ......... 81
د لوښو نه به يې بَرَکتونه اخستل ......... 83
دُعائے مُصطَفیٰ......... 84
با کمال وفات......... 84
د مزار شريف بَرَکت......... 85
﴿4 فرامِينِ مُصطَفیٰ ﷺ﴾ ......... 86
د مَولیٰ دروازه ډبول......... 87
اويا زره فرښتې ورپسې شا ته نمونځ کوي ......... 88
د اووۀ واړو آسمانونو د فرښتو د شمير هومره
نيکۍ ......... 90
د دُرُود شريف فضيلت......... 92
په پينځۀ نمونځونو کښې د فضيلت ترتيب ......... 92
د سحر نمونځ کوونکے د الله په ذِمّه......... 95

په رِزق کښې د تنګئ یو سبب ........ 131
فرښتې د خوش نصیبو نومونه لیکي ........ 132
شرحِ حدیث ........ 132
په اوله صَدئ کښې د جُمُعې جذبه ........ 132
د غریبانو حج ........ 133
د جُمُعې د پاره وختي وتل حج دے ........ 133
د حج او عُمرې ثواب ........ 133
د ټولو ورځو سردار ........ 134
د ځناورو د قیامت نه ویره ........ 134
دُعا قبلیږي ........ 134
د مازیګر او ماښام تر مینځه یې اولټوئ ........ 135
د صاحبِ بهارِ شریعت اِرشاد ........ 135
د مُور و پلار قبر ته د "سُورة یٰسٓ" لوستلو فضیلت 143
د "سُورةُ الْـكـهْـف" فضیلت ........ 144
د "بِسْمِ الله" د اووه حروفو په ........ 149
نِسبت د خطبې اووه مَدَني ګلونه ........ 149
هغه دعوتِ اسلامي ته څنګه راغلو ........ 150
د دُرُود شریف فضیلت ........ 153
خوږ آقا ﷺ او جَمعې سره نمونځ (حِکایت) ........ 154
مونږه هُم ډیر ښهٔ عاشِقانِ رَسُول یُو! ........ 154
د جَمعې سره فرض نمونځ په یو نظر کښې ........ 155
د جَمعې د نمانځهٔ اَهَمِّیَّت ........ 156
الله پاک ته ګران خلک ........ 157
د جَمعې د نمانځهٔ نه پس دُعائے حاجت قبوله ده. 157
پینځهٔ ویشت درجې افضل ........ 158
اووه ویشت (27) درجې افضل ........ 158
بهر مُلک ته تللو د پاره تیار وي خو ........ 158
د پرهیزګارو د پاره ثواب ډیر او د نورو د پاره کم 159
د وَتْر مطلب ........ 117
مړي ته قَبْر کښې داسې ښکاري لکه نمر چې
پریوتو والا وي ........ 117
اے فرښتو سوالات وروسته وکړئ ........ 117
د رزق د تقسیمېدلو وختونه ........ 118
د دې حدیث نه درې مسئلې معلومې شوې ........ 119
د مازیګر د نمانځهٔ نه پس مه اُودهٔ کیږئ ........ 120
د مازیګر د سُنَّتو مُتَعَلِّق درې فرامِینِ مُصطَفیٰ ﷺ 120
د مقبول حج او عُمرې ثواب ........ 121
د حدیث مبارک شرح ........ 123
مُنافِقان د ماسخوتن او سحر نمونځونو ته د
راتللو طاقت نه لري ........ 123
په حدیث کښې کوم مُنافقان مُراد دي ........ 124
د ماسخوتن د نمانځهٔ نه مخکښې اُودهٔ کیدل ........ 124
د ماسخوتن نه مخکښې اُودهٔ کیدل مکرُوه دي ... 125
د ماسخوتن د نمانځهٔ نه پس خبرې اترې ........ 125
د جُمُعې په ورځ د دُرود شریف لوستلو فضِیلت .. 127
خوږ نبي ﷺ ورومبئ جُمُعه کله ادا کړه ........ 128
د جُـمُعَه معنیٰ ........ 128
سردارِ مدینه ﷺ تقریباً 500 جُمُعې ادا کړې دي 129
درې جُمُعې چې د سستئ په وجه پریږدي د هغهٔ
په زړهٔ مُهر ........ 129
د اِمامت مُصَلّے ........ 129
د جُمُعې د عمامې [یعنې پټکي] فضِیلت ........ 130
د الله پاک او د فرښتو د دُرُود لیږلو معنیٰ ........ 131
یوه جُـمُعه د 70 جُـمُعو برابره ........ 131
شِفاء داخلیږي ........ 131
لس ورځې د مصیبتونو نه حِفاظت ........ 131

د نیکۍ د دعوت عظیم الشّان فضیلت............ 172
ما ته نوے ژوند مِلاؤ شو......................... 173
د جَمعې د نمونځ د یوولسو حروفو په نِسبَت........ 174
جَمعې سره د نمانځۀ کولو 11 حِکمتونه ........ 174
مقبولو بندګانو پسې د شا ته ودریدونکو بخښنه
(حِکایت).................................... 175
ما ویښته ګمنزول.............................. 176
امام چې په هر حالت کښې وي تاسو په جَمعه
کښې شاملیږئ.................................. 176
آه صرف د دُنیوي تعلیم تپوس ........................ 177
د یو نابِینا حِکایت ......................... 178
په نابینا باندې جَمعه واجِب نه ده .............. 178
د یو نابِینا صحابي تپوس کول (حکایت) ......... 178
د نابینا د پاره د جَمعې سره نمونځ کول غوره دي . 179
اوس اکثره مدینه د موذیاتو نه پاکه شوې ده...... 179
راځئ چې وکړو په شریکه ذِکرِ مدینه ......... 179
مدینه به خلک پاک او صفا کوي................. 180
مدینے ته یَثرِب وئیل ګناه ده.................... 180
د جَمعې معاف کیدلو 20 مجبوریانې................ 181
جَمعه په چا واجِب ده؟........................... 182
په زنانه جَمعه واجِب نۀ ده........................ 182
اِمام نه مخکښې رُکوع یا سجده کښې تلل ....... 185
د بدې خاتِمې د ویرې.............................. 191
چې یوه جَمعه ختمه شوې وي نو بیا ................ 192
د 26 درجې ثواب صَدَقه........................ 192
اسلامي خویندې او جَمعه.......................... 193
جوماتونه د صفا ساتلو مُتَعَلِّق درې اَحادِیث ..... 195
قیمتي [یعني ګران] لباس کښې نمونځ........... 196
یو بُزرګ فرمائي .................................... 159
چې جَمعه ترینه لاړه نو هُم هغه نمونځ یې 25
ځله وکړو (حِکایت) ................................ 160
د اٰمِین معنٰی...................................... 160
د دعوتِ اسلامي والؤ مَدَني انداز یې چې ولیدو
نو مُتأَثِّره شو ......................................... 161
د جَمعې قضا کیدلو اووه (7) ورځو پورې غم .... 162
جَمعه قضا کیدو باندې بل نمانځۀ پورې عبادت. 162
که جَمعه به ترینه لاړه نو ژړل به یې............ 163
صحابۀ کرامو به قَصداً جَمعه نه پریښودله ........ 163
رکعت حاصلولو د پاره په اوداسه کښې رِعایت... 163
د اذان د آواز سره سمدستي جومات ته داخلیدل 164
جومات طرف ته کړکۍ جوړه کړئ................ 164
د مُرِید د کور روشن دان (حکایت)............. 164
د اعلٰی حضرت د جَمعې د نمانځۀ جذبه............ 165
د جَمعې د نمانځۀ عجیبه جذبه ...................... 166
حضرتِ عبدُالله اِبنِ عُمر ولیدل چې... (حکایت)166
د پینځۀ وخته نمانځۀ د جَمعې فضیلت ............ 167
تذکره حضرتِ عُثمان بِن مَظعُون رَضِیَ اللهُ عَنهُ...... 167
عبادت او ریاضَت ................................. 168
وفات مبارک..................................... 169
په قَبْر یې نښه ولګوله ............................... 169
د حجِ مَبرُور ثواب ................................... 170
حجّ مَبرُور کوم حج ته وائي؟ ........................ 170
د ماسپښین د جَمعې فضیلت.......................... 171
د سحر او ماسخوتن فضیلت .......................... 171
د پوره شپې د عبادت ثواب ......................... 172
د حدیث پاک تشریح ............................... 172




www.dawateislami.net

په جنازه کښې کوم صف افضل دے؟............ 225
شیطان د ګډې د بچي په شان.................. 225
شرح حدیث .......................................... 226
د خپلو ورونړو په لاسونو کښې نرم شئ........... 226
د ګډې او چیلۍ بچي .............................. 227
حُضُور ﷺ به صفونه سَمول ....................... 227
حُضُور ﷺ زمونږه نمونځونه وِیني ................ 228
د صف برابرولو نه مُراد ........................... 228
صف نۀ برابرول ګناه ده............................ 228
د صف برابرولو درې عظِیمُ الشَّان فضائل........ 229
که مخکښې صف کښې ځائے خالي پاتې شي نو
څه وکړي؟ ......................................... 229
د وړومبي صف والؤ مُتعَلِّق معلوماتي سوال جواب230
د نیکئ اِیثار کولو مُتعَلِّق یو سُوال .............. 231
پوهه ماشوم د نمانځۀ په دوران کښې شا ته کول
ظُلم دے............................................ 232
د غټو په صف کښې د ماشومانو مسئله.......... 233
د لوبو د میدان نه د عِلمِ دِین په لویه لاره ......... 233
ښي طرف ته زیات ثواب دے ......................... 234
د ښي طرف د فضیلت سبب......................... 235
دوه هومره ثواب کله................................ 235
د ښي طرف په مقابله کښې د ګڅ طرف د افضل
کیدلو صورت...................................... 236
د اِمام د فرض نمانځۀ نه پس تاویدل سُنَّت دي ..... 236
د اِمام په تاویدلو کښې حِکمت ...................... 237
د سلام نه پس نه تاویدونکے اِمام تارِک سُنَّت شو 237
د جمعي نه پس مُقتدیانو د پاره یو مُستَحَب کار ..... 238
اعلیٰ حضرت به نمانځۀ د پاره ښۀ لباس اغوستلو. 196
خـیرن لباس کښې نمونځ کول مناسب نۀ دي... 196
ګناهونه به یې اُوبخښلے شي ........................ 197
د فرښتو دُعا حاصلولو د پاره هُم هلته پراته اوسئ203
د لرې نه راتلو والا د پاره زیات ثواب ............ 206
د سُستو خلکو د پاره کور د جومات خوا ته ښۀ
دے ................................................ 207
په نمونځ ګزارو کښې لیکلے کیږي.................. 210
د څلویښت د عدد صفتونه............................ 212
تَکبِیرِ اُولٰـی څه ته وائي؟ ............................ 213
تَکبِیرِ اُولٰـی اَو مفتي دعوتِ اسلامي ................. 213
فرښتې پرې دُرُود لیږي............................... 214
د صفونو یو ځائے کولو او دُرُود لیږلو مطلب ..... 214
د وړومبي صف فضیلت ............................. 215
په نیکو کښې وړاندې کیدلو د پاره اختلاف هُم
عبادت دے!.......................................... 215
مؤذِّن صاحب چې کله شهید شو... (حکایت) .... 216
د جومات د مؤذِّن صاحب مسئله.................... 216
د قُرعه اندازۍ طریقه ................................ 216
درې انبیاء سره د قُرعه اندازۍ معامله پیښه شوې
ده................................................... 217
حضرتِ یُونُس عَـلَیْـهِ الـسَّلَام او قُرعه اندازي . 217
د عذاب لرې کیدلو دُعا.............................. 219
د مهي په خیټه کښې ................................. 219
حضرت زَکریّا عَـلَیْـهِ الـسَّلَام او قُرعه اندازي. 221
سرکارِمدینه ﷺ او قُرعه اندازي .................. 222
آیا د هر قِسمه قُرعه اندازي سُنَّت ده؟............. 223
یو بیان یې ژوند بدل کړو .......................... 223

په فضائلو باندې پينځۀ فرامِينِ مُصطَفیٰ ﷺ ....... 254
وفات شريف ........................... 254
ماشومانو به هريسه او د مال سرونه او ښيې
خرځولې.................................. 256
که د جَمعې تللو د نقصان نه خبر وے نو...... ....... 257
داسې توفيق کړې را عطا يا اِلٰهي ............ 258
”د غُسل طريقه“ رساله د لوستلو بَـرَکت ............. 258
د درود شريف فضيلت ............................. 259
جوماتونه به جنّت ته ځي ............................. 259
د جومات د عادت لرونکي د ايمان ګواهي ورکړئ 259
دجومات ابادولو مطلب ............................. 260
زوئې ته جومات سره د مضبوط تعلق ساتلو تلقين.. 261
په نور کښې پټ سړے (حکايت) .................... 261
د سپين اوبښ په مثل جوماتونه ....................... 261
د درې کسانو ضامِن الله دے........................ 262
جومات د شيطان نه د بچ کيدلو يوه مضبوطه قلعه ده262
الله پاک ورله ميلمستيا تياروي ........................ 263
د عرش سورې والا ........................................ 263
د جومات نه لرې کيدل نه خوښوي ..................... 263
مؤمن په جومات کښې داسې وي لکه مهے چې په
اوبو کښې وي ................................................ 264
د الله خوښ بنده ............................................ 264
د خپل خوښ جوړولو مطلب ............................ 264
الله والا څوک ؟ ................................................. 265
په جومات کښې خبرې کول ............................. 265
د ځلوېښتو کالو اعمال برباد.............................. 265
لکه څنګه چې ځناور واښۀ خوري ...................... 265
د جومات تعظيم کوونکي دوه بزرګان ................. 266
اِمام پسې رسا شا ته کس د پاره د سلو نمونځونو
ثواب ............................................................ 238
د ټولو نه مخکښې رحمت په چا نازليږي ............. 239
د وړومبې صف والؤ نه دوه هومره اجر ............. 239
د دوه هومره اجر شرط ...................................... 239
که مخکښې صف کښې خلا اُووِيني نو..... ............. 240
د امام د پاره يو سُنَّت ........................................ 240
په زړونو کښې اختلاف.................................... 240
چرته مخونه مو وران نۀ شي!............................. 241
د صفونو سيده کولو طريقه ................................. 242
په ساګانو باندې شيطان سوَرِي! د چا؟ .............. 244
صف کښې يو بل سره د جوخت ودريدلو فضيلت . 244
په صف کښې بيګ وغيره ايښودل...................... 244
د وړومبې صف نه شا ته پاتې کيدونکي ............. 247
د نمانځۀ اثر په هره نيکئ پريوځي..................... 247
په سر تورې نمونځ کول .................................... 247
د عَملِ کثير معنٰی .............................................. 248
په انغښتو لستوڼو نمونځ کول.......................... 248
د نِيم لِستوني په جامو کښې نمونځ کول څنګه دي؟249
بيلمانځه ګاونډي ته د نمانځۀ دعوت ورکوئ....... 249
نمانځۀ له هُم را اُوځه ...................................... 250
جَمعې له د نۀ راتلونکو معلومات کوئ!............ 251
د عِبرت د پاره جنازه د بيلمانځه کور طرف ته يوسئ!251
فاروقِ اعظم معلومات وکړو ............................ 251
د نفلو په وجه واجِب پريښودل نه دي پکار
(حکايت) ........................................................ 252
د ”يا عُمَر“ د پينځۀ حُروفو په نِسبت د حضرتِ عمر
فاروقِ .......................................................... 254

په سَجْده کښې د دُعـا د قَبولِيَّت ډېر اُمِّيد وي ..... 288
د دُعـا توفيق حاصليدل د سَجدۀ شُکر موقع ده .... 288
چې څنګه پيدا شو سَجْده يـې وکړه ................. 289
د سټيمپ (يعنې د مُهر) ليک (فرضي حکايت) ..... 289
د ''سَـجْـده'' د څـلورو حُـــروفـو په نسبت ...... 290
په سَجْده کښې د دُعا قبليدلو څلور حکايتونه ...... 290
﴿۲﴾ سَجْده کښې د دُعـا کولو نه پس ورته
خلاصے نصيب شو ........................... 291
﴿۳﴾ طعام ورته حاصل شو ....................... 293
حضرت شِبلي په سَجْده کښې دُعـا وکړه (حکايت) 294
هر دِيني او دُنيوي مصيبت کښې اخته کس ليدلو
باندې دا دُعـا لولئ ............................ 295
درې بيمارئ ناخوښه مهٔ ګڼئ ....................... 295
شيطان په ژړا وتښتي............................ 296
دلته کومه سَجْده مراد ده .......................... 296
د سَجْدۀ تِلاوت 14 آداب ........................ 296
حاجت پوره کيدلو د پاره............................ 298
د سندرو شوقي زلـمے د قرآن قاري جوړ شو ......... 299
د سجدو په کثرت درجات اوچتيدل .................. 300
د سُنَّت ادا کولو جذبه ........................... 301
درجه اوچتيدلو او نيکئ ليکلو کښې فرق............. 301
د سَجدې اندامونه به د دوزخ د وور نه محفوظه
اوسي ......................................... 302
غواړه! څه غواړې؟.............................. 302
د حضرتِ رَبِيعه تعارُف .......................... 303
اختياراتِ مُصطَفیٰ ﷺ.............................. 303
اوچتې مرتبې د نفس په مُخالَفت حاصليږي......... 305
په جومات کښې کښيناستل ........................ 266
څادر نه يـې ډبلئ جوړه کړه او ويـې وهل.......... 267
په جومات کښې د ناستې 5 نيتونه .................. 267
په جومات کښې د خندلو عذاب .................... 267
د مسکې کيدلو،خندلو او قهقه لګولو تعريف ....... 268
په جنّت کښې يـې وينم ........................... 268
په جومات کښې چنده ورکوونکي دپاره په جنّت
کښې کور ...................................... 270
د جومات د پاره چنده ورکوونکي به د دوزخ نه
آزادي حاصلوي.................................. 271
ټولو چنده ورکوونکو ته به ثواب ملاويږي ........ 271
د ايمان د حفاظت د پاره يو عمل --- د جمعې سره
نمونځ........................................... 271
په جومات کښې خلکو نه تکليف ورکول......... 275
الله او رسول ته تکليف رسوونکے.................. 275
د خارښ درد ناک عذاب.......................... 276
جومات او د مائيک استعمال........................ 277
(1) په مائيک شبينه ............................ 277
(2) د شپې څلور بجې فون راغـے.................. 277
په اوچت اواز تلاوت کول ........................ 278
د دعوتِ اسلامي دِيني کار او د مائيک استعمال ..... 279
سبب جوړيدونکي 40 کارونه ...................... 280
په جومات کښې تُوکل خطا ده ..................... 283
د دُرُود شريف فضيلت ........................... 286
د بخښنې نُسخه.................................. 286
په سَجْده کښې ډيرې دُعـاګانې کوئ................ 287
د سَجدۀ شُکر د پاره اودس لازمي دے.............. 287
د سجدې په دوران کښې په دُعا کښې کوشش کوئ287

په سَفَرِ آخِرت کښې موافَقَت ........................ 327
وفات شریف ................................ 327
ګناه حلاله ګڼل.......................................... 328
﴿۱﴾...... بیا په ژړا شولو (حِکایت)..................... 328
﴿۲﴾...... یو کس به د جهنم نه زر کاله پس راوځي 328
د ماما اِنفرادي کوشش ............................ 329
د نمانځهٔ په دوران کښې لړم 40 ځله اوچیچلو (حکایت) ............................................ 330
په نمانځهٔ کښې سټرکې پټول د یهودیانو فعل دے .. 331
سټرګې پټول کله بهتر وي ............................ 331
نمانځهٔ کښې د اخوا دیخوا کتلو مسئله ................ 331
لکه تهٔ چې الله وِینې................................ 331
اے ګناه کوونکیه خبردار! الله وِیني ................. 332
"الله د آسمان نه ګوري" داسې وئیل څنګه دي؟ ... 332
د زرو حجونو نه بهتر عمل ........................... 333
د سټرګو د قُفلِ مدینه یوه مَدَني نُسخه ................ 333
د نظر ښکته ساتلو بهترینه طریقه....................... 334
ډیزائن والا څادر کښې نمونځ............................ 335
د لِباس اثر په زړهٔ کیږي................................ 335
ډیزائن والا لباس کښې نمونځ جائز دے............... 336
نوي نعلَینِ شَرِیفَین........................................ 336
د سرو زرو ګوتمه [ګوتئ] ........................... 337
د سرو ګوتمه یې غوزاره کړه (حکایت) ............ 337
د مرغئ د مَحبَّت وَبال (حِکایت) ........................ 337
مرغئ ساتل څنګه دي؟ ................................. 338
صحابي باغ صَدَقه کړو (حکایت)......................... 338
تابِعي باغ صَدَقه کړلو (حکایت) ........................ 339
د دوست د خفه کیدلو ویره خو... ...................... 339
زیرے اوریدلو باندې سجده کول سُنَّتِ مُستَحَب دي ........................................ 306
د سَجْدهٔ شُکر طریقه .............................. 307
سجده کښې یې تندي ته نُقصان ورسیدو ......... 307
نوراني تندے.................................... 308
د رحمت نه ډک حکایت.......................... 308
د څه خوړولو نه بغیر سَجْده کول غوره دي ......... 308
په خاورو خړ تندي فضیلت ........................ 309
د تندي د داغ مُتَعَلِّق د اَعلٰی حضرت "اَقْول" ....... 311
د تَهَجُّد ګزار مخ روښانه شي.......................... 311
د کراټو لوبغاړے څنګه مُبَلِّغ جوړ شو ............. 312
د دُرُود شریف پرچه په کار راغله (حکایت)........ 316
د خُشُوع تعریف..................................... 317
نمانځهٔ کښې "خُشُوع" مُسْتَحَب ده ........................ 317
څلور مختصر حکایات.................................. 318
نمانځهٔ کښې به یې مسلسل اوښکې بهیدلې ..... 319
په نمانځهٔ کښې ظاهري او باطِني خُشُوع څه ته وائي319
نمونځ څنګه پکار دے!................................. 319
جَنَّت واجِب شي......................................... 320
د جَنَّت واجِب کیدلو مطلب ........................... 321
خُشُوع سره نمونځ کول د ګناهونو کفّاره ده......... 321
رُکوع نه مُراد دلته پوره نمونځ دے ..................... 321
بِالقَصْد (یعني اِرادَتاً) ګناه کول........................... 322
د ګناه تعریف............................................. 322
په ګناهِ صغیره باندې د اِصرار معنٰی.................... 323
زما مال و ځان په آقائے دوجهان ﷺ باندې قُربان . 325
صِدِّیقِ اکبر امامت وکړو ............................. 325
د صحابه په فضیلت کښې ترتیب......................... 326



www.dawateislami.net

څوک جَنَّت ته تلل غواړي........................ 355
د دې دُنيا نه پناه چې د آخرت د خير نه اِيساروِل کوي........................ 356
د کويت يو دولتمند تاجِر........................ 357
د اوږدو اُمّيدونو نه د بچ کيدلو طريقه........................ 358
د چا قبر به د جَنَّت باغ جوړيږي؟........................ 359
په مونږ څه شوي دي........................ 360
اِطمينان سره د نمانځهٔ کولو فضيلت........................ 362
د نمانځهٔ نه پس د کيفياتو درې حِکايتونه........................ 363
چرته زما نمونځ زما په مخ را اُونه ويشتلے شي!........................ 363
امام صاحبان دې د نمانځهٔ مسائل بيانوي........................ 364
د حُضُور ﷺ شا ته ليدل کول........................ 364
اِمام صاحِب دې د نيکئ دعوت ورکوي........................ 364
شا ته ليدل، آيا د نمانځهٔ سره خاص وو؟........................ 365
په زرهٔ مبارک باندې دوه سترګې او دوه غوږونه........................ 365
غفلت سره د شپې قِيام........................ 366
د غافِل د ټولې شپې د عبادت نه بهتر عمل........................ 367
چې څومره خُشُوع وي هغه هومره ثواب وي........................ 367
تَذکرهٔ عَمّار بِن ياسِر رَضِىَ اللهُ عَنهُمَا........................ 367
د دِينِ اِسلام د پاره قُربانئ........................ 368
جَنَّت د عَمّار مُشتاق دے........................ 368
د صحابه عَظَمت و شان د قرآن نه........................ 369
ټول صحابهٔ کرام جَنَّتيان دي........................ 370
د صحابه مُتَعَلِّق د آيتونو او اَحادِيثو خُلاصه........................ 372
د صحابه شان و عَظَمت د اَحادِيثو نه........................ 372
زما طرف ته مُتَوَجِّه شه!........................ 374
نمانځهٔ کښې د اخوا ديخوا کتلو سره د رَحمت مخ اړوَل........................ 374
خُشُوع والا نمونځ غم لرې کوي........................ 340
په روزئ کښې د بَرَکت مضبوطه ذريعه........................ 341
د اوږد عُمر حاصلولو لس اسباب........................ 341
بنده نه رکعتونه ولې هيريږي........................ 341
اذان کښې د شيطان لرې کولو تاثِير دے........................ 342
نمانځهٔ کښې هيرې شوې خبرې رايادېږي........................ 342
شيطان ورته د خزانې دَرَک [يعنې پته] اوښودله (حکايت)........................ 343
که د رکعتونو شمير ترينه هير شي نو څه وکړي........................ 343
هغه به د انټرنيټ غلط استعمال کولو........................ 344
د دُنيا نه تلونکي په شان نمونځ دې کوي........................ 346
د نمانځهٔ په وخت کښې خپل هر څيز ته اَلوَداع اُووايه!........................ 346
دا زما د ژوند آخري نمونځ دے........................ 346
د مرګ په باره کښې شپږ (6) فَرامِينِ مُصطَفٰی ﷺ 346
د مرګ په باره کښې د انبياء و اولياء بعضې واقعات او ارشادات........................ 348
ژوندے کس په قَبْر کښې (حِکايت)........................ 349
د ځمکې حيرانيدل........................ 349
اوږد اُمِّيد د نيکو په لار کښې رُکاوټ دے (حکايت)........................ 350
زما تادي ده! (حِکايت)........................ 350
معلومه نهٔ ده چې د خُلې نوړئ به مې د حلق نه کوزه شي که نه!........................ 351
د نن جناب د صبا مرحوم........................ 353
د ديندار او دُنيا دار پيژندګلو........................ 354
درې لرګي........................ 354
بوډاوالے يې مړ کړي........................ 355

که جَنَّت کښې څوک اوژاړي نو عجیبه خبره ده .. 391
د مرګ یقین لرونکي څنګه وخاندي؟............ 392
د څلوېښتو کالو پورې یې اُونه خندل................ 392
پنځوسو کالو پورې چا په خندا اُونه لیدلو........... 392
لِباس د نیکانو او..... ................................ 392
نمانځهٔ کښې د خندا اَحکام.......................... 392
میوزِک سینټر یې بند کړو............................ 393
د توَجُّه لرې کوونکو مُعامَلاتو نه مخکښې فارِغه شئ ........................................... 395
د پوهې خبره (قول و حکایت) ........................ 395
زړهٔ طعام طرف ته مائل کیدل په خُشُوع کښې رُکاوټ دے............................................... 396
نمانځهٔ نه "طعام" نه، د "طعام" نه نمونځ جوړ کړم 396
د نمانځهٔ د پاره منډه وهل ښه نه دي .................. 397
د شیطان درې وسلې (حِکایت) ....................... 398
کاش! چې په ژړا ژړا مو نمونځ نصیب شي........ 400
د مولا علي بدن به په لړزان شو (حکایت)........... 401
حضرتِ یحیٰ عَلَیۡہِ السَّلَام به ډیر زیات ژړل .......... 401
د فاروقِ اعظم د ژړا آواز (حکایت)................ 402
د جَهنَّم نقشه جوړه شي (حکایت)................... 402
هر وخت ژړیدلو والا بُزُرګ ........................ 403
نمانځهٔ کښې د ژړا شرعي مسئله..................... 403
نمانځهٔ کښې چې څه لوَلي چې د هغې په معنٰی پوهیږي............................................... 404
چې د دې نه هم نه وي خبر چې ښي او کُڅ طرف ته څوک دے ......................................... 404
زر زر ادا کولو سره د نمانځهٔ رُوح لاړ شي ......... 404
نمونځ ادا کولو کښې تادي [یعنې زر زر کول]...... 405
په نمانځهٔ کښې د اخوا دیخوا کتلو احکام........... 375
الله پاک ما وِیني ....................................... 375
نظر کله په کوم ځائے پکار دے (حکایت) ......... 376
د تندي په ځائے زنه په ځمکه ولګوه (حکایت).... 376
په نمانځهٔ کښې دِیدارِ مُصطَفیٰ (د ایمان نه ډک حِکایت) ......................................... 377
په نمانځهٔ کښې د حُضُور ﷺ تَصَوُّر ........... 378
په نمانځهٔ کښې د سلام عرض کولو طریقه ......... 378
هره ورځ د یو نیم سل دوه سوه روپو د نشې ستنې ... 379
عِلمِ نافِع څه ته وائي؟ ................................ 382
ګناهونه د خُشُوع په لاره کښې ډیر غټ رُکاوټ دي382
زړونه نرمونکي کارونه ............................. 382
د یتیم په سر باندې د لاس راښکلو فضیلت ........ 383
د زړهٔ سختي څنګه لرې شي؟ (حکایت) ............ 383
د الله په نزد د نمر نه زیات روښانه مخ به د چا وي؟ 385
ظالِم سره ملاویدل زړهٔ توروي ....................... 386
ګناهونه د کفر قاصِدان دي ............................ 386
د زړهٔ د سختئ یو سبب فُضُول خبرې کول دي..... 387
خوندور څیزونه مسلسل خوړل د زړهٔ د سختئ باعِث دي........................................... 387
د کوهِ لبنان د اولیاء نصیحت ....................... 388
د زړهٔ د سختئ یو سبب زیات خندل دي.............. 389
خندا د غفلت علامت دے.............................. 389
د زړهٔ د مرګ سبب .................................. 390
آیا دا د الله نه د ویره لرونکو انداز دے؟ (حکایت)390
د الله نه ویریدونکي څوک دي؟....................... 390
په ژړا ژړا به جَهنَّم ته داخلیږي........................ 391
هغه بیا کله چا په خندا اُونه لیدلو ..................... 391

شهید په جَهنَّم کښې ........................ 422
د رِیاکار قاري او عالِم انجام ........................ 423
د رِیاکار مالدار اَنجام........................ 423
رِیا والا نیکي جَهنَّم ته د تللو سبب ده........................ 424
د اخلاص سوال وکړئ........................ 424
د رِیا تعریف ........................ 425
د اخلاص تعریف........................ 425
که خلک یې پخپله صفت کوي نو بیا؟........................ 426
خیرات به یې داسې ورکولو چې اخستونکے یې
اُونه پیژني ........................ 426
رِیا سره د نمانځهٔ کولو مسائل........................ 427
د رِیا دوه صورتونه........................ 427
رِیا والا عبادت د چینجي وهلې تُخم په شان دے .... 428
د رِیاکارئ د ویرې نه عبادت پرېښودل څنګه دي؟ 428
په تنهائي کښې هُم ریاکاري کیدے شي........................ 429
د دیرشو کالو نمونځونه یې را وګرځول ........................ 429
خلک به تُف تُف کوي او تیرېږي به ........................ 430
د ټولو نه مخکښې به خُشُوع اوچته شي ........................ 431
آیا د مچ د وجهې حرکت وکړم؟ ........................ 431
ښپه مبارکه یې کټ شوه خو پوهه نهٔ شو (حکایت) 432
په حُسنِ یُوسُف باندې د مصر زنانوُ خپلې ګوتې
کټ کړې........................ 433
اوس خلک د هغوئي مثالونه ورکوي........................ 433
د شاتو مچۍ 17 ځله اوچیچلو........................ 435
د مور په دُعـا یې سترګې بینا شولې (حکایت) .... 435
د حُضُورِ اقدس ﷺ په دربار کښې د اِمام بُخاري
انتظار ........................ 436
د مزارِ بُخاري بَرَکتونه ........................ 436
د مال د غل نه د نمانځهٔ غَل بد تر دے........................ 405
د بدې خاتِمې وعید........................ 405
منافقین به یې پیژندل........................ 407
دربارِ فاروقي کښې مُقام ........................ 407
د حضرتِ حُذَیفه بِن یَمان سادګي........................ 408
خوفِ خُدا او خُشُوع و خُضُوع........................ 408
وِصالِ مبارک ........................ 409
څو صدۍ پس هُم بدن سلامت ........................ 409
د قبر سپړدلو مسئله........................ 409
د حدیث شرح ........................ 411
د زر زر نمونځ کوونکي مثال ........................ 411
دوباره یې پرې نمونځ وکړو........................ 412
د رَسُولِ اکرم ﷺ په شان نمونځ ........................ 412
د اعلیٰ حضرت نمونځ ........................ 413
قرآنِ کریم لږ لوَله خو صحیح یې لوَله ........................ 414
..... د اوریدونکو غوني به زیګ شو........................ 414
د هر حَرف په بدله کښې 100 نیکۍ........................ 415
قرآنِ پاک په قلاره قلاره [یعنې په کم رفتار] لوستل
پکار دي........................ 416
عوام دي د درمیانه درجې تادۍ والا تِلاوَت کوي .. 416
د نمانځهٔ ضروري مسائل زده کول ضروري دي .... 417
"د قَبْر وروُمبۍ شپه" نومې بیان یې ژوند بدل کړو418
.... نو ټول معاملات به صحیح شي ........................ 420
د نمانځهٔ قبلیدلو د پاره اخلاص شرط دے........................ 420
د فِتنهٔ دَجَّال ویره........................ 420
دَجّال ته د مَسِیح وئیلو وجه........................ 421
د رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ توهین کوونکے........................ 421
د ورَک [یعنې غیر مشهور] بنده فضیلت ........................ 421

سَیّدُنا حُـمَـمَه به هره ورځ 800 نفلونه کول: ..... 442

تُحفې یې تقدیر بدل کړو ........ 444

څمکه به په زلزله اولړزولے شي ........ 450

انسانانو او پیریانو ته ثقلین ولې وائي؟........ 450

د قیامت په ورځ د مال نه بیزاري ........ 450

په څمکه څه وشو؟........ 451

څمکه به د نیکو او بدو خلکو خبرونه ورکوي ..... 451

د چا مخ به سپین وي او د چا تور ........ 452

نیک او بد اعمال به په ورځ د قیامت ورښودلے کیږي ........ 452

کافر ته به په دُنیا کښې د هغه د نیکۍ بدله ورکولے کیږي ........ 453

نیکي لږه هُم په کار راځي او وړه ګناه هُم وَبال ده.... 453

﴿٥﴾ د چت نه مار را پریوتو! (حکایت) ........ 453

﴿٦﴾ د حَنَفیانو د پاره د بخښنې زیرے........ 454

﴿٧﴾ د روضهٔ رَسُول نه د سلام جواب........ 454

﴿٨﴾ د اِمامِ اعظم د ورځې او شپې معمولات...... 455

﴿٩﴾ دیرش کاله مُسلسل روژې ........ 456

﴿١٠﴾ د اِمامِ اعظم عظیم شاګرد........ 456

﴿١١﴾ د خلکو د حُسنِ ظَن خیال ساتل........ 456

﴿١٢﴾ د رمضان په میاشت کښې 61 ختمِ قرآن... 457

﴿١٣﴾ ځان یې قربان کړو خو حکومتي عُهده یې قبوله نهٔ کړه ........ 457

اذان کولو کښې بیهوشه شولو ........ 458

د الله د ویرې نه ژړیدو والا مور او زامن........ 459

د وفات نه پس د درې واړو حال ........ 459

﴿٢﴾ ته څه خبر یې زما زړهٔ چرته وي! ........ 461

﴿٣﴾ ناڅاپه یو شامي کس کور ته راداخل شو...... 461

﴿٤﴾ د جومات ستن اوغورزیدله ........ 462

﴿٥﴾ د جومات دیوال اولویدو خو هغوئي خبر هُم نه شو ........ 462

﴿٦﴾ لکه څه کپړه چې پرته وي ........ 462

﴿٧﴾ ښخ شوے موګے ........ 462

﴿٨﴾ ټول نمونځ نمونځ ........ 462

﴿٩﴾ په نمانځهٔ کښې د خُشُوع په سبب مریض ښکاریدل ........ 463

﴿١٠﴾ د سجدې ځائے یې داسې وو لکه اوبه چې پرې اړولي وي ........ 463

﴿١١﴾ د سجدې ځائے یې په اوښکو لُوند وو ...... 463

﴿١٢﴾ مخامخ دوه غاښونه یې اولویدل........ 463

بدن نه د جُدا کیدونکي څیز د ښخولو حُکم دے 464

پینځهٔ سبق آموز اقوال........ 464

د وفات نه پس یې په خوب کښې د سلام جواب ورنکړلو ........ 465

په نمونځ کښې د خُشُوع پیدا کولو 27 مَدَني ګلونه 465

د نیکۍ دعوت (مختصر)........ 468

د درود شریف فضیلت ........ 470

د بیلمانځه خلکو د پاره د جهنَّم خوفناکه کنده .... 470

خوفناک کوهے ........ 471

په ګرمو اوبو کښې د غوپې سزا هُم څوک نه شي برداشت کولے نو.... (حِکایت) ........ 472

د مُنافِقِینو په تَورات کښې بیان شوي صِفات ...... 473

د قِیامت په ورځ وړومبے سُوال ........ 474

د جَهنَّم په دروازه نوم........ 474

د بیلمانځه 15 سزاګانې ........ 475

د بیلمانځه درې بد قسمتۍ........ 477




www.dawateislami.net

الله پاک به غضب فرمائي ......................... 494
د ټولو نه غټه بې حيائي............................ 494
د اَعمالو بربادي ................................... 494
بيلمانځه نه د اِسلام امان اوچتيږي ............ 495
چې کله يې بينائي ختمه شوه (حِکايت)............ 495
د الله دوست څوک؟ او دُښمن څوک؟ ............ 496
د حديث شرح ....................................... 496
د ټولو نه اَهَم کار نمونځ دے........................ 496
نمونځ د ايمان پيژندګلو ده............................ 497
د "حِفظ" او "مُحافَظَت" معنیٰ ........................ 497
د نمونځونو د مُحافَظَت نور وَضاحَت ............ 498
بيا بيا غورزيدلو نه پس آخر مضبوط ودريدلو...... 499
نمونځ ضائع کول د قيامت نزدې راتللو نښه ده..... 501
د نمانځهٔ "ضائع" کولو معنیٰ ......................... 501
شرحِ حديث........................................... 501
نمونځ پريښودونکے بد بخته او محرومه دے ....... 502
د دوزخيانو نچوړ...................................... 502
د تورو مارانو د زَهرو ګوټ ........................... 502
خوفناک ماران او د قچر په شان لړمان ............ 503
بې غوښې مخونه ...................................... 504
د جَهنَّم عذاب او د دُنيا تکليفونه .................. 505
د جَهنَّم د ټولو نه وړوکے عذاب ...................... 505
دوزخ نه د امان غوښتلو فضيلت .................... 506
قارون سره حَشر........................................ 506
د نمانځهٔ په وجه به په قَبْر او پل صِراط باندې رڼا
وي......................................................... 507
د بيلمانځه کس د غير مُسلمو سره د حشر وَضاحَت507
قارون وغيره سره د حشر کيدلو تفصيل ............ 508
د ګناه عذاب په دُنيا او آخرت دواړو کښې کيږي.. 477
د شيطان په شان څوک؟ (حکايت) ................... 478
عمل ضائع شو........................................... 479
بد اخلاقي يې ختمه شوه.............................. 479
د نمونځ قضا کولو عذاب............................... 480
د جَهنَّم خوفناکه کنده "وَيل" ........................ 481
د وخت تيرولو نه پس نمونځ کولو باندې د عذاب
انديښنه .................................................. 481
لکه اَهل و مال ترينه لاړل............................. 481
د معراج په شپه يې عذاب وليدو..................... 482
د سر چقولو سزا......................................... 482
د سر چقلوسزا ولې؟.................................... 483
جَهنَّم ته د تللو حُکم به وشي ......................... 483
تور مار يې خُله خوړله! (حِکايَت) ..................... 484
قَبْر کښې د وور شُعلې (حِکايَت)....................... 485
د نوکرئ په وجه نمونځ قضا کول ګناهِ کبيره ده...... 487
که ګناه اونکړم نو روزي نهٔ پيدا کيږي (حِکايَت) 487
روزي د رَبِّ کرِيم په ذِمّهٔ کرم ده....................... 488
نمونځ ګزاره خادِم (حِکايت) ........................... 489
نمونځ يوه پيمانه ده .................................... 490
څوک چې فرض نهٔ ادا کوي هغه به قرض څه ادا
کړي! (فرضي حِکايَت) ................................. 491
"نيک اعمالو" باندې د عمل کولو سعادت ور
نصيب شو ................................................ 491
د چا چې نمونځ نشته د هغه هيڅ دين نشته ......... 492
د نمانځهٔ په مُعامَله کښې د الله نه اوويريږئ! ...... 493
نمونځ نه کولو نه به بل زيات خلاف سُنَّت کار څه
وي! (حِکايت) ............................................ 493

د جَنَّتي حُورې شان ........................ 531
﴿۱۶﴾ الله پاک په خوب کښې اُوفرمائيل.......... 532
﴿۱۷﴾ نمانځهٔ له تللو کښې په لاره کښې وفات.... 532
د شهادت د ثواب حاصلولو اَسباب ............ 532
د سکول ټيچر څنګه توبه ګار شو ................ 533
﴿۱۸﴾ آقا ﷺ به اَهلِبَيت د نمانځهٔ د پاره پاڅول... 535
﴿۱۹﴾ بي بي فاطِمه او ګاونډيانو سره همدردئ...... 536
د ګاونډيانو بعضې حقونه ......................... 536
﴿۲۰﴾ چرګ چې کله بانګ وکړو ................ 537
''چرګ نمانځهٔ د پاره رابلل کوي'' د دې معنٰى ..... 537
د الله فضل اوغواړئ! .............................. 538
د چرګ د بانګ په وخت کښې دُعـا قبليږي ....... 538
د چرګ د غوښې مُتعَلِّق 10 مَدَنـي ګلونه ......... 539
د آزاد ګرځيدونکي څاروي غوښه ................ 539
﴿۲۱﴾ د کور لرې کيدلو حِکمَت ................... 539
په هر هر قدم باندې نيکي............................ 540
﴿۲۳﴾ نمونځ ګزاره غُلامانو ته آزادي حاصله شوه . 540
﴿۲۴﴾ د نيکۍ خاموش دعوت.......................... 541
﴿۲۵﴾ د دُعـا په بَرَکت مغفرت ...................... 541
د حاجي مُشتاق اِنفرادي کوشش........................ 542
نيکۍ پټولو کښې خير دے............................ 545
اويا هومره اضافه ختمه کړے شي..................... 545
عمل پټولو کښې هيڅ نقصان نشته .................. 546
بعضو صورتونو کښې نيکۍ ښکاره کولو کښې ثواب
دے.................................................... 546
تذکرهٔ حضرت اَبُو دَرداء رَضِىَ اللهُ عَـنْـهُ ...... 547
نوم او کنيَت ............................................ 547
برېستن مو ولې را اُونه ليږله........................ 547
د اُبَـیْ بِن خَلَف عِبرتناکه واقعه................... 508
د غور مُقام ........................................ 509
تور مرے ............................................ 510
قَبْر کښې باغ........................................ 511
د مسلمانانو د عذاب ښودلو سبب .................. 512
د عذابِ قَبْر ثُبُوت د قرآن نه ....................... 512
د خنزير په شان مرے ................................ 514
په ځوانۍ کښې د توبه کولو انعام .................. 514
د فِلمونو شوقي حافِظِ قرآن څنګه جوړ شو؟......... 515
د دُرُود شريف فضيلت ............................. 518
يوه ورځ به د تورو تيارو قَبْر ته کوزيدل وي ....... 519
﴿۲﴾ وروسته وفات شوے جَنَّت ته وړومبے داخل
شو.................................................... 520
﴿۳﴾ د شاتو د مچۍ د بنګاري په شان آواز .......... 521
﴿٤﴾ مِنٰى کښې يو ولې بل ولې اوپيژندلو ............ 522
د دُعائے مغفرت فضائل.............................. 523
﴿٦﴾.........نو ګمراه به شئ ......................... 524
سُـنَنِ هُـدیٰ څه ته وائي؟ ........................... 525
﴿۷﴾ جَمعې سره مَحَبَّت ................................ 525
﴿۸﴾ د جَمعې د پاره يې سفر ودرَولو................ 526
﴿۹﴾ په سُور نمر کښې په سر د پاسه وريځ .......... 527
﴿۱۰﴾ په توکانو [يعني لاړو] مبارکو يې شفاء
حاصله شوه........................................... 527
﴿۱۱﴾ د جَهنَّم ورياديدلو اثر............................ 528
﴿۱۲﴾......... نو په خپلو سرونو به مو خاورې اچولے 528
﴿۱٤﴾ هره شپه قبرستان کښې ....................... 530
اے دوزخ نه د بچ کيدلو خواهشمندو!................. 530
﴿۱۵﴾ د جَنَّت حُوره په خوب کښې ................... 531

الله و رسول مُعاویه سره مَحبَّت کوي (حکایت) ..... 563
دُعـائے مُصطَفٰے ﷺ ........................ 563
کله چې یو کس سخت کلامي وکړه (حکایت) ...... 564
بې مثاله کفن ........................................ 564
حضرتِ امیرِ مُعاوِیه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د عبدُالله بِن عُمر
رَضِیَ اللهُ عَنۡهُمَا په نظر کښې: ........................ 565
حضرتِ امیرِ مُعاوِیه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د قبِیصه بِن جابِر
تابِعي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په نظر کښې: .................. 565
حضرتِ امیرِ مُعاوِیه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د عبدُ الله بِن
مُبارَک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په نظر کښې: .................. 565
حضرتِ امیرِ مُعاوِیه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د پیرانِ پیر غوثُ
الاعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په نظر کښې:................. 565
حضرتِ امیرِ مُعاوِیه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د اِمام اَحمد بِن
حَنبَل رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په نظر کښې:.................. 566
حضرتِ امیرِ مُعاوِیه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د داتا صاحب رَحۡمَةُ
اللهِ عَلَيۡه په نظر کښې:.................................. 566
حضرتِ امیرِ مُعاوِیه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د مُجَدِّد اَلفِ ثاني
رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په نظر کښې:........................... 566
حضرتِ امیرِ مُعاوِیه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د اِمام نَووي رَحۡمَةُ اللهِ
عَلَيۡه په نظر کښې: ........................................ 567
حضرتِ امیرِ مُعاوِیه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د اِبراهِیم بِن مَیسَره
رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په نظر کښې:.......................... 567
حضرتِ امیرِ مُعاوِیه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د شهابُ الدِّین
خَفاجي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په نظر کښې: .................. 567
حضرتِ امیرِ مُعاوِیه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د اِمامِ اَهلِسُنَّت رَحۡمَةُ
اللهِ عَلَيۡه په نظر کښې:.................................. 567
حضرتِ امیرِ مُعاوِیه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د صدرُ الشَّرِیعه
رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په نظر کښې:.......................... 568
د عِلمِ دِین زده کولو او ښودلو حلقې ............... 548
په ځنارو باندې شَفقَت ............................ 548
﴿۲۸﴾ میمون بِن مِهران فرمائي.......................... 550
د یزِید پلِید ګنده کارنامے ............................ 550
﴿۲۹﴾ د روضۀ رسول نه به د اذان آواز راتللو........ 550
﴿۳۰﴾ بیا به د ماسخوتن او سحر د جَمعې څه
کیږي؟ .................................................. 551
شینکي ته کتلو سره بینائي تیزیږي.......................... 552
د اَهلِ جَنَّت لباس به شین وي ............................ 552
شین رنګ د نظر د پاره مُوافِق دے ....................... 552
څه د عشق وینا........................................... 553
﴿۳۱﴾ اوچت به یې کړو او جومات ته به یې
راوړلو ................................................... 553
په مرض او باران کښې د جَمعې مسئله ................. 554
د نیکۍ د دعوت جذبه پکښې پیدا شوه .................. 554
د حضرت اَعمَش تعارُف ................................. 555
د دوارو اُوګو په مینځ کښې یې د نجات خوشخبري
لیکلې شوې وه! (حِکایَت) ................................ 556
﴿۳٤﴾ د نمانځۀ د یو عاشِق عبیبه دعا.................. 557
﴿۳۵﴾ د 126 کالو د عُمر باوجود د جَمعې نمونځ... 557
﴿۳٦﴾ نمانځۀ نه پس به د خلکو په کومک پاځیدلو557
آه! زمونږ د اکثریت بد حال .............................. 558
﴿۳۷﴾ شیطان نمانځۀ د پاره راپاڅولو ..................... 558
د شیطان د فریبي جال نه بچ کیدل مشکل وي...... 559
هر صحابِي جَنَّتي جَنَّتي .................................. 560
امیرِ مُعاوِیه جَنَّتي دے .................................. 562
اوس به یو جَنَّتي راشي (حِکایَت) ...................... 562
ازمري خبرې وکړې (حِکایَت) .......................... 563

﴿۵۴﴾ د نمانځۀ په ذريعه حاجَت روائي ............ 584
﴿۵۵﴾ تپوس د پاره به چې تللو نو د مريض په کور
کښې به يې اول نمونځ کولو.................. 584
مسجِدِ بَيت جوړ کړئ ............................. 584
حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ شَوذَب رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه بيانوي چې
کله به هُم زۀ د حضرتِ سَيِّدُنا ثابِت بُناني رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه
سره چرته تللم نو د کوم جومات په خوا به چې هُم
تيريدلو نو ضرور به يې پکښې نمونځ ادا کولو.
(الله والوں کی باتيں ج ۲ ص ۴۹۱) ............ 585
﴿۵۷﴾ د صحابي شَفقَت ........................ 585
تذکرۀ حضرتِ اَنَـس بن مالِک رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ ......... 586
هر صحابِـي نبـي! جَنَّتي جَنَّتي.................. 586
دُعـائے مُصطَفیٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّم ........................... 587
نمانځۀ او تِلاوتِ قرآن سره مَحبَّت.................. 587
وفات شريف ........................................ 587
قَبْر کښې تبرُّک نَبَـوِي.............................. 588
﴿۵۸﴾ يا الله! قَبْر کښې د نمانځۀ کولو شرف
راکړې ................................................ 588
﴿۶۰﴾ قَبْر کښې يـې نمونځ کولو.................... 589
﴿۶۱﴾ قَبْر مبارک نه د تِلاوت آواز .................. 590
د مشر ترۀ زوئي يـې قتل شو........................ 590
﴿۶۲﴾ ټوله شپه به يـې نمونځونه کول ............. 592
﴿۶۳﴾ ښپې مبارکې به يـې هر وخت پړسيدلې وې 592
﴿۶۴﴾ د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّم ښپې مبارکې اُوپړسيدلې .... 593
دوزخ نه د پناه غوښتلو فضيلت....................... 594
جَهنَّم نه درې ځله د پناه غوښتلو فضيلت ......... 594
جَهنَّم نه اووه (7) ځله د پناه غوښتلو فضيلت...... 594
د مرګ يادولو فائدې................................ 595
﴿۳۷﴾ د ويښ اوسيدلو عجيبه نُسخې ............. 570
﴿۳۹﴾ اوبو کښې د غوپه وهلو په ذريعه د خوب
علاج ................................................ 571
﴿۴۰﴾ يا الله! زما د شپې خوب اوتښتوې!.......... 571
هغوئي څنګه وو او مونږه څنګه يُو!.............. 571
﴿۴۱﴾ په نمانځۀ کښې وفات ......................... 572
﴿۴۳﴾ د رُوح وتلو په حالت کښې د جَمعې سره
نمونځ!................................................ 573
د پوزې وِينه يـې څنګه بنده شوه؟................ 574
﴿۴۴﴾ د نيم بدن نه د رُوح وتلو باوجود........... 574
﴿۴۵،۴۶﴾ دو مختصر حِکايتونه ...................... 575
د غَفلَت تعريف ..................................... 576
دا به تا په غفلت کښې واچوي ..................... 576
﴿۴۷﴾ د يوې نيکۍ په باره کښې هُم دا مه وائې چې
د دې څه فائده!...................................... 576
﴿۴۸﴾ په ژړا ژړا نابِينا کيدو والا زنانه ........... 577
د خوفِ خُدا نه د ژړلو فضيلت ..................... 578
د فِلمونو اداکار تَهَجُّد ګزار جوړ شو ............. 578
﴿۴۹﴾ د مرګ په ياد کښې اُوږې اوسيدونکې
زنانه................................................. 580
د مرګ ياد د سعادت مندو حِصَّه ده ................ 580
دوه څيزونو زما د پاره د دُنيا خوند ختم کړو ....... 580
د رضائے اِلٰهي د پاره کم خوراک عبادت دے .... 581
﴿۵۰﴾ د جَهنَّم ياد يـې خوب اوتښتولو ............ 581
په هر سُورې کښې يو مار .......................... 582
﴿۵۱﴾ ستا پلار د ناڅاپه راتلونکې عذاب نه
ويريږې ............................................. 582
﴿۵۳﴾ د فالِج باوجود جَمعې سره نمونځ............ 583




www.dawateislami.net

﴿۷۸﴾ اعلیٰ حضرت ماشوم والي نه د نمانځهٔ پابند
وو.......................................... 605
﴿۷۹﴾ اعلیٰ حضرت او د جَمعې نمونځ ............... 606
﴿۸۰﴾ د نمانځهٔ د پاره يې قافِله پرېښودله.... نو
غيبي مدد ....................................... 606
سوَرلئ او نمونځ ................................. 607
﴿۸۱﴾ د نمانځهٔ په حالت کښې خِدمت............ 608
﴿۸۲﴾ د پير مهر علي شاه صاحب موټر واووښتو ... 608
﴿۸۳﴾ لږ څه کښې کوهي ته غورزيدلو نه بچ شو.. 609
﴿۸٤﴾ حضرت مُفتي احمد يار خان د نمانځهٔ عاشِق
وو.......................................... 610
﴿۸۵﴾ د زړهٔ بيماري يې ښه شوه.................. 610
د مار ويره ...................................... 611
د رَمَضَانُ الْمُبَارَک اِعتِکاف يې ژوند بدل کړو .... 612
د ماسخوتن په اوداسه باندې د سحر نمونځ ادا
کوونکي بُزُرګانِ دِين............................. 613
د 14 کالو د نشې عادت يې ختم شو............. 614
د درس په آخره کښې داسې ترغيب ورکړئ ...... 620
ټول به په دوزخ د پاسه تيريږي.................. 596
جَهنَّم نه زر کاله پس راوتلو والا کس ............ 596
﴿٦٧﴾ هغه ستن څه شوه؟........................ 597
﴿٦٨﴾ خوشحالي وکړم که غم؟.................... 597
د عاجزئ فضائل ................................. 598
عاجزي څه ته وائي؟ (حکايت).................... 599
﴿٦٩﴾ څلويښت زره رکعاتونه ..................... 599
رقم تقسيوونکے افضل دے که ذِکر کوونکے؟. 600
﴿۷۰﴾ ژړا او فرياد کوونکې کورنئ ................ 600
﴿۷۱﴾ هر وخت به يو نه يو کس نمونځ کولو ....... 601
﴿۷۲﴾ 400 رکعاتونه ............................. 601
﴿۷٤﴾ دُکان کښې 400 رکعاتونه.................. 602
مسلمان څنګه کيدل پکار دي ..................... 602
﴿۷۵﴾ خپله پنډئ به يې په چابک وهله........... 603
﴿۷٦﴾ حيرانوونکي معمولات ....................... 603
د جَنَّت والؤ هُم افسوس!......................... 604
﴿۷۷﴾ په دوو رکعاتو کښې يې پوره شپه تيره کړه . 605

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ اَمَّا بَعْدُ ! فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

# ”زمونږ احمد رضا“ د دولس حروفو په نسبت د دې کتاب د لوستلو 12 نیّتونه

**فرمانِ مُصطفی** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **نِیَّۃُ الْمُؤمِنِ خَیْرٌ مِّنْ عَمَلِہٖ** د مسلمان نِیّت د هغهٔ د عمل نه بهتر دے.

(مُعجَمُ کبِیر ج٦ ص١٨٥ حدیث٥٩٤٢)

**دوه مدني ګلونه:** (1) د اعمالو دار و مدار په نِیَّتونو دے.

(2) څومره چې ښهٔ نیّتونه ډیر وي هغه هومره ثواب هم ډیر کیږي.

(١) هر ځل به د (١) **حمد** (٢) **دُرُود** (٣) **تَعوُّذ** او (٤) **تسمیه** نه شروع کووم (په دې صفحه باندې ورکړې شوي د دوه عربي عباراتو لوستلو سره به په څلورو واړو نیّتونو عمل وشي) (٥) د قرآني آیاتو او (٦) احادیثِ مُبارکه دیدار به کووم او په هغې کښې بیان کړے شوو احکاماتو باندې به د عمل کولو کوشش کووم (٧) کوم کوم ځائے چې به د ”**اللّٰه** پاک“ ذاتي یا صِفاتي نوم مبارک راځي هلته به پاک، یا ”تعالٰی“ وغیره د ثناء کلمات وایم او (٨) کوم کوم ځائے چې د ”حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم“ ذاتي یا کوم صِفاتي نوم مبارک راځي هلته به صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وایم (٩) که په کومه خبره پوهه نهٔ شوم نو د عُلَماؤ نه به تپوس کووم (١٠) نورو ته به د دې کتاب لوستلو ترغیب ورکووم (١١) په ښو ښو نِیَّتونو سره د کتاب لوستلو کوم ثواب به چې حاصلووم هغه به ټول اُمَّت ته اِیصالِ ثواب کووم (١٢) په دې کتاب کښې د ورکړے شوې طریقې مطابق به د دې کتاب نه درس ورکووم.

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ
اَمَّا بَعۡدُ! فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

# د نمونځ کولو ثوابونه

یا **الله** پاکه! څوک چې "**د نمونځ کولو ثوابونه**" پوره ولولي یا یې واوري، هغهٔ ته په مکه او مدینه کښې د ډیرو ډیرو نمونځونو کولو او **جَنَّتُ الۡفِرۡدَوۡس** کښې د بې حسابه داخلې سعادت نصیب کړې. اٰمِین

## د دُرُود شریف فضیلت

خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نمانځهٔ نه پس حَمۡد و ثَناء او دُرُود شریف لوستونکي ته اُوفرمائیل: "دُعا اوغواړه قبوله به کړے شي، سوال وکړه، دربه کړے شي."

(نسائی ص۲۲۰، حدیث ۱۲۸۱)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## حُضُور ﷺ تقریباً شل زره [20000] نمونځونه ادا کړي وو

د مِعراج په شپه د پینځهٔ وخته نمونځونو فرض کیدلو نه پس زمونږه خوږ خوږ آقا مکی مَدَنی مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل ظاهري حیات (یعني دُنیوي ژوند مبارک 11 کالو کښې تقریبا شل زره [20000] نمونځونه ادا **کړي وو** (مِراٰۃ ج۱، ص۲۳) ، تقریباً 500 [پینځهٔ سوه] **جُمُعې** یې ادا کړي وي (مِراٰۃ ج۲ ص۳۴۶) او د اختر 9 [نهه] نمونځونه یې ادا کړي وو. (مُلَخَّص از سیرتِ مُصطفٰے ص۲۴۹) [هُم داسې په] قرآنِ مجید کښې هُم د نمانځهٔ ذِکر په سوونو ځائے راغلے دے.

**اے د نمانځهٔ نیک بخته عاشقانو!** اعلٰی حضرت اِمامِ اھلِسُنّت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: پینځهٔ وخته **نمونځ** د **الله** پاک هُغه عظیم نعمت دے چې هغه یې په خپل عظیم کرم خاص مونږ ته عطا کړے دے، مونږ نه **مخکښې** یو اُمَّت ته هُم نه دے ورکړے شوے. (فَتَاوٰی رَضَوِیَّه، ج۵، ص۴۳)

## نمونځ په چا فرض دے؟

هر مسلمان عاقِل و بالغ نارینه او زنانه باندې هره ورځ **پینځهٔ وخته نمونځ فرض دے.** د دې د فرضِیَّت (یعني فرض کیدو) انکار **کفر** دے. څوک چې قصداً [یعني اِرادَتاً] د یو وخت **نمونځ** پریږدي هغه فاسِق، سخت ګنهګار او د عذابِ نار [یعني د ددوزخ د وور] حقدار دے.

جنت اے بے نمازیو! کس طرح پاؤ گے؟
ناراض رب ہوا تو جہنم میں جاؤ گے

اے بیلمانځو جَنَّت بـه څنـګه ګټئ
که رب ناراض شو، دوزخ ته به ځئ

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## نمونځ زمونږ د پاره انعام دے

افسوس! افسوس! نن اکثر مسلمانان د **نمانځهٔ** هیڅ پرواه نه کوي، زمونږه جوماتونه د **نمونځ** ګُزارو نه تش پراته وي. **الله** پاک د **نمانځهٔ** فرض کولو په صورت کښې په مونږ باندې عظیم احسان کړے دے، مونږ که لږ کوشش وکړو او **نمونځ** وکړو نو **الله** کریم مونږ ته ډیر ډیر اَجر و ثواب راکوي.

# د نمونځ په باره کښې اووهٔ [7] آيتونه

﴿۱﴾ پاره 18 سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْن آيت نمبر 9، 10، 11 کښې اِرشاد کيږي:

وَ الَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَوٰتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ (۹) اُولٰٓىِٕكَ هُمُ الْوٰرِثُوْنَ (۱۰)
الَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ (۱۱)

[مَفهوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او هُغه خلک چې د خپلو نمونځونو حفاظت کوي. هُم دا خلک وارثان دي چې د فِردَوس مِيراث به تر لاسه کوي، هغوئي به په هغې کښې هميشه اوسيږي.

﴿۲﴾ الله پاک په قرآنِ کريم کښې ځائے په ځائے د نمانځه تاکيد فرمائيلے دے، پاره 16 سُوْرَةُ طٰهٰ آيت نمبر 14 کښې اِرشاد فرمائي:

اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِيْ (۱۴) [مَفهوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او زما د ياد د پاره نمونځ قائم ساته.

﴿۳﴾ الله تَبَارَکَ وَتَعَالٰی پاره 5 سُوْرَةُ النِّسَآء آيت نمبر 103 کښې اِرشاد فرمائي:

اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا (۱۰۳) [مَفهوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: بيشکه نمونځ مسلمانانو باندې په ټرلي (يعنې مقرره) وخت کښې فرض دے.

﴿٤﴾ الله پاک پاره 12 سُوْرَةُ هُوْد آيت نمبر 144 کښې اِرشاد فرمائي:

وَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَ زُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ ؕ اِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ ؕ ذٰلِكَ ذِكْرٰى لِلذّٰكِرِيْنَ (۱۱۴)

[مَفهوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او نمونځ قائم ساته د ورځې دواړو سرونو او د شپې په څه حصّو کښې، بيشکه نيکئ بدو له ختموي، دا نصيحت دے د منونکو د پاره.

﴿۵﴾ زمونږ مهربانه **ربّ** پاره 18 سُوْرَةُ النُّوْر آيت نمبر 56 کښې ارشاد فرمائي:

وَ اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَ اٰتُوا الزَّكٰوةَ وَ اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۵۶﴾

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او نمونځ قائم ساتئ او زکوٰة ورکوئ او د رسُول فرمانبرداري کوئ، په دې اُمّيد چې په تاسو رَحم وشي.

﴿۶﴾ **اللّٰه** تَبَارَکَ وَتَعَالٰی په پاره 21 سُوْرَةُ الْعَنْكَبُوْت آيت نمبر 45 کښې ارشاد فرمائي:

اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَ الْمُنْكَرِ ؕ

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: بيشکه نمونځ منع کوي د بې حيائي او بدې خبرې نه.

﴿۷﴾ **اللّٰه** تعالٰی په پاره 29 سُوْرَةُ الْمَعَارِج آيت نمبر 34 او 35 کښې اِرشاد فرمائي:

وَ الَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ﴿۳۴﴾ ؕ اُولٰٓئِكَ فِيْ جَنّٰتٍ مُّكْرَمُوْنَ ﴿۳۵﴾

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او هغه خلک کوم چې د خپل نمونځ حفاظت کوي، دا [هغه خلک] دي د کومو به چې باغونو کښې اِکرام کيږي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نمانځهٔ مختلف 25 فضائل

❖ نمونځ د **اللّٰه** پاک د خوشنودئ سبب دے. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص ۱۵۰) ❖ **نمونځ** د مکی مَدَنی آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سترګو يخوالے دے. (سُنَنِ کبری للنسائی ج ۵ ص ۲۸۰ حديث ۸۸۸۸) ❖ **نمونځ** د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام سُنَّت دے. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص ۱۵۱) ❖ **نمونځ** د قَبر د تِيارې ډيوه [يعني رڼا] ده. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص ۱۵۱)

❖ **نمونځ** د قَبُر د عذاب نه بچ کول کوي.(اَلزَّوَاجِرج۱ص۲۹۵) ❖ **نمونځ** د قيامت په غارمو کښې سورے دے. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص۱۵۱) ❖ **نمونځ** د پُل صِراط د پاره آساني ده. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص۱۵۱) ❖نمونځ نُور دے. (مُسلِم ص۱٤۰ حديث۲۲۳) ❖ نمونځ د جَنَّت کنجي ده. (مُسْنَد إمام اَحمَد، ج۵ ص۱۰۳حديث۱٤٦٦۸) ❖ **نمونځ** د جَهنَّم د عذاب نه بچ کول کوي ❖ نمونځ سره رَحمت نازليږي ❖ **الله** پاک به په ورځ د مَحشر **نمونځ ګزاره** نه راضي وي ❖ **نمونځ** د دِين ستن ده. (شُعَبُ الاِيْمان ج۳ص۳۹ حديث۲۸۰۷) ❖ **نمانځهٔ** سره ګناهونه معاف کيږي. (مُعْجَم کَبِير ج٦ص۲۵۰ حديث٦۱۲۵) ❖**نمونځ** د دُعاګانو د قبوليَّت سبب دے. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص۱۵۱) ❖ **نمونځ** د بيمارو نه بچ کول کوي ❖**نمانځهٔ** سره بدن ته راحت حاصليږي ❖ **نمانځهٔ** سره په روزئ کښې بَرَکت راځي ❖**نمونځ** د بې حيايئ او بدو کارونو نه بچ کول کوي ❖ **نمونځ** شيطان ته ناخوښه دے. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص۱۵۱) ❖ **نمونځ** د قَبُر په تِيارهٔ کښې د تنهائي [يعني د يواځې وخت] ملګرے دے. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص۱۵۱) ❖ **نمونځ** د نيکئ تَله درنَوي. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص۱۵۱) ❖ **نمونځ** د مومِن مِعراج دے. (مِرقَاةُ الْمَفَاتِيح ج۲ص۵۵) ❖ **نمونځ** په وخت ادا کول د ټولو اعمالو نه افضل دي. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص۱۵۱) ❖ **نمونځ ګزاره** د پاره د ټولو نه لوئي نعمت دا دے چې هغه ته به په ورځ د قيامت د **الله** پاک **دِيدار** نصيب کيږي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## چې کله غل نمونځ وکړو (حکايت)

د حضرتِ سَيِّدَتُنا رابعه بَصرِيه عَدَوِيَّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا کور ته يوه شپه يو غل ننوتو، هغه هر ځائے اولټوو خو د يوې لوټې نه علاوه يې هيڅ اُونه موندل. چې کله هغه واپس روان شو نو هغې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا ورته اُوفرمائيل: که تهٔ غَل يې نو تش لاس به نه ځې. هغهٔ اُووئيل: ما

خو هيڅ څيز پيدا نه کړو. هغې اُوفرمائيل: ”اے غريبه! په دې لَوټه اودس وکړه او کوټې ته ننوځه او **دوه رکعته نمونځ** وکړه، دې ځائے نه به څه نا څه يوسې.“ هغۀ اودس وکړو او چې کله په **نمانځۀ** ودريدو نو حضرتِ سَيِّدَتُنا رابعه بَصرِيه **عَدَوِيَّه** رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهَا دُعا وکړه: ”اے زما خوږه **الله پاکه**! دا کس زما کره راغے خو دۀ هيڅ هُم اُونه موندل، اوس ما دے ستا په بارګاه کښې ودرَولے دے، دا د خپل فضل او کرم نه مۀ مَحرومَه کوې.“ هغه **غل** ته د عبادت داسې خوند نصيب شو چې هغۀ د شپې د آخري حِصَّې پورې په **نمانځۀ** کښې مشغول شو. د پيشمني په وخت کښې هغې رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهَا د هغۀ خوا ته تشريف يوړلو نو هغۀ د سَجدې په حالت کښې خپل نفس رټلو او دا يې وئيل: ”اے نفسه! چې کله به زما **ربِّ کريم** زما نه تپوس کوي چې تا ته حيا نۀ درتله چې تا زما نافرمانئ کولې! تا اګر چې زما د مخلوق نه خپل ګناهونه پټول، خو اوس د ګناهونو پنډ په سر زما په بارګاه کښې پيش يې! اے نفسه! که زما رَبُّ الۡعِزَّت زما عِتاب وکړي (يعني ما ملامته کړي) او د خپل رحمت د بارګاه نه مې لرې کړي نو زۀ به څه کووم؟“ چې کله هغه فارِغ شو نو هغې رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهَا ترينه تپوس وکړو: اے وروره! شپه دې څنګه تيره شوه؟ هغۀ اُووئيل: ”زۀ په عاجزئ او اِنکسارئ د خپل **ربّ** تعالیٰ په بارګاه کښې ودريدم نو هغۀ زما کوږوالے سم کړو، زما معذرت يې قبول کړو او زما ګناهونه يې اوبخښل او زۀ يې خپل مقصد ته اورسوَلم.“ بيا هغه سړے په داسې حال کښې لاړو چې د هغۀ په مخ حيراني او پريشاني ظاهره وه. حضرتِ سَيِّدَتُنا رابعه بَصرِيه رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهَا د **الله** تعالیٰ په بارګاه کښې لاسونه پورته کړل او داسې عرض يې وکړو: اے زما خوږه **الله**! دا کس ستا بارګاه کښې يو ساعت ودريدو نو تا قبول کړو او زۀ د ډير وخت نه ستا بارګاه کښې ولاړه يم، آيا تا زۀ هُم قبوله کړې يم؟ ناځاپه يې د زړۀ په غوږونو دا آواز واوريدو: اے رابِعه! مونږه هغه ستا په وجه قبول کړو او هُم ستا په

وجه مو ورته خپل نزديكت عطا كړو. (حکایتیں اور نصیحتیں ص۳۰۶ مُلَخَّصاً) د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

نگاہِ ولی میں وہ تاثیر دیکھی | بدلتی ہزاروں کی تقدیر دیکھی

ما ليدلے په نظر كښې د وَلي داسې تاثِير | چې بدل يې د زرګاؤ كړو تقدِير

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نمانځهٔ د وختونو د خيال ساتونكي فضيلت

د حُضُور تاجدارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: الله پاک اِرشاد فرمائي: كه بنده په وخت كښې نمونځ قائم وساتي نو زما د بنده زما په ذِمّهٔ كرم باندې دا عَهد (يعني وعده) ده چې هغهٔ ته به عذاب نهٔ وركووم او بې حسابه به يې جَنَّت ته داخلووم." (اَلْفِرْدَوْس بِمَأْثُور الْخِطاب ج۳ ص۱۷۱ حديث۴۴۵۵)

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو دَرداء رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَحبابو (يعني دوستانو) ته اُوفرمائيل: كه تاسو غواړئ نو زهٔ به ضرور قَسَم اوخورم، بيا يې اُوفرمائيل: قَسَم په هُغه الله! چې د هغهٔ نه سِوا بل هيڅ څوک مَعبُود (يعني د عبادت لائق) نشته، بيشكه د الله پاک په بارګاه كښې د ټولو بندګانو نه زيات عَظَمت والا خلک هُغه دي څوک چې شپه او ورځ د نمر او سپوږمۍ خيال ساتي. اَحبابو (يعني دوستانو) عرض وكړو: اے اَبُو دَرداء! آيا د دې نه مُـؤَذِّنِين مُراد دي؟ هغوئي اُوفرمائيل: "بلكې كوم مسلمان هُم چې د نمانځهٔ د وخت خيال ساتي." (كتاب الثقات ج۴ ص۳۳۰ حديث۴۷۹۹)

## .... نو نمونځ نهٔ كيږي

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اوس تاسو د نمانځهٔ د وختونو د خيال ساتلو فضيلت واوريدو، هر چا ته د نمانځهٔ د وختونو خيال ضرور ساتل پكار دي. بعضې نمونځ ګُزاره [خلک هُم] د دې بالكل پرواه نهٔ كوي، تر دې چې نمر را اوخيژي او د سحر د نمانځهٔ وخت تير شي او دوئي بيا هُم نمونځ كوي! حالانكې كه د سحر د نمانځهٔ سلام ګرځولو نه مخكښې د نمر يوه پلوشه هم را اوخيژي نو نمونځ به نه كيږي. اعلیٰ حضرت اِمامِ اهلِسُنّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د وخت پيژندل (يعنې د نمانځهٔ، روژې وغيره وختونو معلومات لرل) خو هر مسلمان باندې فرضِ عَين (يعنې د هر عاقِل و بالِغ مسلمان د پاره ضروري) دي.“
(فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج۱۰،ص۵٦٩)

## اوس د وختونو معلومات زيات مشكل نهٔ دي

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن صبا د ترقئ دَوَر دے، اوس وختونه معلومول زيات مشكل نهٔ دي، وخت معلومولو د پاره كينتې [ګړئ] موجودې دي، مخكښې به خلكو نمر، سپوږمئ او ستورو ته كتل او وخت به يــې معلومولو. اوس هُم د دې ذريعو نه معلومولو نه پس تَوقِيت دان عُلَماء زمونږ د سهولت د پاره د نمانځهٔ او پيشمني او روژه ماتي [د وختونو] نقشه جوړوي او عام طور زمونږه جوماتونو كښې دا نقشې زوَړندې وي.[1]

[1] اَلْحَمْدُلِلّٰه د عاشقانِ رَسُول ديني تَحريك، ”دعوتِ اسلامي“ زيرِ اِهتِمام ”مجلِسِ تَوقِيت“ تيرو ډيرو كلونو نه د اعلیٰ حضرت اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د تَحقِيق مطابق د نمانځه د صحيح وختونو او د قِبلې د صحيح رُخ مُتعَلِّق د ټولې دُنيا د مسلمانانو د رهنمائي د پاره په كوشش كښې مصروف دے. (د دې لِيك د وخته پورې) د پاكستان د ډيرو غټو ښارونو نظامُ الاوقات (TIME TABLE) شائع شوي دي، چې هغه د مَكْتَبَةُالْمَدِينه د مُتعَلِّقه شاخونو نه

## د څمکي نه دِينارونه راوِيستلو والا نمونځ ګزاره (حِکايت)

حضرتِ سَيِّدُنا ابوبكر بِن فضل رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي چې ما د خپل يو رُومي دوست نه په تينګتيا سره تپوس وکړو چې ستا د اسلام قبلولو سبب څه دے نو هغهٔ دا بيان وکړو چې: زمونږه په ملک باندې د مسلمانانو لښکر حمله وکړه، جنګ وشو، څه خلک زمونږه قتل شو او څه د هغوئي. ما يواځې لس مسلمانان قيد کړل. په رُوم کښې زما ډير لوئي کور وو، هغوئي مې خپلو خادمانو ته حواله کړل. هغوئي ورته بيړئ واچولې او د **قچرو** بارولو په کار يې ولګول. يوه ورځ څه ګورم چې په هغه قيديانو باندې مُقَرَّر يو خادِم نمانځهٔ ته د پريښودو په بدله کښې د يو قيدي نه څه اخلي [يعنې هغه قيدي هغه خادِم ته څه رقم ورکوي چې ما نمانځهٔ ته پريږده]، ما هغه خادِم اُووَهلو او تپوس مې ترينه وکړو چې اُووايه! ته د دې قيدي نه څه اخلې؟ هغه اُووئيل چې دے ما ته د هر **نمانځهٔ** په وخت کښې يو دِينار (يعنې د سرو زرو سيکه) راکوي. ما ترينه تپوس وکړو: آيا ده سره دِينارونه شته دے؟ هغه اُووئيل نه، خو چې **کله د نمانځهٔ نه فارغ شي نو په څمکه لاس اُووهي او د هغې نه يو دِينار را اُوباسي او ما ته يې راکړي!** (د هغه خادِم خبره چې ما واوريدله نو) زما په زړهٔ کښې شوق پيدا شو چې زهٔ د دې خبرې په حقيقت ځان پوهه کړم. لِـهذا چې بله ورځ راغله نو ما د هغه

---

حاصليدے شي. نوره هُم د مُلك او د بيرونِ مُلك د ډيرو ښارونو د "نظامُ الاوقات" د اشاعت سلسله جاري ده. په نظامُ الاوقات کښې د ښارونو د [رقبې د] غځوالي او د اوچتو عمارتونو لحاظ ساتلو سره سره د آئنده 26 کالو مُمکِنه فرق هُم شرعي احتياط سره شامِل کړے شوے دے. ياد ساتئ! چې هر کال د نمونځونو وختونو کښې څه فرق راځي هر څلورم کال بيا هُم هغه ځائے له راځي، لِـهذا د نور صحيح کولو د پاره د آئنده 26 کالو مُمکِنه فرق هُم شرعي احتياط سره شامِل کړے شوے دے. د دې نه علاوه د مجلِس تحت تيار شوي مختلف موبائل ايپليکيشنز او آن لائن نِظامُ الاوقات نه علاوه د اَوقَاتُ الصَّلٰوة سافټ ويئر په ذريعه هُم د دُنيا تقريباً د 27 لکو مقاماتو د پاره نظامُ الاوقات او د قِبلې طرف معلوميدے شي.

خادِم وردي واغوستله او د هغه په ځائے ودریدم. چې د ماسپښین وخت شو نو هغهٔ ما ته اشاره وکړه چې ما **نمونځ** کولو ته پریږده نو زهٔ به تا ته یو دِینار درکړم. ما اُووئیل: زهٔ به د دوو دینارونو نه کم نه اخلم. هغهٔ اُووئیل: صحیح ده. ما هغه خلاص کړو، هغه چې د **نمانځهٔ** نه فارِغ شو نو ما ولیدل چې **په ځمکه یې لاس اُووهلو او د هغه ځائے نه یې دوه دِینارونه را اُوویستل او ما ته یې راکړل.** چې د مازیګر وخت راغے نو هغهٔ ما ته د **مخکښې** په شان اِشاره وکړه، ما ورته اِشاره وکړه چې د پینځهٔ دِینارونو نه کم به نه اخلم. هغه اُومنله. چې د ماښام وخت شو نو حسبِ معمول یې ما ته بیا اِشاره وکړه، ما اُووئیل: د لسو دِینارونو نه به کم نهٔ اخلم. هغهٔ زما خبره اومنله. او چې کله د **نمانځهٔ** نه فارِغ شو نو د ځمکې نه یې لس دِیناره راوِیستل او ما ته یې راکړل، چې بیا کله د ماسخوتن د **نمانځهٔ** وخت شو نو هغهٔ د خپل عادت مطابق ما ته بیا اشاره وکړه، ما اُووئیل: زهٔ به د شلو دینارونو نه کم نهٔ اخلم، هغه بیا هم زما خبره تسلیم کړه، او د **نمانځهٔ** نه چې فارِغ شو نو د ځمکې نه یې شل دِیناره را اوویستل او ما ته یې راکړل او ویې وئیل: چې څه غواړې هغه غواړه زما مَولٰی ډیر غني او کریم دے، زهٔ چې د هغه نه څه غواړم هغه به یې راکوي. د هغهٔ دا مُعامَله چې ما ولیده نو زما یقین وشو چې دا وَلِیُّ الله دے، ما باندې د هغهٔ رُعب پریوتو او د زنځیرونو نه مې خلاص کړو او هغه شپه مې په ژړا تیره کړه.

چې سحر شو نو هغه مې را اوغوښتلو او د هغهٔ تعظیم و تکریم [یعنې ادب و احترام] مې وکړو، هغهٔ ته مې د هغهٔ د خوښې نوے لباس ور واغوستلو او اختیار مې ورکړو چې که غواړې نو زمونږ په ښار کښې ښهٔ د عِزَّ ت په کور کښې یا محل کښې اوسیږه او که غواړې نو خپل ښار ته لاړ شه. هغهٔ خپل ښار ته تلل خوښ کړل. ما یو قچر را اوغوښتو او د لارې سامان مې ورکړو او پخپله مې په قچر سور کړلو. هغهٔ ما ته دُعا وکړه: "الله پاک دې ستا خاتِمه په خپل خوښ کړې دِین باندې وکړي." د هغهٔ دا جُمله لا پوره شوې نهٔ وه

چې زما په زړهٔ کښې د اسلام مَحَبَّت پیدا شو، بیا مې هغهٔ سره خپل لس غُلامان ولیږل او هغوئي ته مې حُکم وکړو چې دوئي په نهایت احترام سره بوځئ. بیا مې هغهٔ ته یو دوات (یعنې د سیاهي بوتل) او کاغذ ورکړو او یوه نښه مې ورسره مُقَرَّره کړه چې کله تاسو په پوره حفاظت خپل ځائے ته ورسیږئ نو هغه نښه اولیکئ او ما ته یې راولیږئ. زمونږه او د هغوئي د ښار د مینځه د پینځؤ ورځو فاصله وه. چې شپږمه ورځ راغله نو زما خادمان ما ته راغلل، هغوئي سره رُقعه هُم وه چې په هغې کښې د هغهٔ خط او هغه نښه موجوده وه. ما د خپلو خادِمانو نه د زر رارسیدلو تپوس وکړو نو هغوئي اُووئیل چې کله مونږه هغهٔ سره د دې ځائے نه اُووتلو نو مونږ د هیڅ قِسم سترې والي او مَشَقَّت نه بغیر په لږ ساعت کښې هلته ورسیدلو، خو واپس راتلو کښې مو هُم هغه سفر په پینځهٔ ورځو کښې وکړو. چې د هغوئي دا خبره مې ښکه واوریدله نو ما دا کلمه ولوستله: اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ وَ اَنَّ دِيْنَ الْاِسْلَامِ حَقٌّ. (ترجمه: زهٔ ګواهي ورکووم چې د **اللّٰه** نه سِوا بل یو معبود نشته او زهٔ ګواهي ورکووم چې یقیناً حضرت **مُحَمَّد** (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د **اللّٰه** (تعالىٰ) رَسُول دے او بیشکه دِینِ اسلام حق دے) بیا زهٔ د رُوم نه اُووتلم او د مسلمانانو ښار ته راغلم.

(حکایتیں اور نصیحتیں (اردو) ص۱۷۹)

**د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

کیوں کر نہ میرے کام بنیں غیب سے حسن
بندہ بھی ہوں تو کیسے بڑے کارساز کا

(ذوقِ نعت)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# اركانِ اسلام پينځهٔ دي

صحابي اِبنِ صحابي حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنْہُمَا رِوايت کوي چې خوږ مَدَني سردار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي چې د اسلام بُنياد په پينځهٔ څيزونو دے: (۱) د دې خبرې ګواهي ورکول چې د **الله** پاک نه سِوا بل هيڅ څوک د عبادت لائق نشته او **مُحَمَّد** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغهٔ خاص بنده او رَسُول دے او (۲) نمونځ قائمول (۳) زکوٰۃ ورکول (٤) حج کول (٥) د رَمَضَان روژې نيول. (بُخاری ج۱ ص۱٤ حديث ۸)

## د دوه حالتونو نه سِوا نمونځ معاف نه دے

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د کلِمهٔ اسلام نه پس د اسلام د ټولو نه لوئي رکن **نمونځ** دے، په هر عاقِل او بالِغ مسلمان نارينه او زنانه باندې فرضِ عَين دے (يعني د دې ادا کول په هر بالِغ و عاقِل مسلمان باندې لازمي دي (جنّتي زيور ص۲۰۹)) چې د دوو حالتونو نه سِوا په هيڅ حال کښې معاف نهٔ دے. ﴿۱﴾ جُنُون [يعني ليونتوب] يا بيهوشي چې مُسلسل دومره اوږده شي چې د شپږو نمونځونو وخت پکښې تير شي او په هوش کښې رانشي نو دا نمونځونه به معاف شي او د دې قضا هم لازِمه نه وي ﴿۲﴾ که زنانه ته حيض يا نِفاس راشي نو داسې حالت کښې **نمونځ** معاف شي. د دې دوو حالتونو نه علاوه په يو حالت کښې هُم **نمونځ** معاف نهٔ دے، بيماري اګر که هر څومره سخته وي خو **نمونځ** پکښې معاف نهٔ دے، که د ودريدلو طاقت نه لري نو په ناسته دې **نمونځ** وکړي، که رُکوع او **سَجْده** نهٔ شي کولے نو د سر په اشاره دې رُکوع او **سَجْده** وکړي. که په ناسته هُم **نمونځ** نهٔ شي کولے نو په ملاسته دې يــې په اشاره کښې وکړي، که په ملاسته په سر هُم اشاره نهٔ شي کولے نو بيا به هُم **نمونځ** معاف نهٔ وي، البَته فِي الحال دې **نمونځ** نهٔ کوي چې کله جوړ شي نو د دې نمونځونو قضا به کوي. رسا په جنګ کښې به هُم **مُجاهِد** **نمونځ** کوي، که په آس سور وي او

د کوزيدلو مُهلت نه لري نو د ممکن کيدو په صورت کښې به په اَس د پاسه سور په اشاره **نمونځ** کوي، هُم دغسې په ډير سخت جنګ کښې به هُم د مُمکن کيدو په صورت کښې په اشاره رکوع او سَجْده کوي او **نمونځ** به ادا کوي. قرآنِ مجيد کښې چې څومره د **نمانځهٔ** تاکيدي اَحکام او د **نمانځهٔ** نهٔ کولو سخت وعيدونه راغلي دي دومره تاکيدونه او وعيدونه د بل عبادت د پاره نهٔ دي راغلي. د **نمانځهٔ** د فرضِيَّت انکار کوونکے بلکې د دې په فرضِيَّت کښې شک کوونکے هُم کافِر او د اسلام نه خارج دے او قَصداً [يعني اِرادَتاً] د يو وخت **نمونځ** پريښودلو والا فاسِق، سخت ګنهګار او د وور د عذاب حقدار دے. افسوس! نن صبا بعضې داسې مسلمانان چې څان نمونځ ګُزاره ظاهروي د هغوئ دا حال دے چې لږه شان تبه پرې راشي يا يې په سر درد راشي نو **نمونځ** پريږدي، هغوئ دې خبر شي چې تر څو پورې په اِشاره باندې هُم د **نمانځهٔ** کولو طاقت لري نو **نمونځ** به کوي ګنې د وور د عذاب حقدار به وي. **اللّٰه** رَبُّ الْعِزَّت دې مونږ ټولو ته هره ورځ د پينځهٔ وخته **نمونځ** ادا کولو سعادت رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د مدينے تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير ځله د **نمانځهٔ** اَهَمِّيَّت بيان کړے دے او زمونږ د ترغيب د پاره يې د **نمانځهٔ** بيشميره فضائل هُم بيان کړي دي. چنانچه ولوَلئ او خوشحاله شئ:

## اُمَّتِ مُصطَفیٰ سره د مُوسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام همدردي

د شَهنشاهِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: **اللّٰه** پاک زما په اُمَّت پنځوس نمونځونه فرض کړي وو. چې کله زهٔ واپس د مُوسیٰ (عَلَيۡهِ السَّلَام) خوا ته راغلم نو مُوسیٰ (عَلَيۡهِ السَّلَام) رانه تپوس وکړو چې **اللّٰه** پاک ستاسو (صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په اُمَّت څه فرض کړي دي؟ ما هغوئ ته اُووئيل چې **اللّٰه** پاک په ما پنځوس نمونځونه فرض کړي دي نو هغوئ

(عَلَيْهِ السَّلَام) اُووئيل: خپل **ربّ** ته لاړ شئ، ستاسو (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) اُمَّت دومره طاقت نۀ لري. زۀ واپس **الله** پاک ته ورغلم، د هغې (يعني پنځوسو) نه يـې څه حِصَّه کمه کړه، چې بيا د مُوسیٰ (عَلَيْهِ السَّلَام) خوا ته راغلم، نو هغوئي زۀ بيا وګرځولم. **الله** پاک اُوفرمائيل: بنه پينځۀ دي او د پنځوسو قائم مقام دي. ځکه چې زمونږه قول کښې تبديلي نه کيږي. زۀ د مُوسیٰ (عَلَيْهِ السَّلَام) خوا ته واپس راغلم. هغوئي (عَلَيْهِ السَّلَام) اُووئيل: بيا **الله** پاک ته ورشئ. ما جواب ورکړو: ما ته خو د خپل **ربّ** نه نوره حياء محسوسيږي. (اِبنِ مَاجه ج۲، ص۱٦٦ حديث۱۳۹۹)

## پينځۀ نمونځونه کوئ او د پنځوسو ثواب حاصلوئ

حضرتِ سَيِّدُنا اَنَـس رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ فرمائي: په نبئ مُحترم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د مِعراج په شپه **پنځوس نمونځونه** فرض کړے شو، بيا کم کړے شو، تر دې چې پينځۀ پاتې شو، بيا ورته آواز اوکړے شو: اے حبيبه (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) زمونږه خبره نه بدليږي او ستاسو (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) **د پاره د دې پينځؤ په بدل کښې د پنځوسو ثواب دے.** (ترمِذِی،ج۱ص۲٥٤ حديث۲۱۳)

## مُوسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام مدد وکړو

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** تاسو وليدل! چې **حضرتِ سَيِّدُنا مُوسیٰ کَلِيمُ الله** عَلَيْهِ السَّلَام **د خپل ظاهري وفات نه دوه نيم زره کاله پس د اُمَّتِ مُصطَفیٰ دا مدد وکړو چې د معراج په شپه يـې د پنځوسو نمونځونو په ځائے پينځۀ کړل.** **الله** پاک ته معلومه وه چې نمونځونه به پينځۀ پاتې کيږي خو پنځوس يـې مُقَرَّر کړل او بيا يـې د خپلو دوو ګرانو [نبيانو] په ذريعه **پينځۀ مُقَرَّر** کړل. دلته مزيداره خبره دا ده چې کوم خلک د شيطان په وسوسه عمل کوي او د دُنيا نه تللو والا خلکو د امداد او تعاون انکار کوي هغوئي هُم پنځوس نه

بلکې پينځۀ نمونځونه کوي حالانکې د پينځۀ نمونځونو په مُقَرَّرولو کښې يقيني طور د غيرُ الله (يعني د الله نه سِوا کس) او هغه هُم د وفات نه پس کيدونکے مدد شامل دے.

## د لوبو شوقي

ځان د نمونځونو پابند جوړلو او د شيطاني وسوسو نه بچ کولو او د ايمان د حفاظت سوچ حاصلولو د پاره د عاشقانِ رَسُول دِيني تنظيم، "دعوتِ اسلامي" ديني ماحول سره خپل تَعَلُّق هر وخت مضبوط ساتئ. راځئ چې يو مَدَني سپرلے واورو: د پنډي ګهيپ (ضلع اَټَک، پنجاب) يو اِسلامي ورور به د عاشقانِ رَسُول دِيني تنظيم "دعوتِ اسلامي" خوشبودار ديني ماحول کښې شامليدو نه مخکښې د ګناهونو ډک ژوند تيرولو. ټوله ورځ کرکټ کول او څو څو ګينټې ټي وي ته ناست فلمونه او ډرامې کتل د هغه خوښ کارونه وو. نَعُوذُبِاللّٰه **نمونځ** کول خو څه بلکې چا به چې ورته د **نمانځۀ** اُووئيل نو د خبرې منلو په ځائے به ورته غُصَّه کيدلو. مور و پلار ته به يې بد رد وئيل او خويندو وروڼو سره به يې بد سُلوک کولو. د هغه د محلّې د دعوتِ اسلامي والؤ يو خو اِسلامي وروڼو به هغۀ ته د اِنفرادي کوشش په ذريعه د **نمانځۀ** کولو او د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې د شرکت کولو دعوت ورکولو خو هغۀ به هيڅ تَوجُّه نه ورکوله. بيا يو اسلامي ورور هغۀ ته اُووئيل چې تاسو کم از کم مَدرَسةُ الْمَدينه (بالِغان) کښې شرکت کوئ د دې په بَرَکت به صحيح قرآنِ پاک لوستل زده کړئ. د اسلامي ورور خبره پرې ښه ولګيده او د خپلې علاقې په جومات کښې يې په مَدرَسةُ الْمَدينه (بالِغان) کښې سبق وئيل شروع کړو. د هغه ځائے ماحول ورته ښۀ ښکاره شو او باقاعدګئ سره يې راتلل شروع کړل. د الله پاک دا لوئي فضل و کرم پرې وشو چې د مَدرَسةُ الْمَدينه (بالِغان) په بَرَکت يې نمونځ کول شروع کړو او د بيشميره سُنَّتونو

او ديني مسائلو زده کولو موقع هُم په لاس ورغله. چې د کوم مدني ماحول نه به لرې
تښتيدلو، لږه موده پس په هم هغه ديني ماحول کښې پوخ شامل شو.

تمھیں لطف آجائے گا زندگی کا　　قریب آکے دیکھو ذرا مَدَنی ماحول
(وسائلِ بخشش ص ٦٠٤)

تا ته به درکړي خوند دا خپل ژوند　　ته راشه لږ نزدې اُووِينه دا ديني ماحول

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په صبر او نمانځهٔ سره مدد اوغواړئ

د دعوتِ اسلامي د مَکتَبَةُ الْمَدِينه د ترجمې والا قرآن ''كَنْزُ الْإِيْمَان مع خَزائِنُ الْعِرفان''
صفحه 17 پاره 1 سُوْرَةُ الْبَقَرَه آيت نمبر 45 کښې اِرشاد کيږي:

وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ؕ وَ اِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ ﴿۴۵﴾

[مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُ الإيمان: او د صبر او نمانځهٔ سره مدد اوغواړئ او بيشکه نمونځ ګران دے، خو په هغوئي نهٔ، څوک چې د زړهٔ د اخلاصه زما طرف ته تيتيږي.

صَدرُ الْاَفاضِل حضرت مولانا سيِّد نعيم الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آيت نه لاندې ليکي: يعني د خپلو حاجتونو د پاره په صبر او **نمانځهٔ** سره مدد اوغواړئ (نور فرمائي:) په دې آيت کښې د مصيبت په وخت کښې د **نمانځهٔ** په ذريعه د اِستِعانَت (يعني د مدد غوښتلو) تعليم هُم ورکړے شوے دے ځکه چې دا [نمونځ] د عِبادتِ بَدَنِيَّه او نَفسانِيَّه جامِع دے او په دې کښې د **الله** نزديکت حاصليږي. حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د اَهمو اُمورو په

پیښیدلو **نمانځهٔ** کښې مشغول کیدلو، په دې آیت کښې هُم وئیلي شوي دي چې مُؤمِنِین صادِقِین (یعنې رښتیني مسلمانانو) نه سِوا نورو باندې **نمونځ** درُوند دے. (خَزائِنُ الْعِرفان ص۱۷)

## چې کله به په بارګاهِ رِسالت کښې لوَږه حاضره شوه....

**حضرت** مُفتي احمد یار خان رَحمَۃُاللہِ عَلَیْہ د دې آیتِ مبارکه نه لاندې لیکي: دلته "**صلٰوۃ**" نه یا خو پینځهٔ وخته نمونځ مُراد دے یا خاص نمونځ. یعنې د پینځهٔ وخته نمونځونو په ذریعه مدد حاصلول، د هر مصیبت په وخت کښې د نمونځونو په ذریعه، د قحط په کال باندې د اِستِسقا د نمانځهٔ په ذریعه او د خاص مصیبت په وخت کښې د صلٰوۃِ حاجت وغیره په ذریعه. ځکه چې نمونځ انسان د دُنیا نه بې خبره کړي او د **الله** طرف ته یې مُتَوَجِّه کوي، ځکه د دې په بَرَکت د دُنیا مشکلات د زړهٔ نه فراموش (یعنې هیر) کړے شي." (صاحِبِ تفسیرِ عزیزي" دې ځائے کښې بیان کړي دي چې د نبیِّ کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په کور کښې به [کله] لوَږه وه او د شپې به یې څه ملاحظه نه کړل (یعنې اُونه خوړل) او د لوَږې غَلَبه به شوه نو نبیِّ کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به جومات ته تشریف یوړلو او **نمانځهٔ** کښې به مشغول شولو. (تفسیرِ نعیمی ج۱ ص۲۹۹ تا ۳۰۰)

## چې کله د زوئې د وفات نه خبر شو (حکایت)

حضرتِ اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ چې د زوئې د وفات خبر واوریدو نو **نمانځهٔ** کښې مشغول شو او **نمونځ** یې دومره اوږد کړو چې خلکو [مرحوم] ښخ کړو او واپس راغلل نو هله [د نمانځهٔ نه] فارغ شو. خلکو ترینه د وجهې تپوس وکړو نو ویې فرمائیل چې دې زوئې سره زما ډیر مَحبَّت وو، ما د دهٔ د جُدائي غم نه شو برداشت کولے، لِهذا **نمانځهٔ** کښې مشغول شوم نو د دې غم نه بې خبره شوم او هُم دا آیت (وَاسْتَعِیْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوۃِ ؕ [مَفهُوم] ترجمهٔ

کنزُالاِیمان: او په صبر او نمانځهٔ سره مدد اوغواړئ) یـې ولوستلو.

(تفسیرِ نعیمی ج۱ص۲۹۹ تا ۳۰۰)

جنت میں نرم نرم بچھونوں کے تخت پر | آرام سے بٹھائے گی اے بھائیو! نماز

په تخت به مو جَنَّت کښې د نرمو بسترو | په آرام کښینوي اے وروره دغه مونځ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د جومات هوا د ایمان صحیح کولو د پاره فائده منده ده

**مُفتي** احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په یو مقام کښې فرمائي: **نمونځ** د مصیبتونو بهترین علاج او د رحمتونو حاصلولو اعلیٰ ذریعه ده، **نمانځهٔ** سره د بدن صفائي، د لِباس پاکي، د اخلاقو پاکیزګي، د آخرت سره اُلفت او د دُنیا نه بې رَغبتي او **ربّ** تعالیٰ سره مَحبَّت حاصلیږي، په شرط د دې چې په حُضُورِ قَلب (یعني د زړهٔ په تَوجُّه) سره ادا کړے شي. څنګه چې په مختلفو دوایانو کښې تاثیرونه دي هُم دغسې په **نمانځهٔ** کښې دا تاثِیر دے چې هغه د ګناهونو او بدو کارونو نه بچ کول کوي او څنګه چې د غرونو هوا د تندرستئ د پاره فائده منده وي هُم دغسې **د جومات هوا د ایمان صحیح کولو د پاره فائده منده وي، نمانځهٔ** کښې یوه خاص خبره دا ده چې دا د انسان فِکر غلطوي یعني د دُنیا نه یـې بالکل غافله کړي او د **ربّ** (تعالیٰ) په طرف یـې مُتَوَجِّه کوي چې د هغې په وجه د انسان نه دُنیوي غم هیر شي او چې [نمانځهٔ نه] فارِغه شي نو داسې خوشحاله وي چې بیا یـې زړهٔ کښې د مصیبت زیات احساس نهٔ وي، اوګورئ د مِصر ښځې په جمالِ یُوسُفي (یعني د یوسف عَلَيۡهِ السَّلَام په ښائست) کښې ورَکې شوې نو خپلې ګوتې یـې پریک کړې او تکلیف ورته

هېڅو محسوس نه شو، او د وَيُ کولو په ځائے يـې هُم دا وئيل چې مَا هٰذَا بَشَرًا ؕ اِنْ هٰذَاۤ اِلَّا مَلَكٌ كَرِيْمٌ ﴿۳۱﴾ ([مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: دا خو د بشر د جِنس نه نۀ دے، دا خو نۀ دے خو يو مُعَزَّزه فرښته. (پ۱۲: یوسف۳۱) (تفسیرِ نعیمی ج۲ ص۷۸))

رحمت کے شامیانوں میں خوشبو کے ساتھ ساتھ
ٹھنڈی ہوا چلائے گی اے بھائیو! نماز

د رَحمت په برنډو کښې به سره د خوشبويانو
يخې يخې هواګانې چلوي اے وروره! دغه مُونځ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په ځنکدن کښې د خوږ مُصطَفٰی ﷺ د دِيدار خوندونه

په ربّ مې دې قَسَم وي چې که د ځنکدن په وخت کښې د خوږ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شي نو هغه وخت به هُم هيڅ تکليف نۀ محسوسيږي بلکې حالت به دا وي چې ساه به خيژي خو په ژبه به دا جاري وي چې خوږه مَدَني آقا (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم)! ستاسو د ښکلي مخ نه قربان شم! ستاسو د زُلفو نه قربان شم! ستاسو د ګرځيدلو د انداز نه قربان شم! ستاسو د مُسکي کيدلو نه قربان شم! صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ سيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَ بَارَک وَسَلَّم. (تفسیرِ نعیمی ج۲ ص۸۷)

سکرات میں گر روئے محمد پہ نظر ہو
ہر موت کا جھٹکا بھی مجھے پھر تو مزہ دے

چې نظر مې څنګدن کېښې وي په مخ د مُـحَمَّد
راکوي به بيا د مرګ هره جتېکه را ته خوندونه

صَـلُّوْا عَـلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# مُصيبت کښې د نمانځهٔ په ذريعه د مدد غوښتلو درې حِکايات

## ﴿۱﴾ زوئې يـې پوليس پريښودلو (حِکايت)

د حضرتِ سَيِّدُنا ابو الحسن سري سَقَطِي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه يوه ګاونډۍ زنانه د هغوئې په خدمت کښې حاضره شوه او عرض يـې وکړو: اے ابو الحسن! د شپې سپاهيانو زما زوئې بوتلے دے، کيدے شي چې هغوئې هغهٔ ته تـکليف ورکړي، تاسو مهرباني وکړئ او زما د زوئې سفارش وکړئ يا ما سره خوک وليږئ. د ګاونډۍ فرياد يـې چې واوريدو نو هغوئې ودريدلو او خُشُوع و خُضُوع سره په **نمانځهٔ** کښې مشغول شو. چې ډير وخت وشو نو هغه ښځې اُووئيل: اے ابو الحسن! زر کوئ! هسې نهٔ چې حاکـم زما زوئې په قيد کښې واچوي! هغوئې مسلسل په **نمانځهٔ** کښې مشغول وو، بيا د سلام ګرځولو نه پس يـې اُوفرمائيل: "د **اللّٰه** پاک بندګۍ زهٔ هُم ستا مُعامَله حل کولو کښې لګيا يم." دا خبرې لا جاري وې چې د هغه ښځې خادِمه راغله او ويـې وئيل: بي بي جي! کور ته راځئ! ستاسو زوئې کور ته راغلے دے. دا يـې چې واوريدل نو هغه ګاونډۍ يـې ډيره خوشحاله شوه او هغوئې رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ته يـې ډيرې دُعاګانې وکړې او د هغه ځائے نه لاړه. (عيون الحكايات ص ١٦٤ مُلَخَّصاً)(عيون الحكايات (اردو) ج١ ص٢٦٦) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دې په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

قیدیو! چاہو براءت، تم پڑھو دل سے نماز
دور ہو جائے گی آفت، تم پڑھو دل سے نماز

قيديانو غواړئ که براءَت، مونځ وکړئ په اخلاص
لرې به شي ستاسو آفت، مونځ وکړئ په اخلاص

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۲﴾ تيز باران وشو.... څنګه؟ (حِکايت)

د خادِمِ نبي حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ باغبان (يعني مالي) يو ځل حاضر شو او د ډير زيات قَحط (يعني باران نۀ کيدو) شکايت يې وکړو. حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اودس وکړو او **نمونځ** يې وکړو بيا يې اُوفرمائيل: اے باغبانه! د آسمان په طرف اوګوره! آيا تا ته څه ښکاري؟ هغۀ عرض وکړو مُحترمه! ما ته خو آسمان کښې هيڅ هُم نۀ ښکاري! هغوئي بيا **نمونځ** وکړو او هُم هغه تپوس يې وکړو او باغبان هُم هغه جواب ورکړو. دريم او څلورم ځل يې چې **نمونځ** وکړو او هُم هغه تپوس يې وکړو نو باغبان جواب ورکړو: د مرغۍ د يو وَزَر هومره د وريځې يوه ټُکړه ښکاري. هغوئي په **نمانځۀ** او دُعا کښې مسلسل مشغول وو تر دې چې په آسمان باندې هر طرف ته وريځې خورې شوې او **تيز باران وشو**. حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ باغبان ته حُکم وکړو چې په اَس سور شه او اوګوره چې باران کوم ځائے پورې رسيدلے دے. هغۀ څلور وارو طرفو ته اس وزغلولو او ويې کتل، واپس چې راغلو نو ويې وئيل چې دا باران د "مُسيَّرِين" او "غضبان" د مَحَلّو نه مخکښې نه دے تير شوے. (کرامات صحابه ص۱۹۵) (طبقاتِ اِبنِ سَعْد ج۷ ص۱۵) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ابرِ رحمت جھوم کر برسے گا ہو جائے گی دور   قحط سالی کی مصیبت تم پڑھو دل سے نماز

د رحمت باران به وشي ښه ډير، شي به لرې
د قَحط مصيبت، مونځ وکړئ په اخلاص

صَـلُّوْا عَـلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۳﴾ چينه جاري شوه (حِکايت)

د حضرتِ سَيِّدُنا عُقبه بِن نافِع فِهري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لښکر د افريقه په جِهادونو کښې يو ځل يو داسې ځائے ته ورسيدو چې هلته د لرې لرې پورې اوبه نه وې، او اسلامي لښکر د تندې نه بيتابه شو. حضرتِ سَيِّدُنا عُقبه بِن نافِع فِهري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دوه رکعاته **مونځ** وکړو او دُعا د پاره يــې لاس پورته کړل، لا دُعا نه وه ختمه شوې چې د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اس په ښپه باندې ځمکه کَرَوَل شروع کړه. هغوئي ورپاڅيدلو، چې ويـې کتل نو خاوره لرې شوې وه او يوه کڼه ښکاريدله! هغوئي چې څنګه هغه کڼه لرې کړه نو د هغې نه لاندې يو دَم د اوبو چينه را اوتله او دومره اوبه را اووتلې چې ټول لښکر وڅښلې، ټولو ښاروو هم ښې ډيرې اوبه وڅښلې او لښکريانو ترينه خپل مشکونه هُم ډک کړل، بيا يــې هغه چينه هُم داسې روانه پريښودله او لښکر مخکښې روان شو. (الکامل فی التاریخ ج۳ ص۴۵۱) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

قطعہ بے آب ہو، بے چین ہو بے تاب ہو
پیاس کی ہو دور شدت، تم پڑھو دل سے نماز

چې کـوم ځائے نه وي آب، او تاسـو يـې ډير بې تاب
لرې به شي د تندې شِدَّت، مونځ وکړئ په اخلاص

صَـلُّوْا عَـلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مونږ ته د نمانځهٔ نه راحَت را ورسوئ!

**اے د نمانځهٔ عاشقانو!** چې کله څه مصیبت راشي یا څه بلا نازله شي یا څه نازکه معامله پیښه شي نو فوراً د **نمانځهٔ** په ذریعه مدد غوښتل پکار دي. زمونږه خوږ آقا مکی مَدَنـی مُصطَفیٰ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته به چې څه اَهَمه مسئله پیښه شوه نو **نمانځهٔ** کښې به مشغول شولو. ولې چې **نمونځ** د ټولو اَذکارو او دُعاګانو جامِع (یعنې پوره کوونکے) دے، د دې په بَرَکَت د غم درد نه نجات حاصلیږي. هُم دا وجه ده چې زمونږه خوږ مَدَني تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به حضرت بِلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته فرمائیل: ''اے بِلاله! مونږ ته د **نمانځهٔ** نه راحَت را ورسوئ'' (معجم کبیر ج٦ ص٢٧٧ حدیث٦٢١٥) (یعنې اے بِلاله! اذان وکړه چې مونږه **نمانځهٔ** کښې مشغول شو او مونږ ته راحت حاصل شي) حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله اِبنِ مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: چې کله ته د آسمان نه څه (د ګړ ګوړ وغیره ویروونکے) آواز واورې نو **نمانځهٔ** ته مُتَوَجِّه شه (شرح البخاری لابنِ بَطّال ج٣ ص٢٦) **مبسُوط** کښې دي: چې کله تِیارهٔ خوره شي یا ډیرې تیزې هواګانې لګیدل شروع شي نو هغه وخت **نمونځ** کول بهتر دي. د حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا په باره کښې منقول دي چې بَصره کښې زَلزَله راغله نو هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ **نمونځ** وکړو. (مِرقاةُ الْمَفَاتِیح ج٣ ص٥٩٨)

## د دوه رکعاتو د مُسْتَحَب کیدو موقعې

**حضرت** عَلَّامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: که سخته سیلۍ راشي یا د ورځې سخته تِیارهٔ خوره شي یا د شپې خوفناکه رڼا خوره شي یا مسلسل ډیر باران وریږي یا ډیره ګلۍ وریږي یا آسمان سُور شي یا تندرونه پریوځي یا ډیر ستورې ماتیږي یا طاعون وغیره وَبا خوره شي یا زلزلې راشي یا د دُښمن ویره وي یا بل څه خوفناک کار پیښ شي، د دې ټولو د پاره دوه رکعاته **نمونځ مُسْتَحَب** دے. (عالمګیری ج١ ص١٥٣، بهارِ شریعت ج١ ص ٧٨٨)

## چې کله د تحرير په دوران کښې زلزله راغله (حِکايت)

اِمام فخرُ الدِّين رازي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: نن سحر يکم مُحَرَّمُ الۡحَرَام 602 هجري ما د دې کتاب (يعني د تفسيرِ کبير) صفحې ليکلې چې ناڅاپه د زلزلې جټکې راغلې او تيز آواز راغے! ما خلک وليدل چې هغوئي په چغو چغو او په زارئ زارئ دُعاګانې کوي. چې بيا کله څمکه په سکون شوه، مزيداره هوا چليدل شروع شوه او حالات د معمول مطابق شو نو خلکو بيا خپل حرکتونه شروع کړل او هُم هغسې فُضُول او بې هوده کارونو کښې مشغول شو او دا ترينه هير شو چې لږ ساعت مخکښې هغوئي چغې او سُورې وهلې، د الله پاک نوم يې يادولو او هغۀ ته يې په زارئ زارئ سوالونه کول. (تفسيرِ کبير ج٧ ص٢٢٣)

## بنده په مصيبت کښې رب يادوي او.....

درويشتمه (23) سيپاره سُوۡرَةُ الزُّمَر آيت نمبر 8 کښې اِرشاد کيږي:

وَ اِذَا مَسَّ الۡاِنۡسَانَ ضُرٌّ دَعَا رَبَّهٗ مُنِيۡبًا اِلَيۡهِ ثُمَّ اِذَا خَوَّلَهٗ نِعۡمَةً مِّنۡهُ نَسِىَ مَا كَانَ يَدۡعُوۡۤا اِلَيۡهِ مِنۡ قَبۡلُ

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُ الاِيمان: او چې کله انسان ته څه تکليف ورسي، خپل رب يادوي، هُم هغۀ ته ټيټ شوے، بيا چې کله الله هغۀ ته له خپل طرفه څه نعمت ورکړو نو ترينه هير شي د څه د پاره يې چې مخکښې ياد کړے وو.

او يوولسمه (11) سيپاره، سُوۡرَةُ يُوۡنُس آيت نمبر 12 کښې اِرشاد کيږي:

وَ اِذَا مَسَّ الۡاِنۡسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا لِجَنۡۢبِهٖۤ اَوۡ قَاعِدًا اَوۡ قَآئِمًا ۚ فَلَمَّا كَشَفۡنَا عَنۡهُ ضُرَّهٗ مَرَّ كَاَنۡ لَّمۡ يَدۡعُنَاۤ اِلٰى ضُرٍّ مَّسَّهٗ ؕ

[مَفھُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او چې کله انسان ته تکليف رسي نو مونږه يادوي په ملاسته او په ناسته او په ولاړه، بيا چې کله مونږه د هغهٔ نه تکليف لرې کړو نو لاړ شي لکه په څه تکليف رسيدو يې چې مونږه هډو کله ياد کړي نهٔ وو.

صَدۡرُ الۡاَفَاضِل حضرت مولانا سيّد نعيم الدِّين مُراد آبادي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د دې آيت نه لاندې ليکي: مقصد دا دے چې انسان د مصيبت په وخت کښې ډېر زيات بې صبره دے او د راحت په وخت کښې ډېر زيات ناشُکره، چې کله ورته تکليف ورسي نو په ولاړه، ملاسته، ناسته هر حال کښې دُعا کوي، چې کله ترينه **اللّٰه** تکليف لرې کړي نو شُکر نهٔ ادا کوي او خپل سابِقه (يعني تير حالت) طرف ته وګرځي، دا حال د غافِل [انسان] دے، د مومِن عاقِل (يعني د عقلمند مسلمان) حال د دې خلاف دے، هغه په مصيبت او بلا صبر کوي، په راحت او سکون کښې شُکر ادا کوي، د تکليف او راحَت په ټولو حالاتو کښې د **اللّٰه** پاک په دَر کښې ژړا فرياد او دُعا کوي او يو مقام د دې نه هُم اعلٰی دے چې هغه مومنانو کښې هُم مخصوصو بندګانو ته حاصِل دے چې کله څه مصيبت او بلا راشي په هغې صبر کوي، قضائے اِلٰهی باندې د زړهٔ نه راضي اوسي او په ټولو حالاتو کښې شُکر کوي. (خَزائِنُ الۡعِرفان ص۳۹۳)

## اودس او نمونځ د بيمارو نه بچ کول کوي

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! **نمانځهٔ** کښې چې څنګه د مصيبتونو علاج دے، هم داسې پکښې د بيمارو علاج هُم دے. پخپله طبيبانو دا خبره منلې ده چې اودس کولو والا کس دِماغي مرضونو کښې ډېر کم اخته کيږي، **نمونځ** ګُزاره په جُنُون (يعني ليونتوب) او د توري د بيمارو نه اکثر محفوظه اوسي، **نمانځهٔ** د پاره ورځ کښې ډېر ځله اودس کولو کښې اندامونه وينځلے کيږي او **نمونځ** ګُزاره کس جامې هُم صفا سوتره ساتي،

ځکه د ګندګئ او ناپاکئ نه حفاظت کښې اوسي او ښکاره خبره ده چې ګندګي د ډيرو بيمارو جرړه ده.

## نمانځهٔ کښې شِفاء ده

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بيان کوي چې يو ځل ما نمونځ وکړو او د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خنګ کښې کښيناستلم، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: آيا ستا په خيټه کښې درد دے؟ ما عرض وکړو: آو جي. خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: قُمْ فَصَلِّ، فَاِنَّ فِی الصَّلَاةِ شِفَآءً. يعني "پاڅه او نمونځ وکړه ځکه چې نمانځهٔ کښې شِفاء ده."

(اِبنِ مَاجَه ج٤ ص٩٨ حديث٣٤٥٨)

بے عدد امراض سے محفوظ رکھے گی تمھیں
حق سے دلوائی گی صحت، تم پڑھو دل سے نماز

بچ به مو ساتي دا د بيشميره مرضونو نه
در به کړي الله صِحت، مونځ وکړئ په اخلاص

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نمانځهٔ په ذريعه د جِسماني او روحاني بيمارو نه د شفا وغيره مُتَعَلِّق 21 مَدَني ګلونه

(ورومبي شپږ مدني ګلونه د "اِبنِ ماجه حاشيه سندهي" جِلد **4** صفحه **98** نه او بقيه د "فيض القدير" جِلد **4** صفحه **689** نه پيش کړے شوي دي)

﴿۱﴾ **نمونځ** د زړهٔ، معدے او کولمو وغيره په مرضونو کښې شِفاء ورکوي ﴿۲﴾ **نمونځ** د غم درد احساس هيروي يا يې کم کړي ﴿۳﴾ **نمانځهٔ** کښې بهترين ورزش دے ځکه چې د

دي د قيام، رُکوع او سَجْده وغيره کولو سره د بدن اکثر جوړونه حرکت کوي ﴿٤﴾ د نزلې، زُکام د مريض د پاره اوږده سَجْده ډيره زياته فائده منده ده ﴿٥﴾ سَجْده کولو سره بنده پوزه خلاصيږي ﴿٦﴾ کولــمو کښې جمع شوي غير ضروري موادو ته حرکت ورکولو او ويستلو کښې سَجْده ډيره مددګاره ثابتيږي ﴿٧﴾ نمانځهٔ سره ذِهن صفا کيږي او د غُصَّې وور ورسره مړ کيږي ﴿٨﴾ نمونځ سره رزق راځي ﴿٩﴾ د صحت حفاظت کوي ﴿١٠﴾ تکليف لرې کوي ﴿١١﴾ بيماري لرې کوي ﴿١٢﴾ د زړهٔ طاقت زياتوي ﴿١٣﴾ د خوشحالۍ ذريعه جوړيږي ﴿١٤﴾ سستي لرې کوي ﴿١٥﴾ شرح صدر کوي يعني سينه خلاصوي ﴿١٦﴾ رُوح ته خوراک ورکوي ﴿١٧﴾ زړهٔ روښانه کوي ﴿١٨﴾ مخ ځَلَوي ﴿١٩﴾ برکت پيدا کوي ﴿٢٠﴾ خدائے رحمٰن ته نزدې کول کوي او ﴿٢١﴾ شيطان لرې زغلوي. (دا فائدې په دې صورت کښې حاصليدے شي چې نمونځ اطمينان سره په صحيح طريقه ادا کړے شي)

دور ہوں بیماریاں بےکاریاں ناکامیاں
دل میں داخل ہو مسرت، تم پڑھو دل سے نماز

لرې به شي بيمارۍ، بې روزګارۍ او ناکامۍ
زړهٔ کښې به مو شي خوشحالۍ، مونځ وکړئ په اخلاص

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## کوم نبي کوم نمونځ ادا کړے وو

بعضو انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام د مختلفو وختونو نمونځونه جُدا جُدا موقعو کښې ادا کړي وو. الله تعالٰی د خپلو هغه محبوبانو هغه ښکلې اداګانې په مونږه غلامانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې فرض کړې.

## د سحر نمونځ

په فتاوٰی شامي کښې دي: حضرتِ سَيِّدُنا آدَم صَفِيُّ الله عَلَيۡهِ‌السَّلَام د سحر کيدو په شُکرانه کښې دوه رکعاته کړي وو نو دا د سحر **نمونځ** شو. (رَدُّالْمُحْتَار ج٢ص١٦)

د **الله** رَبُّ‌الْعِزَّت په رَحمت په جَنَّت کښې رڼا رڼا او نُور نُور دے. چې کله حضرتِ سَيِّدُنا آدم عَلَيۡهِ‌السَّلَام ځمکې ته د خپلو مبارکو قدمونو شَرف ورکړو نو شپه يې وليده او بيا سحر شو نو خوشحاله شولو او په شُکرانه کښې يې د **سحر نمونځ** ادا کړو.

## د ماسپښين نمونځ

حضرت سيِّدُنا اِبراهيم خليلُ الله عَلَيۡهِ‌السَّلَام د خپل فرزند (يعني زوئي) د ژوند د بچ کيدلو او د ګډ قربانولو په شکريه کښې د ماسپښين په وخت کښې څلور رکعاته ادا کړل نو دا د ماسپښين نمونځ شو. (شرح معانی الآثار ج١ ص٢٢٦ حديث١٠١٤ مُلَخَّصاً)

## د مازيګر نمونځ

حضرت سيِّدُنا عُزير عَلَيۡهِ‌السَّلَام سل کاله پس ژوندے کړے شو. هغې نه [يعني ژوندي کيدلو نه] پس هغوئي څلور رکعاته ادا کړل نو دا د مازيګر نمونځ شو. (شرح معانی الآثار ج١ ص٢٢٦ حديث١٠١٤)

## سَل کاله پس دوباره ژوندے کړے شو (حِکايت)

د حضرت سيِّدُنَا عُزير عَلَيۡهِ‌السَّلَام حکايت ډير زيات خوندور دے. په حُکمِ خُداوندي (يعني د خدائے په حکم) هغوئي سلو کالو پورې وفات شوے وو. د هغوئي د سورلۍ خر خاورې شوے او شيندلے شوے وو. خو د هغوئي خوراک او اُوبه يعني کجورې او دَ انګورو اوبه صَحيح سالِم (يعني سلامَت) وو. سل کاله پس **الله** پاک هغوئي دوباره را ژوندے کړلو. او د هغوئي په مخکښې يـې **خر** هم راژوندے کړو. (تفسير خَزائِنُ الْعِرفان ص٩٠ ماخوذاً) د هغې نه پس

هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د مازيګر نمونځ ادا کړو ځکه چې هغه د ماښام وخت وو [شرعي ماښام نه مُراد زوال ختميدلو نه پس د نمر پريوتلو پورې وخت دے، او هغه مونږ چې پښتو کښې ورته ماښام وائي هغي ته مغرِب وائي].

## د ماښام نمونځ

حضرتِ سَيِّدُنا داوُد عَلَيْهِ السَّلَام د ماښام په وخت کښې څلور رکعاته کولو د پاره ودريدلو خو په مينځ کښې يې په دريم رکعت باندې سلام وګرځوَلو. نو د ماښام د نمانځهٔ درې رکعاته شو. (شرح معانی الآثار ج١ ص٢٢٦ حديث١٠١٤ مُلَخَّصاً)

## د ماسخوتن نمونځ

زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **ماسخوتن نمونځ** ادا کړو. (شرح معانی الآثار ج١ ص٢٢٦ حديث١٠١٤) زمونږه خوږ خوږ اقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د تَهَجُّد نمونځ هم فرض وو. (فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه، ج٧، ص٤٠٢ تا٤٠٨) د ماسخوتن نمونځ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمّت خصوصيت دے.او **پينځهٔ وخته نمونځ** هم. او د تَهَجُّد نمونځ د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خصوصيت دے.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نمونځ دَ جنَّت کنجي ده

حضرت سيِّدُنا جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت کوي چې د **الله** پاک خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: د جنَّت کنجي **نمونځ** دے. او د **نمانځهٔ** کنجي **اودس** دے. (تِرمِذِی، ج١، ص.٨٥ حديث٤)

## دَ جنَّت دَ دَرجاتو کنجي

حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديث پاک نه لاندې ليکي: يعني د جنَّت د درَجاتو کنجي **نمونځ** دے. لِهذا دا حديث د دې خلاف نهٔ دے چې د جنَّت کنجي کلِمه

طَیِّبه ده. ځکه چې (د دې نه مراد) هلته د نفسِ جنَّت (یعني ټخپله د جَنَّت) کنجي مُراد ده. اګر چې د نمانځهٔ شرائِط ډیر دي. وخت، قبلې ته مخ کول وغیره. خو طهارت ډیر اهم دے. ځکه یې دې ته د نمانځهٔ کنجي وئیلې ده. (مِراٰۃ المناجیح ج۱ ص۲٤۰) حضرت سیِّدُنا شیخ عبدُالحق مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ”ځنګه چې دروازه د کنجئ نه بغیر نهٔ شي برسیره کیدے. هم داسې به د جنَّت دروازه هم د **نمانځهٔ** نه بغیر نه برسیره کیږي. ځکه **نمانځهٔ** ته د اِیمان په لَفظ سره تَعبِیر ورکړے شوے دے. (الشعۃ اللمعات (اُردو) ج۱ ص٥٤۲)

## د کنجئ غاښې

تابعي بزرګ حضرت سیِّدنا **وَهْب** بن مُنبِّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه چا تپوس وکړو چې آیا لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دَ جنَّت کنجي نهٔ ده؟ هغوئي ارشاد اوفرمائیلو: ولې نهٔ! خو د هرې کنجئ غاښې وي که تا د غاښو والا کنجي راوړله نو جندره [یعنې تَاله] به خلاصه شي ګنې نه به خلاصیږي (بُخاری ج۱ ص٤۱۹) صَحابي اِبنِ صَحابي حضرت سیِّدُنا عبدُالله بن عبَّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا ته چې د (تابعي بزرګ) **وَهْب** بن مُنبِّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خبره اوکړے شوه نو هغوئي اُوفرمائیل: چې **وَهْب** رښتیا وئیلې دي. آیا زهٔ تاسو ته د هغه غاښو په باره کښې اُونه وایم چې هغه څه دي؟ بیا هغوئي **نمونځ**، زکوٰة، او احکامِ اسلام بیان کړل. (الروض الانف ج٤ ص۳۹۱) **عُمدَةُالقاری** کښې دي چې: د دې (یعنې د جنَّت د) کنجئ غاښې فرائِض او واجِبات ادا کول او ګناهونو نه بچ کیدل دي. (عُمدةُ القاری ج٦ ص٤ مُلَخَّصاً)

## هر مسلمان جَنَّتي دے

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** که چا په فرائضو او واجباتو کښې کوتاهي یعنې کمي وکړه او ګناهونو نه یې ځان اُونه ساتلو خو د ایمان د سلامتئ سره د دې دُنیا نه رُخصتیدلو کښې کامیاب شو نو هغه به جَنَّت ته ضرور داخلیږي. که **الله** اوغواړي نو په خپل رحمت به یې بې حسابه جَنَّت ته داخل کړي او **مَعَاذَالله** که د ګناهونو په سبب

www.dawateislami.net

عذاب ورکړي نو بيا به هُم آخر جَنَّت ورکړي. خو مونږه د جَهنَّم نه [د الله] پناه غواړو، قَسَم په خُدائے! د يو ساعت کروړمه حِصَّه هُم ځوک د جَهنَّم عذاب نه شي برداشت کولے.

کہیں کا آہ! گناہوں نے اب نہیں چھوڑا!
عذابِ نار سے عطار کو بچا یارب

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۷۷)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## اوداسه کښې کيدونکي بعضې غَلَطۍ

او د حديث شريف د دې حِصَّې "د نمانځهٔ کنجي اودس دے" نه د **اودس** د اَهَمِّيَّت اندازه لګيدے شي. اودس تَوجُّه سره کول پکار دي چې د هغې فرض څه چې سُنَّت هُم پاتې نه شي. اوګورئ چې څوک يو پاؤ شوده هُم تودولو د پاره په نغري کيږدي نو ډير په خيال ورته ګوري، ځکه چې هغه په دې خبره پوهيږي چې که ما لږ غفلت هُم وکړو نو شوده به خوټکيدو کښې ضائع کيدے شي، د معمولي نقصان نه د بچ کيدو د پاره خو انسان مسلسل خيال ساتي خو افسوس! نن صبا د بې ځايه تادئ په وجه اکثر خلک د اوداسه د سُنَّتو هيڅ خيال نه ساتي بلکې بعضې وخت خو د فرائضو پرواه هُم نه کوي! د مثال په طور خُله وينځلو کښې د خُلې دننه ټولو حِصَّو ته او د غاښونو ټولو کرکو وغيره ته اوبه رسيدل پکار دي او پوزه کښې اوبه اچولو کښې نرم هډوکي ته رسيدل پکار دي. اوداسه کښې داسې خُله وينځل او پوزه کښې اوبه اچول سُنَّتِ مُؤَکَّدَه او غُسل کښې فرض دي خو اکثر خلک ليدلي شوي دي چې خُله وينځلو کښې زر زر درې ځله هسې رسمي طور اوبه واچوي او زر يې ټوک کړي او د پوزې په سر پورې هسې درې ځله اوبه اومږي. اوداسه کښې يو نيم ځل داسې کول بد او د دې عادت جوړول ګناه ده. او که غُسل

کښېږي يـې داسې وکړل نو غُسل هډو اونشو. هُم دغسې دواړه لاسونه څنګلو پورې داسې وينځل پکار دي چې د اوبو [د نل، لوټے وغيره د ټوټۍ] داره څنګلې پورې صحيح اوبهيږي [يعنې داره د بره نه شروع کول او ښکته څنګلې پورې بوتلل پکار دي] خو يو شمير خلک داسې هُم دي چې په چونګ کښې اوبه واخلي او د مړوند نه يـې ښکته اوبهيوي، داسې وينځلو سره څنګل بلکې د مړوند په ډډو باندې هُم د اوبو نه بهيدلو امکان وي، هُم دغسې دا لحاظ هُم ضروري دے چې يو وړوکے سُور وينښته (د انسان په بدن چې هغه سره واړه واړه نرم وينښته وي هغه) هُم اوچ پاتې نه شي. که اوبه د يو وينښته په جرړه اوبهيدلې او پاسنۍ حِصَّه يـې اوچه پاتې شوه [يعنې صحيح اوبه پرې اُونه بهيدلې] نو **اودس** به نه کيږي. فِکر وکړۍ د اوداسه بې احتياطۍ د آخرت د څومره غټ نقصان باعِث جوړيږي. د اوداسه د ضروري معلوماتو حاصلولو د پاره د **مَكتَبَةُ الْمَدِينه** کتاب ”**د نمانځهٔ احکام**“ کښې شامِله رِساله ”**د اودس طريقه**“ ضرور ولولۍ.

## که يو اسلامي ورور هُم کوشش وکړي نو...

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! د اوداسه، غُسل او **نمانځهٔ** صحيح طريقه زده کولو او د دُنيا او آخرت ډيرې ښيګړې حاصلولو د پاره د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره هر وخت خپل تَعَلُّق مضبوط ساتۍ. ستاسو د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے پيش کووم: د ډيره اسماعيل خان يو اِسلامي ورور د خپل ژوند يوه غټه حِصَّه د عِلمِ دِين نه د لرې والي په وجه ګناهونو کښې تيره کړه. يوه ورځ د نزدې کلي يو اوسيدونکي **مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي** د هغوئي کلي ته تشريف راوړو، هغوئي د مازيګر د نمانځهٔ نه پس د **علاقائي دورے** ترکيب جوړ کړو، د ماښام د نمانځهٔ نه پس يـې د سُنَّتو ډک بيان وکړو او د بيان په آخره کښې يـې **هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع** کښې د شرکت ترغيب هُم ورکړو. هغه اِسلامي ورور اِجتِماع کښې د شرکت نِيَّت خو وکړو خو د دعوتِ اسلامي مَدَني مرکز د کلي نه د ډير لرې کيدو په وجه يـې اِجتِماع کښې شرکت اونکړے شو. بله هفته هغه اِسلامي ورور بيا تشريف راوړو او د

**علاقائي دورے** ترکيب يـې جوړ کړو، او د ماښام د نمانځهٔ نه پس يـې د سُنَّتو ډک بيان وکړو هُم دغسي يوه مياشت تيره شوه خو هغه اِجتِماع کښې شرکت اونکړے شو. دريم ځل هم هغه اِسلامي ورور مَدَني قافلې سره هغه کلي ته تشريف راوړو او د اِنفرادي کوشش په ذريعه يـې سره د هغه اِسلامي ورور درې خلور نور اِسلامي وروڼه هُم د اِجتِماع د پاره تيار کړل. دا ځل هغه هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې شرکت کولو کښې کامياب شو. د سُنَّتو ډک بيان نه پس د ذِکر و دُعا ترکيب وشو، د دُعا په دوران کښې يـې چې د ژړاګانو رِقَّت ناک [يعني زړهٔ نرمولو والا] منظر وليدو نو هغه ته هُم ژړا ورغله. د اِجتِماع بَرَکتونه سمدستي ښکاره شو او هغه پخه اراده وکړه چې اِنْ شَـآءَاللّٰه زهٔ به **مَدَني قَافِله** کښې ضرور سفر کووم. بلې هفته وارې د سُنَّتو ډکې اِجتِماع ته هغه [د خپل کلي نه] يواځې راغلو او د اِجتِماع په صبا له د مَدَني قافلې مسافر جوړ شو. اَلْحَمْدُلِلّٰه مَدَني قَافِله کښې د سفر په بَرَکت د هغه په **نمانځهٔ،** اوداسه او غُسل کښې چې کومې غَلَطۍ وې هغه لرې شوې او ډيرې دُعاګانې يـې هُم زده کړې. د ګناهونو نه يـې توبه وکړه او خپل ځان يـې په مَدَني رنګ کښې رنګ کړو. چې کله د قافِلے نه کور ته را روان شو نو په سر يـې د عِمامې تاج ځليدلو، خلک ډير حيران شو چې په ده کښې دا تبديلي څنګه راغله؟ يو څو ورځې پس يـې هِمَّت وکړو او **جومات کښې يـې د "فيضانِ سُنَّت درس هُم شروع کړو،** د فيضانِ سُنَّت د درس په بَرَکت درې نورو اِسلامي ورونو هُم د عِمامې شريفې تاج په سر کړو، د هغې نه پس هغوئي ټولو باقاعدګۍ سره هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې شرکت کول شروع کړو او په قلاره قلاره د هغوئي په کلي کښې هُم د ديني کارنو مَدَني سپرلے راغـے.

آؤ مدنی قافلے میں ہم کریں مل کر سفر
سنّتیں سیکھیں گے اس میں اِنْ شَآءَاللّٰہ سربسر

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٣٥)

راځئ چې وکړو مَدَني قَافِله کښې په شريکه تِول سفر
زده بـه کړو په دې کښې سُنَّتونه اِنْ شَـآءَاللّٰه سـر بسر

## نمونځ نُور دے

د حضرت سيِّدُنا ابو مالِک اَشعَري رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې د **اللّٰه** پاک خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اَلصَّلَاةُ نُوْرٌ. يعني نمونځ نُور دے.(مُسلِم ص۱۴۰ حديث۲۲۳)

## د نمانځهٔ د نُور کيدو مطلب

حضرت سيِّدُنا امام ابو زکرِيّا يحيٰ بن شَرَف نَوَوِي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَیۡه د **نمانځهٔ** د نُور کيدو په وضاحت کښې ليکي چې: ❖ د دې معنٰی دا ده، چې څنګه د نُور په ذريعه رڼا حاصليږي هم دغه رنګې **نمونځ** هُم د ګناهونو نه ساتل کوي. او د بې حيائې او بدو خبرو نه منع کول کوي او سمه لار ښائي. ❖ د يو قول مطابق د دې معنٰی دا ده چې: د **نمانځهٔ** اجر و ثواب به د قيامت په ورځ د نمونځ ګُزاره د پاره نُور وي. ❖ يو قول دا دے چې: د دې مطلب دا دے چې په ورځ د قيامت به نمونځ د **نمونځ** ګُزاره په مخ باندې نُور جوړ شوے ښکاري. او په دنيا کښې به هم د نمونځ ګُزاره مخ روښانه وي. (شرح مُسلِم ج۲ ص۱۰۱ مُلَخَّصاً)

## د سَجدې نښه به پُلِ صِراط باندې د بيتړئ کار کوي

**حضرت مُفتي احمد** يار خان رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَیۡه د دې حديثِ پاک لاندې ليکي: يعني **نمونځ** د مسلمان د زړهٔ، مخ، قَبْر او د قيامت رڼا ده. پُلِ صِراط باندې به د سَجدې نښه د بيتړئ (يعني د ټارچ) کار ورکوي. ربّ (تعالٰی) فرمائي:

نُوۡرُهُمۡ يَسۡعٰى بَيۡنَ اَيۡدِيۡهِمۡ (پ۲۸، التحريم:۸)([مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: د هغوئي نُور به منډې وهي د هغوئي مخې ته)(مِراٰةُالْمَنَاجِيح ج۱، ص۳۳۲)

پڑھتے رہو، نماز تو چہرے پہ نور ہے
پڑھتا نہیں نماز وہ جنت سے دور ہے

د هغهٔ په مخ وي نُور، چې همیش کـوي نمونځونه
هغه لرې د جَنَّت دے چې څوک نه کوي نمونځونه

صَــلُّوْا عَـلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نمونځ د دِين ستن ده

**خوږ مَدَني آقا** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: **نمونځ** د دِين ستن ده، چا چې دا قائم وساتو هغهٔ دِين قائم وساتو او چا چې دا پریښودو هغهٔ دِین را اُوغورزوو. (مُنْيَةُ الْمُصَلِّی ص١٣)

## ځلیدلي مخونه

منقول دي چې کله قیامت قائم شي نو نمونځ ګُزارو ته به ډلې په ډلې جَنَّت ته د تللو حُکم کیږي چې کله وړومبۍ ډله جَنَّت کښې داخلولو د پاره راوستلے شي نو د هغوئي مخونه به د ستورو په شان ځلیږي، **فرښتې** به د هغوئي استقبال کوي او د هغوئي نه به تپوس کوي چې تاسو څوک یــې؟ هغوئي به وائي: مونږه د اُمَّتِ **مُحَمَّدیه** عَلٰى صَاحِبِهَا الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام **نمونځ ګزاره** یو. بیا به ترینه تپوس کیږي: ستاسو د اعمالو (یعني نمونځونو) څه حال وو؟ هغوئي به وائي: مونږ به چې څنګه اذان واوریدو نو د **اودس** د پاره به پاڅیدلو، د دُنیا یو څیز هُم مونږه د دې نه نهٔ شو ایسارولے. **فرښتې** به وائي: تاسو د هُم دې مُستَحِق [یعني حقداران] یــې (چې تاسو جَنَّت ته داخل کړے شئ) بیا به دویمه ډله جَنَّت ته داخلولو د پاره راوستلے شي چې د هغوئي ښائست به د وړومبۍ ډلې نه زیات وي، د هغوئي مخونه به د **سپوږمۍ** په شان ځلیږي، **فرښتې** به د هغوئي نه تپوس کوي: تاسو څوک یــې؟ هغوئي به وائي: مونږه **نمونځ** کوونکي وو، بیا به ترینه تپوس کوي: ستاسو د نمونځونو څه حال وو؟ هغوئي به

وائي: مونږ به د **نمانځهٔ** د وخت نه مخکښې د **نمانځهٔ** د پاره اودس وکړو (او چې اذان به مو واوريدو نو فوراً به جومات ته حاضريدلو). **فرښتې** به وائي: تاسو د هُم دې مُستَحِق [يعني حقداران] يـې. بيا به دريمه ډله جَنَّت ته داخلولو د پاره راوستلے شي چې د هغوئي مُقام او مَرتَبه او ښائست به د ورومبنو ډلو نه ډير زيات وي، د هغوئي مخونه به د نمر په شان روښانه وي، **فرښتې** به د هغوئي نه تپوس کوي: تاسو دومره ښائسته او دومره اعلىٰ مُقام والا څوک يـې؟ هغوئي به وائي: مونږ به هميشه **نمونځ** کولو. **فرښتې** به ترينه تپوس کوي: ستاسو د نمونځونو څه حال وو؟ هغوئي به وائي: مونږه به د اذان کيدو نه مخکښې جومات کښې موجود وو او اذان به مو جومات کښې اوريدلو. **فرښتې** به وائي: تاسو د هُم دې مُستَحِق [يعني حقداران] يـې. (قُوتُ الْقُلُوب ج۲ ص۱۶۸)

اِک روز مومنو! تمہیں مرنا ضرور ہے
پڑھتے رہو نماز تو چہرے پہ نور ہے

يوه ورځ بـه مومنانو! مـړهٔ کيږئ تاسـو ضـرور
کوئ ډير ډير نمونځونه نـو په مخ به مو وي نُور

## د جنتونو دروازې برسيره کيږي

اَللّٰهُ اَکبَر! **نمونځ** څومره ښکلے عبادت دے. چې د دې د شروع کولو سره د جَنَّت دروازې برسيره کيږي چنانچه،

حضرت سيِّدُنا ابواُمامه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې د شَهَنشاهِ دوعالم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعظَّم دے: کله چې بنده په **نمانځهٔ** ودريږي نو د هغهٔ د پاره د جنتونو دروازې برسيره کړے شي. او د هغهٔ او د هغهٔ د پروردګار د مينځه حِجابات (يعني پردې) لرې کړے شي. او حُورِ عِين (يعني غټو غټو سترګو والا حورې) د هغهٔ استقبال کوي تر څو چې نه پوزه سوڼ کړي نه ارغشے وکړي. (مجمع کبِير ج.۸. ص۲۵۰ حديث۷۹۸)

## څه فرښتې په رکوع کښې دي او څه په سجده کښې

حضرت سَیِّدُنا ابوسَعید رَضِیَ اللهُ عَنهُ نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے:**الله** پاک داسې یو څیز هُم نه دے فرض کړے چې هغه د توحید او **نمانځهٔ** نه بهتر وي. که د دې نه بهتر څه څیز وے نو هغه به یې ضرور په فرښتو باندې فرض کړے وے. په هغوئي (یعنې فرښتو) کښې څوک په رکوع کښې دی او څوک په **سَجدَه** کښې. (اَلْفِردَوس بِمَأثُور الْخطاب ج.١. ص.١٦٥. حدیث٦١٠)

## د عرش فرښتې د مسلمانانو د پاره بخښنه غواړي

منقول دي چې کله **الله** پاک اووه (7) آسمانونه پیدا کړل نو هغه یې د فرښتو نه ډک کړل. هغوئي د **نمونځ** کولو عبادت کوي. او یو ساعت هم تَساهُل (یعنې غَفلَت) نه کوي. **الله** پاک د هر آسمان والؤ د پاره د عبادت یو خاص قسم مُقَّرر کړے دے. چنانچه بعضې آسمان والؤ باندې دا عبادت مُقرَّر شوے دے چې هغوئي دې د صُور (یعنې شپیلۍ) پوکلو پورې په ښپو ولاړ اوسي. د یو آسمان والا په رکوع کښې ښکته شوي دي. د یو آسمان والا په **سَجدَه** کښې دي، د یو آسمان والؤ وَزَري د **الله** پاک د جَلال په وجه زوړندې دي، **عِلّیّین** (یعنې د اووم آسمان) والا او د عرش والا فرښتې د عرشِ اِلٰهي نه چاپیره طواف کوي. او د **الله** پاک **حَمد** او ثنا وائي او د ځمکې والؤ د پاره د بخښنې دُعاګانې کوي. د مسلمانانو د فضیلت په وجه دا ټول عبادتونه په یو **نمانځهٔ** کښې راجمع کړے شوي دي، د پاره د دې چې دوئي (یعنې مسلمانانو ته) د هر آسمان والؤ په عبادت کښې برخه مِلاؤ شي. (مُکاشَفَةُ الْقُلُوب ص ٢٢٢.. مُکاشَفَةُ الْقُلُوب (اُردو) ص ٤٥١ مُلَخَّصاً)

دربارِ مصطفٰی میں تمہیں لیکے جائے گی　　خالق سے بخشوائے گی اے بھائیو! نماز

دربارِ مُصطَفیٰ ته به مو بوځي دغه مونځ
په الله به مو اوبخښي اے وروره دغه مونځ

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

# يولاکھ فرښتې

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد بِن محمّد غزالی رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائی: چې کله مؤمن بنده **نمونځ** کوي نو هغهٔ باندې د فرښتو لس صفونه تَعَجُّب [يعني حيرانتيا] کوي. د هغوئي هر يو صف د لسو زرو وي. او **الله** پاک په هغه بنده باندې د هغه يو لکو فرښتو په وړاندې فخر کوي. (اِحيَاءُ الْعُلُوم ج۱ص۲۳۱ ,اِحْيَاءُالعُلُوم(اردو) ج۱ ص۵۲۶)

# د فرښتو د تَعَجُّب کولو 9 وجهې

اِمام محمّد بِن محمّد غزالي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې روايت بيانولو نه پس فرمائي: د دې وجه دا ده چې د بنده په **نمانځهٔ** کښې قِيام و قُعُود او رُکوع او سُجود راجمع شوي دي. او **الله** تعالیٰ دا څلور ارکان په څلويښت زره فرښتو تقسيم کړي دي. قيام (يعني ولاړې اوسيدونکې) فرښتې به تر قيامته پورې رُکوع نهٔ کوي. سَجْده کوونکې به تر قيامته پورې د سجدې نه سر نهٔ راپورته کوي. هم دغه حال د رُکوع او قعده کوونکو دے. ځکه چې **الله** پاک فرښتو ته کوم قُرب (يعني خپل ځان ته د نزديکت) شرف او رتبه ورکړې ده (د هغې مطابق) په هغوئي باندې هميشه په يو حالت اوسيدل لازم دي. په هغې کښې کمے زياتے نهٔ شي کيدے. **الله** تعالیٰ د هغوئي مُتَعَلِّق په سيپاره 23 سُوْرَةُالصّٰٓفّٰت آيت نمبر 164 کښې ارشاد فرمائي:

وَ مَا مِنَّاۤ اِلَّا لَهٗ مَقَامٌ مَّعْلُوْمٌ ﴿۱۶۴﴾ [مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالاِیمان: او فرښتې وائي، په مونږ کښې د هر يو، يو مقام معلوم دے.

تفسير "صِراطُ الْجِنان" جلد 8 صفحه 357 نه تر 358 کښې د دې بيان شوي آيت کريمه د دې حِصّې (وَمَا مِنَّاۤ يعني په مونږ کښې د هر يو د پاره) نه لاندې دې (چې د دې يو) تفسير دا دے چې حضرت جبريل عَلَیْہِ السَّلَام د حضور سيِّدِ الْمُرسلين صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې عرض وکړو: يَارَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! "زمونږ فرښتو په ډلو کښې د هرې يوې [ډلې] د پاره

يو ځائے مقرر دے. چې په هغې کښې هغوئې د خپل پاک **ربّ** عبادت کوي.“ حضرت عبدُاللّٰه اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُمَا فرمائي چې په آسمانونو کښې يو لويشت ځائے هم داسې نشته دے چې په هغې کښې يوه فرښته **نمونځ** نه کوي يا تَسۡبِيۡح نه لولي. (رُوحُ البَيان، ج۷ ص۴۹۴ تا ۴۹۵، خازِن ج۴ ص۲۸)

صَـلُّوۡا عَـلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نمونځ د ګناهونو نه منع کول کوي

**اللّٰه** تعالیٰ په سيپاره 21 سُوۡرَةُ الۡعَنۡکَبُوۡت آيت نمبر 45 کښې اِرشاد فرمائي:

اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنۡهٰى عَنِ الۡفَحۡشَآءِ وَ الۡمُنۡكَرِ ؕ [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالإيمان: بيشکه نمونځ منع کوي د بې حيائي او بدې خبرې نه.

## د نمانځهٔ کولو باوجود ګناهونه ولې کيږي؟

خورِو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د **اللّٰه** پاک فرمانِ عاليشان بيشکه حق حق او حق دے. ”يقيناً **نمونځ** د بې حيائي او بدو خبرو نه منع کول کوي.“ خو څه وجه ده چې نن صبا بيشميره نمونځ ګُزاره خلک د مور او پلار نافرمانئ، بې پردګئ، بې حيائي، کنزلو کولو، غِيبت، چُغلئ، د بې حيائي خبرو، زړهٔ ازارولو، د خلکو د حق تلفئ، د سُود او رِشوت لين دين وغيره ګناهونو کښې کثرت سره اخته دي! آيا حقيقي نمونځ ګُزاره دروغژن، دوکه باز، چُغل خور کيدے شي، آيا حقيقي نمونځ ګُزاره حرام رِزق ګټلو والا، حرام خور او په نورو حرام خوړلو والا کيدے شي، آيا حقيقي نمونځ ګُزاره د فِلمونو او ډرامو شوقي، د سندرو او سازونو د پروګرامونو او غږولو شوقي کيدے شي، آيا حقيقي نمونځ ګُزاره ږيره خرئيلو والا يا د يو مُوټي نه کمولو والا کيدے شي؟ نه...... کله هُم نه...... بالکل نه. بيشکه حقيقت هُم دا دے چې **نمونځ** د ګناهونو نه منع کول کوي. خو افسوس! زمونږه خپلو نمونځونو کښې

کمزورئ دي او د هغې په وجه مونږه نيک نۀ شو جوړيدے. لِهذا مونږ ته پکار دي چې مونږه د خپلو نمونځونو جائزه واخلو، د **نمانځۀ** ظاهري او باطِني آداب زده کړو او خپل اودس او غُسل وغيره هُم صحيح کړو. که په صحيح معنو کښې اوداسه او طهارت کښې خُشُوع و خُضُوع سره د هغې د ټولو ظاهري او باطِني آدابو خيال ساتلو سره **نمونځ** کوو نو اِنۡ شَآءَاللّٰه ضرور به د دې بَرَکتونه ښکاره شي او په صحيح طريقه باندې ادا کړې **نمانځۀ** په بَرَکت به واقعي د ګناهونو ظاهري او باطِني ګندګئ لرې شي او مونږ به نيک صورت او نيک سِيرت مسلمانان جوړ شو او زمونږه پوره کردار به د سُنَّتو مطابق جوړ شي. اِنۡ شَآءَاللّٰه.

## صرف صحيح نمونځ د ګناهونو نه بچ کول کوي

کوم اسلامي ورونړه او اسلامي خويندې چې په صحيح طريقه **نمونځ** کوي **الله** تعالٰی هغوئې ضرور د بدو نه بچ کوي. چنانچه دوه تابِعي بُزرګان حضرتِ سَيِّدُنا حَسَن بصري او حضرتِ سَيِّدُنا قَتاده رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهِما فرمائيلي دي: کوم کس چې خپل **نمونځ** د بدو کارونو او فُحش (يعنې د بې حيائي د) خبرو نه منع نۀ کړي هغه **نمونځ** د هغۀ د پاره وَبال دے البته خوک چې پينځۀ وخته **نمونځ** داسې ادا کوي چې د هغې شرائط او ارکان او احکام، سُنَّتونه او دُعاګانې پوره پوره ادا کوي نو **الله** پاک به داسې کس ضرور د فُحش (يعنې د بې حيائي د) خبرو او د ګناهونو د کارونو نه بچ کوي. (تفيسرِ خازن ج۳ ص۴۵۲ مُلَخَّصاً)

# د صحيح نمونځ نۀ کولو مُتَعَلِّق اَحادِيثِ مُبارکه

## رُکوع و سَجُود صحيح ادا کوئ!

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ رِوايت کوي چې د حُضُور سيِّدُالۡمُرسَلِين صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډک فرمان دے: انسان شپيتۀ کالو پورې **نمونځ** کوي خو د هغۀ يو **نمونځ** هُم په

بارګاهِ اِلٰهی کښې قبول نهٔ وي ځکه چې هغه کس رُکوع او سَجدې په پوره طور نهٔ ادا کوي.. (اَلتَّر غِيب وَالتَّرهِيب ج۱ ص۲٤۰ حديث۷۵۷)

## د نمانځهٔ د بعضو غلطو ښودنه

اعلیٰ حضرت رَحمَۃُاللهِ عَلَیه اِرشاد فرمائي: (خلک) **نمانځهٔ** کښې (داسې) سَجْده کوي چې د ښپو د ګوتو (صرف) سرونه یې په ځمکه لګي حالانکې حُکم دا دے چې [د ګوتو] خیټې (یعنې د ګوتو هُغه حِصَّې چې ګرځیدو کښې په ځمکه لګي هغه) ولګي، د یوې ګوتې خیټه لګیدل فرض او د هرې ښپې د اکثرو (مَثَلًا درې درې) ګوتو خیټه په ځمکه جوخته لګیدل واجب دي. (فَتَاوٰی رَضَوِیّه ج۳، ص۲۵۳ مُلَخَّصاً) (او د لسو وارو ګوتو خیټې لګیدل او [د ګوتو سرونه] مخ په قبله کیدل سُنَّت دي) **سَجْده** کښې صرف د پوزې سر لګوي حالانکې حُکم دا دے چې د کوم ځائے پورې د هډوکي سخته حِصَّه ده، [هغه ځائے پورې] لګیدل پکار دي. عموماً [خلک] لیدلي شوي دي چې د رُکوع نه لږ غوندې سر راپورته کړي او سجدې له لاړ شي، [هُم داسې] د سجدې نه یوه لویشت سر راپورته کړي، که ډیر زیات شي نو لږ یې نور پورته کړي او سمدستي بله **سَجْده** وکړي! حالانکې رُکوع نه پوره نیغ دریدل او (د دوو سجدو په مینځ کښې کم از کم د یو سُبْحٰنَ الله وئیلو په مقدار پوره [یعنې نیغ]) کښیناستل پکار دي. داسې که شپیتهٔ کاله **نمونځ** وکړي، قبول به نهٔ شي. یو کس جومات مبارک ته حاضر شو او په ډیره تیزۍ یې زر زر **نمونځ** وکړو، **نمانځهٔ** نه پس حاضر شو او سلام یې وکړو. [خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] اُوفرمائیل: وَعَلَيْكَ السَّلام، اِرْجِعْ فَصَلِّ فَاِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ (یعنې) "واپس وګرځه، بیا **نمونځ** وکړه ځکه چې تا **نمونځ** اونکړو. هغوئي دوباره هُم هغسې وکړل، بیا یې ورته هُم هغه اِرشاد اُوفرمائیلو. آخره کښې هغوئي عرض وکړو: د هغهٔ قَسَم چا چې حُضُور (صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په حق سره رالیږلے دے، ما ته هُم داسې زده دے، حُضُور تاسو اُوفرمائي، (څنګه یې وکړم؟) [خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] اُوفرمائیل:

رُکوع او سجود اطمينان سره کوه او رُکوع نه نيغ ودريږه او د دواړو سجدو په مينځ کښې نيغ کښينه. (بُخاری ج۱ ص ۲۶۸ حديث ۷۵۷ مُلَخَّصاً) (مَلفُوظاتِ اعلٰی حضرت ص۲۹۱)

## اللّٰه پاک کوم نمانځهٔ ته د رَحمت په نظر نهٔ ګوري

حضرتِ سَيِّدُنا طَلْق بِن علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ روايت کوي چې ما د **اللّٰه** پاک د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوريدلے دے: "**اللّٰه** پاک د هُغه بنده **نمانځهٔ** ته [د رَحمت په نظر] نه ګوري څوک چې په رُکوع او سُجُود کښې ملا نهٔ نيغوي." (مُعْجَم کبِير ج۸ ص ۳۳۸ حديث۸۲۶۱)
رُکوع او سُجود کښې ملا نيغولو نه مطلب تعديلِ ارکان يعني رُکوع، سُجود، قومه او جلسه کښې کم از کم د يو ځل "سُبْحٰنَ الله" وئيلو په مقدار ايساريدل دي.

## د ملا نه نيغولو والا مثال

حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ روايت کوي چې حُضُور سَيِّدُ الْمُرسَلِين صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زهٔ د رُکوع په حالت کښې د قراءَت کولو نه منع کړم او اِرشاد يې اُوفرمائيلو: اے علي! په **نمانځهٔ** کښې د ملا نهٔ نيغولو والا مثال د هُغې حامِله ښځې په شان دے چې کله د ماشوم د پيدائش وخت نزدې راشي نو [هغه] حَمل اوغورزوي، بيا نه خو هغه حامِله پاتې وي او نه بچي والا. (مُسنَد اَبو يَعْلٰی ج۱ ص ۱۶۶ حديث ۳۱۰)

## تذکرهٔ مولٰى علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ

اے **عاشقانِ صحابه و اَهلِ بيت!** اوس چې تاسو کوم حديث واوريدو د هغې راوي (يعني بيانوونکے) څلورم خليفه، اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا علي اِبنِ اَبـي طالِب رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دے،

د هغوئي کنيَت "**ابوالحسن**" او "**ابو تُراب**" دے. هغوئي د عامُ الْفِيل[1] نه ديرش کاله پس (چې کله د نبيِّ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عُمر مبارک ديرش کاله وو) په 13 رَجَبُ الْمُرَجَّب د **جُمُعې** په ورځ پيدا شوے وو. د هغوئي والده ماجِده حضرتِ سيِّدَتُنا فاطِمه بِنتِ اَسَد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا د خپل پلار په نوم د هغوئي نوم "**حيدر**" کيښودلو، پلار د هغوئي نوم "**علي**" کيښودو. حُضُورِ انور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ وَجْهَهُ الْكَرِيْم ته د "اَسَدُ الله" لقب ورکړو، د دې نه علاوه "**مُرتَضٰی**" (يعني خوښ کړے شوے)"، "کرَّار" (يعني بيا بيا راتاويدلو او حَمله کولو والا)"، "**شيرِ خُدا**" [يعني د خُدائے ازمرے] او "**مولا مُشکل کشا**" د هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ وَجْهَهُ الْكَرِيْم مشهور اَلقابات دي. هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ وَجْهَهُ الْكَرِيْم د مَکی مَدَنی آقا، خوږ خوږ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ترۀ زوئي دے. (مِراٰةُ المناجِيح، ج ۸، ص ۴۱۲ وغيره ملخصاً)

**د صحابه و اَهلِ بيت** عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د فضائلو به څه وائي! د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: زما صحابه د ستورو په شان دي، په هغوئي کښې چې د چا اِقتِدا هُم وکړئ هدايت به اومومئ. (مِشکواة ج ۲ ص ۴۱۴، حديث ۶۰۱۸)

**شرحِ حديث:** او بل حديث کښې يـې خپلو اهلِبيتو ته د نُوح عَلَيْهِ السَّلَام کشتئ وئيلي ده. (مُستَدرَک ج ۴ ص ۱۳۲ حديث ۴۷۷۴) د سمندر مُسافِر د کشتۍ هم حاجتمند وي او د ستورو د رهبرئ هُم، څنګه چې جهازونه د ستورو په رهبرئ [يعني لار ښودنه باندې] سمندر کښې ګرځي. هُم داسې اُمَّتِ مُسلِمه خپل ايماني ژوند کښې د اَهلِبَيتِ اِطهار هُم محتاجه دي او د صحابهٔ کرامو هُم مُحتاجه، اُمَّت د پاره د صحابهٔ کرامو په اِقتِدا کښې اِهتِدا يعني هِدايت دے. (مِراٰةُ المناجيح ج ۸ ص ۳۴۵)

---

[1] يعني په کوم کال چې بدبخته اَبرَهه بادشاه د هتيانو د لښکر سره په خانه کعبه باندې حَمله کړې وه. د دې واقعې د تفصيل د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه چاپ شوے کتاب "عجائِبُ القُرآن مع غرائبُ القُرآن" اولولئ.

اہلسنت کا ہے بیڑا پار اصحابِ حضور
نجم ہیں اور ناؤ ہے عترت رسول اللہ کی

(حَدائقِ بخشِش ص ١٥٣)

تيره شوه بيړئ د اَهلِسُنَّت، اصحابِ حُضُور
ستوري دي او بيړئ ده اولاد د پاک رسُولُ الله

## د مولٰى علي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ شان په ژبه د نبِيِّ غيب دان ﷺ

د حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه رِوايت دے چې رسولِ اکرم، رحمتِ عالم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (ما ته) اِرشاد اُوفرمائيلو: په تا کښې د (حضرتِ) عِيسٰى (عَلَيۡهِ السَّلَام) مثال دے، چې هغوئي سره يهودو بُغض ساتلو تر دې چې د هغوئي په والِده ماجِده (يعنې بي بي مريم) باندې يــې تُهمت ولګوو او هغوئي سره عيسائيانو مَحبَّت وکړو نو هغوئي يــې هُغې درجې ته اورسولو کومه چې د هغوئي نهٔ وه.“ بيا حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ اِرشاد اُوفرمائيلو: ”زما باره کښې به دوه قِسمه خلک هلاک کيږي زما په مَحَبَّت کښې اِفراط کولو (يعنې د حَده تيريدلو) والا به ما په هُغه صِفاتو وړاندې کوي کوم چې په ما کښې نشته او د بُغض ساتلو والا بُغض به هغوئي دې [خبرې] ته راپاروي چې په ما به بُهتان ولګوي.“ (مُسندِ اِمام اَحمد بِن حنبل ج.١ ص٣٣٦ حديث١٣٧٦)

## تهٔ زما نه يــې

د اللّٰه تَبَارَکَ وَتَعَالٰی خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرتِ سيِّدُنا علِيُّ المُرتَضٰى شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په باره کښې فرمائي: ”اَنْتَ مِنِّیْ وَاَنَا مِنْک يعنې تهٔ زما نه يــې او زهٔ له تا نه يم.“
(تِرمِذی ج٥ ص٣٩٩ حديث٣٧٣٦)

## علي ته کتل عبادت دے

د حضرتِ اِبنِ مَسعود رَضِیَ اللہ عَنْهُ نه رِوايت دے چې حُضُورِ انور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: "علي (رَضِیَ اللہ عَنْهُ) ته کتل عِبادت دے." (مُستَدرَک ج٤، ص١١٨، حديث٤٧٣٧)

## د علي د درې حُروفو په نِسبت

## د مَولٰی علي نور درې فضائِل

اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہ عَنْهُ ارشاد فرمائي: حضرتِ علي اِبنِ اَبـي طالِب ته درې داسې فضيلتونه حاصِل دي چې که په هغې کښې يو هم ما ته نصيب شوے وے نو هغه به ما ته د سرو اوښانو نه زيات خوښ وے. صَحابَهٔ کِرَامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان تپوس وکړو: هغه درې فضائِل کوم کوم دي؟ هغوئي اوفرمائيل: ﴿١﴾ د اللّٰه تعالٰی خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپله لُور حضرتِ فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہ عَنْهَا د هغوئي په نِکاح کښې ورکړې ده ﴿٢﴾ دوئي نبِيِّ کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره په **مسجِدِ نَبَوِي شريف** کښې اوسيدلو او د دوئي د پاره په جومات کښې هُغه څه حلال وو چې هغه د هُم دوئي حِصَّه ده. او ﴿٣﴾ په غزوهٔ خيبر کښې دوئي ته د اسلام بيراغ عطا کړے شو. (مُستَدرَک ج٤، ص٩٤، حديث٤٦٨٩)

## وفات شريف

په 17 يا 19 رَمَضانُ الْمُبارَک د يو خبيث خارجي په قاتِلانه حَمله سخت زخمي شو او په21 رَمَضانُ الْمُبارَک د اِتوار په شپه يـې د شهادت سعادت حاصِل کړو. (اسد الغابة ج٤ ص١٢٨، معرفة الصحابة ج١ ص١٠٠ وغيره)

**د اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

(د نورو معلوماتو حاصلولو د پاره د سګِ مدينه کتاب **"کراماتِ شيرِ خُدا"** ولولئ)

علیؑ المرتَضیٰ شیرِ خدا ہیں　　کہ اِن سے خوش حبیبِ کبریا ہیں

علیُّ الْمُرتَضٰی دے شیرِ خُدا
چې ترې خوشحاله دے حَبِيبِ خُدا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نمانځهٔ غل

د **حضرتِ** سيِّدُنا ابو قَتاده رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: "په خلکو کښې بد ترين **غَل** هُغه دے څوک چې په خپل **نمانځهٔ** کښې غلا وکړي": عرض اوکړے شو: "**يَارسولَ الله** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! **نمانځهٔ** کښې غلا څنګه کيږي؟" ويـې فرمائيل: "(داسې چې) رُکوع او سجدې پوره نهٔ کړي." (مُسندِ اِمام اَحمد بِن حنبل، ج٨ ص٣٨٦ حديث٢٢٧٠٥)

## د غل دوه قسمونه

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک نه لاندې فرمائي: معلومه شوه چې د مال د غَل نه **د نمانځهٔ غل** بدتر دے ځکه چې د مال غل که سزا هُم اوخوري نو (د غلا د مال نه) څه نا څه ګټه هم حاصله کړي خو **د نمانځهٔ غَـل** به سزا پوره تيروي، د هغه د پاره د ګټې هيڅ صورت نشته. د مال غل د بنده حق وهي او **د نمانځهٔ غَـل** د **الله** تعالیٰ حق [کښې کوتاهي کوي]، دا د هغوئي حال دے څوک چې نمونځ ناقِص (يعنې غلط) کوي. د دې نه دې هُغه خلک د عِبرت درس حاصل کړي کوم چې بيخي نمونځ نهٔ کوي. (مِراٰةالمناجيح ج٢ ص٧٨ مُلَخَّصاً)

## کوم نمونځ د بنده په مخ ويشتلے کيږي؟

حضرتِ سَيِّدُنا عمر **فاروقِ اعظم** رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بيان کوي چې د دواړو جهانو سردار، مکی مَدَنی تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اوفرمائيلو: د هر **نمونځ** کوونکي ښي او ګڅ (يعني ګڅ) طرف ته يوه يوه فرښته وي، که **نمونځ** کوونکے په پوره طور **نمونځ** ادا کړي نو هغه دواړه فرښتې د هغهٔ **نمونځ** پورته يوسي او که په صحيح طريقه يې ادا نه کړي نو هغوئي د هغه **نمونځ** د هغهٔ په مخ ور اُوولي. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج١ ص٢٤١ حديث٧٦٤)

## صرف پوره نمونځ قبليږي

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ روايت کوي: يوه ورځ زۀ د **الله** پاک د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې حاضر ووم، خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (يوې ستنې طرف ته اشاره وکړه [هغه ستن چې د کوټې چت پرې ټينګ وي] او) خپلو صحابؤ ته يې اُوفرمائيل: "که دا ستن تاسو کښې د چا وے، نو هغهٔ به د دې عيب دار کيدل ضرور ناخوښه ګڼلے، نو بيا څنګه په تاسو کښې څوک قَصداً [يعني اِرادَتاً] د **الله** پاک د پاره کولو والا **نمونځ** ناقِص (يعني عيب دار) کوي! **نمونځ** پوره کوئ ځکه چې **الله** پاک صرف کامِل (يعني پوره) **نمونځ** قبلوي. (مُعْجَم اوْسَط، ج٤ ص٣٧٦ حديث٦٢٩٦)

## رزق کښې د تنګئ خطره

**شيخُ الْحديث** حضرت عَلّامه مولانا عبد المُصطفٰے اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه "**بہشت کی کُنجیاں**" صفحه 72 کښې فرمائي: **نمونځ** په انتهائي اخلاص و اطمينان او د زړۀ په تَوَجُّه ادا کول پکار دي، **نمانځهٔ** کښې تادي، غفلت او بې تَوَجُّهي کولو کښې د دُنيا او آخرت دواړو عظيم نقصان دے. چنانچه د حضرت اِمامِ اعظم ابو حنيفه د اُستاذ، اُستاذ حضرت ابراهيم نَخَعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اِرشاد فرمائي چې تهٔ يو کس اُووِينې چې رُکوع او سجدې پوره طور نهٔ ادا

كوي نو د هغۀ په اَهل و عِيال (يعني بال بچو) باندې رحم وكړه! ځكه چې د هغوئي د روزئ د تنګيدلو او لوږې خطره ده. (رُوحُ البَیان، ج۱ص۳۳) يو حديث كښې دي چې حضرتِ سَيِّدُنا حُذَيفه رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ يو كس اوليدو چې هغۀ رُكوع او سُجود پوره طور نه ادا كول نو هغوئي اُوفرمائيل: تا **نمونځ** اونكړو او كه تۀ په هُم دې حالت مړ شوے وے نو د حضرت **مُحَمَّد** مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّتو به ستا مرګ نۀ كيدے. (بُخاری ج۱ص۱۵٤ حدیث۳۸۹ (بہشت کی کُنجیاں ص۷۲)

## آخر د نمونځ ګزاره اصلاح وشوه

حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ نه منقول دي چې د انصارو يو زلـمے چې هغۀ به پينځۀ وخته **نمونځ** د **جَمعې** سره حُضُورِ اِقدس صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ادا كولو خو د هغۀ عملي حالت ښه نه وو. تاجدارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: د دې كس **نمونځ** به يو نه يو ځل ضرور دے د ګناهونو نه منع كړي. چنانچه هُم داسې وشو، لږې ورځې پس هغه د ټولو بدو كارونو نه توبه وكړه او د هغۀ حالت ښه شو. (تفسیرِ خازن ج۳ص٤٥٢)

## كه غل هُم صحيح نمونځ وكړي نو اصلاح يـې كيدے شي

د سركارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار كښې عرض اوكړے شو چې فلانكے كس د شپې **نمونځ** كوي او صبا له غلا كوي! خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: نزدې ده چې **نمونځ** به هغه د بد عمل نه منع كړي. (مُسنَدِ اِمام اَحمَد بِن حَنۡبَل، ج۳ ص٤٥٧ حدیث۹۷۸۵)

## د نمونځ كوونكو په شان شكل جوړونكي ډاكوان د ګرفتارئ نه بچ شولو

وائي چې: يو ځل د ډاكوانو يوه ډله د يو مالدار سړي كور ته د ډاكے اچولو په غرض داخله شوه، اِتِّفاقاً د هغه مالدار سړي ستركې وغړيدلې او شور يـې جوړ كړو، د ګاونډ خلك راپاڅيدل او ډاكوان وتښتيدل، خلك وريسې شو، ډاكوان مخكښې وو او خلك

وریږسي وو. په لاره کښې ډاکوانو یو جومات اولیدو نو فوراً جومات ته داخل شو او هسې د دروغو **نمونځ** یې شروع کړو! خلک هم د هغوئي په تلاش کښې جومات ته را ورسیدل، چې ویې کتل نو یو څو سړي په **نمانځهٔ** کښې مصروف دي او د هغوئي نه علاوه جومات کښې هیڅ څوک نه وو، هغوئي اُووئیل چې افسوس! ډاکوان لاړل. چنانچه خلک ناکامه واپس لاړل. چې دا یې ولیدل نو د ډاکوانو سردار خپلو ډاکوانو ملګرو ته اُووئیل: که نن مونږه هسې په دروغو د **نمانځهٔ** شکل نه وے جوړ کړے نو ضرور به نیولي شوي وے، چې صرف په دروغو د **نمانځهٔ** شکل جوړولو دا بَرَکت دے چې مونږه د ذِلّت او رُسوائي نه بچ شو نو که مونږه په حقیقت کښې په صحیح طریقه **نمونځ** کول شروع کړو نو **الله** رَبُّ الْعِزَّت به مونږه د دوزخ د مصیبت نه هُم بچ کړي، نو څکه زهٔ خو د اوس نه د لوټ مار [یعني ډاکے وهلو] نه توبه کووم او د **الله** پاک د نافرمانئ عادت پریږدم. د هغه ملګرو اووئیل: اے زمونږه سرداره! چې تاسو توبه وکړه نو بیا مونږه ولې داسې پاتې شو! مونږه هُم تاسو سره توبه کښې شریک کیږو. چنانچه ټولو ډاکوانو د زړهٔ په صِدق سره توبه وکړه، او هغوئی پرهیزګاره خلک جوړ شو.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د یو عاشِقِ مجازي عجیبه حکایت

"**نمونځ** د بدو کارونو نه منع کول کوي" د دې په باره کښې عبدُ الرَّحمٰن صَفُّوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په "نُزهَةُ الْمَجَالِس" کښې یو عجیبه حکایت بیان کړے دے، د هغې خُلاصه دا ده چې یو کس په یوه ښځه عاشق شو، آخر یوه ورځ هغهٔ هِمَّت وکړو او یوه چیټئ [یعني خط] کښې یې هغه ښځې ته د خپل عِشق اِظهار وکړو. هغه زنانه د ډیرې شریفې کورنئ سره تَعَلُّق لرلو، چې هغې ته چیټئ مِلاؤ شوه نو ډیره پریشانه شوه او ولې چې وادهٔ شوې هُم وه څکه یې د څه سوچ فِکر نه پس هغه چیټئ خپل خاوند ته وړاندې کړه. د هغې خاوند د

يو جومات اِمام وو او ډير زيات پرهيزګار او هوښيار انسان وو، د هغهٔ په خپله ښځه باندې پوره اعتماد (يعني اعتِبار) وو. لِـهذا د هغه چيتېئ په جواب کښې يـې د خپلې ښځې په ذريعه دا جواب ورکړو چې "فلانکـې جومات کښې فلانکـې اِمام پسې بې ناغه ځلويښت ورځې پينځهٔ وخته **نمونځ** د **جَمعې** سره ادا کړه، بيا به **مخکښې** ګورو." هغه "عاشِق" پابندئ سره د **جَمعې نمونځ** شروع کړو، چې څنګه څنګه ورځې تيريدلې هغسې په هغهٔ باندې د **نمانځهٔ** بَرَکتونه هُم ښکاريدل. چې ځلويښت ورځې پوره شوې نو د هغهٔ د زړهٔ دُنيا بدله شوې وه چنانچه هغهٔ دا پيغام ور وليږو: (**محترمې**! د **نمانځهٔ** په بَرَکت زما سترګې وغړيدلې، **مَعَاذَالله** ما به د حرام کارئ خيالونه کول خو د **الله** کريم ډير ډير شُکر دے چې ما ته يـې ستا د **مَحبَّت** نه نجات راکړو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه) ما د خپلې بد نِيَّتئ نه توبه وکړه او تا نه هُم معافي غواړم. چې کله هغه نيکې ښځې خپل خاوند ته دا پيغام واورولو نو د هغهٔ په ژبه بې اختياره جاري شو چې: صَدَقَ اللهُ الۡعَظِيۡمِ فِىۡ قَوۡلِهٖ (يعني **ربِّ** عظيم په خپل اِرشاد کښې بالکل رښتيا فرمائيلي دي چې): اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنۡهٰى عَنِ الۡفَحۡشَآءِ وَ الۡمُنۡكَرِ [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: بيشکه **نمونځ** منع کوي د بې حيائي او بدې خبرې نه. (پ٢١ سُوۡرَةُ الۡعَنۡكَبُوۡت ٤٥) (نُزۡهَةُ المجالِس ج١ ص١٤٠ مُلَخَّصاً)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اے د **نمانځهٔ** د بَرَکتونو طلبګارو! تاسو وليده؟ چې د **نمانځهٔ** په بَرَکت يو بيلمانځه کس په سمه لار روان شو او د هغهٔ په زړهٔ کښې د مالِک حقيقي **مَحبَّت** پيدا شو او زړهٔ ته يـې سکون حاصل شو. او واقعي د **الله** پاک او د هغه د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **مَحبَّت** داسې څيز دے چې کوم خوش نصيبه ته نصيب شي نو هغه بيا بل چا ته زړهٔ هډو ورکولے نه شي.

محبت میں اپنی گما یا الٰہی | نہ پاؤں میں اپنا پتا یا الٰہی
رہوں مست و بے خود میں تیری ولا میں | پلا جام ایسا پلا یا الٰہی

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص١٠٥)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## شيطان په ژړا شو (حکايت)

منقول دي: چې کله **نمونځ** فرض شو نو شيطان په ژړا شو. شاګردان يې راجمع شو او د ژړا فرياد تپوس يې ترينه وکړو. هغه اُووئيل: ''**اللّٰه** پاک په مسلمانانو باندې **نمونځ** فرض کړو.'' شاګردانو يې اُووئيل: نو څه وشو؟ شيطان جواب ورکړو: ''مسلمانان به نمونځونه کوي او د هغې په بَرَکت به د ګناهونو نه بچ شي.'' شاګردانو يې اُووئيل: زمونږ د پاره څه حُکم دے؟ هغه اُووئيل: چې کله څوک په **نمانځهٔ** ودرېږي نو هغهٔ ته يو [شيطان] وائي: ښي طرف ته اوګوره! بل ورته وائي: ګڅ طرف ته اوګوره! دغسې هغه وارخطا کوئ.''

(نُزهَةُ المجالِس ج ۱ ص ۱۵٤)

## يا **اللّٰه** مونږه پاخه نمونځ ګزاره جوړ کړې

**اے د نمانځهٔ عاشقانو!** شيطان د **نمونځ** ګُزاره نه خومره پريشانه دے! هغهٔ ته معلومه ده چې که يو مسلمان په صحيح طريقه **نمونځ** وکړي نو هغه به د ګناهونو نه بچ شي او زما د لاسه به اوځي! شيطان مَردُود کله هُم نهٔ غواړي چې مونږه **نمونځ** وکړو، د ګناهونو نه بچ شو او د جَنَّت په لار روان شو. مونږ ته د شيطان هر وار ناکامه کول او ډير ډير نمونځونه کول پکار دي. **اللّٰه** پاک دې مونږه ټول پاخه **نمونځ** ګُزاره جوړ کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

میں پانچوں نمازیں پڑھوں باجماعت ہو توفیق ایسی عطا یاالٰہی

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۱۰۲)

## زهٔ دعوتِ اسلامي کښې خنګه شامِل شوم!

د نفس او شيطان د شرارتونو نه ځان ساتلو، د ګناهونو د عادت نه ځان خلاصولو او د **نمانځهٔ** د پابندئ سعادت حاصلولو د پاره د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ. يو مَدَني سپرلے واورئ او خوشحاله شئ: د **جلال پور بهټيان** (ضلع حافظ

آباد، پنجاب) يو زلمے اِسلامي وروړ ديني ماحول کښې شامليدلو نه مخکښې په ګناهونو کښې اخته اوسيدلو. د علاقې د لوفرو او شرابيانو ځلمو سره به يې ناسته ولاړه کوله، لوفرانو دوستانو مَعَاذَالله هغه د شرابو په نشه او نورو ګناهونو کښې اخته کړے وو، د هغهٔ شپې او ورځې به بيهوده کارونو کښې بربادېدلې. د شرابيانو دوستانو په ټولګي کښې به يې شراب څښل او ټولو به په زوره زوره خنداګانې کولې، د شپې ناوخته به د شرابو په نشه کښې بوخت په دې حالت کښې کور ته راروان وو چې د خُلې نه به يې د شرابو بدبوئي راتلله، او چې په لړزيدلو ښپو به کور ته را داخل شو نو د هغهٔ په دې حالت ليدلو به يې د کور ټول کسان پريشانه شول، که والد صاحب يا د کور بل کس به پوهه کولو نو ډيره زياته غُصَّه به يې کوله او کنزلې او شور به يې کولو او چا به چې ورته نصيحت کولو هغه به يې بې عِزَّته کولو، د بد صُحبت په وجه يې اخلاق او کردار هُم ډير خراب شوي وو، وسله به ورسره وه او په هغې به يې خلک ويرَوَل او په خلکو به يې رُعب اچولو، معمولي خبرو باندې د خپلې علاقې خلکو سره جنګ جګړه کول او وهل ټکول د هغهٔ معمول جوړ شوے وو، د هغهٔ د هرې ورځې شر فساد نه که د هغهٔ د کور کسان پريشانه وو نو د علاقې خلک هُم ترينه بيزاره وو، خلک به د هغهٔ د بدو عادتونو نه په ويره کښې اوسيدل او چې کله به دے د کور نه اووتو نو خلکو به د دهٔ د شر نه امان غوښتلو او خپل اولاد ته به يې هُم د هغهٔ نه د لرې اوسيدلو تاکيد کولو. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه د هغه د ترور زوئي د مخکښې نه د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامل وو، د هغه خواهش وو چې دا د شرابي دوستانو د صُحبت نه خلاص شي او د دعوتِ اسلامي خوشبودار ديني ماحول کښې شامل شي، د هُم دې مقصد د پاره به يې کله کله په هغه باندې اِنفرادي کوشش کولو. آخر دا چې مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي په خپل کوشش کښې کامياب شو او هغه [وران کارے هلک] عاشقانِ رَسُول سره قافله کښې په سفر روان شو، هغه مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي قافله کښې د سفر په دوران کښې هُم په هغه اِنفرادي کوشش وکړو، د ګناهونو په نقصانونو يې پوهه کړو او د بد صُحبت پرينبودلو او د سُنَّت مطابق ژوند تيرولو ترغيب يې ورکړو. د دې نه علاوه د سُنَّتو ډکو بياناتو اوريدلو په بَرَکت يې په ژوند کښې مَدَني اِنقلاب راغے،

چنانچه هغهٔ د ګناهونو نه ډک بد صُحبت پريښودو او د عاشقانِ رَسُول صُحبت يـې اختيار کړو، د هغې په بَرَکت يـې د عِمامې شريفې تاج هُم په سر کړو، مخ يـې په سُنَّتِ رَسُول [يعنې ږِيره] باندې روښانه کړو. وخت تيريدو سره په قلاره قلاره د هغهٔ بد عادتونه ختم شول او اخلاق او کردار يـې بهتر شو، مخکښې به يـې جنګ جګړې کولې خو اوس په مينه او مَحبَّت خلکو سره ملاويږي، چې ترغيب ورکړے شو نو د 63 ورځو مَدَني تربِيَّتي کورس کولو سعادت يـې هُم حاصل کړو او ديني کارنو کښې يـې حِصَّه اخستل شروع کړل او د نيکۍ دعوت ورکول يـې خپل معمول جوړ کړو، د ديني ماحول او د ښو اعمالو په بَرَکت يـې [د نيکو نه] خالي ژوند د نيکو اعمالو په ګلونو خوشبوداره شو، ديني ماحول نه مخکښې د **نمانځهٔ** نه خبر هُم نهٔ وو، خو اوس پخپله د نمونځونو پابندي کولو سره سره د سحر د **نمانځهٔ** د پاره راپاڅول د هغهٔ معمول جوړ شو.

جو گناہوں کے مرض سے تنگ ہے بیزار ہے
قافلہ عطار اس کے واسطے تیار ہے
(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٣٥)

څوک چې د ګناهونو د مرض نه دے بيزار
قـافـلـه تياره ده د هغـهٔ د پـاره اے عَـطّار

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب!    صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د نمانځهٔ ډير زيات خيال ساتئ

تابِعي بُزرګ حضرتِ سَيِّدُنا قَتاده رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د **نمانځهٔ** ډير زيات خيال ساتئ، ځکه چې دا د اَهلِ اِيمان يو بهترين وَصف (يعنې صِفَت) دے. (تَفْسِيرِ دُرِّ مَنْثُور ج ٨ ص ٢٨٤)

## د کمزورو په خاطر ډير ډير رحمتونه

روحُ الْبيان کښې دي چې **الله** تعالٰی د دې (نيکو بندګانو) د اخلاص، د دوئي د نمونځونو او د دوئي د دُعاګانو او د دوئي د کمزورو او بې طاقته خلکو په خاطر د دوئي نه عذاب لرې

کوي. (رُوحُ البَیان، ج ۵، ص۴۴۵)

# د نیکو بندګانو په خاطر مصیبتونه لرې کیږي

**اے د نمانځهٔ عاشقانو!** سُبۡحٰنَ الله! **الله** تعالیٰ د خپلو نیکو بندګانو په خاطر د خلکو نه آفتونه او عذابونه لرې کوي. په دې باره کښې پینځهٔ فرامِینِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واورئ، دې سره به ستاسو په زړونو کښې د اولیاء مَحَبَّت پیدا شي:

﴿۱﴾ زما په اُمَّت کښې به څلویښت سړي همیشه اوسیږي، د هغوئي زړونه به د اِبراهِیم عَلَیۡهِ السَّلَام په زړهٔ وي، **الله** پاک به د هغوئي په سبب د ځمکې والؤ نه بلا [یعني مصیبتونه] لرې کوي، د هغوئي لقب به "**ابدال**" وي. (حِلۡیَةُ الۡاَوۡلِیَاء ج۴ ص۱۹۰ رقم ۵۲۱۶)

## ﴿۲﴾ د څلویښتو ابدالو په بَرَکت باران

**ابدال** به (مُلک) شام کښې وي، هغه حضرات څلویښت سړي دي، چې کله په هغوئي کښې یو وفات شي نو **الله** پاک د هغه په ځائے بل بدل کړي، د هغوئی په بَرَکت بارانونه وریږي، د هغوئي په ذریعه د دُښمن خلاف فتح حاصلیږي او د هغوئي په ذریعه د شام والؤ نه عذاب لرې کیږي. (مُسۡنَدِ اِمام اَحمَدبِن حَنۡبَل، ج۱ ص۲۳۸ حدیث ۸۹۶) (شام ته اوس سُورِیا هُم وائي)

## د اَبدال معنیٰ

حضرت مُفتي احمد یار خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د دې حدیثِ پاک نه لاندې فرمائي: د دې فرمانِ عالیشان نه معلومه شوه چې د **اولیاء الله** وسیله برحق ده. **الله** تعالیٰ د بنو خلکو په خاطر د بدو خلکو مشکلات هُم حل کوي او د هغوئي نه مصیبتونه هُم لرې کوي. یاد ساتئ چې د کومو څلویښتو ولیانو دلته ذِکر دے هغوئي ته **اَبدال** وائي، ځکه چې د هغوئی مقامات

بدلیږي رابدلیږي، کله مشرِق کښې وي کله مغرِب کښې وي، کله جُنُوب کښې کله شُمال کښې خو د هغوئي هیڅ کوارټر (مُلک) شام دے. (مِراٰۃُ المناجِیح، ج.۸. ص..۵۸٤)

## ﴿۳﴾ زۀ چې کله د عذاب ورکولو اِراده کووم

**فرمَانِ مُصطفٰے** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: **اللّٰه** پاک فرمائي: زۀ ځمکې والؤ ته د عذاب ورکولو اِراده کووم، خو د جوماتونو آبادوونکو او زما د پاره خپل مینځ کښې مَحَبَّت ساتونکو او د پیشمنې په وخت کښې د اِستِغفار کوونکو په وجه عذاب د هغوئي نه (یعنې چا ته چې د عذاب ورکولو اراده کووم د هغوئي نه) واپس وګرځووم. (شُعَبُ الْاِیمان لِلْبَیۡہَقِی ج٦ ص۵۰۰ حدیث۹۰۵۱)

## ﴿٤﴾ د پئيو ماشومان هُم د عذاب لرې اوسیدو سبب دي

که **نمونځ** ګُزاره بندګان او د پئيو ماشومان او ځناوران نه وے نو بیشکه په تاسو به عذاب نازل شوے وے. (شُعَبُ الْاِیمان لِلْبَیۡہَقِی ج۷ ص۱۵۵ حدیث۹۸۲۰)

## ﴿۵﴾ سلو کورونو نه مصیبتونه لرې

سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "**اللّٰه** تعالٰی د یو صالِح (یعنې نیک) مسلمان په بَرَکت د هغۀ د ګاونډ د سلو کورونو د اوسیدونکو بَلا (یعنې آفت) لرې کوي." (مُعۡجَم اَوۡسَط ج۳ ص۱۲۹ حدیث۴۰۸۰) سُبۡحٰنَ اللّٰه! د نیکانو نزدیکت هُم فائده رسوي. (خَزائِنُ الۡعِرفان ص ۸۷)

نیک بندوں سے ہمیں تو پیار ہے　　　اِنۡ شَآءَاللّٰه اپنا بیڑا پار ہے

**د شعر ترجمه:** مونږه د نیکانو خلکو سره مینه لرو نو اِنۡ شَآءَاللّٰه د هغوئي په بَرَکت به زمونږه بیړۍ پورېوځي.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب!　　　صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د جَنَّتي ګلاب نه پيدا شوېِ حُورېِ

حضرتِ سَیِّدُنا مالِک بِن دِينار رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: جَنَّت کښې د جَنَّتي ګلاب نه پيدا شوېِ حُورېِ دي. چا ترينه تپوس وکړو: هلته به څوک اوسيږي؟ هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه اُوفرمائيل: **الله** پاک اِرشاد فرمائي: هغه خلک چې د ګناه اِراده وکړي خو زما عَظَمت ياد کړي او زما لِحاظ وکړي او د کومو خلکو ملاګانې چې زما د ويرې نه ټِيټې شوې دي هغوئي به په جَنَّتِ عدن کښې اوسيږي. زما دې په خپل عِزَّت او جلال قسم وي! زۀ څمکې والؤ ته د عذاب ورکولو اِراده کووم خو دې خلکو ته ګورم کوم چې زما د رضا د پاره اوږې او تږې اوسيږي (يعني روژې نيسي) نو د خلکو نه عذاب واپس وګرځووم. (اِحيَاءُ الۡعُلُوم ج٥ ص٣٢٥ مُلَخَّصاً)

## د نمانځۀ په بَرَکت خر راژوندے شو

ولي چې د **الله** تعالیٰ د نيکو بندګانو نمونځونه په ظاهري او باطني آدابو مشتمل وي څکه هغوئي ته **د نمانځۀ ډير ډير بَرَکتونه** حاصليږي او د هغوئي په دُعاګانو کښې هُم ډير تاثير پيدا شي، دا حَضَرات چې کله لاس پورته کړي نو **الله** پاک د دوئي دُعا نه رَد کوي، په دې باره کښې يو ايمان تازه کوونکے **حِکايت** واورئ او خوشحاله شئ: حضرتِ سَیِّدُنا اِمام نَخعـي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي چې د يو يَمَني مسافِر **خر** په لاره کښې مړ شو، هغۀ اَودَس وکړو، دوه رکعاته **نمونځ** يـې وکړو او د **الله** پاک په دربار کښې يـې عرض وکړو: ''اے زما مولیٰ! زۀ ستا د رضا د پاره ستا د لارې **مُجاهِد** جوړ شوے ''دَثِينَـة'' نه راغلے يم، زۀ ګواهي ورکووم چې ته مړي ژوندي کوې او قبرونو والا به د قيامت په ورځ راپاڅوې. اے پروردګاره! په نن ورځ ما د چا مه مُحتاجه کوې، زما خر ژوندے کړې.'' (چې دا يـې ختنګه اُووئيل نو) **خر غوږونه وخنډل او پاڅيدو.** (دلائلُ النُّبُوَّة ج٦، ص٤٨)

نہ کر رد کوئی التجا یاالٰہی ہو      مقبول ہر اک دعا یاالٰہی

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ١٠٦)

رَد مه کړې زما يوه التجا يا اِلٰهی
کړې مې قبوله هـره دُعا يا اِلٰهی

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## افضل ترين اعمال

**نمونځ** په خپل وخت ادا کول، مور و پلار سره ښهٔ سُلوک کول او د **الله** پاک په لار کښې جِهاد کول افضل ترين اعمال دي. چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ وائي چې ما د نبيِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيْم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه تپوس وکړو چې اعمالو کښې د **الله** پاک په نِزد د ټولو نه زيات مَحبُوب (يعني ښهٔ) عمل څه دے؟ اِرشاد يـې اُوفرمائيلو: په وخت کښې دننه **نمونځ**. ما عرض وکړو: بيا څه؟ اِرشاد يـې اُوفرمائيلو: مور و پلار سره نيکي (يعني ښيګړه) کول، ما عرض وکړو: بيا څه؟ اِرشاد يـې اُوفرمائيلو: د **الله** په لار کښې جِهاد کول. (بُخاری ج ۱ ص ۱۹٦، حديث ۵۲۷)

## ماشوموالي نه يـې د نمانځهٔ عادت جوړ کړئ

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! چې کله ماشوم د اووهٔ [7] کالو شي نو په هغهٔ پينځهٔ واړه وخته نمونځونه ادا کوئ چې د **نمانځهٔ** عادت يـې پوخ شي. هغوئي ته د سحر وختي پاڅيدلو او **نمانځهٔ** کولو عادت ورکړئ، خو په يخنئ کښې ورله د اوداسه د پاره قابِلِ برداشت ګرمې اوبه ورکوئ د پاره د دې چې هسې نه د يخو اوبو نه د ويريدلو په وجه بيا د هغوئي اوداسه او **نمانځهٔ** ته ډېره نهٔ لګي. والِد صاحِب ته پکار دي چې کله يـې زوئي د اووهٔ کالو شي نو ځان سره دې يـې جومات ته بوځي خو مخکښې يـې د جومات د آدابو نه خبر کړئ چې جومات کښې به شور نهٔ کوې، اخوا ديخوا منډې به پکښې نه وهې، د **نمونځ** کوونکو په مخه به نه تيريږې وغيره. د **جَمعې** په **نمانځهٔ** کښې يـې د سړو د آخري صَف نه

شا ته نورو ماشومانو سره ودروئ. د دې حِکمَتِ عَمَلئ په وجه به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د ماشوم جومات سره روحاني تَعَلُّق قائم شي.

بچوں کو بھی اے بھائیو! پڑھوایئے نماز
خود سیکھ کر کے ان کو بھی سکھلایئے نماز

اے ورونړو! ماشومانو باندې هُم کوئ نمونځ
پـخپله هم او هغوئي ته هُم زده کړئ نمونځ

## ماشوم ته د ټولو نه مخکښې دِين زده کړئ

حضرت عَلّامه مولانا مُفتي محمد امجد علي اعظمي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: د ټولو نه مُقَدَّم (يعني مخکښې) دا دي چې ماشومانو باندې قرآنِ مجيد اُووائې او د دِين بُنيادي خبرې ورزده کړے شي، روژه، نمونځ او طهارت او بَيع و اِجاره (يعني د اخستلو او خرڅولو او د مزدورئ/ کرايه وغيره لين دَين) او د نورو معاملاتو مسائل د کومو چې هره ورځ ضرورت پيښيږي او بنده د بې خبرئ په وجه د خِلاف شرع کارونو کولو په ګناه کښې اخته کيږي، د هغې تعليم ورکول پکار دي. که پوهه شئ چې ماشوم د عِلم طرف ته رَغبَت لري او هوښيار دے نو د عِلمِ دِين د خِدمت نه بل غټ کوم کار دے او که اِستِطاعَت (يعني حيثيت) نهٔ لري نو د عقائدو صحيح کولو تعليم او د ضروري مسائلو تعليم ورکولو نه پس يې چې په کوم جائز کار کښې لګوئ، اختيار دے. (بهارِ شريعت ج۲، ص۲۵٦) لُور ته هُم د عقائدو او نورو ضروري مسائلو زده کولو نه پس د يوې زنانه نه د ګنډلو او ګُلکارئ وغيره کار زده کړئ چې د هغې ښځو ته اکثر ضرورت پيښيږي او د پخلي او د کور نور کارونه ورته په ښه طريقه د زده کولو کوشش وکړئ ځکه چې په ښه طريقه کارونه کوونکې ښځه چې څومره ښهٔ ژوند تيرولے شي، بد سليقه [يعني بې طريقه کارونه کولو والا] ښځه هغسې ژوند نهٔ شي تيرولے. (بهارِ شريعت ج ۲ ص۲۵۷)

مرے غوث کا وسیلہ رہے شاد سب قبیلہ
انہیں خلد میں بسانا مدنی مدینے والے

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٤٢٩)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# با کرامَته پلار او زوئي (حِکایت)

صحابِي رَسُول حضرتِ سَيِّدُنا **ابو قِرصَافَه جَندَره بِن خَيشَنَه** رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د تربِيَّتِ اولاد مِثالي جذبه لرله، رومِي کفّارو د هغوئي يو زوئي گرفتار کړو او قيد يې کړو. چې کله به د **نمانځهٔ** وخت شو نو حضرتِ سَيِّدُنا **ابو قِرصَافَه** رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به د خپل ښار عسقلان (شام) د قَلعې ديوال ته وختلو او په اوچت آواز به يې اُووئيل: "اے زما خوږه زويه! د **نمانځهٔ** وخت شوے دے!" او د هغوئی زوئي به هميشه د هغوئی غږ اوريدلو او په هغې به يې عمل کولو، حالانکې هغه په سوونو مِيلونه لرې د رُوميانو په قيد خانه کښې وو. (مُعْجَم صَغِير ج ١ ص ١٠٨ مُلَخَّصاً)

فجر کی ہو چکیں اذانیں وقت
ہو گیا ہے نماز کا اٹھو!

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٦٦)

د سحر شوي اذانونه پاخئ! اوس دے وخت شوے د نمانځهٔ پاخئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د بالِغ اولاد اصلاح کله واجِب ده

اعلیٰ حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه تپوس وشو: د مور و پلار حق بالِغ اولاد ته تنبِيه (يعني خبرداره کول) واجب دي که فرض؟ جواب کښې يې

اِرشاد اُوفرمائيلو: کوم حُکم چې د فِعل دے هم هغه په [هغې باندې] د خبرداري ورکولو دے (يعني چې څنګه کار دے هُم هغسې هغې باندې د خبرداري ورکولو مسئله [يعني حُکم دے]) په فرض باندې (خبردارے ورکول) فرض، واجِب باندې واجِب، سُنّت باندې سُنّت، مُستحَب باندې مُستحب خو په شرط د قُدرت په قدر د قُدرت، د فائدې په اُمِّيد (يعني چې څومره قُدرت لري د هغې مطابِق او هغه هُم هله چې د منلو اُمِّيد لري) ګنې [حُکمِ قرآني واضِحه دے چې]: عَلَيۡكُمۡ اَنۡفُسَكُمۡ ۚ لَا يَضُرُّكُمۡ مَّنۡ ضَلَّ اِذَا اهۡتَدَيۡتُمۡ ؕ (پ ۷، المائدہ: ۱۰۵) [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: تاسو خپل فِکر کوئ، ستاسو هيڅ نُقصان نه شي کولے هٰغه څوک چې ګُمراه شوي دي، چې کله تاسو په هِدايت يې." (فَتَاوٰی رَضَوِيّه، ج۲٤ص۳۷۰)

## په هر قدم باندې نيکي او د درجې اوچت والے

د حضرتِ سَيِّدُنا ابو هُريره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه رِوايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: څوک چې خپل کور کښې طهارت (يعني اودس يا غُسل) وکړي او فرض ادا کولو د پاره جومات ته ځي، نو په يو قدم يې يوه ګُناه ختميږي (يعني معاف کيږي)، او په بل [قدم] يې يوه دَرَجه اوچتيږي. (صحيح مُسلِم ص ۲٦۳ حديث ۱۵۲۱)

## ماشوم سکروټو سره لوبې کولې

د حضرتِ سَيِّدُنا عيسٰی رُوحُ الله عَلَيۡہِ السَّلَام مبارکه زمانه وه، يوې نيکې ښځې يو ځل په تنور کښې ډوډۍ پورې کړې او اودس يې وکړو او **نمونځ** يې شروع کړو. شيطان د يوې ښځې په شکل کښې راغلے او هغه ښځې ته يې اووئيل: بي بي! ستا ډوډۍ په تنور کښې سوَزيدو والا دي، د **الله** پاک هغې بندې د شيطان په خبره هيڅ تَوَجُّه ورنکړه او **نمانځۀ** کښې مشغوله اوسيدله، شيطان چې دا وليدل نو د هغه ښځې ماشوم زوئي يې تنور کښې په سکروټو کښې واچوو، هغې بيا هُم څه تَوَجُّه ورنکړه. په دې کښې د هغه ښځې خاوند کور ته راغلو، څه ګوري چې ماشوم په تنور کښې سکورټو سره لوبې کوي او هغه

[سکروټو] نه الله پاک ”سره عقِیق“ جوړ کړي دي. هغه کس د حضرتِ سَیِّدُنا عیسٰی رُوحُ الله عَلَیۡہِ السَّلَام په خِدمَتِ اَقدس کښې حاضر شو او ټوله واقعه یــې بیان کړه. هغوئي عَلَیۡہِ السَّلَام اُوفرمائیل چې هغه زنانه زما خوا ته راولئ! چې کله هغه ښځه حاضره شوه نو هغوئي عَلَیۡہِ السَّلَام ترینه تپوس وکړو! اے بي بي ته کوم نیک عمل کوې، چې د هغې په وجه داسې وشو؟ هغې عرض وکړو: ”اے رُوح الله! چې کله بې اودسه شم نو اودس کووم، چې کله اودس وکړم نو په **نمانځهٔ** ودریږم، او چې کله د چا څه ضرورت پېښ شي نو د هغهٔ ضرورت پوره کووم او کوم تکلیفونه چې د خلکو له طرفه رورسي په هغې صبر کووم.“ (نُزهَةُ المجالِس ج۱ ص ۱۴۳)

## د حاجت پوره کولو عظیم الشّان فضیلت

اے د **نمانځهٔ عاشقانو!** په دې حکایت کښې زمونږ د پاره ډیر نصیحت دے، ماشَآءَالله هغه نیکې، **نمونځ** گُزارې زنانه به د خلکو د حاجتونو پوره کولو ډیره جذبه لرله او دا ډیر د ثواب کار دے، ځنکه چې **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: ”څوک چې زما د یو اُمَّتي حاجت پوره کړي او د هغهٔ نِیَّت دا وي چې د دې په ذریعه هغه اُمَّتي خوشحاله کړي نو هغهٔ زهٔ خوشحاله کړم او چا چې زهٔ خوشحاله کړم هغهٔ **الله** پاک خوشحاله کړو او چا چې **الله** پاک خوشحاله کړو، **الله** پاک به هغه جَنَّت ته داخِل کړي.“ (شُعَبُ الْاِیمان ج۶ ص ۱۱۵ حدیث ۷۶۵۳)

## د حدیثِ پاک ایمان تازه کوونکې تشریح

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** حاجت پوره کوونکي ته به دا بیان شوے فضیلت صرف په دې صورت کښې حاصلیږي چې هغه کوم بنده صرف د ایماني خپلولئ په وجه خوشحالول غواړي، بل څه ذاتي مَفاد (یعنې مطلب) یــې نهٔ وي. حضرت مُفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡہ د حدیثِ پاک د دې حِصَّې (نو هغه زهٔ خوشحاله کړم) نه لاندې ”مِراٰۃ“ جِلد 6 صفحه 581 کښې لیکي: د دې نه معلومه شوه چې تر قیامته پورې حُضُور

صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د هر يو كس د هر ظاهِر او باطِن، جِسماني او د زړۀ د حالاتو خبر دے، كه حُضُور (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) بې خبره وي او د مُؤمِن د خوشحالئ حُضُور (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ته عِلم اونشي نو هغوئي به څنګه خوشحاله شي! او د حديثِ پاک د دې حِصّې (چا چې زۀ خوشحاله کړم هغۀ **الله** تعالیٰ خوشحاله کړو) نه لاندې فرمائي: د دې فرمانِ عالي نه دوه مسئلې معلومې شوې: **يوه** دا چې د نيک عمل په ذريعه د مُؤمِن د راضي كولو او د مُؤمِن د رضا كولو (يعنې خوشحالولو) په ذريعه د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راضي كولو نِيَّت كول شِرک نۀ دے، رِيا هُم نۀ ده (بلكې) باكل جائز دي، هله چې ځان ښودل (يعنې رِيا كاري) او نوم ګټل (يعنې شُهرت) يـې مقصد نه وي. **بله** دا چې د **الله** پاک رضا صرف د حُضُور (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په رضا (يعنې خوشحالولو) كښې ده، غتې نه غټه نيكي چې په هغې حُضُور (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) راضي نۀ شي په هغې باندې به **الله** پاک كله هُم راضي نۀ شي، لِـهذا هر عِبادت كښې د حُضُور (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د رضا كولو نِيَّت هُم كول پكار دي ځكه چې دا ذريعه ده د **الله** پاک د رضا. د حديثِ پاک د دې حِصّې (او چا چې **الله** پاک خوشحاله کړو، **الله** پاک به هغه جَنَّت ته داخل کړي) نه لاندې ليكي: د دې نه معلومه شوه چې جَنَّت به د **الله** تعالیٰ په خوش نُودئ [يعنې رضا] باندې حاصليږي، صرف په خپل عمل نۀ. (مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيح ج٦ ص٥٨١)

يقيناً روزِ محشر صرف اسی سے خوش خدا ہو گا
یہاں دنیا میں جس نے مصطفٰی کو خوش کیا ہو گا

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ١٨٢)

د هغۀ نه به خوشحاله په قيامت كښې پاک الله وي
چې په دې دُنيا كښې چا خوشحاله كړے مُصطَفیٰ وي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د سَیلونو د پاره وخت شته خو د نمانځهٔ د پاره وخت نشته

د نیکې زنانه د دې حکایت نه دې زمونږه اسلامي خویندې ضرور درس حاصل کړي او د غفلت د خوب نه دې رابیدارې شي او د نمونځونو د پابندئ پوخ نِیَّت دې وکړي. بیلمانځه زنانه دې ښهٔ سوچ وکړي! چې د کور د کار او اخلي ځلي بهانې کولو او د ماشومانو د پالنې عُذر بیانولو باندې کیدے شي چې تاسو څوک قائل کړئ خو دا سوچ هُم وکړئ چې آیا دا بهانې به د قیامت په ورځ هُم وچلیږي؟ بالکل نهٔ. آیا دا د افسوس مقام نهٔ دے چې تاسو سره "شاپنګ سینټر" ته د تللو وخت خو وي، کوڅو او بازارونو کښې بې پرده ګرځیدلو باندې د ګناه ګټلو وخت خو درسره وي، د سیلونو ځایونو ته د تللو وخت خو درسره وي، "خوراک څښاک د پاره هوټلو" ته د تللو په ذریعه د خپل دولت او صِحت بربادولو، بلکې خپل کور کښې په ټي وي [او سوشل میډیا] باندې څو څو ګینټې د فلمونو او ډرامو [او د ګناهونو نه ډکو کلپونو] کتلو وخت خو درسره وي خو افسوس! افسوس! د **نمانځهٔ** وخت درسره نهٔ وي!

بات اعظمی کی مانو نہ چھوڑو کبھی نماز
اللہ سے ملائے گی اے بیبیو! نماز

اومنئ د اعظَمي کله هُم مه پریږدئ نمونځ
اللّٰه ته به مو اورسوي خویندو دغه نمونځ

## مَدَني چینل نمونځ ګزاره جوړ کړو

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** د شیطان زغلولو د پاره، که د قضا نمونځونو بوج وي نو د هغې د لرې کولو د جذبې حاصلولو د پاره او د ګناهونو ډک چینلو کتلو د شوق نه ځان خلاصولو د پاره صرف مَدَني چینل ګورئ. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د دواړو جهانو بَرَکتونه به

حاصل کړئ. راځئ چې د مدني چينل يو ښکلے مَدَني سپرلے واورو: د رحيم يار خان (پنجاب) د يو اسلامي ورور په کور کښې کيبل لګيدلے وو، چې کله به هغه په کور کښې نۀ وو نو په هغې به فلمونه او ډرامې کتلے شوې خو چې کله مَدَني چينل شروع شو نو د هغوئي په کور کښې مَدَني سپرلي راغلل. د هغۀ د بچو مور به مخکښې **نمونځ** نۀ کولو، چې کله به ورته هغۀ د **نمانځۀ** اُووئيل نو هغې به مختلفې بهانې کولې او نمونځونه به يـې قضا کول. په هُم دې پريشانئ کښې هغۀ يوه ورځ په خبرو خبرو کښې خپلې ښځې ته اُووئيل: هره شپه چې کله مونږه د کار نه وزګار شو نو د ماسخوتن د **نمانځۀ** نه پس به د اُودۀ کيدو نه مخکښې مَدَني چينل ګورو. چنانچه هغه به چې ځنګه د ماسخوتن د **نمانځۀ** نه فارغ شو نو مدني چينل به يـې چالو کړو او کتل به يـې شروع کړو نو د بچو مور به يـې هُم ورسره يو ځائے کتلو. اَلْحَمْدُلِلّٰه د مَدَني چينل کتلو بَرَکتونه يو څو ورځو کښې داسې ښکاره شو چې د هغۀ د بچو مور نمونځونه شروع کړل او هغې دا هُم اُووئيل چې زما د تير ژوند د فرض او واجب قضا نمونځونو حساب ولګوئ چې زما قضا نمونځونه څومره دي؟ چې هغه هُم ادا کړم. اَلْحَمْدُلِلّٰه دې سره سره هغې ښۀ ښۀ نِيَّتونه هُم وکړل چې اوس به زۀ پابندئ سره نمونځونه کووم او د شرعي مجبورئ نه بغير به کله هُم په **نمانځۀ** کښې سستي نۀ کووم. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ د هغې په زړۀ کښې داسې جذبه پيدا شوه چې د خپلو نمونځونو قضا عُمري يـې هُم شروع کړه. د دې لِيک د وخته پورې د هغې هره ورځ سل رکعاته د قضا نمونځونو ادا کولو معمول دے.

## زر تر زره قضا را وګرځوئ

ماشَآءَاللّٰه د اسلامي خور مَدَني سپرلے مرحبا! په دې مَدَني سپرلي کښې د اسلامي خور هره ورځ د سلو رکعاتو قضا نمونځونو کولو تذکره ده. ماشَآءَاللّٰه ښۀ تعداد دے خو بيا هُم "**د نمانځۀ احکام**" کښې مسئله داسې ليکلې شوې ده: د چا په ذِمّه چې قضا نمونځونه وي د هغې زر تر زره ادا کول واجِب دي خو د بال بچو د پالنې او د خپلو ضرورتونو پوره کولو په

سبب ناوخته کول جائز دي. ځکه دي کاروبار هم کوي او چې څه فارغ وخت مومي په هغې کښې دي **قَضا** [نمونځونه] راګرځوي تر دې چې پوره شي. (دُرِّمختار ج۲ ص ٦٤٦)

(د نورو تفصيلاتو زده کولو د پاره ”**د نمانځهٔ اَحکام**“ کښې رساله ”**د قضا نمونځونو طريقه**“ ولولئ)

مدنی چینل تم کو گھر بیٹھے سکھائے گا نماز ‌ ‌ ‌ ‌ اور نمازی دونوں عالم میں رہے گا سرفراز

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٣٣)

مَــدَني چيـنل به تا ته کــور کښې ناست وښـائي مونځ
دواړو جهانو کښې به وي کامياب چې څوک کوي مونځ

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! ‌ ‌ ‌ ‌ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُـحَـمَّد

## د الله احسان دے د دوو رکعاتو توفيق نصيب کيدل

د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: ”بنده باندې دُنيا کښې د ټولو نه غټ احسان دا دے چې هغهٔ ته د دوه رکعاته **نمونځ** ادا کولو توفيق ورکړے شي.“ (مُعْجَم کبِير ج۸، ص١٥١ حديث ٧٦٥٦)

## دا د چا قَبْر دے

د **حضرتِ** سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې د **الله** پاک خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو **قَبْر** په خوا تيريدلو نو ويــې فرمائيل: دا د چا **قَبْر** دے؟ صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ عرض وکړو: د فلانکي کس. خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: (دا وخت) د دهٔ په نزد دوه رکعاته **نمونځ** ستاسو د بقِيَّه (يعني پاتې) دُنيا نه زيات محبوب (يعني خوښ) دے. (مُعْجَم اَوْسَط ج۱ ص۲٦٦ حديث۹۲۰)

## د جَنَّت په مقابله کښې دوو رکعاتو ته ترجِیح

حضرتِ سَیِّدُنا اِمام محمد اِبنِ سِیرِین رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِ فرمائي: "که ما ته جَنَّت او دوه رکعاته **نمونځ** کښې د کوم یو اختیار راکړے شي نو زۀ به **دوه رکعاته** اختیار کړم، ځکه چې دوو رکعاتو کښې د **الله** پاک رضا ده او جَنَّت کښې زما خپله رضا ده." (مُکَاشَفَةُ الْقُلُوب ص۲۲۲، مُکَاشَفَةُ الْقُلُوب (اردو) ص۴۵۱)

## زما د پاره د دُنیا ټولو خیزونو نه ښۀ دوه رکعاته (حکایت)

یو بزرګ رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِ فرمائي: ما خپل یو وفات شوے (اسلامي) وررور په خوب کښې اولیدو نو هغۀ اُووئیل: که ما ته د شُکر ادا کولو قدرت مِلاؤ شي نو دا زما په نزد د **دُنیاوَمَا فِیۡهَا** (یعنې دُنیا او په دې کښې چې څه دي، د دې) نه زیات مَحبُوب (یعنې خوښ) وي، آیا تا ته هغه وخت یاد نه دے چې کله یې زۀ ښخولم او فلانکے کس ودریدلو او دوه رکعاته **نمونځ** یې وکړو، که ما ته د **دوو رکعاتو** کولو قُدرت مِلاؤ شي نو دا به زما د پاره دُنیا او په دې کښې چې څه دي، د دې ټولو نه زیات خوښ وي. (اِحۡیَاءُ الْعُلُوم ج۵ ص۲۴۰ مُلَخَّصاً) (اِحۡیَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج۵ ص۲۰۰)

## د قَبۡر خوا ته اُودۀ کس خوب اولیدو

یو کس د یو **قَبۡر** خوا ته دوه رکعاته **نمونځ** ادا کولو نه پس خملاستلو. هغۀ په خوب کښې د **قَبۡر** والا نه دا خبره واوریدله: "اے سړیه! ته عمل کولے شې خو عِلم نه لرې، مونږ سره عِلم دے خو عمل نه شو کولے، قَسَم په خُدائے! زما په اعمال نامه کښې د **نمانځۀ** دوه رکعاته ما ته د **دُنیاوَمَا فِیۡهَا** (یعنې دُنیا او په دې کښې چې څه دي، د دې) نه زیات خوښ دي." (حکایتیں اور نصیحتیں (اردو) ص۵۶)

## عجيبه خواهش (حکايت)

د حضرتِ سَيِّدُنا حَسّان بِن ابى سِنان رَحمَةُ اللهِ عَلَيه نه د وفات کيدو په وخت کښې چا تپوس وکړو: تاسو ځان څنګه محسوسوئ؟ هغوئي اُوفرمائيل: "که زۀ د جَهنَّم نه نجات حاصل کړم نو [بيا] خيريت دے" بيا ورته عرض اوکړے شو: تاسو څه خواهش لرئ؟ هغوئي اِرشاد اُوفرمائيلو: "زۀ د يوې اوږدې شپې خواهش لرم چې په هغې کښې ټوله شپه عبادت وکړم." (حِليَةُ الاَولياء ج۳. ص۱۳۹ رقم ۳٤٦٧)

## د مړ کيدونکي په نظر کښې د اعمالو قدر

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد بِن محمّد غزالي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: که قبر والؤ ته (په فضولياتو کښې) د ژوند ورځې ضائع کوونکي کس **يوه ورځ** ورکړے شي نو دا به د هغوئي (يعني قَبْر والؤ) په نزد د ټولې دُنيا نه زياته خوښه وي ځکه چې اوس هغوئي ته د اعمالو قدر او قيمت معلوم شوے وي او د مُعامَلاتو د حقيقت نه خبر شوي وي. هغوئي صرف د يوې ورځې خواهش ځکه لري چې هغوئي (يعني قَبْر والؤ) کښې چې څوک ګنهګار وي هغه د هغې يوې ورځې په ذريعه د خپلو تيرو ورځو د ګناهونو تَلافي (يعني توبه او د حُقُوقُ الْعِباد ادائيګي وغيره) وکړي او د عذاب نه خلاصے حاصل کړي او څوک چې تَوفِيق يافته (يعني د ګناهونو نه پاک) وي هغوئي د هغه يوې ورځې په ذريعه (يعني په هغه يوه ورځ کښې ښۀ ډير عبادت وکړي او د هغې په ذريعه) خپله مَرتبه اوچته کړي او خپل ثواب دوه هومره کړي. هغوئي (يعني قَبْر والؤ) ته د عُمر قدر و قِيمت هله معلوم شو چې د هغوئي عُمر پوره شو، اوس هغوئي خواهش لري چې د ژوند صرف يو ساعت راته مِلاؤ شي او (اے ژوندو اسلامي وروڼو) تاسو ته دا ساعت حاصل دے او کيدے شي چې تاسو ته د دې په شان نور ساعتونه هُم مِلاؤ شي، که تاسو د دې د ضائع کولو ذِهن جوړ کړے وي نو معامله د لاس نه وتلو په صورت کښې د افسوسه لاسونه مروړلو (يعني پښيمانه کيدلو) د

پاره ځان تيار ساتئ ځکه چې تاسو سبقت (يعني وړاندې کيدل) اونکړل او د خپلو ساعتونو (او د ژوند بې بَها ملغلرو) نه مو خپله حِصَّه وصول نۀ کړه. (اِحیَاءُ الْعُلُوم ج۵ ص۲۴۰)
(اِحیاءُالعُلوم(اُردو) ج ۵ ص )

کر جوانی میں عبادت کاہلی اچھی نہیں
جب بڑھاپا آگیا کچھ بات بن پڑتی نہیں
ہے بڑھاپا بھی غنیمت جب جوانی ہوچکی
یہ بڑھاپا بھی نہ ہوگا موت جس دم آگئی

کړه ځوانئ کښې عبادت، سُستي ښه نۀ ده
چې بوډا شوې بيا هِمَّت به در کښې نۀ وي
ځواني لاړه بوډا والے هم غنيمت دے
که مرګ راغے بوډا توب به هم بيا نۀ وي

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نمونځ کولو نه پس په هُم هغه ځائے د ناست اوسيدلو فضيلت

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نمونځ کولو نه پس د اخوا ديخوا تللو په ځائے چې خومره کيدے شي په هُم هغه ځائے ناست اوسيږئ. د الله تعالیٰ معصومې فرښتې به ستاسو د پاره مسلسل د بخښنې دُعا کوي. چنانچه د دواړو جهانو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: کوم بنده چې نمونځ وکړي، تر څو چې په هُم هغه ځائے ناست اوسي فرښتې مسلسل د هغۀ د پاره د بخښنې دُعا کوي. تر دې چې بې اودسه شي يا پاڅي. د فرښتو دُعائے مغفرت د هغه (ناست اوسيدونکي) د پاره دا ده: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلَهٗ، اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ (يعني اے الله پاکه ته دے اوبخښې، اے الله پاکه ته په دۀ رحم وکړې.) (مُسنَد اَبو يَعْلٰى ج ۵ ص ۴۶۹ حديث ۶۴۳۲)

## ياد کړه الله، هغه ساعت راتلونکے دے

آه! چې مونږه د خپلې سستۍ څه علاج وکړو! کاش چې د معصومو فرښتو د دُعاګانو حاصلولو د پاره مونږ ته د نمونځ کولو نه پس په هُم هغه ځائے ناست د څه وظائفو لوستلو

سعادت را نصيب کيدے. دُعائے ثاني کښې يعنې اِمام چې د خپلو سُنَّتو وغيره کولو نه پس کومه دُعا کوي په هغې کښې خو هر يو ته شرکت کول پکار دي. که د **نمانځهٔ** نه پس "د فيضانِ سُنَّت دَرس" وي يا د **تفسيرِ صِراطُ الْجِنان** مَدَني حلقه وي يا د سُنَّتو ډک بيان وي نو په هغې کښې کښيناستل او د دُنيا او آخرت ښيګړې حاصلول پکار دي.

اندھیرا گھر، اکیلی جان، دم گھٹتا، دل اُکتاتا

خدا کو یاد کر، پیارے! وہ ساعت آنے والی ہے

(حدائقِ بخشش ص۱۸۲)

توره تِياره، تنِ تنها، ساه خفه، زړهٔ تنګيدل

ياد کړه الله، هغه ساعَت راتلونکے دے

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ځمکې د حِصَّو بزرګي

د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې شَهَنشاهِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: "يو سحر او ماښام هُم داسې نشته چې د ځمکې يوه ټُکړه بلې [ټُکړې] ته غږ نهٔ کوي چې نن په تا باندې خوک نيک بنده تير شوے دے چې هغهٔ په تا **نمونځ** کړے وي يا يې ذِکرِ اِلٰهي کړے وي؟ که هغه "آو" اُووائي نو د هغې د پاره په دې سبب د ځان نه زياته بُزُرګي تصوُّر کوي." (مُعجَم اَوْسَط ج ا ص ۱۷۱ حديث ۵۶۲)

## جَمعې نه پس شا ته تلونکو د پاره دوه نِيَّتونه

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونو!** که کيدے شي نو په بدل بدل ځائے باندې **نمونځ** کول پکار دي، چې کوم کوم ځائے کښې **نمونځ** وکړئ، ذِکر و دُرُود اُووائي هغه ټول ځايونه به

د قيامت په ورځ ګواهي ورکوي. د **جَمعي** ختميدو نه پس ډير اسلامي ورونړه شا طرف ته ځي او [خپل باقي] **نمونځ** کوي، داسې کولو وخت کښې دا دوه ښۀ نِيَّتونه کيدے شي: (١)صفونه چې مُنتَشِر (يعني بې ترتيبه) اُووِيني نو وروسته راتلونکي خلک به پوهه شي چې **جَمعه** ختمه شوې ده (٢)د فرضو رکعاتونو د پاره مې د ځمکې يوه حِصَّه ګواه کړه نو اوس به د سُنَّتو د پاره بل ځائے ګواه جوړووم. خو دا احتياط ضروري دے چې څوک **نمونځ** کوونکي يا ناست کسان ستاسو په ښنګل يا ښپه وغيره اُونه لګي او د **نمونځ** کوونکي په **مخه** تيريدل هُم پکښې پيښ نۀ شي ځکه چې د **نمونځ** کوونکي په **مخه** تيريدل ګناه ده، بله دا چې څوک د **مخکښې** نه [شا ته صفونو کښې] په **نمانځۀ** کښې مشغول وي د هغۀ طرف ته مخ کول هُم ناجائزه او ګناه ده، هُم دغسې د چا مخ ته **مخامخ نمونځ** شروع کول هُم ګناه ده.

## ځمکه خلويښت ورځې ژاړي

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُمَا فرمائي: ځمکه خلويښتو ورځو پورې مسلمان پسې ژاړي. (الزهد الوکيع ص ٣٠٩ حديث ٨٣، شَرۡحُ الصُّدُور (اُردو) ص١٩٤)

## ځائے په چا پسې ژاړي

مسلمان چې کوم ځائے کښې **نمونځ** کوي، ذِکرُ الله کوي هغه ځائے به د قيامت په ورځ د هغۀ [د پاره] ګواهي ورکوي. حضرتِ سَيِّدُنا عطا خُراساني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: "بنده چې د ځمکې په کومه حِصَّه هُم سَجُده کوي هغه به د قيامت په ورځ د هغۀ ګواهي ورکوي او په کومه ورځ چې هغه مړ شي د ځمکې هغه ټُکړه په هغۀ پسې ژاړي." (الزهد لابن المبارک ص١١٥ حديث ٣٤٠، شَرۡحُ الصُّدُور (اُردو) ص١٩٤)

## ځمكه او آسمان ولې ژاړي؟

**حضرتِ** سَيِّدُنا **اَبُو عُبَيد** رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه بيان كوي: چې كله مسلمان وفات شي نو د ځمكې مختلفې حصّې داسې آواز كوي: اے **الله**! ايمان والا بنده وفات شو! پس آسمان او ځمكه هغه پسې ژاړي. **الله** پاک هغه دواړو ته اِرشاد فرمائي: تاسو زما بنده پسې په څه وجه اوژړل؟ هغه عرض كوي: اے زمونږه **ربّه**! هغه بنده چې زمونږ په كومه حصّه هُم تير شوے دے ستا په ذِكر كولو كښې تير شوے دے. (الزهد لابن المبارک ص٤١ حديث١٦١، شَرحُ الصُّدُور (اُردو) ص١٩٤)

## د نمانځهٔ ځائے ژاړي

اَميرُ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: چې كله مسلمان وفات شي نو په ځمكه كښې د هغهٔ د **نمانځهٔ** ځائے او په آسمان كښې د هغهٔ د عمل د ختلو دروازه په هغه پسې ژاړي، بيا هغوئي دا آيتِ كريمه تلاوت كړو:

فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَآءُ وَ الْاَرْضُ

[مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُالاِيمان: نو په هغوئي آسمان او ځمكې اُونه ژړل. (پ٢٥ الدخان: ٢٩)

(كتاب ذكر الموت مع موسوعة ابن ابى الدنيا ج٥ ص٤٨٧، حديث ٢٨٧ (شَرحُ الصُّدُو (اردو) ص.١٩٤)

## د آسمان دروازه ژاړي

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه د **الله** پاک د دې فرمان:

فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَآءُ وَ الْاَرْضُ

[مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُالاِيمان: نو په هغوئي آسمان او ځمكې اُونه ژړل. (پ٢٥ الدخان: ٢٩)

[د دې] مُتَعَلِّق تپوس اوكړے شو چې آيا ځمكه او آسمان هُم په چا پسې ژاړي؟ نو هغوئي اُوفرمائيل: آو، ولې چې مخلوق كښې هيڅ څوک هُم داسې نشته چې د هغهٔ د پاره د آسمان

دروازه نۀ وي، په هُم هغې د هغۀ رزق راکوزيږي او په هُم هغې د هغۀ عمل خيژي، پس چې کله مسلمان وفات شي نو آسمان کښې د هغۀ، هغه دروازه بنده کړے شي په کومه [دروازه] به چې د هغۀ عمل ختلو او رزق به يـې راکوزيدلو، چنانچه هغه دروازه په هغۀ پسې ژاړي او د هغۀ يعنې د وفات شوي مسلمان په جُدا کيدو د ځمکې هُغه حِصَّه ژاړي کوم ځائے به چې هغه ايمان والا **نمونځ** کولو او ذِکرِ اِلٰهی به يـې کولو. او ولې چې د فرعون د قوم په ځمکه هيڅ نيکي نښې نۀ وې او نۀ د هغوئي له طرفه بارګاهِ اِلٰهی ته څه نيکي رسيدلې وه، لِـهذا په هغوئي پسې ځمکې او آسمان اُونه ژړل. (تفسيرِ طَبری ج۱۱، ص۲۳۷ حديث ۳۱۱۲۲، (شَرْحُ الصُّدُو (اردو) ص.۱۹۳)

مجھ کو بقیع پاک میں دو گز زمین دو
حسنین کے طفیل، مدینے کے تاجور

(حدائقِ بخشش ص۱۸۲)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نمونځ ګزاره ښځه او مهے (حکايت)

بني اسرائيلو کښې يوه نيکه **نمونځ** ګُزاره ښځه وه، بد قسمتئ سره د هغې خاوند غير مُسلم وو، هغه به خپله ښځه د **نمانځۀ** نه منع کوله خو د وهلو ټکولو باوجود به هغې **نمونځ** نۀ پريښودو. خاوند يـې چې ډير تنګ شو نو د يو سازش جوړولو د پاره يـې څه مال ښځې ته ورکړو او ورته يـې اُووئيل چې دا **محفوظ** ځائے کښې وساته او چې کله يـې زۀ اوغواړم نو بيا يـې ما ته راکړه. خاوند يـې يوه ورځ موقع اوموندله او هغه مال يـې پټ راواخستو او درياب ته يـې غوزار کړو. د **اللّٰه** تعالٰی په قدرت هغه مال يو مهي اوخوړو. هغه مهے د يو ښکاري په جال کښې ونښتو او د خرڅولو د پاره يـې بازار ته راوړو، د خُدائے شان اوګورئ چې هُم هغه مهے د هغې خاوند واخستو او پخولو د پاره يـې کور ته راوړو. هغه

نیکي ښځې چې پخولو د پاره د مهي خیټه څیرې کړه نو هغه مال یـې د خیټې نه را اووتلو، هغه په ټوله قصه پوهه شوه. هغې هغه مال واپس په هم هغه ځائے کښې کیښودو. خاوند د خپلې منصوبې مطابق د ښځې نه هغه مال اوغوښتو چې د مال نهٔ ملاویدو په صورت کښې په هغې الزام ولګوي او سزا ورکړي خو د **الله** جَلَّ شَانُهٗ په رحمت ښځې مال راواخستو او خاوند ته یـې حواله کړو، په دې خبره هغه ډیر حیران شو خو هغهٔ دا سوچ وکړو چې په دې کښې ضرور د ښځې څه چالاکي ده. هغه د دې خبرې نه هیڅ عِبرت حاصل نه کړو بلکې ښځې چې کله ډوډئ پخولو د پاره تنور لـمبه کړو نو ظالم هغه بَل تنور ته غوزاره کړه چې اوسوزي او مړه شي. چې څنګه تنور ته اوغورزیدله نو هغه نیکې **نمونځ** ګُزارې ښځې د **الله** پاک په بارګاه کښې فریاد وکړو. **الله** پاک د هغې دُعا قبوله کړه او د تنور وور فوراً یخ شو او هغه **نمونځ** ګُزاره ښځه (د **نمانځهٔ** په بَرَکت) ژوندئ بچ شوه. (نُزهَةُ المجالِس ج۱ ص۱۵٤ بتغیّر)

**د الله رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دې په هغې رحمت وي او د هغې په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم**

عزت کے ساتھ نوری لباس اچھے زیورات
سب کچھ تمہیں پہنائے گی اے بیبیو! نماز

نوراني لباس او ښکلي کالي په ډیر عِزّت      هر څه به درواغوندي اے بیبیانو دغه مونځ

## مدني چینل ما ته اودس رازده کړو

د **شیطان** سازشونه ناکام جوړولو د پاره، ګناهونو نه د بچ کیدو ترغیب حاصلولو، د نیکو لار اختیارولو د پاره او دِیني معلومات زیاتولو د پاره مَدَني چینل ګورئ. د **دعوتِ اسلامي** د یو ذِمَّه دار اِسلامي ورور یو خپلوان خپل تاثُرات څه داسې بیان کړي دي: تاسو

حضراتو ډېر ښهٔ کړي دي چې **مَدَني چینل** مو شروع کړے دے او مسلمانانو ته کورونو کښې په ناسته ناسته د دِين خبرې ښائي، رښتيا وائم چې کله ما ستاسو مدني چينل باندې "**د اودس عملي طريقه**" اوکتله نو زما سر د شرم نه ښکته شو ځکه چې د پلار نيکه نه د مسلمان پيدا کيدو باوجود تر اوسه پورې ما ته صحيح اودس کول هُم نه وو زده، زهٔ بالکل ښکاره اعتراف کووم چې ما ته **مَدَني چينل** اودس رازده کړو!

مَدَنی چینل میں نبی کی سنتوں کی دھوم ہے
اس لئے شیطاں لعیں رنجور ہے مغموم ہے

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٣٣)

مدني چينل ښائي سُنّت د نبي سُلطان ځکه ډېر خفه او غم وهلے دے شيطان

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د يو صاحِب نه چې کله ګناه وشوه

د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے: د يو صاحب نه يوه (صغيره) ګُناه وشوه، بارګاهِ رِسالت کښې حاضر شو او عرض يې وکړو، په هغې باندې (د دولسمې سيپارې د سُورةُ هُوْد) آيت (نمبر 114) نازل شو:

وَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَیِ النَّهَارِ وَ زُلَفًا مِّنَ الَّیْلِ ؕ
اِنَّ الْحَسَنٰتِ یُذْهِبْنَ السَّیِّاٰتِ ؕ ذٰلِكَ ذِكْرٰى لِلذّٰكِرِیْنَ ﴿۱۱۴﴾

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او نمونځ قائم ساته د ورځې دواړو غاړو او څه د شپې په حِصّو کښې، بيشکه نيکئ بدئ وړي [يعني ختموي]، دا نصيحت دے، نصيحت منونکو ته.

هغوئي عرض وکړو: يارَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم! آيا دا خاص زما د پاره دي؟ [خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم] اوفرمائيل: "زما د ټول اُمَّت د پاره." (بُخاری ج١ ص١٩٦ حديث ٥٢٦) (بهارِ شريعت ج١ ص٤٣٥)

**د آيت تفسير:** د دې آيتِ مُقَدَّسه نه لاندې صَدْرُالْاَفَاضِل حضرت مولانا سيّد نعيم الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي چې د ورځې دوارو غارو نه سحر او ماښام مُراد دي، د زَوال نه مخکښې وخت په سحر کښې او [د زَوال نه] پس [وخت] په ماښام[1] کښې داخل دے، د سحر نمونځ **فَجْر** او د ماښام نمونځونه ماسپښين او مازيګر دي، او د شپې د حِصّو نمونځونه مغرِب او ماسخوتن دي. (خَزائِنُ الْعِرفان ص ٤٣٨) (تفسير نسفی ص ٥١٦)

"تفسير صِراطُ الْجِنان" جِلد 4 صفحه 511 کښې د هُم دې آيت نه لاندې ليکي: (په دې آيتِ کريمه کښې بيان کړے شوو) نيکو نه مُراد يا هُم دا پينځۀ وخته نمونځونه دي کوم چې آيت کښې ذِکر شوي دي يا د دې نه مُراد مُطلقاً (يعنې د هر قِسم) نيک کارونه دي يا د دې نه "سُبْحٰنَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ" لوستل مُراد دي، (تفسير مدارک ص ٥١٦)

## د صغيره ګناهونو د پاره کفّاره جوړيدونکې بعضې نيکۍ

د دې آيت نه معلومه شوه چې نيکۍ د صغيره (يعنې وړو ګناهونو) د پاره کفّاره وي، که هغه نيکۍ نمونځ وي او که صَدَقه (و خيرات) يا ذِکر و اِستِغفار يا بل څه. (تفسيرِ خازن ج ٢ ص ٣٧٥) حديثونو کښې د ګڼ شمير داسې اعمالو بيان دے چې هغه د صغيره ګناهونو د پاره کفّاره (يعنې د بخښنې) سبب جوړيږي. دلته د هغو نه يو څو بيانيږي.

## څلور فرامينِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

﴿١﴾ پينځۀ واړه نمونځونه او جُمُعه بلې جُمُعې پورې او رَمَضَان د بل رَمَضَان پورې دا ټول د هغه ګناهونو د پاره کفّاره دي کوم چې د دې په مينځ کښې واقع شي، هله چې انسان د

---

[1] [شرعي ماښام د زَوال نه مخکښې پورې دے، او پښتو کښې چې نمر پريوتلو نه پس ته ماښام وائي شريعت کښې هغې ته مغرِب وائي او مغرب سره شپه شروع شي]

کبيره ګناهونو نه ځان وساتي. (صحيح مُسلِم ص۱۱۸ حديث۵۵۲) ﴿۲﴾ چا چې د رَمَضَان روژه اونيوله او د هغې حدونه يې اوپيژندل او د کوم څيز نه چې بچ کيدل پکار دي د هغې نه يې ځان وساتلو نو څه چې يې مخکښې کړي دي د هغې کفّاره شوه. (شُعَبُ الْإِيمان ج۳ ص۳۱۰ حديث۳۶۲۳) ﴿۳﴾ د عُمرې نه عُمرې پورې د ھغو ګناهونو کفّاره ده کوم چې [د دواړو عُمرو په] مينځ کښې وشو او د حَجِّ مَبرُور ثواب صرف جَنَّت دے. (بُخاری ج۱ ص۵۸۶ حديث۱۳۷۳) ﴿۴﴾ چا چې عِلم تلاش کړو نو دا تلاش به د هغهٔ د تيرو ګُناهونو کفّاره شي. (تِرمِذِی ج۴ ص۲۹۵ حديث۲۶۵۷)

## کفّاره نه څه مُراد؟

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! بيان شوو څلورو واړو حديثونو کښې لفظ "کفّاره" راغلے دے، دلته د دې نه مُراد دے چې: د وړو ګناهونو بخښنه وشوه. بيشکه نمونځ نهايت عظيمُ الشَّان عِبادت دے، د دې د بَرَکت نه صرف او صرف بدنصيبه خلک محرومه پاتې کيدے شي. نمونځ چې يو طرف ته د بيشميره ثوابونو ګټلو ذريعه ده نو بل طرف ته د دې په ادا کولو د صغيره (يعني وړو) ګناهونو بخښنه کيږي.

## حضرتِ عُثمان اودس [چار اندام] وکړو او ويې فرمائيل

تابِعي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا حارِث رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه روايت کوي چې حضرتِ سَيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يوه ورځ تشريف فرما وو او مونږه هُم ناست وو چې مُـؤَذِّن صاحب راغلو، حضرتِ سَيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوبه را اُوغوښتلې او اَودَس يې وکړو، بيا يې اوفرمائيل چې ما حُضُور تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هُم داسې اَودَس کولو ليدلے دے او ما د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا ارشاد هُم اوريدلے دے چې څوک زما د دې اَودس په شان اودس وکړي، بيا هغه د ماسپښين نمونځ وکړي نو **الله** پاک د هغهٔ ګناهونه معاف کړي يعني هغه ګناهونه کوم چې د سحر د نمانځهٔ او د دې ماسپښين د نمانځهٔ تر مينځه

شوي وي، بیا چې کله د مازیګر نمونځ وکړي نو د ماسپښین او مازیګر تر مینځه ګناهونه معاف کړي، بیا چې کله د ماښام نمونځ وکړي نو د مازیګر او ماښام تر مینځه ګناهونه معاف کړي، بیا چې د ماسخوتن نمونځ وکړي نو د دې او د ماښام تر مینځه ګناهونه معاف کړي، بیا کیدے شي چې ټوله شپه هغه په ملاسته تیره کړي او بیا چې راپاڅي او اودس وکړي او د سحر نمونځ وکړي نو د ماسخوتن او سحر تر مینځه ګناهونو بخښنه وشي او هُم دا هغه نیکۍ دي کومې چې بدئ لرې کوي. (الاحادیث المختارة ج۱ص۴۵۰ حدیث۳۲۴)

## نمانځۀ سره ګناهونه وینځل شي

حضرتِ سَیِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: که تاسو کښې د چا په انګڼ کښې نهر وي، هغه په هغې کښې هره ورځ پینځۀ ځله غُسل کوي نو آیا په هغه باندې به څه خِیرے پاتې شي؟ خلکو عرض وکړو: نه جي. خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: نمونځ ګناهونه هُم داسې وِینځي څنګه چې اوبه خیرے وِینځي.“ (اِبنِ مَاجَه ج ٦ ص ١٦٥ حدیث ١٣٩٧)

## حضرت عیسٰی عَلَیْهِ السَّلَام او خِیرنه مرغۍ

حضرتِ سَیِّدُنا عیسٰی رُوحُ الله عَلَیْهِ السَّلَام یوه ورځ د سمندر په غاړه تشریف وړلو. هغوئي عَلَیْهِ السَّلَام یوه مرغۍ ولیده چې هغه د سمندر په چقړو کښې ډډې په ډډې اووښتله او په دې سبب د هغې بدن خِیرن شو. بیا هغه د هغه ځائے نه اُووَتله او سمندر کښې یـې لامبل شروع کړل چې هغې سره هغه بیا صفا شوه، هُم دا عمل هغې پینځۀ ځله وکړو. حضرتِ سَیِّدُنا عیسٰی رُوحُ الله عَلَیْهِ السَّلَام په دې کار حیران شولو، حضرتِ جِبرائیل (عَلَیْهِ السَّلَام) چې هغوئي حیران ولیدو نو ویـې وئیل: دا تاسو ته چې اوښودلے شو دا د حضرت مُحَمَّد صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّت د نمونځ ګُزارو مثال وو او دا چقړې د هغوئي د ګناهونو مثال او سمندر کښې لامبل د پینځۀ نمونځونو مثال دے. (نُزهَةُ المجالِس ج۱ص۱۴۵ مُلَخَّصاً) یعنې څنګه

چې دا په چقړو کښې ورغښتله [او خيرنه شوله] او لامبلو سره صفا سوتره شوه، هُم دغسې به د حضرت مُحَمّد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّت ګنهګاران د دې پينځؤ نمونځونو په وجه د خپلو ګناهونو نه صفا سوتره شي.

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** زمونږه خومره خوش قسمتي ده چې **اللّٰه** پاک په مونږه نمونځ فرض کړے دے او د ډير ډير ثواب عطا کولو سره يې دا احسان فرمائيلے دے چې هغه د نمانځهٔ په بَرَکت زمونږه ګناهونه هُم معاف کوي. د **اللّٰهُ** رَبُّ الْعِزَّت د دې خزانې نه چې څوک خپله حِصَّه حاصله نهٔ کړي هغه خومره محرومه او بد نصيبه دے. دا ياد ساتئ چې کوم کوم ځائے کښې نمونځونو سره د ګناهونو معاف کيدلو تذکره ده، د هغې نه مُراد صغيره يعنې (يعنې وړوکي) ګناهونه دي، کبيره (يعنې غټ) ګناهونه توبه کولو سره معاف کيږي.

پڑھ کر نماز ساتھ لو سامانِ آخرت
محشر میں کام آئے گی اے بھائیو! نماز

وکړئ نمونځونه، يوسئ ځان سره سامانِ آخِرت
محشر کښې به پکار راځي اے وروره دغه مونځ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ګناهونه داسې رژيږي لکه....

نمونځ ګُزاره خومره خوش نصيبه دے چې کله نمونځ کوي نو ګناهونه يې په تيزئ سره ريژيدل شروع شي. چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا اَبُوذر غِفاري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: خوږ مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يخنئ په موسم کښې تشريف يوړلو او د ونو پاڼې رژيدلې. هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يوې وَنې دوه خاخونه ونيول او هغه يې اوخوزول، د هغوئي نه پاڼې ريژيدل شروع شوې. هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے ابو ذر! ما عرض وکړو: لَبَّيْکَ! يارَسُولَ اللّٰه! يعنې زهٔ

حاضر یم اے د **اللہ** پاک رسوله! اِرشاد يـې اوفرمائيلو: ”چې کله يو مسلمان د **اللہ** پاک د رضا د پاره نمونځ کوي د هغهٔ نه ګناهونه داسې غورزيږي څنګه چې د وَنې نه پاڼې ريژيږي.“ (مُسْنَدِ اِمام اَحمَد بِن حَنْبَل، ج ۸ ص ۱۳۳ رقم ۲۱۶۱۲)

## د پرَدئ وَنې د پاڼو څنډلو مسائل

حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې بيان شوي حديثِ پاک د دې حِصَّې (د يخنۍ په موسم کښې تشريف يوړلو) نه لاندې ليکي: مدينے مُنَوَّرې نه بهر يو ځنګل کښې او دا موسم د خزان وو چې د خاخونو خوزولو سره پاڼې رژيږي او هسې هم پاڼې رژيږي. د حديث شريف د دې حِصَّې (د يوې وَنې دوه خاخونه ونيول او هغه يـې اوخوزول) نه لاندې ليکي: غالِباً دا ونه د ځنګل بخپله راختونکې ونه وه [يعني د چا مِلک نه وه] چې د هغې ميوه ګُلونه پاڼې هر لاروے ماتولے شي او [دا هُم] کيدے شي چې ونه د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپله وه يا د يو داسې کس وه چې هغه د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې عمل مبارک راضي وو ګنې د پرَدئ وَنې نه بې اجازته پاڼې راڅنډل منع دي. د حديث مُبارک د دې حِصَّې (ګناهونه داسې رژيږي څنګه چې د وَنې نه پاڼې رژيږي) نه لاندې ليکي: يعنې د اخلاص نمونځ د خزان د موسم د هُغه تيزې هوا په شان دے کومه چې پاڼې راريژوي (نور فرمائي) دلته (غورزيدلو يعنې معاف کيدونکو) ګناهونو نه صغيره (يعنې واړه) ګناهونه مُراد دي.
(مِراٰةُ المناجيح ج ۱ ص ۳۶۷)

## نمانځهٔ نه فارغيدو سره سمدستي ګناهونه معاف کيږي

د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: ”چې کوم وخت مسلمان نمونځ کوي نو د هغهٔ ګناهونه د هغهٔ په سر کيښودے شي، چې کله هغه سجدې له لاړ شي نو ټول ګناهونه ترينه اوغورزيږي، نمونځ کوونکے چې کله د نمانځهٔ نه فارغ شي نو د ګناهونو نه پاک او صفا شوے وي.“ (مُعْجَم کبِير ج ٦ ص ۲۵۰ حديث ٦۱۲۵)

## دوه رکعاته کولو سره ټول صغیره ګناهونه معاف

د حضرتِ زَید بِن خالِد جُهَنِّي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه رِوایت دے چې خوږ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوک چې دوه رکعاته نمونځ وکړي او په هغې کښې سَهوٌ (یعني هیر) اُو نکړي نو کوم څه چې (د دې نه مخکښې) د هغهٔ (نه صغیره) ګناهونه شوي دي **اللّٰه** پاک یې معاف کړي." (مُسْنَدِ اِمام اَحمَد بِن حَنۡبَل، ج ٨ ص ١٦٢ حدیث ٢١٧٤٩)

## کوم ګناهونه یې چې کړي وو د نمانځهٔ په بَرَکت معاف

د حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو اَیُّوب انصاري رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه رِوایت دے چې د تاجدارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: چا چې اودس وکړو څنګه چې حُکم دے او نمونځ یې وکړو څنګه چې د نمانځهٔ حُکم دے، نو څه یې چې مخکښې کړي دي معاف شو. (اِبنِ مَاجَه ج ٢ ص ١٦٤ حدیث ١٣٩٦)

# تَذکره د حضرتِ اَبُو اَیُّوب انصاري رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ

**اے د صحابه او اهلِبَیتو عاشقانو!** اوس چې تاسو کوم حدیثِ پاک واوریدو، د هغې راوي د رَسُولِ پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مشهور صحابي، میزبانِ رَسُول حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو اَیُّوب انصاري رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ دے. د خپلو ګرانو صحابهٔ کرامو عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوَان په باره کښې د رَسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: "زما صحابه ته بد مه وائې ځکه چې په تاسو کښې څوک د اُحُد غر هومره سرهٔ زر خیرات کړي نو زما په صحابه کښې نهٔ د کوم یو [صحابي] مُد ته رسیدے شي او نهٔ د مُد نیمي ته." (بُخاری ج ٢ ص ٥٢٢ حدیث ٣٦٧٣) **شَرحِ حدیث:** یعني زما صحابي چې تقریباً پینځهٔ پاوه وربشې خیرات کړي او د هغوئي نه علاوه یو مسلمان اګر که هغه غوث و قُطب وي یا عام مسلمان د غره هومره سره زر خیرات کړي نو د هغهٔ سرهٔ زر به **الله** ته په نزدیکت او قَبولِیَّت کښې د صحابي پینځهٔ پاوه وربشو ته نه شي رسیدلے،

هُم دا حال د روژې، نمانځهٔ او د ټولو عباداتو دے، چې د مسجدِ نَبَوي نمونځ د بل ځائے د نمونځونو نه يو په پنځوس زره دے نو چا چې د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نزديکت حاصل کړے دے او ديدار يې کړے دے د هغوئي به څه وائې او د هغوئي د عباداتو به څه وائې! د دې حديث نه معلومه شوه چې د حَضَراتِ صحابهٔ کرامو (عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان) ذِکر هميشه ښهٔ کول پکار دي، يو صحابي هُم په سپکو الفاظو مه يادوئ، دا هُغه حَضَرات دي کوم چې **ربّ** د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صُحبت د پاره غوره کړي دي، مهربانه پلار خپل زوئې د بدو په صُحبت کښې نهٔ پرېږدي نو مهربانه **ربّ** به د خپل نبي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د بدو په صُحبت کښې اوسيدل څنګه خوښ کړے وے.! (مِراٰةُ الْمَنَاجِيح ج٨ ص٣٣٥ مُلَخَّصاً) د صحابهٔ کرامو فضيلت صرف د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صُحبت او د وَحي زمانه حاصلولو په وجه وو، که په مونږ کښې چا ته 1000 کاله عُمر ورکړے شي او ټول عُمر د **الله** پاک فرمانبرداري وکړي او نافرمانئ نه بچ شي بلکې د خپل وخت د ټولو نه لوئي عابِد (يعني عبادت ګُزار) جوړ شي نو بيا هُم د هغهٔ عبادت د نبيِّ رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صُحبت د يو ساعت هومره هُم نهٔ شي کيدے. (المفاتيح فِي شرح المصابيح ج ٦ ص ٢٨٦ تحت الحديث ٤٦٩٩)

## نوم او کُنيَت

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** په مدينهٔ مُنَوَّره کښې د حُضُور نبيِّ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ميزبانئ شرف حاصلوونکے د ټولو نه وړومبے خوش نصيبه حضرتِ سَيِّدُنا **اَبُو اَيُّوب انصاري** رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وو. د هغوئي اصل نوم خالِد بِن زَيد وو او کُنيت يې **اَبُو اَيُّوب** وو. د هِجرت نه مخکښې د نبيِّ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په لاس مبارک بَيعَت کوونکو تقريباً اويا خوش نصيبو حَضَراتو کښې هغوئي هُم شامِل وو. (طبقاتِ اِبنِ سَعد ج٣ ص٣٦٨، ٣٦٩)

## د خوږ مُصطَفیٰ ﷺ بې مثاله اَدَب

**حضرتِ** سَيِّدُنا **اَبُو اَيُّوب** انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به د خپل هر انداز په ذريعه د خوږ آقا

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره د ډیر زیات ادب او احترام او ځان قُربانولو مظاهره کوله، د حُضُور نَبِـيّ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره هغوئي په شروع شروع کښې پاسنے منزِل پیش کړو خو تاجدارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (د ملاقاتیانو د آسانئ د خیال ساتلو په وجه) لاندې منزِل خوښ کړو. یو ځل د کور پاسني منزِل باندې د اوبو منګـے مات شو نو فوراً یـې ورته خپله برستن واچوله او ټولې اوبه یـې په هغې وَچې کړې، په کور کښې صرف یوه برستن موجوده وه او هغه یـې هُم پرې لـمده کړه خو هغوئي دا نهٔ شوه برداشت کولے چې اوبه اوبهیږي او لاندیني منزِل ته لاړې شي او رحمتِ عالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته څه تکلیف ورسي. (سیرتِ اِبنِ هَشّام ص۱۹۹)

## چرته بې اَدَبي اونشي

حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو اَیُّوب انصاري رَضِیَ اللهُ عَنهُ روایت کوي چې حُضُور تاجدارِ دوعالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي کره (د میلمه په طور) لاندیني منزِل کښې اوسیدلو او حضرتِ اَبُو اَیُّوب انصاري رَضِیَ اللهُ عَنهُ پاسني منزِل کښې وو، د حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو اَیُّوب انصاري رَضِیَ اللهُ عَنهُ په زړهٔ کښې یوه ورځ خیال راغـے چې مونږه د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سر مبارک د پاسه (په چَت) ګرځُو، دا خیال چې ځنګه ورغلو نو هغوئي یوې ډډې ته جُدا شو او اُودهٔ شولو، بیا یـې نَبِـيّ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته [په دې باره کښې] عرض وکړو. خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل چې: "لاندیني منزِل کښې زیات سهولت دے." حضرتِ اَبُو اَیُّوب انصاري رَضِیَ اللهُ عَنهُ عرض وکړو: زهٔ په هٔغه **چَت** نه شم اوسیدلے د کوم [**چَت** نه] لاندې چې تاسو تشریف فرما یـې. هله سرکارِ دوعالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاسني منزِل ته تشریف راوړلو او حضرتِ اَبُو اَیُّوب انصاري رَضِیَ اللهُ عَنهُ لاندیني منزِل ته راغلو. (مُسلِم ص۸۷٤ حدیث۵۳۵۸)

## د لوښو نه به یـې بَرَکتونه اخستل

د حُضُور رحمتِ عالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره به دوئي [یعني حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو اَیُّوب

انصاري ] رَضِیَ اللہُ عَنْہُ طعام لیږلو او چې کله به لوښي واپس راغلل نو تپوس به یې کولو چې د رَسُولُ‌الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګوتې مبارکې په کوم ځائے لګیدلې دي؟ د بَرَکت حاصلولو د پاره به یې د پاکیزه ګوتو مبارکو د لګیدلو د ځائے نه نوَرِئ را اوچتوله او طعام به یې خوړلو. (مُسْنَد اَحمَد، ج۹ ص۳۵ حدیث ۲۳۵۷۶)

## دُعائے مُصطَفیٰ

حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو اَیُّوب انصاري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ یو ځل د حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مکانِ عالیشان باندې ټوله شپه څوکئ ورکړه، چې سحر شو نو دُعائے مُصطَفیٰ یې داسې نصیب شوه: ”اے **الله**! ته اَبُو اَیُّوب په خپل حِفظ و امان کښې وساتې څنګه چې هغهٔ زما څوکئ کولو کښې شپه تیره کړه.“ (سیرتِ اِبنِ هشام ص٤٤٢)

## د موئے مُبارک ادب

حُضُور سیِّدِ عالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یو ځل د صفا مروه سعي کوله چې د بِیرې مبارکې نه یې یو وِیښته جُدا شو او ښکته یې تشریف راوړلو، سَیِّدُنا **اَبُو اَیُّوب** انصاري تیزئ سره ورمخکښې شولو او ځمکې ته رسیدلو نه مخکښې یې ویښته مبارک خپلو لاسو کښې واخستو. شَهَنشاهِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته دُعا وکړه: **الله** پاک دې تا نه هره ناخوښه خبره لرې کړي. (مُعْجَم کَبِیر ج٤. ص١٧٢ حدیث ٤٠٢٨)

## با کمال وفات

حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو اَیُّوب انصاري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ چې کله د مبارک ژوند په آخري ورځو کښې سخت بیمار شو نو مجاهدینِ اسلام ته یې اُوفرمائیل: ما میدانِ جنګ ته یوسئ او خپلو صفونو کښې مې ملاست کیږدئ، چې کله وفات شم نو د قلعه د دیوال خوا ته مې ښخ کړئ. چنانچه سن 51 هجري کښې د جهاد په دوران کښې هغوئي د **قُسطُنطُنیه** د قلعې

ديوال سره دفن کړے شو. شروع شروع کښې انديښنه وه چې شايد نَصرانيان به قَبْر مبارک را وکني خو په هغوئي داسې ويره راغله چې مزار مبارک ته يـې لاس هُم نه شو لګولے، او يقيناً دا د حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکې دُعا اثر وو چې هغوئي په ټول ژوند کښې هُم د مصيبتونو او غمونو نه **محفوظه** وو او د وفات نه پس هُم سوونه کاله نصارىٰ د هغوئي د **قَبْر** مبارک حفاظت او نګراني کوله تر دې چې په **قُسطُنطُنيه** مسلمانانو د فتح بيراغ ښخ کړو. نن هُم د تُرکي د حکومت د خِدمت تر لاندې د هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ مزارِ اَقدَس د هُم هغه اعلیٰ شان سره [زيارت ته] راتلونکـو د پاره د زړونو د خوشحاليدو او د سترګو يخيدو باعِث دے. (کراماتِ صحابه ص ۱۸۲ (ماخوذاً)

## د مزار شريف بَرَکت

چې په کوم کال به قحط وو نو خلکو به د حضرتِ سَيِّدُنا **اَبُو اَيُّوب** انصاري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په مزار شريف باندې حاضري ورکوله او د باران سوال به يـې کولو نو **الله** پاک به د هغوئي په وسيله باران وکړو. (طبقاتِ ابن سعد ج ۳ ص ۳۷۰) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ابوایوب کا صدقہ الٰہی! مغفرت فرما ہمیں دونوں جہانوں کی عنایت عافیت فرما

د ابو ايُّـوب په خاطر، الٰهى را کړې مغفرت
راعطا کړې مونږ ته د دواړو جهانو عافِيَت

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## اخلاص سره دوه رکعاته ادا کوونکے د جَهنَّم نه آزاد

سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: څوک چې په تنهائي [يعنې يواځې ځائے] کښې دوه رکعاته نمونځ وکړي چې **الله** پاک او د هغهٔ د فرښتو نه سِوا يـې هيڅ

ځوک هُم اُونه وِيني، د هغه د پاره د جَهنَّم نه بَراءَت (يعني آزادي) اوليکلے شي. (کَنزُ الْعُمّال ج ٤ ص ١٢٥ حديث ١٩٠١٥)

# د نيکو پټولو فضائل

## 4 فرامِينِ مُصطَفٰی ﷺ

اے د نمانځهٔ عاشقانو! بنده ته پکار دي چې خومره کيدے شي خپلې نيکئ دې پټوي. د خپلې نفلي روژې، نمانځهٔ، حج و عُمره، صَدَقه و خيرات او دِيني خِدماتو وغيره بې وجه اعلانونه کول نه دي پکار. **څلور فرامِينِ مُصطَفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ﴿۱﴾ د انسان په داسې ځائے کښې نفل کول چې کوم ځائے يې خلک نهٔ وِيني، د خلکو په مخکښې د ادا کوونکو پينځهٔ ويشتو نمونځونو برابر دے (کَنزُ الْعُمّال ج ۳ ص ۱۲) ﴿۲﴾ پټه (ورکوونکې) صَدَقه د **ربّ** غضب مړ کوي. (مُعْجَم کَبِير ج ۱۹ ص ٤۲۱ حديث ۱۰۱۸) ﴿۳﴾ پټ عمل د ښکاره عمل نه اويا هومره غوره دے. (اَلْفِردَوس بِمَأثُورِ الْخطاب ج ۳ ص ۱۲۹ حديث ٤۳٤۸) ﴿٤﴾ پټ عمل د ښکاره عمل نه غوره دے. (اَلْفِردَوس بِمَأثُورِ الْخطاب ج ۲ ص ۳٤۷ حديث ۳۵۷۲) (جہنم میں لیجانے والے اعمال ج ۱ ص ۱۷٦ مختصراً)

بنادے مجھ کو اِلٰہی خلوص کا پیکر
قریب آئے نہ میرے کبھی ریا یارب

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۷۸)

ته ما جوړ کړې د اخلاص نمونه يا رب
ما ته چې کله نزدې رانشي رِيا يارب

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د حج کوونکي مُحرِم په شان ثواب

د حضرتِ سَيِّدُنا ابو اُمامه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه رِوايت دے چې خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: چا چې طهارت (يعني اودس يا غسل) وکړو او د خپل کور نه فرض نمانځهٔ د پاره اُووتلو د هغهٔ اجر داسې دے لکه د حج کوونکي مُحرِم (يعني اِحرام تړلو والا) او څوک چې د څاښت [د نمانځهٔ] د پاره اُووتلو د هغهٔ اجر د عُمره کوونکي په مِثل دے، او د يو نمانځهٔ نه بل نمانځهٔ پورې چې د دواړو په مينځ کښې لَغويات نهٔ وي، عِلّيين کښې ليکلے کيږي (يعني د قبولِيت درجې ته رسي). (اَبو داؤد ج ۱، ص ۲۳۱، حديث ۵۵۸) (بهارِ شريعت ج ، ص )

## د مَولىٰ دروازه ډبول

صحابي اِبنِ صحابي حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن عَبَّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا نه رِوايت دے چې د تاجدارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: انسان د نمانځهٔ په دوران کښې [داسې وي] لکه د بادشاه دروازه چې ډبوي او څوک چې هميشه د يو بادشاه دروازه ډبوي نو هغه کله نا کله ضرور برسيره کيږي. (اَلْفِردَوس بِمَأثُورِ الْخطَاب ج ۱ ص ۲۰۱ حديث ۷۶۰)

## زهٔ د غُسل نه خبر هُم نه ووم

اے د نمانځهٔ عاشقانو! که زړهٔ مو غواړي او که نهٔ، خو ډير ډير نمونځونه کوئ، اِنۡ شَآءَاللّٰه يوه نه يوه ورځ به زمونږه نمونځونه د خُشُوع و خُضُوع د نُور نه ډک شي. راځئ چې يو مَدَني سپرلے واورو: د پهول نګر (پتوکي، پنجاب) يو اسلامي وررور به دعوتِ اسلامي کښې د شامليدلو نه مخکښې د نمونځونو قضا کولو، د مور و پلار د نافرمانئ کولو او د فلمونو، ډرامو کتلو عادت لرلو، هغه پخپله وائي چې "زهٔ د غُسل نه خبر هُم نهٔ ووم حالانکې زما عُمر شپاړس کاله شوے وو." په هغهٔ باندې د الله پاک کرم داسې وشو چې د هغهٔ د محلّې يو اسلامي وررور هغهٔ ته د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د آخري عشرے د اعتکاف د

عاشقانِ رَسُول په صُحبت کښې د کولو ترغيب ورکړو، چې کله مَدَني مرکز فيضانِ مدينه انور ټاؤن پهول نګر ته د اِعتِکاف د پاره لاړلو نو د هغه ځائے ماحول يـې خوښ شو او هلته يـې د نورو شرعي مسائلو سره سره د غُسل طريقه هُم زده کړه او د ګناهونو نه يـې توبه وکړه. د دعوتِ اسلامي دِيني کار کولو کولو کښې ورته حلقه سطح باندې د مَدَني قافِله ذِمَّه دار جوړيدلو سعادت هُم حاصل شو.

بھائی گر چاہتے ہو نمازیں پڑھوں — مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
نیکیوں میں تمنا ہے آگے بڑھوں — مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٠)

وروره کـه غواړې چې نمونځونه وکړم
ديني ماحول کښې تـه وکړه اِعتِـکاف

که خواهش لرې دا چې نيک کارونه وکړم
ديني ماحول کښې تـه وکړه اِعتِـکاف

صَــلُّـوْا عَــلَى الْـحَــبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## اويا زره فرښتې ورپسې شا ته نمونځ کوي

حضرتِ سَيِّدُنا خالِد بِن مَعدان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: ما اوريدلي دي چې **الله** پاک د درې کسانو په باره کښې د فرښتو په مخکښې فخر فرمائي، ﴿۱﴾ يو هغه سړے چې په هوار ميدان کښې اذان او اِقامَت اُووائي او يواځې **نمونځ** کوي، **الله** پاک فرمائي: زما بنده ته اوګورئ کوم چې يواځې **نمونځ** کوي، زما نه سِوا هغه هيڅ څوک نۀ وِيني، لاړ شئ! اويا زره فرښتې په هغه پسې **نمونځ** ادا کړئ ﴿۲﴾ بل په هغه کس باندې کوم چې پاڅي او د شپې

يواځې **نمونځ** کوي، **سَجْده** کښې لا ړ شي او په دې حالت کښې (که اتفاقاً) خوب ورشي نو **الله** پاک فرمائي: زما بنده ته اوګورئ، د هغه رُوح زما سره [دے] او بدن [يې] زما په بارګاه کښې په **سَجْده** کښې دے ﴿۳﴾ دريم په هغه سړي باندې کوم چې په ډېر سخت جنګ کښې ثابِت قدم اوسيدو تر دې چې شهيد شو. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص۲۹۰)

## اذان کوونکے او يواځې نمونځ کوونکے شپونکے

اے د **نمانځهٔ عاشقانو!** د دې حديثِ پاک نه دې څوک دا مطلب نه اخلي چې ګني يواځې نمونځ کول **جَمعې** سره نمونځ کولو نه غوره دے، داسې بالکل نهٔ دي. دا فضيلت خو د داسې ځنګل او بيابان او غر وغيره په باره کښې دے چې هلته بنده يواځې وي او څه داسې جومات هُم نه وي چې هلته لا ړ شي او د **جَمعې** سره نمونځ ادا کړي، د دې په تائيد کښې د **سُنَنِ اَبُو داوٗد** يو حديث مبارک پيش کيږي چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا عُقبَه بِن عامِر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ وائي چې تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: "ستاسو **رب** د هغه چيلئ خروونکي نه خوشحاليږي کوم چې د غر په سر وي، د **نمانځهٔ** اذانونه وکړي او **نمونځ** وکړي. **الله** پاک فرمائي چې زما دې بنده ته اوګورئ! اذان کوي او نمونځ قائموي، او زما نه ويريږي، بيشکه ما خپل بنده اُوبخښلو او دا به جَنَّت ته داخلووم." (اَبو داوٗد ج۲ ص۷ حديث۱۲۰۳)

**شرحِ حديث:** حضرت مُفتي اَحمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه "**مِراٰة**" جلد اَوَّل صفحه 415 کښې فرمائي: معلومه شوه چې د پينځهٔ وخته نمونځ د پاره دې اذان بهرحال کوي اګر که ځنګل کښې يواځې نمونځ کوي. "(صاحِبِ) مِرقات فرمائيلي دي چې د اذان په بَرَکت هغهٔ سره پيريان او فرښتې هُم نمونځ کوي او هغهٔ ته د **جَمعې** ثواب حاصليږي. تکبِير کښې اختلاف دے خو حق هُم دا دے چې تکبير دې هُم وائي ځکه په اذان او تکبير کښې د نمانځهٔ د اطلاع نه علاوه نورې ډيرې فائدې دي. د حديثِ پاک د دې حِصَّې (**الله** پاک فرمائي) نه لاندې ليکي: (حضرتِ عَلّامه علي قاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:) (مطلب دا

دے چې) فرښتو ته او د انبياء او اولياء روحونو ته[1] بلکې حُضُور نبِيِّ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته هُم (اللّٰه پاک فرمائي). او د دې حِصَّې (زما دې بنده ته اوګورئ!) نه لاندې ليکي: معلومه شوه چې د فرښتو او نبيانو او وليانو په رُوحونو کښې دا طاقت دے چې د يو ځائے نه ټول عالَم وِيني چې پروردګار هغوئي ته فرمائي: ”په دې غر باندې پټ بنده ته اوګورئ!“

## د اووۀ واړو آسمانونو د فرښتو د شمير هومره نيکۍ

حضرتِ عَلَّامه سيِّد محمود احمد رَضَوِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپل کتاب ”**مسائلِ نماز**“ کښې ليکي: په نمانځۀ کښې د اووۀ (7) آسمانونو د فرښتو [د عبادت په شان] عبادت دے، د وړومبي آسمان ﴿۱﴾ فرښتې په قِيام کښې (يعني ولاړې) دي، د دويم آسمان ﴿۲﴾ [فرښتې] په رُکوع کښې، د دريم ﴿۳﴾ په سَجْدَه کښې، د څلورم ﴿٤﴾ په قَعده کښې، د پينځم ﴿٥﴾ په تَسْبِيْح (يعني پاکې بيانولو) کښې، د شپږم ﴿٦﴾ په تَهلِيل (يعني د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ په وظيفه) کښې، د اووم ﴿۷﴾ په تَمْجِيد (يعني د اللّٰه پاک بُزُرګې او صفت بيانولو) کښې. چې کله مومن بنده دوه رکعاته نمونځ په ذکر کړے شوو افعالو او اَذکارو (يعني په دې ښودلې شوې طريقه او لوستلو والا څيزونو) ادا کړي [نو]، اللّٰه پاک فرمائي: ”د دۀ په اعمال نامه کښې د اووۀ (7) آسمانونو د فرښتو د شمير مطابق نيکۍ اوليکئ.“ امام نجم الدِّين عُمر **نَسَفي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ”**خَصائِل**“ کښې فرمائي چې ځمکې هُم په دې باندې قياس (يعني اندازه) کول پکار دي، وَنې او منارې او غرونه په قيام کښې دي او ځاروي (يعني ټول څناور) په رُکوع کښې او **حَشْراتُ الْاَرْض** (يعني ځمکې نه راوتلو والا خزنده) په سَجْدَه کښې، او ديوالونه او ختيان او وَچې کياګانې او شګې وغيره په قَعده کښې دي. د قرآنِ کريم آيت په هُم دې دليل دے:

[1] ماخوذ از مِرقاۃ ج ۲ ص ۳٦۰ تحت الحديث ٦٦۵

وَاِنْ مِّنْ شَیْءٍ اِلَّا یُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ وَلٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِیْحَهُمْ ؕ

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او يو څيز هُم داسې نشته چې د هغهٔ پاكي او صفت نه بيانوي، خو تاسو د هغوئي په تَسْبِيح نه شئ پوهيدلے.(پ ۱۵، بنی اِسرائیل:٤٤) (مسائل نماز ص ٢٦ مُلَخَّصاً)

پڑھتے رہو نماز خدا ہی کے واسطے!
کیسی فضیلتیں ہیں نمازی کے واسطے!

كوئ مونځونه صرف پروردګار د پاره
څنګه فضيلتونه دي مونځ ګزار د پاره

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

اے زمونږه خوږه **اللّٰه** پاكه! مونږ ته د ټولو ظاهري او باطِني آدابو سره د نمونځونو ادا كولو توفيق راكړې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

سب عطر و پھول ہوں گے نچھاور پسینے پر
خوشبو میں جب بسائے گی اے بھائیو نماز

په خوَله به دي قربان شي ټول عطرونه او ګلونه
خوشبو چې راخوَره كړي اے وروره دغه مونځ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د پينځهٔ نمونځونو فضائل

يا ربِّ کريم! څوک چې د ”پينځهٔ نمونځونو فضائل“ ټولې صفحې ولولي يا واوري، هغهٔ ته د دواړو جهانو ډيرې ډيرې ښيګړې ورکړې. اٰمِين

## د دُرُود شريف فضيلت

فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ما تيره شپه عجيبه واقعه وليده، ما خپل يو اُمَّتي وليدو چې هغه په پُل صِراط باندې کله په ښويدلو او کله به په زنګونانو روان وو، په دې کښې هٰغه دُرُود راغلو کوم چې هغهٔ په ما باندې وئيلے وو، هغې هغه په پُل صِراط باندې ودرولو تر دې چې هغه په پُل صِراط باندې تير شولو. (مُعْجَم كَبِير ج۲۵ ص۲۸۲ حديث ۳۹)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په پينځؤ نمونځونو کښې د فضيلت ترتيب

عَلَّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوِي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: په پنځؤ واړو نمونځونو کښې د ټولو نه افضل د مازيګر نمونځ دے، بيا د سحر نمونځ بيا د ماسخوتن بيا د ماښام بيا د ماسپښين. او د پينځؤ واړو په جَمعو کښې افضل د جُمُعې جَمعه ده، بيا د سحر بيا د ماسخوتن. د جُمُعې جَمعه ځکه غوره ده چې په دې کښې څه داسې خُصُوصيات دي چې دا د نورو نمونځونو

نه مُمتاز [يعنې غوره] کوي او د سحر او ماسخوتن جَمعې ځکه فضيلت والا دي چې په دې کښې مَشَقَّت (يعنې محنت) زيات دے. (فيض القدير ج ۲ ص ۵۳)

## د نمانځهٔ پابندي به مو جَنَّت ته بوځي

د اَللّٰهُ کريم آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: اللّٰه پاک اِرشاد فرمائي چې ما ستا په اُمَّت باندې (شپه او ورځ کښې) پينځهٔ نمونځونه فرض کړي دي او ما دا عهد کړے دے چې څوک د دې نمونځونو د هغو د وخت سره پابندي کوي زهٔ به هغه جَنَّت ته داخلووم او چې څوک [يـې] پابندي نهٔ کوي نو د هغهٔ د پاره ما سره هيڅ عَهد نشته.
(اَبو داؤد ج ۱ ص ۱۸۸ حديث ۴۳۰)

## د پينځو نمونځونو عظيمُ الشّان فضائل

اِمام فَقِيه اَبُواللَّيث سمرقندي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د (تابعي بُزُرګ) حضرت کَعْبُ الْاَحبار رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړي دي چې هغوئي فرمائي: ما په ”تَورَيت“ کښې په يو مقام کښې لوستلي دي چې (اللّٰه پاک فرمائي): اے مُوسىٰ! د سحر دوه رکعاته به اَحمد او د هغوئي اُمَّت ادا کوي، څوک چې هغه ادا کړي، د هغهٔ، د هغه ورځې او شپې ټول ګناهونه به معاف کړم او هغه به زما په ذِمّه کښې وي. اے مُوسىٰ! د ماسپښين څلور رکعاته به اَحمد او د هغوئي اُمَّت ادا کوي، هغوئي به د وړومبي رکعت په عِوَض (يعنې بدله کښې) اُوبخښم او د دويم په بدله کښې به د هغوئي (د نيکو) تله دَرَنه کړم او د دريم په بدله کښې به فرښتې مُؤَکَّل (يعنې مُقَرَّر) کړم چې تَسْبِيْح (يعنې د اللّٰه پاک پاکي) به بيانوي او د هغوئي د پاره به مُسلسل د بخښنې دُعا کوي او د څلورم په بدله کښې به د هغوئي د پاره د آسمان دروازې فراخه (يعنې برسيره) کړم، غټو غټو سترګو والا حُورې به په هغوئي مُشتاقانه (يعنې د شوق نه ډک) نظر اچوي. اے مُوسىٰ! د مازيګر څلور رکعاته به اَحمد او د هغوئي اُمَّت ادا کوي نو په اووهٔ آسمانونو او ځمکه کښې به يوه فرښته باقي پاتې نهٔ شي ټولې به د هغوئي بخښنه غواړي او ملائکه (يعنې فرښتې) چې د چا بخښنه اوغواړي زهٔ به هغه ته بالکل عذاب نهٔ ورکووم. اے مُوسىٰ!

د ماښام درې ركعاته دي هغه به اَحمد او د هغوئي اُمَّت ادا كوي نو د آسمان ټولې دروازې به د هغوئي د پاره برسيره كړم، چې د كوم حاجت سوال كوي هغه به ضرور پوره كړم. اے مُوسىٰ! د شَفَق ډوبيدو په وخت[1] د ماسخوتن څلور ركعاته دي، ادا كوي به هغه اَحمد او د هغوئي اُمَّت، هغه د دُنياوَمَافِيْها (يعني دُنيا او د هغې د هر څيز) نه د هغوئي د پاره بهتر دي، هغه به هغوئي د ګناهونو نه داسې اوباسي څنګه چې د خپلو ميندو د ګيډو نه پيدا شوي وو. اے مُوسىٰ! اودَس به كوي اَحمد او د هغوئي اُمَّت څنګه چې زما حُكم دے، زۀ به هغوئي ته د اوبو د هر يو څڅيدونكي څاڅكي په عِوَض (يعني بدله) كښې يو جَنَّت عطا كووم چې د هغې عَرض (يعني پلنوالے) به د آسمان او ځمكې د پلنوالي هومره وي. اے مُوسىٰ! د يوې مياشتې به هر كال روژې نيسي اَحمد او د هغوئي اُمَّت او هغه د رَمَضان مياشت ده، زۀ به عطا كووم [يعني وركووم] د هغې د هرې ورځې د روژې په عِوَض كښې په جَنَّت كښې يو ښار او وركووم به په هغې كښې د نفل په بدله كښې د فرضو ثواب او په هغې كښې به لَيْلَةُ الْقَدْر كووم، څوک به چې په دې مياشت كښې پښيمانتيا او صِدق سره يو ځل اِستِغفار (يعني توبه) وكړي كه په هُم هغه شپه يا هُم هغه ټوله مياشت كښې مړ شو هغۀ ته به د ديرشو شهيدانو ثواب وركووم. (حاشيهٔ فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه (مُخرّجه) ج ٥ ص ٥٢ تا ٥٤)

پڑھتے رہو نماز کہ جنت میں جاؤ گے
ہوگا وہ تم پہ فضل کہ دیکھے ہی جاؤ گے

كوئ ډير ډير مونځونه چې جَنَّت ته به لاړ شئ
كيږي به هغه فضلونه چې به يې تاسو اوګورئ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] د امام اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په نزد شَفَق د هغه سپين والي نوم دے كوم چې ماښام كښې د سُرخي ډوبيدو نه پس د صبا صادِق په شان خور وي.

# د سحر د نمانځهٔ فضائل

## د سحر نمونځ کوونکے د اللّٰه په ذِمّه

صحابي اِبنِ صحابي حضرتِ سَیِّدُنا عبدُاللّٰه اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا رِوایت کوي چې سردارِ مَکهٔ مُکرَّمه، سرکار مدینهٔ مُنَوَّره صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: څوک چې د سحر نمونځ وکړي هغه د مابنامه پورې د **اللّٰه** پاک په ذِمَّه کښې دے. (مُعۡجَم کبِیر ج۱۲ ص۲٤۰ حدیث ۱۳۲۱۰) یو بل رِوایت کښې دي: "تاسو د **اللّٰه** پاک ذِمّه مهٔ ماتوئ، څوک چې د **اللّٰه** پاک ذِمّه ماته کړي **اللّٰه** پاک به هغه پړمخ دوزخ کښې واچوي." (مُسۡنَد اِمام اَحمَد بن حَنۡبَل، ج۲ ص٤٤۵ حدیث ۵۹۰۵)

## د سحر د نمانځهٔ پابندي څوک کولے شي

حضرتِ عَلَّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوِي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ لیکي: "څوک چې د سحر نمونځ په اخلاص وکړي هغه د **اللّٰه** پاک په امان (یعني حفاظت) کښې دے او خاص د سحر د نمانځهٔ ذِکر کولو کښې دا حکمت دے چې په دې نمانځهٔ کښې مَشَقَّت (یعني محنت) دے او په دې باندې پابندي صرف هُغه کس کولے شي د چا چې ایمان خالِص وي، ځکه هغه د امان (یعني پناه) مُستَحِق وي." بل ځائے لیکي: د **اللّٰه** پاک د ذِمّې ماتولو سخت وعید او د سحر نمونځ کوونکي کس ته د تکلیف ورکولو نه د ویریدلو بیان دے. (فیض القدیر ج۶ ص۲۱۳ تا ۲۱٤)

## د شیطان جنډه

د حضرتِ سَیِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه رِوایت دے چې د خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډک فرمان دے: "څوک چې د سحر نمانځهٔ ته لاړو د ایمان د جنډې سره لاړو او څوک چې سحر بازار ته لاړو د اِبلِیس (یعني شیطان) د جنډې سره لاړو." (اِبنِ مَاجه ج۳ ص۵۳ حدیث ۲۲۳٤)

## رحماني او شيطاني ډله

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د دې حديثِ پاک نه لاندې ليکي: يعنې د انسانانو صرف دوه ډلې دي: ﴿۱﴾ حِزبُ‌الله (يعنې د الله ډله) او ﴿۲﴾ حِزبُ‌الشَّيْطٰن (يعنې د شيطان ډله). د هغوئي پيژندګلو دا ده چې رَحماني ډلې والا خپله ورځ د نمانځهٔ او د **الله** پاک د ذِکر نه شروع کوي او شيطاني ډلې والا خپله ورځ د بازار او دُنياوي کاروبار نه شروعِ کوي. ياد ساتئ چې دُنيوي کاروبار منع نهٔ دے خو سحر وختي د پاڅيدو سره نهٔ د خُدائے نوم [اخستل] نهٔ د هغهٔ عبادت [کول] بلکې هغې (يعنې دُنيوي کارونو) کښې مشغوليدل دا شيطاني کار دے. (مِراٰةُالمناجيح ج۱ص ۳۹۹)

## د شيطان درې غوټې لګول

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه رِوايت دے چې سرکارِ نامدار صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: چې کله تاسو کښې څوک اُودهٔ شي نو شيطان د هغه په څټ کښې درې غوټې ولګوي، په هره غوټه باندې دا خبره [د بنده] په زړهٔ کښې کښينوي چې اوس لا شپه ډيره [پاتې] ده، اُودهٔ شه، پس که هغه راويښ شي او د **الله** ذِکر وکړي نو يوه غوټه خلاصه شي، چې اودس وکړي نو دويمه غوټه خلاصه شي او چې نمونځ وکړي نو دريمه غوټه هُم خلاصه شي، بيا هغه خوشحاله خوشحاله او تر و تازه سحر کړي، کنې په غمګين زړهٔ او سستئ سره سحر کړي. (بُخاری ج۱ص ۳۸۷ حديث ۱۱٤۲)

## د سحر د وخت د مزيدار خوب سبب

**حضرت** عَلَّامه مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د دې حديثِ پاک لاندې ليکي: شيطان د انسان په ويښتو کښې يا تار کښې د سحر په وخت کښې د غفلت درې غوټې ولګوي، ځکه د سحر په وخت کښې مزيدار خوب ورځي. حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې درې غوټو د

خلاصلولو د پاره درې عملونه اِرشاد فرمائيلي دي. (کوم چې په دې بيان شوي حديث کښې موجود دي) (مِراٰۃُالْمَنَاجِیح ج ۲ ص ۲۵۳)

## و خت شروع کيدو سره سمدستي د سحر سُنَّت ادا کول بهتر دي

”مَلفُوظاتِ اعلٰی حضرت“ صفحه 352 کښې دي: (د سحر) اَوَّل وخت کښې سُنَّت ادا کول اَولٰی (يعني بهتر) دي.

## د پريشانۍ په حالت کښې سحر کوونکے څوک دے؟

**حضرتِ** سَيِّدُنا عَلَّامه علي قاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د حديثِ پاک د دې حِصَّې ”بيا هغه خوشحاله خوشحاله او تر و تازه سحر کړي“ نه لاندې فرمائي: ځکه چې هغه د شيطان د قيد او د غفلت د ځادر نه خلاص شوے وي او د **الله** پاک خوشحالي [يعني رضا] حاصلولو کښې کامياب شوے وي. د دې برخلاف چې څوک نۀ د شپې ذِکرُ الله کولو ته راپاڅي، نۀ **اوداسه** او **نمانځۀ** ته راپاڅي بلکې د شيطان فرمانبردارۍ کښې اُودۀ وي تر دې چې د سحر **نمونځ** هُم ترينه قضا شي، نو هغه غمژن زړۀ د تولو فکرونو سره او د خپل کار پوره کولو په باره کښې حيران او پريشانه سحر کړي، او چې د کوم کار هُم اِراده کوي په هغې کښې ناکامه اوسي ځکه چې هغه د **الله** پاک د نزديکت نه لرې وتے وي او د شيطان په جال کښې نښتے وي. (مِرقَاۃُالْمَفَاتِیح ج ۳ ص ۲۹۵ تا ۲۹۶)

یاالٰہی! فجر میں اٹھنے کا ہم کو شوق دے — سب نمازیں ہم جماعت سے پڑھیں وہ ذوق دے

يا اِلٰهي شوق راکړې مونږ ته د سحر د پاڅيدلو
راکړې شـوق جَمعې سره ټول مـونځونه د کولو

## شيطان ورته په غوږ کښې متيازې کړې دي

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بيان کوي چې بارګاهِ رسالت کښې د يو کس مُتَعَلِّق ذِکر اوکړے شو چې هغه د سحره پورې اُوده وو او نمانځهٔ د پاره نهٔ وو پاڅيدلے نو خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: "د هغه کس په غوږ کښې شيطان متيازې کړې دي" (بُخاری ج۱ ص ۳۸۸ حديث ۱۱۴۴)

## د سحر نمانځهٔ ته نهٔ پاڅيدل ډير سپيره کار دے

حَکِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک د دې حِصَّې (نمانځهٔ د پاره نهٔ وو پاڅيدلے) نه لاندې فرمائي: (يعنې) د تَهَجُّد د نمانځهٔ د پاره يا د سحر د نمانځهٔ د پاره (نهٔ وو پاڅيدلے)، وړومبئ (يعنې تَهَجُّد ته د نهٔ راپاڅيدلو) معنٰى زياته مناسبه ده ځکه چې صحابهٔ کرامو (عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان) به د سحر نمونځ هيڅ کله هُم نهٔ قضا کولو او [دا هُم] کيدے شي چې دا د يو مُنافِق واقعه وي چې هغه به د سحر نمانځهٔ ته نهٔ راتلو. معلومه شوه چې د سحر نمونځ ته نهٔ پاڅيدل ډير سپيره کار دے، بله دا چې د کوتاهي کوونکو د اصلاح د پاره د هغوئي شکايت کول جائز دي غِيبت نه دے. (مِراٰةُالْمَنَاجِيح ج۲ ص ۲۵۴)

## شيطان واقعي متيازې کوي

حضرت عَلَّامه محمد بن احمد انصاري قُرطُبِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دا خبره ثابته ده چې شيطان خوراک څښاک او نکاح کوي نو که هغه متيازې هُم وکړي نو په دې کښې څه رُکاوټ دے! (عُمدةُالقاری ج ۵ ص ۴۸۳)

شیطاں کو بھگائے گی اے بھائیو! نماز    فردوس میں بسائے گی اے بھائیو! نماز

شيطان به درنه وزغلوي اے ورونړو دغه مونځ
فِردوس ته به مو بوځي اے ورونړو دغه مونځ

## د شيطان رانجه وغيره

”قُوتُ الْقُلُوب“ کښې دي چې شيطان سره **سَعُوط** (پوزه کښې اچولو والا يو څيز) **لَعُوق** (څټلو والا يو څيز) او **ذَرُور** (سترګه کښې اچولو والا يو څيز) دے، چې کله هغه د بنده په پوزه کښې (سَعُوط) واچوي نو د هغه اخلاق بد شي، چې کله پرې (لَعُوق) اوڅټي نو د هغه ژبه بدو وئيلو والا جوړه شي او چې کله د بنده په سترګه کښې (ذَرُور) واچوي نو ټوله شپه اُودۀ اوسي تر دې چې سحر شي [يعني نمونځ ترې قضا شي]. (قُوتُ الْقُلُوب ج١ ص٨٦) (قُوتُ الْقُلُوب (اُردو) ج١ ص ٢٣٧)

فجر کا وقت ہو گیا اٹھو!
اے غلامانِ مصطفٰی اٹھو!

وخت د نمانځۀ دے د صبا پاڅئ
اے غُـــلامـانِ مُصطَفـىٰ پاڅئ

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د تَهَجُّد يا سحر د پاره د پاڅيدلو نُسخه

تَهَجُّد ته يا د سحر نمانځۀ ته پاڅيدلو د پاره د اُودۀ کيدو وخت کښې د شپاړسمي سيپارې، سُوْرَةُ الْكَهْف آخري څلور آيتونه ولولئ:

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنّٰتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا ﴿١٠٧﴾
خٰلِدِيْنَ فِيْهَا لَا يَبْغُوْنَ عَنْهَا حِوَلًا ﴿١٠٨﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمٰتِ رَبِّيْ
لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ اَنْ تَنْفَدَ كَلِمٰتُ رَبِّيْ وَ لَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهٖ مَدَدًا ﴿١٠٩﴾ قُلْ اِنَّمَاۤ اَنَا

بَشَرٌ مِّثۡلُكُمۡ يُوۡحٰۤى اِلَىَّ اَنَّمَاۤ اِلٰـهُكُمۡ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَمَنۡ كَانَ يَرۡجُوۡا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلۡيَعۡمَلۡ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَا يُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖۤ اَحَدًا ﴿۱۱۰﴾.[1]

او نِيَّت وکړئ چې ”زهٔ به دومره بجې پاڅم“ اِنۡ شَآءَاللّٰه د دې آياتِ مبارکه لوستلو په بَرَکت به مو سترګې وغړېږي. که په شروع کښې مو سترګې اُونه غړېږي نو مايوسه کيږئ مهٔ، وظيفه جاري ساتئ. اِنۡ شَآءَاللّٰه په قلاره قلاره به ترکيب جوړ شي.

## پاڅيدلو د پاره الارم ولګوئ

په مُقَرَّره وخت باندې د بيداريدلو يوه طريقه دا هُم ده چې په يوه بلکې درې ګهړو باندې الارم ولګوئ او اُودهٔ شئ، چې که په څه وجه يو بند شي نو چې دوه الارمې د راويښولو د پاره موجودې وي. موبائل فون کښې هُم د الارم سهولت وي [په دې کښې درې نه زياتې الارمې هُم لګولے شئ]. که د شپې د ناوخته اُودهٔ کيدو په وجه مو د سحر د نمانځهٔ د پاره سترګې نه غړېږي او نهٔ څوک راپاځولو والا موجود وي نو ضروري ده چې زر اُودهٔ شئ ځکه چې فُقَهائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ فرمائي: ”چې کله دا ويره وي چې د سحر نمونځ به رانه لا ړ شي نو بِلا ضروتِ شَرعِيه د شپې ناوخته پورې ويښ پاتې کيدل ممنوع دي.“ (رَدُّالْمُحْتَار ج۲ ص۳۳)

---

[1] [مَفهُوم] ترجمۀ کنزُالاِيمان: بيشکه کومو خلقو چې ايمان راوړو او ښه کارونه ئې اوکړل، د فردوس باغونه د هغوئي ميلمستيا ده، هغوئي به هميشه په هغې کښې اوسيږي. د هغې نه به ځائے بدلول نهٔ غواړي. ته اوفرمايه که سمندر زما د **رب** د خبرو د پاره سياهي شي نو ضرور به سمندر ختم شي او زما د **رب** خبرې به ختمې نهٔ شي اګر که مونږ هُم داسې نور د دې د مدد د پاره راوړو. تهٔ اوفرمايه چې په ښکاره صورتِ بشري کښې خو زهٔ ستاسو په شان يم، ما ته وحي راځي، دا چې ستاسو معبود صرف يو معبود دے، نو څوک چې خپل **رب** سره د مخ کيدو اُميد لري هغهٔ ته پکار دي چې نيک کارونه اوکړي او د خپل **رب** په بندګئ [يعني عبادت] کښې دې هيڅ څوک نهٔ شريک کوي.

# خوب کښېښ د کمي راوستلو طريقې

اعلیٰ حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ د ماسپښین د **جَمعې** نه مخکښې اُودهٔ کیدلو والا ته نصیحت کوي، اِرشاد فرمائي: ”ښه ټِیک ده، د غرمې په وخت کښې اُودهٔ شه، خو دومره نهٔ چې د **جَمعې** وخت راشي، لږ شان وخت قیلوله کافي ده. که د اُوږد خوب اندیښنه لرې نو بالښت مهٔ ږده، بستره مهٔ خوروه، ځکه چې بې بالښته او د بسترې نه بغیر اُودهٔ کیدل هُم مَسنُون (یعني سُنَّت) دي. د اُودهٔ کیدو په وخت کښې زړهٔ کښې د **جَمعې** مضبوط خیال ساته ځکه چې د فِکر (یعني اندیښنې) خوب [بنده] غافلیدو ته نهٔ پرېږدي، طعام څومره چې کیدے شي سحر وختي خوره چې د اُودهٔ کیدو د وخته پورې د طعام په وجه پیدا کیدونکې ګرمي ختمه شي او د اوږده خوب سبب جوړه نهٔ شي. د ټولو نه بهتر علاج یې کم خوراک دے. د اُودهٔ کیدو په وخت کښې **الله** پاک نه د **جَمعې** د توفیق دُعا کوه او په هغه باندې پوره تَوَکُّل لره. **الله** پاک چې ستا ښهٔ نِیَّت او رښتینې اِراده وِیني (نو) ضرور به ستا مدد کوي.“ یو ځائے کښې فرمائي: په ډکه خیټه د شپې د عبادت شوق لرل د شنډې ښځې نه بچے غوښتل دي، څوک چې ډېره اوخوري هغه به ډیرې [اوبه] څښي، څوک چې ډیرې [اوبه] څښي (هغه) به ډیر اُودهٔ کیږي، څوک چې ډیر اُودهٔ کیږي هغه به پخپله دا ښیګړې او بَرَکتونه ضائع کوي. (فَتَاوٰی رَضَوِیَّه، ج ۷، ص ۸۸ تا ۹۰ تسهیلاً)

| | |
|---|---|
| اللہ اللہ کے نبی سے | فریاد ہے نفس کی بدی سے |
| شب بھر سونے سے غرض تھی | تاروں نے ہزار دانت پیسے |

(حدائقِ بخشش ص ۱٤٥)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# لکه ټوله شپه یې چې عبادت وکړو

د حضرتِ سَیِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه رِوایت دے چې رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد

فرمائيلے دے: ”څوک چې د ماسخوتن نمونځ د **جَمعې** سره وکړي لکه هغهٔ چې نيمه شپه قِيام وکړو او څوک چې سحر [نمونځ] د **جَمعې** سره وکړي لکه هغهٔ چې پوره شپه قِيام وکړو.“ (مُسلِم ص۲۵۸ حديث۱۴۹۱)

## شرحِ حديث

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک نه لاندې فرمائي: د دې دوه مطلبونه کيدے شي: يو دا چې د ماسخوتن د **جَمعې** د نمانځهٔ ثواب د نيمې شپې د عبادت برابر دے او د سحر د **جَمعې** د نمانځهٔ ثواب د باقي نيمې شپې د عبادت برابر، نو څوک چې دا دواړه نمونځونه د **جَمعې** سره وکړي د هغهٔ د پاره د ټولې شپې د عبادت ثواب دے. دويم دا چې د ماسخوتن د نمانځهٔ ثواب د نيمې شپې [د عبادت] د ثواب برابر دے او د سحر د **جَمعې** ثواب د ټولې شپې د عبادت برابر دے، ځکه چې دا (د سحر) **جَمعه** د ماسخوتن د **جَمعې** نه زياته درَنه (يعني په نفس بوج) ده، وړومبئ معنٰى زياته قوي ده. د **جَمعې** نه مُراد تکبيرِ اُولىٰ حاصلول دي څنګه چې بعضې عُلَماء فرمائيلي دي. (مِرْاٰةُالْمَنَاجِيح ج۱ ص۳۹۶) بهارِ شريعت جلد اول صفحه 509 کښې دي: چې د وړومبي رکعت رُکوع يې حاصله کړه نو د تکبيرِ اُولىٰ ثواب يې حاصل کړو. (عالمګيری ج۱ ص۶۹)

# تذکرهٔ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ

**اے عاشقانِ صحابه و اهلِبَيت!** اوس چې تاسو کوم حديثِ پاک واوريدو د هغې راوي (يعني بيانوونکے) جامِعُ القرآن، دريم خليفه حضرتِ سَيِّدُنا **عُثمانِ غني** رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دے. د حضرتِ سَيِّدُنا **عُثمانِ غني** رَضِیَ اللهُ عَنْهُ هُم څه ښکلے شان دے! د هغوئې يو لقب **”ذُوالنُّورَين“** (يعني دوه نُورونو والا) هُم دے، ځکه چې د **الله** تعالىٰ خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پرله پسې خپلې دوه شهزادګئ د حضرتِ سَيِّدُنا **عُثمانِ غني** رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په نکاح کښې ورکړې وې او

فرمائيلي يې وو چې، که زما لس لوڼه هُم وے نو ما به د يوې نه پس بلې سره ستا نکاح کړے وے ځکه چې زۀ ستا نه راضي يم. (مُعْجَم کبِیر ج ٢٢ ص ٤٣٦ حديث ١٠٦١)

نور کی سرکار سے پایا دوشالہ نور کا
ہو مبارک تم کو ذوالنورین جوڑا نور کا

(حدائقِ بخشش شريف ص ٢٤٦)

**د شعر ترجمه:** د نُور والا سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پرله پسې خپلې دوه لوڼه مبارکې درکړې، اے **ذُوالنُّورَين** [يعنې د دوه نورونو والا (عُثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ)] تاسو ته دې د نُور جوړه مُبارکه شي.

**حضرتِ سَيِّدُنا عُثمانِ غني** رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د اسلام په شروع کښې اسلام قبول کړے وو، د هغوئي کُنيَت "ابو عَمرو" او لقب جامعُ القرآن دے، هغوئي ته "صاحِبُ الْهِجرَتَيْن" (يعنې دوه هجرتونو والا) هُم وائي ځکه چې هغوئي مخکښې **حَبَشه** ته او بيا **مدينے مُنَوَّرې** ته هِجرت فرمائيلے وو. (کراماتِ عُثمانِ غني ص ٣، ٤)

# د عُثمانِ غني اِتِّباعِ رسُول

اميرُ الْمُؤمِنِين **حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ** غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ زبردست عاشِقِ رَسُول بلکې د عِشقِ مُصطفٰی عَمَلي نمونه وو، په خپلو خبرو او طور طريقو کښې به يې د **الله** تعالٰی د آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّتو او اداګانو ډير ډير عمل کولو. چنانچه يوه ورځ عُثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د جومات په دروازه کښې کښيناستلو او د چيلۍ [يعنې بزې] د مخکښنۍ ښپې غوښه يې را اوغوښتله او ويې خوړله او د تازه اودس کولو نه بغير يې نمونځ ادا کړو بيا يې اوفرمائيل چې رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هُم په هُم دې ځائے ناست وو او هُم دا يې خوړلې وه او هُم داسې يې کړي وو. (مُسندِ اِمام اَحمد بِن حنبل ج١، ص١٣٧، حديث٤٤١)

# دوه ځله يـې جَنَّت په بيعه واخستو

د **اميرُ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ شان ډير اوچت دے، هغوئي په خپل ژوند کښې د نبيِّ رَحمت تاجدارِ نُبُوَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دوه ځله **جَنَّت** په بَيعه اخستے وو، يو ځل يـې په "**بِيرِ رُومه**" اخستلو چې د يو يهودي نه يـې په بَيعه واخستو او د مسلمانانو د اوبو څښلو د پاره يـې وقف کړو او دويم ځل يـې د جَيشِ عُسرت (يعني غَزوۂ تبُوک) په موقع. چنانچه د غَزوۂ تَبُوک په موقع باندې يـې چې د مسلمانانو بې وسي او غريبي وليده نو ورومبي ځل يـې د سلو اوښانو، دويم ځل د دوه سوه اوښانو او دريم ځل يـې د درې سوه اوښانو وعده وکړه. راوي فرمائي: حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې دا واوريدل نو ما وليدل چې حُضُورِ انور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مِنبر نه ښکته تشريف راوړو او دوه ځله يـې اوفرمائيل: "د نن نه پس چې عُثمان (رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ) هر څه کوي په هغې باندې مُواخَذه (يعني تپوس) نشته." (ترمِذِی ج٥، ص٣٩١، حديث٣٧٢٠ مُلَخَّصاً)

شرم و حيا، تواضُع (يعني عاجزي)، اِتِّباعِ سُنَّت، خوفِ خُدا او فِکرِ آخرت د هغوئي د سِيرت مبارک روښانه خُصوصِيات دي. د **الله** پاک د ويرې يـې دا حال وو چې د يقيني جَنَّتي کيدو باوجود به چرې د يو **قَبَر** خوا ته ولاړ وو نو دومره به يـې ژړل چې په اوښکو به يـې بِيره مبارکه لـمده شوه. (ترمِذِی، ج٤ ص١٣٨ حديث ٢٣١٥)

**وفات شريف:** حضرتِ سَيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دولس کاله په مَسنَدِ خِلافت فائز اوسيدلو نه پس په 18 ذُالحِجَّةِالحرام سن 35 هِجري کښې د جُمُعې په ورځ د روژې په حالت کښې تقريباً د دوه اتيا کالو په عُمر کښې ډير زيات مظلومِيَّت سره شهيد کړے شو. د هغوئي د شهادت نه پس حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا په خوب کښې د رَحمتِ عالم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان واوريدو: بيشکه عُثمان په جَنَّت کښې عاليشان

ناوک [د وادۀ زلـمے] جوړ کړے شوے دے. (الرياض النضرة ج۲ ص ۷٦) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دي په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دي زمونږه بي حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ملی تقدیر سے مجھ کو صحابہ کی ثناخوانی ملا ہے فیضِ عثمانی ملا ہے فیضِ عثمانی

(وَسائلِ بخشِش ص ٥٨٤)

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد**

## د جُمُعې د سحر د جَمعې خُصُوصي فضيلت

حضرتِ سَيِّدُنا ابُو عُبَيده بِن جَرّاح رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ بيان کوي چې رَسُولِ اکرم، رحمتِ عالَم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: د جُمُعې په ورځ ادا کوونکي د سحر د **جَمعې** نمونځ نه غوره يو نمونځ نشته، زما گُمان (يعني خيال) دے چې تاسو کښې څوک په دې کښې شريک کيږي د هغۀ گناهونه به اُوبخښلے شي.“ (مُعجَم کبِير ج١ ص ١٥٦ حديث ٣٦٦)

## د نبي گمان د يقين برابر وي

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** په دې حديثِ پاک کښې فرمائيلے شوي دي: ”زما گُمان (يعني خيال) دے“ د دې شرح دا ده چې د نبي گُمان (يعني خيال) د يقين برابر وي.[1] لِـهذا مطلب دا شو چې د جُمُعې د ورځې د سحر نمونځ **جَمعې** سره د ادا کوونکي گناهونه به اُوبخښلے شي. اَحادِيثِ مبارکه کښې چې کوم ځائے کښې د گناهونو د بخښنې تذکره وي هلته د صغيره گناهونو بخښنه کيدل مُراد دي ځکه چې کبِيره يعني غټ گناهونه په توبه مُعاف کيږي.

---

[1] اوگورئ، نُزهَةُ القارى ج١ ص ٦٧٥

# د سحر او ماسختن نمونځونه ځلویښت ورځې

## د جَمعې سره د کولو عظیم الشّان فضیلت

کوم خوش نصیبه چې مسلسل ځلویښت ورځې د سحر او ماسختن نمونځ د **جَمعې** سره ادا کړي هغه د جهنَّم او مُنافَقت نه آزاد کړے شي څنګه چې خادِمِ نبي، حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ عَنْهُ روایت کوي چې خوږ مَدَني سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: ”چا چې ځلویښت ورځې د سحر او ماسختن **نمونځونه** د **جَمعې** سره ادا کړل، هغه ته به **الله** تعالیٰ دوه آزادۍ عطا کوي. یوه د نَار (یعني وور) نه، بله د نِفاق (یعني مُنافَقَت) نه.“ (اِبنِ عَساکر ج٥٢ ص٣٣٨)

## دوزخ نه آزادي

د اَمیرُ **المُؤمِنین** حضرتِ سَیِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْهُ نه رِوایت دے چې د سرورِ دو عالم صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: ”څوک چې ځلویښت شپې په جومات کښې **جَمعې** سره **د ماسختن نمونځ** وکړي چې ورومبے رکعت ترینه لاړ نۀ شي، **الله** پاک د هغۀ د پاره د دوزخ نه آزادي اولیکي.“ (اِبنِ مَاجَه ج١ ص٤٣٧ حدیث ٧٩٨)

## د رسالو بَرَکت

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** خپل زړۀ کښې **جَمعې** سره د نمانځۀ ادا کولو مضبوط فِکر پیدا کولو د پاره، د نمانځۀ د پاره د خوږ خوږ خوب قربانولو سوچ پیدا کولو او هر حال کښې د رضائے اِلٰهی حاصلولو د پاره د کوشش کولو سوچ پیدا کولو د پاره د دعوتِ اسلامي دیني ماحول کښې اوسیدل نهایت فائده مند دي. راځۀ چې د دعوتِ اسلامي یو ”مَدَني سپرلے“ واورو: د فیصل آباد یو اسلامي ورور به فیشن کول ډیر خوښول، چې کله به هُم مارکیټ کښې د نوي فیشن پینټ راتلو نو هغه به اخستلو. د دُنیا په مستۍ کښې داسې ورک وو چې نمونځ کولو ته به یې زړۀ نه کیدلو، مور صاحبې به چې د سحر د نمانځۀ د

پاره راپاڅولو نو هغهٔ به وئيل: ”د صبا نه به نمونځ [شروع] کووم، د دې جُمُعې نه به نمونځونه شروع کووم“ او دغسې به يې خبره په بله واړوله. د هغهٔ مشر ورور چې کالِج کښې به يې سبق وئيلو، هغه خوش قِسمتئ سره د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامل شو او د هغې اثرات کور ته هُم ورسيدل. مشر ورور يې يوه ورځ د سُنَّتو ډکې اِجتِماع نه واپس راغلو نو د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنه يو څو رسالې يې ځان سره راوړلې، چې کشر ورور هغه رسالې ولوستلې نو په زړهٔ يې ډير اثر وشو چې اوس به زهٔ هُم ضرور دعوتِ اسلامي والا جوړيږم. چنانچه دے هُم د دعوتِ اسلامي د سُنَّتو ډکې اِجتِماع کښې شريک شو او هلته يې بيان ”تور لړمان“ واوريدو. په ژړا ژړا يې توبه وکړه او ږيره مبارکه يې هُم پريښودله، د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مُريد هُم شو او د دعوتِ اسلامي دِيني کار کولو کولو کښې يې درسِ نظامي کښې داخله هُم واخستله او د ”وُکَلاء مجلِس“ صوبائي نګران هُم جوړ شو.

اے بیمارِ عصیاں تو آجا یہاں پر
گناہوں کی دے گا دوا مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٨)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د سحر او مازيګر فضائل

## د فرښتو د بدليدلو وختونه

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې خوږ مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: تاسو کښې د شپې او ورځې فرښتې وار په وار راځي او د سحر او

مازيګر په نمونځونو کښې يو ځائے شي، بيا هغه فرښتې کومو چې په تاسو کښې شپه تيره کړې ده بره طرف ته لاړې شي، الله پاک د باخبره کيدلو باوجود هغوئي نه تپوس کوي: تاسو زما بندګان په کوم حال کښې پريښودل؟ هغوئي عرض کوي: مونږه هغوئي په نمونځ کولو کښې پريښودل او چې کله مونږه د هغوئي خوا ته رسيدلي وو هغه وخت هُم هغوئي نمونځ کولو. (بُخاری ج١ ص ٢٠٣ حديث ٥٥٥)

## هر بالِغ سره 62 فرښتې

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د حديثِ پاک د دې حِصَّې (د سحر او مازيګر په نمونځونو کښې يو ځائے شي) نه لاندې فرمائي: دلته د فرښتو نه مُراد يا خو اعمال ليکونکې دوه فرښتې دي يا د انسان حفاظت کوونکې شپيتهٔ فرښتې دي، هر نابالِغ سره شپيتهٔ فرښتې اوسي او بالغ سره دوه شپيتهٔ. ځکه د نمانځهٔ په سلام او نورو سلامونو کښې د دې نِيَّت کيږي. د دې ملائکو ډيوټياني بدليږي رابدليږي، ورځ کښې او شپه کښې، خو سحر او مازيګر لا مخکښنۍ فرښتې نه وي تلې چې وروستۍ ډيوټۍ ته راشي، د پاره د دې چې زمونږه د ابتِدا او انتها (يعني د شروع کولو او ختمولو د حالت) ګواهان زيات وي. د دې حِصَّې (بره طرف ته لاړې شي) نه لاندې ليکي: خپل هيډ کوارټر ته، کوم ځائے کښې چې د دوئي مُقام دے. مُفتي صاحب د حديثِ پاک د دې حِصَّې (مونږه هغوئي په نمونځ کولو کښې پريښودل او چې کله مونږه د هغوئي خوا ته رسيدلي وو هغه وخت هُم هغوئي نمونځ کولو) نه لاندې ليکي: د دې مطلب يا خو دا دے چې فرښتې د نمونځ ګُزارو پرده پوشي کوي چې د مخکښې وروستو نيکو ذِکر کوي او مينځ کښې د شوو ګناهونو نه خاموشي [اختياروي]، يا دا مطلب دے چې اے مولا! د کومو بندګانو چې ابتدا او انتها (يعني د اَوَّل او آخر حالت) داسې وي په هغې کښې هميشه بَرَکت وي.

(مِراٰةُالْمَنَاجِيح ج١ ص ٣٩٤، ٣٩٥)

## د فرښتو والا حديث ښكلي مَدَني ګلونه

❖ **نمونځ** يو اعلىٰ عبادت دے چې د دې په باره کښې به سوال جواب کيږي ❖ د **سحر** او **مازيګر** نمونځونه د نورو نمونځونو په مقابله کښې اعظم (يعني زيات عَظَمت والا) دي ❖ په دې حديثِ پاک کښې د دې دواړو وختونو د شَرَف (يعني عَظَمت او بُزرګئ) طرف ته اشاره ده ځکه چې **د سحر د نمانځهٔ** نه پس رِزق تقسيميږي او د ورځې آخرئ حِصَّه (يعني د مازيګر په وخت) کښې اعمال اوچتيږي، نو کوم کس چې دې دواړو وختونو کښې په عبادت کښې مصروف وي د هغهٔ په "رِزق او عمل" کښې بَرَکت ورکولے کيږي ❖ دا اُمَّت د ټولو اُمَّتونو نه غوره دے او د دې اُمَّت د افضل کيدو نه د **الله** پاک د خوږ او آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام نه افضل [يعني غوره] کيدل لازِم راځي. (عُمدةُ القاری ج ٤ ص ٦٥)

## د سحر او مازيګر نمونځ کوونکي به جَهنَّم ته نهٔ ځي

**حضرتِ** سَيِّدُنا عُماره بِن رُوَيبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې ما د خوږ مُصطَفیٰ رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوريدلے دے: "چا چې د نمر د راختلو او پريوتلو نه مخکښې نمونځ ادا کړو (يعني چا چې د **سحر** او **مازيګر** نمونځ وکړو) هغه به بالکل جَهنَّم ته نهٔ داخليږي." (مُسلِم ص ٢٥٠ حديث ١٤٣٦)

## د سحر او مازيګر د فضيلت حِکمت

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک نه لاندې ليکي: د دې دوه مطلبونه کيدے شي: يو [مطلب] دا چې د سحر او مازيګر پابندي کولو والا به دوزخ ته هميشه اوسيدو د پاره نهٔ ځي، که لاړو نو عارضي (يعني وقتي) طور. لِهذا دا حديث د دې حديث خلاف نهٔ دے چې بعضې خلک به د قيامت په ورځ نمونځونه راوړي خو د هغوئي

نمونځونه به اَهلِ حُقُوق (يعني د چا حقونه يـې چې وهلي وي هغوئي) ته ورکړے شي. بل [مطلب] دا چې د **سحر** او **مازيګر** پابندي کوونکو ته به اِنْ شَآءَاللّٰه د باقي نمونځونو هُم توفيق ورکړے شي او د ټولو ګناهونو نه د بچ کيدو هُم، ځکه چې هُم دا نمونځونه (په نفس زيات درانه وي. چې د دې پابندي يـې وکړه نو اِنْ شَآءَاللّٰه د باقي نمونځونو به هم پابندي کوي، لِـهذا په دې حديث دا اعتراض نشته چې د نجات د پاره ګڼې صرف دا دوه نمونځونه کافي دي د باقي ضرورت نشته. ياد ساتئ چې په دې دوو نمونځونو کښې د ورځې او شپې فرښتې يو ځائے کيږي، بله دا چې دا د ورځو د غاړو نمونځونه دي، او دا دواړه په نفس ګران (يعني درانه) دي، ځکه چې سحر د اُودهٔ کيدو وخت دے او مازيګر د کاروبار د فروغ (يعني تيزئ سره د چليدو)، لِـهذا د دې (نمونځونو) درجه زياته ده. (مِراٰةُ المناجيح ج۱ص۳۹٤)

## د آمِنه سپوږمۍ د آسمان سپوږمۍ وليده نو ويـې فرمائيل

**حضرتِ** سَيِّدُنا جَرِير بِن عبدُاللّٰه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ بيان کوي چې مونږه د حُضُورِ پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې حاضر وو، هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **د څوارلسمې شپې سپوږمۍ طرف ته اوکتل او اِرشاد يـې اُوفرمائيلو:** "عنقريب [نزدې] (يعني د قيامت په ورځ) به تاسو خپل **ربّ** داسې وِينئ څنګه چې دا سپوږمۍ وِينئ، نو تاسو نه که کيدے شي نو د سحر او مازيګر نمونځ کله هُم مهٔ پريږدئ." بيا حضرتِ سَيِّدُنا جَرِير بِن عبدُاللّٰه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دا آيتِ کريمه ولوستلو:

وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا ۚ

([مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او د خپل رب پاکي او صِفَت بيان کړه، د نمر د ځليدلو نه مخکښې او د هغې د پريوتلو نه مخکښې) (پ۱٦، طٰہٰ:۱۳۰) (مُسلِم ص ۲۳۹ حديث ۱٤۳٤ مُلَخَّصاً)

## عِشقِ رَسُول کښې ډوبه تشريح

**مُفَسِّر قرآن** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د حديثِ پاک د دې حِصَّې (هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د څوارلسمې شپې سپوږمۍ طرف ته اوکتل) نه لاندې فرمائي: يعني د

خُدائے رَحمان سپوږمئ د آسمان سپوږمئ ته اوکتل، ډوبيدونکـې خرېږ (يعنې کمې رڼا والا) سپوږمئ ته هٔغه سپوږمئ اوکتل چې هغه به نۀ کله پريوځي او نۀ به خړېږي (يعنې نۀ به يـې رڼا کميږي)، ظاهر [يعنې ښکاره خيزونه] ځلوونکـې سپوږمئ ته هٔغه سپوږمئ اوکتل کومه چې زړۀ او ساه او رُوح او ايمان هُم ځلوي، د شپې ځليدونکـې سپوږمئ ته هٔغه سپوږمئ اوکتل کومه چې د اَبَدُ الْآبَاد پورې (يعنې هميشه) هر وخت شپه او ورځ ځليږي او ځليږي به. زۀ څه اُووايم الفاظ راته نه ملاويږي! اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى بَدْرِ النُّبُوَّةِ وَ شَمْسِ الرِّسَالَةِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم. (ترجمه: اے **الله**! دُرُود و سلام وليږې او بَرَکت نازل کړې د نُبُوَّت په سپوږمئ او د رِسالت په نمر باندې) داسې اووايه چې هٔغه سپوږمئ ته چې د نمر نه رڼا اخلي هٔغه سپوږمئ اوکتل کومې نه چې نمر رڼا اخلي، کومه چې په زړونو باندې ورځ راولي. (د آسمان) سپوږمئ هُم خوش نصيبه ده چې هغې ته محبوب (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) اوکتل، دا سپوږمئ چې مونږ يـې نن هم وينو، دا هُم هغه سپوږمئ ده په کومه چې د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نظر پريوتے وو. دا حديث د عَامَّةُ الْمُسْلِمِين (يعنې د عامو مسلمانانو) دليل دے چې مؤمنان به په مَحشر کښې هُم په خپلو سترګو د پاک **ربّ** ديدار کوي او په جَنَّت کښې به يـې هم ديدار کوي. ياد ساتئ چې د جَنَّت ټول نعمتونه به د نيکو اعمالو عِوَض (يعنې بدله) وي، اګر که د خپلو اعمالو، يا د هغۀ د اعمالو د چا په خاطر چې جَنَّت ته تلے وي خو دِيدارِ اِلٰهی به د يو عمل عِوَض (يعنې بدله) هُم نه وي، خالِصه عطاءِ ذُوالجلال (يعنې د **الله** پاک خاص عنايت) به وي، د دې دوو نمونځونو پابندي به د دې دِيدار لياقت او قابليت پيدا کړي يعنې د سحر او مازيګر پابندي. په دُنيا کښې **نمونځ** داسې کوه لکه ته چې خُدائے وِينې ځکه چې دلته حِجاب (يعنې پرده) ده، هلته به حِجاب (يعنې پرده) اوچته شي لکه ختمه چې شي، هغه چې اُووِينې نو هغۀ سره به کلام [يعنې خبرې] کوې. (حديثِ پاک کښې موجود آيتِ کريمه نه لاندې ليکې:) د دې فرمانِ عالي نه معلومه شوه چې په دې آيت کښې د تَسْبِيْح و تَحمِيد (يعنې د **الله** پاک پاکي او صفت بيانولو) نه مُراد نمونځ

دے، ولې چې د سحر او **مازيګر** په نمانځهٔ کښې د شپې او ورځې **مُحافظې** فرښتې يو ځائے کيږي، او د **سحر** نمونځ غفلت سره د اُودهٔ کيدو وخت دے او د **مازيګر** د نمانځهٔ وخت د کاروبار او سيل تماشو کولو د غفلت وخت دے، په دې وجهو د دې نمونځونو تاکيد زيات دے، **ربّ** تعالیٰ اِرشاد فرمائي: اِنَّ قُرْاٰنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوْدًا ﴿۷۸﴾ (‏[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: بيشکه د سحر په قرآن (يعني نمانځهٔ) کښې فرښتې حاضريږي. (پ۱۵، بنی اسرائيل: ۷۸) د مازيګر د نمانځهٔ مُتَعَلِّق فرمائي: حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَ الصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى ۗ (‏[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: حفاظت وکړئ د ټولو نمونځونو او د مينځني نمونځ. (پ۲، البقرة: ۲۳۸)) (مِراٰةُ المناجيح ج ۷ ص ۵۱۷ تا ۵۱۸ مُلَخَّصاً)

تیرہ دل کو جلوۂ ماہِ عرب درکار ہے
چودھویں کے چاند تیری چاندنی اچھی نہیں

(ذوقِ نعت)

د زړهٔ تيارې به شي روښانه د عرب په سپوږمۍ
اے د څوارلسمې سپوږمۍ! نهٔ غواړمه ستا رڼا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د پروردګار 100 ځله ديدار

**حضرت** عَلَّامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اِرشاد فرمائي: د دُنيا په ژوند کښې (په ويښه) د **الله** پاک ديدار د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره خاص دے او آخرت کښې د هر سُنِّي مسلمان د پاره ممکن بلکې واقع. پاتې شو قلبي (يعني په زړهٔ کښې) ديدار يا په خوب کښې، دا نورو انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَام بلکې د اولياء د پاره هُم حاصل دے. زمونږه اِمامِ اعظم (ابو حنيفه) رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **ته په خوب کښې سل ځله** [د الله پاک] **ديدار شوے وو.** (نور فرمائي:) د هغهٔ (يعني د **الله** پاک) ديدار **بِلا کَيْف** دے، يعني وينې به يې او (څو) دا نهٔ شي وئيلے چې څنګه به يې وِينې! څه څيز چې [بنده] وِينې د هغهٔ نه څه فاصِله د

مَسافَت وي، نزدې يا لرې، هغه [څيز] د کتونکي نه په کوم يو طرف وي، پاس يا لاندې، ښي طرف ته يا ګڅ طرف ته، مخې ته يا شا ته، د هغه (يعنې د **ربِّ کريم**) ليدل به د دې ټولو خبرو نه پاک وي. بيا پاتې شوه دا خبره چې څنګه به کيږي؟ هُم دا خو وئيلے کيږي چې ”څنګه“ ته دلته دخل نشته، اِنۡ شَآءَاللّٰه چې کله يې ديدار وکړو بيا به اُووائيو. د (داسې) ټولو خبرو خُلاصه دا ده چې کوم ځائے پورې عقل رسيدے شي هغه خُدائے نۀ دے او کوم چې خُدائے دے هغې ته عقل نۀ رسي، او د ديدار په وخت کښې دې سترګې د هغه اِحاطه (يعنې ګَيره) وکړي، دا مُحال (يعنې ناممکن) دي. (بهارشريعت ج۱، ص۲۰تا۲۲) بهارِشريعت جِلد اَوَّل صفحه 160 کښې دي: جَنَّتيان چې کله جَنَّت ته لاړ شي، هر يو به د خپلو اعمالو په مقدار مرتبه حاصلوي او د هغهٔ د فضل حد نشته. بيا به هغوئي ته د دُنيا د يوې هفتې د مقدار نه پس اجازت ورکړے شي چې د خپل پروردګار ديدار وکړئ او عرشِ اِلٰهي به ښکاره شي او **ربّ** تعالٰی به د جَنَّت د باغونو نه يو باغ کښې تَجَلِّي فرمائي او د دې جَنَّتيانو د پاره به منبرونه اوغوړولے شي، د نُور منبرونه، د غمو منبرونه، د ياقوتو منبرونه، د زَبَرجَد منبرونه، د سرو زرو منبرونه، د سپينو زرو منبرونه او په هغه جَنَّتيانو کښې به اَدنٰی (يعنې د ټولو نه کمې درجې جَنَّتي) به د مُشک او کافورو په ختو باندې کښيني او په هغوئي کښې اَدنٰی يو هم نه دے، په خپل ګُمان کښې به کرسۍ والا د ځان نه څه زيات نۀ ګڼي او د **اللّٰه** تعالٰی ديدار به داسې صفا کيږي لکه نمر او د څوارلسمې سپوږمۍ چې هر يو د خپل خپل ځائے نه وينې، چې د يو ليدل به د بل د پاره مانِع (يعنې رُکاوټ) نۀ وي او **اللّٰه** کريم به په هر يو تَجَلِّي فرمائي، په هغوئي کښې به چا ته فرمائي: اے فلانکيه بن فلانکے! تا ته ياد دي، په کومه ورځ چې تا داسې داسې کړي وو...؟ د دُنيا بعضې معاصي (نافرمانۍ) به وريادوي، بنده به عرض کوي: نو اے **ربّه**! آيا تا زۀ اُونه بخښلم؟ فرمائي به: آو! زما د مغفرت د وُسعَت (يعنې فراخۍ) په وجه ته دې مرتبې ته ورسيدلې. (بهارشريعت ج۱ص ۱۶۰)

جے میں ویکھاں عملاں ولّے، کجھ نئیں میرے پلّے
جے میں ویکھاں رحمت رب دی، بلّے بلّے بلّے

(يعني کله چې زۀ خپلو اعمالو ته اوګورم نو هيڅ هم راسره نشته،
او چې کله د خپل رب رحمت ته اوګورم نو د خوشحالئ نه تاؤ شم)

## د مازيګر د نمانځۀ دوه هومره اجر

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو بَصره غِفاري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه رِوايت دے چې نُور والا آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: دا نمونځ يعني د مازيګر نمونځ ستاسو نه مخکښې خلکو باندې پيش کړے شو نو هغوئي دا ضائع کړو، لِـهذا څوک چې دا پابندئ سره ادا کوي هغۀ ته به دوه هومره اجر ورکولے کيږي. (مُسلِم ص ۳۲۲ حديث ۱۹۲۷)

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د دې حديثِ پاک نه لاندې ليکي: يعني په مخکښو اُمَّتونو هُم د مازيګر نمونځ فرض وو خو هغوئي هغه پريښودلو او د عذاب مُستَحِق شو، تاسو د هغوئي نه عبرت واخلئ. (مِراٰةُ المناجيح ج ۲ ص ۱٦٦)

## د دوه هومره اجر د وجوهاتو مَدَني ګلونه

❖ وړومبے اجر به د مخکښو اُمَّتونو د خلکو په مخالفت کولو يعني **د مازيګر د نمانځۀ** د پابندئ کولو په وجه ورکولے کيږي او بل اجر به د مازيګر د نمانځۀ په کولو ورکولے کيږي څنګه چې د نورو نمونځونو ورکولے کيږي ❖ وړومبے اجر به د عبادت د پابندئ کولو په وجه ورکولے کيږي او دويم اجر به د اخستلو او خرڅولو د پريښودلو د قَناعَت کولو په وجه ورکولے کيږي، ځکه چې د مازيګر په وخت کښې خلک په بازارونو کښې په کار روزګار کښې مصروف وي ❖ وړومبے اجر به د مازيګر د فضيلت په وجه ورکولے کيږي ځکه چې دا **صلوٰةِوُسطٰی** (يعني مينځنے نمونځ) دے او بل اجر به د هغې د پابندئ په سبب ورکولے کيږي. (شرح الطيبی ج ۳ ص ۱۹، مِرقاةُ الْمَفَاتِيح ج ۳ ص ۱۳۹)

## عمل ضبط شو!

تابعي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا **اَبُو الْمَلِيح** رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ بيان کوي: په يو داسې ورځ چې وريځې راغلې وې، مونږه د صحابيِ رَسُول حضرتِ سَيِّدُنا بُرَيده رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ سره په جِهاد کښې وو،

هغوئي اُوفرمائيل: د مازيګر په نمانځهٔ کښې تادي وکړئ ځکه چې حُضُور تاجدارِ دوعالَم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے "چا چې **د مازيګر نمونځ** پريښودو د هغهٔ عمل ضبط شو." (بُخاری ج۱ ص ۲۰۳ حديث ۵۵۳)

## د مازيګر نمونځ د پريښودو عادت لرونکي باندې د کفر انديښنه

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک نه لاندې ليکي: غالِباً د "عمل" نه مُراد هٰغه دُنياوي کار دے د کوم په وجه چې هغهٔ د مازيګر نمونځ پريښودلو (او) د "ضبط کيدو" نه مُراد د هغه کار بَرَکت ختميدل دي. يا دا مطلب دے چې څوک د مازيګر پريښودلو عادت جوړ کړي د هغهٔ د پاره انديښنه (يعنې خطره) ده چې کافِر مړ شي او د هغهٔ اعمال ضبط (يعنې برباد) شي، (البتّه) د دې مطلب دا نهٔ دے چې د مازيګر نمونځ پريښودل کفر يا اِرتِداد دے. ياد ساتئ! چې د مازيګر نمانځهٔ ته قرآنِ مجيد "مينځنے نمونځ" وئيلو باندې د دې ډير تاکيد فرمائيلے دے بله دا چې دغه وخت کښې د شپې او ورځې فرښتې جمع کيږي او دا وخت د خلکو د سيل تماشې او د تجارتونو د تيزئ وخت دے، ځکه اکثر خلک د مازيګر په نمانځهٔ کښې سستي کوي، په دې وجهو قرآن شريف هم د مازيګر د نمانځهٔ ډير تاکيد فرمائيلے دے او حديث شريف هُم. (مِراٰةُ المناجيح ج۱ ص ۳۸۱ تا ۳۸۲)

## خلوېښت مِنټه مخکښې تياري (حِکايت)

عارِف بِالله ابو العبّاس حَرِثـی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د مازيګر د نمانځهٔ تياري هغه وخت شروع کوله چې د ماسپښين د نمانځهٔ وخت ختميدو کښې به څلوېښت منټه باقي وو، د هغوئي د تيارئ طريقه به دا وه چې نظر به يې ښکته کړو او مُراقبه کښې به مشغول شولو او د وسوسو نه به يې اِستِغفار کولو او داسې به يې ځکه کول چې په هغوئي باندې د مازيګر

وخت په داسې حالت کښې راشي چې په بارګاهِ اِلٰهی کښې حاضريدو نه د هغوئي مخې ته هيڅ رُکاوټ نۀ وي. (لواقع الانوار القدسيه ص ٤٩٢)

## يو بيان ډير کسان نمونځ ګزاره جوړ کړل

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! په خپلو زړونو کښې د نمونځونو اَهَمِّيَّت ډيرولو د پاره، هر نمونځ اهتمام سره په خپل وخت کښې دننه د جَمعي سره کولو او نور خلک د نمونځونو د پاره د تيارولو سوچ حاصلولو د پاره د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامل اوسئ. راځئ چې د نمونځ ګُزاره جوړيدلو او جوړولو مُتَعَلِّق يو ''مَدَني سپرلے'' واورو: د وزير آباد (پنجاب) يو اسلامي ورور هغه وخت د اسکول طالِبِ عِلم وو. يو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي ورته د مَکتَبَةُالْمَدِينه نه جاري شوے د بيان کيسټ ''بے نمازی کی سزائیں'' [د بيلمانځه سزا ګانې] پيش کړو. د هغوئي د وينا مطابق کور کښې به د والِد صاحب نه علاوه هيچا هُم نمونځ نۀ کولو. بهر حال هغه کيسټ يې کور کښې وچلوو، والد صاحب هُم هغه بيان واوريدو او د کور کسانو ته يې هم بيا بيا د هغه بيان اوريدلو ترغيب ورکړو، د هغه بيان په بَرَکت د هغه اِسلامي ورور د کور کسان نمونځ ګُزاره جوړ شو او د غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه مُريدان هُم جوړ شو او بيا يو وخت داسې راغے چې اَلۡحَمۡدُلِلّٰه د هغوئي په کور کښې د اسلامي خويندو هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کيدل هم شروع شوه. د هغۀ يو ورور د دعوتِ اسلامي نعت خوان هُم جوړ شو او جامِعَةُالْمَدِينه کښې د درسِ نِظامي طالِبِ عِلم هم جوړ شو، او د هغۀ دوه د ترۀ زامنو د دعوتِ اسلامي په مَدرَسةُالْمَدِينه کښې د حِفظِ قرآن سعادت حاصلول هُم شروع کړو.

يقيناً مقدر کا وه سکندر ہے | جسے خیر سے مل گیا مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٧)

يقـيناً هغـه کس دے، ډيـر خوش قِسمت
چا ته چې مِلاؤ شو ديني ماحول په قِسمت

صَـلُّـوۡا عَـلَى الۡـحَـبِـيۡـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## اهل و عیال او مال يــې برباد شو

صحابي اِبنِ صحابي حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله بِن عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنْہُمَا نه رِوايت دے چې د **الله** پاک خوږ رَسُول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: د چا چې د مازيګر نمونځ لاړو (يعني ثوک چې بِاَلقَصْد [يعني اِرادَتاً] د مازيګر نمونځ ضائع کړي[1]) لکه د هغۀ اَهل و عِيال او مال چې "وَتْر" شو (يعني په زور ترينه واخستے شو). (بُخاری ج۱ ص۲۰۲ حديث۵۵۲)

## د وَتْر مطلب

حضرت عَلَّامه اَبُو سُلَيمان خَطّابِي شافِعِي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: د وَتْر معنیٰ ده "نقصان کيدل يا ترينه په زور اخستل" پس د چا نه چې بال بچي او مال په زور واخستے شو يا د هغۀ نُقصان وشو لکه هغه چې يواځې پاتې شو. لِـهذا د نمانځۀ قضا کيدلو نه انسان ته داسې ويريدل پکار دي څنګه چې هغه د خپل کور د کسانو او مال و دولت تللو (يعني بربادېدلو) نه ويريږي. (اِکمال المعلم بفوائد مسلم ج۲ ص۵۹۰)

## مړي ته قَبْر کښې داسې ښکاري لکه نمر چې پريوتو والا وي

حضرتِ سَيِّدُنا جابِر بِن عبدُالله رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه رِوايت دے چې د رحمتِ عالَم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان دے: چې کله مړے قَبْر ته داخل شي نو هغۀ ته داسې ښکاري لکه نمر چې پريوتو والا وي نو هغه سترګې مږي او کښيني اَو وائي: "ما پريږدۀ چې نمونځ وکړم." (اِبنِ مَاجَه ج۴ ص۵۰۳ حديث۴۲۷۲)

## اے فرښتو سوالات وروسته وکړۀ

**حَکِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د حديثِ پاک د دې حِصَّې (هغۀ ته داسې ښکاري لکه نمر چې پريوتو والا وي) نه لاندې ليکي: دا احساس ورته د **مُنکَر نَکِير** په

[1] (شرحِ مُسلِم للنووی ج۵ ص۱۲۶)

رابيدارولو کيږي، اګر که هر وخت ښخ شوے وي. ولې چې د مازيګر د نمانځهٔ زيات تاکيد دے او د نمر د پريوتولو وخت د دې د تللو دليل دے، ځکه ورته دا وخت ښودلے کيږي. د حديث د دې حِصَّې (ما پريږدئ چې نمونځ وکړم) نه لاندې ليکي: يعني اے ”فرښتو! سوالات وروسته وکړئ د مازيګر وخت په ختميدو دے ما پريږدئ چې نمونځ وکړم“. دا به هُم هغه کس وائي څوک چې دُنيا کښې د مازيګر د نمانځهٔ پابند وو، **اللّٰه** دې يے رانصيب کړي. ځکه **ربّ** [تعالیٰ] فرمائي:

حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَ الصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى ۗ

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: حفاظت وکړئ د ټولو نمونځونو او د مينځني نمونځ. (پ۲، البقرة:۲۳۸)

يعني ”د ټولو نمونځونو، خُصُوصاً د مازيګر ډير حفاظت وکړئ.“ صوفِيائے کرام فرمائي: ”چې څنګه ژوند تيروئ هغسې به مرۀ کيږئ او څنګه چې مرۀ کيږئ هُم هغسې به راپاڅيږئ.“ ياد ساتئ! مُؤمِن ته به هغه وخت داسې ښکاري لکه د خوبه چې راپاڅيدلے وي، څنګدن وغيره به ترينه ټول هير وي. کيدے شي چې د دې عرض (ما پريږدئ چې نمونځ وکړم) په وجه ترينه هډو سوال و جواب اونشي او که ترينه وشي نو نهايت آسان ځکه چې د هغه دا خبره د ټولو سوالونو جواب شو. (مِراٰةُالْمَنَاجِيح ج۱ص۱۴۲)

کیا پوچھتے ہو مجھ سے، نکیرین! لحد میں
لو دیکھ لو! دل چیر کے، ارمانِ محمد

## د رزق د تقسيميدلو وختونه

حضرتِ سَيِّدُنا امام شَعراني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وائي: ما د سيِّدي علي خَواص رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه دا فرمان اوريدلے دے چې مادّي (يعني محسوسيدلو والا) رِزق کوم چې زمونږه د بدنونو خوراک وي، د سحر د راختلو (يعني د سحر د نمانځهٔ د شروع کيدلو د وخت نه واخله) د نمر راختلو

يعني د يوېِ نيزېِ هومره پورته کيدلو پورېِ (يعني د نمر راختلو نه 20 مِنَټه پس پورېِ) **الله** پاک تقسيموي او د رُوح خوراک يعني معنوي رِزق کوم چې په سترګو نۀ ښکاري (يعني په څه چې د زړۀ او دماغو سکون مبني وي) د مازيګر د نمانځۀ نه پس نه واخله د نمر پريوتلو پورې تقسيموي. (الواقع الانوار القدسية ص٦٧) د دې روايت مقصد دا دے چې دا وختونه په غفلت کښې مۀ تيروئ بلکې په ذِکر و عبادت کښې يې تيروئ.

## د مُنافَقَت يوه نښه

خادِمِ نبي حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ بيان کوي چې ما د سرورِ کائنات صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوريدلے دے چې دا د مُنافِق نمونځ دے چې ناست وي او د نمر اِنتِظار کوي تر دې چې کله نمر د شيطان د دوو ښکرو مينځ له راشي (يعني پريوتلو ته نزدې شي (مِراٰة ج۲ ص۳۰۰)) نو ودريږي او څلور ټونګې اُووهي چې په هغې کښې د **الله** لږ شان ذِکر وکړي. (مُسلِم ص ٢٦٤ حديث ١٤١٢)

## د دې حديث نه درې مسئلې معلومې شوې

**مُفَسِّرِ قراٰن** حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د دې حديثِ پاک په شرح کښې ليکي: د دې حديث نه درې مسئلې معلومې شوې، يوه دا چې په دُنياوي کاروبار کښې د اخته کيدو په وجه د مازيګر نمونځ ناوخته (يعني مکروه وخت کښې) کول د منافقانو نښه ده. بله دا چې د نمر پريوتلو نه شل مِنَټه مخکښې د کراهَت (يعني مکروه تَحرِيمي) وخت دے، مُستَحَب وخت کښې د مازيګر نمونځ کول پکار دي. دريمه دا چې رُکوع او سَجده ډير په اِطمينان کول پکار دي. حُضُور صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په تادئ تادئ (يعني د زر زر نمونځ کوونکي) سجدې ته د چرګ ټونګې وهلو سره تَشبِيه ورکړې ده، څنګه چې هغه د دانې خوړلو په وخت کښې په ځمکه زر زر [ټونګې] وهي. (مِراٰةُ الۡمَنَاجِيح ج۱ ص۳۸۱)

## د مازيګر د نمانځۀ نه پس مه اُودۀ کيږئ

رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ”څوک چې د مازيګر نه پس اُودۀ شي او د هغه عقل لاړ شي نو هغه دې صرف خپل ځان ملامته کړي.“ (مُسنَدِ اَبو يَعْلٰی ج۱ ص۲۷۸ حديث ۴۸۹۷) (بهارِ شريعت ج ۳ ص۴۳۵)

نمازوں کے اندر خشوع اے خدا دے
پئے غوث اچھا، نمازی بنا دے

پـه نمونځـونو کـښې خُـشُوع راکړې يـا الله
په خاطر د غوث، ما کړې نمونځ ګزاره ته مَولٰی

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـيْـب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د سُنَّت د درې حُرُوفو په نِسبت

## د مازيګر د سُنَّتو مُتَعَلِّق درې فرامِينِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

﴿۱﴾ الله پاک دې په هغه کس رحم وکړي چا چې د مازيګر نه مخکښې څلور رکعاته وکړل. (اَبو داؤد ج ۲ ص ۳۵ حديث ۱۲۷۱)

﴿۲﴾ څوک چې د مازيګر نه مخکښې څلور رکعاته وکړي، الله پاک به د هغه بدن په وور حرام کړي. (مُعْجَم کبِير ج ۲۳ ص ۲۸۱ حديث ۶۱۱)

﴿۳﴾ څوک چې د مازيګر نه مخکښې څلور رکعاته وکړي، هغه ته به وور نزدې هم نۀ ورځي. (مُعْجَم اَوْسَط ج ۲ ص ۷۷ حديث ۲۵۸۰) (بهارِ شريعت ج۱ص۶۶۱)

## د مازيګر د سُنَّتو په باره کښې مَدَنې ګلونه

د مازيګر د فرضو نه مخکښې څلور رکعاته کول سُنَّتِ غيرِمُؤَکده دي. په دې کښې (او

د ماسخوتن د فرضو نه مخکښې د څلورو سُنَّتو) د وړومبي او دريم رکعت په شروع کښې دې ثناء، اَعُوذ او بِسۡمِ الله اُووائي. د دويم او څلورم رکعت نه پس "قَعدہ" فرض ده. دواړو قعدو کښې د اَلتَّحِيات نه پس دُرُودِ اِبراهيم او دُعا هم ولولئ. څلور سُنَّتِ غيرِ مُؤَكده شروع کولو نه پس د جَمعې ودريدلو په صورت کښې په دوه رکعاتو سلام وګرځوئ او جَمعه کښې شامل شئ خو د ماسپښين او جُـمُعه سُنَّتِ قَبلِيه يعني فرضو نه مخکښې کيدونکي څلور سُنَّتو کښې څلور رکعاته پوره کړئ. د دې مسئلې تفصيلي معلومات "فَتَاوٰی رَضَوِيَّه" جِلد 8 صفحه 129 تا 136 کښې کتلے شئ.

# د ماښام د نمانځهٔ فضائل

## د مقبول حج او عُمرې ثواب

خادِمِ نبي حضرتِ سَيِّدُنا اَنَـس رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ نه رِوايت دے چې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے. "چا چې د ماښام نمونځ د جَمعې سره ادا کړو د هغهٔ د پاره به د مقبول حج او عُمرې ثواب ليکلے کيږي او هغه داسې دے لکه هغهٔ چې په شَبِ قَدر کښې قِيام وکړو." (جَمعُ الْجَوامِع ج ۷، ص ۱۹۵ حديث۲۲۳۱۱)

## د ماښام د فرضو نه پس شپږ رکعاته

دوه فرامينِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ﴿۱﴾ څوک چې د ماښام نه پس شپږ رکعاته وکړي او د هغې په مينځ کښې څه بده خبر اونکړي نو د دولسو کالو د عبادت (د ثواب) برابر به کړے شي. (تِرمِذِی، ج ۱ ص ۴۳۹ حديث ۴۳۵) ﴿۲﴾ څوک چې د ماښام نه پس شپږ رکعاته وکړي د هغهٔ ګناهونه به اوبخښلے شي اګر که د سمندر د زګ هومره وي. (مُعجَم اَوسَط ج ۵ ص ۲۵۵ حديث ۷۲۴۵)

## د اَوّابِين د نمانځهٔ طريقه

د ماښام د درېږ رکعاته فرض ادا کولو نه پس شپږ رکعاته يو سلام سره ادا کوئ، په هرو دوو [رکعاتو] قَعده کوئ او په هغې کښې اَلتَّحِيات، دُرُودِ اِبراهِيم او دُعا وائي. د وړومبي، دريم او پينځم رکعت په شروع کښې ثناء، تَعَوُّذ او تَسمِيَه (يعني ثناء، اَعُوذ او بِسمِ الله) هُم لولئ. د شپږم رکعت د قَعدې نه پس سلام ګرځوئ. وړومبي دوه رکعاته سُنَّتِ مُؤَکَّدَه شو او باقي خلور نفل. دا دے د اَوّابِين (يعني د توبه کوونکو) نمونځ (الوظيفةُ الكريمه ص ٢٦ مُلَخَّصاً) که غواړئ نو دوه دوه رکعاته هُم کولے شئ. **بهارِشريعت جِلد اوّل** صفحه 666 کښې دي: د ماښام نه پس شپږ رکعاته مُستَحَب دي، دې ته صَلٰوةُالاَوّابِين وائي، اګر که يو سلام سره تړول ادا کړي يا دوه (سلام) سره يا درې سره او درې سلام سره يعني **هرو دوو رکعاتو باندې سلام ګرځول غوره دي**. (دُرِّ مُختار و رَدُّالمُحتار ج۲، ص۵٤٧)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ماښام او ماسخوتن د مينځه د عبادت ثواب

حضرتِ سَيِّدُنا عُمر بِن ابو خليفه رَحمَةُاللهِ عَلَيه بيان کوي چې مونږه د حضرتِ سَيِّدُنا عطاء خُراساني رَحمَةُاللهِ عَلَيه سره د ماښام نمونځ ادا کړو، د نمانځهٔ نه پس چې مونږه واپس روانيدو والا شو نو هغوئي زما لاس اونيولو او ويې فرمائيل: ”د ماښام او ماسخوتن د مينځه دې وخت نه خلک غافِله دي، دا د اَوّابِينو (يعني د توبه کوونکو) د نمانځهٔ وخت دے. چا چې په دې دوران کښې د نمانځهٔ په حالت کښې د قرآنِ کريم تِلاوت وکړو لکه هغه چې د جَنَّت په باغِيچه کښې دے.“ (اللہ والوں کی باتیں ج ٥ ص ٢٥٩)

# د ماسخوتن د نمانځهٔ فضائل

## په مُنافِقانو باندې د سحر او ماسخوتن نمونځ بوج وي

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه رِوايت دے چې د تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډک فرمان دے: "په ټولو نمونځونو کښې زيات ګران (يعني بوج) په منافِقانو باندې **د ماسخوتن** او **د سحر نمونځ** دے، او کوم چې په دې کښې فضيلت دے که خبر وے نو ضرور به حاضريدلې اګر که په سُرِينو (يعني بدن کښې چې په ناسته کښې د بدن کومه حِصَّه په ځمکه لګي د هغې) په ښويدلو ښويدلو يعنې چې ښکته هم کيدے شوے راتللے به." (اِبنِ مَاجَه ج۱ ص۴۳۷ حديث ۷۹۷)

## د حديث مبارک شرح

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ د دې حديثِ پاک په شرح کښې ليکي: ولې چې مُنافِق صرف ښودنې د پاره **نمونځ** کوي، په نورو وختونو کښې خو يې په څه طريقه وکړي خو د **ماسخوتن** په وخت کښې د خوب غَلَبه وي او د **سحر** په وخت کښې يې د خوب خوند مست کړي. اخلاص او عِشق ټول مُشکلات حل کوي، دا په هغوئي کښې نشته، لِهذا دا دواړه نمونځونه هغوئي ته ډير درانه (يعني ډير غټ بوج) ښکاري، د دې نه دا معلومه شوه چې کوم مسلمان په دې دوو نمونځونو کښې سستي کوي هغه د منافقانو په شان کار کوي. (مِراٰةُالْمَنَاجِيح ج۱ ص۳۹۶)

## مُنافِقان د ماسخوتن او سحر نمونځونو ته د راتللو طاقت نه لري

**د تابِعي** بُزرګ حضرتِ سَيِّدُنا سعيد بن مُسَيَّب رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ نه رِوايت دے چې د سردارِ دوجهان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډک فرمان دے: "زمونږه او د مُنافِقانو په مينځ کښې

علامت (يعني نښه) د **ماسخوتن** او **سحر** په نمانځهٔ کښې حاضريدل دي ځکه چې مُنافِقان دې نمونځونو ته د راتللو طاقت نهٔ لري.“ (مؤطا امام مالِک ج۱ ص ۱۳۳ حديث ۲۹۸)

## په حديث کښې کوم مُنافقان مُراد دي

**حضرتِ** عَلّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوِي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه ليکي: په دې حديث کښې د بيان شوو مُنافقانو نه مُراد (د دَورِ رِسالت بد ترين کفّار نه دي چې هغوئي به ځان ته په دروغو مسلمانان وئيل خو د زړهٔ نه کافِر وو بلکې دلته مُراد) ”مُنافِقِ عملي“ دي (کوم چې حقيقت کښې مسلمانان دي) د حديث د دې حِصّې ”مُنافِقان دې نمونځونو ته د راتللو طاقت نهٔ لري“ نه مُراد دے: مونږه دا نمونځونه په راستۍ او خوشحالۍ ادا کوو، مونږ ته په دې دواړو نمونځونو کښې **جَمعې** سره ادا کولو د پاره جومات ته راتلو کښې هيڅ مَشَقَّت نهٔ وي او په مُنافِقانو باندې دا نمونځونه درانه دي ځکه هغوئي دا په خوشحالۍ او راستۍ سره د ادا کولو طاقت نهٔ لري. (څه مخکښې فرمائي:) واضحه دې وي چې **مُنافِقِ** (عَمَلي) د عبادت قائمولو د پاره بلکې د عادت په وجه **نمونځ** کوي او ولې چې د هغهٔ نَفس **نمونځ** کول ناخوښه ګڼي ځکه هغه د ټولو سره يو ځائے نهٔ بلکې په خپل کور کښې يواځې نمونځ کوي. (مخکښې نور ليکي:) د بعضې عارِفينو (يعني د الله تعالیٰ پيژندګلو لرلو والؤ) قول دے چې: د سحر نمونځ **جَمعې** سره پابندئ سره کولو سره د دُنيا مشکل کارونه آسانيږي، د مازيګر او ماسخوتن په نمانځهٔ کښې د **جَمعې** پابندئ سره زُهد پيدا کيږي (يعني د دُنيا نه بې رَغبتي نصيب کيږي)، د ”خواهشاتو“ د پيرَوئ نه نفس منع کيږي. (فيض القدير ج۱ ص ۸٤، ۸۵)

## د ماسخوتن د نمانځهٔ نه مخکښې اُودهٔ کيدل

حُضُورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: څوک چې د ماسخوتن د نمانځهٔ نه مخکښې اُودهٔ شي **الله** پاک دې د هغهٔ سترګه نه اُودهٔ کوي. (جَمعُ الْجَوامِع ج ۷، ص ۲۸۹ حديث ۲۳۱۹۲)

**اَمیرُ الْمُؤمِنِین** حضرتِ سَیِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خپلو حُکامو ته يو فرمان اوليکلو چې په هغې کښې دا هُم دي چې ځوک د ماسخوتن نه مخکښې اُودهٔ شي **الله** دې وکړي چې د هغه سترګې اُودې نهٔ شي، ځوک چې اُودهٔ شي د هغه سترګې دې اُودې نهٔ شي، ځوک چې اُودهٔ شي د هغه سترګې دې اُودې نهٔ شي. (مؤطا امام مالِک ج ۱، ص ۳۵ حديث ٦)

د **سَیِّدُنا** عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د فرمان مُتَعَلِّق **حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ليکي: د جنابِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دا دُعائے ضَرر د اِظهارِ غَضَب (يعنې د خفګان ښکاره کولو) د پاره ده. ياد ساتئ چې د **ماسخوتن** نه مخکښې اُودهٔ کيدل او د **ماسخوتن** د نمانځهٔ نه پس بې ضرورته ويښ اوسيدل (دا دواړه کارونه) خِلافِ سُنَّت او **نبي کريم** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ناخوښه دي. خو د نمانځهٔ نه مخکښې اُودهٔ کيدل او نمونځ نهٔ کول او دغسې د **ماسخوتن** نه پس ويښ اوسيدل او د **سحر نمونځ** قضا کول حرام دي ځکه چې **د حرام ذريعه** هُم حرامه وي. (مِراٰۃ ج ۱ ص ۳۷۷)

## د ماسخوتن نه مخکښې اُودهٔ کيدل مکرُوه دي

"**بهارِ شريعت**" کښې دي: د ورځې په وړومبئ حِصَّه کښې اُودهٔ کيدل يا د ماښام او ماسخوتن تر مينځه اُودهٔ کيدل مکرُوه دي. (بهارشريعت ج ۳ ص ٤٣٦)

## د ماسخوتن د نمانځهٔ نه پس خبرې اترې

﴿۱﴾ عِلمي خبرې، د چا نه د مسئلې تپوس کول يا د هغې جواب ورکول يا د هغې تَحقِيق و تَفتِيش کول، داسې خبرې کول د اُودهٔ کيدو نه غوره دي ﴿۲﴾ د دروغو قيصې کول، مسخرې کول او د ټوقو ټقالو خبرې کول دا مکرُوه دي ﴿۳﴾ د مُوَانَسَت خبرې اترې کول يعنې د ښځې او خاوند يو بل سره [خبرې کول] يا ميلمه سره د هغهٔ د زړهٔ د پاره خبرې کول دا

جائز دي. داسې قِسم خبرې چې وکړې نو په آخره کښې دې ذِکرِ اِلٰهی کښې مشغول شي او په تَسْبِيْح او اِستِغفار باندې د کلام خاتِمه کيدل پکار دي. (بهارِشريعت ج ٣ ص ٤٣٦)

## د نمونځونو د نومونو وجه

فَجْر: د فجر معنٰی ”سحر“ دے[1] ولې چې د فجر نمونځ د سحر په وخت کښې ادا کيږي، ځکه دې نمانځهٔ ته د فجر نمونځ وائي.

ظُهْر: د ظُهر يوه معنٰی ده ”ظَهِيرَةٌ“ (يعني: غرمه)، ولې چې دا نمونځ د غرمې په وخت کښې ادا کيږي، ځکه دې ته د ظُهر نمونځ وائي.

عَصْر: د عصر معنٰی ده: ”د ورځې آخري حِصَّه“ ولې چې دا نمونځ په هم دې وخت کښې ادا کيږي ځکه دې نمانځهٔ ته د عصر نمونځ وائي.

مَغْرِب: د مغرِب معنٰی د نمر د پريوتلو وخت دے، ولې چې د ماښام نمونځ د نمر پريوتو نه پس ادا کيږي ځکه دې نمانځهٔ ته د مغرِب نمونځ وائي.

عِشاء: د عِشاء لُغوي معنٰی د شپې ابتدائي تِيارهٔ ده[2] ولې چې دا نمونځ د تِيارې کيدلو نه پس ادا کيږي ځکه دې نمانځهٔ ته د عِشاء نمونځ وائي. (شرح مُشکلُ الآثارِ لِلطحاوی ج ٣، ص ٣٤، ٣١ مُلَخَّصاً)

تو پانچوں نمازوں کا پابند کر دے
پئے مصطفٰے ہم کو جنت میں گھر دے

ما پابـند کړې د پينځهٔ وخته نمونځونو يا الله
په جَنَّت کښې راکړې کور په خاطر د مُصطَفٰی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

1 [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: (پ ١٥ بنی اِسرائیل: ٧٨)

2 (نُزهَةُ القاری ج ٢ ص ٢٤٥)

# د جُمُعې فضائل

## د جُمُعې په ورځ د دُرود شريف لوستلو فضِيلت

د نبيانو سُلطان، سردارِ دوجهان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: چا چې په ما باندې د جُمُعې په ورځ دوه سوه ځله دُرود شريف ولوستلو د هغهٔ د دوه سوه کالو ګناهونه به معاف شي. (جَمْعُ الْجَوَامِع لِلسُّيُوطِی ج ۷ ص ۱۹۹ حديث ۲۲۳۵۳)

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** مونږه خومره خوش نصيبه يُو چې **الله** پاک مونږ ته د خپل خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر د **جُمُعَةُ الْمُبارَک** نعمت راکړے دے. افسوس! مونږه بې قدره خلک جُمُعَه شريفه هُم د عامو ورځو په شان په غفلت کښې تيروو حالانکې جُمُعَه د اختر ورځ ده، جُمُعَه د ټولو ورځو سرداره ده، د جُمُعې په ورځ د جَهَنَّم وور نه بلول کيږي، د جُمُعې په ورځ د دوزخ دروازې نه برسيره کيږي، جُمُعَه به د قيامت په ورځ د ناوې په شان اوچتوله کيږي، د جُمُعې په ورځ مړ کيدو والا خوش نصيبه مسلمان د شهيد مرتبه مومي او د عذابِ قبر نه محفوظه شي. د مشهور مُفَسِّر حَکِيمُ الْاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د فرمان مطابق چې **د جُمُعې په ورځ حج وي نو د حج ثواب د اوياؤ حجونو برابر دے.** (او ولې چې د جُمُعې بزرګي ډيره زياته ده ځکه) **د جُمُعې په ورځ د ګناه عذاب هُم اويا هومره دے.** (مُلَخَّص از مِراٰة ج ۲ ص ۳۲۳، ۳۲۵، ۳۳۶)

د **جُمُعَةُ الْمُبارَک** د فضائِلو به څه وائي، اللّٰه تَبَارَکَ وَتَعالٰی د **جُمُعې** متعَلِّق يو پوره سُورت "سُورَةُ الْجُمُعَه" نازل کړے دے او هغه د قُرآنِ کريم په اته ويشتمه (28) سيپاره کښې ځليږي. اللّٰه تَبَارَکَ وَتَعالٰی د "سُورَةُ الْجُمُعَه" په نهم آيت کښې اِرشاد فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَ ذَرُوا الْبَيْعَ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۹﴾

[مَفهوم] ترجمۂ كنزُالإيمان: اے اِيمان والؤ! چې کله د نمانځهٔ اذان وشي د جُمُعې په ورځ، نو د **الله** ذِکر طرف ته دروميءُ او اخستل خرخول پريږدئ، دا ستاسو د پاره بهتر دي که تاسو پوهيږئ.

## خوږ نبي ﷺ وړومبۍ جُمُعَه کله ادا کړه

صَدْرُ الْاَفَاضِل حضرتِ علّامه مولانا سيِّد محمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: حُضُور عَلَيْهِ الصلوٰة والسَّلام چې کله هِجرت وکړو او مدينے طيِّبې ته يې تشريف راوړو نو په دولسم رَبِيعُ الْاَوَّل (٦٢٢ء) د دوشنبه (يعني د گُل مبارک په ورځ يې) د څاښت په وخت کښې په مُقامِ **قُباء** کښې څه وخت اوسيدل اختيار کړل. په دوشنبه (يعني گُل مبارک)، سِه شَنبه (يعني نهې)، چارشنبه او پنجشنبه (يعني زيارت) يې هم هغلته اوسيدل اختيار کړل او د جومات بُنياد يې کيښودلو. د **جُمُعې** په ورځ يې د **مدينهٔ طيِّبه** اِراده اوفرمائيله. د بَنِي سالِم اِبنِ عَوف د دَرې په مينځ کښې د **جُمُعې** [د نمانځهٔ] وخت راغے هغه ځائے خلکو جومات قرار کړو. سَيِّدِ عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هلته **جُمُعَه** ادا کړه او خُطبه يې اوفرمائيله. (خَزَائِنُ الْعِرفان ص ٨٨٤)

**اَلْحَمْدُ لِلّٰه** نن هُم هلته شاندار **مَسجِدِ جُمُعَه** قائِم دے او زيارت کوونکي د بَرَکت حاصلولو د پاره د هغې ليدلو له راځي او هلته نفلونه ادا کوي.

## د جُمُعَه معنٰی

مشهور **مُفَسِّر حَکِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: د حضرتِ آدم عَلَيْهِ السَّلام خاوره په هم دې ورځ جمع شوه او په دې ورځ **خلک راجَمع کيږي او د جُمُعې نمونځ ادا کوي،** په دې وجوهاتو دې ته **جُمُعَه** وائي. د اِسلام نه مخکښې به د عرب اوسيدونکو دې ته عَرُوبه وئيله. (مِراۃُالمناجيح ج٢ ص٣١٧ ملخصا)

## سردارِ مدينه ﷺ تقريباً 500 جُمُعې ادا کړې دي

مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: نبيءِ کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تقريباً پينځۀ سوه جُمُعې ادا کړې دي ځکه چې جُمُعَه د هِجرت نه پس شروع شوه او د هغې نه پس د هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ظاهِري ژوند مبارک لس کاله جوړيږي او په دومره موده کښې تقريباً جُمُعې هُم دومره جوړيږي. (مِراٰۃ ج۲ ص۳۴۶، لمعات ج٤ ص۱۹۰ تحت الحديث ۱٤۱۵)

## درې جُمُعې چې د سستۍ په وجه پريږدي د هغۀ په زړۀ مُهر

د الله تعالیٰ د محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډک فرمان دے: ”څوک چې درې جُمُعې (يعنې د جُمُعې نمونځ) د سستۍ په وجه پريږدي الله تعالیٰ به د هغۀ په زړۀ مُهر وکړي [يعنې ولګوي].“ (ترمِذی ج۲ ص۳۸ حديث۵۰۰)

جُمُعَه فرضِ عَين ده او د دې فرضِيَّت د ماسپښين نه زيات مؤکد (يعنې تاکيدي) دے او د دې مُنکر (يعنې اِنکار کولو والا) کافِر دے. (دُرِّ مُختار ج۳ ص۵، بَهارِ شريعَت ج۱ ص۷۶۲)

## د اِمامت مُصَلّے

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! د جُمُعې د نمانځۀ د پاره ډير وختي رسيدلو د پاره، د وړومبې صَف حاصلولو او د تکبيرِ اُولیٰ د ثواب حاصلولو فِکر جوړولو د پاره د عاشِقانِ رَسُول دِيني تنظيم، ”دعوتِ اسلامي“ ديني ماحول سره خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ، راځئ چې يو مَدَني سپرلے واورو: (پنجاب) پهاليه ته نزدې د يوې علاقې اوسيدونکي يو زلمي اسلامي ورور به دعوتِ اسلامي سره ترون نه مخکښې د ډرامو او ګنده فلمونو کتلو او سندرو او سازونو اوريدلو عادت لرلو، يو ځل يې په ملا کښې درد پيدا شو نو د هغې علاج يې هُم د ګناهونو نه ډک کار شراب څښلو کښې لټولو، نمونځونه کول خو پريږده د نمانځۀ کولو د صحيح طريقې عِلم يې هُم نۀ لرلو، خو د هغۀ ضمير به هغه مسلسل

ملامَته کولو چې زهٔ مسلمان يم او ما ته نمونځ کول نهٔ راځي. په دې دوران کښې يو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي د هغهٔ په ورکشاپ کښې کار کولو د پاره مُلازِم شو نو د مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي عمامه، ږيره او سُنَّتو باندې عمل کول يــې ډېر خوښ شو چې دا زلــمــے د عامو خلکو نه خومره بدل دے! د اسلامي ورور صُحبت رنګ راوړل شروع کړو او هغوئي به هغهٔ ته هُم ترغيب ورکولو او جومات ته به يــې ځان سره بوتللو. چې د رَمَضان مياشت راغله نو د مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي په ترغيب يــې عاشِقانِ رَسُول سره **اِعتِکاف** وکړو، د ګناهونو نه يــې توبه وکړه او د اختر په موقع يــې د درې ورځو مَدَني قافِله کښې سفر هُم وکړو، په اِعتِکاف کښې د دعوتِ اسلامي په رنګ کښې رنګ شو، بيا يــې د 41 ورځو مَدَني قَافِله کورس هُم وکړو، وروستو يــې ذِهن جوړ شو نو د 12 مياشتو مَدَني قَافِله کښې يــې هُم سفر وکړو، آخر دا چې اِمامت کورس يــې وکړو او په يو جومات کښې يــې اِمامت شروع کړو. د هغوئي په وسيله د دعوتِ اسلامي بَرَکتونه د هغوئي د کور کسانو ته هُم نصيب شو او اَلْحَمْدُ لِلّٰه په کور کښې يــې ديني ماحول جوړ شو.

اِنْ شَآءَ اللّٰہ بھائی سدھر جاؤ گے ديني ماحول ميں کرلو تم اعتکاف
مرضِ عصياں سے چھٹکارا تم پاؤ گے ديني ماحول ميں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشش (مُرَمَّم) ص ٦٤٤)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د جُمُعې د عمامې [يعني پټکي] فضِيلت

د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رَحمت نه ډک ارشاد دے: ”بيشکه اللّٰه تَبَارَکَ وَتَعَالٰی او د هغهٔ فرښتې د **جُمُعې** په ورځ عِمامه [يعني پټکے] وهلو والؤ باندې دُرُود [يعني رَحمت] ليږي.“

(مَجْمَعُ الزَّوائِد ج ٢ ص ٣٩٤ حديث ٣٠٧٥)

## د اللّٰه پاک او د فرښتو د دُرُود لېږلو معنیٰ

اے د **نمانځهٔ عاشقانو!** په بيان شوي حديث کښې د **اللّٰه** پاک او د فرښتو له طرفه د **جُمُعې** په ورځ عمامه شريف تړلو والؤ باندې د دُرُود لېږلو ذِکر دے. ياد ساتئ د دې نه معروف دُرُود مُراد نهٔ دے، بلکې د **اللّٰه** پاک په خپلو بندګانو باندې د دُرُود لېږلو مطلب دے رحمت نازلول او د فرښتو د دُرُود لېږلو مطلب دے اِستِغفار کول (يعنې دُرُود وئيونکي د پاره د بخښنې دُعا کول) (فَتحُ البارِی ج۱۲ ص۱۳۱)

## يوه جُـمُعه د 70 جُـمُعو برابره

حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللهُ عَنهُمَا نه رِوايت دے چې رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: عِمامې سره يو جُـمُعه د بې عِمامه اوياؤ جُـمُعو برابره ده. (جامِع صَغِير ص۳۱٤ حديث ۵۱۰۱ مختصراً)

## شِفاء داخيلېږي

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ مسعُود رَضِیَ اللهُ عَنهُ فرمائي: "څوک چې د **جُمُعې** په ورځ خپل نوکان کټ کړي **اللّٰه** پاک د هغهٔ نه بيماري اوباسي او شِفاء ور داخِلوي." (قُوتُ الْقُلُوب ج۱ ص۱۱۹)

## لس ورځې د مصيبتونو نه حِفاظت

حضرت عَلَّامه مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: په حديثِ پاک کښې دي: څوک چې د جُمُعې په ورځ نوکان کټ کړي **اللّٰه** تعالیٰ به هغه د بلې جُمُعې پورې د مصيبتونو نه محفوظه ساتي او درې ورځې زيات يعنې لسو ورځو پورې. په يو روايت کښې دا هُم دي چې څوک د جُمُعې په ورځ نوکان پريک کړي نو رحمت به راځي ګناهونه به ځي. (بهارِ شريعت حصّه ۱٦ ص ۲۲٦، دُرِّ مُختار و رَدُّالْمُحْتَار ج ۹، ص ٦٦٨، ٦٦٩)

## په رِزق کښې د تنګۍ يو سبب

حضرت عَلَّامه مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: د **جُمُعې** په ورځ نوکان

پریک کول مُستحب دي، خو که زیات غټ شوي وي نو د **جُمُعې** اِنتظار دې نهٔ کوي ځکه چې غټ نُوکان بنه خبره نهٔ ده ځکه چې د نوکانو غټ والے د **رِزق د تنګئ** سبب دے.
(بَهارِ شرِیعَت حِصّه ١٦ ص ٢٢٥)

## فرښتې د خوش نصیبو نومونه لیکي

د حُضُور نبیِّ کریم رَءُوْفٌ رَّحِیْم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد مبارک دے: ''چې کله د جُمُعې ورځ راشي نو د جومات په دروازه کښې فرښتې راتلو والا لیکي، څوک چې **مخکښې** راشي هغه **مخکښې** لیکي، زر راتلونکے د هغه کس په شان دے څوک چې د **اللّٰه** پاک په لاره کښې یو اُوښ صَدَقه (یعني خیرات) کړي، او د هغهٔ نه پس راتلونکے د هغه کس په شان دے څوک چې یوه غوا صَدَقه کړي، د هغهٔ نه پس والا کس د هغه کس په مِثل دے څوک چې ګډ صَدَقه کړي، بیا د هغهٔ په مثل څوک چې چرګه صَدَقه کړي بیا د هغه په مثل څوک چې هګئ صَدَقه کړي او چې کله اِمام (د خُطبې د پاره) کښیني نو هغه (فرښتې) اعمال نامې راونغاړي او راشي خُطبه اوري.'' (بُخاری ج١ ص ٣١٩ حدیث ٩٢٩)

## شرحِ حدیث

حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه فرمائي: بعضې عُلَماؤ فرمائیلي دي چې فرښتې د **جُمُعې** د فجر [یعني د سحر] راختو نه ودریږي، د بعضو په نِزد د نمر د راختو نه، خو حق دا دے چې د نمر د تیریدو (یعني د ماسپښین د وخت د شروع کیدو) نه [ودریدل] شروع کیږي ځکه چې د هُم دغه وخت نه د جُمُعې [د نمانځهٔ] وخت شروع کیږي، معلومه شوه چې هُغه فرښتو ته د ټولو راتلونکو نومونه معلوم وي، یاد ساتئ چې په وړومبي وخت سل کسان [په یو بل پسې] یو ځائے جومات ته راشي نو هغه ټول اَوَّل [وخت کښې راتلونکي] دي. (مِراٰة ج٢ ص ٣٣٥)

## په اوله صَدئ کښې د جُمُعې جذبه

حضرتِ سَیِّدُنا اِمام محمّد بِن محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه فرمائي: په اوله صَدئ

کنبې به [د هرې جُمُعې په شپه] د پيشمنې په وخت کنبې او د سحر نه پس لارې د خلکو نه ډکې ښکاريدې، هغوئي به ډيوې راغستې وې او [د شپې يا سحر وختې به] د (جُمُعې د نمانځۀ) د پاره جامِع مسجِد طرف ته روان وو لکه د اختر ورځ چې وي، تر دې چې دا (يعنې د جُمُعې نمانځۀ له د زر تللو) سلسله ختمه شوه. پس وائي چې په اِسلام کنبې چې کوم اولنے بِدعت ښکاره شو هغه جامِع مسجِد طرف ته زر تلل پريښودل دي. افسوس! مسلمانانو ته د يهوديانو نه حيا نه ورځي چې هغوئي خپلو عبادت خانو ته د خيالي او اِتوار په ورځ سحر وختي ځي او د دُنيا طلبګار د اخستلو او خرڅولو او د دُنياوي فائدو حاصلولو د پاره سحر وختي بازارونو ته روان شي نو د آخِرت طلب کوونکي د هغوئي سره مقابله ولې نۀ کوي! (اِحياءُ الْعُلوم ج١ ص٢٤٦)

## د غريبانو حج

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن عَبّاس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا رِوايت کوي چې سرکارِ نامدار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: "اَلْجُمُعَةُ حَجُّ الْمَسَاكِيْن" يعنې د **جُمُعې** نمونځ د مِسکينانو حج دے او په بل رِوايت کنبې دي چې "اَلْجُمُعَةُ حَجُّ الْفُقَرَاءِ" يعنې د **جُمُعې** نمونځ د غريبانو حج دے.

(جَمْعُ الْجَوَامِع ج٤ ص٨٤ حديث ١١١٠٨ تا ١١١٠٩)

## د جُمُعې د پاره وختې وتل حج دے

د **الله** پاک آخري رسُول صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "بيشکه ستاسو د پاره د هرې **جُمُعې** په ورځ کنبې **يو حج** او **يوه عُمره** موجوده ده، لِهٰذا د **جُمُعې** د نمانځۀ د پاره زر وتل **حج** دے او د **جُمُعې** د نمانځۀ نه پس د مازيګر د نمانځۀ د پاره اِنتِظار کول **عُمره** ده." (السُّنَنُ الکبرٰی لِلبَيهَقِي ج٣ ص٣٤٢ حديث ٥٩٥٠)

## د حج او عُمرې ثواب

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد بِن محمد بن محمد غزالي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: (د جُمُعې د نمانځۀ نه پس) د مازيګر نمانځۀ ادا کولو پورې دې په جومات کنبې ايسار شي او که د ماښام د

نمانځهٔ پورې ایسار شي نو غوره ده. وائي چا چې په جامِع مسجِد کښې (د **جُمُعې** د نمانځهٔ ادا کولو او هُم هلته د ایساریدو نه پس) د مازیګر نمونځ ادا کړو د هغهٔ د پاره د **حج** ثواب دے او څوک چې (هم هلته ایسار شو او د) ماښام نمونځ یــې ادا کړو د هغهٔ د پاره د حج او عُمرې ثواب دے. (اِحیاءُ الْعُلوم ج۱ ص۲۴۹) کوم ځائے [یعنې کوم جومات کښې] چې د جُمُعې نمونځ ادا کیږي هغې ته "جامِع مسجِد" وائي.

## د ټولو ورځو سردار

د نبئِ اکرم، رسُولِ **مُحترم** صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د **جُمُعې** ورځ د ټولو ورځو سرداره ده او د **الله** پاک په نِزد د ټولو نه لویه ده او هغه د **الله** تعالیٰ په نِزد د **عِیدُ الْاَضْحٰی** [یعنې غټ اختر] او **عِیدُ الْفِطْر** [یعنې واړه اختر] نه لویه ده. په دې کښې پینځهٔ خصوصیات دي: ﴿۱﴾اللّٰه تَبَارَکَ وَتعالیٰ په هُم دې کښې آدم (عَلَیْہِ السَّلَام) پیدا کړو او ﴿۲﴾ په هم دې کښې یــې هغوئي ځمکې ته راکوز کړلو او ﴿۳﴾ په هم دې کښې یــې هغوئي ته وفات ورکړو او ﴿۴﴾ په دې کښې یو ساعت داسې دے چې بنده هغه وخت د څه څیز سوال کوي هغه ته به هغه ورکوي تر څو چې د حرامو سوال اونکړي او ﴿۵﴾ په هم دې ورځ کښې به قیامت قائمیږي. یوه مُقَرَّبه فرِښته او آسمان او ځمکه او هوا او غر او دریاب داسې نشته چې د **جُمُعې** د ورځې نه نهٔ ویریږي." (اِبنِ ماجه ج۲ ص۸ حدیث۱۰۸۴)

## د ځناورو د قیامت نه ویره

په یو بل رِوایت کښې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا هُم فرمائیلي دي چې یو ځناور هُم داسې نشته چې د **جُمُعې** په ورځ د سحر په وخت د نمر راختو پورې د قیامت د ویرې نه چغې نهٔ وهي، سِوا د اِنسان او پیرې نه. (مُؤَطا اِمام مالِک ج۱ ص۱۱۵ حدیث۲۴۶)

## دُعا قبلیږي

د سرکارِ مدینهٔ مُنَوَّره، سردار مَکهٔ مُکرَّمه صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: په **جُمُعَه**

کښې يو داسي ساعت دے چې که يو مسلمان هغه اوموي او هغه وخت د **الله** تعالیٰ نه څه اوغواړي نو **الله** تعالیٰ به يې هغهٔ ته ضرور ورکوي او هٰغه ساعت مختصر دے. (صحيح مُسلِم ص٤٢٤حديث٨٥٢)

## د مازيګر او ماښام تر مينځه يې اولټوئ

د حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "د **جُمُعې** په ورځ چې د کوم ساعت خواهِش کيږي هغه د مازيګر نه پس د نمر پريوتو پورې اولټوئ." (ترمِذی شريف ج٢ ص٣٠حديث٤٨٩)

## د صاحِبِ بهارِ شريعت اِرشاد

**حضرتِ** مولانا محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د دُعا قبليدو په باره کښې دوه قولونه قوي دي: ﴿١﴾ د اِمام د خُطبې د پاره کښيناستو نه د نمونځ ختميدو پورې. [او] ﴿٢﴾ د **جُمُعې** وروستے (يعني آخرے) ساعت. (بَهارِ شرِيعَت ج١ ص٧٥٤)

## حِکايَت

**حضرتِ** سَيِّدَتُنا فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللهُ عَنْهَا به هٰغه وخت پخپله حُجره کښې کښيناستله او خپله خادِمه فِضَّه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا به يې بهر ودروله، چې کله به نمر په پريوتو شو نو خادِمې به هغې رَضِیَ اللهُ عَنْهَا ته خبر ورکړو، د هغې په خبر به **سَيِّده** رَضِیَ اللهُ عَنْهَا د دُعا د پاره خپل لاسونه پورته کړل. (مِراٰة ج٢ ص٣٢٠) **بهتره دا ده چې په دې ساعت کښې (څه) جامِع دُعا وکړي** لکه دا قُرآني دُعا: رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنۡيَا حَسَنَةً وَّفِي الۡاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿٢٠١﴾ (پ٢، اَلبَقَرة٢٠١)

([مَفهُوم] ترجمۂ کنزُ الاِيمان: اے زمونږه **ربه** مونږ ته په دُنيا کښې خير راکړې او مونږ ته په آخِرت کښې خير راکړې او مونږه د دوزخ د عذاب نه وساتې) (مِراٰة ج٢ ص٣٢٥)

د دُعا په نِيَّت درود شريف هم لوستے شئ ځکه چې دُرُود شريف هم عظيمُ الشَّانه دُعا ده.

## په هره جُمُعَه کښې يو کروړ او ٤٤ لاکه د جهنَّم د وور نه آزاد

د مدينے د سردار صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارک دے: د **جُمُعې** په ورځ او شپه کښې

خلور وِیشت ساعته (یعنې 24 ګینټې) دي، یو ساعت هُم داسې نشته چې په هغې کښې **الله** تَبَارَکَ وَتَعالٰی د جهنَّم نه شپږ لکه نه آزادوي، په چا چې جهنّم واجِب شوے وو. (مُسْنَدَ اَبِی یَعْلٰی ج۳ ص۲۳۵، ۲۹۱ حدیث۳۴۲۱، ۳۴۷۱)

## د عذابِ قبر نه محفوظ

تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: څوک چې د **جُمُعې** په ورځ یا د **جُمُعې** په شپه مړ شي د عذابِ قبر نه به بچ کړے شي او د قیامت په ورځ به داسې راځي چې په هغه به د شهیدانو مُهر وي. (حلیةُ الْاَوْلِیَاء ج۳ ص۱۸۱ حدیث۳۶۲۹)

## د جُمُعې نه بلې جُمُعې پورې د ګناهونو معافي

د **حضرتِ** سَیِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوایت دے چې د سُلطانِ دوجهان صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د **جُمُعې** په ورځ ولامبي او د کوم طَهارت (یعنې پاکیزګۍ) اِستِطاعَت (یعنې وَس) چې لري هغه وکړي او تیل ولګوي او په کور کښې چې کومه خوشبو وي هغه اومږي او بیا د نمانځهٔ د پاره اوځي او په دوو کسانو کښې جُدائي اونکړي یعنې دوه کسان که ناست وي نو هغوئي نه جُدا کوي او په مینځ کښې یې نه کښیني او کوم نمونځ چې د هغه د پاره لیکلے شوے دے هغه وکړي او اِمام چې کله خُطبه لوَلي نو خاموشه اوسي د هغه د پاره به د هغه ګناهونو، کوم چې د دې **جُمُعې** او بلې **جُمُعې** تر مینځه دي بخښنه وشي. (بُخاری ج۱ ص۳۰۶ حدیث۸۸۳)

## تذکره د حضرت سَلمان فارسي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ

اے د صحابه او اَهلِبَیتو عاشقانو! اوس چې تاسو کوم حدیثِ پاک واوریدو د هغې راوي (یعنې بیانوونکے) د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عظیم صحابي حضرتِ سَیِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دے. صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان سره خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل مَحبَّت

اظهار په دې فرمانِ عالي شان کښې کوي ”څوک چې ما سره مَحَبَّت کوي هغهٔ ته پکار دي چې زما صحابه سره مَحَبَّت وکړي.“ (تفسیرِقرطبی ج٦ ص٢٠٣) د حضرتِ سَیِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ کنيَت ابو عبدُالله دے. هغوئي ته حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم [د غُلامئ] نه آزادي ورکړې وه، هغوئي نسلًا فارسي وو، د فارس ښار د اِصفَهان د علاقې اوسيدونکے وو، د دِين په تلاش کښې يې خپل وطن پريښودو او پرديسي جوړ شو، اول عيسائي جوړ شو، د هغوئي کتابونه يې ولوستل، ډير مصيبتونه پرې تير شولو، تر دې چې بعضو عَرَبو غُلام جوړ کړو او په يهودو يې خرڅ کړو، د هغوئي مالِک هغوئي مُکاتَب کړلو. حُضُور نَبِيِّ کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي ”مالِ کتابَت“ (يعني د آزادئ د پاره مقرر شوے مال) ادا کړو او هغوئي يې آزاد کړلو، هغوئي د لسو نه زياتو مالِکانو سره وخت تير کړے وو تر دې چې حُضُورِ انور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته را ورسيدو (مِراٰۃُالْمَنَاجِیح ج٨ ص٣٣) ”**مُکاتَب**“ هُغه غُلام ته وائي چا چې خپل مالِک سره د څه مال په بدله کښې د آزاديدلو مُعاهَده کړې وي. (جَوْهَره جز٢ ص ١٤٢ مُلَخَّصاً)

## د آزادئ نه پس په ټولو غَزواتو کښې شرکت

حضرتِ سَیِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د غُلامئ په زنځيرونو کښې د نښتلو په وجه په غَزوۂ اُحُد کښې حِصَّه وانخستے شوه، بيا درې سوه د کجورو وَنې او څلويښت اوقِيه سرهٔ زر د هغوئي په بدله کښې ورکړے شو او آزاد شولو او د يو جانباز [يعني ځان قُربانوونکي] مُجاهِد په شان يې وروسته راتلونکو ټولو غَزَواتو کښې حِصَّه واخستله. (اِبنِ عَساکر ج٢١ ص ٣٨٨، ٣٨٩ مُلَخَّصاً) غَزوۂ خَندَق کښې د خَندَق [يعني کند] کنستلو مشوره هُم هغوئي ورکړې وه. (طبقاتِ اِبنِ سَعْد ج٢ ص٥١)

## د سَیِّدُنا سَلمان فارسی شان

سیِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ حُضُور نَبِيِّ کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره ډير زيات مَحَبَّت

لرلو، د خپل وخت زياته حِصَّه به يـې په دربارِ رِسالت کښې تيروله او فيضانِ مُصطَفٰی به يـې حاصلولو، د دې په بدله کښې يـې د دربارِ رِسالت نه سَلْمَانُ مِنَّا اَهْلَ الْبَیْت يعني سلمان زمونږه د اَهلِبَيت نه دے. (مُسنَد بزار ج ۱۳ ص ۱٤۰ حديث ٦٥٣٤) په شان د خوشخبرئ اوريدلو سعادت حاصل کړو، په يو بل مقام کښې يـې دا عظيم بِشارت حاصل کړو چې، ”جَنَّت د سَلمان فارسي مُشتاق (يعني آرزومند) دے.“ (ترمِذِی، ج۵ص٤۳۸حديث۳۸۲۲)

## د سادګۍ عجيبه حِکايت

د رسولِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ظاهري وفات نه پس حضرت سيِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ څه مودې پورې په مدينهٔ مُنَوَّره کښې اوسيدلو، بيا د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په دَورِ خِلافت کښې يـې په ”عِراق“ کښې اوسيدل اختيار کړل. څه موده پس حضرتِ عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هغوئي د ”مَدائِن“ ګورنر مُقرر کړلو. د ګورنر په اَهَمه او غټه عُهده باندې د فائز کيدو باوجود يـې ډير ساده ژوند تيرولو، يوه ورځ هغوئي د ”مَدائن“ په بازار کښې روان وو چې يو ناواقفه کس هغوئي مزدور اوګڼلو او د خپل سامان وړلو د پاره يـې ورته اُووئيل، هغوئي خاموشۍ سره د هغوئي سامان اوچت کړو او په هغه پسې شاته روان شولو. چې خلکو وليدو نو اُو يـې وئيل چې: اے صحابي رسول! تاسو دا پيټے ولې راخستے دے؟ راوړئ چې مونږه يـې يُوسو. د سامان مالِک چې دا وليدل نو حيران پاتې شو، بيا ځان سره ډير زيات ملامته شو او د هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه يـې مُعافي اوغوښتله او سامان يـې ترينه کوزول غوښتل خو هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اُوفرمائيل چې: ما ستا د سامان وړلو نِيَّت کړے وو، اوس به دا ضرور ستا کور ته رسووم. (طبقات اِبنِ سعد ج ٤ ص ٦٦)

## ټوله تنخواه به يـې په مِسکينانو تقسيموله

حضرت سيِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ به د **اللّٰه** په لار کښې مال خرچ کول ډير زيات خوښول، چنانچه د تنخواه په طور به يـې څلور پينځهٔ زره دِرهمه اخستل خو پوره تنخوا به يـې په مِسکينانو تقسيموله او ګځپله به يـې د کجورو د پاڼو نه ټوکرۍ جوړولې او يو څو

دِرهمه به يې ګټل او په هغې به يې خپله ګُزاره کوله. (طبقاتِ ابنِ سعد ج ٤ ص ٦٥) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ہمیں عزت عنایت ہو کبھی خوار مت کرنا
خدا! سلمان کا صدقہ، ہماری مغفرت کرنا

مونږه کله هُم خوار نهٔ کړې را ته راکړې ډير عِزَّت
پاکه ربّه په خاطر د سَلمان زمونږه وکړې مغفرت

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د 200 کالو د عبادت ثواب

په خپل اُمَّت باندې مهربانه خوږ خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: څوک چې د جُمُعې په ورځ ولامبي د هغهٔ ګناهونه او خطاګانې ورانې [يعنې معاف] کړے شي او چې کله [د جُمُعې نمانځهٔ له] روان شو نو په هر قدم ورله شل نيکئ ليکلے کيږي. (مُعْجَم كَبِير ج ١٨ ص ١٣٩ حديث ٢٩٢) او بل روايت کښې دي چې: په هر قدم باندې ورله د شلو کالو عمل ليکلے کيږي او چې کله د نمانځهٔ نه فارِغه شي نو هغهٔ ته د دوو سوو کالو د عمل اجر ورکولے کيږي.
(مُعْجَم اَوْسَط ج ٢ ص ٣١٤ حديث ٣٣٩٧)

## مرحوم مور و پلار ته هره جُمُعَه اعمال پيش کيږي

د دوارو جهانو سردار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: د ګُل او زيارت په ورځ د **اللّٰه** تعالیٰ په بارګاه کښې اعمال پيش کيږي او د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ السَّلَام او د مور او پلار په وړاندې په هره **جُمُعَه**. هغوئې په نيکو خوشحاليږي او د هغوئې د **مخونو** صفائي او ځليدل زيات شي، نو د **اللّٰه** تعالیٰ نه وډ ويريږئ او خپلو وفات شوو [کسانو] ته په **خپلو ګناهونو** غم مه رَسوئ. (نَوَادِرُ الْاُصُول ج٢ص٢٦٠)

# د جُمُعې پينځهٔ خُصوصي اَعمال

د **حضرتِ** سَيِّدُنا اَبُو سعِيد رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه رِوايت دے چې د سردارِ دوعالَم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مُباک دے: پينځهٔ څيزونه چې څوک په يوه ورځ وکړي **اللّٰه** تعالیٰ به هغه جنَّتي اوليکي ﴿۱﴾ څوک چې د مريض تپوس له لاړ شي ﴿۲﴾ چې د جنازې په نمونځ کښې حاضر شي ﴿۳﴾ چې روژه اونيسي ﴿٤﴾ چې **جُمُعې** [يعنې د جُمُعې نمانځهٔ] له لاړ شي او ﴿٥﴾ غُلام آزاد کړي. (الاحسان بترتيب صحيح اِبنِ حبّان ج٤ ص١٩١ حديث٢٧٦٠)

# جَنَّت واجِب شو

د **حضرتِ** سيِّدُنا اَبُو اُمامه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه رِوايت دے چې د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالِيشان دے: چا چې د **جُمُعې** نمونځ وکړو، د هٔغه ورځې روژه يې اونيوله، د يو مريض تپوس يې وکړو، په يوه جنازه کښې حاضِر شو او په يو نِکاح کښې شريک شو نو جنَّت د هغه د پاره واجِب شو. (مُعۡجَمُ کبِير ج٨ ص٩٧ حديث٧٤٨٤)

# صِرف د جُمُعې روژه مهٔ نيسئ

په خُصُوصِيَّت سره صرف د **جُمُعې** يا صرف د خيالي روژه نيول مَکرُوهِ تَنزِيهی دي. خو که په کوم **مخصوص** تاريخ **جُمُعَه** راغله يا خيالي راغے نو بيا کراهَت نشته مَثَلًا پينځلَّسم شَعۡبَانُ الۡمُعَظَّم يا اوووه وِيشتم رَجَبُ الۡمُرَجَّب وغيره. **فرمانِ مُصطَفیٰ** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: د **جُمُعې** ورځ ستاسو د پاره اختر دے په دې ورځ روژه مهٔ نيسئ خو دا چې د دې نه **مخکښې** يا وروسته هُم روژه ونيسئ. (اَلتَّرغِيب وَالتَّر هِيب ج٢ ص٨١ حديث١١)

# د لسو زرو کالو د روژو ثواب

اَعلیٰ حضرت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: د **جُمُعې** د ورځې روژه يعنې چې د دې سره د پنجشنبې (يعنې د زيارت) يا د شَنبې (يعنې د خيالي روژه) هُم شامِله وي نو رِوايت دے چې **د لسو زرو کالو د روژو هومره ده.** (فَتَاوٰی رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج١٠ ص٦٥٣)

## د جُمُعې روژه کله مکرُوه ده؟

د **جُمُعې** روژه په هر صورت کښې مکروه نۀ ده، خو هغه صرف په دې صُورت کښې [مکرُوه] ده چې کله څوک په خُصوصِیَّت سره د **جُمُعې** روژه اونیسي. چنانچه په دې باره کښې چې د **جُمُعې** روژه کله مکرُوه ده. د **فَتَاوٰی رَضَوِیّه مُخَرَّجه** جِلد 10 صفحه 559 نه **سوال او جواب** اوګورئ،

**سوال:** څه فرمائي عُلَمائے دِین په دې مسئَله کښې چې د **جُمُعې** نفلي روژه نیول څنګه دي؟ یو کس د **جُمُعې** روژه اونیوله بل هغۀ ته اوونیل: **جُمُعه عِیدُ الْمُؤمِنِین** [یعني د مُؤمِنانو اختر] دے، روژه نیول په دې ورځ مَکرُوه دي او په اِصرار [یعني په کوشش] یې پرې د غرمې نه پس روژه ماته کړه.

**جواب:** د **جُمُعې** روژه خاص په دې نِیَّت چې نن **جُمُعَه** ده، د دې روژه په تخصِیص [یعني خُصُوصِیَّت] سره نیول غوارې مَکرُوه ده خو هغه کراهَت نۀ دے چې ماتول یې لازم شو، او که د خاص تخصِیص نِیَّت یې نۀ وو نو اَصلًا [یعني د سره پکښې] کراهَت هُم نشته، هغه بل کس ته که د نِیَّتِ مَکرُوهه خبر نۀ وو نو بیا خو اِعتِراض کول د سره حَماقت [یعني بې وقوفي] ده، او روژه ماتول په شَرع باندې سخت جُرأت دے، او که [د تخصِیص د نِیّت] خبر ورته شوے وو نو بیا هم صرف مسئَله ښودل کافي وو دا نۀ چې روژه ماتول، او هغه هُم د غرمې نه پس، چې د هغې اختیار په نفلي روژو کښې د مور او پلار نه سِوا هیچا ته نشته، ماتولو والا او په هغه باندې ماتوونکے دواړه ګنهګار شو، په ماتولو والا باندې قضا لازِم ده او کفَّاره پرې اَصلًا نشته. وَاللّٰہُ تَعَالٰی اَعْلَم.

## مَدَني انداز لیدلو نه مُتأَثِّر شو

د جُمُعې په ورځ د مختلفو نیکو د ثواب ګټلو حِرص زیاتولو د پاره او د دُرُود و سلام د

کثرت جذبه حاصلولو د پاره د "دعوتِ اسلامي" ديني ماحول سره هر وخت خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ. ستاسو د ترغِيب د پاره يو "مَدَنـي سپرلے" وړاندې کيږي. چنانچه د ډهرکي (ضلع ګهوټکي، سندهـ) يو اِسلامي ورور ديني ماحول ته د راتلو نه مخکښې لوفرئ او جينکو سره د دوستئ په چکر کښې اخته وو. شپه او ورځ به يې په ساؤنډ سسټم په اوچت آواز سندرې اوريدلې. د کور کسانو به پوهه کولو خو دۀ به په يو غوږ واوريدله او په بل غوږ به يې اُووِيستله. يوه ورځ يو ځائے کښې چا سره ناست وو چې د نعت شريف آواز يې واوريدو او ډير زيات يې خوښ شو، دے په آواز پسې روان شو او تلو تلو محفِلِ نعت ته ورسيدو، څه ګوري چې هلته سپين لباس اغوستے، په سر عمامه شريفه او سپين څادر په سر کړے يو د ذُلفو او ږيرې والا نعت خوان نعت وائي. د دۀ په زړۀ يې ډير اثر وکړو [او سوچ يې وکړو] چې زما لا څه ژوند دے! د ژوند خوند خو دوئي واخستو چې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په عشق کښې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّتو عمل کوي. په هغه محفِلِ نعت کښې په ناسته ناسته يې د نمونځ کولو پوخ نِيَّت وکړو او نمونځ کول يې هُم شروع کړو، بيا ورته يو اشنا کس د دعوتِ اسلامي زير اِنتِظام کيدونکې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک په اِعتِکاف کښې د شامليدو ترغيب ورکړو، هغه خو د مخکښې نه د دعوتِ اسلامي والؤ شيدائي جوړ شوے وو څکه فوراً راضي شو. په اِعتِکاف کښې يو کلام اووئيلے شو "*کاش کہ نہ دُنیا میں، پیدا میں ہوا ہوتا*" [يعنې کاش چې زۀ هډو په دُنيا کښې پيدا شوے نۀ وے] دا يې چې واوريدو نو په ژړا شو، بيا د مازيګر د نمانځۀ نه پس د فِکرِ آخرت مُتَعَلِّق بيان وشو نو د زړۀ يې بې قراره شو او د تيرو ګناهونو نه يې پخه توبه وکړه. د هغې نه پس يې ږيره او [د سُنَّتو مطابق] زُلفې پريښودې او د عمامې شريفې تاج يې هُم په سر کړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه د اِعتِکاف نه پس يې په خپله علاقه کښې د "صدائے مدينه" لګولو په ذريعه مسلمانان د سحر نمانځۀ ته راوېښول شروع کړل. د دعوتِ اسلامي په کار کولو کولو کښې د يوې حلقې ذِمَّه دارئ ته هُم ورسيدو.

گیت گانے کی عادت نکل جائے گی
دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
بے حیا بک بک کی خصلت بھی ٹل جائے گی
دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٢)

ختم به مو شي د سندرو وئيلو عادت
ديني ماحول کښې وکړئ اِعتِکاف
ختم به مو شي د بې ځايه وَينا عادت
ديني ماحول کښې وکړئ اِعتِکاف

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د جُمُعې په ورځ د مور و پلار قبر ته د حاضريدو ثواب

د رَسُولِ اَكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د خپل مور او پلار دواړو يا د يو قَبْر ته د **جُمُعې** په ورځ د زيارت [يعنې ليدلو] د پاره حاضِر شي، **الله** تَعَالٰى به د هغهٔ ګناهونه اوبخښي او د مور و پلار سره به ښهٔ سُلوک کولو والا اوليکلے شي. (مُعْجَم اَوْسَط ج٤ ص٣٢١ حديث ٦١١٤)

## د مُور و پلار قبر ته د "سُورۃ یٰسٓ" لوستلو فضيلت

حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: څوک چې د **جُمُعې** په ورځ د خپل مور او پلار يا د يو د قَبْر زيارت وکړي او د هغې خوا ته یٰسٓ ولولي نو هغه [يعنې لوستونکے] به اُوبخښلے شي. (اَلکامِل فِي ضُعَفَاءِ الرِّجال ج٦ ص٢٦٠)

## درې زره مغفرتونه

د دواړو جهانو د سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې هره **جُمُعَه** د مور او پلار يا د يو د قَبْر زيارت وکړي، هلته یٰسٓ ولولي، په یٰسٓ (شريف) کښې چې څومره حُرُوف دي د هغه تولو د شمير هومره به **الله** تعالیٰ د هغه د پاره مغفِرت [يعنې بخښنې] وکړي. (اتحاف السادۃ ج١٤ ص٢٧٢) خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! هره **جُمُعَه** مُبارَکه د وفات شوو مور او پلار يا

په هغوئي کنبې د يو قبر ته د حاضريدلو او د يٰسٓ شريف لوستلو والا خو بيړئ پوريږوتله.
اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه په يٰسٓ شريف کنبې پينځۀ رکوع 83 آيتونه 729 کلِمات او 3000 حُروف دي
اِنۡ شَآءَاللّٰه د درې زره بخښنو ثواب به ورته حاصليږي.

## د جُمُعې په شپه د يٰسٓ لوستونکي به بخښنه کيږي

**فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: خوک چې د **جُمُعې** په شپه يٰسٓ ولولي د هغه بخښنه به وشي. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج۱ ص۲۹۸ حديث٤)

## رُوحونه جمع کيږي

د **جُمُعې** په ورځ رُوحونه جمع کيږي لِهٰذا په دې کنبې د قبرونو زيارت کول پکار دي او په دې ورځ باندې [د] جهنَّم [وور] نه تيزولے کيږي. (دُرِّمُختار ج۳ ص٤٩) **اَعلٰی حضرت اِمام اَحمد رضا خان** رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: (د قبرونو) د زيارت افضل [يعنې غوره] وخت د **جُمُعې** په ورځ د سحر د نمانځۀ نه پس دے. (فتاوٰی رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج۹ ص٥٢٣)

## د "سُورَةُ الۡكَهۡف" فضيلت

د صَحابي اِبنِ صَحابي حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمر رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُمَا نه رِوايت دے: د نبئ رَحمت، تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عظيم فرمان دے: خوک چې د **جُمُعې** په ورځ سُورَةُ الۡكَهۡف ولولي د هغۀ د بنپو نه د آسمانه پورې به نُور اوچتيږي او هغه به د قيامت په ورځ د هغۀ د پاره روښانه کيږي او د دوارِو جُمُعو تر مينځه چې څه ګناهونه شوي دي هغه به اوبخښلے شي." (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج۱ ص۲۹۸ حديث۲)

## د دوارِو جُمُعو تر مينځه نُور

د **حضرتِ** سَيِّدُنا اَبُو سعِيد رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه رِوايت دے چې، د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ نُورٌ عَلٰی نُور دے: "خوک چې د **جُمُعې** په ورځ سُورَةُ الۡكَهۡف ولولي د هغه د پاره به د دوارِو

**جُمُعو** تر مینځه نُور روښانه کیږي." (اَلسُّنَنُ الکبرٰی لِلبَیہَقِی ج۳ ص۳۵۳ حدیث۵۹۹۶)

## د کعبې پورې نُور

په **یو** رِوایت کښې دي څوک چې سُورةُالْکَهْف د **جُمُعې** په شپه ولولي د هغه د پاره به د هٰغه ځائے نه د **کعبې پورې نُور** روښانه شي." (سُنَنِ دارِمی ج۲ ص۵٤٦ حدیث۳٤۰۷)

## د "سُوْرَۃُ حٰمٓ اَلدُّخَان" فضِیلت

د **حضرتِ** سیِّدُنا اَبُو اُمامه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه رِوایت دے: د مدینے د تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د **جُمُعې** په ورځ یا د **جُمُعې** په شپه سُوْرَۃُالدُّخَان ولولي د هغهٔ د پاره به **الله** تعالیٰ په جنَّت کښې یو کور جوړکړي. (مُعۡجَمُ کبِیر ج۸ ص۲٦٤ حدیث۸۰۲٦) په **یو** رِوایت کښې دي چې د هغهٔ بخښنه به وشي. (ترمِذی ج٤ ص٤۰۷ حدیث۲۸۹۸)

## د اویا زره فرښتو اِستِغفار

د سَیِّدُ الْمُرسَلِین، رَحۡمَةٌ لِّلۡعٰلَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "څوک چې د شپې سُوْرَۃُالدُّخَان ولولي نو سحر کیدو پورې د هغهٔ د پاره اویا زره (70000) فرښتې اِستِغفار کوي." (اَیضاً ج٤ ص٤۰٦ حدیث۲۸۹۷)

## د جُمُعې په ورځ د سحر د نمانځهٔ نه مخکښې د اِستِغفار فضیلت

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوک چې د **جُمُعې** په ورځ د سحر د نمانځهٔ نه مخکښې درې ځله اَسۡتَغۡفِرُ اللّٰهَ الَّذِیۡ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ وَاَتُوۡبُ اِلَیۡهِ ولولي د هغهٔ ګناهونه به اوبخښلے شي اګر که د سمندر د زګ نه زیات وي. (مُعۡجَمُ اَوۡسَط ج۵ ص۳۹۲ حدیث۷۷۱۷)

## د جُمُعې د نمانځهٔ نه پس

اَللّٰه تَبَارَکَ وَتَعَالٰی په سیپاره ۲۸ سُوۡرَۃُ الۡجُمُعَه آیت ۱۰ کښې ارشاد فرمائي:

فَاِذَا قُضِیَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِی الْاَرْضِ وَ ابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَ اذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِیْرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ﴿۱۰﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: بیا چې کله (د جُمعې) نمونځ وشي نو په ځمکه کښې خواره شئ او د **الله** فضل ولټوئ او **الله** ډیر یاد کړئ په دې اُمّید چې کامیابي اومومئ.

صَدْرُالْاَفَاضِل حضرتِ علّامه مولانا سیِّد **محمّد** نعیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه د دې آیت نه لاندې په تفسیر **خَزَائِنُ الْعِرفَان** صفحه 1025 کښې فرمائي: بیا (یعني د جُمعې د نمانځۀ نه پس) ستاسو د پاره جائِز دي چې د مَعاش په کارونو کښې مشغُول شئ یا د عِلم په حاصلولو یا د مریض په تپوس یا جنازه کښې د شِرکت یا د عُلَماؤ په زیارت کولو یا د دې په شان [نورو] کارونو کښې مشغُول شئ او نیکئ حاصلې کړئ.

## د جُمعې د نمانځۀ سُنَّتونه [او مستحبّات]

د **جُمعې** د نمانځۀ د پاره په اوَّل وخت کښې تلل، **مِسواک** کول، ښې او **سپینې** جامې اغوستل، **تیل** او **خوشبُو** لګول او په **وړومبي** صف کښې کښیناستل مُستَحب دي او **غُسل** کول سُنَّت دي. (عالمګیری ج۱ ص۱۴۹، غُنیه ص۵۵۹)

## د جُمعې د غُسل وخت

مشهور **مُفَسِّر حَکیمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه فرمائي: بعضې عُلَمائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰه فرمائي چې د **جُمعې** د ورځې غُسل د [جُمعې د] نمانځۀ د پاره مسنُون [یعني سُنَّت] دے، د **جُمعې** د ورځې د پاره نۀ. لِهٰذا په چا چې د **جُمعې** نمونځ نشته د هغوئې د پاره دا غُسل سُنَّت نۀ دے، بعضې عُلَمائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰه فرمائي چې د **جُمعې** غُسل د **جُمعې** نمانځۀ ته نزدې کوئ تر دې چې د هغې په اوداسه د **جُمعې** نمونځ وکړئ خو حق دا دے چې د **جُمعې** د غُسل وخت د سحر د راختو نه شروع کیږي. (مِراٰۃ ج۲ ص۳۳۴) معلومه شوه

چي زنانه او مسافر وغيره په چا چي د **جُمُعې** نمونځ واجِب نهٔ دے د هغوئي د پاره د **جُمُعې** غُسل هم سُنَّت نهٔ دے.

په چا چي **نمونځ** فرض دے خو د څه شرعی عُذر په وجه پرې **جُمُعه** فرض نهٔ وي، نو هغه ته د **جُمُعې** په ورځ د ماسپښين **نمونځ** معاف نهٔ دے هغه به ضرور کوي.

## د جُمُعې غُسل سُنَّتِ غير مُؤکده دے

**حضرتِ** علّامه اِبنِ عابِدِين شامي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د **جُمُعې** د نمانځهٔ د پاره غُسل کول د سُنَّتِ زوائِدو نه دي، د دې په پريښودلو عِتاب (يعني مَلامَتيا) نشته. (رَدُّالمُحتار ج۱ ص۳۳۹)

## په خُطبه کښې د نزدې کښيناستلو فضيلت

**حضرتِ** سيِّدُنا **سَمُرَه** بِن جُندَب رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې، حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: حاضِر اوسئ د خُطبې په وخت او اِمام ته نزدې اوسئ ځکه چې بنده څومره لرې اوسي هغه هومره به جَنَّت کښې **وروستو** اوسي اګر چې هغه (يعني مسلمان) به جَنَّت ته ضرور داخليږي. (اَبُوداؤد ج۱ ص٤١٠ حديث١١٠٨) جَنَّت کښې **وروستو** پاتې کيدو نه مراد دا دے چې د جنت په داخليدو يا د جنت په درجو کښې به وروسته پاتې کيږي.

## نو د جُمُعې ثواب به نهٔ حاصليږي

**فرمانِ مصطفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: څوک چې د **جُمُعې** په ورځ [هٰغه وخت] خبرې وکړي کله چې اِمام خطبه ورکوي نو د هغهٔ مِثال د هٰغه خر په شان دے چې په هغهٔ کتابونه بار وي او هٰغه وخت چې څوک هغهٔ ته دا اُووائي چې "چپ اوسه" نو هغهٔ ته به د **جُمُعې** ثواب نهٔ حاصليږي. (مُسندِاِمام اَحمد ج۱ ص٤٩٤ حديث٢٠٣٣)

## خاموشئ سره خطبه اوريدل فرض دي

کوم څيزونه چې نمانځهٔ کښې حرام دي مَثَلًا خوراک څښاک، سلام او د سلام جواب

وغیره دا ټول د خُطبې په حالت کښې هم **حرام** دي تر دې چې **اَمرٌبِالْمعرُوف** [یعنې د نیکۍ دعوت هم نۀ شي ورکولے]، خو خطِیب **اَمرٌبِالْمعرُوف** (یعنې د نیکۍ دعوت ور) کولے شي. چې کله خطبه لوَلي نو په ټولو حاضرو خلکو اوریدل او خاموشه اوسیدل **فرض** دي، کوم خلک چې د اِمام نه لرې وي چې د خطبې آواز نۀ اوري په هغوئي هُم خاموشه اوسیدل **واجِب** دي که څوک په بده خبره کولو اُووینې نو د لاس یا سر په اشاره یې منع کولے شي په ژبه **ناجائِز** دي. (بَهارِ شریعَت ج۱ص ۷۷٤، دُرِّمُختار ج۳ص۳۹)

## خُطبه اوریدونکے دُرود شریف نۀ شي لوستلے

**خطِیب** چې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم مبارک واخلي نو حاضر خلک دې په زړۀ کښې درود شریف لولي په ژبه دغه وخت کښې د وئیلو اِجازت نشته، هُم دغسې د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم په مبارک ذِکر [یعنې نومونو اوریدلو] هُغه وخت رَضِیَ اللهُ عَنْهُم په ژبه د وئیلو اِجازت نشته. (بَهارِ شریعَت ج۱ ص۷۷۵ دُرِّمُختار ج۳ص٤٠)

## د نِکاح خطبه اوریدل واجِب دي

د جُمُعې د خطبې نه علاوه د نورو خُطبو اوریدل هم واجِب دي مَثَلًا د اخترو او نِکاح خُطبه وغیرهُما. (دُرِّمُختار ج۳ص٤٠)

## وړومبي اذان کیدو سره کاروبار هم ناجائِز

**وړومبي** اذان کیدو سره (د **جُمُعې** نمانځۀ له د تللو) کوشش (شروع) کول واجِب دي او **بَیْع** (یعنې اخستل خرڅول) وغیره، د هُغه څیزونو کوم چې د **سعی** (یعنې کوشش) خِلاف وي پریښودل واجِب دي. تر دې چې که په لاره روان وو او اخستل خرڅول یې وکړل نو دا هم ناجائِزه دي او په جومات کښې اخستل خرڅول خو **سخته ګناه** ده او که طعام یې خوړلو چې د **جُمُعې** د اذان آواز راغے نو که دا اندیښنه وي چې که خوري یې نو د **جُمُعې**

نمونځ به ترينه لاړ شي نو خوراک دې پريږدي او د **جُمُعې** نمانځهٔ له دې لاړ شي. د **جُمُعې** نمانځهٔ له دې په اِطمينان او وقار ځي. (بَهارِ شرِيعَت ج۱ ص ۷۷۵، عالمگيري ج۱ ص ۱۴۹، دُرِّ مُختار ج ۳ ص۴۲)

نن صبا عِلمِ دِين نه د ناخبرئ دور دے، خلک د نورو عِباداتو په شان د خطبې اوريدلو په شان عظِيم عبادت کښې هم د غَلَطئ کولو په وجه په ډيرو ګناهونو کښې اخته کيږي لِهٰذا مَدَني عرض دے چې په هره جُمُعَه دې خطِيب صاحب د اذان نه مخکښې او د خُطبې مِنبر ته ختلو نه مخکښې دا اعلان کوي:

## د "بِسۡمِ اللّٰه" د اووه حروفو په نِسبت د خطبې اووه مَدَني ګلونه

❁ په حديثِ پاک کښې دي: "څوک چې د **جُمُعې** په ورځ د خلکو په څټونو واوښتو هغهٔ جهنّم طرف ته پُل جوړ کړو." (تِرمِذی ج۲ ص۴۸ حديث ۵۱۳) د دې يوه معنٰی دا ده چې خلک به په هغهٔ د پاسه خيژي او جهنَّم ته به داخليږي. (حاشِيه بَهارِ شرِيعَت ج ۱ ص ۷۶۱، ۷۶۲)

❁ **خطيب** طرف ته مخ کړے کښيناستل سُنَّتِ صحابه دي. لِـهذا څوک چې په صفونو کښې ښي طرف او ګڅ طرف ته ناست دي هغوئي دې د خطِيب مِنبَر طرف ته تاؤ شي.

❁ **بزرګانِ دِين** رَحِمَهُمُ اللّٰه فرمائي: خطبه اوريدلو ته دې په ګونټو (يعني د اَلتَّحِيَّات په شان) کښيني، په اوله خُطبه کښې دې لاسونه اوتړي او په دويمه کښې دې په ورنونو لاسونه کيږدي نو اِنْ شَآءَاللّٰه د دوه رکعاتو ثواب به يـې وشي. (مراۃ المناجيح ج۲ ص۳۳۸)

❁ اَعلٰی حضرت اِمام اَحمد رضا خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: په خُطبه کښې چې د حُضورِ اَقدس صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم مبارک واوري نو زړهٔ کښې دې دُرُود اووائي ځکه چې په ژبه باندې خاموشي فرض ده. (فَتَاوٰی رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج ۸ ص ۳۶۵)

❁ په ”دُرِّ مُختار“ کښې دي: خطبه کښې خوراک څښاک کول، خبرې کول اګر چې سُبْحٰنَ الله وئيل، د سلام جواب ورکول يا د نيکۍ خبره ښودل **حرام** دي. (دُرِّمُختار ج٣ص٣٩)

❁ **اَعلٰی حضرت** رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: د خطبې [اوريدلو] په حالت کښې ګرځېدل **حرام** دي. تر دې چې عُلَمائے کرام رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم فرمائي چې که داسې وخت کښې راغے چې خطبه شروع شوې وه نو جومات کښې چې کوم ځائے ته رسيدلے دے هُم هلته دې ودرېږي، مخکښې دې نۀ ځي ځکه چې دا به عمل [يعنې يو کار] وي او د خُطبې په حالت کښې يو عمل هُم روا (يعنې جائز) نۀ دے. (فتَاوٰی رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج٨ص٣٣٣)

❁ **اَعلٰی حضرت** رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: په خُطبه کښې بل طرف ته ښت تاوهلو سره کتل (هم) **حرام** دي. (اَيضاًص٣٣٤)

## هغه دعوتِ اسلامي ته څنګه راغلو

د **جُمُعې** د فضائلو نه ډېره فائده اوچتولو او د منقُول قرآني سورتونو لوستلو جذبه حاصلولو د پاره د عاشِقانِ رَسُول ديني تنظيم، ”دعوتِ اسلامي“ ديني ماحول سره هر وخت خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ. اوس يو ”مَدَني سپرلے“ واورئ او خوشحاله شئ: دعوتِ اسلامي کښې شامليدو نه مخکښې د ”واه کينټ“ يو اسلامي ورور د نورو ډېرو ځلمو په شان د موبائل فون ډېر زيات شوقي وو، په موبائل کښې به يې سندرې اوريدلې، فلمونه به يې پرې کتل، د شپې ناوخته پورې به دوستانو سره بې فائدې ګرځېدو، ناوخته به اُودۀ کيدو او ناوخته به راپاڅيدو، د سحر نمونځ او نور نمونځونه به يې قضا کول. والِد صاحب يې وفات شوے وو او د مور په پوهه کولو نه سميدو. د هغوئي په مَحَلّه کښې يو څو دعوتِ اسلامي والا اوسيدل، هغوئي پرې اِنفرادي کوشش وکړو چې تاسو د عاشقانِ رَسُول په صُحبت کښې په ”فيضانِ مدينه“ کښې اِعتِکاف وکړئ، هلته ډېر څه زده کولے شئ چې په هغې کښې د نمانځۀ صحيح طريقه او قرآنِ پاک صحيح لوستل هُم شامِل دي.

داسې هغه په خپل ښار کښې موجود ”**فيضانِ مدينه**“ کښې اِعتِکاف کولو کښې کامياب شو، او چې کله د اِعتِکاف نه واپس راغلو نو اَلْحَمْدُ لِلّٰه د ګناهونو نه يـې توبه کړې وه، نمونځ کول يـې شروع کړو او د مور فرمانبرداره هُم جوړ شو او د ذيلي مُشاورت د نګران په حيثيت ورته د دعوتِ اسلامي ديني کارنو کولو سعادت هُم حاصل شو.

بھائی گر چاہتے ہو نمازیں پڑھوں — دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
نیکیوں میں تمنا آگے بڑھوں — دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٤٤)

ورونړو که نمونځونه کول غواړئ — ديني ماحول کښې وکړئ اعتکاف
که نيکو کښې وړاندې کيدل غواړئ — ديني ماحول کښې وکړئ اعتکاف

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! — صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# جَمعې سره د نمانځۀ ادا کولو فضائل

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# جَمعي سره د نمونځ ادا کولو فضائل

يا ربِّ کريم! څوک چې ”د **جَمعي** فضائل“ پوره باب ولولي يا واوري هغه د **جَمعي** د نمانځهٔ شَيدائي جوړ کړې او د هغهٔ بې حسابه بخښنه وکړې او که اسلامي خور يې ولولي يا واوري نو د هغې بې حسابه بخښنه وکړې. اٰمين

## د دُرُود شريف فضيلت

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د **الله** پاک د پاره خپل مينځ کښې مَحبَّت لرونکي چې کله يو بل سره ملاقات وکړي او لاس مِلاؤ کړي نو د هغوئې د جُدا کيدو نه مخکښې د دواړو تير شوي او راروان ګناهونه معاف کړے شي. (مُسنَدِ اَبو يَعْلٰی ج ۳ ص ۹۵ حديث ۲۹۵۱)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

اے د **نمانځهٔ عاشقانو!** د **الله** کريم په رحمت چې مونږ ته کوم بيشميره انعامات عِنايت شوي دي، اَلْحَمْدُلِلّٰه په هغې کښې نمونځ هُم يو عَظيمُ الشَّان اِنعام دے او هُم داسې د نمانځهٔ د **جَمعي** دولت هُم څه معمولي انعام نه دے، د **الله** پاک په فضل و کرم دا هُم زمونږ د پاره د بيشميره نيکو حاصلولو ذريعه ده. **الله** پاک په قرآنِ کريم **سُوْرَةُ الْبَقَرَه** آيت نمبر 43 کښې اِرشاد فرمائي:

**وَ ارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴿۴۳﴾** (پ۱، البقرة:۴۳) [مَفهوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او رُکوع کولو والؤ سره رُکوع وکړئ.

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د دې (يعني، او رُكوع كولو والؤ سره رُكوع وكړئ) مطلب دا دے چې د **جَمعي** [يعني اِمامتئ] سره نمونځ كوئ، ځكه چې د **جَمعي** نمونځ د يواځې نمانځۀ نه اووۀ وِيشت (27) درجې افضل دے. (تَفسيرِ نعيمى ج١ ص ٣٣٠)

## خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم او جَمعي سره نمونځ (حِكايت)

**اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه رِوايت دے: چې كله د سركارِ دوعالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربارِ عاليشان كښې سخته بيماري حاضِرِ خِدمت وه، نو حضرتِ بِلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د نمانځۀ اطلاع وركولو د پاره حاضر شولو نو [خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] اِرشاد اُوفرمائيلو: "اَبُوبكر ته اُووايه چې خلكو ته نمونځ وكړي." بيا چې كله حضرتِ سَيِّدُنا ابوبكر صِدِّيق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نمانځۀ **جَمعه** وركولو كښې مشغول وو نو په دې دوران كښې حضور نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپل طبيعت مبارك كښې څه بهتري محسوس كړه نو پاڅيدلو او دوو كسانو ته يې [د مرستې كولو] د خدمت سعادت وركړو او جومات ته يې داسې تشريف يوړلو چې مبارك قدمونه يې په ځمكه لګيدل، حضرتِ سَيِّدُنا ابوبكر صِدِّيق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قدمونو مباركو آواز محسوس كړلو نو شا ته كيدل يې شروع كړل، خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته اِشاره وكړه (چې شا ته مۀ راځئ) بيا هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ابوبكر صِدِّيق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كڅ طرف ته كښيناستلو، حضرتِ سَيِّدُنا ابوبكر صِدِّيق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ولاړه او هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ناسته نمونځ كولو، حضرتِ سَيِّدُنا ابوبكر صِدِّيق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اِقتِدا كښې (يعني حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پسې) نمونځ ادا كولو او خلكو د حضرتِ سَيِّدُنا ابوبكر صِدِّيق (اِقتِدا كوله). (بُخارى ج١ ص ٢٥٤ حديث ٧١٣ مُلَخَّصاً)

## مونږه هُم ډير بنۀ عاشِقانِ رَسُول يُو!

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د دې حِكايت نه زمونږه د خوږ خوږ آقا مكى

مَدَنـی مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **جَمعې** د نمانځهٔ سره د ډیر شوق لرلو اظهار کيږی چې د سختې بیمارۍ په حالت کښې يـې هُم **جَمعې** سره نمونځ ادا کړلو. او آه! اوس د عِشقِ رَسُول صرف اوچتې اوچتې دعوې پاتې شوې، افسوس! د روغ صِحَت باوجود د خلکو **جَمعه** څه چې نمونځونه هُم قضا کيږي!

پیارے نبی کی آنکھ کی، ٹھنڈک نماز ہے
جنت میں لے چلے گی جو، بے شک نماز ہے

د خـوږ نبي د سترګو دے يـخوالے دغه مونځ
جَنَّت ته چې بوتلل کوي هغه دے دغه مونځ

صَـلُّـوۡا عَـلَی الۡـحَـبِـيۡـب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د جَمعې سره فرض نمونځ په يو نظر کښې

❁ فرض نمونځ **جَمعې** سره ادا کول د **اللّٰه** پاک او د رسولِ کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په حُکم باندې عمل دے ❁ د ايماندار کيدلو ګواهي ده ❁ **اللّٰه** پاک ته **جَمعې سره** نمونځ کوونکي محبوب (يعني ګران) دي ❁ **جَمعې** سره نمونځ کول د يواځې نمونځ کولو نه 27 درجې افضل دے ❁ **اللّٰه** پاک او د هغه فرښتې **جَمعې** سره نمونځ کوونکو باندې دُرُود ليږي ❁ **جَمعې** سره د ماسخوتن نمونځ ادا کول داسې دے لکه نيمه شپه قِيام (يعني عبادت) کول ❁ **جَمعې** سره د سحر نمونځ ادا کول داسې دے لکه پوره شپه قِيام (يعني عبادت) کول ❁ **جَمعې** سره نمونځ کوونکے به پُل صِراط باندې د ټولو نه مخکښې د بجلۍ په شان تيريږي ❁ **جَمعې** سره د نمونځ ادا کوونکو شان و شوکت چې اُووِيني نو اَهلِ مَحشر به پرې رشک [يعني رَخه] کوي ❁ د هغهٔ ګناهونه به معاف کړے شي ❁ [د جَمعې نمانځهٔ له] راتلونکي ته به د هر قدم په بدله کښې ثواب ورکولے کيږي ❁ جومات طرف د تلونکي په هر قدم باندې

د هغهٔ يوه درجه اوچتيږي او ❁ يوه ګناه يــې معاف کيږي ❁ **الله** کريم به سحر او ماښام د هغهٔ د پاره د ميلمستيا اهتمام فرمائي ❁ نمانځهٔ د پاره اوچتيدونکـــے هر قدم صَدَقه ده ❁ تر څو پورې چې د نمانځهٔ انتظار کوي، په خير (يعنې نيکئ باندې) به اوسي ❁ د **الله** پاک په حفاظت کښې به وي ❁ د **الله** پاک د رضا کيدلو ذريعه ده ❁ شيطان نه به **محفوظه** اوسي ❁ په ورځ د قيامت به ورته د عرش سورے نصيب کيږي ❁ جَهنَّم، مُنافَقَت او غَفلَت نه به ورته نجات نصيب کيږي ❁ خپل مينځ کښې به يــې **مَحبَّت** زياتيږي ❁ د **جَمعې** د نمانځهٔ تـکبِيرِ اُولٰی حاصلول د سلو اُوښو حاصلولو نه بهتر دي.

خدا! سب نمازیں پڑھوں باجماعت
کرم ہو پئے تاجدارِ رسالت

خُدايا رانصيب کړې ټول مونځونه با جماعَت
وکړې داسې کرم په خاطر د تاجدارِ رِسالت

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د جَمعې د نمانځهٔ اَهَمِّيَّت

عَلّامه سيّد **مَحمُود** احمد رَضَوِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: هر عاقِل، بالِغ، حُر (يعنې آزاد) او قادِر (يعنې قُدرت لرونکـي) مسلمان (نارينه) باندې **جَمعې** سره نمونځ کول واجِب دي او بې عُذره (يعنې بغير د څه شرعي مجبورئ نه) يو ځل هُم **جَمعه** پريښودونکـــے ګنهګار دے او ډير ځله پريښودل فِسق دے بلکې د عُلَماء يوه ډله چې په هغې کښې سيِّدُنا (اِمام) اَحمد بِن حَنبل (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) هُم شامل دے هغوئې **جَمعه** فرضِ عَين ګرځوي. که فرضِ عَين اُونه منلے شي نو د دې په واجِب او ضروري کيدلو کښې خو هيڅ شک نشته. د حُضُور

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عُمومي عمل هُم دا وو چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به فرض نمونځونه **جَمعې** سره ادا کول، اِلّا (يعنې مګر) دا چې **مجبوري** به پېښه شوه. (فيوض البارى ج ٣ ص ٢٩٧ بتغير قليل)

جہنم سے یارب! اماں مانگتا ہوں — محمد کے صدقے جناں مانگتا ہوں

خوږه ربه له دوزخ راکړې امان — په خاطر د مُحَمَّد راکړې جِنان

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! — صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# الله پاک ته ګران خلک

اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْهُ فرمائي چې ما د دواړو جهانو د سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوريدلے دے چې **الله** پاک ته **جَمعې** سره نمونځ کوونکي محبوب (يعنې ګران) وي. (مُسْنَد اَحمَد بِن حَنْبَل، ج ٢ ص ٣٠٩ حديث ٥١١٢)

# د جَمعې د نمانځهٔ نه پس دُعائے حاجت قبوله ده

د حضرتِ سَيِّدُنا ابو سعيد خُدري رَضِیَ اللہُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې د **الله** پاک د آخري رَسُول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: "چې کله بنده د **جَمعې** سره نمونځ وکړي بيا د **الله** پاک نه د خپل حاجت سوال وکړي نو **الله** پاک د دې خبرې نه حيا فرمائي چې بنده د حاجت پوره کيدو نه **مخکښې** واپس لا ړ شي." (حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء ج ٧ ص ٢٩٩ حديث١٠٥٩١)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** بيشکه د حاجت پوره کيدلو د پاره **صلٰوةُ الْحاجت** کول او نور اَوراد او وظائف کول ډيره ښه خبره ده خو **جَمعې** سره فرض نمونځ ادا کولو نه پس د خپل حاجت د پاره دُعا کول بهترين عمل دے.

جماعت سے گر تو نمازیں پڑھے گا — خدا تیرا دامن کرم سے بھرے گا

که کوې د جَمعې سره ته مُدام نمونځونه
راوريږي به په تا د الله پاک رحـمتونه

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پينځۀ ويشت درجې افضل

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د نارِينه په جومات کښې **جَمعې** سره نمونځ، په کور کښې او بازار کښې کولو نه پينځۀ ويشت درجې زيات دے. (بُخاری ج۱ ص۲۳۲ حديث ٦٤٧)

## اووه ويشت (27) درجې افضل

صحابي اِبنِ صحابي حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن عُمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: "**جَمعې** سره نمونځ د يواځې کولو نه اووه ويشت (27) درجې زيات دے." (بُخاری ج۱ ص۲۳۲ حديث ٦٤٥)

## بهر مُلک ته تللو د پاره تيار وي خو...

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** فرض کړئ چې چا سره کوم مال موجود وي د هغې ورته په خپل ښار کښې سل (100) روپۍ نرخ ولګي او که هغه د سمندر نه اخوا [يعني بهر ملک ته] لاړ شي او هُم هغه مال خرڅ کړي نو **پينځۀ ويشت** سوه (2500) يا **اووه ويشت** سوه (2700) روپۍ کښې به خرڅ شي، نو يقيناً هغه به د سمندر نه اخوا تلل او هلته خپل مال خرڅول خوښوي ځکه چې پينځۀ ويشت هومره يا اووه ويشت هومره ګټه ځوک پريږدي. افسوس! چې د دُنيا دولت زياتولو د پاره خو خلک لرې لرې سفر کولو ته تيار وي خو د کور نه يو څو قدمه جومات ته د **جَمعې** نمانځۀ له چې ثواب يـې يو په اووه ويشت (27) دے په دې کښې خلک سستي کوي او په کورونو کښې نمونځ ادا کوي.

## د پرهيزګارو د پاره ثواب ډير او د نورو د پاره کم

**عَلَّامه** سيِّد **مَحمُود** احمد رَضَوِي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: په دې دوارِو حديثونو کښې د **پينځهٔ ويشت** او **اووه ويشت** درجې د فضيلت ذِکر دے، دا (د درجاتو) اختلاف د اختلافِ اَشخاص (يعنې د خلکو دِيني حيثيت کښې د فرق کيدو) په وجه دے. يعنې که څوک عالِم مُتَّقِي، پرهيزګار وي او خُشوع سره د **جَمعې** نمونځ کوي نو د هغهٔ به **اووه ويشت** درجې زيات ثواب کيږي، ګنې **پينځهٔ وِيشت** درجې ثواب به يـې کيږي. او يا د دې **مختلفو** اَعدادو (يعنې جُدا جُدا شمير) بيانولو نه مقصود صرف کثرتِ ثواب (يعنې ډير زيات ثواب) دے، **تخصيصِ** عدد (يعنې د شمير خُصُوصِيت مُراد) نهٔ دے. (فيوض البارى ج ٣ ص ٣٠٠ مُلَخَّصاً)

بھائی مسجد میں جماعت سے نمازیں پڑھ سدا
ہوں گے راضی مصطفٰی ہو جائے گا راضی خدا

وروره جومات کښې کوه جَمعې سره مونځونه سَدا
شي بـه راضي مُصطَفیٰ او شي بـه راضي خُدا

صَـلُّـوۡا عَـلَى الۡـحَـبِـيۡـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو بُزرګ فرمائي

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د دې حديثِ پاک چې "ژوند د مرګ نه مخکښې غنِيمت اوګڼهٔ" (مُسۡتَدۡرَک حديث ٧٩١٦) مطابق مونږ ته د خپل ژوند نه پوره پوره فائده اخستل او زيات نه زيات د **جَمعې** سره نمونځونه ادا کول او د زيات نه زيات ثواب ذخيره (يعنې جمع) کول پکـار دي، ګنې ياد ساتئ چې د مرګ نه پس به د **جَمعې** د ثواب حاصلولو موقع په لاس نه راځي او خپل غفلت کښې تير شوي ژوند باندې به بيحده پښيمانه يُو. يو بُزرګ فرمائي: "چې زهٔ په اِمام پسې د **جَمعې** نمونځ کووم او اِمام په نمانځهٔ کښې دا آيت اُووائي:

هَلۡ اَتٰىكَ حَدِيۡثُ الۡغَاشِيَةِ ﴿۱﴾ (پ٣٠ الغاشية:١) ([مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: بيشکه تا ته د هغه مصيبت خبر راغے کوم چې به خور شي)

زما په نزد خپل يواځې نمانځۀ کښې سلو آيتونو لوستلو نه زيات بهتر دي." (مُصَنَّف عبدُ الرَّزَّاق ج١ ص٣٩١ حديث ٢٠٢٦)

## چې جَمعه ترينه لاړه نو هُم هغه نمونځ يـې 25 ځله وکړو (حِکايت)

د حضرتِ اِمام اعظم ابُو حنيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دواړو عظيمو شاګردانو حضرتِ سَيِّدُنا اِمام ابُو يُوسُف او حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِما شاګِردِ رشيد سَيِّدُنا محمد بِن سِماعه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته **الله** پاک يو سل او درې کاله عُمر ورکړے وو، هغوئي به هره ورځ دوه سوه رکعاته نفلونه کول (تاريخ بغداد ج٢ ص٤٠٤) او د **جَمعې** د نمانځۀ د جذبې يـې دا حال وو چې هغوئي [پخپله] فرمائي چې: مسلسل څلويښتو کالو پورې سِوا د يو ځل نه زما نه کله هُم تکبيرِ اُولٰى نۀ دے تلے. په کومه ورځ چې زما والده وفات شوې وه په هغه ورځ را نه د يو وخت **جَمعه** لاړه، نو په دې خيال چې د **جَمعې** د نمانځۀ پينځۀ ويشت هومره ثواب وي هم هغه نمونځ مې يواځې پينځۀ ويشت ځله وکړو، بيا مې لرې سترګې ولګيدلې نو چا را ته په خوب کښې اُووئيل: "پينځۀ ويشت نمونځونه خو دې وکړل خو د فرښتو د اٰمِين به څه کوې؟" (تهذيب التهذيب ج٧ ص١٩١ رقم ٦١٧٢) د **الله رَبُّ الْعِزَّت** دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د اٰمِين معنٰى

اے د نمانځۀ عاشقانو! د **الله** پاک نيکو بندګانو به د **جَمعې** د نمانځۀ څومره جذبه لرله چې د **جَمعې** د تللو په وجه حضرتِ سَيِّدُنا محمد بِن سِماعه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه نمونځ پينځۀ ويشت ځله وکړو!

د دُعا [نه پس] او د سُوْرَةُالْفَاتِحَه نه پس "اٰمِین" وئيلے کيږي، د "اٰمِين" معنىٰ ده: "هم داسې دې وشي". او د فرښتو د "اٰمِين" به هُم خه وائې! چنانچه فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: چې کله امام غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ( ) اُووائي نو "اٰمِين" اُووائې! ځکه چې د چا قَول (يعنې اٰمِين وئيل) د فرښتو د قَول (يعنې وَينا) مُوافِق (يعنې مطابق) وي، د هغه تير شوي ګناهونه به معاف کړے شي. (بُخاری ج۱ ص۲۷۵ حديث ۷۸۲)

## د دعوتِ اسلامي والؤ مَدَني انداز يـې چې وليدو نو مُتأَثِّره شو

د جَمعې د نمونځونو جذبه حاصلولو او نورو ته هُم د دې د رَغبت ورکولو فکر حاصلولو د پاره د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره هر وخت خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ. **مَدَنـي سپرلے:** د فيصل آباد دا اِسلامي ورور خو پخپله دعوتِ اسلامي سره وابَسته نهٔ وو خو د دهٔ کشر ورور په مَدرَسةُ الْمَدِينه فيضانِ مدينه فيصل آباد کښې قرآنِ کريم حفظ کولو، دهٔ به خپل کشر ورور پخپله فيضانِ مدينه ته رسولو او واپس به ترينه راتللو، هلته به يـې چې اِسلامي ورونړه او د دعوتِ اسلامي بَرَکتونه ليدل نو د دهٔ په زړهٔ کښې به هُم خواهش پيدا کيدلو چې زهٔ هُم د دوئي په شان شم او ټول بد کارونه پريږدم او نيک او پينځهٔ وخته نمونځ ګُزاره جوړ شم. په هم هغه ورځو کښې دے د خپل کور خوا ته جومات ته د ماسخوتن نمانځهٔ له لاړو نو هلته يـې د ږيرو او عِمامو والا اِسلامي ورونړه وليدل نو دومره مُتأَثِّره شو چې فوراً يـې د ږيرې مبارکې پريښودلو نِيَّت وکړو، د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې يـې پابندئ سره شرکت کول شروع کړو، د ديني ماحول بَرَکتونه يـې د ژوند حِصَّه جوړه شوه او د دې نه مخکښې به يـې نمونځ هُم نه کولو، بيا پخپله هُم پوخ نمونځ ګُزاره شو او د کور کسان به يـې هُم د سحر نمانځهٔ ته رابيدارول. د هغهٔ په ترغيب باندې د هغهٔ دوستان هُم نمونځ ګُزاره شولو او ږيرې يـې پريښودلې. **عاشِقانِ رَسُول** سره يـې د لسو ورځو اِعتِکاف هُم وکړو او هلته ورته د نمونځونو وغيره په باره کښې نور معلومات

او د سُنَّتو جذبه حاصله شوه. **الله** تعالیٰ دې هغه او مونږه ټول ژوند د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې لري. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

عطائے حبیب خدا مدنی ماحول
ہے فیضان غوث و رضا مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٦)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د جَمعې قضا کيدلو اووه (7) ورځو پورې غم

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! افسوس! اوس هغه دَور راغلے دے چې بيشميره نمونځ ګُزاره هُم اوس د **جَمعې** پرواه نۀ کوي بلکې که کله ترينه نمونځ قضا شي نو هډو خفه کيږي نۀ، خو زمونږه د اَسلافو (يعنې تيرو شوو بُزرګانو) دا حالت وو چې که په هغوئي کښې به د چا نه تَکبِيرِ اُولیٰ لاړو نو درې ورځې او که **جَمعه** به ترينه لاړه نو اووه (7) ورځو پورې به يې په هغې پسې غم کولو. (مُکاشَفَةُ الْقُلُوب ص ٢٦٨)

## جَمعه قضا کيدو باندې بل نمانځۀ پورې عبادت

د صحابي اِبنِ صحابي حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن عُمر رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا نه به که چرې **جَمعه** لاړه نو د بل نمانځۀ پورې به يې مُسلسل نفلونه کول. په يو رِوايت کښې دي چې کله به د هغوئي نه د ماسخوتن **جَمعه** لاړه نو پوره شپه به يې په عبادت کښې تيروله. (الاصابة فِي تمييز الصحابة ج٤ ص١٦٠)

هـر صحابِيِ نـبي! جَنَّتي جَنَّتي
چار ياران د نبـی! جَنَّتي جَنَّتي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## كه جَمعه به ترينه لاړه نو ژړل به يې

د تابِعي بُزرګ حضرتِ سَيِّدُنا سعيد بِن عبدُ العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه به چې كله **جَمعه** لاړله نو خپله ږيره به يې ونيوله او ناسته به وو ژړل به يې. (اِبنِ عَساكر ج۲۱ ص ۲۰۳)

## صحابهٔ كرامو به قَصداً جَمعه نه پرېښوده

اے د **نمانځهٔ عاشقانو!** د صحابهٔ كرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم او اوليائے كرامو رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَيْهِم په باره كښې دا تَصَوُّر هُم نه شي كيدے چې ګني هغه حَضَراتو به بِاَلقَصْد (يعني اِرادَتاً) د شرعي اِجازت نه بغير **جَمعه** پرېښودله، بلكې د څه عُذر (يعني مجبورئ) په وجه **جَمعه** پاتې كيدو باندې به هُم د هغوئي داسې حالت وو. او آه! اوس زمونږه يو ګڼ شمير خلک بغير د څه شَرعي مجبورئ نه د **جَمعې** پرېښودلو په آفت كښې اخته دي او د چا نه چې **جَمعه** لاړه شي نو هغهٔ ته افسوس كيدل خو لرې خبره ده، بلكې د هغهٔ په خندا او خبرو كښې هُم څه فرق نه راځي!

## ركعت حاصلولو د پاره په اوداسه كښې رِعايت

**جَمعه** خو **جَمعه** ده بلكې كه د ركعت حاصليدلو اُمِّيد هُم وي نو په اوداسه كښې د رعايت صورت موجود دے څنګه چې **بهارِ شريعت** جِلد اَوّل، حِصَّه 3 صفحه 583 كښې مسئله نمبر 2 ده: "په **جَمعه** كښې مشغوليدل چې د هغې ركعت لاړ نهٔ شي، په اوداسه كښې درې درې ځله اندامونه وينځلو نه بهتر دي او درې درې ځله اندامونه وينځل تَكبِيرِ اُولٰى حاصلولو نه بهتر دي يعني كه په اودس كښې درې درې ځله اندامونه وينځي نو ركعت به ترينه لاړ شي، نو افضل دا دي چې درې درې ځله دې نهٔ وينځي او ركعت دې نهٔ پرېږدي او كه پوهيږي چې ركعت خو به حاصل كړم خو تَكبِيرِ اُولٰى به حاصل نهٔ كړم نو درې درې ځله دې اُووِينځي."

## د اذان د آواز سره سمدستي جومات ته داخليدل

حضرتِ سَيِّدُنا عُمَر بِن عبدُ العزيز رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به پينځۀ واړه نمونځونه په ډيره پابندئ د جَمعې سره ادا کول. هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د اذان آواز صفا اوريدلو د پاره د مغرِب طرف ته يوه وړه شان کړکۍ جوړه کړې وه، که مُـؤَذِّن به کله آذان کولو کښې ناوخته کړل نو سرے به يـې ور وليږلو چې د اذان وخت شوے دے. (سيرتِ اِبنِ جوزی ص١١٢) چې کله به مُـؤَذِّن اذان کولو نو کوشش به يـې کولو چې د اذان د آواز په دوارن کښې جومات ته داخل شي. (طبقاتِ اِبنِ سعد ج ۵ ص ۸۷۲) (حضرتِ عُمَر بن عبدُ العزيز کی 425 حکايات ص ٢٨٣)

## جومات طرف ته کړکۍ جوړه کړئ

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! تاسو د خليفۀ راشِد اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عُمَر بِن عبدُ العزيز رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د جَمعې د نمانځۀ سره مَحبَّت وليدو! اوس خو د مسلمانانو په آبادو کښې په لاؤډ اسپيکر باندې اذانونه کيږي يعني کورونو ته د اذان د آواز راتلل نور هُم آسان شوي دي، خو بيا هُم چې کومو کورونو ته د اذان آواز نه رسي، هغوئي ته پکار دي چې د آواز رارسيدلو په نِيَّت جومات طرف ته کړکۍ ولګوي او ثواب وګټي. ياد ساتئ ثواب صرف په نِيَّت حاصليږي، که چرې صرف د رڼا يا نمر يا هوا راتللو د پاره کړکۍ جوړه کړے شي نو ثواب به نۀ کيږي. په دې خبره پوهيدلو د پاره يو ښکلے حکايت واورئ:

## د مُرِيد د کور روشن دان (حکايت)

حضرتِ مولانا رُوم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په "مثنوي شريف" کښې فرمائي: يو نوي مُريد نوے کور جوړ کړو او خپل پير صاحب ته يـې د افتتاح کولو د پاره د تشريف راوړلو درخواست وکړو. پير صاحب کور ته تشريف راوړو او د پوره کور مُعائنه يـې وکړه او د مُريد نه يـې تپوس وکړو چې: تاسو په کور کښې روشن دان په څه "نِيَّت" جوړ کړے دے؟ هغۀ عرض وکړو: زما نِيَّت وو چې د روشن دان په ذريعه به کور ته رڼا راځي." پيرِ کامِل ورته اُوفرمائيل: که د روشن دان جوړلو په وخت کښې تاسو دا نِيَّت کړے وے چې د روشن دان په

ذريعه كور ته د اذان آواز راشي، نو ښا خو به هسې هُم راتلے خو په روښن دان (يا كړكۍ) جوړلو به تاسو ته ثواب هُم حاصل شوے وے، آئنده د پاره داسې نِيَّت كوه چې هغه د مسلمان د شان لائق وي يعنې هر غټ او وړكوټے كار په ښه نِيَّت كوه ځكه چې د اعمالو د ثواب دار و مدار په ښو نِيَّتونو دے. (مثنوی معنوی مع تفسیر عِرفانی مثنوی معنوی ج ۲ ص ۲۸۹ مُلَخّصاً)

خوب اچھی نیتیں ہر کام میں کرتے رہو
رب کو راضی کر کے تم سوئے جناں بڑھتے رہو

كوئ په هر كار كښې ښۀ ښۀ نِيَّتونه
د خپل رب نه اوګټئ ښـۀ جَنَّتونه

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُـحَـمَّد

## د اعلٰى حضرت د جَمعې د نمانځۀ جذبه

اعلٰى حضرت اِمامِ اهلِسُنّت اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما ته اوږدۀ اوږدۀ سفرونه پيښ شوي دي او بِفَضْلِهٖ تعالٰى پينځۀ وخته نمونځونه مې جَمعې سره كړي دي. (مَلفُوظاتِ اعلٰی حضرت ص ۷۵) فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه كښې يو مقام كښې فرمائي: زۀ د رَبِيعُ الْاَوَّل شريف د مجلِس وئيلو نه پس د ماښام نه داسې بيمار شوم چې كله داسې نه ووم بيمار شوے، ما په چا وَصِيَّت نامه هُم اوليكله، د نن ورځې پورې مې (د بيمارۍ او كمزورۍ په وجه) دا حال دے چې (د كور) دروازې سره لګيدلے جومات دے (بيا هُم د جَمعې نمانځۀ له) څلور كسان مې په كرسۍ كښينوي او جومات ته مې وړي راوړي. (فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه، ج ۹ ص ۵۴۷)

خدا کی محبت نبی کی محبت کے پیکر ہیں بے شک مرے اعلیٰ حضرت

د الله د مَحبَّت د نبي د مَحبَّت پيكر دے بيشكه زمونږ اعلٰى حضرت

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُـحَـمَّد

## د جُمعې د نمانځهٔ عجیبه جذبه

پخوانو مسلمانانو به د **جُمعې** د نمانځهٔ بې مثاله جذبه لرله، چنانچه حضرتِ سَیِّدُنا اِمام اَبُو حامِد محمّد بِن محمّد غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ليکي چې:

(په اتلَّسمه سيپاره سُوْرَةُالنُّوْر آيت نمبر ۳۷ کښې د **الله** پاک فرمانِ عاليشان دے:)

رِجَالٌ ۙ لَّا تُلْهِيْهِمْ تِجَارَةٌ وَّ لَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَاِقَامِ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءِ الزَّكٰوةِ ۙ يَخَافُوْنَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيْهِ الْقُلُوْبُ وَالْاَبْصَارُ ﴿٣٧﴾

مفهوم ترجمهٔ كَنزُالإيمان: هغه نارينه چې يې نهٔ غافِله کوي يوه سودا او اخستل خرخول د **الله** (تعالیٰ) د ياد او د نمانځهٔ کولو نه او د زکٰوة ورکولو نه، ويريږي د هغه ورځې نه چې په هغې کښې به پرمخ شي زړونه او سترګې.

د دې آيتِ مبارکه په تفسير کښې ليکلي دي: دا هغه خلک وو چې که په هغوئي کښې به يو **لوهار** د ګوزار وهلو د پاره خپل څټکے اوچت کړے وو او په دې حالت کښې به يې د **اذان** آواز واوريدو نو په وسپنه د ګوزار کولو نه بغير به يې څټکے فوراً کيښودو او که موچي يعنې خرمن ګنډلو والا به ستن په خرمن کښې ټومبلي وه نو چې څنګه به يې د اذان آواز په غوږو ولګيدو نو د ستن وِيستلو نه بغير به يې ستن او خرمن هُم په هغه ځائے پريښودل او فوراً به **جومات** ته روان شو. (کيميائے سعادت ج۱ ص ۳۳۹)

## حضرتِ عبدُالله اِبنِ عُمر وليدل چې... (حکايت)

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمَر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په بازار کښې وو، په جومات کښې د نمانځهٔ د پاره اِقامت اُووئيلے شو، هغوئي وليدل چې بازار والا پاڅيدل او دُکانونه يې بند کړل او جومات ته داخل شول، نو هغوئي اُوفرمائيل چې دا آيتِ مبارکه "رِجَالٌ ۙ لَّا تُلْهِيْهِمْ..." (يعنې هغه نارينه چې يې نه غافِله کوي...) د هُم داسې خلکو په حق کښې دے.

(خزائِنُ الْعِرفان پ۱۸، تحت الآية: ۳۷) (تفسير بغوی ج ۳ ص ۲۹۶)

جماعت سے تو نمازیں پڑھے گا
خدا تیرا دامن کرم سے بھرے گا

کـه د جَمعې سـره کوې ورروه مـونـځونه
نازل به الله پاک کړي په تا ډير ډير رحمتونه

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د پينځۀ وخته نمانځۀ د جَمعې فضيلت

حُضُورِ اکرم نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرتِ عُثمان بِن **مَظعُون** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته اُوفرمائيل: چا چې د سحر نمونځ د **جَمعې** سره وکړو، بيا کښيناستلو او د **الله** پاک ذِکر کښې مشغول شو تر دې چې نمر را اوختو، د هغه د پاره به **جَنَّتُ الْفِرْدَوْس** کښې اويا [70] درجې وي، د هرو دوو درجو تر مينځه به دومره فاصله وي څومره چې يو تربِيَّت شوے تيز رفتار د ښۀ نسل آس په اويا کاله کښې وهي، او چا چې د ماسپښين نمونځ **جَمعې** سره ادا کړو د هغۀ د پاره به په **جَنَّاتِ عَدن** کښې پنځوس (50) درجې وي، د هرو دوو درجو تر مينځه به دومره فاصله وي څومره چې يو تربِيَّت شوے تيز رفتار د ښۀ نسل آس په پنځوس (50) کاله کښې وهي، او چا چې د مازيګر نمونځ د **جَمعې** سره ادا کړو د هغۀ د پاره به د اَولادِ اِسمٰعِيل نه د داسې اَته غُلامانو د آزادولو ثواب وي کوم چې د بيتُ الله خيال ساتونکې وي، او چا چې د ماښام نمونځ د **جَمعې** سره ادا کړو د هغۀ د پاره به د حَجّ مَبرُور او د مقبولې عُمرې ثواب وي، او چا چې د ماسخوتن نمونځ د **جَمعې** سره ادا کړو د هغۀ د پاره به په **لَيْلَةُ الْقَدْر** کښې د قِيام (يعنې د عِبادت) کولو برابر ثواب وي. (شُعَبُ الايمان ج۷، ص۱۳۷، حديث۹۷٦۱)

## تذکره حضرتِ عُثمان بِن مَظعُون رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ

اے **عاشقانِ صحابه و اَهلِبَيت!** اوس چې تاسو کوم حديثِ پاک واوريدو، د دې راوِي (يعنې بيانوونکے) د رَسُولِ کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جليلُ القدر صحابي حضرتِ عُثمان بِن

**مَظعُون** رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دے. د هغوئي كُنيَت اَبُو السَّائِب دے، (سیر اعلام النبلاء ج۳ص۹۹) هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د حُضُور نَبِـيّ كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رِضاعي (يعني پئ شريک) ورور، (مِراٰةُ الْمَنَاجِيح ج ۲ ص ٤٤٧) او د اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ حَفصه بنتِ عُمَر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا ماما جان (طبقات اِبنِ سعد ج ۸ ص ٦٥) او د حضرتِ خَوله بِنتِ حكيم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا خاوند وو (مُسْنَد اِمام اَحمَد، ج۱۰ ص ۲۹) او په اصحابِ صُفَّه كښې شامِل او بدري صحابي وو. (مِرقاۃ ج ٤ ص ١٩٢) هغوئي د دیارلسو سړو نه پس د اسلام قبلولو سعادت حاصل كړے وو. (سیر اعلام النبلاء ج۳ص۹۹) رسولِ اكرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي نوم اَلسَّلَفُ الصَّالِح (يعني نيک بُزرګ) كيښودلو (معرفة الصّحابة ج ۳ ص ٣٦٤) د خپلو ګرانو صحابهٔ كرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان په باره كښې حُضُور نَبِـيّ كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: زما د صحابه نه چې څوک په كومه ځمكه باندې وفات شي نو د قيامت په ورځ به د هُغه خلكو د پاره قائد او نُور جوړ كړے شوے اوچت كړے شي." (تِرمِذِی، ج٥ ص ٤٦٤ حدیث ٣٨٩١) **شرحِ حديث:** يعني په كومه ځمكه چې زما د يو صحابي وفات او دفن وشي د قيامت په ورځ به د هغه ځمكې ټول مسلمانان د هغه صحابي سره يو ځائے محشر طرف ته روان وي او هغه صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به د هغوئي د پاره روښانه شمع وي، د هغوئي په رڼا كښې به ټول خلک د قبرونو نه محشر ته او د محشر نه پُل صِراط وغيره باندې تيريږي او جَنَّت ته به رسيږي. (مِراٰةُ الْمَنَاجِيح ج ۸ ص ٣٤٤)

## عبادت او رياضَت

حضرتِ سَيِّدُنا عُثمان بِن مَظعُون رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به د عبادت او رياضت په نُور باندې خپل وختونه روښانه كول، د ورځې به يـې روژه نيوله او ټوله شپه به يـې عبادت كولو. (حِلیَة الاَولیاء ج۱ ص۱۵۱ رقم ۳۳۸) د سادګئ حالت يـې دا وو چې يو ځل داسې زوړ څادر په سر كړے جومات ته را داخل شو چې په هغې باندې ځائے په ځائے د څرمنې پيوندونه لګيدلي وو، چې د هغې په ليدلو د نَبِـيّ كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او صحابهٔ كرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمۡ په سترګو كښې اوښكې راغلې. (حِلیَة الاَولیاء ج۱، ص۱۵۰ رقم ۳۳۵) هغوئي د اسلام قبلولو نه مخكښې په ځان باندې شراب حرام كړي وو او د دې خبرې عهد [يعني پخه وعده] يـې كړې وه چې كله

به هُم داسې څيز نه څښنم چې هغې سره عقل لاړ شي او کمتر خلک راپورې توقې وکړي. (الاستيعاب ج ٣ ص ١٦٦)

## وفات مبارک

د يو قول مطابق په شَعْبَانُ الْمُعَظَّم سن 3 هجري کښې هغوئي وفات شو. (جامع الاصول ج ١٤ ص ٣١٤) د هغوئي د وفات نه پس مکى مَدَنى سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي رُخسار (يعني مخ) ښکل کړو او په ژړا شولو تر دې چې د مبارکو سترګو نه يې اوښکې اوبهيدلې او په رُخسار باندې ولګيدې. (اِبنِ مَاجَه ج ٢ ص ١٩٨ حديث ١٤٥٦) دا يې چې وليدل نو صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان هُم په ځان قابو [يعني کنټرول] اونکړے شو او بې اختياره په ژړا شول. بيا د غمژنو زړونو قرار سرکارِ اَبَدِ قَرار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: اے ابُو سائب! ته د دې دُنيا نه داسې لاړې چې تا د دُنيا د يو څيز نه هُم هيڅ وانخستل. (حِلْيَةُ الْاَولياء ج ١ ص ١٥١ رقم ٣٣٧) د هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د جنازې اِمامت نبيِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيْم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وکړو. (اِبنِ مَاجَه ج ٢، ص ٢٠٠ حديث ١٥٠٢)

## په قَبْر يې نښه ولګوله

حضرتِ سَيِّدُنا عُثمان بِن مَظْعُون رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په جَنَّتُ الْبَقِيْع کښې دفن کيدونکے وړومبے صحابئ رَسُول دے. (مُصَنَّف ابن شيبة ج ٨ ص ٣٥٧ رقم ٢٩١) خاورو ته سپارلو نه پس خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپلو مبارکو لاسو د هغوئي په قَبْر باندې کاڼے ولګولو چې د هغوئي د قَبْر پيژندګلو کيدے شي او د خاندانِ نُبُوَّت نه وفات کيدونکي کسان د هغه قَبْر خوا ته دفن کړے شي. (اَبو داوٗد ج ٣ ص ٢٨٥ حديث ٣٢٠٦ مُلَخَّصاً، مِرقاة ج ٤ ص ١٩٢ تحت الحديث ١٧١١) د هغې نه پس رحمتِ عالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل فرزند حضرتِ سَيِّدُنا ابراهِيم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ او صاحبزادئ حضرتِ سَيِّدَتُنا بي بي زَينب رَضِیَ اللهُ عَنْهَا د حضرتِ سَيِّدُنا عُثمان بِن مَظْعُون رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په خوا کښې دفن کړل. (طبقات اِبنِ سعد ج ١ ص ١١٣، مُسْنَد اِمام اَحمَد بن حَنْبَل، ج ١ ص ٥١١ حديث ٢١٢٧) که په مهاجرو صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان کښې به څوک وفات کيدلو او د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په

دربار کښې به عرض اوکړے شو چې دوئي چرته دفن کړو؟ نو حُکم به يې فرمائيلو: زمونږ نه مخکښې تلونکي عُثمان بِن **مَظعُون** په خوا کښې. (مُستَدرَک ج ٤ ص ١٩١ حديث ٤٩١٩)

حضرتِ سَيِّدَتُنا اُمِّ عَلاء رَضِیَ اللہُ عَنْہَا فرمائي چې حضرتِ سَيِّدُنا عُثمان بِن **مَظعُون** رَضِیَ اللہُ عَنْہُ زمونږ په کور کښې وفات شوے وو. د هغوئي د وفات په شپه ما په خوب کښې د حضرتِ سَيِّدُنا عُثمان بِن **مَظعُون** رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د پاره يوه چينه وليده چې د هغې اوبه جاري او رواني وې. چې کله ما دا خبره رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته وکړه نو اِرشاد يې اوفرمائيلو: "دا د هغوئي عمل دے." (بُخاری ج ٢ ص ٢٠٨ حديث ٢٦٨٧) **د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

نبی کے پیارے پیارے حضرت عثمان بن مظعون
منور بخت والے حضرت عثمان بن مظعون

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د حجِ مَبرُور ثواب

رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرتِ سَيِّدُنا عُثمان بِن **مَظعُون** رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته اُوفرمائيل: اے عُثمان! څوک چې د سحر نمونځ د **جَمعې** سره وکړي بيا د نمر ختلو پورې د **الله** ذِکر کوي د هغهٔ د پاره د حجِّ مَبرُور او مقبولې عُمرې ثواب دے. (شُعَبُ الْاِيمان ج ٧ ص ١٣٨ حديث ٩٧٦٢)

## حجِّ مَبرُور کوم حج ته وائي؟

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** په دې حديث کښې د "**حجِّ مَبرُور**" تذکره ده. راځئ چې په دې ځان پوهه کړو چې د "**حجِّ مَبرُور**" نه کوم حج مُراد دے: چنانچه حضرتِ عَلّامه عبدُ الرَّؤُوف مُناوِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې د "**حجِّ مَبرُور**" معنٰی ده: حَجّ مقبُول يا هُغه حج چې په هغې کښې يې هيڅ ګناه نهٔ وي کړې. (التيسير ج ٢ ص ١٥٨) حکيم الاُمَّت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو ځائے کښې ليکي: **حجِّ مقبُول** و مَبرُور هغه دے چې

د جنګ جګړې او ګُناه او رِياکارئ نه پاک وي او صحيح ادا کړے شي. (مِراٰةُالْمَنَاجِيح ج ٤ ص ٨٧) يو بل ځائے کښې ليکي: د حجِ مَبرُور نه مُراد هٰغه حج دے چې په هغې کښې بنده د ګُناه نه ځان بچ وساتي، يا هغه حج چې په هغې کښې د رِيا او نمائش (يعني خلکو ته ښودلو) نه پرهيز اوکړے شي يا هٰغه حج چې د هغې نه پس حاجي د مرګ د ساعته پورې د ګناهونو نه بچ اوسي، حج بربادولو والا يو عمل هُم اونکړي. خواجه حسن بصري (رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه) فرمائي: حَجِّ مقبول هغه دے چې د هغې نه پس حاجي دُنيا کښې زاهِد (يعني بې رَغبَت) او آخرت ته راغِب (يعني مائل) اوسي، يا حَجِّ مَبرُور هغه دے چې د حاجي زړهٔ نرم کړي چې د هغهٔ په زړهٔ کښې [د آخرت] غم او په سترګو کښې لـمدوالے وي. حج کول آسان دي حج ساتل مشکل دي. (مِراٰةُ المناجيح ج ٥ ص ٤٤١)

خدا حجِ مبرور کی دے سعادت　　مدینے کی کرتا رہوں میں زیارت

خُدايا د حَجِّ مَبرُور راکړې سعادت
چې وکړم بيـا بيـا د مدينے زيارت

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ماسپښين د جَمعې فضيلت

سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: چا چې د ماسپښين نمونځ د **جَمعې** سره وکړو، د هغه د پاره د هغې په شان د پينځهٔ ويشتو (25) نمونځونو ثواب او جَنَّتُ الْفِرْدَوْس کښې د 70 درجاتو اوچتوالے دے.'' (شُعَبُ الْاِيمان ج ٧ ص ١٣٨ حديث ٩٧٦٢)

## د سحر او ماسخوتن فضيلت

دوه فرامينِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ﴿١﴾ ''چا چې د **ماسخوتن** نمونځ د **جَمعې** سره وکړو لکه هغهٔ چې ټوله شپه نمونځ وکړو او چا چې د **سحر** نمونځ د **جَمعې** سره ادا کړو لکه هغهٔ

چې ټوله ورځ نمونځ ادا کړو.“ (مُعجَم کبِیر ج۱ص۹۲ حدیث ۱٤٨) ﴿۲﴾ چا چې د **سحر** او **ماسخوتن** نمونځ د **جَمعې** سره وکړو او د **جَمعې** يو رکعت هُم ترينه لا ړ نهٔ شي نو د هغهٔ د پاره د جَهنَّم او نِفاق نه آزادي اوليکلے شي.“ (شُعَبُ الْاِیْمان ج ۳ ص٦٢ حدیث ۲۸۷۵)

## د پوره شپې د عبادت ثواب

د حضرتِ سَيِّدُنا عُثمانِ غَني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: ”چا چې د ماسخوتن نمونځ د **جَمعې** سره ادا کړو لکه نيمه شپه قِيام يې چې وکړو او چا چې د سحر نمونځ د **جَمعې** سره وکړو لکه پوره شپه قِيام يې چې وکړو.“ (مُسلِم ص ۲۵۸ حدیث ۱٤۹۱)

## د حديث پاک تشريح

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک نه لاندې فرمائي چې: د دې دوه مطلبونه کيدے شي: يو دا چې د ماسخوتن د **جَمعې** د نمانځهٔ ثواب د نيمې شپې د عبادت برابر دے او د سحر  د **جَمعې** د نمانځهٔ ثواب د باقي نيمې شپې د عبادت برابر، نو څوک چې دا دواړه نمونځونه د **جَمعې** سره وکړي د هغهٔ د پاره د ټولې شپې د عبادت ثواب دے. دويم دا چې د ماسخوتن د نمانځهٔ ثواب د نيمې شپې  د ثواب برابر دے او د سحر د **جَمعې** ثواب د ټولې شپې د عبادت برابر دے، ځکه چې دا (د سحر) **جَمعه** د ماسخوتن د **جَمعې** نه زياته درَنه (يعني په نفس بوج) ده، وړومبۍ معنٰی زياته قوي ده. د **جَمعې** نه مُراد **تکبيرِ اُولٰی** حاصلول دي ځنکه چې بعضې عُلَماؤ فرمائيلي دي. (مِراٰۃُ الْمَنَاجِیح ج۱ ص ۳۹٦)

## د نيکۍ د دعوت عظيم الشّان فضيلت

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** سُبْحٰنَ الله! که تاسو پينځهٔ وخته نمونځونه د **جَمعې** سره د ادا کولو عادت جوړ کړئ نو د ډير عَظيمُ الشَّان ثواب حقدار جوړيدے شئ. او کاش چې د

دې سره سره نورو خلکو ته هُم د نیکۍ دعوت ورکړئ او ځان سره یې جومات ته بوځئ نو ستاسو په اجر و ثواب کښې به بې اِنتِها اِضافه وشي. **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: اِنَّ الدَّالَّ عَلَی الْخَیْرِ کَفَاعِلِہٖ. یعني بیشکه د نیکۍ لار ښودونکے د نیکۍ کوونکي په شان دے. (ترمِذِی ج ٤ ص ٣٠٥ حدیث ٢٦٧٩) افسوس! نن صبا د نمونځ گُزاره مسلمانانو یو شمیر د جومات **جَمعه** پریږدي او په کور، دُکان، دفتر وغیره کښې د **جَمعې** نمونځ کوي، حالانکې که شرعي مجبوري نهٔ وي نو د اعلٰی حضرت، اِمامِ اهلِسُنّت رَحمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د تَحقِیق مطابق جومات کښې د **جَمعې** سره نمونځ کول واجِب دي.

میں پانچوں نمازیں پڑھوں باجماعت
ہو توفیق ایسی عطا یاالٰہی
(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ١٠٢)

د پینځهٔ واړه نمونځونو سره د جَمعې
را ته راکړې ته توفِیق یا اِلٰهي

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ما ته نوے ژوند مِلاؤ شو

د جومات د **جَمعې** جذبه زیاتولو او د جوماتونو آبادولو د پاره دعوتِ اسلامي کښې شامِل اوسئ. **مَدَني سپرلے**: د کراچۍ یو کس د وړوکي عُمر نه د نشې عادت اخستے وو، سحر د ناشتې په ځائے به یې د چرسو او هیروئنو نشه کوله. ډیر ځله یې د ډاکټرانو نه علاج وکړو خو نشه یې نهٔ شوه پریښودلے. د نورو گناهونو په دَلدَل کښې هُم نښتے وو. د وادهٔ نه پس به د هغهٔ د وجهې د هغهٔ ښځه او بچي هُم پریشانه اوسیدل. په څه طریقه په رَبِیعُ الْاَوَّل شریف کښې عالَمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه کراچۍ ته ورسیدو، هلته پرې یو سپین ږیري اسلامي ورور شَفقَت وکړو نو هغه د دولسو ورځو مَدَني قَافِله کښې سفر کولو ته تیار شو. مَدَني قَافِله کښې شروع شروع کښې د نشه نهٔ کولو په وجه په تکلیف کښې وو، نهٔ

صحيح خوب ورتلو او نهٔ اُوږے کيدو خو په عبادت کښې مشغول اوسيدلو او په ژړا ژړا يـې د خپلو ګناهونو معافي غوښتله، څلور يا پينځهٔ ورځې پس اُوږے کيدل هُم شروع شو او د شپې خوب هُم ورغلو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه مَدَنې قَافِلَه کښې د سفر کولو په بَرَکت هغه د نشې نه خلاص شو، بلکې پينځهٔ وخته فرض نمونځ بلکې د تَهَجُّد او اِشراق نمونځ يـې هم شروع کړو. عِمامه شريفه يـې په سر کړه، هغه وائي چې د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته راغلم نو ما ته يو نوے ژوند مِلاؤ شو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه زما ښځه او بچي هُم اوس زما نه خوشحاله دي.

اے شرابی تو آ، آجواری تو آ
چھوٹیں بدعادتیں قافلے میں چلو

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٧٧)

اے شـــرابي ته راشـــه، اے جُـــواري ته راشـــه
خلاص به شئ د بد عادت نه، قافلو کښې لاړ شئ

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د جَمعې د نمونځ د يوولسو حروفو په نِسبَت
# جَمعې سره د نمانځهٔ کـولو 11 حِکـمتونه

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه يو سوال قائم کړے دے چې نمونځ د **جَمعې** سره ولې کوي؟ په دې کښې څه حِکمت دے؟ جومات ته خلک ولې حاضريږي؟ بيا د دې په جواب کښې فرمائي: په **جَمعه** کښې دِيني او دُنيوي ډير حِکمتونه دي، **دُنياوي** حِکمتونه خو دا دي چې ❖ د **جَمعې** په بَرَکت په قوم کښې نظم و ضبط قائميږي چې مسلمانان دې د خپل هر کار د پاره د اِمام په شان صدر او اَمِير جوړوي، بيا دې د امير داسې اِطاعت کوي لکه مقتديان چې د اِمام کوي ❖ **جَمعې** سره خپل مينځ کښې اِتّفاق زياتيږي ❖ هره

ورځ پېنځۀ ځله ملاقات او دُعا سلام د زړۀ عَداوَت (یعني دُښمني) لرې کوي ❖ قوم کښې د وختونو د پابندئ عادت جوړيږي چې ټول خلک د **جَمعې** په **وخت** را درومي (يعنې زر زر راځي) ❖ **جَمعې** سره د مُتَکبِّرينو (يعنې د کبرژنو) غُرور [یعنې کبر] ماتیږي ځکه چې په دې کښې بادشاه د فقیر سره ودريږي، او ❖ جومات زمونږه کميټي، کور يا دارُ الشُّورٰی دے، چې دلته مسلمانان د اَهَمې (دِيني) مشورې د پاره راجمع کيدے شي، داسې ده لکه هره ورځ چې په جومات کښې د **محلّې** پېنځۀ کانفرنسونه کيږي، اسلامي فوځ به د جِهاد وغيره د پاره د مسجِدِ نَبَوِي نه روانيدلو. **ديني** فائدې يـې دا دي چې ❖ که په **جَمعه** کښې د يو کس نمونځ قبول شو نو د ټولو قبول دے ❖ په **جَمعه** کښې داسې ده لکه د مسلمانانو وَفد چې په بارګاهِ اِلٰهی کښې حاضريږي او ظاهره ده چې د حاکم په نزد د يواځې کس په مقابله کښې د وَفد زيات احترام وي ❖ په **جَمعه** کښې انسان د **ربّ** په عدالت کښې د وکيل يعني د خپل اِمام په ذريعه عرضونه پيش کوي، او د هغې په وجه د خبرې وزن زيات شي ❖ جومات ته تلو راتلو کښې په هر قدم لس نيکئ ورکولے کيږي ❖ د **جَمعې** په ذريعه بنده ته د دِيني پيشوا، عُلماء او صوفِيا ادب ښودلے کيږي. (اسرار الاحکام مع رَسائلِ نعیمیه ص ۲۸۸)

خدا سب نمازیں پڑھوں باجماعت
کرم ہو پئے تاجدارِ رسالت

الله چې وکړم ټول مـونځونه باجَماعت
توفيق راکړې په خاطر د تاجدارِ رِسالت

## مقبولو بندګانو پسې د شا ته ودريدونکو بخښنه (حِکايت)

د اَعلٰی حضرت والِد صاحب، حضرت عَلّامه مولانا مُفتي نَقي علي خان رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: (حضرتِ سَيِّدُنا) وَهب بِن مُنَبِّه (رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه) به شا ته صَف کښې ودريدلو او وئيل به يـې

چې: ما په "تَورَیت" کښې لیدلي دي: د اُمَّتِ مُحَمَّدِی بعضې خلک چې د سجدې نه سر راپورته کوي (نو) کوم سرې چې په هغوئي پسې شا ته وي [هغوئي به] اوبخښلے شي. (جواهر البیان فی اسرار الارکان ص۷۰)

## ما وینبته ګمنزول

حضرتِ سَیِّدُنا صالِح بِن کیسان رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ چې په کوم دِیانت او محنت د خپل شاګِردِ رشید حضرتِ سَیِّدُنا عُمَر بِن عبدُ العزیز رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ تربِیَّت فرمائیلے وو، د هغې اندازه د دې خبرې نه لګیدے شي چې یو ځل حضرتِ سَیِّدُنا عُمَر بِن عبدُ العزیز رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د جُمعې په نمانځۀ کښې شریک نه شو. اُستاذِ مُحترم رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ترینه د وجهې تپوس وکړو نو هغوئي اووئیل چې: "ما هغه وخت وینبته ګمنزوَل." [اُستاذ مُحترم] بې قراره شو او ویې وئیل: "تۀ وینبته سَمَولو ته په نمانځۀ باندې ترجیح ورکوې!" او د دې واقعې خبر یې مِصر کښې د هغوئي والِدِ مُحترم رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ته وکړو. هغوئي په هُم هغه ساعت زوئي ته سزا ورکولو د پاره خپل خاص سړے ولیږلو، چې هغه ځنګه مدینے مُنَوَّرې ته را ورسیدو نو د ټولو نه مخکښې یې د هغوئي (یعني د حضرتِ سَیِّدُنا عُمَر بِن عبدُ العزیز په نمانځۀ کښې رُکاوټ جوړیدونکي) وینبته وخرئیل، بیا یې هله بله خبره وکړه. (سیرتِ اِبنِ جوزی ص۴۱) د هُم دې تعلیم و تلقِین وجه وه چې د حضرتِ سَیِّدُنا عُمَر بِن عبدُ العزیز رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ذات د هغه ټولو اخلاقي بدو نه پاک وو چې په هغې کښې د "بَنُو اُمَیَّه" ډیر زلمي اخته وو.

## امام چې په هر حالت کښې وي تاسو په جَمعه کښې شامليږئ

اے د نمانځۀ عاشقانو! تاسو ولیدل! چې پخوانو استاذانو به د خپلو شاګردانو د نمانځۀ ځنګه خبر اخستلو! آه! اوس خو ډیر بد حالت دے، ډیر اُستاذان صرف تنخواه سره غرض لري! که شاګرد یې نمونځ کوي او که نۀ، د دې هیڅ پرواه نۀ کوي! د جَمعې نمانځۀ له جومات ته راتلونکو خوش نصیبو ته عرض دے چې کله جَمعه ودریږي نو بیا مۀ وینبته ګمنزوئ، مۀ په عِمامه شریفه تړلو کښې وخت لګوئ بلکې فوراً جَمعه کښې شامليږئ.

اِمام صاحب چې کله په قِيام کښې وي (يعني ولاړ وي) نو د هغوئي په رُکوع کښې د تللو انتظار مهٔ کوئ، هُم داسې چې په قَعدهٔ اُولٰی (يعني وړومبي اَلتَّحِيات) کښې وي نو د ودريدلو انتظار يې مه کوئ، اِمام صاحب چې په هر حالت کښې وي په هم هغه حالت کښې ورسره په **جَمعه** کښې شامليږئ. البته امام صاحب چې سلام وګرځوي [او د چا رکعت باقي وي] نو بيا ورسره نهٔ شئ شامليدے، خو که امام صاحب **سَجْدهٔ سَهو** وکړي نو ورسره شامليدے شئ. خنګه چې په **فَتَاوٰی رَضَوِيَّه** کښې دي: څوک چې د **سَجْدهٔ سَهو** نه پس قَعده کښې امام سره شريک شو هغوئي **جَمعه** کښې شريک شو، د هغوئي بِنا (يعني نمونځ شروع کيدل) صحيح دي. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج ۸، ص ۲۱۱)

## آه صرف د دُنيوي تعليم تپوس

بيان شوي حِکايت کښې د هٔغو مور و پلار د پاره هُم د دَرس مَدَني ګلونه دي کوم چې د خپل اولاد په تربِيَّت باندې خاطر خواه تَوجُّه نهٔ ورکوي، د هغوئي نه د دُنياوي تعليم په باره کښې تپوس کوي خو که اولاد يې نمونځ اونکړي نو د دې بالکل پرواه نهٔ کوي، ياد ساتئ! د اولاد تربِيَّت صرف دې ته نهٔ وائي چې صرف دُنيوي تعليم ورکړے شي او د خوراک او لباس بندوبست يې اوکړے شي، بلکې هغوئي د **الله** پاک او د رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبرداره جوړول هُم د مور او پلار په ذِمَّه وارئ کښې شامِل دي. (د اولاد د تربِيَّت مُتَعَلِّق د مَکتَبَةُ الْمَدِينه د 188 صفحاتو کتاب "تربِيَّتِ اولاد" ضرور ولولئ)

يا رب بچالے تو مجھے نارِ جحيم سے
اولاد پر بھی بلکہ جہنم حرام ہو

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۳۱۰)

يا رب تـه مـا وساتې د نارِ جَهنَّم نه
هُم وساتې اولاد مې د عـذابِ جَهنَّم نه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د یو نابینا حِکایت

حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو هُرَیره رَضِیَ اللهُ عَنهُ نه رِوایت دے چې: د سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې یو نابینا کس حاضر شو او عرض یې وکړو: یارَسُولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما سره داسې څوک نشته چې ما جومات پورې راولي. هغوئي د حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اجازت اوغوښتلو چې هغوئي ته په کور کښې د نمانځهٔ کولو اجازت ورکړی. حُضُورِ اکرم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته اجازت ورکړو. چې کله هغوئي واپس روان شولو نو حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم را اوغوښتلو او ورته یې اوفرمائیل: آیا ته د نمانځهٔ آذان اورې؟ هغوئی عرض وکړو: آو. ویې فرمائیل: نو قبول یې کړه.

(مُسلِم ص ۲۵۷ حدیث ۱۴۸۶) (مِراٰة ج ۲ ص ۱۶۸)

## په نابینا باندې جَمعه واجِب نه ده

د نابینا د پاره هُم غوره هُم دا دي چې هغه جومات ته راځي او د **جَمعې** سره نمونځ کوي، خو بیا هُم په هغهٔ باندې د **جَمعې** د نمانځهٔ د پاره جومات ته راتلل واجب نهٔ دي. څنګه چې "بهارِ شریعت" جِلد 1 صفحه 583 تا 584 کښې د فِقهِ حَنَفي د مشهور کتاب "دُرِّ مُختار" په حواله د **جَمعې** پرېښودلو د شلو عُذرونه (یعني 20 مجبوریانو) بیان دے. په هغې کښې عُذر نمبر 6 دے: ړوند، اګر که د ړانده د پاره داسې څوک وي چې هغه د لاسه ونیسي او جومات ته یې ورسوي.

## د یو نابِینا صحابي تپوس کول (حکایت)

حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله اِبنِ اُمِّ مَکتُوم رَضِیَ اللهُ عَنهُ په دربارِ رِسالت کښې عرض وکړو: یا رَسُولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په مدینهٔ مُنوَّره کښې ضرر رَسوونکي ځناور [او خزنده، لکه مار لړم وغیره] ډیر دي او زهٔ نابینا یم، نو آیا ما ته اجازت شته دے چې په کور کښې نمونځ کووم؟ حُضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل:"حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃ، حَیَّ عَلَی الفَلَاح" اورې؟ هغوئي عرض وکړو: آو جي! حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: "نو (د **جَمعې** د نمانځهٔ د پاره) حاضرېږه."

(نسائی ص ۱۴۸ حدیث ۸۴۸)

## د نابينا د پاره د جمعې سره نمونځ کول غوره دي

حضرت عَلّامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک نه لاندې په حاشِيه کښې اِرشاد فرمائي: نابِينا چې لار نهٔ شي معلومولے، نهٔ يې څوک بوتللو والا وي، خصوصاً که د [ځنګلي] ماتوونکو ځناورو ويره وي نو هغهٔ ته ضرور رخصت دے، خو حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي (يعني حضرت عبدُالله اِبنِ اُمِّ مَکتُوم) ته په افضل باندې د عمل کولو هدايت اوفرمائيلو، چې هُغه خلک ترينه سبق واخلي کوم خلک چې بې عُذره په کور کښې نمونځ کوي. (بهارِشريعت ج ۱ حصّه ۳ ص ۵۷۹)

## اوس اکثره مدينه د موذياتو نه پاکه شوې ده

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک نه لاندې ليکي: ياد ساتئ! چې د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تشريف راوړلو نه مخکښې مدينهٔ مُنَوَّره د وباګانو او بيمارو ځائے وو، د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاکو قدمونو د هغه ځائے نه وباګانې اُووِيستلې او د هغه ځائے خاوره يې **شِفاء** جوړه کړه، خو شروع کښې څه ماران، لړمان او شرمښان وغيره پاتې شوي وو، بيا وروسته **الله** (پاک) د دې ځيزونو نه د مدينے ځمکه تقريباً صفا کړه، يعني يثرِب نه يې طَيبه جوړه کړه. (مُفتي صاحِب نور فرمائي:) دا د هُغه وخت واقعه ده چې کله هلته دا ضرر رسوونکي ځيزونه موجود وو. (مِراٰةُالْمَنَاجِيح ج ۲ ص ۱۷۸ مختصراً)

## راځئ چې وکړو په شريکه ذِکرِ مدينه

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** په دې بيان شوي شرح کښې د سُلطانِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکو قدمونو په بَرَکت د يثرِب نه د طَيبه جوړيدلو تذکره ده. يثرِب څه وو؟ د دې معلوماتو حاصلولو د پاره "**راځئ چې وکړو په شريکه ذِکرِ مدينه**........ د **دعوتِ اسلامي** د مَکتَبَةُالْمَدِينه د 328 صفحو کتاب، "**عاشقانِ رَسُول کی 130 حکايات**" صفحه 252 تا 254 کښې ورکړے شوے مضمون د څه بدلون سره عرض کووم:

## مدينه به خلک پاک او صفا كوي

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ما ته يوې داسې آبادۍ ته (د هجرت) حُـكم وشو چې هغه به ټولې آبادۍ اوخوري (يعني په ټولو به غالِبه راشي)، خلک هغې ته "يَثرِب" وائي او هغه مدينه ده، (دا علاقه) به خلک داسې پاک او صفا كوي لكه بټۍ چې د وسپنې خِيرے [لرې كوي]." (بُخاری ج۱ ص ٦١٧ حديث ١٨٧١)

## مدينے ته يَثرِب وئيل ګناه ده

مَدِينَةُ الْمُنَوَّره ته "يثرِب" وئيل منع كړے شوي دي. "فتاوٰی رَضَوِيَّه" جِلد 21 صفحه 116 كښې دي: مدينهٔ طيبه ته يَثرِب وئيل ناجائزه او ممنوع او ګناه ده او وئيلو والا ګنهګار دے. رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: څوک چې مدينے ته "يَثرِب" اُووائي په هغهٔ توبه واجِب ده، مدينه طـابه ده مدينه طـابه ده. عَلَّامه مُناوِي "تَيْسِير شرحِ جامِعِ صغير" كښې فرمائي: د دې حديث نه معلومه شوه چې د مدينهٔ طيبه يَثرِب نوم ايښودل حرام دي ځكه چې په يَثرِب وئيلو يـې د توبه كولو حُـكم فرمائيلے دے او توبه صرف د ګُناه نه وي. (التَّيسِير ج٢ ص ٤٢٤) ((فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج ٢١، ص ١١٦)

## يَثرِب وئيل ولې منع دي

**حضرت علّامه شَيخ عَبدُ الحق مُحَدِّث دِهلوي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **اَشِعَّةُ اللّمعات شرحُ الْمِشكوٰة** كښې فرمائي: حُضُورِ اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هلته د خلكو د اوسيدلو او جمع كيدلو او هغه ښار سره د مَحبَّت په وجه د هغې نوم "مدينه" كيښودو، او هغې ته يَثرِب وئيلو نه يـې منع اوفرمائيل، ځكه چې دا د زمانهٔ جاهِلِيَّت نوم دے يا ځكه چې دا "ثَرْبٌ" نه جوړ شوے دے چې د هغې معنٰى هلاكت او فساد دے او تَثرِيْبٌ د رټلو او ملامت كولو په معنٰى كښې دے، يا ځكه چې يَثرِب د يو بُت يا يو جابِر (يعني ظالِم) او سركشه بنده نوم وو. اِمام بُخاري (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) په خپل تاريخ كښې يو حديث بيان كړے دے، چې كه څوک "يو ځل يَثرِب"

اُووائي نو هغهٔ ته (په کفّاره کښې) "لس ځله مدينه" وئيل پکار دي. (تاريخِ كبير ج ٦ ص ٦٢ حديث ٨٢٨٢) په قرآنِ مجيد کښې چې کوم "يَآ اَهۡلِ يَثۡرِبَ" (يعنې اے يَثرِب والؤ!) راغلے دے، هغه در اصل د مُنافِقينو وَينا ده چې په يَثرِب وئيلو به هغوئي د مَدِينَةُ الْمُنَوَّرَه د توهِين [يعني بې اَدَبئ] اراده لرله. په يو بل روايت کښې دي چې يَثرِب وئيلو والا دې الله پاک ته اِستِغفار (يعني توبه) وکړي (مُسْنَد اِمام اَحمَد بِن حَنْبَل، ج ٦ ص ٤٠٩ حديث ١٨٥٤٤) او معافي دې اوغواړي. او بعضو فرمائيلي دي چې خوک مَدِينَةُ الْمُنَوَّرَه ته يَثرِب اُووائي هغهٔ ته سزا ورکول پکار دي. د حيرانتيا خبره ده چې د بعضو غټو خلکو د خُلې نه په شعرونو کښې لفظ "يَثرِب" صادِر شوے دے او الله پاک ډير ښهٔ پوهيږي او د عَظَمت و شان لرونکي عِلم بالکل پوخ او په هر شان مکمل دے. (فَتَاوٰى رَضَوِيَّه، ج ٢١، ص ١١٩)

زندگی کیا ہے! مدینے کے کسی کوچے میں موت    موت پاک وہند کے ظلمت کی زندگی

د مدينے کوڅه کښې مرګ هُم ژوند دے
د پاک و هِند تيارو کښې ژوند هُم مرګ دے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!    صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د جَمعې معاف کيدلو 20 مجبورياني

په دې تولو وجوهاتو کښې که خوک په هره وجه باندې **جَمعه** پريږدي نو ګنهګار به نهٔ وي ﴿١﴾ داسې مريض چې جومات ته تلل ورته مُشکل وي ﴿٢﴾ شَل [يعني د ښپو نه بالکل معذوره] ﴿٣﴾ د چا چې ښپه کټ شوې وي ﴿٤﴾ چې فالِج وهلے وي ﴿٥﴾ دومره بُوډا چې جومات ته تللو نه عاجِز وي ﴿٦﴾ ړوند، اګر که داسې خوک وي چې هغه د لاسه ونيسي او جومات ته يې ورسوي. ﴿٧﴾ سخت باران او ﴿٨﴾ په لاره کښې سختې چقړې [ختې] وي ﴿٩﴾ سخته يخني ﴿١٠﴾ سخته تِياره ﴿١١﴾ تيزه سِيلئ ﴿١٢﴾ د مال يا طعام ضائع کيدو

اندیښنه ﴿۱۳﴾ د قرضخوا ویره لري او دے تنګدسته دے ﴿۱۴﴾ د ظالِم ویره ﴿۱۵﴾ د ړَکو بولو (یا) ﴿۱۶﴾ تشو بولو (یا) ﴿۱۷﴾ ریاح (یعني ګیس) ډیر زیات تکلیف ﴿۱۸﴾ طعام حاضر دے او نفس یـې خواهش لري ﴿۱۹﴾ د قافِلے د تللو اندیښنه (یعني ویره) لري ﴿۲۰﴾ د مریض خدمت (کوي او که دے) جومات ته ځي نو مریض ته به تکلیف کیږي او ویریږي به. دا ټول د جُمعې پریښودلو عُذرونه دي. (دُرِّمُختارج۲ص۳۴۷، ۳۴۹، بهارِشریعت ج۱، حِصّه ۳ ص ۵۸۴، ۵۸۳)

# د جَمعې جُدا جُدا 30 مَدَنـي ګلونه

## جَمعه په چا واجِب ده؟

﴿۱﴾ په هر عاقِل بالِغ قُدرت لرونکي نارینه مسلمان باندې **جَمعه** واجِب ده، د شرعي مجبورئ نه بغیر یو ځل پریښودونکے هُم ګنهګار او د جَهنَّم د وور د عذاب حقدار دے، ډیر ځله [**جَمعه**] پریښودونکے فاسِق دے او هغه د ګواهئ لائق نۀ دے، که ګاونډیانو پوهه نۀ کړو نو هغوئي به هُم ګنهګار وي.

## په زنانه جَمعه واجِب نۀ ده

﴿۲﴾ ښځو له د یو نمانځۀ **جَمعې** له حاضریدل هُم جائز نه دي (بهارِشریعت ج۱ حِصّه ۳ ص ۵۸۴) او هغوئي ته د **جَمعې** قائمولو یا **جَمعه** کښې د شاملیدلو اجازت هُم نشته.

﴿۳﴾ په جُـمُعه او اخترو کښې **جَمعه** شرط ده. (د جُمعې او اخترو نور شرائط هُم شته دے) (دُرِّمُختار و رَدُّالْمُحْتَار ج ۲ ص ۳۴۱، ۳۴۲)

## زنانه او د جُمُعې او د اختر نمونځ

﴿۴﴾ ښځې به د جُمُعې نمونځ نۀ کوي، حسبِ معمول د ماسپښین نمونځ به کوي، د اختر نمونځ هُم په هغوئي نشته.

## د تراويح او وِترو د جَمعې مسائل

﴿۵﴾ د تراويح **جَمعه** سُنَّتِ کفايه ده، که د جومات ټولو کسانو پرېښودله نو ټول به ګنهګار وي او که چرې يو کس [يعني بعضو] په کور کښې يواځې [يواځې] وکړلې نو ګنهګار نۀ دے، خو کوم کس چې مُقتَدا (يعني پيشوا) وي، چې د هغۀ د موجودګئ په وجه به **جَمعه** کښې ډير خلک شريک کيږي او که [**جَمعه**] پرېږدي نو خلک به کم شي، هغۀ ته بې عُذره [د تروايح] د **جَمعې** پرېښودلو اجازت نشته. (عالمګيرى ج۱، ص۱۱٦)

﴿٦﴾ تراويح په جومات کښې **جَمعې** سره کول غوره دي، که په کور کښې يـې د **جَمعې** سره وکړې نو د **جَمعې** پرېښودلو ګناه اونشوه، خو هُغه ثواب به يـې نه کيږي کوم چې جومات کښې د **جَمعې** د کولو وو. (عالمګيرى ج۱، ص۱۱٦)

﴿۷﴾ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې وِتر د **جَمعې** سره کول غوره دي، که هُم هغه امام پسې يـې وکړې په کوم پسې يـې چې د ماسخوتن [نمونځ] او تَراوِيح وکړې يا که بل پسې يـې وکړي. (دُرِّ مُختار و رَدُّالْمُحْتَار ج ۲ ص ٦۰٦)

## د نمر او د سپوږمئ د تندر نيولو نمونځ

﴿۸﴾ د نمر د تندر نيولو نمونځ سُنَّتِ مُؤَکَدَه دے او د سپوږمئ د تندر نيولو نمونځ **مُسْتَحَب** دے. د نمر د تندر نيولو نمونځ **جَمعې** سره **مُسْتَحَب** دے او يواځې يواځې هُم کيدے شي، او که **جَمعې** سره اوکړے شي نو د خُطبې نه علاوه ټول شرائطِ جُـمُعه د دې د پاره شرط دي، هُم هغه کس د دې **جَمعه** ورکولے شي خوک چې د جُمُعې **جَمعه** ورکولے شي، که داسې کس نۀ وي نو يواځې يواځې دې يـې وکړي، په کور کښې يا په جومات کښې. (دُرِّمُختار و رَدُّالْمُحْتَار ج ۳ ص ۸۰.۷۷ مُلَخَّصاً)

## د تکبيرِ اُولىٰ د فضيلت حاصليدو صورت

﴿۹﴾ په **جَمعه** کښې مشغوليدل چې د دې يو رکعت هُم لاړ نۀ شي، په اوداسه کښې د درې درې ځله اندامونو وينځلو نه بهتر دي يعنې که په اوداسه کښې درې درې ځله اندامونه

وينځي نو رکعت به ترې لا ړ شي، نو غوره دا دي چې درې درې ځله يې نهٔ وينځي او رکعت لاندې کړي، او که پوهيږي چې رکعت خو به حاصل کړي خو تَکبِيرِ اُولیٰ به ترينه لا ړ شي نو درې درې ځله دې يې وينځي. (بهارِشريعت ج۱ص ۵۸۳)

﴿۱۰﴾ که د وروستي رکعت رُکوع کښې شامل شي نو (د بعضې عُلَماء په نزد) د تَکبِيرِ اُولیٰ فضيلت به حاصل شي. (عالمگيری ج۱، ص ۶۹)

﴿۱۱﴾ د چا نه چې **جَمعه** لاړه شي نو په هغهٔ واجِب نهٔ دي چې په بل جومات کښې **جَمعه** اولټوي او هلته يې وکړي، خو مُستَحَب دي. (دُرِّمُختار ج۲ ص۳۴۷)

## ماشومان په صفونو کښې د ودرولو مسئله

﴿۱۲﴾ چې څه وخت صفونه جوړيږي نو هغه وخت که يو (پوهه) نابالِغه ماشوم وي نو هغه په هر يو تر دې چې په وروستي صَف کښې هُم چې چرته غواړي ودريدلے شي. (دُرِّمُختار ج۲ ص ۳۷۷ ماخوذاً)

﴿۱۳﴾ که د يو نه زيات ماشومان وي نو د هغوئي صَف دې د سړو د آخري صَف نه شا ته جوړ کړے شي. (دُرِّمُختار ج۲ ص ۳۷۷ ماخوذاً)

﴿۱۴﴾ بعضې خلک ماشومان د صَف کُوَټ ته ليږي دا طريقه غَلَطه ده، کُوَټ هُم په صَف کښې شامل دے، د ماشومانو صَف دې د سړو د آخري صَف شا ته جوړ کړے شي.

## هر صَف د ځان نه شا ته صَف نه غوره دے

﴿۱۵﴾ د سړو وروميے صَف چې اِمام ته نزدې دے، د دوئم نه غوره دے او دوئم د دريم نه وَعَلٰی هٰذَ الْقِيَاس (يعني او هُم داسې) (عالمگيری ج۱، ص۸۹) مطلب دا چې هر مخکښينے صَف د خپل شا ته صَف نه غوره دے.

﴿۱۶﴾ د مُقتدي د پاره غوره ځائے دا دے چې اِمام ته نزدې وي او که دواړه طرفونه برابر

وي نو ښـے طرف غوره دے. (عالمگیری ج۱، ص ۸۹)

﴿۱۷﴾ د صَفِّ مُقَدَّم (يعنې وړومبي صف) غوره کيدل په غيرِ جنازه کښې دي او په جنازه کښې آخرے صَف غوره دے. (دُرِّ مُختار ج ۲ ص ۳۷۲، ۳۸٤)

﴿۱۸﴾ که مخکښې صَف کښې ځائے وي او شا ته صَف ډک شوے وي نو هغه دې اوخيري او لاړ دې شي په تش ځائے کښې دې ودريږي. (عالمگیری ج۱، ص۸۹) د دې د پاره حديث کښې فرمائيلي شوي دي: ”څوک چې په صَف کښې فراخي اُووِيني او هغه بنده کړي د هغهٔ بخښنه به وشي.“ (مَجمَعُ الزَّوائِد ج ۲ ص ۲۵۱ حديث ۲۵۰۳) او دا هلته پکار دي کوم ځائے چې د فِتنې او فساد اِحتِمال (يعنې شک شُبه) نهٔ وي. (بهارِ شریعت ج۱ ص ۵۸٦)

﴿۱۹﴾ (د جَمعې په دوران کښې) که د جومات په انګڼ کښې ځائے وي نو په بالاخانه (يعنې پاسني منزِل) کښې اِقتِدا کول (يعنې جَمعه کښې شامليدل) مکروهِ (تَحرِيمي) دي، هُم داسې که [مخکښې] صف کښې ځائے وي نو شا ته ودريدل منع دي. (دُرِّ مُختار ج ۲. ص ۳۷٤)

## اِمام نه مخکښې رُکوع يا سجده کښې تلل

﴿۲۰﴾ که اِمام نه مخکښې يـې رُکوع وکړه او د ده د سر اوچتولو نه مخکښې اِمام هُم رُکوع وکړه نو رُکوع وشوه، په شرط د دې چې هغه وخت يـې رُکوع کړې وي چې اِمام په قدر د فرض قِـراءَت کړے وو کنې رُکوع اونشوه او په دې صورت کښې که اِمام سره يا وروسته يـې دوباره رُکوع وکړه نو وشوه کنې نمونځ يـې مات شو، او د اِمام نه مخکښې رُکوع، يا يو رُکـن [مخکښې] ادا کولو کښې به بهرحال ګنهګار وي. (دُرِّ مُختار و رَدُّالْمُحتَار ج ۲ ص ٦۲٤)

﴿۲۱﴾ که اِمام نه مخکښې مُقتَدِي سَجدې له لاړو او د هغهٔ د سر اوچتولو نه مخکښې امام هُم سَجدې له لاړو نو داسې سَجده خو يـې وشوه خو مُقتَدِي د پاره داسې کول حرام دي.

(بهارِ شریعت ج۱ ص ۵۹٤)

## خپل فرض یې شروع کړل، په دې کښې جُمعه ودریدله!

**﴿۲۲﴾** یواځې فرض نمونځ یې چې ځنګه شروع کړو، یعنې لا د وړومبي رکعت سَجده یې نۀ وه کړې چې **جُمعه** ودریدله نو مات دې یې کړي (دا ماتول مُستَحَب دي) او **جُمعه** کښې دې شامل شي. (تَنوِیرُ الاَبصار و دُرِّ مُختار ج ۲ ص ۶۰۶، ۶۱۰)

**﴿۲۳﴾** د **جُمعې** قائمیدو نه مُراد د مُـؤَذِّن تَکبِیر وئیل مُراد نۀ دي بلکې **جُمعه** شروع کیدل مُراد دي، د مُـؤَذِّن په تَکبِیر وئیلو به نمونځ نۀ ماتوي اګر که تر اوسه پورې یې د وړومبي رکعت سَجده نۀ وي کړې. (رَدُّالْمُحْتَار ج ۲ ص ۶۰۸)

**﴿۲۴﴾** نمونځ ماتولو د پاره د کښیناستلو ضرورت هُم نشته، نمونځ ماتولو د پاره دې په ولاړه ولاړه یو طرف ته سلام وګرځوي. (عالمګیری ج ۱، ص ۱۱۹)

**﴿۲۵﴾** **جُمعه** قائمیدلو باندې نمونځ هله ماتول دي چې په کوم مقام کښې نمونځ کوي په هُم هغه مقام کښې **جُمعه** قائمه شي، که په کور کښې نمونځ کوي او جومات کښې **جُمعه** ودریدله یا یې په یو جومات کښې کوي او په بل جومات کښې **جُمعه** قائمه شوه نو د ماتولو حُکم نشته اګر که د وړومبي رکعت سَجده یې نۀ وي کړې. (رَدُّالْمُحْتَار ج ۲ ص ۶۰۸)

## سحر او ماښام د خپل نمانځۀ په دوران کښې د جُمعې ودریدلو مسئله

**﴿۲۶﴾** د سحر یا ماښام یو رکعت مو کړے وو چې **جُمعه** ودریدله نو فوراً نمونځ مات کړئ او **جُمعه** کښې شامل شئ اګر که دویم رکعت مو شروع کړے وي. البته که د دویم رکعت سَجده مو وکړه نو بیا د دې دوو نمونځونو ماتولو اجازت نشته او د نمانځۀ پوره کیدو نه پس پکښې د نفلو په نِیَّت هُم نۀ شئ شریک کیدے ځکه چې د سحر نه پس نفل جائز نۀ دي او ماښام کښې په دې وجه [نه شئ شریک کیدے] چې د نفلو درې رکعاته نۀ وي او که ماښام کښې د نفلو په نِیَّت شامل شوئ نو بد مو وکړل، د اِمام د سلام ګرځولو نه پس ورسره یو رکعت بل ملګرے کړئ او څلور یې کړئ، او که امام سره مو سلام وګرځولو نو نمونځ فاسِد شو، څلور رکعاته قضا یې وکړئ. (عالمګیری ج ۱، ص ۱۱۹ مُلَخَّصاً)

﴿۲۷﴾ كه چا نفل (يا سُنَّتِ مُؤَكدَه) شروع كړي وو او **جمعه** قائمه شوه نو د نفلو (يا سُنَّتِ مُؤَكدَه) ماتولو اجازت نشته بلكې دوه ركعاته دې پوره كړي اګر كه د وړومبي ركعت سَجْده يې نه وي كړې، او كه دريم كوي نو څلور دې پوره كړي. (تفصيل: فَتَاوىٰ رَضَوِيّه، ج ۸ ص ۱۲۹ تا ۱۳۶)

﴿۲۸﴾ كه د جُمُعې يا ماسپښين د سُنَّتو كولو په دواران كښې خُطبه يا **جمعه** شروع شي نو څلور پوره كړئ. (تَنوِيرُ الْاَبْصار و دُرِّ مُختار ج ۲ ص ۶۱۱)

﴿۲۹﴾ قضا نمونځ يې شروع كړو او **جمعه** قائمه شوه نو پوره دې يې كړي او شامل دې شي، خو كه قضا يې شروع كړو او بِعَيْنِهٖ (يعني رسا) د هُم هغه قضا د پاره **جمعه** قائمه شوه نو مات دې يې كړي او پكښې شامل دې شي.

﴿۳۰﴾ امام په رُكوع كښې وو او تاسو تكبير اُووئيلو او چې څنګه ټيټ شوئ نو اِمام ودريدلو نو كه حَدِّ رُكوع كښې قليل (يعني لږ شان) مُشارِكت (يعني د دواړو يو ځائے شركت) وشو نو ركعت حاصل شو. (عالمگیری ج ۱، ص ۱۲۰ مُلَخَّصاً)

اے زمونږه خوږه **الله** پاكه! اسلامي وروڼو ته د صَفونو صحيح ساتلو سره د **جمعې** د نمونځونو ادا كولو توفيق وركړې! او زمونږه نمونځونه قبول كړې! او زمونږه كوتاهئ معاف كړې! اے **اللّٰهُ** رَبُّ الْعِزَّت! مونږ ته ستا د خوښې د نمانځهٔ ادا كولو سعادت راكړې او زمونږه بې حسابه بخښنه وكړې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ہو کرم اے رب رحمت! پئے سرور رسالت    نہ نماز باجماعت کی چھٹے کبھی سعادت

وكړې كرم اے ربِّ رَحمت! په خاطر د سرورِ رِسالت
چې لا ړ نهٔ شي زمونږه نـه، د جَمعې د نمونځ سعادت

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!    صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د جَمعې نمانځهٔ له جومات ته د تللو 30 نِيَّتونه

فتاوىٰ رَضويّه جِلد 5 صفحه 673 تا 675 کښې ليکلو شوو 40 نِيَّتونو نه د مدد اخستلو په ذريعه آسانو الفاظو کښې د انتخاب کولو کوشش، او بعضې نِيَّتونه خارِج او بعضې نوي هُم شامل کړے شوي دي. د خپل کيفيت مطابق د دې نه چې څومره نِيَّتونه مُمکن وي هغه هومره نِيَّتونه کوئ، اِنْ شَآءَالله په هر نِيَّت به جُدا جُدا 10 نيکئ حاصليږي.

﴿۱﴾ د الله پاک په لور د بلونکي مُـؤَذِّن صاحِب بلل قبلووم ﴿۲﴾ د جَمعې نمانځهٔ له ځم. ﴿۳﴾ تَحِيَّةُ الْمَسْجِد ادا کولو د پاره ځم. ﴿٤﴾ نفلي اِعتِکاف کولو د پاره ځم. ﴿۵﴾ د جومات دِيدار به کووم. ﴿٦﴾ جومات ليدلو باندې به دُرُود شريف لوَلَم. ﴿۷﴾ په لاره کښې مې که څه لِيک والا کاغذ اوليدو نو راپورته کووم به يې او د ادب په ځائے به يې ږدم ﴿۸﴾ چا نه که لار خطا شوې وه هغه ته به لار ښايم ﴿۹﴾ د نابِينا لاس به نيسم او د بوتللو مدد به يې کووم ﴿۱۰﴾ جومات کښې ننوتلو وخت کښې به ښئ ښپه او ﴿۱۱﴾ وتلو وخت کښې به گڅه ښپه مخکښې کووم ﴿۱۲، ۱۳﴾ دواړه ځله به دُعاګانې لوَلم ﴿۱٤﴾ د جَمعې په نمانځهٔ کښې به د مسلمانانو بَرَکتونه حاصلووم ﴿۱۵﴾ مسلمانانو ته به سلام کووم ﴿۱٦﴾ که چا را ته سلام وکړو نو جواب به ورکووم ﴿۱۷﴾ مسلمانانو ته به مُسکے کيږم او مصافَحه به ورسره کووم ﴿۱۸﴾ چې کومو خپلوانو سره مې ملاقات وشو نو په خوشحالئ به ورسره په ښهٔ انداز کښې ملاقات کووم چې د صِلهٔ رِحمي د ثواب حقدار جوړ شم ﴿۱۹﴾ د عُلَمائے دِين او نيکو مسلمانانو دِيدار به کووم ﴿۲۰﴾ کوم مسلمان که پرنجے وکړو او هغه اَلْحَمْدُ لِلّٰه اُووئيلو نو جواب کښې به يَرْحَمُکَ الله وايم. ﴿۲۱﴾ که يو مريض سره مې ملاقات وشو نو عِيادَت [يعني تپوس] به يې کووم ﴿۲۲﴾ که کوم غمژن سره مې ملاقات وشو نو تَعزِيَّت به يې کووم (يعني غمرازي به ورسره کووم) ﴿۲۳﴾ که د جائز خوشحالئ والا کس سره مې ملاقات وشو نو مبارکي به ورکووم ﴿۲٤﴾ که هلته مې يو صاحِبِ عِلم سره ملاقات وشو نو مسائل به ترې زده کووم ﴿۲۵﴾ (عِلم لرونکے دا نِيَّت هُم کولے شي) چا ته چې نهٔ وي معلوم هغوئي ته به مسائل زده کووم. ﴿۲٦﴾ د نيکئ دعوت به ورکووم ﴿۲۷﴾ د بدئ نه منع به کووم ﴿۲۸﴾ که د دوو مسلمانانو خپل مينځ

کېنې جګړه وشوه نو حَتَّی الاِمکان د هغوئي په مينځ کښې به صُلح کووم ﴿۲۹﴾ که جنازه موجوده وه نو د جنازې نمونځ به کووم ﴿۳۰﴾ که موقع مې اوموندله نو ښخولو د پاره به ورسره ځم.

# د ريل ګاډي په حادِثه کښې د مرګه بچ شو

جومات ته د تللو د پاره د نِيَّتونو کولو عادت جوړلو، د ښو ښو نِيَّتونو جذبه حاصلولو او د ډير ډير ثواب ګټلو سوچ حاصلولو د پاره د دعوتِ اسلامي د مَدَني قَافِلو مسافر جوړيږئ.

**مَدَني سپرلے:** د ايف سي ايريا، لياقت آباد (کراچۍ) يو اسلامي ورور د يوې مياشتې مَدَني قَافِله کښې کشمير ته روان شو. راولپنډۍ پورې سفر په ريل ګاډي کښې کول وو. د سحر د نمانځهٔ د پاره ګاډے اُونه دريدو نو مَدَني قَافِله کښې شاملو اِسلامي ورونړو په ريل ګاډي کښې د سحر نمونځ ادا کړو، د ماسپښين په آخري وخت کښې ګاډے ودريدو نو د ماسپښين نمونځ يې ادا کړو، بيا د مازيګر وخت هُم په تيريدو وو چې علي پور چټهه (پنجاب) کښې چې څنګه ګاډے ودريدو نو هغوئي په پليټ فارم باندې نمونځ وکړو، سلام ګرځولو نه پس يې چې اوکتل نو ګاډے روان شوے وو، اسلامي ورونړه په منډه منډه کښې ورختل شروع شو، يو وزندار اِسلامي ورور دروازې سره لګيدلے پائپ اونيولو خو په ختلو کښې کامياب نهٔ شو او ګاډي ځان سره راښکلو، يو اِسلامي ورور [د بره نه] په يو لاس د ګاډي جنګله اونيوله او په بل لاس يې د هغهٔ لاس اونيولو خو هغه په پليټ فارم اوغورزيدو، بل طرف ته د دې اِسلامي ورور د لاسه هُم جنګله خلاصه شوه او دے د پليټ فارم په ځائے د ډبې نه لاندې اوغورزيدو او د پټرئ او پليټ فارم د مينځه ځائے کښې ونښتو، کم از کم دوه ډبې تيرې شوې. د هغهٔ ملاء، د ورنونو نه پاس شا طرف ته ځايونه، پُښتۍ او څنګلې سختې زخمي شوې او بيهوشه شولو، ايمرجنسئ کښې ګاډے ودرولے شو، د مَدَني قافلې شُرَکاء چې د هغهٔ حالت وليدو نو سخت وارخطا شو، هغوئي د هغهٔ د

راويستلو کوشش وکړو خو کامياب نهٔ شو، بيا پولِيس والا راغلل او هغه يـې راويستلو، يو اسلامي ورور سره د يو بُزرګ دَم کړي اوبه وې، چې د هغه په مخ يـې هغه اوبه اوڅښولې نو په هوش کښې راغلو او کلِمهٔ طَيِّبه وئيل يـې شروع کړه او لږ ساعت پس بيا بې هوشه شو. هلته نزدې غټ اَسپتال نه وو ځکه يـې هغه په ريل ګاډي کښې واچولو او وزير آباد (پنجاب) ته يـې يوړلو او هلته ورله ډاکټرانو علاج شروع کړو، چې هغه بيا په هوش کښې راغلو نو د مانړام اذانونه کيدل، هغه په سټريچر باندې [ملاست] په اشارو باندې نمونځ ادا کړو او دعاګانې يـې شروع کړې، چې ايکسرے يـې وشوې نو ټول هډوکي يـې بچ وو اګر چې غوښه يـې زخمي وه. ډاکټران او پوليس والا حيران وو چې په دومره خطرناکه طريقه د غورزيدلو باوجود دا څنګه بچ شو؟ نو تپوس يـې ترې وکړو چې: تاسو د چا مُرِيد يـې؟ نو هغهٔ ورته د خپل پير نُوم اوښودلو (چې هغوئي د غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه مُرِيد جوړوي). دا يـې چې واوريدل نو هغوئي اُووئيل چې مونږه هُم د هغوئي مُريدان جوړ کړئ. بيا ډاکټرانو وغيره ته د مَدَني قافلې تعارُف بيان کړے شو نو هلته داسې ماحول جوړ شو چې نعت خواني شروع شوه. اَلْحَمْدُ لِلّٰه يو څو ورځې پس هغه واپس کراچۍ ته راغلو.

فضل کی بارشیں، رحمتیں نعمتیں　　　گر تمہیں چاہئیں قافلے میں چلو

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٧٦)

کـه د فضل بـارانـونـه، رحـمتونه، نعمتونه
غواړئ وروڼو راځئ، قافِلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نظر ښکته ساتلو سره زړهٔ پاک کيږي

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد بِن محمّد بِن محمّد غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي چې: نظر ښکته ساتل

زړونه د هر قِسمه ګناهونو نه په ډېره ښه طريقه پاک کوي او په عبادَتِ اِلٰهی او نيکو کښې د اضافې باعِث جوړيږي. که تهٔ خپلې سترګې د ښکته ساتلو په ځائے آزادانه په هر څه نظر اچوې نو ستا سترګې به فُضُولو څيزونو ته کتلو کتلو سره په حرامو هُم پريوتل شروع شي! بيا که تهٔ قَصداً [يعنې اِرادَتاً] حرام څيز باندې نظر اچوې نو دا به يو د ګُناه کار وي.

(منهاجُ الْعَابِدِين ص ٦٢ مُلَخَّصاً)

## د بدې خاتِمې د وېرې

اے د شِين شِين ګُنبَد ليدلو ارمان لرونکو! ښخوانو بُزرګانِ دِين رَحمَةُاللهِ عَلَيهِم به د نظر د فساد نه د بچ کيدلو د پاره او د بدې خاتِمې د وېرې خپلې سترګې اکثر ښکته ساتلې.

(حکايتيں اور نصيحتيں ص ٢٤٥)

## نظر ښکته ساتلو د پاره لاجواب مَدَنــي ګلونه

**بد نګاهئ** سره سره د فُضُولو کتلو نه بچ کيدلو او د حيا په وجه اکثر نظر ښکته ساتلو ته د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې "**د سترګو قُفلِ مدينه**" لګول وائي. حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحمَةُاللهِ عَلَيه نقل کوي چې: حضرتِ سَيِّدُنا **جُنَيد بَغدادي** رَحمَةُاللهِ عَلَيه ته چا عرض وکړو: يا سيِّدِي! زهٔ د نظر ښکته ساتلو عادت جوړول غواړم، څه داسې خبره راته اوښايئ چې زهٔ د هغې نه مدد واخلم. هغوئي رَحمَةُاللهِ عَلَيه ورته اُوفرمائيل: دا سوچ جوړ کړه چې زما نظر بل چا ته اوکوري د هغې نه مخکښې يو ليدونکے (يعنې الله پاک) ما وِيني. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج٥ ص١٢٩) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږ بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن** صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

چھپ کے لوگوں سے کئے جس کے گناہ — وہ خبر دار ہے کیا ہونا ہے
ارے او مجرم بے پرواہ دیکھ! — سر پہ تلوار ہے کیا ہونا ہے

(حدائقِ بخشش شریف ص١٤٧)

نافرمانئ دې چې د چا کړې پتې له خلکو هغه د هر څه نه خبر دے، څه به کيږي
اے بې پرواه مُجرِمه اوګوره لږ شَمشِير رازوَرِند دې په سر دے، څه به کيږي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## چې يوه جَمعه ختمه شوې وي نو بيا

که يوه **جَمعه** ختمه شوې وي نو بله **جَمعه** هُم کيدے شي مَثَلًا که يو اِسلامي وړور د **جَمعې** نه پاتې شوے وي او د **جَمعې** ورکولو صلاحِيَت لري نو هغه دې اِمام جوړ شي او چا چې فرض ادا کړي وي هغه دې په هغهٔ پسې د نفلو په نِيَّت نمونځ وکړي خو چا چې د سحر يا مازيګر يا ماښام نمونځ کړے وي، هغه بيا نفل نهٔ شي کولے [مسئله: د سحر او مازيګر نه پس نفل نمونځ نشته او د ماښام درې رکعته د نفلو په نيت ځکه نهٔ شي کولے چې نفل درې رکعاته نهٔ وي].

د حضرتِ سَيِّدُنا ابُو سعيد خُدري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې: يو صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ جومات ته راغلو، هغه وخت سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نمونځ ادا کړے وو، تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: څوک شته چې په دهٔ **صَدَقه** وکړي (يعنې دهٔ سره نمونځ وکړي چې دهٔ ته د **جَمعې** ثواب حاصل شي نو) يو صاحب (يعنې سيِّدُنا ابوبکر صديق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ) هغوئي سره نمونځ وکړو. (تِرمِذِی ج۱ ص ۲۵۹ حديث ۲۲۰، اَبو داوٗد ج۱، ص ۲۳۷ حديث ۵۷٤)

## د 26 درجې ثواب صَدَقه

حضرتِ سَيِّدُنا عَلّامه علي قاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک نه لاندې فرمائي: د صدقے نه مُراد دا دے چې څوک د هغهٔ سره ښيګړه او احسان وکړي يعنې هغه سره نمونځ وکړي چې هغهٔ ته د **جَمعې** ثواب حاصل شي نو د ابه داسې وي لکه دهٔ چې هغه کس ته صَدَقه ورکړه، په دې کښې دا دليل دے چې چا ته د نيکئ لار ښودل او د دې ترغيب ورکول

صَدَقه ده. عَلّامه مُظهر رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائيلي دي چې خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې ته صَدَقه اووئيله ځكه چې دۀ په هغۀ باندې شپږ ويشت هومره صَدَقه وكړه (يعني هغه ته د 27 درجې نمونځونو ثواب حاصل شو)، كه هغه كس يواځې نمونځ كولے نو د هغۀ به صرف د يو نمونځ ثواب شوے وے. (مِرقاةُالمَفَاتِيح ج ٣ ص ٢٢٥)

## فساد نه بچ كيدل ضروري دي

د **جَمعي** د نمانځۀ عاشقانو! بې اجازتِ شرعي **بِالقَصۡد** (يعني اِرادَتاً) وړومبئ **جَمعه** پرېښودل نۀ دي پكار، او داسې ځائے كښې هُم جَماعَتِ ثاني (يعني دويمه **جَمعه**) بالكل كول نۀ دي پكار كوم ځائے كښې چې [د دې په وجه] د فساد او نفرت حالات پيدا كيږي مَثَلًا كه اِمام صاحب يا نور نمونځ ګُزاره دا ګنړي او اعتراض كوي چې دا كس **بِالقَصۡد** (يعني اِرادَتاً) داسې كوي.

## اسلامي خويندې او جَمعه

اسلامي خويندو [يعني زنانۀ] ته **جَمعي** سره د نمانځۀ ادا كولو په شريعت كښې اجازت نشته، لِـهذا په هغوئي د اختر نمونځ هُم واجب نۀ دے او د جُمُعې په ځائے دې د معمول مطابق د ماسپښين نمونځ كوي، پينځۀ وخته نمونځ دې يواځې په خپل كور كښې كوي بلكې كه د ټولو نه دننه كوټه كښې يـې ادا كوي نو زياته بهتره ده. چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ مسعود رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ نه رِوايت دے چې د تاجدارِ رِسالت صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: "د زنانه په دالان (يعني غټه كوټه) كښې نمونځ كول په انګڼ كښې كولو نه بهتر دي او كوټنئ (يعني وړه كوټه) كښې [ادا كول] دالان (يعني غټې كوټې) نه بهتر دي."
(اَبو داوٗد ج ١ ص ٢٣٥ حديث ٥٧٠)

## شرحِ حديث

مُفَسِّرِ قرآن، حضرت مُفتي اَحمد يار خان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د دې حديثِ پاک نه لاندې ليكي:

خُلاصه دا ده: ولې چې د زنانه د پاره پرده ډېره اعلیٰ ده، لِهذا چې څومره (زياته) پرده کښې نمونځ وکړي هغه هومره به بهتره وي.

## د نمانځهٔ د پاره ښه لِباس، او عطر لګول مُسْتَحَب دي

"تفسِير صِراطُ الْجِنان" جِلد 3 صفحه 300 تا 301 کښې ليکي: (پاره 8 سُوْرَةُ الْاَعْرَاف آيت نمبر 31 کښې دي: خُذُوْا زِيْنَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: خپل زينت وکړئ چې کله جومات ته ځئ.) ﴿خُذُوْا زِيْنَتَكُمْ: خپل زينت وکړئ﴾ يعنې د نمانځهٔ د پاره صرف سِترِ عورت (يعنې صرف د پردې د ځايونو پټولو) والا لباس مهٔ اغوندئ بلکې د دې سره سره چې د زينت والا جامې هُم وي يعنې ښهٔ لِباس کښې د خپل ربِّ کريم په دربار کښې حاضرېږئ. او يو قول دا دے چې خوشبو لګول هُم په زينت کښې داخل دي يعنې د نمانځهٔ د پاره د دې خيزونو اهتمام هُم کوئ. سُنَّت دا دي چې انسان دې بهتر هَيئَت (يعنې بهتر ډَول) سره نمانځهٔ ته حاضرېږي ځکه چې په نمانځهٔ کښې د خپل ربِّ کرِيم نه مُناجات [يعنې سوال کول] دي، نو د دې د پاره زينت کول او عِطر لګول مُسْتَحَب دي لکه سترِ عَورت (د دې معنیٰ مخکښې راروانه ده) او طهارَت واجِب [دلته مُراد يعنې] فرض) دے. شانِ نُزُول: د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې، تاجدارِ رِسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: مخکښې به زنانه د بَيْتُ الله طواف په لُوڅه [يعنې په بربنډه] کولو او دا به يې وئيل چې څوک به ما ته يوه کپړه راکړي چې زهٔ يې په خپله شرمګاه واچووم، نن به بعضې يا ټول ظاهر شي او کوم چې ظاهر شي زهٔ به هغه کله حلال نهٔ کړم. هله دا آيت نازل شو." (مُسلِم ص ۱۲۳۳ حديث ۷۵۵۱)

## د آيت "خُذُوْا زِيْنَتَكُمْ" نه معلوم شوي احکام

په دې آيت کښې د سَتر پټولو او جامو اغوستلو حُکم ورکړے شوے دے او په دې

کښې دليل دے چې سَترِ عورت په نمانځهٔ، طواف بلکې هر حال کښې واجِب [يعنې فرض] دے. او دا هُم معلومه شوه چې څومره کيدے شي نمونځ دې په ښو جامو کښې کوي او جومات ته دې په ښهٔ حالت کښې راځي. بدبوداره جامو کښې او بدبوداره خُله دې جومات ته نهٔ راځي. هُم داسې دې لُوڅ [يعنې بربنډ] جومات ته نهٔ داخليږي (د سَترِ عورت معنیٰ: د نارينه د پاره د نامهٔ نه واخله زنګونانو سره د بدن ټوله حِصّه پټول ضروري دي. او د زنانه د پاره د دې پينځهٔ اندامونو: مخ، د دواړو لاسونو ورغوي او د دواړو ښپو شا (يعنې د ښپو پاسنئ ډډو) نه علاوه ټول بدن پټول لازمي دي. البته که دواړه لاسونه يې (د ګِيټو پورې او)، ښپې (د ګيټو [يعنې پړکو] پورې) پوره ښکاره شي نو د يو مُفْتیٰ بِهٖ قول مطابق نمونځ صحيح دے.)

(مُلَخّص از فتَاوىٰ رَضَوِيّه مُخرَّجه، ج ٦، ص ٣٩، ٤٤، ٤٥)

**طَهارت:** د نمونځ ګُزاره بدن، لِباس او کوم ځائے باندې چې نمونځ کوي هغه ځائے د هر نَجاسَت نه پاک کيدل ضروري دے. (شرح الواقاية ج ١ ص ١٥٦)

## جوماتونه د صفا ساتلو مُتَعَلِّق درې اَحادِيث

﴿1﴾ د حضرت ابُو سعيد خُدري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې، رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "څوک چې د جومات نه د اَذِيَّت (يعنې تکليف والا) څيز اُوباسي، الله پاک به د هغهٔ د پاره په جَنَّت کښې يو کور جوړ کړي." (اِبنِ مَاجَه ج ١ ص ٤١٩ حديث ٧٥٧) ﴿2﴾ حضرتِ واثِله بِن اَسقَع رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې تاجدارِ رِسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: "جوماتونه د ماشومانو او ليونو او اخستلو، خرڅولو او جګړې او آواز اوچتولو، حدونه قائمولو او تُوره راښکلو نه بچ ساتئ." (اِبنِ مَاجَه ج ١ ص ٤١٥ حديث ٧٥٠) ﴿٣﴾ د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: "څوک چې په جومات کښې يو کس په اوچت آواز ورک شوے څيز لټولو باندې واوري نو اُو دې وائي: "الله پاک دې هغه ورک شوے څيز تا ته پيدا نهٔ کړي، ځکه چې جوماتونه د دې کار د پاره نهٔ دي جوړ کړے شوي." (مُسلِم ص ٢٢٤ حديث ١٢٦٠) (دتفسير صِراطُ الْجِنان مضمون مکمل

شو) (جوماتونه د صفا سوتره او خوشبوداره ساتلو مُتَعَلِّق معلومات حاصلولو د پاره د مَکتَبَةُالْمَدِینه رساله "جوماتونه خوشبوداره ساتئ" ولولئ)

## قيمتي [يعني ګران] لباس کښې نمونځ

امامِ اعظم ابو حنيفه حضرت نُعمان بِن ثابِت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به د شپې د نمانځهٔ د پاره قيمتي قميص پرتوګ، عِمامه او څادر استعمالولو، چې د هغې قيمت يو نيم زر دِرهَمه وو، هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به هره شپه نمونځ په داسې لباس کښې کولو او فرمائيل به يې چې مونږه د خلکو سره په ښهٔ لباس کښې ملاقات کوو نو **الله** پاک سره په اعلیٰ (يعني ډير ښهٔ) لِباس کښې ملاقات ولې اونکړو! (رُوحُ البَيان، ج ٣ ص ١٥٤ مُلَخَّصاً)

## اعلیٰ حضرت به نمانځهٔ د پاره ښهٔ لباس اغوستلو

حضرت مولانا محمد حُسين چِشتي نِظامي فَخري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه چې هغوئي ته يو څو کاله د اعلیٰ حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د فَتاوىٰ ليکلو د خدمت سعادت حاصل شوے وو، هغوئي فرمائي چې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به ټول عُمر لازمي طور د **جَمعي** سره نمونځ کولو او که هر څومره ګرمي به وه هميشه به يې د دَستار (يعني عمامې) او اَنګَرکهے (يعني د قميص د پاسه اغوستلو والا يو لباس) سره نمونځ کولو (يعني نمانځهٔ د پاره به يې د لباس خُصوصي اهتمام کولو). خُصُوصاً فرض نمونځ خو يې کله هُم صرف ټوپئ او قميص پرتوګ سره نهٔ دے کړے. نور فرمائي چې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به په څومره احتياط نمونځ کولو نن صبا هغه خبره نهٔ ښکاري. هميشه به زما دوه رکعاته د هغوئي د يو رکعت سره کيدل او نورو خلکو به زما په څلورو رکعاتو کښې کم از کم شپږ رکعاته بلکې اَته رکعاته هُم کول. (حياتِ اعلیٰ حضرت ج ١ ص ١٥٣ بتغير)

## خيرن لباس کښې نمونځ کول مناسب نهٔ دي

د اِمامِ اعظم او اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِما د نمونځونو جذبه مرحبا! په ښهٔ لباس کښې د

نمانځهٔ ادا کولو اهتمام! **اللّٰه**! **اللّٰه**! د کار روزګار لباس او خیرن لباس کښې نمونځ کول مناسب نهٔ دي، د نمانځهٔ د پاره کم از کم چې داسې لباس خو وي څنګه چې دعوت له يا د دُنیوي افسر وغیره خوا ته تللو د پاره اغوستلے کیږي. خو پکار ده چې لباس د سُنّتو مطابق وي او داسې جامې اغوستل پکار دي څنګه چې د معاشرې مُهَذَّب مسلمانان مَثَلًا عُلَماء و صُلَحا (یعنې نیک خلک) اغوندي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ګناهونه به يې اُوبخښلے شي

د حضرتِ سَیّدُنا عُثمانِ غَني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه رِوایت دے چې د مدینے تاجدار، د نبیانو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: ”چا چې کامِل (یعنې پوره) اودس وکړو، بیا فرض نمانځهٔ له روان شو او اِمام سره يې (نمونځ) وکړو، د هغهٔ ګناهونه به اوبخښلے شي.“

(اِبن خُزَیْمَة ج ۲. ص ۳۷۳ حدیث ۱٤۸۹)

## جَمعه حاصلیدل څه ته وائي؟

”بهارِ شریعت“ جِلد اَوَّل صفحه 698 کښې مسئله نمبر 18 ده: د څلورو رکعاتو نمونځ کښې چې څوک په یو رکعت کښې امام سره شامل شو نو هغهٔ **جَمعه** حاصله نهٔ کړه خو د **جَمعي** ثواب به ورته حاصلیږي اګر که په ”قعدهٔ اَخِیره“ کښې شامل شوے وي، بلکې څوک چې درې رکعاتو کښې شامِل شو هغهٔ هُم **جَمعه** حاصله نهٔ کړه [خو د] د **جَمعي** ثواب به ورته حاصلیږي، خو د چا نه چې کوم رکعت لاړو د هغهٔ به دومره ثواب نهٔ کیږي خومره چې د شروع نه د شریک کیدونکي کیږي. د دې مسئلې مُحَصَّل (یعنې خُلاصه) دا ده چې چا قسم اوخوړو چې ”فلانکے نمونځ به **جَمعي** سره کووم“ او (بیا که) یو رکعت ترینه لاړو نو قسم يې مات شو، کفّاره به ورکوي. که د درې او دوه رکعاتو نمانځهٔ کښې

ترينه هُم يو رکعت لاړو نو **جُمعه** مِلاؤ نهٔ شوه. او د لاحِق[1] حُکم د پوره **جُمعه** حاصلوونکي دے. (دُرِّمُختار و رَدُّالمُحتَار ج ۲ ص ۶۲۱، ۶۲۲)

## د جُمعې د ټکرو په خپل مينځ کښې خبرې اترې

د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه رِوايت دے چې شَهَنشاهِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: "هر سحر او ماښام د ځمکې يوه ټُکړه بلې (يعنې خپلې ګاونډې ټُکړې) ته غږ کوي چې: نن په تا باندې څوک نيک بنده تير شوے دے چې هغهٔ په تا **نمونځ** کړے وي يا يې ذِکرِ اِلٰهي کړے وي؟ که هغه "آو" اُووائي نو (تپوس کوونکې ټُکړه) د هغې د پاره په دې سبب د ځان نه زياته بُزُرګي تصوُّر کوي." (مُعجَم اَوسَط ج ۱ ص ۱۷۱ حديث ۵۶۲)

## د ځمکې ټکړه به د قيامت په ورځ ګواهي ورکوي

حضرتِ سَيِّدُنا عطا خُراساني رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: کوم بنده چې د ځمکې په ټُکړو (يعنې حِصّو) باندې سَجده کوي نو د ځمکې هغه ټُکړه به په ورځ د قيامت د هغهٔ (سَجده کوونکي) په حق کښې ګواهي ورکوي او د هغهٔ د مرګ په ورځ به په هغهٔ [پسې] ژړا کوي. (اَلبُدُورُ السَّافِرَة ص ۲۸۱، رقم ۸۲۸)

اے د نمانځهٔ عاشقانو! د ځمکې د حِصّو د خوشحالولو او هغه حِصّه د خپل نمانځهٔ ګواه جوړولو په نِيَّت چې چرته کيدے شي په بدل بدل ځائے نمونځ کول مناسب دي،

---

[1] لاحِق هغه وي چه اِمام سره ئې په ورومبي رکعت کښې اِقتِدا اوکړه خو د اِقتِدا نه پس ترينه ټول رکعاتونه يا بعضې لاړل، اګر که د عُذر په وجه وي، لکه غفلت يا د ګڼې په وجه ئې رُکُوع او سجود اونکړے شو، يا په نمانځه کښې ورته حَدَث اوشو (يعني اودس ئې مات شو) يا مُقيم په مسافر پسې اِقتِدا اوکړه، يا "صلوٰةِ خوف" کښې ورومبئ ډلې ته چې کوم رکعت امام سره ملاو نهٔ شو، اګر که بې عُذره ترينه لاړ شي لکه د اِمام نه مخکښې ئې چې رُکُوع او سُجُود اوکړل بيا ئې د هغې اِعاده هم اونکړه. يعني دوباره ئې ادا نهٔ کړل نو د اِمام دويم رکعت به د هغه ورومبے رکعت وي او دريم به ئې دويم او څلورم به ئې دريم وي او آخره کښې به يو رکعت کوي. (بهارِشريعت ج ۱، ص ۵۸۸)

مَثَلًا چې يو ځائے کښې فرض وکړي نو سُنَّت په بل ځائے، بيا دې ځائے بدل کړي او نفل دې په بل ځائے اوکړی. داسې به دا حِصَّې اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د قيامت په ورځ د نمونځونو ګواهي ورکوي.

## د مَولیٰ علي د ځائے ګواه جوړولو په اُمِّيد هلته نمونځ کول

د حضرتِ سَيِّدُنا مُجَمِّع تَيمي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه نه رِوايت دے چې اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ به بَيتُ الْمال په چا صفا کړو، بيا به يې په هغې کښې په دې اُمِّيد نمونځ ادا کولو چې په ورځ د قيامت دا ځائے د هغوئي په حق کښې ګواهي ورکړي.
(الله والوں کی باتیں ج۱ ص ۱۶۹)

## ځمکه هُم خوشحاله کړئ

حضرتِ امام عبدُ الوهّاب شَعراني رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: د رَسُولُ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له طرفه زمونږ نه دا عَهدِ عام اخستے شوے دے چې کله مونږه د جومات ګټ طرف ته اوګورو چې په هغې کښې نمونځ کول پريښودلے شوي دي نو مونږه به (د ځمکې د ګټ طرف د خوشحالئ د پاره په هغه ځائے کښې نمونځ کولو باندې د هغې احترام کوو ځکه چې د ځمکې ټکړې په خپل مينځ کښې [په يو بل] فخر کوي. بيشکه مونږ ته الله پاک د زړۀ ساتلو [يعنې د يو بل د زړۀ خوشحالولو] حُکم راکړے دے او دا اُمُور (يعنې د مختلفو څيزونو) په مينځ کښې د عدل کولو د باب نه دي، ځکه چې د چا يوه څپلئ وشليږي نو هغۀ ته حُکم ورکولے کيږي چې هغه دې يا خو دواړه په ښپو کړي يا دې دواړه کيږدي او په دواړو ښپو کښې دې انصاف وکړي او يوه څپلئ دې نۀ په ښپو کوي. او دا داسې راز دے چې په هغې صرف الله والا [يعنې اوليائے کرام] پوهيږي ځکه چې د الله پاک په عطا باندې د کشفِ صحيح په وجه هغوئي ته دا خبره معلومه شي چې هر څيز ژوندے دے او د نورو خلکو دې طرف ته تَوَجُّه نه ځي ځکه چې هغوئي ته کشف نۀ وي حاصل.

(لواقع الانوار القدسیه ص ۷٤ مُلَخَّصاً) (”کشف“ د زړهٔ هغه کیفیت ته وائي چې د هغې په ذریعه د پټو څیزونو عِلم کیږي)

## څمکې خبرې وکړې! (حکايت)

امام شَعراني نور فرمائي: يو ځل زما دِيني ورور شيخ افضلُ الدِّين رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه زما سره ناست وو، مونږه په ”خليج حاکمي“ کښې موجود د خپل جامِع مسجد په تعمير کښې مشغول وو، چې ناڅاپه هغه ځائے کښې په خشکۍ کښې موجودې د څمکې يوې ټکړې هغوئي ته اُووئيل: ”تاسو د دې محلّې خلکو ته اُووائې چې ما هم په دې جامِع مسجد کښې داخل کړې ځکه چې زهٔ يوه مُعَزَّزه (يعني عِزّتمنده) ټکړه يم،“ چنانچه هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه محلّې والؤ ته د هغې مُتَعَلِّق اُووئيل. بيا يو صاحب راغلو او هغوئي هغه ځائے کښې بَيتُ الْخَلا جوړه کړه، چې کله شيخ افضلُ الدِّين رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه راغلو نو هغوئي تپوس وکړو: داسې چا کړې دي؟ ما اُووئيل: فلانکي. هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د هغه سړي نه خفه شو او ويـې فرمائيل: د دې ټکړې د مُعَزَّزه کيدو باوجود هغهٔ د دې نه بَيتُ الْخَلا څنګه جوړه کړه؟ د شيخ افضلُ الدِّين رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د خپل نُورِ قَلب [يعني د زړهٔ د نورانِيَّت] د زياتوالي په وجه دا خيال وو چې د څمکې د ټکړو د ژوندي کيدلو او د هغوئي په خپل مينځ کښې د غيرت کولو چې څنګه هغوئي ته اِدراک (يعني پوهه حاصله) ده هُم داسې نورو ته هُم [حاصله] ده (ځکه هغوئي د هغه کس مُتَعَلِّق دا خبرې وکړې)، الله پاک دې د هغوئي نه راضي شي. (لواقع الانوار القدسیه ص ۷٤ بِالتَّصَرُّف) د اللّٰهُ رَبُّ الۡعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## تور لَړمان

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! د څمکې مختلفې حِصّې د خپلو نيکو ګواه جوړلو جذبه حاصلولو د پاره هر وخت د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ.

راځئ چې تاسو ته يو مَدَنـي سپرلے واوروم: د ډچکوټ (فيصل آباد) يو زلـمے اسلامي ورور کالِج کښې د انجينئرنګ سټوډنټ وو، کله کله به يـې نمونځ کولو خو نۀ د اوداسه د فرائضو نه خبر وو او نه ورته د نمانځۀ د شرائطو عِلم وو! په غلطو محفلونو کښې به د ټولو نه مخکښې حاضر وو، دومره بې باکه وو چې که په ګاونډ يا خاندان کښې به وادۀ وو نو هلته به د خپل مور و پلار او خويندو وروڼو په مخکښې په ډيره بې حيايئ سره د جينکو سره ګډيدو. بيا د هغوئي په ژوند کښې د تبديلئ مرحله راغله چې هغۀ ته چا په مُلتان شريف کښې کيدونکـې د دعوتِ اسلامي د درې ورځو د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې د شرکت کولو ترغِيب ورکړو. د هغۀ په زړۀ کښې د شرکت کولو شوق پيدا شو خو د کلي نه ورسره څوک تللو ته تيار نۀ شو، آخر دا چې هغۀ خپل کلاس فيلو ته دعوت ورکړو نو هغه تيار شو، داسې هغه دواړه دوستان په مُلتان اِجتِماع کښې شريک شول، هلته په خُصُوصي نِشَست کښې يو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي د "تور لړمان" په عُنوان بيان وکړو، هغه اسلامي ورور چې بيان واوريدو نو د الله د ويرې نه په لړزان شو او هُم هلته يـې د بِيرې پريښودلو نِيَّت وکړو او باقي ژوند يـې د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې د تيرولو اراده وکړه، کور ته راتلو نه پس يـې چې کله ورور د بِيرې پريښودلو نه خبر شو نو د عامو خلکو په شان يـې ورته اُووئيل چې اوس خو لا ته وړوکے يـې! بيا به يـې وروسته پريږدې يا بيا وړه وړه پريږده ځکه چې کالِج ته به هُم ځې، خلک به څه وائي! هغۀ جواب ورکړو چې وروره! که هر څه کيږي نوره يـې نه کټ کووم. د دعوتِ اسلامي دِيني کار کولو کولو کښې هغه د خپلې علاقې "مَدَني قَافِله ذِمَّه دار" هُم جوړ شو، بيا يـې ذهن جوړ شو نو په دَرسِ نِظامي کښې يـې داخِله هُم واخسته. نورو ځلمو ته د هغوئي پيغام دے چې ژوند ډير مختصر دے، راشئ! د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته راشئ، اِنْ شَآءَالله د دواړو جهانو بَرَکتونه به حاصل کړئ.

دل کی کالک دھلے، دردِ عصیاں ٹلے
آؤ سب چل پڑیں، قافلے میں چلو

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٧٦)

د زړهٔ زنګ به شي لرې، ګُم به لرې ګناهونه
ځئ چې ټول ځو په شریکه، قافلو کښې لاړ شئ

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

# جومات طرف ته د تللو فضائل

## په هر قدم باندې د درجې اوچتوالے او د ګناهونو بخښنه

د حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو هُرَیره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوایت دے چې د نبیِّ کریم رَءُوْفٌ رَّحِیْم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دے: ”چې کله بنده په ښه طریقه اودس وکړي او د جومات په لورې ځي او د هغهٔ نِیَّت صرف د نمانځهٔ وي نو د هغهٔ په هر قدم باندې یوه درجه اوچتیږي او یوه ګناه یې ورانه [یعني معاف] کړے شي، چې کله هغه نمونځ وکړي نو تر څو پورې چې په خپل ځائے ناست اوسي، فرښتې د هغهٔ د پاره [مُسلسل داسې] دُعا کوي:: اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلَیْهِ، اَللّٰھُمَّ ارْحَمْهُ، یعني یا الله! د ده بخښنه وکړې، یا الله په ده رحم وکړې.“ (بُخاری ج۱ ص۲۳۳ حدیث ٦٤٧) په یو بل روایت کښې فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې دے چې: فرښتې د هغهٔ د پاره [مُسلسل داسې] دُعا کوي: ”اَللّٰھُمَّ ارْحَمْهُ، اَللّٰھُمَّ اغْفِرْلَهٗ، اَللّٰھُمَّ تُبْ عَلَیْهِ، مَالَمْ یُؤْذِفِیْهِ، مَالَمْ یُحْدِثْ فِیْهِ“ ” یا الله په دهٔ رحم وکړې، یا الله! د دهٔ بخښنه وکړې. یا الله! د دهٔ توبه قبوله کړې! (دا دُعا د هغه وختـه پورې جاري اوسي) تر څو چې (هغه بنده چا ته) تکلیف ورنکړي یا اودَس مات نهٔ کړي.“ (مُسلِم ص ۲٦۱ حدیث ۱۵۰٦)

## د کوره وتلو وخت کښې یې که د نمانځهٔ نه علاوه څه مقصد هُم وي نو بیا؟

حافِظ ابو محمد دِمیاطي رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه د دې حدیثِ پاک لاندې فرمائي چې: د دې حدیث مبارک نه ظاهریږي چې که بنده صرف د نمانځهٔ په اراده د خپله کوره اوځي نو هغهٔ ته به

دا عظيم ثواب حاصليږي. او که هغه د نمانځهٔ سره سره د څه بل (دُنياوي) مقصد د پاره د کوره اوځي نو په هر قدم باندې حاصليدو والا ثواب به هغهٔ ته په کامِل طور (يعنې پوره) نهٔ حاصليږي. (المتجرا الرابح فِی ثواب العمل الصالح ص ٩٤)

## که ګناه معاف کيدل د ګنهګارو د پاره دي نو د نيکو بندګانو د پاره څه دي؟

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک نه لاندې ليکي: دا (يعنې يوه ګناه معاف کيدل او يوه درجه اوچتيدل) د ګنهګارو د پاره دي، د نيکو کارو (يعنې نيک کارونه کوونکو) د پاره په هر قدم دوه نيکئ او دوه درجې اوچتيدل دي ځکه چې په څه څيز د ګنهګارو ګناهونه معاف کيږي هغې سره د بې ګناه خلکو درجې اوچتيږي. (مِراٰةُالْمَنَاجِيح ج ١ ص ٤٣٦)

## د فرښتو دُعا حاصلولو د پاره هُم هلته پراته اوسئ

عَلَّامه اِبنِ بَطَّال مالِکي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: څوک چې دا غواړي چې بغير د څه مَشَقَّت (يعنې محنت) نه د هغهٔ ګناهونه ورژيږي نو هغهٔ ته پکار دي چې د نمانځهٔ نه پس د خپل نمانځهٔ ځائے پورې نښتے اوسي چې فرښتې د هغهٔ د پاره کثرت سره دُعا او اِستِغفار وکړي (او دغسې د هغه ګناهونه ورژيږي) ځکه چې د هغوئي (يعنې فرښتو) د دُعا د قبليدلو اُمِّيد دے، **الله** پاک اِرشاد فرمائي:

وَ لَا يَشْفَعُوْنَ ۙ اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰى (پ ١٧، الانبياء: ٢٨) [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او شفاعت نهٔ کوي خو د هغهٔ، څوک چې خوښ کړي (عُمدةُالقاری ج ٣ ص ٤٦٩)

## د درجاتو اوچتيدل او د ګناهونو معافي د چا د پاره؟

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ مسعُود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: څوک چې په ښه طريقه طهارت (يعنې اودس وغيره) وکړي، بيا جومات ته لاړ شي، نو کوم قدم چې اخلي، د هر قدم په بدله

کښې يـې **اللہ** پاک نيکي ليکي او درجه يـې اوچتوي او ګناه يـې ورانوي [يعنې معاف کوي] (مُسلِم ص ٢٥٧ حديث ١٤٨٨)

## د اِحرام تړلو والا حاجي په شان ثواب

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوک چې د خپل کور نه د اودس په حالت کښې د فرض نمانځۀ د پاره اُوځي نو د هغۀ ثواب د احرام تړلو والا حاجي په شان دے. (اَبو داوٗد ج١ ص ٢٣١ حديث ٥٥٨)

## کور ته واپس راتلو پورې په رَحمَتِ اِلٰهی کښې

د دې حديثِ پاک شرح دا ده: څکه چې حاجي کعبې ته ځي او دا (يعنې نمونځ کوونکے) جومات ته، دا دواړه د **اللہ** کورونه دي. حاجي د حج اِحرام تړي او دے د نمانځۀ په نِيَّت د کوره اُوځي او څنګه چې حج په خاصو تاريخونو کښې کيږي خو حاجي د کوره وتلو نه واخله واپس راتلو پورې هر وخت اجر [يعنې ثواب] حاصلوي، هُم داسې د نمانځۀ **جَمعه** اګر چې په خاص وخت کښې به کيږي خو نمونځ ګُزار [د کور نه] وتلو نه واخله واپس راتلو پورې د **اللہ** پاک په رحمت کښې اوسي. (مِراٰةُ الْمَنَاجِيح ج١ ص ٤٤٩)

## په جَنَّت کښې ميلمستيا

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ روايت کوي چې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: خوک چې سحر او ماښام جومات ته لاړ شي، **اللہ** پاک به د هغۀ د پاره سحر او ماښام په جَنَّت کښې ميلمستيا تياروي. (بُخارى ج١ ص ٢٣٧ حديث ٦٦٢)

## د جَمعې پابند ته به جَنَّتي رِزق ورکولے کيږي

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د دې حديثِ پاک نه لاندې ليکي: د سحر او ماښام نه مُراد هميشګي ده، يعنې خوک چې هميشه د نمانځۀ د پاره جومات ته د تللو عادت لري هغۀ

ته به همیشه جَنَّتي رِزق ورکولے کیږي. نُزُل هغه خوراک ته وائي کوم چې د میلمه د پاره پوخ کړے شي، ځکه چې هغه شاندار او د کوربه د شان لائق وي، ځکه جَنَّتي خوراک ته نُزُل وئیلے شوے دے، کنې جَنَّتیان به هلته میلمانه نۀ وي (بلکې) مالکان به وي. (مِراٰۃُالْمَنَاجِیح ج۱ص ۴۳۳،۴۳۴) جومات ته د تللو مُتَعَلِّق نِیّتونو کښې یو دا هُم دے چې کله جومات ته داخل شي نو د **اللّٰه** پاک د عطاګانو حاصلولو نِیَّت دې هُم وکړي. (اَشِعَّةُاللّمعات،(اُردو)ج۲، ص۱۰۵)

## د هر عبادت د پاره جومات ته تلل راتلل ثواب دے

**عَلّامه اِبنِ بَطّال مالِکي** رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَیۡه فرمائي: په دې حدیث کښې **جَمعې** له د حاضریدو او پابندۍ سره جومات ته د نمانځۀ د پاره د راتللو ترغیب دے او چې **اللّٰه** پاک د بنده د پاره جومات ته د تلو راتلو په وجه په جَنَّت کښې میلمستیا تیاره کړې ده نو څوک چې **جَمعې** سره په اخلاص نمونځ کوي او د هغې د ثواب امید لري نو ستاسو څه خیال دے چې! **اللّٰه** پاک به د هغه د پاره څه څه تیار کړي وي! او په هغه به څومره مهرباني کوي. (شرح اِبنِ بَطّال،ج۲،ص۲۸۵)

## ګناهونه به یې اُوبخښلے شي

**اَمیرُ الْمُؤمِنِین** حضرتِ سَیِّدُنا عُثمانِ غَني رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ روایت کوي چې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: "چا چې کامِل (یعني پوره) اودس وکړو، بیا فرض نمانځۀ له روان شو او د اِمام په اِقتِدا کښې (یعني **جَمعې** سره) یې فرض نمونځ وکړو، د هغۀ ګناهونه به معاف کړے شي." (صَحِیحُ اِبنِ خُزَیۡمَة ج۲ ص ۳۷۳ حدیث ۱۴۸۹)

## تاسو ته د هر قدم په بدل کښې ثواب درکولے کیږي

تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَیِّدُنا ابُو زُبَیر رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَیۡه فرمائي چې ما د حضرتِ سَیِّدُنا جابِر رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه اوریدلي دي: هغوئي اِرشاد اُوفرمائیلو چې زمونږه کورونه د جومات نه لرې وو نو مونږه د خپلو کورونو خرڅولو اِراده وکړه چې مونږه جومات ته نزدې شو نو رسولِ اکرم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږه منع کړلُو او ویې فرمائیل: تاسو ته د هر قدم په بدله کښې ثواب

درکولے کيږي. (مُسلِم ص ٢٦٢ حديث ١٥١٨)

## جومات نه د کور لرې ساتلو حِکمَت (حکايت)

د حضرتِ سَيِّدُنا اُبئ بِن كَعْب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې: زۀ يو صاحب پيژنم، د هغوئي کور د مسجِدِ نَبَوِي نه د ټولو زيات لرې وو او هغوئي نه د جَمعې نمونځ کله هم نۀ قضا کيدلو، ما هغوئي ته مشوره ورکړه چې حِمار [يعني خر] واخلئ، چې په هغې سور په نمر او تِياره کښې په آسانئ جومات ته راتلے شئ. هغوئي اُووئيل چې: زما نِيَّت دا دے چې زما د پاره د کور نه جومات پورې د راتلو او د جومات نه د کور کسانو طرف ته د واپس تللو ثواب اوليکلے شي. حُضُورِ اَقدَس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (هغه صحابي ته) اِرشاد اوفرمائيلو: "**الله** پاک دا ټول (ثواب) ستا د پاره جَمع کړلو." (مُسلِم ص ٢٦٢ حديث ١٥١٤ مختصراً)

## د لرې نه راتلو والا د پاره زيات ثواب

**حضرتِ** سَيِّدُنا اَبُو مُوسىٰ اشعَرِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت کوي چې د **الله** تعالیٰ د آخِري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: د نمانځۀ په مُعامَله کښې د ټولو نه زيات ثواب حاصلولو والا هُغه کس دے څوک چې د زيات لرې نه نمانځۀ د پاره راشي، بيا د هغۀ نه پس هُغه کس زيات ثواب حاصلوي څوک چې د هغه نه کم خو د نورو نه زيات قدمونه لاړ شي او څوک چې د نمانځۀ انتظار کوي، تر دې چې امام سره نمونځ وکړي، دۀ ته د هُغه کس نه زيات اجر حاصليږي څوک چې نمونځ وکړي او اُودۀ شي. (بُخاری ج١ ص ٢٣٤ حديث ٦٥١)

## د لرې نه راتلو باندې د زيات ثواب سبب

شارِحِ بُخاري عَلّامه بَدرُ الدِّين عَيني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: لرې نه راتلو باندې ثواب ځکه زيات دے چې په دې کښې مَشَقَّت (يعني مِحنت) دے او غوره عمل هغه وي په کوم کښې چې مَشَقَّت زيات وي، (نور فرمائي:) ځنګه چې د مَسافَت (يعني فاصلې) لرې والے په

اجر کښې د زياتي باعِث وي، هُم داسې د زمانے اوږدوالے (يعني اوږد انتظار) هُم د اَجر و ثواب سبب دے ځکه چې په دې دواړو کښې مَشَقَّت زيات دے. (عُمدةُالقاری ج ٤ ص ٢٣٧ تحت الحديث ٦٥١ مُلَخَّصاً)

## د قدمونو نښې به ليکلے کيږي

حضرتِ سَيِّدُنا جابِر بِن عبدُالله رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ بيان کوي چې: د مسجِدِ نَبَوِي نه ګير چاپيره ځمکه خالي شوه نو بَنُو سَلِمه (نومې قبيلې) دا اِراده وکړه چې جومات ته نزدې منتقِل (يعني اوسيدلو د پاره را) شي، چې کله رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته دا خبر ورسيدو، نو خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي نه تپوس وکړو چې: ما ته دا خبر رارسيدلے دے چې تاسو جومات ته نزدې د منتقل کيدلو اراده لرئ؟ هغوئي عرض وکړو: آو جي يارَسُولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! مونږه دا اِراده کړې ده. خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: اے بَنُو سَلِمَه! په خپلو کورونو کښې اوسيږئ، ستاسو د قدمونو نښې به ليکلے کيږي، په خپلو کورونو کښې اوسيږئ، ستاسو د قدمونو نښې به ليکلے کيږي. (مُسلِم ص ٢٦٢ حديث ١٥١٩)

## د سُستو خلکو د پاره کور د جومات خوا ته ښهٔ دے

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ د دې حديثِ پاک نه لاندې ليکي: ياد لرئ چې کور د جومات نه لرې کيدل د مُتَّقِي د پاره د ثواب باعِث دي ځکه چې هغه به د لرې نه **جَمعې** د پاره راځي خو د غافلانو د پاره د ثواب نه محرومي ده ځکه چې هغوئي به د لرې کيدلو په وجه په کور کښې نمونځ کوي. (مِراٰۃُالۡمَنَاجِیح ج ١ ص ٤٣٤)

## جومات ته تللو وخت کښې نزدې نزدې قدمونه ايښودل

د حضرتِ سَيِّدُنا زَيد بِن ثابِت رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه رِوايت دے چې زهٔ به د **الله** پاک د رَسُول صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره نمانځهٔ له تلم. هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به نزدې نزدې قدمونه ايښودل. يو

ځل هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم [زما نه] تپوس وکړو: آيا تا ته معلومه ده چې زۀ نزدې نزدې قدمونه ولې ږدم؟ ما عرض وکړو چې: **الله** پاک او د هغهٔ رَسُول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښۀ پوهيږي. اِرشاد يـې اُوفرمائيلو: تر څو چې بنده د نمانځۀ په طَلَب کښې وي [هغه] په نمانځۀ کښې وي. په يو بل روايت کښې دي: زۀ نزدې نزدې قدمونه ځکه ږدم چې د نمانځۀ په طلب کښې زيات نه زيات قدمونه لاړ شم. (مَجْمَعُ الزَّوائِد ج ۲ ص ۱۵۱ حديث ۲۰۹۲)

## هر قدم صَدَقه ده

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې د **اللّٰهُ** کريم آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: "نمانځۀ د پاره اوچتيدونکـے هر قدم صَدَقه ده." (بُخاری ج ۲ ص ۲۷۹ حديث ۲۸۹۱)

## د هر عبادت د پاره اوچتيدونکـے قدم صَدَقه ده

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک نه لاندې ليکي: "( صاحِبِ مِرقات" فرمائي چې د نمانځۀ ذِکر مِثالًا (يعنې د مثال په طور) دے کَنې د طواف، د بيمار د تپوس، جنازه کښې د شرکت، د عِلمِ دِين طَلَب کولو، غرض دا چې د هرې نيکئ د پاره قدم اخستل (يعنې تلل) صَدَقه ده. (مِراٰةُ الْمَنَاجِيح ج ۳ ص ۹۷)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نفرتونه ختم شو

د ثواب په لورې د تللو ذهن جوړولو د پاره د دعوتِ اسلامي د عاشقانِ رَسُول صُحبت ډير زيات فائده مند دے. **مَدَني سپرلے:** د دارُ السَّلام توبه (پنجاب) د يو کَلي اسلامي ورور به د دِين او نمونځونو نه لرې په لوبو کښې مشغول اوسيدلو، مور و پلار به يـې ورته د کور د څه کار اُووئيل خو هغه به هر څه پريښودل او د لوبو ميدان ته به ورسيدلو. بيا د هغه نه څه

داسې غَلَطي وشوه چې محلّې والؤ او نورو لوبغاړو ترينه نفرت شروع کړو. د هغه د علاقې يو زلمے پينځۀ وخته نمونځ گُزاره وو، د هغه د کور کسانو به هغه ته وئيل چې زمونږه زوئي هُم څان سره نمانځۀ له بوځه، چې کله به هغه اسلامي ورور هغه ته نمانځۀ له د تللو وئيل نو هغه به وئيل چې زما جامې پاکے نه دي يا به يې څه بهانه جوړه کړه. په هغه کلي کښې دعوتِ اسلامي کښې شامل دوه اسلامي وروڼه هُم اوسيدل، هغوئي په هغه اِنفرادي کوشش وکړو او د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه د بياناتو سيډياني يې ورکړے چې دا واورئ او جومات کښې د نمانځۀ کولو دعوت يې هم ورکړو. هغه نمونځونه شروع کړل. بيا په 2008ء کښې مُلتان شريف کښې د دعوتِ اسلامي د درې ورځو د سُنَّتو ډکه اِجتِماع وشوه نو هغه هُم پکښې شريک شولو، هلته يې د بِيرې په موضوع باندې د مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي بيان واوريدو نو داسې اثر پرې وشو چې فوراً يې گيره پريښودله. اَلْحَمْدُ لِلّٰه دعوتِ اسلامي کښې د سفر کولو کولو په دوران کښې هغه د ذيلي حلقې ذِمَّه دار جوړ شو، بيا د علاقائي مشاورت نگران، د هغې نه پس ډويژن سطح باندې قافله ذِمَّه دار هُم جوړ شو، دا تبديلي يې چې وليده نو د هُم هغه محلّې خلک چې د ده نه به يې نفرت کولو هغوئي د خپلو پريشانو د حل د پاره هغه ته د دُعا کولو وئيل شروع کړل، او مور او پلار هُم ترينه خوشحاله شو.

تَنَزُّل کے گہرے گڑھے میں تھے اُن کی

ترقّی کا باعث بنا مَدَنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص٦٦٤)

چې پراته وو خوک په کندو د ذِلّت کښې       د ترقۍ سبَب يې جوړ شو دا ديني ماحول

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!       صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د نمانځۀ د اِنتِظار فضيلت

## په نيکۍ به اوسيږۍ

د حضرتِ سَيِّدُنا جابِر بن عبدُالله رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه رِوايت دے چې نبي اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زمونږ خوا ته تشريف راوړلو او اِرشاد يې اوفرمائيلو: تاسو چې تر څو پورې د نمانځۀ اِنتِظار کوۍ په خير (يعني نيکۍ) باندې به اوسيږۍ. (تاريخِ دمشق ج ٣٣ ص ٢٥٨)

## په نمونځ ګزارو کښې ليکلے کيږي

د **الله** کريم آخري نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: د نمانځۀ په اِنتِظار کښې ناست کس د نمونځ کوونکي په شان دے او د خپل کور نه د وتلو د وخت نه واپس راتلو پورې په نمونځ ګزارو کښې ليکلے کيږي. (الاحسان بترتيب صحيح ابنِ حَبّان ج ٣ ص ٢٤٣ حديث ٢٠٣٦)

## د فرښتو په مخکښې فخر

صحابي اِبنِ صحابي حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن عَمْرْ رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي چې مونږه رسولِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د ماښام نمونځ وکړو، بيا واپس تلونکي لاړل او څوک چې هلته کښيناستل هغوئي د بل نمانځۀ په انتظار شو. بيا رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دومره زر تشريف راوړلو چې د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ساه مبارکه لنډه لنډه کيدله او اِرشاد يې اُوفرمائيلو: تاسو ته دې خوشخبري [يعني زيرے] وي! ستاسو **رَبِّ کَرِيم** د آسمانونو د دروازو نه يوه دروازه برسيره کړې ده او د فرښتو په مخکښې په تاسو فخر کوي او فرمائي: "زما هغه بندګانو ته اوګورۍ! چا چې يو فرض ادا کړو او د بل په اِنتِظار کښې دي." (اِبنِ مَاجه ج١ ص ٤٣٨ حديث ٨٠١)

حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: دا آیت د ماسخوتن د نمانځۀ د اِنتِظار په باره کښې نازل شوے دے:

تَتَجَافٰى جُنُوۡبُهُمۡ عَنِ الۡمَضَاجِعِ (ترجمۂ کنزُالایمان:[مَفهُوم] د هغوئي ډډې جُدا کیږي د بسترو نه)

(ترمِذِی، ج ٥ ص ١٣٦ حدیث ٣٢٠٧) (پ٢١ السجدة: ١٦)

## د ګناهونو وینځلو والا اعمال

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: د مَشَقَّت په وخت کښې کامِل (یعني پوره) اودس کول، جوماتونو طرف ته تلل او د یو نمانځۀ نه پس د بل نمانځۀ اِنتِظار کول ګناهونه په ښه طریقه وِینځي. (اَلْمُستَدرَک ج١ ص٣٤٢ حدیث ٤٦٨)

## شرحِ حدیث

اے د نمانځۀ عاشقانو! ”(د مَشَقَّت په وخت کښې کامِل یعني پوره) اودس کول“: [دے باره کښې] د یو بل حدیث په تشریح کښې **حضرت** مُفتي احمد یار خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ داسې فرمائیلي دي: د مَشَقَّت نه مُراد یخني یا بیماري یا د اوبو د ګرانۍ (یعني د اوبو د کمي یا په ګران قیمت د اخستلو) زمانه ده یعني چې کله اودس پوره کول مشکل وي، هله پوره کول. (مِراٰةُ الْمَنَاجِیح ج١ ص٢٣٣) د حدیثِ پاک د دې حِصَّې (د یو نمانځۀ نه پس د بل نمانځۀ اِنتِظار کول) شرح دا ده: یعني د یو وخت [نمونځ] کولو نه پس د بل نمانځۀ په اِنتِظار کښې اوسیدل، جومات کښې په ناست اوسیدلو یا داسې چې بدن یې په کور یا دُکان کښې وي او غوږونه یې د اذان په طرف او زړۀ یې جومات کښې وي. (مِراٰةُ الْمَنَاجِیح ج١ ص٢٣٣)

## د نمانځۀ په اِنتِظار کښې په جومات کښې د وفات خواهش (حکایت)

حضرتِ سَیِّدُنا عطاء بِن سائب رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ بیان کوي چې مونږه د ابو عبدُ الرَّحمٰن حضرتِ

سَيِّدُنا عبدُاللّٰه بِن حبِيب سُلَمِي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه په خدمت کښې جومات ته حاضر شو، هغه وخت د هغوئي ځنکدن وو، مونږ ورته عرض وکړو چې که تاسو بسترې له راشئ نو بهتره به وي ځکه چې هغه زياته نرمه او آرام ورکوونکې ده، هغوئي اُوفرمائيل: ما ته فلانکي دا فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اورولے دے: ''په تاسو کښې چې څوک د نمانځهٔ په ځائے ناست د نمانځهٔ اِنتِظار کوي هغه په نمانځهٔ کښې وي او فرښتې د هغه د پاره [مُسلسل] دا دُعا کوي: اَللّٰهُمَّ اغۡفِرۡلَهٗ، اَللّٰهُمَّ ارۡحَمۡهُ (يا اللّٰه! د ده بخښنه وکړې، يا اللّٰه په ده رحم وکړې).'' بيا يې اِرشاد اُوفرمائيلو: زهٔ غواړم چې په خپل جومات کښې وفات شم.'' (الزهد لابن مبارک ص ١٤١ حديث ٤٢٠. الطبقات الکبرٰ اِبنِ سعد ج ٢ ص ٢١٤)

موت آجائے ترینہ ذکر کے دوران مجھے
دل سے کہتا ہوں میں اٰمین اے میرے اللہ!

زما مرګ دې ستا د ذِکر په دوران راشي
زهٔ د زړهٔ نه دا دُعا کووم، آمِين يا اللّٰه!

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## 40 ورځې تَکبِيرِ اُولٰی سره

د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه رِوايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: څوک چې د **اللّٰه** پاک د پاره څلوېښت ورځې ''تَکبِيرِ اُولٰی'' سره د **جَمعي** نمونځ وکړي د هغه د پاره به دوه آزادئ ليکلے کيږي، يوه د نار [يعنې اور] نه او بله د نِفاق نه.

## د څلويښت د عدد صفتونه

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې ليکي: يعني د دې عمل په بَرَکت به هغه کس دُنيا کښې د مُنافِقِينو د اعمالو نه **محفوظ** اوسي، هغه ته اخلاص نصيب کيږي، قَبۡر و آخرت کښې به د عذاب نه نجات مومي. ياد ساتئ چې انساني

تبدیلیانې په ”خلویښتو“ کیږي، ماشوم د مور په خیټه کښې خلویښت ورځې نُطفه، خلویښت ورځې وِینه، بیا خلویښت ورځې د غوښې بوټیۍ وي، د پیدائش نه پس یـې مور ته خلویښت ورځې نِفاس راتلـے شي، خلویښتو کالو کښې یـې عقل کامِل (یعنې پوخ) شي، ځکه دلته هم د خلویښتو عدد ذِکر کړے شوے دے. په یو حدیث کښې دي چې څوک خلویښت ورځې اخلاص اختیار کړي نو د هغه د زړۀ له طرفه به د هغه په ژبه د حِکمت چینے جاري شي. دا حدیث د صوفیا د چِلّو اصل (یعنې بُنیاد) دے. ”صاحِب مرقاة“ فرمائي: د سَلَف صالِحِین (یعني د پخوانۍ زمانې د بُزرګانو) نه به که چرې **جَمعه** لاړه نو د یوې هفتې پورې به (هغه له) خلک تَعزِیَّت [یعنې غمرازۍ] له راتلل. د تَکبِیرِتَحرِیمَه حاصلولو معنٰی دا ده چې د اِمام د قِراءَت شروع کولو نه مخکښې مُقتدي ”سُبۡحٰنَکَ اللّٰھُمَّ“ (پوره) ولولي. (مِراٰۃُالْمَنَاجِیح ج۲ ص ۲۱۱ مُلَخَّصاً)

## تَکبِیرِ اُولٰی څه ته وائي؟

تَکبِیرِاُولٰی د نمانځۀ شروع کولو وخت کښې د ټولو نه ورومبي تکبِیر ته وائي، دې ته تَکبِیرِ تَحرِیمَه هُم وائي. بهارشریعت جِلد اَوَّل صفحه 571 کښې دي: که (اِمام سره) د ورومبي رکعت رُکوع کښې شامل شو نو د تَکبِیرِاُولٰی فضیلت یـې حاصل کړو. (عالمگیری ج۱ ص ٦٩)

## تَکبِیرِ اُولٰی اَو مفتيِ دعوتِ اسلامي

د **دعوتِ اسلامي** د ”مرکزي مجلسِ شُوریٰ“ مرحوم رُکن مفتيِ دعوتِ اسلامي الحاج، الحافِظ، القاري حضرت عَلَّامه مولانا مفتي محمد فاروق عَطّاري اَلمَدَني رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ به د جَمعې د نمونځونو ډیر اهتمام کولو. ډیر ځله به چې کله د ریل ګاډي په ذریعه پنجاب ته د تللو ضرورت وو نو (په ریل ګاډي کښې سِیده پنجاب ته د تللو په ځائے به یـې) د کراچۍ نه حیدر آباد پورې په بس کښې سفر کولو چې نمونځ په آسانۍ ادا کړے شي. که د ریل ګاډي د ناوخته راتلو امکان به وو نو باقاعِده جومات ته به تللو او د جَمعې د نمانځۀ ادا کولو کوشش به یـې کولو. همیشه به یـې هر نمونځ په ورومبي صف کښې د ادا کولو

کوشش کولو. د هغوئي د يو رفِيق (يعني دوست مُفتي صاحِب) بيان دے چې ”مُفتي محمد فاروق عَطّاري اَلمَدَني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ډير باعَمَله وو، د ”نيک اعمالو“ عامِل وو، اکثر به په اوداسه کښې اوسيدلو، ما ډير ځله هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د اوداسه نه پس په نفلونو (يعني تَحِيَّةُ الوضو) ادا کولو ليدلي دي. عُموماً [يعني عام طور] به يې د اذان نه مخکښې اودس کولو او څنګه به چې اذان وشولو جومات ته به لاړلو او عام طور به يې په وړومبي صف کښې نمونځ کولو، زۀ هغوئي سره تقريباً څلور کاله يو ځائے ووم خو ما کله دا نه دي ليدلي چې د هغوئي نه به تَکبِيرِ اُولٰی تلے وي.“ (مفتیٔ دعوتِ اسلامي ص ۵۲)

جماعت کی مولیٰ عنایت ہو الفت
کرم ہو پئے مصطفٰے جانِ رحمت

د جَمعې د نمانځۀ اِلٰهي راکړې مَحبَّت
کرم وکړې په خاطر د مُصطَفیٰ جانِ رَحمت

صَلُّوا عَلَى الحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## فرښتې پرې دُرُود ليږي

د اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ عَنۡهَا نه رِوايت دے چې د تاجدارِ رِسالت صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: **الله** پاک او د هغه فرښتې په هغه خلکو دُرود ليږي څوک چې صفونه يو ځائے کوي.“ (اَلمُستَدرَک ج ۱ ص ۴۷۰ حديث ۸۰۶)

## د صفونو يو ځائے کولو او دُرُود ليږلو مطلب

(صفونه يو ځائے کوي) يعني هغوئي داسې صف يو ځائے کوي چې که خالي ځائے وي نو هغه ډکوي يا که په صَف کښې څه کمے پاتې شوے وي نو هغه پوره کوي.[1] (د دُرُود

[1] حاشية السندی مع ابنِ ماجه ج۱ ص۵۲۷ تحت الحديث ۹۹۵

ليږلو نه) مُراد دا دے چې **الله** پاک د صفونو يو ځائے کوونکو بخښنه فرمائي او فرښتو ته د هغوئي د پاره د اِستِغفار يعنې بخښنه غوښتلو حکم فرمائي. (التيسير ج۱ص۲۶۳)

## د وړومبي صف فضيلت

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: "که خلکو ته معلومه وے چې په اذان او وړومبي صَف کښې څه دي نو بيا يې که د قُرعه (پچه) اچولو نه بغير هغه نه شوے حاصلولے نو قُرعه به يې پرې اچولے." (بُخاری ج۱ص۲۲۴ حديث ۶۱۵)

## په نيکو کښې وړاندې کيدلو د پاره اختلاف هُم عبادت دے!

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د حديثِ پاک د دې حِصّې (که خلکو ته معلومه وے چې په اذان او وړومبي صَف کښې څه دي) نه لاندې ليکي: (يعنې) اګر چې مونږه د دې دواړو فضائل ډير بيان کړي دي خو د دې باوجود کَمَا حَقُّهٗ (يعنې څنګه چې د دې حق دے هغسې يعنې پوره) بيان نه شو، هغه خو چې اُووِينئ نو بيا به خبر شئ. معلومه شوه چې فِیۡ سَبِيۡلِ الله (يعنې د اُجرت اخستلو نه بغير) اذان و تکبير وئيل او د نمانځۀ په **وړومبي صف** کښې خُصُوصاً په اِمام پسې ودريدل ډير بهتر دي چې د هغې بُزرګي (يعنې فضيلت) نه شي بيانيدلے. د حديثِ پاک د دې حصّے (نو بيا يې که د قُرعه اچولو نه بغير هغه نه شوے حاصلولے نو قُرعه به يې پرې اچولے) نه لاندې ليکي: يعنې که هر کس غواړي چې دا دواړه کارونه زۀ وکړم نو په هغوئي کښې به جګړه (يعنې اختلاف) پيدا شي او د هغې فيصله به په قُرعه (اندازئ يعنې د نومونو پرچئ راوتلو) باندې کيږي، معلومه شوه چې په نيکو باندې (داسې) جګړه (يعنې داسې اختلاف کول چې په هغې کښې د هيڅ قِسمه شرعي خرابي مثلًا بد اخلاقي او ناحقه زړۀ ازارول و غيره نه وي، هغه) هم عبادت دے او په قُرعه باندې جګړه خلاصول محبوب (يعنې خوښ شوي دي). (مرٰاةالمناجيح ج۱ص۳۹۵)

## مؤذِّن صاحب چې کله شهيد شو... (حکايت)

ښځوانو مسلمانانو به د اذان څومره جذبه لرله، د دې اندازه د دې **حکايت** نه ولګوئ: **اِمام طَبَری** رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه ذِکر کوي: چې کله **قادِسِيَّه** فتح شوه نو ورځ راختلې وه او خلک دُښمن پسې وريسې وو، چې کله هغوئي واپس راغلل نو د ماسپښين وخت شوے وو او مؤذِّن صاحب شهيد شوے وو، بس بيا خلک د "اذان" ورکولو د پاره خپل مينځ کښې په جګړه شو او نزدې وه چې تُورے يې راويستلے وې! چنانچه حضرتِ سيِّدُنا سَعْد بن اَبِي وَقّاص رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ د هغوئي په مينځ کښې قُرعه اندازي وکړه (يعنې د هغوئي د نُومونو پرچئ يې واچولې) او د چا د نُوم قُرعه چې اُووتله هغه د اذان ورکولو سعادت حاصل کړو. (شرح صحيح البُخاری لابن بطال ج ٢ ص ٢٤٤)

## د جومات د مؤذِّن صاحب مسئله

د دې حکايت نه معلومه شوه چې که مُـؤَذِّن د مخکښې نه مقرر وي نو هم هغه دې اذان کوي څنګه چې نن صبا په جوماتونو کښې مُؤَذِّنان وي. په دې حکايت کښې د "عاشقانِ اذان" په مينځ کښې په هم دے صورت کښې جګړه راغلې وه چې مُؤذن صاحب شهيد شوے وو، ګنې نه به جګړه شوې وے او نه قُرعه اندازي.

## د قُرعه اندازۍ طريقه

حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه فرمائي: د قُرعه په ذريعه فيصله کول سُنَّتِ انبياء دي، نهرِ اُردَن کښې قلم اچول هم قُرعه وه، (د دې واقعه په صفحه 198 باندې راروانه ده.) د دې په ذريعه ډير مشکلات حل کيږي. (نور فرمائي:) ياد ساتئ چې د قُرعے مختلف صورتونه وي، د ټولو نه آسانه دا ده چې د خلکو نومونه په علٰيحده (يعنې جُدا جُدا) پرچو باندې اوليکلے شي او د هغې ګولئ (غونډاري) جوړ کړے شي، او په يو ناواقِفه کس د

هغې نه يوه ګولۍ راواخستے شي، د چا د نُوم ګولۍ چې راواخسته شي، هُم هغه دې مُستَحِق اوګڼلے شي. (تفسيرِ نعيمی جلد ۳، ص ۳۸۱، ۳۸۳)

## درې انبياء سره د قُرعه اندازۍ معامله پيښه شوې ده

حضرتِ سيِّدُنا ابو عُبَيد رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه فرمائي: درې انبيائے کرام عَلَيۡهِمُ السَّلَام داسې دي چې هغوئي سره د قُرعه اندازۍ مُعامَله پيښه شوې ده. ❖ حضرتِ سيِّدُنا يُونُس عَلَيۡهِ السَّلَام ❖ حضرتِ سيِّدُنا زَکرِيّا عَلَيۡهِ السَّلَام او زمونږه خوږ نبي مکي مَدَني مصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم. (شرح صحيح الۡبُخاری لابنِ بطال ج ۸ ص ۷۵)

د هغه درې واړو انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام واقعات ترتيب وار بيانيږي:

## حضرتِ يُونُس عَلَيۡهِ السَّلَام او قُرعه اندازي

**حضرتِ** سيِّدُنا يُونُس عَلَيۡهِ السَّلَام **الله** پاک د **نِيۡنَوٰی** ښار د اوسيدونکو د هدايت د پاره رسول جوړ کړے رالېږلے وو. **نِيۡنَوٰی** د موصل د علاقې يو غټ ښار وو. د هغه ځائے خلکو به بُت پرستي کوله. حضرتِ سيِّدُنا يُونُس عَلَيۡهِ السَّلَام هغه خلکو ته د ايمان راوړلو او بُت پرَستۍ پريښودلو حُکم وکړو. خو هغوئي د **الله** پاک رسول عَلَيۡهِ السَّلَام دروغژن اوګڼلو او د ايمان راوړلو نه يې انکار وکړو. حضرتِ سيِّدُنا يُونُس عَلَيۡهِ السَّلَام هغوئي ته خبر ورکړو چې نزدې ده چې په تاسو عذاب راوروان دے. دا يې چې واوريدل نو د ښار خلکو خپل مينځ کښې مشوره وکړه چې حضرتِ سيِّدُنا يُونُس عَلَيۡهِ السَّلَام کله دروغ نه دي وئيلي، ځکه تاسو ګورئ که هغوئي د شپې په دې ښار کښې پاتې شو نو بيا خو پوهه شئ چې هيڅ خطره نشته او که هغوئي په دې ښار کښې شپه تيره نکړه نو بيا يقين کول پکار دي چې ضرور به عذاب راځي. د شپې خلکو دا وليدل چې حضرتِ سيِّدُنا يُونُس عَلَيۡهِ السَّلَام د ښار نه بهر ته تشريف يوړلو او چې څنګه سحر شو نو د عذاب نښې ښکاره شوے، د څلور واړو طرفو نه تورے وريځې راروانې وې او د هر طرف نه لوګي را اوچت شو او په ښار باندې خواره

شو. دا منظر يې چې وليدو نو د ښار والؤ يقين وشو چې بس عذاب راتلو والا دے، هغوئي حضرتِ سيّدُنا يُونُس عَلَيۡهِ السَّلَام اولټولو خو هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام د لرې لرې پورې يو ځائے هم ښکاره نه شولو، په دې وجه د ښار د خلکو په زړونو کښې زياته خطره او انديښنه پيدا شوه. چنانچه د ښار ټول خلک د **الله** د ويرې نه په لړزان شو او ټولو ښځې، ماشومان بلکې ځاروي (يعني غواګانې، چيلۍ وغيره) يې ځان سره کړل او زړے او شليدلے جامې يې واغوستلے او په ژړا ژړا ځنګل ته لاړل او په ژړا ژړا يې د زړۀ په صِدق په حضرتِ سيّدُنا يُونُس عَلَيۡهِ السَّلَام باندې د ايمان راوړلو اقرار او اعلان کول شروع کړو. ښځه د خاوند نه او ميندے [مورياني] د بچو نه جُدا شوے او ټول په توبه او اِستِغفار کښې مشغول شو او د **الله** پاک په بارګاه کښې يې ژړا فرياد او دُعاګانې شروع کړې، او څومره حَق تَلفۍ چې ترينه شوي وې هغه ټولې يې خپل مينځ کښې معاف کول شروع کړې. غرض دا چې په رښتينے يې توبه وکړه او **الله** پاک سره يې دا عهد وکړو چې حضرتِ سيّدُنا يُونُس عَلَيۡهِ السَّلَام چې څه پيغام راوړے دے مونږه په هغې په رښتيني زړۀ ايمان راوړلو. **اللهُ کريم** ته د ښار والؤ په بې قرارۍ او مُخلِصانه ژړا فرياد باندې رحم راغے او عذاب يې ترينه اوچت کړلو، لُوګې او د عذاب وريځې لرې شوے او ټول خلک واپس ښار ته راغلل او امن و امان سره اوسيدل شروع شو. (تفسيرِ صاوی ص ۸۹۳ تا ۸۹٤ مُلَخَّصاً)

**الله** پاک د دې واقعې په باره کښې قرآنِ کريم، يوولسمه سيپاره سُوۡرَۀ يُونُس آيت نمبر 98 کښې اِرشاد فرمائي:

فَلَوۡلَا كَانَتۡ قَرۡيَةٌ اٰمَنَتۡ فَنَفَعَهَاۤ اِيۡمَانُهَاۤ اِلَّا قَوۡمَ يُوۡنُسَ ؕ
لَمَّاۤ اٰمَنُوۡا كَشَفۡنَا عَنۡهُمۡ عَذَابَ الۡخِزۡيِ فِى الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا وَمَتَّعۡنٰهُمۡ اِلٰى حِيۡنٍ ﴿۹۸﴾

[مَفهُوم]ترجمۀ کنزُالاِيمان: نو بله يوه استوګنه داسې نه ده شوي چې ايمان يې راوړے وي نو د هغې ايمان په کار راغلے وي، خو د يُونُس قوم چې کله ايمان راوړو نو مونږه د هغوئي نه د رُسوائي عذاب د دُنيا په

ژوند کښې لرې کړو او د يو وخته پورې مو ګټه اخستلو ته پرېښودل. (يُونُس پ١١:٩٨)

## د عذاب لرې کېدلو دُعا

په نِيْنَوىٰ ښار چې کله د عذاب [راتلو] نښې ښکاره کېدل شروع شوے او (حضرتِ) يُونُس عَلَيْهِ السَّلَام يـې د لټولو باوجود پيدا نه کړو نو د ښار خلک اوېرېدل او د خپل يو عالِم صاحب خوا ته ورغلل چې هغوئ د ايمان والا او د وخت شيخ وو، هغوئ ته يـې فرياد کول شروع کړو، نو هغوئ حُکم ورکړو چې تاسو دا وظيفه ولولئ او دُعا وکړئ: يَاحَيُّ حِيْنَ لَاحَيَّ وَيَا حَيُّ يُحْيِ الْمَوْتٰى وَيَا حَيُّ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ [1] چنانچه خلکو دا ولوستله او دُعـا يـې وکړه نو عذاب لرې شو. (حِلْيَةُ الاَولياء ج٦ ص٥٨ رقم ٧٧٧٨ مُلَخَّصاً) خو حضرتِ سَيِّدُنا فُضَيل بِن عِياض رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: د نِيْنَوىٰ ښار عذاب چې د کومې دُعـا په بَرَکت لرې شو، هغه دا وه: اَللّٰهُمَّ اِنَّ ذُنُوْبَنَا قَدْ عَظُمَتْ وَجَلَّتْ وَاَنْتَ اَعْظَمُ وَاَجَلُّ فَافْعَلْ بِنَا مَا اَنْتَ اَهْلُهٗ وَلَا تَفْعَلْ بِنَا مَا نَحْنُ اَهْلُهٗ [2]

(تفسيرِ خازن ج٢ ص٣٣٦)

## د مهي په خېټه کښې

د عذاب لرې کېدو نه پس چې حضرتِ سَيِّدُنا يُونُس عَلَيْهِ السَّلَام د ښار خوا ته راغلو نو په ښار کښې يـې د عذاب هيڅ اثر اُونه ليدلو، خلکو ورته عرض وکړو چې خپل قوم ته تشريف يوسئ. نو هغوئ اُوفرمائيل چې زهٔ خپل قوم ته څنګه ورتلے شم! ما خو هغوئ ته د عذاب خبر ورکړے وو او بيا د ښار نه وتلے ووم، خو عذاب رانغے، نو اوس به (مَعَاذَالله) هغوئ ما دروغژن اوګڼي او قتل به مې کړي. دا يـې اُوفرمائيل او د جَلال په حالت کښې

---

[1] ترجمه: اے هغه وخت هم ژوندي اوسېدو والا! چه کله هيڅ څوک هُم ژوندے نه وو، اے هغه ژوندي ذاته! کوم چه مړي ژوندي کوي، او اے ژوندي ذاته! ستا نه سِوا هيڅ څوک معبُود نشته.

[2] اے الله! بيشکه زمونږه ګناهونه ډېر غټ او لوئي دي خو ته عظيم او بُلند ئې، مونږ سره هغه معامله مه فرمائے د کومې چه مونږه حقدار يُو، بلکه مونږ سره د خپل شان لائق معامله اوفرمائے.

د ښار نه واپس وګرځېدلو او يوه کشتۍ کښې سور شولو. هغه کشتۍ چې کله د سمندر مينځ ته ورسيدله نو ودريدله. د هغه ځائے د خلکو دا عقيده وه چې صرف هغه کشتۍ په سمندر کښې ودرېږي چې په هغې کښې تښتښدلے غلام سور وي. چنانچه کشتۍ والؤ قُرعه [يعنۍ پرچۍ] اُووِيستله نو د حضرتِ سَيِّدُنا يُونُس عَلَيْهِ السَّلَام د نامے قُرعه را اُووتله، کشتۍ والؤ هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام سمندر کښې واچولو او مَخکښې روان شو او يو مهي فوراً هغوئي تير کړلو، د مهي په خيټه کښې تکه توره تِياره وه. خو په هُم دې حالت کښې هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د دې آيتِ کريمه لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ ۗ اِنِّیْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۸۷﴾ (پ۱۷، الانبياء: ۸۷) وظيفه لوستل شروع کړه نو د هغې په بَرَکت الله پاک هغوئي ته د هغه تورے کوټَنۍ نه خلاصے ورکړو او مهے غاړې له راغے او هغوئي يـې بهر واچولو. دغه وخت هغوئي ډير کمزورے شوے وو. د خُدائے پاک شان چې هلته د کدو بوټے رازرغون شو او هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د هغې په سورې کښې آرام کولو، بيا چې لږ صحت ياب شولو نو خپل قوم ته يـې تشريف راوړلو. ټولو خلکو ورسره د ډيره زيات مَحبَّت او احترام سلوک وکړو او په هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام يـې ايمان راوړلو. (تفسير الصاوي ج۳ ص۸۹۴، عجائب القُرآن، ص۱۲۴، ۲۶ مُلَخَّصاً)

## سبق آموز مَدَني ګلونه

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د دې ايمان تازه کوونکي قرآني حکايت نه مونږ ته دا درس حاصل شو چې کله هُم مصيبت راشي نو توبه اِستِغفار کول او په ژړا ژړا دُعـاګانې کول پکـار دي. په دې حکايت کښې د حضرتِ سَيِّدُنا يونُس عَلَيْهِ السَّلَام د عظيمُ الشّاني مُعجزے تذکره ده، ګنې د مهي په خيټه کښې د انسان ژوندے اوسيدل ناممکن دي. په دې کښې د الله پاک د رښتيني نبي د امتحان بيان دے، او د دې نه مونږ ته دا درس حاصل شو چې کله هُم څه ازميښت راشي نو د ګيلو قيصو کولو په ځائے د الله پاک ذِکر او د هغه پاکي بيانول پکـار دي څنګه چې حضرتِ سَيِّدُنا يُونُس عَلَيْهِ السَّلَام د مهي په

خيټه كنبې د آيتِ كريمه وظيفه ولوستله او د دې وظيفے په بَرَكت هغوئي ته د مهې د خيټې نه نجات حاصل شو.

مصیبت میں خدا کی بارگہ میں گڑگڑاؤ گے
نجات اس کے کرم سے پاؤ گے چھٹکارا پاؤ گے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## حضرت زَكرِيّا عَلَيْهِ السَّلَام او قُرعه اندازي

حضرتِ حَنَّه (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا) خپله لور مريم (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا) د پيدائش سره سمدستي په يوه كپړه كنبې اونغښتله او بَيتُ الْمُقَدَّس ته يـې يوړله، چې هلته څلور زره خُدّام [يعني خدمتګار] اوسيدل او د هغوئي سرداران (27) يا (70) وو، د هغوئي امير حضرتِ سَيِّدُنا زَكرِيّا عَلَيْهِ السَّلَام وو. ولې چې د بي بي مريم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا والِدِ مُحترم حضرت عِمران (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) د بـني اِسرائيل اِمام وو، ځكه په هغه اوياؤ كنبې هر يو د حضرتِ مريم (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا) د حاصلولو كوشش كولو. هر يو دا غوښتله چې د هغې د خدمت شَرَف ما ته حاصل شي، حضرتِ سَيِّدُنا زَكرِيّا عَلَيْهِ السَّلَام اُوفرمائيل چې د دې زيات حقدار زۀ يم، ځكه چې د دې ترور [يعني د دې د مور خور] زما په نكاح كنبې ده، هغه اَحبارو (يعني عُلَمائے يهود) چې د هغه ځائے د خدمتګارانو سرداران وو، هغوئي] اووئيل چې كه د خپلولئ په وجه دا حق حاصليدے شوے نو د دې مور صاحبې ته به حاصل شوے وے، اوس فيصله دا ده چې قُرعه دې واچولے شي، د چا د نوم قُرعه چې را اوخي هغه دې يـې واخلي. دا ټول حَضَرات نَهرِ اُردن ته روان شو او خپل هغه قلمونه يـې ځان سره واخستل په كومو به يـې چې وحي (يعني تورَيت) ليكلو او دا فيصله وشوه چې د چا قلم په اوبو كنبې نه ډوب شي او نه يـې اوبه يوسي هغه دې حضرتِ مريم واخلي او د چا قلم چې ډوب شي يا اوبهيري هغه د هغې حقدار نه دے، چنانچه هُم دغسې اوكړے شو، د ټولو قلمونه ډوب شو يا اوبهيدل خو د

حضرتِ سَیِّدُنا زَکرِیّا عَلَیْہِ السَّلَام قلم د اوبو د پاسه ولاړ پاتې شو لِـهذا د حضرتِ مريم (رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہَا) پالنه هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام ته حواله شوه، بعضې رواياتو کښې دي چې درې ځله قُرعه واچولے شوه او درې واړه ځله هُم داسې وشو. دا [واقعه] قرآنِ کريم کښې (په سُوْرَۂ آلِ عِمْرٰن آيت 37 کښې) ذِکر شوې ده: وَّکَفَّلَهَا زَکَرِیَّا ۚ ([مَفهُوم] ترجمۂ کنزُ الاِيمان: او هغه يـې د زَکرِیّا په پالنه کښې ورکړه) بل ځائے کښې يـې (په سُوْرَۂ آلِ عِمْرٰن آيت 44 کښې) فرمائيلي دي: اِذْ یُلْقُوْنَ اَقْلَامَهُمْ اَیُّهُمْ یَكْفُلُ مَرْیَمَ ۪ ([مَفهُوم] ترجمۂ کنزُ الاِيمان: چې کله هغوئي د خپلو قلمونو په ذريعه قُرعه اچوله چې مريم به د چا په پالنه کښې پاتې کيږي). حضرتِ سَیِّدُنا زَکرِیّا عَلَیْہِ السَّلَام د سَیِّدَتُنا مريم رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہَا د پاره په بَيتُ الْمُقَدَّس کښې يوه بالا خانه (يعني پاسنے منزِل) جوړ کړو چې د هغې دروازه د بَيتُ الْمُقَدَّس په مينځ کښې وه، او هغې ته به د پوړو په ذريعه رسيدل کيدے شو، د حضرتِ سَیِّدُنا زَکرِیّا عَلَیْہِ السَّلَام نه علاوه به هلته هيڅ څوک هُم نۀ تللو.

(تفسیرِ نعیمی ج ۳، ص ۳۸۱، ۳۸۲ بتغیر قلیل)

## سرکارِمدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم او قُرعه اندازي

امام شافِعي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: چې کله به سرکارِ نامدار، مَدَني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سفر اِراده فرمائيله او په هغه سفر کښې به د ټولو ازواجِ مُطَهَّراتو (يعني پاکو بيبيانو) بوتلل مُمکن نۀ وو نو هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په هغوئي کښې عدل (يعني انصاف) کولو د پاره قُرعه اندازي کوله او د سفر د پاره به يـې د هغوئي نه يوه هُم نۀ خاص کوله بلکې دا مُعامَله به يـې الله پاک ته سپارله او د کومې بي بي د نوم قُرعه به چې را اُووتله هغه به يـې ځان سره بوتلله او د هغه سفر نه به د باقي ازواجِ مُطَهَّراتو حق ختم شولو، بيا به يـې چې کله د سفر نه تشريف راوړلو نو د چا نمبر به چې وو د هغه زوجې محترمي کور ته به يـې تشريف وړلو او د خپل سفر ورځې به يـې د نمبر په ورځو نۀ تقسيمولې. (شرح صَحِيْحُ الْبُخارى، لابن بطال ج ۸، ص ۷۷)

## آيا د هر قِسمه قُرعه اندازي سُنَّت ده؟

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونو! ياد ساتئ چې! هر قِسمه معامله کښې قُرعه اندازي سُنَّت نهٔ ده، قُرعه اندازي جائزه هُم وي او ناجائزه هُم وي. افسوس! نن صبا خو مَعَاذَالله د ګناهونو نه ډکو قُرعه اندازيانو او لاټريانو دَور دے او د دې په ذريعه ډيره جُواري کيږي. د جُوارئ په تباه کاريانو باندې ځان پوهه کولو د پاره د فيضانِ سُنَّت د جِلد 2 باب "غيبت کی تباه کارياں" صفحه 184 تا 191 ولولئ اِنْ شَآءَالله ډيره فائده به حاصله کړئ.

## يو بيان يې ژوند بدل کړو

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د دعوتِ اسلامي هفته وارو د سُنَّتو ډکو اِجتِماعاتو ته د تللو او هلته د عِلمِ دِين حاصلو ذِهن جوړولو د پاره د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره هر وخت خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ. مَدَني سپرلے: د سواهان والا پُل (ميانوالي) اوسيدونکي يو زلمي اِسلامي ورور مخکښې حالت دا وو چې د مور او پلار خبره به يې نهٔ منله، د نمونځونو کولو ذِهن يې هُم نهٔ وو او نهٔ به يې د رمضان روژې نيولې، مشرانو ورونو سره جګړې کول، بدو دوستانو سره بې فائدې ګرځيدل، صَنفِ مُخالِف (يعني جينکو) سره دوستياني کول. يوه ورځ د هغوئي د محلّې د جومات اِمام صاحب هغهٔ ته د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې د شرکت کولو دعوت ورکړو خو هغهٔ اخوا ديخوا وکړل. يو څو ورځې پس اِمام صاحب بيا دعوت ورکړو نو د هغهٔ دوستانو خپل مينځ کښې اُووئيل: راځئ چې لاړ شو ورسره، چې دا موليان څه وائي! چې کله هغوئي هفته وارې د سُنَّتو ډکې اِجتِماع ته لاړل نو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي د "غِيبَت" په موضوع باندې بيان کولو، هغه بيان يې چې واوريدو نو هغهٔ ته د خپلو ګناهونو احساس وشو، په هُم هغه اِجتِماع کښې يې په ژړا ژړا توبه وکړه او يو څو ورځې پس د درې ورځو مَدَني قافِله کښې عاشِقانِ رَسُول سره سفر کولو کښې هُم کامياب شو، په هغې کښې يې ډير څه زده کړل. ديني ماحول کښې د تللو راتللو په بَرَکت يې بد صُحبت او بد

کارونه پرېښودل، په وړومبئ اِجتِماع کښې د شرکت کولو نه پس يې ږيره پرېښودله او پينځهٔ مياشتې پس يې عِمامه شريفه هُم په سر کړه. د ''فيضانِ سُنَّت'' نه يـې درس ورکول شروع کړو او په ديني کارنو کولو کولو کښې ورته د علاقائي مشاورت د نِګران په حيثيت د دِين د خدمت د پاره د دولسو ديني کارنو کولو موقع حاصله شوه او د دعوتِ اسلامي زير اهتمام د يوې مياشتې اِعتِکاف کښې د کښيناستلو سعادت هُم ورنصيب شو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْن.

بری صحبتوں سے کنارہ کشی کر
کے اچھوں کے پاس آکے پا دینی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مرمم) ص ٥٤٥)

پرېږده بد صحبتونه اے وروره
راشه ښهٔ صُحبت ته، حاصل کړه ديني ماحول

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د صحابهٔ کرامو د وړومبي صف حاصلولو جذبه

څوارلسمه سيپاره سُوْرَةُ الْحِجْر آيت نمبر 24 کښې اِرشاد کيږي:

وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِیْنَ مِنْكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَاْخِرِیْنَ ﴿۲۴﴾

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او بيشکه مونږ ته معلوم دي څوک چې په تاسو کښې وړاندې شولو او بيشکه مونږ ته معلوم دي څوک چې په تاسو کښې وروستو پاتې شو.

صَدرُ الْاَفاضِل حضرت مولانا سيّد نعيم الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آيتِ مبارکه په شانِ نُزُول کښې ليکي چې: د حضرتِ اِبنِ عَبَّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې نَبِيِّ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جَمعې د نمانځهٔ د وړومبي صَف فضائل بيان کړل نو صحابهٔ کرامو (رَضِيَ اللهُ عَنْهُم) د وړومبي صف حاصلولو ډير زيات کوششونه شروع کړل او د هغوئي ګڼه شروع شوه او د

کومو حضراتو کورونه چې د جومات شريف نه لرې وو هغوئي خپل کورونه خرڅولو او نزدې کورونه اخستلو ته تيار شو د پاره د دې چې په وړومبي **صف** کښې د ځائے حاصلولو نه کله **محرومه** نهٔ شي، په دې وجه دا [پاسنے] آيت نازل شو او هغوئي ته تسلي ورکړے شوه چې ثواب په نِيّتونو دے او **الله** پاک وراندې (**مخکښې**) کسان هُم پيژني او څوک چې د عُذر په وجه شا ته پاتې شي هغوئي هُم پيژني او د هغوئي د نِيّتونو نه هُم خبردار دے او د هغه نه هيڅ هُم **مَخفِي** (يعني پټ) نهٔ دي. (تفسير خَزائِنُ الْعِرفان ص ٤٩٢)

"تفسير **صِراطُ الْجِنان**" جِلد 5 صفحه 224 کښې دي چې: د دې آيت د شانِ نُزُول نه يوه خبره دا معلومه شوه چې صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان به د **الله** پاک د عبادت دومره جذبه او شوق لرلو چې د وړومبي صف فضيلت حاصلولو د پاره خپلو کورونو خرڅولو ته تيار شو. بله خبره دا معلومه شوه چې د ځمعې په نمانځهٔ کښې د وړومبي صف ډير فضيلت دے.

## په جنازه کښې کوم صف افضل دے؟

د دعوتِ اسلامي د مَکتَبَةُ الْمَدِينه د 496 صفحو کتاب "نماز کے احکام" صفحه 386 کښې دي: بهتره دا ده چې په جنازه کښې درې صفونه وي، ځکه چې په حديثِ پاک کښې راغلي دي: "**د چا (د جنازې) نمونځ چې درې صفونو وکړو د هغهٔ بخښنه به وشي.**" که ټول اووهٔ سړي وي نو يو دې اِمام جوړ شي، بيا دې وړومبي صف کښې درې ودريږي، دويم کښې دوه او دريم کښې يو. (غنية ص ٥٨٨) **په جنازه کښې [د ټولو نه] شا ته صف د ټولو صفونو نه غوره دے.** (دُرِّ مُختار ج ٣ ص ١٣١)

## شيطان د ګډې د بچي په شان

**الله** پاک او د هغه معصومې فرښتې په وړومبي صف والؤ باندې رحمت راليږي ځکه مونږ ته د وړومبي صف حاصلولو ډير زيات کوشش کول پکار دي. په وړومبي صف کښې د ځائے کيدو باوجود چې کوم خلک د سستئ په وجه شا ته صفونو کښې پاتې

کيږي هغوئي دې دا حديثِ پاک واوري او د وړومبي صف په اَهَمِّيَّت او فضيلت دې د پوهه کيدلو کوشش وکړي. چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا ابُو اُمامه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ نه رِوايت دے چې د حُضُور تاجدارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: **اللّٰه** پاک او د هغهٔ فرښتې په **وړومبي صف** باندې دُرُود (يعنې رحمت) ليږي، خلکو عرض وکړو: او په دويم صف باندې؟ خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: **اللّٰه** پاک او د هغه فرښتې په **وړومبي صف** باندې دُرُود (يعنې رحمت) ليږي، خلکو بيا دوباره عرض وکړو: او په دويم صف باندې؟ ويـې فرمائيل: په دويم باندې هُم. او حُضُور نَبِـيِّ کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: صفونه برابر کړئ او اُوګې مُقابِل (يعنې په يو سمي) کښې کړئ او د خپلو ورونو په لاسونو کښې نرم شئ! او فراخئ بندې کړئ ځکه چې شيطان د ګډې د بچي په شان ستاسو مابَين [يعنې مينځ] کښې داخليږي. (مُسْنَد اِمام اَحمَد بِن حَنۡبَل، ج ۸ ص ۲۹۵ حديث ۲۲۳۲۶)

## شرحِ حديث

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه د دې حديثِ پاک نه لاندې ليکي: د دويم نه مُراد شا ته ټول صفونه دي او کيدے شي چې خاص دويم صف مُراد وي (نور فرمائي:) په وړومبي صف باندې د **رب** تعالیٰ رحمتونه زيات دي او باقي صفونو باندې کم. صوفيانه طور باندې معلوميږي چې د خُدائے رحمتونه د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خُلي مبارکې د حرکت (يعنې وئيلو) سره تَعَلُّق لري ځکه چې حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نُزُولِ رحمت (يعنې د رحمت د نازليدو) خبر ورکړے وو، تر څو پورې يـې چې وړومبے صف ياد کړے وو نو هُم هغه د رَحمتِ اِلٰهي مُستَحِق وو او چې کله يـې د دويم نوم واخستلو نو د دې نوم اخستلو په بَرَکت هغه هُم د رحمت مُستَحِق شو. (مِراٰةُ المناجيح ج ۲ ص ۱۸۸)

## د خپلو ورونو په لاسونو کښې نرم شئ

اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه په ”فَتَاوٰی رَضَوِيَّه“ کښې د دې حديثِ پاک د دې حِصّې (د خپلو

ورونږو په لاسونو کښې نرم شئ) مُتَعَلِّق ليکلي دي: د مسلمانانو په لاسونو کښې نرم کيدل دا دي چې که په وړومبي صف کښې څه خَلا (ګيپ، يعني خالي ځائے) پاتې شوے وي او نِيَّتونه يې تړلي وي او بيا يو مسلمان راشي او هغه په دې خَلا (ګيپ، يعني خالي ځائے) کښې ودريدل غواړي او په مُقتديانو باندې د لاس کينبودلو په ذريعه اِشاره وکړي نو هغوئي ته حُکم دے چې [اخو ديخوا] دباؤ شي او ځائے ورکړي چې صف ډک شي. (فَتَاوىٰ رَضَوِيّه، ج ۷،ص ٤٤)

## د ګډې او چيلئ بچي

يو مُقام کښې اِرشاد فرمائي: د ګډې او چيلئ واړهٔ واړهٔ بچي اکثر ليدلے شوي دي چې چرته يو څو کسان ولاړ اُووِيني او د دوو کسانو په مينځ کښې څه فاصله اُووِيني نو په هغه خَلا (ګيپ، يعني خالي ځائے) کښې ورننوځي او يو خوا نه بل خوا ته اُوځي. هُم داسې شيطان هُم چې کله په صف کښې خالي ځائے وِيني نو په زړونو کښې وسوسو اچولو د پاره ورننوځي. (فَتَاوىٰ رَضَوِيّه، ج ۷،ص ٤٣)

د ربِّ کريم شان دے چې شيطان د صف په فراخئ (يعني خالي ځائے) کښې ننوځي خو د بنپو د مينځه نهٔ، د هر خيز تاثير جُدا دے. (مِرأةُ المناجيح ج ۲ ص ۱۸۸)

## حُضُور ﷺ په صفونه سَمول

حضرتِ سَيِّدُنا اَنَـس رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ روايت کوي چې رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به فرمائيل: اِسۡتَوُوۡا، اِسۡتَوُوۡا، اِسۡتَوُوۡا، فَوَالَّذِی نَفۡسِی بِيَدِهٖ اِنِّي لَاَرَاکُمۡ مِنۡ خَلۡفِيۡ، کَمَا اَرَاکُمۡ مِنۡ بَيۡنِ يَدَیَّ. يعني صفونه برابر کړئ، صفونه برابر کړئ، صفونه برابر کړئ، په هغه ذات مې دې قَسَم وي د چا په قبضه کښې چې زما ساه ده! زهٔ تاسو خپلې شا ته هُم داسې وِينم څنګه چې تاسو خپلې مخې ته وِينم. (سُنَنِ نَسائی ص ۱٤۲)

## حُضُور ﷺ زمونږه نمونځونه وِيني

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حديثِ پاک د دې حِصَّې (زۀ تاسو خپلې شا ته هُم داسې وِينم څنګه چې تاسو خپلې مخې ته وِينم) نه لاندې فرمائي: لِهذا چې نمونځ کوئ نو دا ګڼئ چې حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږه نمونځونه وِيني، په دې خيال به تاسو نمونځ صحيح هُم کوئ او ستاسو په زړونو کښې به حضور (يعنې د زړۀ [حاضري يعنې] تَوجُّه) او خُشُوع هُم پيدا کيږي، تر قيامته پورې دې هر مسلمان په هر نمانځۀ کښې، خُصُوصاً چې د تَهَجُّد په نمانځۀ کښې دا خيال کوي نو ډير خوند کوي او دا عمل ډير مُجَرَّب (يعنې تجرِبه شوے) دے. (مِرْاٰةُ المناجيح ج ٢ ص ١٨٧)

## د صف برابرولو نه مُراد

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** معلومه شوه چې صفونه بالکل برابر پکار دي او د اُوګې سره اُوګه لګيدلې ودريدل هُم ضروري دي، د دې نه مُراد د اُوګو اوچتوالے نۀ دے څکه چې د چا ونه [قد] اوچت وي او د چا ټيټ، بلکې د دې نه مُراد د اُوګو په يو برابري کښې کيدل دي لِهذا هر اسلامي ورور دې، دې ته ګوري چې د هغۀ دواړه طرف ته د ولاړو اسلامي وروڼو او د هغه خپلې اُوګې په يو سمې کښې دي او که نۀ، که داسې هر اسلامي ورور احتياط کوي نو صف برابريدے شي.

## صف نۀ برابرول ګناه ده

شارِحِ بُخاري حضرتِ عَلَّامه بَدرُ الدِّين عَيني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په حديثِ پاک کښې د صف برابرولو د حُکم مطابق **صف برابرول واجِب دي** خو دا د نمانځۀ په [دننه] واجباتو کښې نۀ دي چې ګڼې د صف نۀ برابرولو په وجه به نمونځ مات شي يا به نمونځ ناقِص (يعنې د څه خرابۍ والا) شي، البته که نمونځ کوونکي صف نۀ برابروي نو **ګنهګار** به وي. (عُمدةُ القارى ج٤ ص٣٥٤) اعلٰى حضرت **اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اِرشاد فرمائي: په صف

کښې فُرجه (يعني خَلا، خالي ځائے) پرېښودل مکروهِ تَحرِيمي (يعني ناجائز او ګناه) ده، تر څو پورې چې [هر] مخکښينے صف پوره نۀ کړي بل صف دې بالکل نۀ جوړوي. (فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه، ج ۷، ص ۴۹)

## د صف برابرولو درې عظِيمُ الشّان فضائل

دري فرامِينِ مُصطَفیٰ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: (۱) د هغه قدم نه زيات د بل يو قدم ثواب نشته کوم چې د دې د پاره واخستے شو چې د صف فراخي (يعني خالي ځائے) بند کړي. (مُعْجَم اَوْسَط ج ۴، ص ۶۹ حديث ۵۲۴۰) (۲) څوک چې د صف فراخي بنده کړي، د هغۀ بخښنه به وشي. (مسند البزار ج ۱۰ ص ۱۵۹ حديث ۴۲۳۲) (۳) څوک چې د صف فراخي بنده کړي الله پاک به د هغۀ يوه درجه اوچته کړي او د هغۀ د پاره به په جَنَّت کښې يو کور جوړ کړي. (مُعْجَم اَوْسَط ج ۴ ص ۲۲۵ حديث ۵۷۹۷)

سُبْحٰنَ الله! که مخکښې صف کښې ځائے پاتې وي او يو اسلامي ورور د هغه خالي ځائے ډکولو په نِيَّت ورمخکښې شي نو په يو يو قدم باندې په دلو دلو ثوابونه او که خوش قسمتۍ سره هغه د صَف خالي ځائے ډکولو کښې کامياب شي نو د بخښنې زيرے دے. اللهُ رَبُّ الْعِزَّت دې مونږ ټولو ته د دې عظيم ثواب حاصلولو توفيق را کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## که مخکښې صف کښې ځائے خالي پاتې شي نو څه وکړي؟

اے نمونځ ګزارو اِسلامي ورونړو! که صفونه جوړ شي او نمونځ شروع شي او د نِيَّت تړلو نه پس مُقتدي اُووِيني چې د هغۀ نه مخکښې صف کښې د يو سړي ځائے په قدر د خلا [يعني خالي پاتې] دے نو په نمانځۀ کښې د اوسيدو په حالت کښې دې روان شي او د مخکښې صف خلا دې ډکه کړي خو صرف د يو صف پورې دې لاړ شي، زيات صفونه دې نۀ ځي ځکه چې بيا به دا ”عَمَلِ کثِير“ شي او داسې به د هغۀ خپل نمونځ مات شي. اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اِرشاد فرمائي: که په دويم صف کښې چا نِيَّت اوتړلو بيا هغۀ په

وړومبي صف كښې خلا (يعنې خالي ځائے) وليدو نو اجازت دے چې عَين د نمانځۀ په حالت كښې روان شي او ورشي او خالي ځائے ډک كړي ځكه چې دا **مَشۡيِ قَلِيل** (يعنې لږ شان تلل) د حُكمِ شَرع د **اِمۡتِثَال** د پاره (يعنې د شريعت په حكم باندې عمل كولو د پاره) واقع شو، خو د دوو صفونو په فاصله دې نۀ ځي چې **مَشۡيِ كَثِير** (يعنې د تللو زيات مِقدار) به شي. (فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه، ج ٧،ص ٤٦)

صفيں درست رکھو بھائيو! جماعت ميں
اگر نہ مانوگے پڑ جاؤگے ہلاکت ميں

صفونه سَم ساتئ ورونړو په جَماعَت كښې
كه نه منئ نو اخته به شئ په هلاكت كښې

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د وړومبي صف والؤ مُتَعَلِّق معلوماتي سوال جواب

د اعلىٰ **حضرت** رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نه تپوس اوكړے شو چې د جُمُعې د جَمعې په نمانځۀ كښې په وړومبي صَف كښې دوه يا درې كسان چې هغوئي بِيرې خرئيلي وي او د يو كس بونډۍ (بِيره يعنې د يو مُوټي نه وړه) وه، هغۀ دا خبره وكړه چې بزرګان خلک شا ته ناست دي، هغوئي دې وړومبي صَف ته راشي او بِيره خرئيلي او بونډۍ بِيرې دې شا ته لاړ شي، لِـهذا دا هغه ګناه وكړه كه نه؟ او كه مخكښې صَف كښې بِيره خرئيلي كسان وي او شا ته صف كښې پرهيزګار او مُتَّقِيان وي، نو آيا هغوئي مخكښې صف ته راوستلے شي او بِيره خرئيلي شا ته كړے شي كه نه؟ او [اوس] هغه خلک چې بِيره خرئيلي دي هغوئي دا جومات پرېښودے دے او بل جومات ته نمانځۀ له ځي او يو سره يو يا دوه بِيرې والا هُم ځي، [ځكه چې] دا خبره هغوئي ډېره زياته بده اوګڼله.

**جواب**: ږيره بونډۍ کول (يعنې د يو مُوټې نه ورو‌ل او) خرئيل حرام دي او د دې مُرتَکب (يعنې داسې کوونکي) فاسِق دي، دوئي ته دې تَفهِيم (اوکړے شي يعنې پوهه دې کړے شي)، هدايت دې ورته اوکړے شي، بهتره دا ده چې اِمام ته نزدې دانِشوَر خلک وي، او هُم هغه دانِشوَر دي کوم چې مُتَّقِيان دي، مُتَّقِيانو ته پکار وه چې هُم دوئي د ټولو نه مخکښينے ځائے حاصل کړے وے، اوس چې هغه دويم قِسم خلک مخکښې راغلل نو د هغوئي د پاره مناسِب ده چې د مُتَّقِيانو (يعنې پرهيزګارو) د پاره ځائے خالي کړي، ګنې [يعنې که هغوئي پخپله ځائے ورنکړي نو] د هغوئي (يعنې د ږيره خرئيلو والؤ وغيره) د لرې کولو هيڅ وجه نشته، خُصُوصاً چې کله د فِتنې [يعنې فساد] سبب جوړيږي، په اعمالو کښې هدايت په نرمۍ سره پکار دے چې د سختۍ په وجه ضِد زيات نهٔ شي. (فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه، ج ۷، ص ۱۹۳)

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** چې عَـالِـمِ دِين، دِيني بزرګان او مُتَّقِيان حضرات راشي نو د هغوئي د تعظيم د پاره هغوئي ته په وړومبي صَف کښې ځائے ورکول او پخپله شا ته صف ته تلل پکار دي، خو په دې باندې يو سوال پيدا کيږي، راځۍ چې هغه سوال او د هغې جواب اوګورو:

## د نيکۍ اِيثار کولو مُتَعَلِّق يو سُوال

**سوال**: که څوک د عَـالِـمِ دِين وغيره يا د يو بُوډا کس د تعظيم [يعنې ادب] په وجه هغهٔ ته په وړومبي صف کښې خپل ځائے ورکړي او پخپله شا ته لاړ شي نو دا نيکي اِيثار کول [يعنې قربانول] شو نو آيا په داسې موقع باندې نيکي ايثار کول صحيح دي؟ ځکه چې فُقَهائے کرام رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِم فرمائي: لَا اِيۡثَارَ فِي الۡقُرُبَاتِ يعنې **الله** پاک ته نزدې کوونکو کارونو کښې ايثار نهٔ کيږي. (الاشباه والنظائر ص ۱۰۱)

**جواب**: داسې کول جائز دي، ځکه چې کله لړه افضله نيکۍ او [ډيره] افضله نيکۍ کښې ټکراؤ راشي نو [ډيره] افضله نيکي اختيارول پکار دي او د اَهلِ عِلم او بُوډاګانو (غيرِ

فاسِقِ مُلعِن) حضراتو اِحترام په وړومبي صف کښې ودريدلو نه افضل دے، چنانچه "رَدُّالْمُحْتَار" کښې دي چې: که څوک په وړومبي صف حاصلولو کښې کامياب شي بيا د هغهٔ نه په عُمر کښې مشر بل کس يا يو عَـالِـمِ دِين تشريف راوړي نو د هغهٔ د پاره مُناسِب دا دي چې پخپله شا ته لاړ شي او د هغوئي د تعظيم کولو په وجه هغوئي مخکښې کړي. په مُسلِم شريف کښې دي چې د رَسُولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې مشروب (يعني د څښلو څيز) راوړے شو، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغهٔ وڅښلو، د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښي طرف ته يو ماشوم وو (يعني حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا) او ګَڅ طرف ته يـې د لوئي عُمر صاحبان وو. خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا ته اوفرمائيل: آيا تهٔ ما ته اجازت راکوې چې زهٔ دا (يعني پاتي شوے د څښلو څيز) دې خلکو ته ورکړم؟ نو حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا عرض وکړو: نه (قَسم په خدائے! ستاسو له طرفه ملاويدو والا حِصَّه (يعني تَبَرُّک [خورده]) زهٔ هيچا ته هُم نه اِيثار کووم) چنانچه خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پياله هغوئي [يعني عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا] ته عطا کړه.

د دې مسئلې او حديثِ پاک نه معلومه شوه چې د عُلَماء او زيات عُمر والؤ خلکو احترام په وړومبي صف کښې ودريدلو او ښي طرف ته حقدار ته لوښي ورکولو نه افضل دے (ځکه حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل شانِ کريمه مطابق زيات عُمر والؤ ته مخکښې د مشروب ورکولو اجازت طلب کړو) پس دا د نيکئ اِيثار کولو په ذريعه بلې افضل [يعني غوره] نيکئ طرف ته مُنتقِل کيدل دي. البته که يو کس په صف کښې خپل ځائے يو داسې کس ته ورکوي چې هغه نهٔ عالِم وي او نهٔ دَ لوئي عُمر وي نو دا بغير د څه وجهې د نيکئ نه مخ اړول او د شريعت د مطلوب خلاف دي. (رَدُّالْمُحْتَار ج ۲، ص ۳۷۲، ۳۷۳ مُلَخَّصاً)

## پوهه ماشوم د نمانځهٔ په دوران کښې شا ته کول ظُلم دے

اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اِرشاد فرمائي: فَاِنَّ صَلَاةَ الصَّبِيِّ الْمُمَيِّزِ الَّذِى يَعْقِلُ الصَّلَاةَ صَحِيْحَةٌ قَطْعًا (يعني

کوم ماشوم چې تمیز لري او په نمانځهٔ پوهیږي د هغهٔ نمونځ بِالیقین صحیح دے) (او فرمائي:) بعضې بې عِلمه [خلک] دا ظُلم کوي چې هلک د مخکښې نه په نمانځهٔ کښې داخل دے، بیا دے راشي نو نِیَّت ترلے یـې ګوَټ ته لرې کړي او پخپله مینځ کښې ودریږي، دا صرف جَهالت دے، هُم داسې دا خیال چې هلک ولاړ دے نو د سرې نمونځ به نهٔ کیږي غلطه او خطا ده چې د دې هیڅ اصل (یعنې حقیقت) نشته. (فَتَاوٰی رَضَوِیَّه مُخَرَّجه، ج ۷، ص ۵۱)

## د غټو په صف کښې د ماشومانو مسئله

په صَف کښې که یوهه ماشومان ولاړ وي نو په جَمعَه کښې به هیڅ کراهَت نهٔ راځی، خو که ناپوهه وي نو د هغوئي په وجه به قَطعِ صَف (یعنې د صف کټ کیدل) لازِم راځي لِـهذا د هغوئي د لرې کولو حُـکم دے، او د پوهه ماشومانو صَف د بالغانو د صف نه شا ته د جوړولو چې کوم حُـکم دے هغه وُجُوبي نهٔ دے یعنې د ماشومانو صَف د بالغانو شا ته جوړول واجِب نهٔ دي چنانچه فَتاوٰی فیضُ الرَّسُول کښې دي: یَصُفُّ الرِّجَالُ ثُمَّ الصِّبْیَانُ (مخکښې به د سړو صف بیا به د ماشومانو صف جوړولے کیږي) د دې حُـکم وُجُوبي نهٔ دے. (فَتَاوٰی فَیضُ الرَّسُول، ج ۱، ص ۳۳۸) خو! که پوهه ماشوم نمونځ نهٔ وي شروع کړے نو هغه به د ماشومانو په صَف کښې ودرولے کیږي.

## د لوبو د میدان نه د عِلمِ دِین په لویه لاره

اے د نمانځهٔ عاشقانو! د صفونو برابرولو اَهَمِّیَّت په زړهٔ کښې پیدا کولو د پاره او د صفونو برابرولو جذبه حاصلولو د پاره د دعوتِ اسلامي دیني ماحول سره همیشه خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ.

**مَدَنـي سپرلے:** د حافِظ آباد ښار (پنجاب) نه پینځهٔ کلومیټره لرې د یو کلي اوسیدونکـي زلـمي اِسلامي ورور به د غفلت ژوند تیرولو، فلمونه او ډرامې کتل، ګنده رسالي لوستل، د مور او پلار زړهٔ ازارول، ګشران وروڼه وهل ټکول د هغهٔ د معمولاتو حِصَّه وه. نمونځونه

به يـې هُم قضا کول، البته د سحر نمونځ به يـې کولو ځکه چې مور او پلار به يـې کله په نرمۍ کله په سختۍ جومات ته وليږلو. اکثر به يـې ورځ د لوبو په ميدان کښې تيروله، دعوتِ اسلامي سره تَعَلُّق لرونکي يو اسلامي ورور به هغۀ ته د نيکۍ دعوت ورکولو خو هغۀ به په يو غوږ واوريدله او په بل غوږ به يـې اُووِيستله، د مَكتَبَةُ الْمَدِينه رسالې به يـې د لوستلو د پاره ورکولې، چې په هغې کښې به هغۀ څه نا څه رِساله ولوستله. د هغه اسلامي ورور اِنفرادي کوشش رنګ راوړو او هغۀ په قلاره نمونځونه کول شروع کړل، درس و بيان يـې هُم په تَوَجُّه سره اوريدل شروع کړل، بيا يوه ورځ هَغه هُم راغله چې هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې هُم شريک شو. اِجتِماعي دُعا کښې د هغۀ زړۀ هُم نرمے شو او دعوتِ اسلامي سره يـې مَحَبَّت زيات شو. هغه پينځۀ وخته نمونځ ګُزاره هُم جوړ شو. يوه ورځ يـې د عِلمِ دِين په فضائلو بيان واوريدو نو جَامِعَةُ الْمدِينه سيالکوټ ته لاړو او هلته يـې درسِ نِظامي کښې داخله واخسته او عِلمِ دِين حاصلول يـې شروع کړو.

سنور جائے گی آخرت اِنْ شَآءَاللّٰه
تم اپنائے رکھو سدا مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٦)

آخـرت بـه دي بنـۀ شـي اِنْ شَآءَاللّٰه
ته هميشه اونيسه دا ديني ماحول

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## بني طرف ته زيات ثواب دے

د اِمام په مينځ کښې کيدل سُنَّت دي، که په صف کښې دواړو طرف ته خلک برابر وي نو راتلونکے کس دې د صف بني طرف ته راشي او شامل دې شي ځکه چې په دې کښې زيات ثواب دے، ځکه چې د اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه

رِوايت دے چې، تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: "**الله** او د هغه فرښتې د صَف ښي طرف والؤ باندې رحمت ليږي." (اَبو داؤد ج۱، ص۲۶۸ حديث۶۷۶)

## د ښي طرف د فضيلت سبب

شارِحِ بُخاري حضرتِ عَلَّامه بَدرُ الدِّين عَيني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ښي طرف والؤ باندې د رحمت راليږلو سبب دا دے چې ښي طرف ته د ګڅ طرف په مقابله کښې په هر څيز کښې فضيلت حاصل دے (شرح ابی داؤد للعینی ج۳ ص۲۲۸) **حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د يو حديثِ پاک لاندې ليکي: رانجه پورې کول، نوکان او د ترَخونو ويښته اخستل، حجامت [يعني بِيره د سُنَّتو مطابق برابرول] او بريت کټ کول، جومات ته راتلل او مِسواک کول وغيره ټولو کښې سُنَّت دا دي چې د ښي لاس يا ښي طرف نه شروع وکړي ځکه چې نيکۍ ليکونکې فرښته ښي طرف ته اوسي، د هغې په وجه دا طرف غوره دے، تر دې چې ښي طرف والا ګاونډي د ګڅ طرف والا ګاونډي نه زيات د سلوک مُستَحِق دے.

(مِراٰةُ المناجيح ج۱ ص۲۸۷)

## دوه هومره ثواب کله.....

د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: څوک چې د جومات ګڅ طرف په دې وجه آباد کړي چې هلته خلک کم دي نو د هغۀ د پاره دوه هومره ثواب دے." (مُعجَم کبِير ج۱۱ ص۱۵۲ حديث ۱۱۴۵۹)

حضرتِ عَلَّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د يو حديثِ پاک تحت فرمائي: چې کله رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صفونو د ښي طرف فضيلت بيان کړو نو خلکو ګڅ طرف پريښودو، خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته چې دا خبره عرض کړے شوه نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په داسې حالت کښې ګڅ طرف ته د ښي طرف والؤ نه دوه هومره اجر عطا کړو، البته د

ګڅ طرف والو د پاره دوه هومره اجر د هُم دې حالت سره خاص دے چې کله ښے طرف پريښودے شي. (فيض القدير ج ٦ ص ٢٣٦ تحت الحديث ٨٨٦٥)

## د ښي طرف په مقابله کښې د ګڅ طرف د افضل کيدلو صورت

"فَتَاوٰی فَيضُ الرَّسُول" جلد اَوَّل صفحه 344 تا 345 کښې ورکړے شوے "سوال جواب" اوګورئ: **سُوال:** که د اِمام ښي طرف ته مُقتديان زيات وي او ګڅ طرف ته څه کم وي يا دواړو طرف ته برابر وي نو نوي راتلونکي مقتدي د پاره چرته ودريدل پکار دي؟ **جواب:** که ګڅ طرف مُقتديان څه کم وي نو د [نوي] راتلونکي مُقتدي د پاره ګڅ طرف ته ودريدل افضل دي ځکه چې هغه اَقرَب اِلَی الْاِمام (يعنې اِمام ته زيات نزدې) دے او د دواړو طرفونو د برابر کيدلو په صورت کښې ښي طرف ته ودريدل افضل دي.

## د اِمام د فرض نمانځهٔ نه پس تاويدل سُنَّت دي

حضرتِ سَيِّدُنا بَراء بِن عازِب رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: "د رحمتِ عَالَم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په اِقتِدا کښې به چې کله مونږه نمونځ کولو نو ښي طرف ته ودريدل به مو خوښول، د پاره د دې چې هغوئي (صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) خپل رُخِ انور (يعنې نُوراني مخ مبارک) زمونږ طرف ته کړي." (مُسلِم ص ٢٨٠ حديث ١٦٤٢)

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د دې حديثِ پاک لاندې ليکي: د دې نه دوه مسئلې معلومې شوې: يوه دا چې حُضُور عَلَیْہِ السَّلَام به اکثر (د سلام ګرځولو نه پس) ښي طرف ته مخ کولو او دُعا به يـې غوښتله، بله دا چې د حُضُور (صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) مخ مبارک ليدل بهترين عبادت دے چې صحابهٔ کرامو (رَضِیَ اللہُ عَنْہُم) به صرف د دې د پاره د صف ښے طرف خوښولو چې د نمانځهٔ نه پس راته حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار نصيب شي.

(مِراٰةُ المناجيح ج ٢ ص ١١٢)

حبیب اس حال سے بڑھ کر بھی حالِ زار ہو جائے
جو ہونا ہو سو ہو جائے مگر دیدار ہو جائے

اے حبیبه د دې حاله دې هم بد شي زما حال
بس دیدار ستا رانصیب شي كه هر څهٔ شي زما حال

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اِمام په تاویدلو کښې حِکمت

شارِح بُخاري مُفتي شریف الحق امجدي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حدیثِ پاک لاندې لیکي: د دې نه معلومیږي چې د نمانځهٔ نه فارغیدلو نه پس به حُضُورِ اَقدَس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زیات تر ښي طرف ته مخ مبارک اړولو (او فرمائي چې) همیشه به ښي طرف ته نهٔ تاویدلو، زیات تر به ښي طرف ته تاویدلو او ډیر (ځله) به داسې هُم کیدل چې ګڅ طرف ته به تاویدلو، په حدیثونو کښې د دې تخصیص (یعني خُصُوصِیت) نشته چې صرف د هٰغه نمونځونو نه پس به تاویدلو د کومو نه پس چې نفلونه نشته، (روایات) مُطلق دي، او د هغې نه ظاهریږي چې د هر نمانځهٔ نه پس به تاویدلو، که د هغې نه پس به نوافِل وو او که نهٔ به وو. (نُزهَةُ القاری ج ۲ ص ۵۰۰)

## د سلام نه پس نه تاویدونکے اِمام تارِک سُنَّت شو

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د اِمام د پاره سُنَّت دا دي چې د سلام ګرځولو نه پس ښي یا ګڅ طرف ته تاو شي یا د مُقتدیانو طرف ته مخ کړي، البته مُقتدیانو طرف ته د مخ کولو په صورت کښې به د دې خبرې خیال ساتل ضروري وي چې د آخري صف پورې هیڅ څوک هُم د هغهٔ مخ ته مخامخ نمونځ نهٔ کوي. **اعلٰی حضرت** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د یو سُوال په جواب کښې اِرشاد فرمائي: (د اِمام د پاره) د سلام [ګرځولو] نه پس مخ په قِبله کښیناستل په هر نمانځهٔ کښې مکروه دي، هغه په شُمال و جُنُوب و مشرِق کښې مُختار دے (یعني ښي

طرف يا ګڅ طرف يا که غواړي مُقتديانو ته دې مخ کړي) خو که څوک مَسبُوق (يعنې نيمګړې جُمعه حاصلوونکے) د هغه په محاذاتو (يعنې سمې) کښې اګر که په آخري صف کښې نمونځ کوي نو مشرق يعنې مُقتديانو ته دې نه مخ کوي، بهرحال تاويدل مطلُوب دي، که تاو نۀ شو او مخ په قِبله ناست پاتې شو نو په کراهَت کښې اخته او سُنَّت پرېښودونکے به وي. (فتاویٰ رضويّه، ج ٦، ص ٢٠٥، ٢٠٦)

## د جُمعې نه پس مُقتديانو د پاره يو مُسْتَحَب کار

مُقتديانو د پاره مُسْتَحَب دا دي چې د سلام ګرځولو نه پس صفونه مات کړي او مخکښې وروسته کښيني، په هُم هغه طريقه دې نۀ کښيني په کومه چې نمانځۀ کښې وو. اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د يو سُوال په جواب کښې اِرشاد فرمائي: د مُقتديانو د پاره شرعاً دومره مُسْتَحَب دي چې صفونه مات کړي او د نمانځۀ نه پس په هغه انتظام ناست نۀ اوسي څنګه چې نمانځۀ کښې وو. (فتاویٰ رضويّه، ج ٦، ص ٢٠٧) البته شا ته تللو کښې د دې خبرې خيال ساتل ضروري دي چې د يو نمونځ کوونکي رسا مخې ته يې مخ نۀ شي او د يو نمونځ کوونکي په مخه تيريدل پکښې نۀ وي، هُم داسې شا ته تللو کښې چا ته دِيکه اُونه لګي د دې خيال ساتل هُم ضروري دي.

**سُوال:** که دوو کسانو خپل مينځ کښې جُمعه وکړه نو آيا بيا هُم [د سلام نه پس] د اِمام د پاره د قبلې نه تاويدل سُنَّت دي؟

**جواب:** په دې صورت کښې قبلې نه تاويدل سُنَّت نۀ دي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## اِمام پسې رسا شا ته کس د پاره د سلو نمونځونو ثواب

په يو روايت کښې دي: په وړومبي صف کښې اِمام پسې رسا شا ته (د جُمعې) نمونځ

کوونکې د پاره د سلو (100) نمونځونو ثواب ليکلے کيږي او د وړومبي صف ښي طرف والو د پاره د پينځۀ اويا (75) نمونځونو او ګڅ طرف والؤ د پاره د پنځوسو (50) نمونځونو او باقي ټولو صفونو والؤ د پاره د پينځۀ ويشت (25) نمونځونو ثواب ليکلے کيږي.

(اَلْبَحْرُ الرَّائِق ج۱ ص۶۱۹)

## د ټولو نه مخکښي رحمت په چا نازليږي

اعلىٰ حضرت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اِرشاد فرمائي: رحمتِ اِلٰهى **مخکښې** په اِمام نازليږي بيا په وړومبي صف کښې چې خوک په اِمام پسې رسا شا ته وي، بيا د وړومبي صف په ښي طرف والؤ باندې بيا ګڅ طرف والؤ باندې بيا دويم صف کښې په اِمام پسې رسا شا ته کس باندې بيا د دويم په ښي [طرف] بيا ګڅ طرف باندې، هُم داسې آخري صفونو پورې. (فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه، ج۵، ص۴۲۴ تسهيلاً)

## د وړومبي صف والؤ نه دوه هومره اجر

شارِحِ بُخاري حضرتِ عَلَّامه بَدرُ الدِّين عَيني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: که خوک راشي او هغه اُووينې چې وړومبے صف ډک شوے دے نو هغۀ ته دا نۀ دي پکار چې په وړومبي صف کښې ورننوځي او خلک تنګ کړي. (عُمدةُ القاری ج۴، ص۱۷۶، تحت الحديث۶۱۵) **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: "خوک چې يو مسلمان ته د تکليف رسيدلو د ويرې وړومبے صف پريږدي نو **الله** تعالىٰ به هغۀ ته د وړومبي صف والؤ نه دوه هومره اجر عطا کوي" (مُعْجَم اَوْسَط ج۱ ص۱۶۵ حديث ۵۳۷)

## د دوه هومره اجر شرط

**حضرت** عَلَّامه اِبنِ عابِدِين شامي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک بيانولو نه پس فرمائي: دا هُغه وخت وي چې کله نمونځ نه وي شروع شوے، که نمونځ شروع شوے وي او وړومبي

صف کښې خالي ځائے وي نو هغه دې صفونه وخيري او مخکښې دې لاړ شي (او هغه ځائے دې ډک کړي). (رَدُّالْمُحْتَار ج۲ ص۳۷۲)

## که مخکښې صف کښې خلا اُووِيني نو....

اعلیٰ حضرت اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه اِرشاد فرمائي: که وړومبي صف والؤ خلا [يعني خالي ځائے] پريښودے وي او دويم صف والؤ هُم د دې خيال اونکړو خو خپل صف کښې يو بل سره ښۀ جوخت ودريدل او نِيَّتونه اوتړلے شو حالانکې په دوئي لازمه وه چې وړومبي صف والؤ نا انصافي کړې وه نو دوئي به مخکښې هغه صف پوره کړے وے بيا به يـې دويم صف تړلے، بيا يو کس راغلو او هغۀ د وړومبي صف خلا وليده نو هغۀ ته اجازت دے چې دا دويم صف وخيري او ورشي هغه خالي ځائے ډک کړي ځکه چې دويم صف والا د بې خيالۍ کولو په وجه پخپله قصور وار دي او د دې دويم صف څيرل جائز. (فَتَاوٰی رَضَوِيّه، ج۷، ص۴۵ تسهيلاً) **بهارِ شريعت** کښې دي: دا هلته [کول پکار] دي چې کوم ځائے د فِتنې او فساد اِحتِمال (يعني خطره) نه وي. (بهارِ شريعت ج۱ ص۵۸۶، ۵۸۷)

## د امام د پاره يو سُنَّت

د امام د پاره سُنَّت دي چې هغه د جَمعې قائمولو وخت کښې صفونه سم کړي ځکه چې زمونږه خوږ مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هُم داسې کول. د حضرتِ سَيِّدُنا بَـراء بِن عازِب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د صف د يو کُوټ نه بل کُوټـه پورې تللو او زمونږه اُوګې يا سينې باندې به يـې لاس راښکلو او فرمائيل به يـې: ”مختلف مه ودريږئ ځکه چې ستاسو زړونه به مختلف شي.“ (ابن خُزَيْمَة ج۳ ص۲۶ حديث ۱۵۵۶)

## په زړونو کښې اختلاف

حضرتِ سَيِّدُنا عَلَّامه حافِظ اِبنِ جَوزِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ليکي: د حديث معنیٰ دا ده چې کله تاسو په ظاهره مختلف شئ نو د سزا په طور به ستاسو په زړونو کښې اختلاف واچولے

شي، دا مُراد هُم کيدے شي چې تاسو خپل ظاهر مه مختلف کوئ ځکه چې ستاسو ظاهري اختلاف ستاسو د باطِني اختلاف دليل دے. (کشف المشکل من حديث الصحيحين، ج ۲، ص۲۰۵)

## چرته مخونه مو وران نۀ شي!

حضرتِ سَيِّدُنا نُعمان بِن بشير رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د الله پاک خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به زمونږه صفونه برابرول، يوه ورځ خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو سړي سينه مخکښې طرف وتلې وليده نو اِرشاد يې اوفرمائيلو: ”تاسو به لازِماً خپل صفونه سِيده ساتئ کنې ويره ده چې چرته الله پاک ستاسو وُجوه (يعنې مخونه يا ذاتونه) وران نۀ کړي.“ (تِرمِذِی،ج۱ص۲۶۲ حديث ۲۲۷)

## صفونه برابر نۀ ساتلو سره به خُشُوع و خُضُوع پاتې نۀ شي

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يعنې که ستاسو د نمانځۀ صفونه کاږه وي نو ستاسو خپل مينځ کښې به اختلاف او جګړې پيدا شي، مُتَفَرِّق به شئ يا به ستاسو زړونه کاږه شي، چې په هغو کښې به غم [يعنې فِکرِ آخرت وغيره، او د يو بل] درد [محسوسول] او نرمي او خُشُوع و خُضُوع ختمه شي، يا خطره ده چې ستاسو مخونه به وران شي څنګه چې په تيرو قومونو عذابونه راغلي وو، دلته د وَجۡهٌ معنٰی يا ذات دے يا مخ. ياد لرئ چې عام مَسۡخ کيدل (يعنې د پوره قوم شکلونه ورانيدل) وغيره ظاهري عذابونه د حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تشريف راوړلو نه پس بند شولو خو خاص مَسۡخ (يعنې د يو خاص کس مخ ورانيدل) وغيره اوس هُم کيدے شي. (مِرأةُ المناجيح ج ۲ ص ۱۸۲)

## چې صفونه برابرول مو پريښودل نو ستاسو مينځ کښې جګړې پيدا شوې

حضرتِ سَيِّدُنا ابو مسعُود انصاري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ”ځکه په تاسو کښې نن ډير اختلاف دے.“ (مُسلِم ص۱۸۲ حديث ۹۷۲) يعنې تاسو د صفونو سَمَولو اهتمام پريښودلو، ځکه ستاسو مينځ کښې جګړې او اختلافات پيدا شو. (مِرأةُ المناجيح ج ۲ ص ۱۸۳)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونو! نن صبا شايد که چرته صفونه صحيح وي، عموماً هر ځائے کښې په صفونو کښې بې ترتيبي وي، شايد هُم دا وجه ده چې هر ځائے کښې خپل مينځ کښې جګړې رواني دي بلکې اکثر کورونه لکه چې ميدانِ جنګ جوړ شوي دي! برائے کرم! په خپل حال باندې رحم وکړئ! او د صفونو سيده کولو ډير اهتمام کوئ. يا **الله** پاکـه! مونږه ستا د قَهر و غضب نه ستا پناه غواړو! مونږ ته د صفونو سيده کولو توفيق را کړې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## د صفونو سيده کولو طريقه

اعلٰى حضرت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه اِرشاد فرمائي: د صفونو په باره کښې د درې خبرو په شريعت کښې سختئ سره حُکم دے او درې واړه نن صبا مَعَاذَالله کَالۡمَتۡرُوۡك دي (يعنې داسې دي لکه چې پريښودے شوي وي)، هُم دا وجه ده چې مسلمانانو کښې بې اِتّفاقي خوره ده. اَوَّل: "تَسۡوِيه" (يعنې د صف سِيده کول) چې صف برابر (يعنې سيده) وي، خَم (يعنې ترَخَنده) نۀ وي، کج (يعنې کوږ) نۀ وي، مُقتديان مخکښې وروستو نۀ وي، چې د ټولو څټونه، اُوګې، [او] د ښپو ګيټئ [پړکې] خپل مينځ کښې محاذی (يعنې يو سِيد) يو خَطِّ مُستَقِيم (نيغه کرښه) کښې واقع وي چې هغه په دې کرښه باندې کومه چې زمونږ د سِينو نه وتلې ده او په کعبهٔ مُعَظَّمه تيره شوې ده، عَمُود وي. **دويم**: "اِتمام" (يعنې د [هر] مخکښيني صف دواړو سرونو پورې پوره کيدل) چې تر څو پورې يو صف نۀ وي پوره شوے بل مۀ (شروع) کوئ، د دې شرعِ مُطَهَّره ته ډېر اهتمام دے چې که څوک صف ناقِص (يعنې نيمګړے) پريږدي، مَثَلًا د يو سړي ځائے په هغې کښې چرته پاتې وو، د هغې د پوره کولو نه بغير يې شا ته نور صفونه وتړل، بيا يو کس راغلو، هغۀ په وړومبي صف کښې نُقصان (يعنې کمے) وليدو نو هغۀ ته حُکم دے چې صفونه وخيري او ورشي هلته ودريږي او هغه نقصان (يعنې کمے) پوره کړي ځکه چې هغوئي د حُکمِ شرع د مخالَفت کولو په وجه بخپله خپل حُرمَت ساقِط کړو (يعنې د خپل لِحاظ کولو حق يې بخپله ختم کړو)

**ښوک چې داسې صف پوره کړي الله پاک به د هغهٔ بخښنه وکړي.** دريم: "تَراص" يعنې ښهٔ يو بل سره لګيدلي ودريدل چې د اُوږې سره اُوږه مرښل شي. **الله** پاک اِرشاد فرمائي: صَفًّا كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ ﴿۴﴾ (پ۲۸، الصف:۴) (ترجَمه) "داسې صَف لکه هغه چې ديوال وي، او وِيلي کړے شوي سيکه ورکړے شوي وي."

چې سيکه وِيلي کړې او ور وائې چوې نو ټول چاوونه ډک شي، يو ځائے پکښې هُم خلا (يعنې خالي ځائے) نهٔ پاتې کيږي، داسې صف تړونکي مَولٰی سُبْحٰنَهٗ وتعالٰی خوښوي. دا هُم د هُم دي اِتمامِ صُفُوف د پوره کيدلو نه دي او درېې واړه اَمرونه شرعاً واجِب دي. (يعنې تراص هُم د صفونو پوره کولو والا ځيزونو نه دے او بيان شوي درې واړه ځيزونه شرعاً واجِب دي). دلته څلورم اَمر بل دے "تَقارُب" [يعنې] چې صفونه نزدې نزدې وي، (د دوو صفونو په) مينځ کښې قدرِ **سَجْده** (يعنې د سجدې مقدار). (يعنې بس دومره فاصِله وي چې د هر قد والا کس په وروستي صف کښې په آسانئ سره سجده وکړي. که د پوره صف اضافي خلا وي نو ناجائزه او ګناه ده ګنې ترکِ سُنَّت دي (يعنې که د پوره صف نه کمه خلا وي نو سُنَّت پاتې شو) (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج۷، ص۲۱۹ تا ۲۲۳) په يو مقام کښې اِرشاد فرمائي: **وَصلِ صُفُوف** او د هغې خلا ډکول د اهمو ضرورياتو نه دي او خلا ممنوعه او ناجائزه، (يعنې صفونو کښې يو بل سره لګيدلي ودريدل او خلا ختمول نهايت ضروري او خلا پريښودل ممنوع او ناجائزه دي) تر دې پورې چې د دې د ختمولو (يعنې صف پوره کولو) د پاره د نمونځ کوونکي په مخه د تيريدلو اجازت وشو چې د هغې په باره کښې په حديثونو کښې سخت ممانعت راغلے وو (فرمائي) ښکاره خبره ده چې داسې شديد اَمر (يعنې د نمونځ کوونکي په مخه تيريدلو والا اهم ترينه معامله) چې په هغې د سزاګانو سخت وعيدونه دي، [دا هُم] هغه وخت روا (يعنې جائز) ګرځولے شوي دي چې کله بل (امر يعنې صفونه نه سيده کول) د دې نه زيات اَشَد او اَفسَد (يعنې زيات سخت او خرابئ والا) وو. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج۷، ص۴۶ تا ۴۹ مُلَخَّصاً)

## په ساګانو باندې شيطان سوَزي! د چا؟

**حضرتِ** امام عبدُ الوهّاب شَعراني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: که (د جَمعې د نمانځهٔ) په صف کښې خلل (يعنې خالي ځائے) نهٔ وي نو شيطان په هغې کښې د وسوسو اچولو د پاره نهٔ شي داخليدے، ځکه چې کله هغه صف ته نزدې کيږي نو د صف والؤ په ساګانو به اوسوَزي، ځکه چې په حديثِ پاک کښې دي: يَدُ اللهِ مَعَ الْجَمَاعَةِ يعنې د **الله** پاک تائيد او مدد د جَماعت سره دے. (لواقع الانوار القدسيه ص ٧٢)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## صف کښې يو بل سره د جوخت وديدلو فضيلت

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُاللّٰه اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې، تاجدارِ مدينه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ”څوک چې صف يو ځائے کوي **الله** پاک به هغه يو ځائے کړي او څوک چې صف قطع کوي (يعنې کټ کوي) **الله** پاک به هغه قطع کړي (يعنې کټ به يې کړي).“ (نسائی ص ١٤٣ حديث ٨١٦)

## په صف کښې بيګ وغيره ايښودل

حضرتِ سَيِّدُنا عَلّامه علي قاري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: څوک چې په صف کښې څه داسې څيز (مَثَلًا پيزار، تَيلۍ او بيګ وغيره) کيږدي چې هغه د صف په پوره کيدو کښې رُکاوټ جوړيږي، هغه به هُم د صف کټ کولو په وعيد کښې داخل وي. (مرقاة المفاتيح ج ٣ ص ١٧٩ تحت الحديث ١١٠٢)

حضرتِ عَلّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوِي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د **الله** پاک د صف يو ځائے کوونکي د يو ځائے کولو نه مُراد دا دے چې **الله** پاک به هغه خپل رحمت سره يو ځائے کړي او د هغهٔ درجه به اوچته کړي او هغه به د نيکو خلکو مُقام او مرتبې ته نزدې کړي.

او د **اللّٰہ** پاک د صف کټ کوونکي د قطع کولو (يعني کټ کولو) مطلب دا دے چې **اللّٰہ** پاک به هغه د خپل ثواب او خپل نور رحمت نه لرې کړي. (فيض القدير ج٢ ص٩٦ تحت الحديث ١٣٦٧)

## د بادشاهانو هډوکي

**اے د نمانځۀ عاشقانو!** د صفونو کټ کولو د ګناه نه د ځان بچ کولو احساس او د صفونو د خلا [يعني خالي ځايونو] ختمولو د احساس زياتولو د پاره د عاشِقانِ رَسُول د مَدَني قَافِلو مسافر جوړ شئ. **مَدَني سپرلے:** د فيصل آباد يو اسلامي ورور مخکښې د عامو ځلمو په شان مختلفو ګناهونو، فلمونه ډرامې کتلو، سندرو او سازونو اوريدلو، د مور و پلار زړۀ ازارولو او نمونځونه نۀ کولو وغيره ګناهونو کښې اخته وو. د عِشقِيه او فِسقِيه قيصو او ډائجسټو لوستلو هُم شوقين وو. د ګناهونو نه د هغۀ د خلاصيدلو شروع داسې وشوه چې يوه ورځ هغه اتفاقاً د مازيګر نمانځۀ د پاره جومات ته لاړو، د هغه جومات امام صاحب دعوتِ اسلامي سره تَعَلُّق لرلو. د نمانځۀ نه چې فارغ شو نو امام صاحب سره يـې ملاقات وشو، امام صاحب چې هغه په جومات کښې وليدو نو ډير خوشحاله شو او په خوش اخلاقۍ يـې ورسره ملاقات وکړو. هغه چې د امام صاحب کمرې ته لاړو نو هلته مختلفې رسالې موجودې وې، په يوه رِساله باندې ليکلي شوي وو: "**بادشاھوں کی ھڈیاں**" [يعني **د بادشاهانو هډوکي**]، د هغه په زړۀ کښې تَجَسُّس پيدا شو چې په دې کښې به څه ليکلي شوي وي! هغۀ د امام صاحب نه هغه رِساله لوستلو د پاره واخستله. چې کور ته راغلو او ويـې لوستله نو ډير خوند يـې ورکړو، په هغه رِساله کښې د دُنيا فاني کيدو او د آخرت باقي پاتې کيدو ذهن ورکړے شوے وو. هغه رساله يـې امام صاحب ته واپس ورکړه او نورې رسالې يـې ترينه حاصلې کړې، هغۀ دا وليدل چې تقريباً هره رساله کښې د "نيک اعمالو" تذکره وي، په دې وجه يـې په زړۀ کښې د نيک اعمالو د رسالې د ليدلو شوق پيدا شو نو هغه يـې هُم د امام صاحب نه واخستله، چې ويـې لوستله نو معلومه شوه چې په هغې کښې مختلف قِسم

سوالات ليکلي شوي دي او د هغې جوابونه ليکل وي. هغه رساله يـې ولوستله او ويـې ساتله، په هُم دغه دوران کښې په ملتان کښې د دعوتِ اسلامي د درې ورځو د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کيدو والاوه، هغه ته هُم د هغهٔ اِجتِماع دعوت ورکړے شو، هغهٔ اراده وکړه خو وروسته بيا وسوسې ورغلې چې هسې نهٔ هلته را ته څه مشکلات پيښ نهٔ شي، معلومه نهٔ ده چې هلته به راسره دوئي څنګه سلوک کوي! کله به شيطان داسې منع کوو چې اِجتِماع ته د خلکو راوستلو به د دوئي څه کميشن وي، داسې هغه د وسوسو په جال کښې ونښتلو او د تللو نه يـې معذرت وکړو. چې يوه ورځ پاتې شوه نو اسلامي ورونړه ورته بيا دعوت ورکولو د پاره راغلل، د هغوئي د اخلاص نه ډک دعوت په يو څو منټو کښې داسې اثر وکړو چې هغهٔ ځان د وسوسو نه خلاص کړو او اِجتِماع له تللو د پاره تيار شو، په اِجتِماع کښې بيانونو، ذِکرُالله او دُعـا د هغهٔ په زړهٔ اثر وکړو او چې واپس راغلو نو هفته وارې د سُنَّتو ډکه اِجتِماع ته يـې تلل شروع کړل، آخر دا چې د خپلو ګناهونو په رښتيني توبه کولو کښې کامياب شو، د پينځهٔ وخته نمونځ پابند شو، خپل مور او پلار نه يـې هُم معافي اوغوښتله هغوئي هُم د هغهٔ په تبديلئ باندې حيران وو. بهرحال هغه د ”نيک اعمالو“ رِساله ډکول هُم شروع کړه او د مسلمانانو د سحر نمانځهٔ ته راپاڅولو د پاره يـې صدائے مدينه لګول هُم شروع کړه. اَلۡحَمۡدُلِلّٰه د مَدَني تربِيَّتي کورس سعادت يـې هُم حاصل کړو.

سلامت رہے یا خدا مدنی ماحول　　بچے بد نظر سے سدا مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٧)

سلامت دې اوسي يا خُدا ديني ماحول
وساتي د بد نظره ته دا ديني ماحول

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب!　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د وړومبي صف نه شا ته پاتې کيدونکي

حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا نه رِوايت دے چې د خوږ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: "خلک به هميشه د وړومبي صف نه شا ته کيږي تر دې چې **الله** پاک به هغوئي (د خپل رَحمت نه) مُؤَخَّر [يعني وروسته] کړي او وور کښې به يې واچوي." (اَبو داوُد ج۱ ص ۲۶۹ حديث ۶۷۹)

## د نمانځۀ اثر په هره نيکئ پريوځي

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک نه لاندې ليکي: يعنې کوم خلک چې د سستئ په وجه وړومبي صف ته راتلو نه پاتې کيږي يا وړومبي صف کښې د ځائے کيدلو باوجود شا ته ودريږي نو هغوئي به د دِين ټولو کارونو کښې سست شي او په بدو باندې به زَړوَر شي، او د هغې نتيجه به دا وي چې جَهنَّم ته به ځي او هلته به ډير وخته پورې اوسي، معلومه شوه چې په ټولو ديني کارونو کښې نمونځ مُقَدَّم (يعنې وړومبے) دے، **د نمانځۀ اثر په هره نيکئ پريوځي**. يا دا مطلب دے چې دا سستي کوونکے به د نورو ګنهګارو نه پس د دوزخ نه را اُوځي، **ربّ** (تَعَالٰی) فرمائي:

فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ ۝ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ۝ ([مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: نو د هغه نمونځ ګُزارو خرابي ده، کومو چې خپل نمونځ هير کړے دے)

نمانځۀ کښې د سستئ ډير صورتونه دي. فُقَها فرمائي چې په سر تور سر يا لستوني پورته کړي دې نمونځ نۀ کوي ځکه چې دا د سستئ علامت دے. (مِراٰۃُ المناجيح ج۲ ص ۱۸۹ مختصراً)

## په سر تورې نمونځ کول

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! افسوس! نن صبا په سر تور سر د نمونځ کولو رواج ورځ په ورځ زياتيږي. **بهارِ شريعت** جِلد اَوَّل صفحه 631 کښې مسئله نمبر 38 او 39 ده: د سستئ په وجه په سر تورې نمونځ کول، يعنې چې ټوپئ په سر کول ورته بوج معلوميږي يا

ورته ګرمي معلوميږي، مکروهِ تنزيهي دي او که د نمانځهٔ تَحقِير مقصود وي (يعني که د نمانځهٔ سپک ګڼلو په وجه داسې کوي)، مَثَلًا [دا سوچ لري] چې نمونځ څه داسې مُهتَم بِالشَّان (يعنې ډير زيات ضروري) څيز نهٔ دے چې د دې د پاره دې ټوپۍ يا عِمامه په سر کړے شي نو دا کفر دے او که د خُشُوع و خُضُوع [يعني د عاجزئ او زړهٔ لګيدلو] د پاره يـې په سر تورې وکړو نو [بيا داسې کول] مُسْتَحَب دي. (دُرِّمُختار و رَدُّالْمُحْتَار ج۲ ص۴۹۱) که نمانځهٔ کښې ترينه ټوپۍ پريوځي نو اوچتول يـې افضل دي هله چې د عَمَلِ کثير حاجت پيښ نه شي (د عملِ کثِير معنیٰ مخکښې راروانه ده) ګني نمونځ به يـې فاسِد (يعني مات) شي او که بيا بيا راپورته کول پيښيږي نو پريږدي دې يـې. او که د نهٔ راخستلو نه مقصود خُضُوع (يعني نمانځهٔ کښې زيات زړهٔ لګيدل) وي نو بيا نهٔ راپورته کول افضل دي. (دُرِّمُختار و رَدُّالْمُحْتَار ج۲ ص۴۹۱)

## د عَملِ کثير معنیٰ

**عَمَلِ کثِير** نمونځ فاسِد کوي (يعني ماتوي) هله چې نهٔ د نمانځهٔ د اعمالو نه وي او نهٔ د نمانځهٔ د اِصلاح د پاره اوکړے شي. په نمانځهٔ کښې چې يو کس څه کار کوي او هغهٔ ته څوک د لرې نه اوګوري او د هغهٔ په نمانځهٔ کښې نهٔ کيدو کښې يـې شک پاتې نهٔ شي [يعنې دا يقين يـې وشي چې دے په نمانځهٔ کښې نهٔ دے]، بلکې که غالِب ګُمان يـې وي چې په نمانځهٔ کښې نهٔ دے نو بيا هُم **عَمَلِ کثِير** دے [او نمونځ به يـې مات شي]. او که د لرې نه کتونکي ته شک و شُبه وي چې په نمانځهٔ کښې دے که نهٔ دے نو بيا **عَمَلِ قَلِيل** دے او نمونځ به نهٔ فاسِد کيږي. (بهارِشريعت ج۱ ص۶۰۹ مُلَخَّصاً، دُرِّمُختار ج۲ ص۴٦٤)

## په انغښتو لستوڼو نمونځ کول

په دواړو لِستوڼو کښې که يو لستوڼے هُم د نيم مړوند نه زيات انغښتے شوے وي نو نمونځ به **مَکرُوہِ تَحرِيمِی** وي. (درمختار معه رد المحتار ج۲، ص۴۹۰)

## د نِیم لِستوڼي په جامو کښې نمونځ کول څنګه دي؟

د **نِیم** لِستوڼي کُرته یا قمیص کښې نمونځ کول **مَکرُوہِتَنزِیْھِی** او ناخوښه دي هله چې نورې جامې ورسره موجودې وي. حضرت صدرُ الشَّریعه مُفتي **محمّد امجد علي** اعظمي رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: ”چا سره چې [نورې] جامې موجودې وي او صرف د نِیم لِستوڼي [قمیص، کرته کښې] یا بنین کښې نمونځ کوي نو کراهَتِ تنزِیهي دے او که [نورې] جامې ورسره موجودې نهٔ وي نو بیا کراهَت هم نشته“ (فَتَاوٰی امجدِیّه ج۱ ص۱۹۳) مُفتئ اعظم پاکستان حضرت مولانا مفتي وقارُالدِّین قادِري رَضَوِي رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: نِیم لِستوڼي والا کرته، قمیص یا شرټ د کار کولو په لِباس کښې شامل دي (چا چې د کار جامې اغوستې وي هغه د عزّت مندو خلکو خوا ته تللو نه ډډه کوي) څکه چې څوک د نِیم لِستوڼي په کرته [یا قمیص] کښې د خلکو خوا ته تلل ښهٔ نهٔ ګڼي د هغوئي نمونځ **مَکرُوہِتنزِیھی**دے او کوم خلک چې په داسې لِباس کښې د هیچا مخې ته هم تلل بد نهٔ ګڼي، د هغوئي نمونځ مکروه نهٔ دے. (وَقارُ الفَتاوٰی ج۲، ص۲۴۶)

## بیلمانځه ګاونډي ته د نمانځهٔ دعوت ورکوئ

اے د الله ویره لرونکو اِسلامي ورونړو! **ګاونډیانو** ته هم د نیکئ دعوت ورکول او د بدو نه منع کول پکار دي، ستاسو **ګاونډي** که بیلمانځه وي نو هغهٔ ته د نمانځهٔ دعوت ورکوئ، که هغه نمونځ ګُزاره وي او په جَمعه کښې سُستي کوي نو هغهٔ ته **جَمعې** [سره د نمانځهٔ کولو] نصیحت کوئ. بې د شرعي عُذره **جَمعې** سره د نمونځ نهٔ کولو مُتَعَلِّق که ستاسو غالِب ګُمان وي چې که پوهه یـې کړئ نو **جَمعې** سره به نمونځ کول شروع کړي نو بیا د هغهٔ پوهه کول [په تاسو] **واجِب** شو، که نهٔ یـې پوهه کوئ نو ګنهګار به یـې.

## جَمعې له د نهٔ راتلونکو خبر اخلئ

د **جوماتونو** د اِمامانو په خِدمت کښې مشورتاً عرض دے چې هغوئي دې د خپلو

مُقتديانو څارَنه كوي چې په هغوئي كښې څوک د جَمعې سره نمونځ كوي او څوک نۀ، كه كوم نمونځ گُزاره په يو نمونځ كښې غير حاضِر وي نو د هغۀ كور ته دې ورځي يا دې ورته فون كوي او د هغۀ خبر دې اخلي، كه بيمار شوے وي نو د هغۀ تپوس دې كوي او كه د سستۍ په وجه نۀ وي راغلے نو د **نيكۍ دعوت** دې وركوي او ټولو اِسلامي وروڼو ته هُم دا انداز اختيارَوَل پكار دي. او اسلامي خويندو ته هُم پكار دي چې كه د هغوئي د بچو پلار وي نو هغۀ ته هم او په نورو محارِمو باندې هُم جَمعې سره د نمانځۀ كولو مُتَعَلِّق اِنفرادي كوشش كوي. د سګِ مدينه عُفِيَ عَنۀ خواهش دے چې كاش! ټول نمونځ گُزاره او نمونځ گُزاره بلكې تَهَجُّد گُزاره جوړ شي.

جماعت کا جذبہ بڑھا یا الٰہی! ہو شوق تہجد عطا یا الٰہی!

د جَمعې جذبه مې زياته كړې يا اِلٰهی! شوق د تَهَجُّد كړې راعطا يا اِلٰهی!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نمانځۀ له هُم را اُوځه

اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنۀ يو كس د سحر په نمانځۀ كښې اُونۀ ليدو نو هغۀ ته يـې پيغام ور وليږو، هغه كس حاضر شو، هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنۀ ترينه تپوس وكړو چې: ته چرته وې؟ هغه عرض وكړو: زۀ بيمار ووم، كه ستاسو قاصِد (يعنې پيغام راوړلو والا) نۀ وے راغلے نو زۀ به د كوره نۀ راوتلے، هغوئي ورته اِرشاد اُوفرمائيلو: **چې ته د بل چا خوا له راتلے شې نو نمانځۀ له هُم را اُوځه.** (مُصَنَّف اِبنِ اَبِی شَيْبَة ج١ ص٣٧٩ حديث١)

## هر مريض ته د جَمعې نمونځ معاف نۀ دے

اے د جَنَّت طلبګارو! په دې حكايت كښې د هُغه خلكو د پاره درس دے چې هغوئي په بيمارۍ كښې هر ځائے ته ځې راځي خو په معمولي شان بيمارۍ كښې هُم د جومات

**جَمعه** پرېږدي. ياد ساتئ چې د جومات په جَمعه کښې د شرکت کولو نه صرف هغه مريض ته معافي ده چا ته چې جومات ته راتلو کښې سخت درد کيږي يا ورته ډېر تکليف پيښيږي.

## جَمعې له د نۀ راتلونکو معلومات کوئ!

اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ فرمائي: تاسو خپل ورونړه د جومات د جَمعې په وخت کښې لټوئ! که په جَمعه کښې يې اُونۀ وينئ نو معلومات يې کوئ چې ولې نۀ دي راغلي، که هغه بيمار وي نو د هغوئي د تپوس د پاره ځئ، که د تندرسته کيدلو باوجود د څه شرعي مجبوري نه بغير نۀ وي راغلي نو هغوئي پوهه کړئ او د **اللّٰه** پاک د عذاب نه يې ويرَوئ. (تذکرةُالْواعِظِين ص۳۳ مُلَخَّصاً)

## د عِبرت د پاره جنازه د بيلمانځه کور طرف ته يوسئ!

**اے مرګ ياد لرونکيه! اللّٰه** پاک دې تا د بدې خاتمې نه وساتي. اٰمِين. د جَمعه پرېښودونکي خبر اخستل د خپل اسلامي وررور سره ښيګړه کول دي، ځوانو خلکو به جَمعه پرېښودونکے ډېر ملامته کولو، تر دې چې بعضې بزرګانِ دِين به د کومې جنازې سره وو نو هغوئي به حُکم کولو چې جنازه د فلانکي د کور په طرف يوسئ کوم چې د جَمعې نمانځۀ له جومات ته نۀ راځي، او په دې کښې اِشاره دا وه چې څنګه جنازه يو مړے دے هُم داسې هغه سړے هُم مړے دے ځوک چې نمونځ پرېږدي يا د مجبورئ نه بغير جَمعه کښې شريک نۀ شي. [يعني داسې ده] لکه نمونځ او جَمعه چې د مسلمان ژوند دے.
(تذکرةُالْواعِظِين ص۳۳ مُلَخَّصاً)

## فاروقِ اعظم معلومات وکړو

د اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ د نمونځ ګُزارو د خبر اخستلو يو حکايت واورئ او د دې مطابق د عمل کولو ذِهن جوړ کړئ چنانچه **اَمِيرُالْمُؤمِنِين** فاروقِ

اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د سحر په نمانځهٔ کښې حضرت سیِّدُنا سُلیمان بِن حَثمَه رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ اُونه لیدو. بازار ته یې تشریف یوړو، په لاره کښې د سیِّدُنا **سُلیمان** رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ کور وو د هغوئي د کور دروازې ته یې تشریف یوړلو او د هغوئي مور حضرتِ سیِّدَتُنا **شِفاء** رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا ته یې اُوفرمائیل چې د سحر په نمانځهٔ کښې مې سُلیمان اُونه لیدو! هغې اُووئیل: د شپې یې نمونځ کولو (یعني نفلونه یې کول) بیا خوب ورغے، سَیِّدُنا **عُمَر فاروقِ اعظم** رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ اُوفرمائیل: چې د سحر نمونځ د جَمعې سره وکړم دا زما په نِزد د دې نه غوره دې چې د شپې قِیام (یعني عبادت) وکړم. (موطّا امام مالِک ج۱ ص۱۳٤ حدیث۳۰۰)

## د نفلو په وجه واجِب پرېښودل نه دي پکار (حکایت)

**حضرت** مُفتي احمد یار خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د دې ”حکایت“ نه لاندې لیکي: د دې نه معلومه شوه چې حضرتِ عمر فاروقِ (رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ) به هُم د حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په شان د جومات د حاضریدلو والؤ تحقیق کولو چې څوک نمانځهٔ له راغلے دے او څوک نهٔ دے راغلے؟ د **حِکایت** د دې حِصَّې (د سحر په نمانځهٔ کښې مې سُلیمان اُونهٔ لیدو) نه لاندې فرمائي: (نو) آیا هغه بیمار دے یا چرته په سفر تلے دے؟ ځکه چې په هُغه زمانه کښې به د یو مسلمان **جَمعې** له نهٔ راتلل د دې خبرې دلیل وو چې هغه یا بیمار دے یا په سفر تلے دے، یاد ساتئ چې د حضرتِ **شِفاء** (رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا) نوم لَیلٰی بِنتِ عبدُالله وو، شِفاء یې لقب وو، هغه د اَوَلنو مهاجرینو نه وه، په ډېرو غـزوو (یعني جنګونو) کښې یې حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره شرکت کړے وو. د حکایت د دې حِصَّې (چې د سحر نمونځ د جَمعې سره وکړم دا زما په نِزد د دې نه غوره دي چې د شپې قِیام (یعني عبادت) وکړم) نه لاندې لیکي: ځکه چې **جَمعه**، خُصُوصاً د سحر د نمانځهٔ جَمعه اَهَم واجب ده، او د شپې عبادت تَهَجُّد وغیره نفل دي، د ”نفلو“ په وجه واجب پرېښودل نهٔ دي پکار، (حضرت) عطا رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي چې که د تَهَجُّدو په وجه د سحر جَمعه ځي نو تَهَجُّد پرېږده. (مِراٰۃُ المناجیح ج۲ ص۱۷۹)

تم پڑھو ساری نمازیں باجماعت بھائیو! فضلِ رب سے پاؤگے جنت میں راحت بھائیو!

ادا کوئ ټول نمونځونه د جُمعې سره اے ورونړو!

حاصل به کړئ په جَنَّت کښې راحتونه اے ورونړو!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# تذکرۂ سیِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ

**اے عاشقانِ صحابه و اهلِ بَیت!** اوس چې تاسو کوم حکایت واوریدو، په دې کښې د دویم خلیفه، **اَمیرُ الْمُؤمِنِین** حضرتِ سَیِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ذِکرِ خیر وو. د هغوئې کُنیَت "اَبُو حَفص" او لقب "فاروقِ اعظم" دے. په یو رِوایت کښې دي هغوئې رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د 39 سړو نه پس د رسولِ کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دُعا د اعلانِ نُبُوَّت په شپږم کال ایمان راوړو. د هغوئې رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په اسلام قبلولو مسلمانان بیحده خوشحاله شو او هغوئې ډیر زیات ډاډه شو، تر دې چې حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مسلمانانو سره په شریکه **حَرم شریف** کښې ښکاره نمونځ ادا کړو. هغوئې رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په اسلامي جنګونو کښې د **مُجاهِدانه** شان سره د کفَّارو خِلاف جنګونو کښې حصّه اخستې وه او د سروَرِ کائِنات صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره په ټولو اسلامي تحریکونو او د صُلح او جنګ وغیره په ټولو منصوبو کښې د وزیر او مُشِیر په حیثِیَت وفادار او ملګرے پاتې شوے وو.

صحابہ اور اہل بیت کی دل میں محبت ہے بفیضانِ رضا میں ہوں گدا فاروقِ اعظم کا

زړهٔ کښې لرم د صحابه و اَهلِبَیت مَحبَّت
بفیضانِ رضا یمه غُلام د فاروقِ اعظم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ”یا عُمَر“ د پینځهٔ حُروفو په نِسبت د حضرتِ عمر فاروقِ په فضائلو باندې پینځهٔ فرامِینِ مُصطَفٰی ﷺ

﴿۱﴾د آسمان ټولي فرښتې د حضرتِ عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنْهُ عِزَّت کوي او د ځمکې هر شیطان د هغوئي د ویرې نه رپیږي. (ابنِ عَساکر ج ٤٤ ص ٨٥) ﴿۲﴾د (حضرتِ) ابوبکر او (حضرتِ) عُمَر (رَضِیَ اللہُ عَنْهُما) سره مُؤمِن مَحبَّت کوي او مُنافِق د هغوئي سره بُغض لري (ابنِ عَساکر ج ٤٤ ص ٢٢٥) ﴿۳﴾(حضرتِ) عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنْهُ د جَنَّت والؤ چراغ [یعني رڼا] دہ (مَجمَعُ الزَّوَائِد ج ٩ ص ٧٧ حدیث ١٤٤٦١) ﴿٤﴾دا (یعني حضرتِ عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنْهُ) هغه کس دے چې باطِل نهٔ خوښوي (مُسندِ اِمام اَحمد ج ٥ ص ٣٠٢ حدیث ١٥٥٨٥) ﴿٥﴾د الله تَعَالٰی رضا د حضرتِ عُمَر (رَضِیَ اللہُ عَنْهُ) رضا دہ او د حضرتِ عُمَر (رَضِیَ اللہُ عَنْهُ) رضا د الله تَعَالٰی رضا دہ (جمعُ الجوامع ج ٤، ص ٣٦٨، حدیث ٥٥٦)

پسِ صدیق اکبر مصطفٰے کے سب صحابہ میں
ہے بے شک سب سے اونچا مرتبہ فاروقِ اعظم کا

پس له صدیق نه په ټولو صحابه کښې
بیشکه مرتبه دہ اوچته د فاروقِ اعظم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## وفات شریف

د سحَر په نمانځهٔ کښې یو بدبخت اَبُو لُؤلُؤ فیروز نومې (مجُوسي یعني د وور عِبادت کوونکي) کافِر په هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْهُ د خَنجر گُزار وکړو او هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْهُ زخمونه برداشت نهٔ کړے شو او درې شپې پس یې د شهادت مرتبه حاصِله کړه. د شهادت په وخت کښې یې عُمر مبارک 63 کاله وو. حضرتِ سیِّدُنا صُهَیب رَضِیَ اللہُ عَنْهُ یې د جنازې د نمانځهٔ جَمعه ورکړه او [د حُضُورِ انور صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] په روضهٔ مُبارکه کښې په یکم مُحَرَّمُ الْحَرَام 24

هِجري د حضرتِ سيِّدُنا صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په څنګ کښې دفن [يعني ښخ] کړے شو او هغوئي [يعني صديق اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ] د حُضُورِ پاک صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په څنګ کښې آرام فرمائي. (التعديل والتجريح للباجی ج ۳ ص ۱۰۵٤ وغيره) (د نورو معلوماتو حاصلولو د پاره د مَکتَبَةُ الْمَدِينه رِساله "کراماتِ فاروقِ اعظم" ولولئ)

رہے تیری عطا سے یاخدا! تیری عنایت سے
ہمارے ہاتھ میں دامن سدا فاروقِ اعظم کا

يا الله ستا په عـطا او هُـم دا ستا په عِنايت
زمونږ په لاس کښې لَمَن راکړه د فاروقِ اعظم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## بدو خلکو ته د بدئ نهٔ کولو غم وي

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! کاش چې! زمونږه په عبادت کښې هُم اخلاص پيدا شي! کاش چې! مونږ ته هُم د عبادت شوق رانصيب شي! کاش چې! مونږه ته هُم د جَمعې په پاتې کيدو باندې غمژن کيدل نصيب شوي وے! آه! د غم کيفيت به څنګه پيدا شي! افسوس! جَمعه خو څه چې اوس خو زمونږ د اکثرو مسلمانانو دا حال دے چې مَعَاذَ الله [يعني د الله پناه] که د چا نه نمونځ قضا شي نو بيا هُم څه غم نهٔ کوي! رښتيا خبره هُم دا ده چې کومو خلکو به د جَمعو او نمونځونو غم کولو هغوئي د دُنيا نه تلي دي او خپلو مُرادونو ته رسيدلي دي، آه! اوس زمونږ په شان بدکاره دُنيادار پاتې شو، د هُغه نيکو بندګانو نه به چې نيکي پاتې شوه نو غمژن به شو او مونږه بد خلک صرف دُنياوي نقصان باندې خفه کيږو، د هغوئي نه به چې کله اتفاقي طور جَمعه لاړه نو هُم بې قراره به شول او که زمونږه يو ګاهک د لاسه اوځي نو بې قراره شو، د هغوئي نه به چې کوم سُنَّت پاتې شو نو افسوس به يـې کولو بلکې بعضې وخت به يـې د هغې په کفّاره کښې ښهٔ ډير خيرات کولو او مونږه که د غريبئ په وجه يا د وسائلو د کمې په وجه د ګناهونو نه ډک يو فيشن نه

یا د ګناهونو د یوې آلې نه **محفوظه** پاتې شو نو خفه شو. غرض دا چې هغه خوش نصیبه نیک بندګان به د ثواب ګټلو د پاره هر وخت تیار اوسیدل او بدکاره بندګان د دُنیا ګټلو او ګناه کولو د پاره هر وخت تیار اوسي. آه! افسوس! افسوس! صــ

وہ معزز تھے زمانے میں مسلماں ہو کر
اور تم خوار ہوئے تارکِ قرآں ہو کر

مُعَزَّزه وو زمانه کښې پــخواني مسلمانان او تاسو خوار شوئ چې مو پريښودو قرآن

**صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

## ماشومانو به هريسه او د مال سرونه او ښپې خرڅولې

که چا ته صحیح معنو کښې احساس وشي چې **جَمعې** سره د نمونځونو ادا کولو څه څه برکتونه دي او د **جَمعې** پريښودلو څومره نقصانات دي، بيا که هر څومره **مجبوري** وي نو شايد چې **جَمعه** پريښودلو ته به تيار نهٔ شي، که جومات هر څومره لرې وے او که هر څومره کرايه لګيدلے خو په هر قِيمت به يــې د **جَمعې** حاصلولو کوشش کولے. حضرتِ سَيِّدُنا اِمام **محمّد** بن **محمّد** غزالي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: زمونږه پخوانو بزرګانو د ورځې وړومبئ او آخرئ حِصَّه د آخرت د پاره او مينځنۍ حِصَّه د تجارت د پاره خاص کړې وه. په هُم دې وجه به د سحر په وخت کښې هريسه (يعني د غنمو د وړو، او د غوښې د يخنۍ او پئيو نه تيار شوے يو خوراک) او [د څاروو] سرونه او ښپې به صرف ماشومانو خرڅولې ځکه چې مسلمانان تاجران به دغه وخت په جوماتونو کښې وو. (اِحۡيَاءُ الۡعُلُوم ج ۲، ص ۳۲۹)

زندگی آمد برائے بندگی زندگی بے بندگی شرمندگی

(يعني مونږ ته د **الله** پاک د عبادت او بندګۍ د پاره ژوند نصيب شوے دے، لِـهذا که ژوند د عبادت او بندګۍ نه بغير تير شي نو آخرت کښې به شرمنده شو)

سُبْحٰنَ الله! هغه څنګه پاکيزه دَور وو چې جوماتونو کښې به شپه او ورځ رونق وو او آه! نن صبا جوماتونه د عبادت کوونکو نه خالي دي، کاش چې! داسې وے چې د کسبِ حلال، د مور و پلار د خدمت او د اولاد د پالنې او نورو ضرورتونو نه پس پاتې شوے فارِغ وخت مونږه په ذِکر و دُرُود، فِکرِ آخرت او د عاشقانِ رَسُول په بنۀ صُحبت کښې د تيرولو سعادت حاصلولے!

وہ ہے عیش و عشرت کا کوئی محل بھی جہاں تاک میں ہر گھڑی ہو اَجل بھی
بس اب اپنے اِس جَہل سے تونکل بھی یہ جینے کا انداز اپنا بدل بھی
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

هغه څه د عَيش او عِشرت محَل وي چې په سر رازوَرِنده تُوره د اَجل وي
پريږده دا جَهل که در کښې عَقل وي دې نه پس د ژوند انداز چې دې بدل وي
دا دُنيا د زړۀ لګولو مقام نۀ دے ځائے د عِبرت دے د تماشو مقام نۀ دے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## که د جُمعې تللو د نقصان نه خبر وے نو......

د حضرتِ سَيِّدُنا ابُو اُمامه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: ”که دا د جُمعې د نمانځۀ نه وروسته پاتې کيدونکے خبر وے چې دې پاتې کيدونکي د پاره څه دي نو په ښويدلو ښويدلو به حاضر شوے وے.“ (معجم کبِير ج ٨ ص ٢٦٦ حديث ٧٨٨٦)

میں پانچوں نمازیں پڑھوں باجماعت
ہو توفیق ایسی عطا یاالٰہی

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ١٠٢)

چې کووم پينځۀ نمونځونه باجماعت
داسې توفيق کړې را عطا يا اِلٰهي

## ”د غُسل طريقه“ رساله د لوستلو بَـرَکت

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! د نمانځۀ نۀ کولو بد عادت ختمولو او ځان د نمانځۀ پابند جوړولو د پاره، د نمانځۀ اوداسه او غُسل د ضروري معلوماتو زده کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامل اوسئ او مَدَني قافلو کښې ډير ډير سفر کوئ. **مَدَنـي سپرلے:** د لاهور يو اسلامي ورور ديني ماحول کښې د شامليدلو نه مخکښې په ډيرو ګناهونو کښې اخته وو، د دې خبرې هغه سره هيڅ احساس نۀ وو چې نمونځ قضا کول ډيره لويه ګناه ده، صرف د جُمعې يا اختر نمونځ به يـې کولو. يو ځل د رمضان شريف مياشت راروانه وه چې د هغه نظر په خپل کور کښې موجودې (د مَکتَبَةُالْمَدِينه) په يوه رساله باندې پريوتو، چې د هغې نوم وو ”**د غُسل طريقه**“ هغۀ چې ولوستله نو حيران او پريشانه شو چې ما ته خو تر ننه پورې د غُسل صحيح طريقه هُم نه وه معلومه. د هُم هغه ورځې نه يـې خپل غُسل صحيح کړو او پينځۀ وخته نمونځ يـې شروع کړو، او د مَکتَبَةُالْمَدِينه رسالو سره يـې داسې مَحَبَّت پيدا شو چې د دې بيان د وخته پورې هغه وائي چې ما 90 فيصده رسالې لوستلې دي، اَلْحَمْدُلِلّٰه د دې رسالو د لوستلو په بَرَکت ورته د عِلمِ دِين حاصلولو نوره جذبه هُم حاصله شوه او د دعوتِ اسلامي په جامِعَةُالْمَدِينه کښې يـې داخله واخسته او درسِ نظامي يـې شروع کړو.

اگر سنتیں سیکھنے کا ہے جذبہ تم آجاؤ دے گا سکھا مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٦)

راشه که لرې د سُنَّتو زده کولو جذبه
در زدۀ به يـې کړي دا ديني ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د جومات فضائل

یارَبَّ الْمصطفٰی! څوک چې دا باب ”د جومات فضائل“ پوره اولولی یا یې واوري، د هغهٔ زړهٔ په جومات کښې ولګوې [یعنی د هغه په زړهٔ کښې د جومات مَحبَّت پیدا کړې] او هغه ته په جَنَّتُ الْفِرْدَوْس کښې عالي شان کور نصیب کړې. اٰمین.

## د درود شریف فضیلت

د نبی کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: تاسو خپل مجلسونه په ما باندې درود پاک وئیلو باندې ښائسته کړئ ځکه چې ستاسو په ما باندې دُرُود وئیل به په ورځ د قیامت ستاسو د پاره نُور وي. (الفردوس بماثور الخطاب ج۲ ص ۲۹۱، حدیث ۳۳۳۰)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## جوماتونه به جنّت ته ځي

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د نمونځ ګزاره سړي تعلق د جومات سره وي، ایمانداره خلک جوماتونه اباد ساتي، جومات د ادب ځائے دے، کعبه شریفه او ټول جوماتونه به جنّت ته ځي (اوګورئ. ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت ص ۵۲۸) بې شکه د جومات ډیر فضائل دي

## د جومات د عادت لرونکي د ایمان ګواهي ورکړئ

حضرتِ سیدنا ابو سعید خُدري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي چې نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: چې کله تاسو یو سړے اوګورئ چې د جومات خیال ساتي (یعنې خدمت کوي) (په یو

روايت کښېږ دي چې د جومات عادت لرلو باندې يـې ووِينئ) نو د هغه د ايمان ګواهي ورکړئ، بې شکه **الله** پاک فرمائي:

اِنَّمَا يَعۡمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ مَنۡ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَ الۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ وَ اَقَامَ الصَّلٰوةَ وَ اٰتَى الزَّكٰوةَ (پ١٠ التوبه:١٨)

مفهوم ترجمه کنزالايمان: د **الله** جوماتونه هُم هغه خلک آبادوي کوم چې په **الله** او قيامت باندې ايمان راوړي او نمونځ قائم ساتي او زکوٰة ورکوي. (ترمذي ج٤ ص٢٨٠ حديث٢٦٢٦ ابن ماجه ج١ ص٤٣٩ حديث٨٠٢)

## دجومات ابادولو مطلب

**حضرتِ** علّامه عبدالرَّءُوف مُناوِي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د حديثِ پاک د دې حصّې (چې د جومات عادت لرلو باندې يـې ووِينئ) جدا جدا معنې بيانولو نه پس فرمائي چې بهتره دا ده چې دا فضيلت (يعنې د هغه د ايمان ګواهي ورکړئ) د ټولو هُغه خلکو د پاره وګڼلے شي چې څوک د اعتکاف، عبادت، نمونځ او ذکر په ذريعه د جومات په ابادئې او دې سره د زړۀ محبّت يا د جومات د يوې ورانې حصّې د تعميرولو په ذريعه او د دې د نورو علاماتو قائمولو د کوششونو وغيره په وجه جومات سره خپل تعلق مضبوط ساتي.

(فيض القدير ج١ ص٤٥٩ تحت الحديث ٦٣٤)

مسجد ميں بيٹھنا بھی عبادت ہے بھائيو!
کتراناً مسجدوں سے ہلاکت ہے بھائيو!

جومات کښېنې ناسته هُم عبادت دے ورونړو!
جومات نه ډډه کول هلاکت دے ورونړو!

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## زوئي ته جومات سره د مضبوط تعلق ساتلو تلقين

حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو درداء رَضِیَ اللہُ عَنْہُ خپل زوئي ته نصيحت وکړو چې اے زويه پکار ده چې جومات ستا کور وي بيشکه ما د نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي چې "جوماتونه د متّقيانو (يعني پرهيزګارو) کورونه دي او چې جومات د چا کور وي نو **اللّٰه** پاک د هغهٔ د مغفرت، رحمت او د جنّت په لور بوتلونکي پلِ صراط باندې په حفاظت سره د تيرولو ضامن جوړ شي،، (مصنّف ابن ابي شيبه ج٨ ص١٧٢ حديث١) د جومات نه کور جوړولو نه بالکل دا مراد نهٔ دے چې هلته دې اوسيدل اختيار کړې بلکې مراد دا دے چې دومره کثرت سره دې په جومات کښې په عبادت کښې وخت تيروي څنګه چې په کور کښې وخت تيرَوي يا په جومات کښې يې زړهٔ داسې لګي څنګه يې چې په کور کښې زړهٔ لګي

## په نور کښې پټ سړے (حکايت)

د **دعوتِ اسلامي د مَکتَبَۃُالْمَدِینه** د 134 صفحو کتاب "**فيضانِ معراج**" صفحه 80 کښې لِيک دي: د معراج په شپه نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د يو داسې سړي په خوا تيريدلو چې هغه د عرش په نور کښې پټ وو. نو نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته اُووئيلے شو چې "دا هٰغه کس دے چې د دهٔ ژبه به هر وخت په ذِکرِ اِلٰهي کښې مشغوله وه، **او د دهٔ زړهٔ به په جوماتونو کښې لګيدلے وو** او دے کله هم خپل مور و پلار ته د بدو ردو وئيلو يا د هغوئي د بې عزّتئ کولو سبب نه دے جوړ شوے." (الاولياء مع موسوعه امام ابن ابي دنيا ج٢ ص٤١٤ حديث٩٥)

## د سپين اوښ په مثل جوماتونه

د **حضرتِ** سيّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے چې نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: په ورځ د قيامت به **اللّٰه** پاک د دُنيا جوماتونه د سپين اوښ په مثل اوچتوي چې د هغوئي ښپې به د عنبرو وي او څټونه به يې د زعفرانو وي او سرونه به يې د مشکو وي او پيزوانونه به يې د شنو زمردو وي او د دې اباد ساتونکي او مؤذِّنين (يعني اذان ويوونکي) به دا

راکاړي او امامان صاحبان به يـې شړي او د دې جوماتونو جوړوونکـي به هغوئي سره وي د قيامت په ميدان کښې به د ځليدلي بجلۍ په شان تير شي قيامت کښې راجمع شوي خلک به وائي چې آيا دا مقرّبې فرښتې (يعني **الله** پاک ته نزدې فرښتې) دي ؟ يا انبياء او رسولان دي ؟ نو يو آواز به وشي چې دا خلک نهٔ فرښتې دي او نهٔ انبياء دي، بلکې دا د **امّتِ مُحَمَّدِيه هُغه خلک دي کوم چې جوماتونه اباد ساتونکـي او د نمونځونو حفاظت کوونکـي وو.** (تفسيرِ قرطبي ج٦ ص٢١٦)

## د درې کسانو ضامِن الله دے

**حضرتِ** سيّدُنا ابو اُمامه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے چې نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "درې کسان داسې دي چې د هغوئي ضامِن **الله** پاک دے که ژوندي اوسي نو رزق به ورکوي او که مړهٔ شي نو **الله** پاک به هغوئي جنّت ته داخل کړي: (١)څوک چې خپل کور ته داخل شي او سلام وکړي **الله** پاک د هغهٔ ضامِن دے (٢) څوک چې جومات طرف ته روان شي **الله** پاک د هغهٔ ضامِن دے(٣) څوک چې د **الله** پاک په لاره کښې اوځي نو **الله** پاک د هغهٔ ضامِن دے." (الاحسان بترتيبِ صحيح ابن حبان ج١ ص ٣٥٩ حديث ٤٩٩)

## جومات د شيطان نه د بچ کيدلو يوه مضبوطه قلعه ده

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** ولې چې په جومات کښې د ذکر و اذکار د پاره کښيناستل د ثواب کار دے ځکه شيطان د بنده زړهٔ په جومات کښې لګيدو ته نه پريږدي "**د نمونځ ګزارو زياتولو تحريک**"جاري کړئ او جوماتونه ښهٔ اباد کړئ او شيطان ناکامه او نامراده کړئ. حضرت سَيِّدُنا عبدالرَّحمٰن بن مَعقِل رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: مونږ ته به دا خبره بيانيدله چې اَلْمَسْجِدُ حِصْنٌ حَصِيْنٌ مِّنَ الشَّيْطٰن. يعني جومات د شيطان نه د بچ کيدلو يوه مضبوطه قلعه ده. (مصنّف ابن ابي شيبه ج٨ ص ١٧٢ حديث ٦)

## په تِیاره کښې جومات ته د تللو فضیلت

**حضرتِ** سَیِّدُنا ابو بُرَیده رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه روایت دے چې د دوارو جهانو سردار صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي:"کوم خلک چې په تِیاره کښې جوماتونو ته ځي هغوئي ته د قیامت په ورځ د کامِل نُور زیرے واوروئ." (ابوداؤد ج۱ ص۲۳۲ حدیث ۵۶۱)

## اللّٰه پاک ورله میلمستیا تیاروي

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **دے**:" څوک چې جومات ته سحر یا ماښام ځي نو **اللّٰه** پاک د هغه د پاره په جَنَّت کښې میلمستیا تیاروي، چې څو ځله [هم] لاړ شي " (مسلم ص ۲۶۳ حدیث ۱۵۲۴)(بهارِ شریعت ج ۱ ص ۶۴۰)

## د عرش سوري والا

د **حضرتِ** سَیِّدُنا ابو هریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه روایت شوي حدیث کښې دي: **اللّٰه** تعالیٰ به اوه کسانو ته د خپل د عرش د سوري لاندې ځائے ورکوي په کومه ورځ به چې د **اللّٰه** پاک د عرش د سوري نه علاوه بل سورے نهٔ وي، په هغوئي کښې یو هُغه کس هم دے چې د چا زړهٔ د جومات نه وتلو وخت کښې هم په جومات کښې لګیدلے وي تر دې پورې چې [جومات ته] واپس راشي. (مسلم ص ۳۹۹ حدیث ۲۳۸۱)

## د جومات نه لرې کیدل نه خوښوي

**حضرتِ** علّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوِي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه فرمائي:( په جومات کښې د زړهٔ لګیدلو وجه دا وي چې) کله بنده د **اللّٰه** رَبُّ الۡعِزَّت عبادت ته فوقِیَّت ورکوي او د عبادت **محبّت** پرې غَلَبه وکړي نو بیا د هغهٔ زړهٔ هر وخت د **جومات** په طرف لګیدلے وي او د **جومات** نه لرې کیدل هغهٔ ته خوند نهٔ ورکوي ځکه چې هغه په هغې کښې د نیکو اعمالو کولو خوند او سکون حاصلوي نو ولې چې هغه عبادت ته د ترجیح ورکولو په وجه د **اللّٰه** کریم پناه

حاصله کړې وي ځکه به الله پاک هغهٔ ته د عرش په سوري کښې ځائے ورکوي. (فيض القدير ج ٤ ص ١١٨ حديث ٤٦٤٦)

## مؤمن په جومات کښې داسې وي لکه مهے چې په اوبو کښې وي

**صوفيا** فرمائي: ” په جومات کښې [د] مؤمن [حال] داسې وي لکه څنګه [حال] چې د مهي په اوبو کښې وي او [د] منافق [حال په جومات کښې] داسې وي لکه مرغۍ چې په پنجره کښې [بنده] وي“ ځکه د نمانځهٔ نه پس بې وجه د جومات نه فوراً رښتيدل ښهٔ نهٔ دي، که الله پاک توفيق درکړي نو جومات ته [د ټولو نه] مخکښې راځۍ او د ټولو نه وروستو ځۍ، او چې کله بهر يې نو چې غوږ مو د اذان طرف ته لګيدلے وي چې کله به اذان کيږي چې جومات ته لاړ شم. (مرأة المناجيح ج١ ص ٤٣٥)

مجھے مسجدوں سے دے الفت الٰہی! کروں خوب تیری عبادت الٰہی!

راکړې جومات سره محبت يا الٰهي     چې وکړم ستا ډير عبادت يا الٰهي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د الله خوښ بنده

**حضرتِ** سيّدنا ابو سعيد رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ بيانوي چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے: چې څوک جومات سره محبّت لري نو الله پاک هغه خپل محبوب (يعني خوښ) جوړ کړي“. (معجم اوسط ج ٤ ص ٤٠٠ حديث ٦٣٨٣)

## د خپل خوښ جوړولو مطلب

**علّامه** عبدُ الرَّءُوف مُناوِي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: (چې څوک د جومات سره محبّت لري) يعني چې څوک د الله پاک د رضا د پاره په جومات کښې اعتکاف، نمونځ، د الله پاک ذِکر او علمِ دين زده کولو او ښودلو د پاره په جومات کښې د ناستې عادت وي نو الله پاک هغه

خپل محبوب (يعنې خوښ) جوړوي او د خوښ جوړولو نه مراد دا دے چې هغه د خپل حفاظت قلعه ته داخلوي او پناه ورعطا کوي حضرت سيدنا مسلم خولاني رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه به په جوماتونو کښې ډير زيات کښيناستلو او فرمائيل به يې: ”جوماتونه د عزّت والؤ د ناستې ځايونه دي.“ (فيض القدير ج ٦ ص ١١٢.١١٣)

## اللّٰه والا ځوک ؟

**حضرتِ** سيدنا انس بِن مالک رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ بيانوي چې ما د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوريدلے دے چې بې شکه هم د **اللّٰه** پاک کورونه ابادوونکي **اللّٰه** والا دي. (معجم اوسط ج ٢ ص ٥٨ حديث ٢٥٠٢)

يه دل ميرا مسجد ميں لگ جائے يارب!
نه سستی ترے ذکر ميں آئے يارب!

زما زړۀ ولګوي په جومات کښې يا رب چې اُونکړمه سُستي ستا په ياد کښې يا رب

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# په جومات کښې خبرې کول

## د ځلوېښتو کالو اعمال برباد

**امام** احمد رضا خان رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه نقل کوي: چې څوک په جومات کښې دنياوي خبره وکړي **اللّٰه** تعالیٰ دې د هغۀ د ځلوېښتو کالو نيک اعمال ضائع (يعنې برباد) کړي. (فتاوٰي رضويه ج ١٦ ص ٣١١، غمز العيون ج ٣ ص ١٩٠)

## لکه څنګه چې څناور واښۀ خوري

**مدارک** شريف کښې دي چې د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: په جومات کښې

دنياوي خبرې کول نيکۍ داسې خوري لکه څنګه چې ځناور واښهٔ اوخوري. (تفسير نسفي ص ۹۱۶)(دا دواړه روايات د فتاوٰي رضويه نه اخذ شوي دي)

## الله پاک سره تعلق نهٔ لرونکي خلک

**نبي** کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ”يو داسې زمانه به راشي چې په جوماتونو کښې به دنياوي خبرې کيږي تاسو داسې خلکو سره مهٔ کښينئ ځکه چې د داسې خلکو د **الله** پاک سره څه تعلق نشته. (شعب الايمان ج۳ ص ۸۷ حديث ۲۹۶۳)

## د جومات تعظيم کوونکي دوه بزرګان

**جوماتونه د الله** پاک کورونه دي، د دې وجهې نه مسلمان له پکار دي چې د دې تعظيم کوي ځکه چې د جوماتونو په تعظيم کښې د **الله** پاک تعظيم دے (۱) يو بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ”چې ما کله هم په جومات کښې ډېره نهٔ ده وهلې او نهٔ مې پکښې ښپې غزولې دي او نهٔ مې پکښې کله دنياوي خبرې کړې دي“ هغوئي دا خبره د دې د پاره کړې ده چې د هغوئي پيروي وکړے شي [يعني نور خلک هم داسې کوي] (۲) **حکايت**: حضرتِ سيدنا خلف بن ايوب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په جومات کښې ناست وو چې يو هلک راغے او د څه خبرې تپوس يې وکړو، نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پاڅيدلو او د جومات نه بهر يې تشريف يوړو او بيا يې د هغه هلک د خبرې جواب ورکړو. چې هغوئي نه د دې په باره کښې تپوس وشو نو ويې فرمائيل: ”چې ما د دومره دومره کالو نه په جومات کښې دُنياوي خبرې نهٔ دي کړې“ (تنبيه الغافلين ص ۱۶۷)

## په جومات کښې کښيناستل

**حضرتِ** سَيِّدُنا سعيد بن مُسَيَّب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: چې څوک په جومات کښې کښيني داسې ده لکه هغه چې د **الله** پاک په مجلس کښې کښيني ځکه هغهٔ له د خير [يعني ښې خبرې] نه علاوه بل څه خبره کول نهٔ دي پکار. (احياء العلوم ج۱ ص ۲۰۷)

## څادر نه يې ډبلئ جوړه کړه او ويې وهل

**حضرتِ** سَیِّدُنا عیسیٰ روح الله عَلَيهِ السّلام به هغه کس په جومات کښې د زيات کښيناستو نه منع کوو چې کوم کس به د جومات د آدابو نه بې خبره وو. هغوئي عَلَيهِ السّلام يوه ورځ څه خلک په جومات کښې په لَغْوْ (يعني فضول) کارونو کښې مصروف وليدل نو خپل څادر يې وغښتو [يعني څادر نه يې ډبلئ جوړه کړه] او ويې وهل او د جومات نه يې وښکل او ويې فرمائيل: تاسو د **الله** پاک د کورونو نه بازارونه جوړ کړي دي! حالانکې دا د آخرت بازارونه دي. (تنبیه المغترین ص ١٦٢) (تنبیه المغترین اردو ص ٢٢٥ ملخصاً)

## په جومات کښې د ناستې 5 نيتونه

**د** مکتبةُ الْمدينه د 417 صفحو کتاب، " لُبابُ الْاِحْياء " د صفحه ٣٦٦ نه ٣٦٧ پورې دي: **که** يو سړے په جومات کښې کښيني نو (١) د نمونځ د **انتظار** نيت دې وکړي څکه چې د نمونځ انتظار کوونکے په نمونځ کښې وي، (٢) په جومات کښې دې د **اعتکاف** نيت وکړي (٣) خپل اندامونه دې د ګناه نه بچ ساتي او (٤) جومات دې څان د پاره **پناه ګاه** (يعني د ګناهونو نه د بچ کيدلو ځائے) اوګڼي (٥) د **الله** کريم د ذِکر او د قرآن کريم د تلاوت اوريدلو نيت دې وکړي نو دا تولې نيکئ دي **چې دا په نيت** کولو سره حاصلولے شي. (محکښې فرمائي) ټول (جائز) حرکات و سکنات (مثلًا کښيناستل، پاڅيدل، ګرځيدل، ودريدل وغيره) په ښهٔ نيت سره عبادت جوړ شي. انسان له پکار دي چې د خپل عمر يوه لمحه هم نهٔ ضائع کوي او د نيت کولو په ذريعه د څناورو نه ممتاز (يعني جدا) اوسي. څکه چې د څناورو دا طريقه ده چې هر کار بغير د نيت نه کوي. (لباب الاحیاء (اردو) ص ٣٦٦-٣٦٧)

## په جومات کښې د خندلو عذاب

**نبي** کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: "په جومات کښې خندل په قبر کښې تيارهٔ ده (يعني په قبر کښې تِيارهٔ راولي)." (الفردوس بماثور الخطاب ج ٢ ص ٤٣١ حديث ٣٨٩١)

## د مسکي کيدلو،خندلو او قهقه لګولو تعريف

چې په جومات کښې د خندلو دا حال دے نو هلته به د قهقه لګولو ګومره ګناه وي ؟ خو په جومات کښې ضرورتًا مسکي کيدل منع نهٔ دي، د مسکي کيدلو تعريف دا دے: داسې خندل چې آواز نه پخپله واوري او نهٔ يې خوا ته کس واوري (التعريفات للجرجاني ص۳۸) د خندلو تعريف دا دے: داسې خندل چې پخپله اواز واوري خوا ته کس يې واؤ نه وري (التعريفات للجرجاني ص۹۸) او په داسې طريقه خندل چې آواز بل څوک هم واوري دې ته **قهقه** وائي (التعريفات للجرجاني ص ۱۲٦) نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کله هم قهقه نه ده لګولې.

## په جومات کښې د صفائي کولو ثواب

د **دوارو جهانو سردار** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي:" څوک چې د جومات نه تکليف رسوونکے څيز اوباسي **الله** پاک به هغه له په جنّت کښې کور جوړ کړي." (ابن ماجه ج۱ ص۴۱۹ حديث ۷۵۷)

## په جنّت کښې يې وينم

(نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جومات صفائي کوونکې يوې زنانه د وفات نه پس د هغې په باره کښې د غيب خبر ورکړو او ويې فرمائيل:) "زهٔ هغه د جومات نهٔ د خاورې دوړې لرې کولو په وجه په جنّت کښې وينم." (معجم کبير ج۱۱ ص۱۹۰ حديث ۱۱٦۰۷)(جنّت ميں لے جانے والے اعمال ص۱۰٦)

## د وادهٔ نسخه

**که** د هلک وادهٔ نهٔ کيږي نو هغه دې پخپله او که د جينئ په رشته کښې رکاوټ وي نو د هغې ورور يا پلار دې د ثواب او د زړ نيکې رشتے مِلاويدو په نيّت روزانه کم از

کم يو ځل په داسې وخت کښې د **جومات** جارو کولو سعادت حاصلوي کوم وخت چې واقعي د صفائي ضرورت وي، نو اِنۡ شَآءَالله الۡکَرِیۡم کرم به وشي.

## شړ جومات ښکلا اباد شو

په خپلو زړونو کښې **د الله** پاک او د رسولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **محبّت** پيدا کولو د پاره، د **الله** پاک او د رسولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ذکر سره د خپلو زړونو شړه دنيا ابادولو د پاره، او د **الله** تعالیٰ په رحمت سره جنّت ګټلو د پاره جوماتونه آباد کړئ. راځئ! چې د جومات آبادولو متعلق يو "مدني سپرلے" واورو: د دعوتِ اسلامي مدني ماحول سره تعلق لرونکي څه اسلامي وروڼه د کوټ مِٹهن (پنجاب) نه د نيکئ دعوت عام کولو د پاره زمونږه علاقې ته راغلل." د علاقائي دورې" په دوران کښې هغوئي په "**محلّه** شيخان" باندې تيريدل. دلته د هغوئي نظر په يو داسې جومات باندې پريوتو چې هغې ته تالے لګيدلې وې. دا عاشقانِ رسول د **محلّې** خلکو سره يو ځائے شول او جومات يې برسيره کړو او د هغې د صفائي بندوبست يې وکړو او خلکو ته يې د نمونځ کولو او د جومات ابادولو ذهن ورکړو او د هغه ځائے نه لاړل. خو افسوس ! چې دا ابادول د ډير وخته پورې پاتې نۀ شو، په قلاره قلاره نمونځ کوونکي کم شو او بيا د جومات شړيدو خطره پيدا شوه- د دِين درد لرونکو اسلامي وروڼو له طرفه يو ځل بيا د جومات ابادولو کوشش اوکړے شو خو څه کاميابي يې اونه موندله. په **دريم** ځل بيا "کهوټ متهن"نه يوه مدني قافله هم دغه **محلّې** ته راغله. او هغوئي هم د دې جومات زړۀ خفه کوونکے منظر وليدو. هغوئي هلته [مستقل] دِيني کار شروع کړو. د نيکئ د دعوت په ذريعه هغه عاشقانِ رسول هغه خلک د نمونځ د اهمّيت او د جومات د آبادولو د فضيلت نه خبر کړل او د "علاقائ دورې" په ذريعه يې خلک جومات ته د راوستلو او د **فيضانِ سنّت درس** کښې د شريکولو سلسله شروع کړه. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! جومات د نمونځ کوونکو نه آباد شو. او په

جومات کښې د **فیضانِ سنّت درس** شروع شو. د مدرسةُ الْمدینه قائمولو په ذریعه صحیح مخارجو سره د قرآن شریف د تعلیم سلسله شروع شوه. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د نمونځ کوونکو شمیره په زیاتیدو شوه او بیا هغه ورځ هم راغله چې په کوم یو جومات کښې پینځهٔ وخته نمونځ کول خو لرې خبره یو وخت به هم پکښې نهٔ کیدلو او اوس پکښې د جُمعې نمونځ هم شروع شو.

مسجد آباد ہو، ہر کوئی شاد ہو
اٹھیں ہمت کریں، قافلے میں چلو

جوماتونه به اباد شي، ځکه خلک به هُم ښاد شي
پاځئ هِمّت وکړئ، قافلې کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د جومات په تعمیر کښې د چندې ورکولو فضیلت

په **خپل** امّت باندې ډیر مهربانه خوږ پیغمبر صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: چې څوک د **الله** پاک د رضا د پاره جومات جوړ کړي **الله** پاک به هغهٔ له په جنّت کښې یو کور جوړوي.

(مسلم ص ٢١٤ حديث ١١٨٩)

## په جومات کښې چنده ورکوونکي دپاره په جنّت کښې کور

**حضرتِ** اِبنِ عِماد رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په "تَسْهِيْلُ الْمَقَاصِد" کښې فرمائي: "څومره خلک چې د جومات په جوړولو کښې شریک وی د هر یو د پاره **الله** پاک په جنّت کښې کور جوړوي لکه څنګه چې د غلام په آزادولو کښې ډیر خلک شریک شي نو ټولو ته د دوزخ نه آزادي ملاویږي." (نزهة المجالس ج١ ص١٥٤)

## د جومات د پاره چنده ورکوونکي به د دوزخ نه آزادي حاصلوي

په "**تفسير روح البيان**"کښې دي: د جومات په جوړولو کښې چې څومره خلک شريک شو د هر يو د پاره به په جنّت کښې کور وي. لکه څنګه چې يوه ډله خپل داسې غلام آزاد کړي چې په هغۀ کښې د نورو حصّه هم وي نو هغه ټول به د دوزخ د وور نه آزاد شي (داسې نه ده چې د چا حصّه کمه وي نو هغۀ ته به لږه او د چا حصّه چې زياته وي هغۀ ته به زياته آزادي حاصليږي). او قياس دا دے چې جومات جوړول به هم د غلام ازادولو پۀ شان وګرځولے شي څکه چې په دې کښې خلکو ته د جومات جوړولو او ابادولو ترغيب دے. (روح البيان ج ۳ ص ۵۰۵،۵۰٤ ملخصاً)

## ټولو چنده ورکوونکو ته به ثواب ملاويږي

**خليفه** اعلٰي حضرت مفتي ظفر الدين بهاري رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: "دا ثواب صرف پۀ دے نۀ دے چې ټول جومات يځپله جوړ کړي يا پکښې د ډير مال لګولو په ذريعه شريک شي بلکې هر شرکت کوونکي ته، که شرکت يې د پيسو په ذريعه، د روپو په ذريعه يا د اشرفو په ذريعه کړے وي ټولو ته به بغير د څۀ کمي او زياتي نه يو شان ثواب ميلاويږي (بغير د کمي او زياتي نه)" (فتاوٰي ملک العلماء ص ۱٤٦)

## د ايمان د حفاظت د پاره يو عمل ---- د جَمعې سره نمونځ

**مفتي** احمد يار خان رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په ايمان باندې د خاتمې عمل بيانولو کښې فرمائي: "جومات جوړول يا هغه آبادول يا هلته د جمعې د نمونځ ادا کولو شوق د صحيح مؤمن علامت (يعني نخښه) ده. اِنْ شَآءَاللّٰه د داسې خلکو خاتِمه به په ايمان کيږي." (تفسيرِ نعيمي ج ۱۰ ص ۱۹۵)

نمازیں پڑھو گے سدا باجماعت
تو ایماں رہے گا تمہارا سلامت

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# اَذان نه پس د جومات نه وتل

(بهارِ شريعت جلدِ اوّل صفحه ٦٩٧ تا ٦٩٨....نه ماخوذ)

﴾1﴿ چا چې نمونځ نۀ وي کړے هغۀ ته د جومات نه د اذان نه پس وتل مکروهِ تحريمي (ناجائزه او ګناه) ده، د حضورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ معظم دے: "د اذان نه پس چې څوک د جومات نه لاړو او د څۀ حاجت د پاره لاړ نۀ شو او نۀ يې د واپس راتلو اراده ده هغه منافق دے." (ابن ماجه ج١ ص٤٠٤ حديث٧٣٤) (تابعي بزرګ حضرت سَيِّدُنا) ابو اَلشَّعثا (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) وائي: مونږه د (حضرت سَيِّدُنا) ابوهريره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ سره په جومات کښې وو، چې کله مؤذن د مازيګر اذان اوکړو نو هغه وخت يو کس لاړو، په دې يې اوفرمائيل چې: "هغۀ د ابوالقاسم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نافرماني اوکړه." (ابن ماجه ج١ ص٤٠٤ حديث ٧٣٣)

﴾2﴿ د اذان نه مراد د نمونځ وخت کيدل دي، که اذان شوے وي او که نۀ.

﴾3﴿ څوک چې د بل جومات د جَمعې منتظِم (يعني انتظام کوونکے) وي، مثلاً امام يا مؤذن وي چې د هغۀ په موجودګئ کښې خلک وي ګني (خلک) اخواه ديخوا کيږي، نو داسې کس ته اجازت دے چې د دې ځائے نه خپل جومات ته لاړ شي اګر که دلته (د جَمعې د پاره) اقامت هم شروع شوے وي، خو [دا کس چې] د کوم جومات انتظام کوونکے دے که هلته جَمعه شوې وي نو بيا دلته نه د تللو اجازت نشته. (در مختار و رد المختار ج٢ ص ٦١٣)

﴾4﴿ که د سبق وخت وي نو د دې ځائے نه د خپل استاد صاحب جومات ته تللے شي يا چا ته څه ضرورت وي او د بيرته راتلو اراده لري نو بيا هم د تللو اجازت شته، هله که ظَنِّ غالِب (يعني دا خيال يې مضبوط) وي چې جومات ته به واپس راشي. (در مختار ج٢ ص٦١٤)

﴾5﴿ چا چې د ماسپښين يا د ماسخوتن نمونځ يواځې کړے وي، نو هغۀ له د جومات نه تلل په هغه وخت کښې منع دي چې (د جَمعې د پاره) اقامت شروع شوے وي، اقامت نه مخکښې

تلے شي او که اقامت شروع شي نو بیا دا حکم دے چې په جَمعه کښې دې د نفلو په نیّت شریک شي او په ماښام، سحر، او مازیګر کښې د هغۀ د پاره دا حکم دے چې د جومات نه بهر لاړ شي، چې نمونځ يې کړے وي. (در مختار ج٢ ص٦١٤)

باجماعت ہر نمازاے بھائیو! پڑھنا مدام
فضلِ رب سے دوجہاں میں تم رہوگے شادکام

کوئ د جَمعې سره هر نمونځ اے ورونړو! مدام
پۀ فضل د رب دواړو جهانو کښې به اوسئ ښاد تمام

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ”جومات د ادب ځائے دے“ د څوارلسو حروفو په نسبت په جومات کښې د کیدونکو غلطیانو متعلق 14 مدني ګلونه

د **نمونځ** او اعتکاف، تلاوتِ قرآنِ پاک، درس او بیان او د نعت او ذِکر د اجتماع وغیره عباداتو په ذریعه جوماتونه اباد ساتل ډیر د ثواب کار دے. په کوم کار کښې چې څومره ډیر ثواب وي په هغې کښې شیطان هغه هومره د ډیرو خرابیانو پیدا کولو کوشش کوي لهٰذا په جوماتونو کښې کیدونکې بې احتیاطۍ، بې ادبۍ او د ګناهونو نه ډک حرکتونو متعلق **14 مدني ګلونه** وړاندې کیږي.[1]

**(1)** د **نبي کريم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان** دے:” په جومات کښې خندل قبر کښې تیاره راولي“ (الفردوس بمأثور الخطاب ج٢ ص٤٣١ حديث٣٨٩١) خو ضرورتاً مسکې کیدلو کښې څه حرج نشته.

---

[1] **عرض**: اعتکاف والؤ، جومات ته راتلونکې مدني قافلے والؤ یا په جومات کښې کیدونکې د درې یا زیاتو ورځو تربیتي اجتماعاتو والؤ ته دا ”**14** مدني ګلونه“ واوروئ او ډیر ډیر ثواب وګټئ.

**(2)** اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه نقل کوي:" خوک په جومات کښې خبرې وکړي، **الله** پاک دې د هغهٔ د **خلوېښتو کالو** اعمال ضائع کوي. (فتاوٰي رضويه ج ١٦ ص ٣١١، غمز العيون ج ٣ ص ١٩٠)

**(3)** خُلې نه د بد بوئې راتلو په حالت کښې (په کور کښې کړے) نمونځ هم مکروه دے او په داسې حالت کښې (يعنې د خُلې يا د جامو يا د بدن نه د خولو يا د بل هر قسم بد بوئې راتلو په حالت کښې) جومات ته تلل حرام دي- (فتاوٰیٰ رضویه ج7 ص284) **(4)** په جومات کښې ريح (يعنې باد) خارجول منع دي- **(5)** جومات ته داسې ماشومان (پيمپرز تړلو سره هم) راوستل ګناه ده د کومو په باره کښې چې غالب ګمان وي چې متيازې وغيره به اوکړي يا به شور جوړوي- **(6)** جومات ته ليونې، يا هغه کسان چې پيريان پرې راځي او تړپونه وغيره وهي، او داسې مريضان د کومو نه چې خلکو ته کرکه ورځي راوستل ګناه ده او هغه پوهه ماشومان راوستل هم ګناه ده کوم چې هلته منډې وهي، شور جوړوي او د نمونځ کوونکو د پريشانئ سبب جوړيږي- **(7)** د جومات په فرش باندې د خلکو غورځيدلې وينځتهٔ يا معمولې خزلې اچولو د پاره کهٔ کيدے شي نو يو شاپر [د پلاسټک تيلی] په جيب کښې ساتئ- فرمانِ مصطفٰی صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "خوک چې د جومات نه تکليف ورکوونکے څيز اوباسي، **الله** پاک به د هغهٔ د پاره په جنت کښې يو کور جوړ کړي." (ابن ماجه ج1 ص419 حديث 757) **(8)** د خولو او د خُلې د لاړو وغيره نه د جومات فرش، درۍ يا کارپټ بچ کولو د پاره چې کله هم اودهٔ کيږئ نو په خپل ذاتي څادر وغيره باندې اودهٔ کيږئ. **(9)** په جومات کښې که خَس (يعنې معمولې شان ډکې، يا ذَرّه) هم اوغورزولے شي نو په دې جومات ته دومره تکليف رسيږي لکه څنګه چې انسان ته په خپله سترګه کښې د معمولې ذرې په پريوتو سره [تکليف] کيږي- (جذب القلوب ص162) **(10)** د اوداسه د اندامونو نه د اوداسه د اوبو څاڅکي د جومات په فرش (يعنې د جومات په زمکه) باندې څڅول، ناجائزه او ګناه ده. (البته په فنائے مسجد کښې د څاڅکو څڅولو دا حکم نشته)

**(11)** د جومات د درو [يعني صفونو] او کارپټ وغيره د تارونو او د پزکو د ډکو راشوکولو نه پرهيز اوکړئ- (په هر ځائ کښې مثلًا د چا کور ته يا چرته محفل وغيره ته لاړ شئ نو بيا هم بلکې په خپل کور کښې هم د دې خبرې ساتل پکار دي). **(12) جومات** کښې منډې وهل يا داسې قدم کښيودل چې هغې سره آواز پيدا شي منع دي. **(13)** د **جومات** په فرش باندې ځه ځيز په زوره مۀ غورزوئ، په څادر يا رومال وغيره باندې د جومات فرش داسې مۀ څنډئ چې هغې سره آواز پيدا شي (د جومات صفائي کوونکي دې ډير احتياط کوي). **(14)**تلاوت او نعت (يا په اجازتِ شرعي سره کيدونکے اعلان) وغيره په دومره اوچت آواز سره وئيل چې هغې سره نمونځ کوونکي پريشانه شي يا اُودۀ کس ته تکليف رسي مکروه دي. (په جومات کښې نعرې وهلو او مائيک استعمالولو کښې ډير احتياط پکار دے)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب!　　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په جومات کښې خلکو نه تکليف ورکول

په **جومات** کښې هُم بعضې خلک د نورو مسلمانانو د تکليف باعث جوړيږي او دا خبره ډيره معمولي ګڼي. اول دا ولولئ چې مسلمانانو ته تکليف ورکولو کښې څومره عذابونه دي، د دې نه پس به په جومات کښې چا ته د تکليف ورکولو په باره کښې مثالونه پيش کيږي.

## الله او رسول ته تکليف رسوونکے

د **نبي** کريم رءُوفٌ رَّحيم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: مَنْ اٰذٰى مُسْلِمًا فَقَدْ اٰذَانِیْ وَمَنْ اٰذَانِیْ فَقَدْ اٰذَى الله (يعنې) چا چې (بغير د شرعي وجهې نه) کوم مسلمان ته تکليف ورکړو نو هغۀ ماته تکليف راکړو او چا چې ما ته تکليف راکړو هغۀ **الله** ته تکليف

ورکړو. (معجم الاوسط ج۲ ص ۳۸۷ حدیث ۳۶۰۷) **الله** پاک او رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د تکلیف ورکولو په باره کښې **الله** پاک په سیپاره ۲۲، سورۃُالاحزاب آیت ۷ کښې ارشاد فرمائي:

اِنَّ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَةِ وَ اَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿۵۷﴾

[مَفہُوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: بیشکه څوک چې **الله** او د هغه رسول ته تکلیف ورکوي په هغوئي باندې دُنیا او آخرت کښې **الله** لعنت فرمائیلے دے او **الله** د هغوئي د پاره رسوا کوونکے عذاب تیار کړے دے.

## الله پاک ته د تکلیف ورکولو معنٰي

"تفسیر صِراطُ الْجِنان" جلد ۸ صفحه ۸۷ باندې دي: یاد ساتئ **الله** د دې نه پاک دے چې هغۀ ته څوک تکلیف ورسوي یا هغۀ ته د چا نه تکلیف ورسي، لِهٰذا دلته د تکلیف نه مراد د هغۀ د حکم **مخالفت** کول او ګناه کول دي یا دلته د **الله** پاک ذکر صرف د تعظیم په طور دے ځکه چې په حقیقت کښې **الله** پاک او د هغۀ رسول له تکلیف ورکولو نه مراد خاص رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له تکلیف ورکول دي، لکه څنګه چې چا د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اطاعت وکړو نو هغۀ د **الله** پاک اطاعت وکړو، هم دغه شان چا چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له تکلیف ورکړو هغۀ **الله** پاک له تکلیف ورکړو.

## د خارښ درد ناک عذاب

**تابعي** بزرګ حضرتِ سیّدنا **مجاهد** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په جهنّمیانو به یو قسم خارښ مسلّط کړے شي، چې د هغې په وجه به هغوئي خپل بدنونه ګرَوِي، تر دې پورې چې په ګرولو ګرولو په هغو کښې د بعضو هډوکي ښکاره شي، نو آواز به ورکړے شي: اے فلانکیه ! آیا تا ته د دې په وجه تکلیف کیږي؟ هغه به وائي: آو. نو آواز کوونکے به اووائي: "دا د هغې بدله ده کوم چې به تا مسلمانانو ته **تکلیف** ورکوو." (احیاء العلوم ج۲ ص ۲۴۲)

# جومات او د مائیک استعمال

**بعضې** جوماتونو کښې د مائیک استعمال ډېر زيات وي چې د هغې په وجه خلک ډېر پرېشانه کېږي، تر دې پورې چې يوه طبقه داسې هم شته چې هغوئې د داسې جومات په خوا کښې کور اخستل خوښوي چرته چې د جومات د مائیک آواز بهَر ته نه راځي. د جومات د مائیک متعلّق دوه واقعې ذکر کووم:

## (1) په مائیک شبينه

**يو** صاحب په خفګان سره ما ته څه داسې اُووئيل: زمونږ کور د فلانکي جومات سره نزدې دے، په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې هلته شبينه کېږي. په صف کښې صرف د شمير يو څو کسان وي خو د شپې ناوخته پورې دومره په زوره مائیک چليږي چې مونږ ترينه اُودهٔ کيدے نهٔ شو.

## (2) د شپې ځلور بجې فون راغے

**يو** اهم اسلامي ورور وائي چې يو ځل ما ته د شپې ځلور بجې د چا فون راغے او په مائیک باندې کيدونکي د نعت خوانئ آواز يـې په فون باندې را واورو او فرياد يـې وکړو چې زمونږه کور د فلانکي جومات په خواه کښې دے، دا وخت د شپې ځلور بجې دي خو لا تر اوسه پورې په جومات کښې په مائک باندې نعت خواني روانه ده، مونږه په ازميښت کښې يو. چنانچه هغه اسلامي ورور په څه طريقه رابطه وکړه او د جومات مائیک يـې پرې بند کړو.

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په محفلِ نعت، بيان، د غټو شپو مجلسونو وغيره کښې بې شکه که د ګاونډ بعضې خلک مطالبه هُم وکړي بيا هم د بهر مائیک بند ساتل پکار دي، يو څو مطالبه کوونکو ته اګر که خوند هُم ورکوي خو په محلّه کښې بوډاګان، مريضان او د پئيو ماشومان هم وي چې هغوئې ته د مائیک د آواز نه تکليف

کيدے شي، بعضې خلک د شپې وختي اُودۀ کيږي او سحر وختي پاڅي کار له ځي، بعضې خلک د دې د پاره وختي اُودۀ کيږي چې بيا راپاڅي تهجّد او تلاوت وکړي. د جومات بهر والا سپيکر د چليدو د وجهې نه به معلومه نۀ ده چې څومره خلک پريشانه کيږي ! د خپل عبادت په ذريعه نورو خلکو ته د تکليف ورکولو په شريعت کښې بالکل اجازت نشته.

## په اوچت اواز تلاوت کول

**اعلٰی** حضرت، امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: د قران تلاوت په آواز سره کول بهتر دي خو نۀ په دومره آواز سره چې خپل ځان له تکليف يا د بل نمونځ کوونکي يا ذکر کوونکي په کار کښې خلل راشي يا په يو جائز خوب اُودۀ کس په خوب کښې خلل راشي يا يو بيمار ته تکليف ورسي............ وَاللّٰهُ تَعَالٰی اَعْلَم (فتاوٰي رضويه ج ٢٣ ص ٣٨٣)

**نمونځ** کښې په اوچت آواز سره قِراءَت کولو په باره کښې مولانا مفتي **امجد علي** اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: د حاجت نه زيات په دومره اوچت آواز سره وئيل چې ځان له يا بل له د تکليف باعث وي مکروه دي. (بهار شريعت ج١ ص٥٤٤) مائيک صرف د ضرورت مطابق استعمالول پکار دي او آواز يې د ضرورت نه زيات اوچتول نۀ دي پکار. د بيان او خطبې او اقامت او دعا وغيره د پاره چې مائيک سيټ کوئ نو مخکښې يې بندوئ ګني اکثر د دې د ګړګړ اواز په جومات کښې د شور سبب جوړيږي او نمونځ کوونکو ته هم تکليف رسوي.

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** په نمانځۀ کښې او هغه هم د مائيک نه بغير کيدونکي تلاوت د اواز د تکليف نه هُم چې د خلکو د بچ ساتلو دومره تاکيد دے نو په بيان کولو يا نعت شريف وغيره وئيلو کښې د مائيک دومره اوچت آواز ساتل بلکې په ايکو ساؤنډ باندې وئيل چې د هغې نه ګاونډيانو وغيره ته تکليف رسي نو هغه څنګه جائز کيدے شي؟ سړکونه راګيرولو يا د اوسيدلو په علاقو کښې لارې بندولو

باندې د خلکو عام حقونه ضائع کولو سره هلته د شپې ناوخته پورې محفلِ نعت یا اجتماع وغیره کولو والؤ ته هُم په ماشومانو او بوډاګانو او مریضانو او په لاره تلونکو وغیره باندې په جوړه لاسونو د رحم کولو اپیل دے.

## د دعوتِ اسلامي دِیني کار او د مائیک استعمال

﴿۱﴾ **د سحر نمانځه له راویښول:** یعنې په کوڅه یا محلّه کښې د سحر نمونځ د پاره خلک راویښولو د پاره میګا فون مۀ استعمالوئ ځکه چې دې سره هغه زنانه چې نمونځ یې کړے وي او بیا اُودې شوې وي، او ماشومانو او مریضانو وغیره ته تکلیف رسیدے شي. **واقعه:** یو اسلامي ورور ماته (یعنې الیاس قادري ته) اووئیل چې یو ځل ما په میګا فون کښې "**د سحر نمانځه له راویښولو**" د پاره اواز لګولو او په یوه کوڅه باندې تیریدم نو یو سړي منع کړم خو ما اُونه منله چې زۀ څه غلط کار خو نۀ کووم زۀ خو د سحر نمونځ د پاره خلک راپاڅووم ! په دویمه ورځ سحر د مخکښې نه هغه سړے د کوڅې په ګوَټ کښې ولاړ وو، هغۀ ووئیل چې په اصل کښې د میګا فون د آواز سره زما ماشوم زوئې ټوپ اُووهي او راپاڅي نو مونږه هُم په تکلیف کښې راشو. ﴿۲﴾ هفته واره د سنّتو ډکه اجتماع کښې که چرته خلک سل 100 یا د 100 سلو نه زیات راجمع شي او آواز ورته نۀ رسي نو د ضرورت مطابق صرف دننه سپیکر استعمالول پکار دي، چې آواز بهر لاړ نۀ شي د دې خبرې خیال ساتل پکار دي ﴿۳﴾ هُم دغه شان د غټو شپو په محفلِ نعت وغیره کښې هُم صرف د جومات دننه سپیکر استعمالول پکار دي ﴿۴﴾ که په میدان وغیره کښې اجتماع وي نو بیا هُم د دې خبرې خیال ساتل ضروري دي چې آواز د میدان نه بهر لاړ نۀ شي. العرض د دې خبرې پوره خیال ساتل پکار دي چې د لارې بندولو او د مائیک ډیر زیات استعمال په ذریعه هیچا ته هُم تکلیف ورنکړے شي.

# په جومات کښې د خلکو د تکليف سبب جوړېدونکي 40 کارونه

(په دې مثالونو کښې د هر مثال ''ګناه'' کېدل ضروري نهٔ دي، البته بعضې مثالونه د ډېرو ګناهونو مجموعه دي)

﴿۱﴾ د اصل مالک (يا هغهٔ چې چا ته د اجازت ورکولو اختيار ورکړے وي، د هغهٔ) د اجازت نه بغير استنجا خانې ته تللو د پاره د بل چا پيزار په ښپو کول ګناه ده (د دې د اجازت غوښتلو نه هم ځان ساتئ) ﴿۲﴾ د جُمعې ودريدلو په وخت کښې يا که په هر سبب رش وي ځان له لاره جوړولو د پاره خلکو له دِيکې ورکول. ﴿۳﴾ په رَش کښې چا سره خبرو کولو د پاره [داسې ځائے کښې] ودريدل چې د خلکو لاره بنديږي ﴿۴﴾ د نمونځ د پاره په صف کښې خپله مصلّه يا څادر داسې خورول چې د ضرورت نه زيات ځائے اونيسي او د خوا ته کس د ښپې (يا په سجده وغيره کښې د هغه د زنګون) څه حصّه د هغه مصلّے په غاړه وغيره باندې د لګيدلو په سبب د هغهٔ د نمانځهٔ خُشُوع مُتأَثِّره کيږي يا هغهٔ ته تکليف رسي. ﴿۵﴾ د امام سلام ګرځولو نه پس د شاته تلونکو کسانو لاسونه يا ښپې د خلکو سره لګيدلو يا ځوک چې [د جُمعې] باقي نمونځ پوره کوي هغوئي د ديکو لګيدلو پرواه نه کول. ﴿۶﴾ په تسبيحاتو کښې يا په التّحيّات وغيره کښې آواز دومره اوچتول چې په خوا کښې نمونځ کوونکے ترې تنګيږي ﴿۷﴾ د جُمعې په دوران کښې په رکوع او سجده کښې لاسونه بغير د ضرورته خوَرول چې خوا ته کس ته ترې تکليف رسي. ﴿۸﴾ په جمعه کښې د مقتدي په تکبيرونو کښې آواز بغير د حاجت نه دومره اوچتول چې د هغې په وجه نورو خلکو ته تکليف رسي. ﴿۹﴾ د جومات نه وتلو وخت کښې دروازې سره خپل پيزار په ځمکه پهٔ زوره غورزَول. ﴿۱۰﴾ دروازې سره بهر پرَتو د خلکو پيزار باندې بغير د څه مجبورئ نه بې پرواهئ سره ښپې کيښودل ﴿۱۱﴾ موبائل فون ''سائلنټ'' نهٔ ساتل ﴿۱۲﴾ خپل سامان او پيزار وغيره داسې کيښودل او راخستل چې نمونځ کوونکو ته ترې تکليف رسي ﴿۱۳﴾ د نمونځ کوونکي په مخه اخوا کس ته ورکولو د پاره څه څيز ور

وړاندې کول. او هُم داسې ﴿۱۴﴾ د نمونځ کوونکي د دواړو طرفو والا په خپل مينځ کښې خبرې اترې کول (بلکې اِشارې کول هُم تکليف ورکولے شي) ﴿۱۵﴾ د نمونځ کوونکي خوا ته په فون خبرې کول، يا ﴿۱۶﴾ د نمونځ کوونکي خوا ته د دوو کسانو شکاره يا پټې پټې خبرې کول ﴿۱۷﴾ تيريدلو د پاره نمونځ کوونکي ته بالکل نزدې ودريدل چې دے سلام وګرځوي او زۀ تير شم ﴿۱۸﴾ د نمونځ کوونکو په موجودګئ کښې د پرنجې او ټُوخِې وغيره په آواز کښې د کمې راوستلو کوشش نۀ کول ﴿۱۹﴾ پوزه پاکولو نه پس رومال د خلکو د نظر نه نۀ پټول ﴿۲۰﴾ د نمونځ کوونکي مخ طرف ته مسلسل کتل ﴿۲۱﴾ د نمونځ د پاره ځائ نيولو د پاره په صف کښې څادر وغيره ايښودل د خلکو د خفه کيدو سبب جوړيږي (خو که مخکښې ناست وو او د اوداسه حاجت پيښ شو، نو بيا خوا ته ناست کسان ګواه جوړولو سره چې په يو څو منټو کښې اودس وغيره اوکړې او راشې نو هيڅ باک نشته ځکه چې په داسې کولو خلک نۀ خفه کيږي) ﴿۲۲﴾ څوک چې نمونځ کوي او هغۀ ته ضرورت وي د هغې باوجود پکے بندول ﴿۲۳﴾ د جومات د خادم وغيره د جَمعې ودريدو نه پس هم د ضرورت مطابق پکې نه چلول (د دې تکليف سره بعضې وخت د وروستو صفونو والا مخامخ کيږي) ﴿۲۴﴾ څوک چې لا نمونځ کوي هغۀ ته، د صفائئ يا د جومات بندولو د پاره "زر کوه!" وغيره وئيل ﴿۲۵﴾ د چا چې په نمانځه کښې د سره ټوپئ يا پټکے اوغورځيږي د هغې د ورپۀ سر کولو کوشش کول ﴿۲۶﴾ د امام صاحب د عرف نه علاوه جَمعه ودرولو کښې بے وجې ناوخته کول ﴿۲۷﴾ د جَمعې د وخت کيدو او د امام د موجودګئ باوجود د مؤذن په اقامت وئيلو کښې بے وجې ناوخته کول ﴿۲۸﴾ نمونځ له د تللو په وخت کښې غوړ لاسونه نۀ صفا کول، (په سجده کښې بيا بيا په درئ يا کارپټ باندې د غوړو لاسونو ايښودلو سره د هغه ځايه نۀ خراب بوئې راتلل شروع شي) ﴿۲۹﴾ پۀ خُله کښې د بدبوئې کيدو باوجود جومات ته راتلل، [او هُم داسې] نمونځ کول، (دې سره فرښتو او خلکو ته تکليف کيږي او بعضې وخت خو د هغۀ) د سجدې د ځائے نه هم بوئې راځي او د دې په وجه

وروستو هلته نمونځ کوونکي ته تکليف رسي ﴿۳۰﴾ د خولو د بد بويئ والا جامې اغوستې په جَمعه کښې شريکېدل (د دې نه بعضې وخت په خوا کښې ناست کس ته ساه اخستل مشکل شي) ﴿۳۱﴾ په ختو لړلو ښپو سره يا د ښپو صحيح وينځلو نه بغير جومات ته داخليدل (دې سره فرش، درۍ وغيره ګنده کيږي او نمونځ کوونکو بلکې ناستو کسانو ته هم تکليف رسيږي) ﴿۳۲﴾ د جومات په درۍ باندې سر اېښودل او اوده کيدل (په داسې کولو په درۍ باندې د سجدې په ځائے باندې د تيلو غټ غټ داغونه جوړيږي او نمونځ کوونکي د تکليف سره مخ کيږي) ﴿۳۳﴾ په اوړي کښې د جُمعې وغيره په نمونځونو کښې د نمونځ ګُزارو د ګڼې باوجود د انتظاميه د پاس منزلونو د کړکو په برسيره کولو [کولاولو] کښې سستي کول (ځکه چې دننه ګرمي جوړه شي نو نمونځ ګُزارو ته تکليف رسيږي) ﴿34﴾ سحر د مقرر وخت نه مخکښې د جومات کولاولو د پاره د خلکو په زوره زوره دروازه ډبول (په داسې کولو اهلِ محله هم پريشانه کيږي) ﴿35﴾ د جومات د دروازې بالکل مخې ته سائيکل، موټر سائيکل او کار وغيره ودرول (دې سره د نمونځ نه پس د وتونکو لاره تنګيدے شي) ﴿36﴾ بغير د سخت ضرورت نه بيا بيا امام صاحب بدلول (دا هم بعضې خلک پريشانه کوي او بيا هغوئي دغه جومات ته راتلل پريږدي) ﴿37﴾ سلام ګرځولو سره فوراً په اوچت آواز په مائک باندې اعلان وغيره شروع کول (دې سره خپل پاتې رکعتونه پوره کوونکي پريشانه کيږي، بعضو نه خو به رکعتونه هُم هيريږي، که د خلکو شميره کمه وي نو دواړه دعاګانې د اسپيکر نه بغير کول پکار دي، که شميره زياته وي نو د اسپيکر آواز صرف دومره ساتل پکار دي خومره چې ضرورت وي او دعا غوښتونکے دې هم خپل آواز لږ وررو ساتي) ﴿38﴾ د خطيب صاحب د جمعې بيان ډير اوږد کول او په مقرر وخت باندې جَمعه نهٔ ودرول (د دې په وجه هُغه خلک پريشانه کيږي کومو چې خپل دفتر يا فيکټرۍ يا دوکان پريښودے وي او راغلي وي او خلک بيا نورو جوماتونو ته ځي) ﴿39﴾ په مخکښيني صف کښې د مناسب ځائے نهٔ کيدو باوجود په زور ورننوتل، (دې سره بعضې وخت پوره صف کوږ شي) ﴿40﴾ په جومات کښې د ډير تيز آواز والا د الارم ګهړۍ لګول. (دا مثالونه ياد ساتئ او د هر هُغه کار نه ځان بچ ساتئ د کوم نه چې خلکو ته

تکليف رسيدے شي- تر اوسه  پورې مو چې چا، چا ته د شريعت د اجازت نه بغير د ژوند په هره معامله کښې تکليف رسوَلے وي او هغه د ګناه صورت وي نو د هغوئي نه معافي غوښتل او توبه کول ضروري دي. په دې بيان کړو 40 صورتونو کښې بعضې ګناه ده او بعضې ګناه نۀ ده)

ایذانہ دو کسی کو خُدا سے ڈرا کرو!

ہاں! چاہئے ثواب تو ایذا سہا کرو!

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب!　　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په جومات کښې تُوکل خطا ده

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په جومات کښې تُوکل خطا ده او د دې کفَّاره زائل کول (يعني اثر ختمول) دي. (بُخاری ج۱ ص۱۶۰ حدیث ۴۱۵)

"**بهارِ شريعت**" جِلد 1 صفحه 646 کښې دي: "د جومات په ديوالونو يا چټايانو [پزَکو، درو] باندې يا د چټايانو نه لاندې تُوکل او يا پوزه سُونړل ممنوع دي او د چټايانو نه لاندې اچول د پاسه اچولو نه زيات بد دي او که د پوزې سونړلو يا تُوکلو ضرورت پيښ شي نو په کپړه کښې دې يـې واخلي."

## د رِيرې خَس

د **حديثونو** د مشهور کتاب "**صحيح بُخاري**" مُؤَلِّف حضرتِ سَيِّدُنا اِمام **محمد** بِن اسماعيل **بُخاري** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو ځل په جومات کښې وو، يو کس د خپلې رِيرې نه خس راويستلو او د **جومات** په ځمکه يـې اوغورزوو! هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ورپاخيدلو او هغه خَس [ډکے] يـې راواخستلو او په خپل لستوني کښې يـې کيښودو چې کله د **جومات** نه بهر اُووَتلو نو هغه يـې غوزار کړو. (تاریخِ بَغداد ج۲ ص۱۳)

## د جومات مُتَعَلِّق دوه اَهَم مَدَني ګلونه

**اللهُ! اللهُ!** د اِمام بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د جومات ادب! هرمسلمان ته د جومات ادب کول پکار

دي. د ”**فيضانِ رَمَضان**“ (مُرَمَّم) د صفحه 245 نه دوه مَدَني ګلونه قبول کړئ: ﴿۱﴾ په **جومات** کښې هيڅ قِسم خزلې بالکل مه غورزوئ. سَيِّدُنا شيخ عبدُالحق **مُحَدِّث** دِهلَوي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په ”**جَذبُ القُلوب**“ کښې نقل کوي چې که په جومات کښې خَس (يعنې معمولي ذرّه) واچولے شي نو په هغې **جومات** ته دومره تکليف کيږي څومره تکليف چې انسان ته په خپله سترګه کښې د خَس (يعنې د معمولي ذرّې) پريوتلو په وجه کيږي. (جَذبُ القُلوب ص۲۲۲)

﴿۲﴾ د **جومات** په ديوال، يا فرش باندې، يا د پزَکـي يا درځ د پاسه يا ترينه لاندې لاړې تُوکل، پوزه سُوڼ کول، د پوزې يا غوږ خيرے پرې لګول، د **جومات** د درځ نه تار راښکل يا د پزَکـي نه تيلۍ ماتول وغيره ټول شرعاً منع دي.

کرو مسجد کا ادب میرے بھائی!
کہ تم پر بھی ہو فضلِ رب میرے بھائی!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## له غمه بيمار شو

اے د **نمانځهٔ عاشقانو!** په زړهٔ کښې د جومات ادب زياتولو، د جومات آبادولو جذبه حاصلولو او د خپل آخرت د بهترۍ د پاره د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول کښې هر وخت شامل اوسئ. مَدَني سپرلے: د ګوجرانواله يو اِسلامي ورور به جومات ته نمانځهٔ د پاره تللو خو نمونځ ورته صحيح نهٔ وو زده. يوه ورځ هغهٔ نمونځ کولو چې څه غلطې ترينه وشوه او هغه غلطې نزدې ناست يو مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي وليده، **مخکښې** د دې نه چې هغوئي يـې اِصلاح وکړي هغه سلام وګرځولو او د جومات نه زر اُووتلو. په راروان نمانځهٔ کښې يـې چې د مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي سره ملاقات وشو نو هغوئي يـې اصلاح وکړه او د **مَکتَبَةُ الْمَدِينه** يوه رساله ”**اَودَس او سائنس**“ يـې په تُحفه کښې ورکړه. هغهٔ چې رساله ولوستله نو ډير مُتأَثِّره شو چې د

اَوَدَس دومره فائدې دي. بيا هغهٔ ځپله د هغه مُبَلِّغ نه د لوستلو د پاره رسالې اخستل شروع کړې او لوستلو نه پس به يې بل چا ته په تُحفه کښې ورکولې. اِسلامي ورونړو ورته هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې د شرکت کولو دعوت هُم ورکړو خو د کور نه ورته اجازت مِلاؤ نهٔ شو، د کور کسانو ورته اُووئيل چې د شپې ناوخته پورې د ويښ اوسيدلو په وجه به بيمار شې، هغه اِجتِماع له خو لاړ نهٔ شو خو د غم نه يې تبه شوه، د کور کسانو يې اُووئيل چې د څه وجهې نه مو ايسار کړے وو هغه خو وشو يعني بيمار شو لِـهذا آئنده يې اِجتِماع له تللو نه مهٔ منع کوئ، اَلْحَمْدُ لِلّٰه دغسې اِجتِماع کښې د هغهٔ حاضري شروع شوه. چې ماحول کښې شامل شو نو د مَدَني مُذاکرې د بَرَکتونو نه څنګه محرومه پاتې کيدے شو! د هغهٔ دا ذهن جوړ شو چې عِلمِ دِين حاصلول پکار دي چنانچه هغهٔ د دعوتِ اسلامي په جامِعَةُ الْمدِينه کښې داخله هُم واخسته. الله پاک دې مونږ ته او هغهٔ ته استقامت نصيب کړي، اٰمين.

بفیضانِ اَحمد رضا اِنْ شَآءَ اللّٰه
یہ پھولے گا پھلے گا سدا مدنی ماحول

(وسائلِ بخشش (مُرَمَّم) ص ٦٤٦)

يا رَبَّ الْمُصطفٰے! مونږ ته د جوماتونو د احترام کولو، د دې د آباد ساتلو، د دې د صفا سوتره او خوشبوداره ساتلو توفيق را کړې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د سَجدې فضائل

يا ربَّ المُصطَفیٰ! څوک چې ”د سَجدې فضائل“ پوره ولولي يا يې واوري هغهٔ ته
د سجدو خوندونه نصيب کړې او د هغهٔ مخ په دُنيا او آخرت کښې روښانه کړې

## د دُرُود شريف فضيلت

د نمانځهٔ نه پس حَمد و ثنا او دُرود شريف لوستونکي ته حُضُور نَبِيِّ کریم رَءُوْفٌ رَّحِیم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دُعا وکړه قبوله به شي، سوال وکړه در به کړے شي. (نسائی ص ۲۲۰ حديث ۱۲۸۱)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بخښنې نُسخه

حضرتِ سَیِّدُنا ابو سعيد خُدري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: کوم بنده چې د سَجدې په حالت کښې درې ځله دا اُووائي: ”یَارَبِّ اغْفِرلِیْ، یَارَبِّ اغْفِرلِیْ، یَارَبِّ اغْفِرلِیْ“[1] چې کله هغه سر پورته کړي نو د هغهٔ مغفرت يعني بخښنه به شوې وي. (مُصَنَّف اِبنِ اَبِی شَیْبَة ج ۷ ص ۳۳ حديث ۳) (دا دُعا د نفل نمانځهٔ په سجدو کښې لوَلئ يا چې د نفلو نه علاوه د الله پاک په نعمتونو باندې د سَجدهٔ شُکر په نِيَّت **سَجْده** وکړئ په هغې کښې دا او نورې چې څه غواړئ جائزې دُعاګاني کوئ)

---

[1]: **ترجَمه**: اے زما پروردګاره! زما بخښنه وکړې، اے زما پروردګاه! زما بخښنه وکړې، اے زما پروردګاه! زما بخښنه وکړې .

یاخدا میری مغفرت فرما　　باغ فردوس مرحمت فرما
(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۷۵)

زما مغفرت وکړې یا خُدایا　　باغ د فِردوس راکړې یا خُدایا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب!　　صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## په سَجْده کښې ډېرې دُعـاګانې کوئ

د رَحمتِ عَالَم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: "بنده د سَجدې په حالت کښې خپل ربِّ کریم ته ډېر زیات نزدې وي، ځکه تاسو په **سَجْده** کښې ډېرې زیاتې دُعـاګانې کوئ."
(مُسلِم ص ۱۹۸ حدیث ۱۰۸۳)

شَرحِ حدیث: حَکیمُ الاُمَّت **حضرت** مُفتي احمد یار خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې حدیثِ پاک لاندې لیکي: **رَبِّ کرِیم** خو مونږ ته هر وخت نزدې دے (خو) مونږه د هغه نه لرې اوسیږو، البته د سَجدې په حالت کښې مونږ ته د هغه سره خُصُوصي قُرب (یعني خاص نزدیکت) نصیب کیږي، لِـهذا دا نزدیکت غنیمت اوګڼئ او چې څه غوښتے شئ غواړئ. (مِراٰۃُ المناجیح ج ۲ ص ۸۲)

## د سَجدهٔ شُکر د پاره اودس لازمي دے

د سَجدهٔ شُکر د پاره اودس لازمي دے او بغیر د سَجدهٔ شُکر نه چې عادتاً کومه **سَجْده** کیږي د هغې د پاره اودَس ضروري نهٔ دے ځکه چې هغه شَرعي **سَجْده** نهٔ ده، صرف یو مُباح عمل دے نهٔ ثواب نهٔ ګناه. د نمانځهٔ نه علاوه چې په سجدو کښې کومه دُعا غواړئ نو د عربئ نه علاوه یـې په نورو ژبو کښې هم غوښتلے شئ.

## د سجدې په دوران کښې په دُعا کښې کوشش کوئ

صحابي اِبنِ صحابي حضرتِ سَیِّدُنا عبدُاللّٰه اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه رِوایت دے چې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: زهٔ په رُکوع او سَجْده کښې د تِلاوتِ

قرآن نه منع کړے شوے يم، په رُکوع کښې خو د **رب** تعظيم کوئ او **سَجْدہ** کښې په دُعــا کښې کوشش کوئ ځکه چې هغه دُعــاګانې د قَبولِيَّت لائقې دي." (مُسلِم ص ١٩٦ حديث ١٠٧٤)

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د دې حديثِ پاک په شرح کښې ليکي: د نفل نمونځ په سجدو کښې صراحتاً (يعني صفا الفاظو کښې) دُعــاګانې غواړئ او د نورو نمونځونو په سجدو کښې د **رَبِّ کرِيم تَسبِيح** و **تَحمِيد** (يعني پاکي و صِفَت) بيانوئ ځکه چې دا هُم ضِمني دُعــا ده (يعني په يو شان دا هُم دُعا ده ولې چې) د **کريم** [يعني د **الله** پاک] تعريف هُم دُعــا وي. بعضې بزرګان ليدلې شوي دي چې هغوئي په **سَجْدہ** کښې پريوځي او دُعــاګانې کوي، د هغوئي ماخذ (يعني بُنياد) هُم دا حديث دے ځکه چې په سجده کښې بنده ته د **رَبِّ کرِيم** ډير زيات نزديکت حاصل وي، د دې حالت دُعــا به اِنۡ شَآءَاللّٰه ضرور قبليږي. (مِراٰةُ المناجيح ج ٢ ص ٧١)

## په سَجْدہ کښې د دُعــا د قَبولِيَّت ډير اُمِّيد وي

د اعلیٰ حضرت د والِد صاحب حضرت مولانا نقي علي خان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په "**فضائلِ دُعــا**" کښې د دُعــا د قَبولِيَّت د **45** اوقات و حالات نه **20** [شَلَم] نمبر دے: **په سَجْدہ کښې** (د دُعــا قبليدلو قوي يعني مضبوط اُمِّيد دے) (فضائلِ دُعا ص ١٢١)

## د دُعــا توفيق حاصليدل د سَجدۂ شُکر موقع ده

د "**فضائلِ دُعــا**" په صفحه 62 کښې د اعلیٰ حضرت مولانا شاہ **اِمام اَحمد رضا خان** رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د ورکړې شوي اِرشاد خلاصه ده: د **الله** پاک په بارګاه کښې د دُعــا او اِلتِجا په تَوفِيق حاصليدلو دې [بنده] د سَجْدۂ شُکر په نِيَّت **سَجْدہ** وکړي ځکه چې بنده په **سَجْدہ** کښې خپل **رَبِّ کرِيم** ته ډير زيات نزدې وي، رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: بنده د سجدې په حالت کښې خپل **رَبِّ کرِيم** ته ډير زيات نزدې وي، ځکه تاسو په **سَجْدہ** کښې دُعــا زياته غواړئ. (مُسلِم ص ١٩٨ حديث ١٠٨٣)

## چې ښنګه پيدا شو سَجْده يې وکړه

**حضرت** مولانا نقي علي خان رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه نقل کوي: هغه وخت (يعني د وِلادَت په وخت) کښې حُضُور (صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د **الله** پاک په بارګاه کښې **سَجْده** وکړه او ويـې وئيل: رَبِّ هَبْ لِیۡ اُمَّتِیۡ (ترجمه) ”خُدايا! زما اُمَّت زما د پاره اوبخښې. (يعني زما اُمَّت ما ته راکړې)“ نو خِطاب وشو (يعني اُووئيل شو): وَهَبْتُكَ اُمَّتَكَ بِاَعْلٰى هِمَّتِك (ترجمه) ”ما ستا اُمَّت ستا د اوچت هِمَّت په سبب اوبخښلو (يعني تا ته درکړلو).“ بيا فرښتو ته اِرشادِ (اِلٰهی) وشو: ”اے زما فرښتو! ګواه اوسئ چې زما حبيب خپل اُمَّت د پيدا کيدو په وخت کښې هير نۀ کړو نو هغوئي به د قيامت په ورځ ښنګه هير کړي!“ (انوارِ جمالِ مصطفٰے ص ١٠٤)

رَبِّ هَبْ لِیۡ اُمَّتِیۡ، کہتے ہوئے پیدا ہوئے

حق نے فرمایا کہ بخشا، اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ستيمپ (يعني د مُهر) ليک (فرضي حکايت)

يو نيک بنده ته چا خپله پريشاني بيان کړه: چې څه کار کووم هغه ورانيږي، څه وکړم! هغوئي ترينه تپوس وکړو: ستيمپ (Stamp يعني مُهر) دې ليدلے دے؟ هغۀ اُووئيل: آو ليدلے مې دے. هغوئي ترينه تپوس وکړو چې: آيا تا ته پته ده چې په ستيمپ [يعني مُهر] باندې ليکل ښنګه شوي وي...؟ هغۀ اُووئيل: په هغې باندې اُلټه ليکل شوي وي. هغوئي اُوفرمائيل چې: آيا دا وئيلے شې چې هغه ښنګه سِيده کيږي؟ هغه جواب ورکړو: چې کله ستيمپ په کاغذ ولګې نو لفظونه سِيده شي. هغوئي اُوفرمائيل: چې ښنګه ستيمپ (Stamp يعني مُهر) خپل تندے په کاغذ ولګوي نو د هغه اُلټه الفاظ سِيده شي، هُم داسې ته هُم اودس وکړه او جومات ته لاړ شه او د خپل خالِق و مالِک په بارګاه کښې تندے ولګوه (يعني سَجْده وکړه) اِنْ شَآءَاللّٰه ستا وران کارونه به هُم سَم شي.

# د ”سَجْدہ“ د څلورو حُروفو په نسبت

# په سَجْدہ کښې د دُعا قبليدلو څلور حکايتونه

## ﴿۱﴾ سيِّدُنا سُليمان او يو دِهقان

د حضرتِ سَيِّدُنا ابو عبدُ الرَّحمٰن **دِمَشْقِی** رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه نه رِوايت دے چې حضرتِ سَيِّدُنا مَکحُول **دِمَشْقِی** رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه فرمائي: (د **الله** پاک خوږ نبي) حضرتِ سَيِّدُنا سُلَيمان بِن **داؤد** عَلَيۡهِمَا السَّلَام د وَچڠنو [يعنې د ويښتو] نه غښتلي شوي يو ټغر [يعنې انډيري] باندې تشريف فرما وو او خپل اصحاب ترينه ګير چاپيره ناست وو. هغوئي (عَلَيۡهِ السَّلَام) هوا ته حُكم وکړو نو هوا هغه ټغر اوچت کړو، پيريان او انسانان د هغوئي مخې ته روان شو، مرغو پرې سورے وکړو، يو دِهقان په پټي کښې کار کولو، هغهٔ په زړهٔ کښې اُووئيل چې که سُليمان عَلَيۡهِ السَّلَام زما خوا ته وے نو ما به ورته درې خبرې کړې وے. **الله** پاک هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام ته وحي وکړه چې د دِهقان خوا ته ورشئ، هغوئي په اس سور شولو او د دهقان خوا ته يــې تشريف يوړلو او ورته ويــې فرمائيل چې اے دهقانه! زهٔ **سُليمان** يم، ته چې څه تپوس کول غواړې وکړه! دهقان عرض وکړو: تاسو ته زما د زړهٔ د اِرادې عِلم څنګه وشو؟ هغوئي اِرشاد اُوفرمائيلو: ما ته **الله** کريم د هغې عِلم راکړو. دهقان عرض وکړو: ما په دې عِلم باندې يقين وکړو. (وړومبئ خبره دا ده:) قَسَم په خُدائے! چې ما تاسو په نعمتونو کښې وليدلئ نو ځان سره مې اُووئيل چې د حضرت سليمان عَلَيۡهِ السَّلَام تير شوي نعمتونه به ختم شي او زهٔ چې په کوم محنت او ستړي والي کښې څنګه پرون ووم نن هُم هغسې يم، خو تاسو عَلَيۡهِ السَّلَام هُم تير شوے خوند دوباره نه محسوسوئ او زهٔ هم تير شوے تکليف دوباره نه محسوسووم. حضرتِ سَيِّدُنا سُليمان عَلَيۡهِ السَّلَام ترينه د دويمې خبرې تپوس وکړو نو هغه عرض وکړو: ما ځان سره اُووئيل چې حضرتِ سَيِّدُنا سُليمان عَلَيۡهِ السَّلَام به هُم په دې دُنيا کښې هميشه نهٔ اوسيږي او زهٔ به هُم مړ کيږم. (هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام) اِرشاد اُوفرمائيل: تا رښتيا اُووئيل. کسان

عرض وکړو چې دریمه خبره ما فقط د ځان خوشحالولو د پاره کړې وه چې په ورځ د قیامت به د حضرتِ سَیِّدُنا سُلیمان عَلَیْہِ السَّلَام نه د دې نعمتونو مُتَعَلِّق تپوس کیږي، او ما نه به تپوس نۀ کیږي. حضرتِ سَیِّدُنا سُلیمان چې دا واوریدل نو د اس نه راکوز شولو او سَجْدَه يـې وکړه او په ژړا ژړا يـې بارګاهِ اِلٰهی کښې عرض وکړو: اے زما **ربه!** که تۀ **جَوَاد** (يعنې د ټولو نه لوئې جُود و کرَم والا) او **بُخْل** نه پاک نۀ وے نو ما به ضرور ستا نه د دې نعمتونو د واپس اخستلو سوال کړے وے (يعنې ما به عرض کړے وے چې خپل نعمتونه واپس واخله) **الله** پاک وحي راوليږله چې: اے سُلیمان! (د سجدې نه) سر پورته کړه! ځکه چې زۀ د خپل [کوم] بنده نه راضي شم او په هغې هغۀ ته کوم نعمت ورکړم نو د هغې حساب به نۀ اخلم. (اللہ والوں کی باتیں ج ۵ ص ۲۳۶) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

تو بے حساب بخش کہ ہیں بے شمار جرم | دیتا ہوں واسطہ تجھے شاہِ حجاز کا

بې حسابه مې اُوبخښې، زۀ ډير زيات يم ګنهګار
پيش کوومه وسيله رَبــه، د خوږ نبي سردار

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

## ﴿۲﴾ سَجْدَه کښې د دُعا کولو نه پس ورته خلاصے نصيب شو

د حضرتِ سَیِّدُنا جَعفَر خُلدي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نه منقول دي چې ما د حضرتِ سَیِّدُنا خيرُ النَّسَّاج رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نه تپوس وکړو چې تاسو د خيرُالنَّسَّاج په نوم څنګه مشهور شوئ؟ آيا تاسو نَسَّاج وئ؟ يعنې د رخت [کپړے] جوړولو کار به مو کولو؟ هغوئي اُوفرمائيل چې نه، بلکې د دې وجه دا ده چې ما اللهُ کريم سره وعده کړې وه چې کله به هُم د خپل نفس په خواهش تازه **کجورې** نۀ خورم او ډير وخته پورې زۀ په خپله وعده قائم ووم. يو ځل زۀ د

نفس د لاسه مجبوره شوم او لرې کجورې مې واخستلې او د هغې د خوړلو د پاره کښيناستلم، لا صرف يوه کجوره مې خوړلې وه چې يو کس ما ته په غُصَّه باندې کتل شروع کړل. بيا زما خوا ته راغلو او ما ته يې اُووئيل: اے خَيره! ته خو زما تښتيدلے غُلام يې! اصل کښې د هغه سړي يو "خَير" نومې غلام وو چې هغه ترينه تښتيدلے وو او هغه سړي د غلط فهمئ په وجه زۀ خپل غلام اوګڼلم! او رښتيا خبره دا ده چې زما رنګ هُم د هغه د غلام په شان شوے وو. ډير خلک راجمع شو، هغوئي چې زۀ څنګه وليدم نو ټولو اُووئيل چې قَسَم په خُدائے! دا خو ستا غلام "خير" دے. زۀ ښه پوهه شوم چې ما ته د کوم جُرم سزا راکولے کيږي! هغه کس زۀ خپل غُلام اوګڼلم او دُکان ته يې بوتلم، هلته د هغه نور غلامان هُم وو چې هغوئي رخت (يعني د تارونو نه کپړه) جوړوله. زۀ چې نورو غُلامانو وليدم نو هغوئي اُووئيل چې اے بده غُلامه! ته د خپل مالِک نه تښتې؟ راځه! ديخوا را شه! او خپل هغه کار کوه کوم به چې تا کولو، بيا مالِک ما ته حُکم وکړو چې ورشه او فلانکئ کپړه جوړه کړه. ما چې څنګه کپړه جوړول شروع کړل نو داسې محسوسيدله لکه زۀ چې ډير ماهِر کاريګر يم او د ډيرو کلونو نه دا کار کووم. نو ما د نورو غلامانو سره يو ځائے کار شروع کړو. هلته کار کولو کولو کښې چې راباندې ډيرې مياشتې تيرې شوې نو يوه شپه مې ښۀ ډير نفلونه وکړل او ټوله شپه مې په عبادت کښې تيره کړه، بيا په سَجْده کښې پريوتم او دا دُعا مې وکړه: "اے زما پاکه پروردګاره! ما معاف کړې، زۀ به بيا هيڅ کله د خپلې وعدې نه نۀ اوړم." ما هُم داسې [مسلسل] دُعا کوله، چې کله سحر شو او ما اوکتل نو زۀ په خپل اصلي شکل کښې بدل شوے ووم، نو زۀ يې پرينښودم. په هُم دې وجه زما نوم خيرُ النَّسَّاج يعني "رخت [کپړه] جوړولو والا خَير" مشهور شو. (عيون الحكايات ص۲۲۹) (عیون الحکایات(اردو)ج ص۴۶) د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

چاہتے ہو تم دعا اللہ فرمائے قبول     گر کے سجدے میں دعا مانگو ہو رحمت کا نزول

که غوارې ته چې الله دې کړي دُعـا قبول
سَجده کښې دُعا وکړه، د رَحمت به شي نُزُول

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۳﴾ طعام ورته حاصل شو

**حضرتِ** سَیِّدُنا اِبراهیم خَوَّاص رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه یو ځل په ځنګل کښې وو، ناڅاپه یو کس راغـے او ویـې وئیل: ”زۀ ستاسو په صُحبَت کښې اوسیدل غواړم. هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه چې هغۀ ته اوکتل نو په زړۀ کښې یـې ترې نفرت پیدا شو. په دې کښې هغۀ اووئیل: ”زۀ **عیسائي** راهِب یم. او د **رُوم** نه ستاسو په صُحبَت کښې د اوسیدو د پاره حاضر شوے یم.“ د هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه په زړۀ کښې د پیدا شوي نَفرت راز ښکاره شو، یعني دا نفرت د هغه کس د کافِر کیدو په وجه پیدا شوے وو. هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه راهِب ته اوفرمائیل: ”زما سره د خوراک څښاک هیڅ هم نشته، چرې داسې اُونۀ شي چې ته په تکلیف کښې اخته شې.“ هغه اووئیل: ”**یا سَیِّدی** په دُنیا کښې ستاسو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه د نوم شُهرَت دے. او تاسو تر اوسه د خوراک فِکرونه کوئ! د هغۀ په خبره هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه حیران شو او هغۀ ته یـې خپل صُحبَت کښې د اوسیدلو اِجازت ورکړو.“ اووه ورځې او شپې د خوراک څښاک نه بغیر تیرې شوې. هغه ویریدو او ویـې وئیل: ”**یا سَیِّدی!** بس نوره معامله زما د برداشت نه بَهر شوه، د خوراک څښاک څه اِنتِظام وکړئ.“ نو هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه په سجده کښې پریوتلو او د **الله** پاک په بارګاه کښې یـې عرض وکړو: ”**یا الله** پاکه! دا کافِر زما په باره کښې **حُسنِ ظَنّ** [یعني ښۀ ګُمان] لري. زما عِزَّت ستا په لاس کښې دے، ما د دې کافِر په مخکښې مۀ رُسوا کوې.“ د دُعا نه پس یـې **چې څنګه سر د سجدې نه راپورته کړو نو یو پَتنُوس** [یعني مَجمه، تالے، ترے] **موجود وو، او په هغې کښې دوه ډوډۍ او دوه ګلاسه اوبه وې.** چې خوراک څښاک یـې وکړو نو دواړه د هغه ځائے نه روان شو. چې نورې اووه ورځې تیرې شوې نو یو ځائے کښې کښیناستل [دا ځل] هغه راهِب په سجده کښې پریوتو او دُعا یـې وکړه. **څه**

**ګوري چې يو پَتنُوس [يعني مَجمه، ترے] راپيدا شو او په هغې کښې ځلور ډوډۍ او ځلور ګلاسه اوبه موجودې وې!** هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه حيران شو او دا سوچ يـې وکړو چې د دې نه به هيڅ هم نۀ خورم ځکه چې دا خوراک د يو کافِر د پاره راغلے دے. هغۀ اووئيل: "**يا سَيِّدي** رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه! اوخورئ او د دوو خبرو زيرے هم واورئ، "يو خو زۀ اِسلام قبلووم، چې دا يـې اووئيل نو کلِمهٔ شهادت يـې ولوستله. دويمه دا چې د **الله** تعالیٰ په بارګاه کښې ستاسو ډير لوئې مقام دے." ما په سجده کښې دا دُعا کړې وه چې، يا **الله** پاکه! که **مُحَمَّد مُصطفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم برحَقه رَسُول وي نو ما ته دوه ډوډۍ او دوه ګلاسه اوبه راعطا کړې او که اِبراهيم **خوّاص** رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ستا ولي وي نو نورې دوه ډوډۍ او دوه ګلاسه اوبه راعطا کړې." دُعا کولو نه پس چې ما خنګه سر راپورته کړو نو د خوراک دا تالے موجود وو." چې حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهيم **خوّاص** رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه دا خبره واوريدله نو طعام يـې اوخوړلو او اَلۡحَمۡدُلِلّٰه هغه نوے مُسلمَان د وِلايت اَعلیٰ درجې ته ورسيدو. (مُلَخَّص از کشفُ المَحجوب ص ۲۳۹ ،فيضان سنت ج۱ص۷۹۹) د الله رَبُّ الۡعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

خوب سجدے میں اے بھائی! گڑ گڑا کر کر دعا
کام بن جائے گا تیرا از طفیل مصطفٰی

په سَجده کښې زما وروره په ژړا کوه دُعـا
کار به سم شي ستا، په خاطر د مُصطفٰی

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## حضرت شِبلي په سَجده کښې دُعـا وکړه (حکايت)

حضرتِ (سَيِّدُنا شيخ ابوبکر) شِبلي (بغدادي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه) يو دُنيا کښې نښتے (يعني دُنيادار) سړے وليدو نو په سَجده کښې پريوتلو او دا دُعـا يـې وکړه: اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِىۡ عَافَانِىۡ مِمَّا ابۡتَلَاكَ بِهٖ وَ

فَضَّلَنِیۡ عَلٰی کَثِیۡرٍ مِّمَّنۡ خَلَقَ تَفۡضِیۡلًا (یعنی شُکر دے د هغه الله پاک چې ما ته یې د دې مصیبت نه عافِیَت راکړے دے په کوم کښې یې چې ته اخته کړے یې او ما ته یې په خپل ډېر مخلوق فضیلت راکړے دے) (مِراٰۃُ المناجیح ج۲ص۳۸۹) د الله رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## هر دِيني او دُنيوي مصيبت کښې اخته کس ليدلو باندې دا دُعـا لولئ

د دې حِکايت نقل کولو نه پس **حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: که دا دُعا په هر دِيني او دُنيوی مصيبت کښې د اخته کس په ليدلو باندې ولوستلے شي نو اِنۡ شَآءَاللّٰه لوستونکے به د هغه مصيبت نه په امان کښې اوسي. (مِراٰۃُ المناجيح ج۳ ص۳۸۹) دا دُعـا د تِرمِذي شريف په حديث نمبر 3443 کښې بيان کړے شوې ده. **حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: مصيبت اګر که **جِسماني** وي لکه برَګے مَرَض [يا جُذام]، ړنديدل يا بله څه بيماري، يا مالي [مصيبت] لکه قرض، فَقر، د رِزق تنګي وغيره، يا دِيني [مصيبت] لکه کفر، فِسق، ظُلم، (بد) بِدعَت وغيره، غرض دا چې د هر مصيبت د پاره دا دُعا اِکسِير ده. (مرقاۃالمفاتيح ج ٥ ص ٢٨٣ تحت الحديث ٢٤٢٩) دا دُعـا ډيره په قلاره لوستل پکار دي چې هغه مصيبت کښې اخته کس يې نۀ اوري، [ګني] هغه به غمژن شي. (لمعات ج۳ ص٦١٠) (مِراٰۃ ج ٤ ص ٣٨)

## درې بيمارۍ ناخوښه مۀ ګڼئ

درې قِسمه بيمارۍ (۱) زُکام (۲) خارښ او (۳) آشوبِ چشم (يعني د سترګو خُوګيدلو) کښې اخته کس چې اُووِينئ نو دا دُعـا مه لوَلئ. (مَلفُوظاتِ اعلیٰ حضرت ص۷۰ مُلَخَّصاً) د دې بيمارو په فائدو ښودلو کښې اعلیٰ حضرت فرمائي: د حُضور سرورِ کائنات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حديث دے چې درې بيمارۍ مکروه مه ساتئ (يعني بدې مه ګڼئ). ﴿۱﴾ زُکام: ځکه چې د دې په وجه د ډيرو بيمارو جرړه کټ شي ﴿۲﴾ خارښ: ځکه چې د دې په وجه د خرمني د بيمارو

جُذام وغیره اِنسِداد کیږي (یعني مخ نیوے کیږي). ﴿۳﴾ آشوبِ چشم: [یعني د سترګو خُوګیدلو بیماري) نابینا کیدل (یعني ړندیدل) دفع کوي. (مَلفوظاتِ اعلیٰ حضرت ص ۷۰ مُلَخَّصاً)

ہر برائی سے تو بچا یارب! دیدے امراض سے شفا یارب!

هري بدئ نه مي وساته یا رب لـه مرضـونـو شِفاء را یا رب

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## شیطان په ژړا وتښتي

شیطان چي سَجْده کوونکے اُووِیني نو سخت خفه کیږي چي افسوس! د سجدې په بَرَکت به دے جَنَّت ته لاړ شي او زهٔ به جَهنَّم ته ځم! په دې باره کښې د سرکارِمدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: "چي کله انسان د سجدې آیت ولولي او سَجْده کوي نو شیطان په ژړا وتښتي، او وائي: افسوس! انسان ته د سجدې حُکم وشو، هغه سَجْده وکړه او هغه ته جَنَّت مِلاؤ شو، ما ته د سجدې حکم وشو، ما انکار وکړو او ما ته دوزخ مِلاؤ شو." (مُسلِم ص ۵۸ حدیث ۲٤٤)

## دلته کومه سَجْده مراد ده

حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د دې حدیثِ پاک لاندې فرمائي: یعني انسان چي په سَجْدهٔ تِلاوت کولو اُووِیني نو شیطان ارمان کوي او د هغه ځائے نه تښتي، ځکه چي دا سَجْده د نمانځهٔ د سَجدې نه علاوه ده او شیطان چي د کومې سجدې انکار کړے وو هغه هُم د نمانځهٔ د سجدې نه علاوه [سجده] وه، ځکه هغه ته د دې (یعني د تلاوت د سجدې په لیدلو ارمان ورځي، د نمانځهٔ په سجده نه، ځکه چي د نمانځهٔ سجدې خو هغه پخپله هُم [ډیرې] کړې دي. (مِراٰةُ المناجیح ج ۲ ص ۸۳)

## د سَجْدهٔ تِلاوت 14 آداب

﴿۱﴾ د سجدې آیت لوستلو یا اوریدلو باندې سجده واجب کیږي. (الهدایه ج۱ ص۸۷)

﴿۲﴾فارسي يا بله ژبه کښې يې (هُم که) د آيت ترجَمه ولوستله نو لوستونکي او اوريدونکي باندې سَجده واجِب شوه، که اوريدونکے په دې پوهه شوے وي او که نهٔ چې دا د آيتِ سَجده ترجَمه ده، البته دا ضروري ده چې که هغهٔ ته معلومه نهٔ وي نو چې چا ورته وئيلي وي چې دا د آيتِ سَجده ترجَمه وه او که د سجدې آيت [په عربئ کښې] لوستلے شوے وي نو د دې خبرې ضرورت نشته چې اوريدونکي ته دې دا وئيلې شوي وي چې دا آيتِ سَجده وو. (عالمگیری ج۱ ص۱۳۳) ﴿۳﴾ لوستلو کښې دا شرط دے چې په دومره آواز کښې وي چې که څه عُذر نهٔ وي چې پخپله يې اوريدلے شي ﴿٤﴾ د اوريدونکي د پاره دا ضروري نهٔ دي چې بِٱلقَصد (يعني ارادتاً) يې اوريدلے وي، بِلاقصد (يعني بې اراده) اوريدلو باندې هُم سَجده واجِب کيږي. (بهارشريعت ج۱ ص۷۲۸) ﴿۵﴾ که په دومره آواز يې آيت ولوستلو چې اوريدلے يې شو خو د شور يا کيدلو په وجه يې وانوريدو نو سَجده پرې واجب شوه او که صرف شونډې يې اوخوزيدلې خو آواز پيدا نهٔ شو نو واجِب نهٔ شوه. (عالمگیری ج۱ ص۱۳۲ وغیره) ﴿٦﴾ سَجده واجِب کيدلو د پاره پوره آيت لوستل ضروري نهٔ دي بلکې هغه لفظ چې په هغې کښې د سَجدې مادَّه (يعني لفظ) وي او د هغې سره مخکښې يا وروستو يو لفظ يو ځائے لوستل کافي دي. (رَدُّالْمُحْتَار ج۲ ص٦٩٤) ﴿۷﴾ د سَجدۂ تِلاوت طريقه: د سجدې مَسنُون طريقه دا ده چې په ولاړه اَللّٰهُ اَکبَر [وئيل شروع کړي او] وئيلو وئيلو کښې سجدې له لاړ شي او کم نه کم درې ځله سُبۡحٰنَ رَبِّیَ الۡاَعۡلٰی اُووائي، بيا اَللّٰهُ اَکبَر وئيلو وئيلو کښې ودريږي، مخکښې او وروسته دواړه ځله اَللّٰهُ اَکبَر وئيل سُنَّت دي. او د ولاړې نه سجدې له تلل او د سجدې نه پس ودريدل دا دواړه قيام مُستَحَب دي. (عالمگیری ج۱ ص۱۳۵، دُرِّ مُختار ج۲ ص٦٩٩ وغیرهما) ﴿۸﴾ د سَجدۂ تِلاوت د پاره اَللّٰهُ اَکبَر وئيلو وخت کښې نهٔ لاس اوچتول دي، نهٔ په دې کښې تَشَهُّد (يعني اَلتَّحِيّات) شته او نهٔ سلام. (تَنوِيرُالْاَبْصار ج۲ ص۷۰۰) ﴿۹﴾ د دې په نِيَّت کښې دا شرط نشته چې د فلانکي آيت سَجده ده، بلکې مطلقاً د سَجدۂ تِلاوت نِيَّت کافي دے. (دُرِّ مُختار و رَدُّالْمُحْتَار ج۲ ص٦٩٩) ﴿۱۰﴾ که آيتِ سَجده يې د نمانځهٔ نه بهر ولوستلو

نو فوراً سَجْدہ کول واجب نۀ دي خو بهتره ده چې فوراً يـې وکړي او که اودس يـې وي نو تاخير کول مکروهِ تنزيهي دي. (دُرِّمُختار ج۲ ص۷۰۳) ﴿۱۱﴾ هغه وخت که په څه وجه سَجْدہ اونکړے شي نو تلاوت کوونکي او سامِع [يعنې اوريدونکي] د پاره دا وئيل مُسْتَحَب دي: سَمِعۡنَا وَ اَطَعۡنَا ٭ غُفۡرَانَكَ رَبَّنَا وَ اِلَيۡكَ الۡمَصِيۡرُ ﴿۲۸۵﴾ [مَفهوم] ترجمهٔ کنزُالایمان: مونږه واوريدل او مونږه اومنل، ستا [له طرفه] دې بخښنه وي اے ربـه زمونږه، او هُم ستا په طرف ګرځيدل دي. (پ ۳، البقرة: ۲۸۵) (رَدُّالْمُحْتَار ج۲ ص۷۰۳) ﴿۱۲﴾ که په يو مَـجلِس[1] کښې يـې د سجدې آيت بيا بيا ولوستو يا واوريدو نو صرف يوه سَجْدہ به واجِب کيږي، اګر که يو څو کسانو نه يـې اوريدلے وي، هُم داسې که يو آيت يـې ولوستلو او هُم هغه آيت يـې د بل کس نه [په هُم هغه مَـجلِس کښې] واوريدو نو صرف يوه سَجْدہ به واجب کيږي. (دُرِّمُختار و رَدُّالْمُحْتَار ج۲ ص۷۱۲) ﴿۱۳﴾ پوره سُورت لوستل او آيتِ سَجْدہ پريښودل مکروهِ تَحرِيمي دي او صرف آيتِ سَجْدہ لوستلو کښې کراهَت نشته، خو بهتره دا ده چې يو دوه آيتونه ورسره وړومبې يا وروستې يو ځائے کړي. (دُرِّمُختار ج۲ ص۷۱۷ وغيره)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## حاجت پوره کيدلو د پاره

﴿۱٤﴾ (د اَحنافو يعنې حَنَفيانو په نزد په قرآنِ پاک کښې د سجدې 14 آيتونه دي) د څه مقصد د پاره چې [څوک] په يو مَـجلِس کښې د سجدې ټول (يعنې 14) آيتونه ولولي او سجدې وکړي الله پاک به د هغۀ مقصد پوره کړي. که غواړي يو يو آيت دې لولي او د هغې سَجْدہ

[1] د مجلِس بدليدلو او نه بدليدلو صورتونه: يو دوه نوړئ [يعني لُقمے] خوړلو، يو دوه ګُوټه اوبه څښلو، اودريدلو، يو دوه قدمه تللو، د سلام جواب ورکولو، يو دوه خبرې کولو، [يا] د مکان د يوې حِصَّے نه بلې حِصَّے طرف ته تللو باندې مَـجلِس نه بدليږي... دريې نوړئ [يعني لُقمے] خوړلو، دريې ګُوټه اوبه څښلو، دريې کلمے [يعني دريې خبرې] کولو، دريې قدمه ميدان کښې تللو، نـکاح کولو يا اخستلو خرڅولو، [او] په ملاسته اودۀ کيدلو سره مَـجلِس بدليږي. (بهارِشريعت ج۱ ص۷۳٦ مختصراً)

دې کوي يا دې ټول ولولي او په آخره کښې دې 14 سجدې وکړي. (بهارِشريعت ج۱، ص ۷۲۸۔ ۷۳۸ مُلَخَّصاً)

## د سندرو شوقي زلـمے د قرآن قاري جوړ شو

د ډيرو ډيرو سجدو سوچ جوړلو د پاره او فيضانِ قرآن [يعنې د قرآن برکتونه] حاصلولو او سُنَّتونو باندې عمل کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامل اوسئ او مَدرَسةُ الْمَدِينه (بالِغان) کښې لوستلو يا نورو ته د سبق وئيلو او د مَدَني قَافِلو مسافر جوړيدلو او نور خلک د مَدَني قَافِلو مسافر جوړلو د پاره ډير ډير کوششونه جاري ساتئ. **مَدَنـي سپرلے**: د کراچۍ په علاقه اورنګي ټاؤن کښې يو ماډرن زلـمے اوسيدلو. د بدو دوستانو د صُحبت په وجه يـې د فلمي سندرو اوريدلو داسې بد عادت وو چې اکثر به يـې ځان سره څه نا څه سندره وئيله. يوه ورځ سندره اوريدلو کښې مشغول وو چې ناڅاپه يـې په زړۀ کښې خيال راغـے چې ''**که په هُم دې حالت کښې مړ شم نو زما سره به څه کيږي؟**'' بس چې څنګه دا خيال ورغلو نو يوه ويره شان پرې راغله. چې د کوره بهر اووتلو نو خوش قِسمَتئ سره يـې ملاقات''**دعوتِ اسلامي**'' کښې شامل يو اِسلامي ورور سره وشو، هغوئ پرې اِنفرادي کوشش وکړو او ترغيب يـې ورکړو چې د ماسخوتن د نمانځۀ نه پس جومات کښې مَدرَسةُ الْمَدِينه (بالِغان) کښې د قرآنِ مجيد [ناظره] تعليم ورکولے کيږي، تاسو هُم راځئ. د هغه اِسلامي ورور دا دعوت يـې چې واوريدو نو هغۀ ته داسې محسوسه شوه چې رَحِيم و کريم **پَروَرْدګار** زما د رهنُمائي [يعنې لار ښودنې] د پاره دا نيک بنده راليږلے دے، نو هغه فوراً تيار شو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه هغۀ باقاعده په مَدرَسةُ الْمَدِينه (بالِغان) کښې سبق وئيل شروع کړو. صرف يو څو ورځو کښې د دغه ځائے ديني ماحول هغه د نيکۍ په لاره روان کړو. يو ماسخوتن چې کله په مَدرَسةُ الْمَدِينه (بالِغان) کښې د سُنَّتو ډک بيان ''**مردے کے صَدمے**'' [يعنې ''**د مړي غمونه**''] اوچلولے شو نو د هغۀ په زړۀ يـې ډير اثر وکړو او د **الله** پاک د ويرې نه په لړزان شو، په خپل تير شوي ژوند باندې ورته پښيمانتيا محسوسيدل

شروع شو او په زړهٔ کښې يې د خپل حال صحيح کولو جذبه پيدا شوه، د خپلو ګناهونو نه يې د زړهٔ په اخلاص توبه وکړه او د خپل آخرت بهترولو د پاره د **دعوتِ اسلامي** خوشبودار ماحول کښې شامل شو. هُغه کس چې پرون به يې ځان سره سندرې وئيلې، اوس يې د خوږ مُصطَفیٰ ﷺ نعتونه وئيل شروع کړل. د دعوتِ اسلامي ديني کارنو کولو کولو کښې د ''نيک اعمال'' ذِمَّه دار هُم جوړ شو، هغه اوس دا دُعـا کوي چې **الله** پاک دې زما خاتمه د ايمان د سلامتئ سره په هُم دې خوشبودار ديني ماحول کښې رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

بری صحبتوں سے کنارہ کشی کر

کے اچھوں کے پاس آکے پا مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٦)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د سجدو په کثرت درجات اوچتيدل

د تابِعي بزرګ حضرتِ سَيِّدُنا مَعدان بِن ابو طلحه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه رِوايت دے چې صحابِيِ رَسُول حضرتِ سَيِّدُنا **ثَوبان** رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره زما ملاقات وشو، ما هغوئي ته عرض وکړو: ما ته داسې عمل اوښايئ چې هغه زهٔ وکړم نو د هغې په بَرَکت **الله** پاک ما په جَنَّت کښې داخل کړي، يا (ما دا اُووئيل چې) ما ته د **الله** پاک د ټولو نه خوښ عمل اوښايئ. حضرتِ سَيِّدُنا ثَوبان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خاموش پاتې شو. ما ترينه بيا تپوس وکړو، هغوئي خاموشه پاتې شو. چې ما ترينه دريم ځل تپوس وکړو، نو ويې فرمائيل: ما د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه په دې باره کښې تپوس کړے وو نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي وو، ''په کثرت سره سجدې کوه ځکه چې ته کله هُم د **الله** پاک د پاره سَجْده وکړې، **الله** پاک به ستا يوه درجه اوچته کړي

او د هغې په بدله کښې به ستا يوه خطا معاف کړي." (مُسلِم ص۱۹۹ حديث ۱۰۹۳) په يو رِوايت کښې دا هُم دي چې **الله** پاک د دې په سبب د **سَجْدہ** کوونکي د پاره يوه نيکي ليکي.

(اِبنِ مَاجَه ج ۲ ص ۱۸۲ حديث ۱٤۲٤)

## د سُنَّت ادا کولو جذبه

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحمَةُ اللهِ عَلَيه د ورومبي حديثِ پاک د دې حِصَّې (ما د رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه په دې باره کښې تپوس کړے وو) نه لاندې فرمائي: يعنې ما هُم د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه درې ځله دا تپوس کړے وو، دوه ځله حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خاموشه پاتې شوے وو او په دريم ځل يې جواب راکړے وو. (مِرقات ج۲ ص٦١٦) په هُم دې سُنَّت باندې د عمل کولو په وجه زۀ هُم دوه ځله خاموشه پاتې شوم. د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا خاموشي د تپوس کوونکي د شوق زياتولو د پاره وه او د حضرتِ سَيِّدُنا ثَوبان رَضِىَ اللّٰهُ عَنهُ خاموشي په هُم دې سُنَّت باندې د عمل کولو د پاره وه. صحابۀ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان به د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اداګانو نقل کولو. مُفتي صاحِب د حديثِ پاک د دې حِصَّې (په کثرت سجدې کوه) نه لاندې فرمائي: داسې چې نفلونه زيات کوه او د قرآنِ کريم تِلاوت کثرت سره کوه، **سَجدۀشُکر** زياتې کوه. د حديث د دې حِصَّې (د هغې په بدله کښې به ستا يوه خطا معاف کړي) نه لاندې فرمائي: د دې نه معلومه شوه چې سجده د ګناهونو کفّاره ده خو د ګناهونو نه مُراد د حُقُوقُ الله صغيره (يعنې واړه ګناهونه) دي، حُقُوقُ العِباد (يعنې د بندګانو حقونه) ادا کولو [او توبه کولو] سره او ګُناهِ کبيره (يعنې غټ ګناهونه) توبه کولو سره معاف کيږي.

(مِرآةُ المناجيح ج ۲ ص ۸۵)

## درجه اوچتيدلو او نيکۍ ليکلو کښې فرق

**حضرتِ** عَلَّامه عبدُ الرَّؤُوف مُناوِي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه يو سوال قائموي چې **درجه اوچتيدلو** او **نيکۍ ليکلو** کښې څه فرق دے؟ حالانکې د نيکو ليکلو په سبب درجه اوچتيږي. بيا د

دې په جواب کښې اِرشاد فرمائي: درجه اګر چې د نيکو ليکلو په سبب اوچتيږي خو سبب جُدا وي او مُسَبَّب (يعنې د سبب نتيجه) جُدا وي، لِهذا دا دوه څيزونه شو، او کله داسې هُم وي چې د نيکو ليکلو په وجه درجه نۀ اوچتيږي بلکې څه بله ګناه ختمه [يعنې معاف کړے شي. (فيض القدير ج ٥ ص ٦٢١)

## د سَجدې اندامونه به د دوزخ د وور نه محفوظه اوسي

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ رِوايت کوي چې تاجدارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: د سجدې د نښې نه علاوه به د انسان ټول بدن وور سوزوي، **الله** پاک په جَهنَّم باندې حرام کړې دي چې هغه د سجدې نښه اوسوزوي. (مُسلِم ص٩٦ حديث٤٥١)

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَيۡہ د دې حديثِ پاک نه لاندې ليکي: يعنې د دوزخ وور به د هغه خلکو (يعنې کوم مسلمانان به چې دوزخ ته ځي) ټول اندامونه سيزي خو تندے به يې نه شي سيزلے، بعضې شارِحينو فرمائيلي دي: د سَجدې اووه واړه اندامونه (يعنې تندے، دواړه لاسونه، دواړه زنګونان، او دواړه ښپې) به **محفوظه** اوسي. (اَشِعَّه، ج٤، ص٤١٨) بعضې شارِحينو فرمائيلي دي چې د دې نه مُراد پوره مخ دے، د دې قَول تائيد د بُخاري شريف د دې حديث نه کيږي چې "وَيُحَرِّمُ اللهُ صُوَرَهُمْ عَلَى النَّارِ"[1] (يعنې **الله** پاک به د هغوئي صورتونه په وور باندې حرام کړي). (مِراٰةُ المناجيح ج ٧ ص ٤٣٧ مُلَخَّصاً)

## غواړه! څه غواړې؟

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو فِراس رَبِيعه بِن کَعب اَسۡلَمِي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه رِوايت دے چې زۀ به د شپې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر اوسيدم، يوه شپه مې د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اوداسه د پاره اوبه وغيره ضروريات راوړل (د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رَحمت درياب

1 (بُخاری ج ٤ ص ٥٥٤ حديث ٧٤٣٩)

په جوش کښې راغے او) اِرشاد یې وفرمائیلو: غواړه! څه غواړې؟ (چې مونږه یې تا ته عطا کړو) ما عرض وکړو: اَسۡأَلُكَ مُرَافَقَتَكَ فِي الۡجَنَّةِ یعني ''زهٔ په جَنَّت کښې ستاسو ملګرتیا غواړم.'' هغوئ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: څه نور؟ ما عرض وکړو: زما مُراد خو صرف دا دے. هغوئ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل:: فَاَعِنِّيۡ عَلٰى نَفۡسِكَ بِكَثۡرَةِ السُّجُوۡدِ یعني تهٔ په کثرت سره سجدې کولو باندې په خپل نفس زما مدد وکړه. (مُسلِم ص ۱۹۹ حديث ۱۰۹۴)

سائل ہوں ترا، مانگتا ہوں تجھ سے تجھی کو    معلوم ہے مجھ کو تری اقرار کی عادت

## د حضرتِ رَبیعه تعارُف

د حضرتِ سَیِّدُنا رَبیعه بن کعب رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ کُنیَت ''اَبُوفِراس'' دے، [هغوئ] اَسلمي دے. د اصحابِ صُفَّه نه دے. زوړ [یعني اولنو صحابه کښې شامل] صحابي دے، د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سَفَر او حَضَر خاص خادِم دے، په 63هـ کښې یې وِصال وشو. (مِراٰة ج۲ ص۸۳)

**د اللّٰهُ رَبُّ الۡعِزَّت دې په هغوئ رَحمت وي او د هغوئ په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيۡن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## اختیاراتِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّم

د حَنَفِیانو زبردست پیشوا حضرتِ سَیِّدُنا عَلّامه علي قاري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې حدیثِ پاک نه لاندې فرمائي: رَسُولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې مُطلَقاً (یعني د څه قید او حد بندئ نه بغیر) اُوفرمائیل: ''اوغواړه! څه غواړې؟'' د دې نه معلومه شوه چې **اللّٰهُ کریم** هغوئ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د دې خبرې قُدرت ورکړے دے چې د **اللّٰه** د خزانو نه څه غواړي ورکړي، په هُم دې وجه زمونږه اَئِمَّهٔ کرامو رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِم فرمائیلي دي چې د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خُصُوصِیاتو نه دا دي چې هغوئ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څوک هُم د څه حُکم سره اوغواړي خاص یې کړي، څنګه چې هغوئ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرتِ سَیِّدُنا خُزَیمه بن ثابِت رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ یواځې ګواهي د دوو ګواهانو برابره قرار کړه. او هغوئ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرتِ سَیِّدَتُنا اُمِّ عَطِیه رَضِيَ اللهُ عَنۡهَا ته د یو خاص خاندان د

پاره د نوحه اجازت ورکړو. حضرتِ سَیِّدُنا امام ابُو زَکرِیّا یحیٰ بِن شَرَف نَوَوِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه لیکي: د رسولِ اَنام صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره جائز دي (یعني د **الله** پاک له طرفه اجازت دے) چې د عامو احکامو نه څوک غواړي خاص کړي او د حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو بُـردَه بِن نِیار رَضِىَ اللهُ عَنْهُ وغیره د پاره یـې د شپږو میاشتو چیلئ د قربانئ د پاره جائز کړه او عَلّامه اِبنِ سَبُع رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خُصُوصِیاتو کښې ذِکر کړي دي چې **الله** پاک هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جَنَّت د ځمکې مالِک جوړ کړے دے، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د هغې نه څه اوغواړي چا له یـې اوغواړي ور عطا یـې کړي. (مِرقاةُالْمَفَاتیح ج ۲ ص ٦١٥)

مالک کونین ہیں گو پاس کچھ رکھتے نہیں   دو جہاں کی نعمتیں ہیں ان کے خالی ہاتھ میں

(حدائقِ بخشش ص ۱۰۳)

مالِک د دو جهان دے مګر څان سره څه نه ساتي   تَـشو لاسو کښې لري خزانې د دواړو جهانو

## څۀ چې هم اوغواړئ حضور ﷺ یـې عطا کوي

حَکیمُ الاُمَّت **حضرت** مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د حدیثِ پاک د دې حِصّې (زهٔ په جَنَّت کښې ستاسو سره ملګرتیا غواړم) نه لاندې فرمائي: یعني تاسو ما جَنَّت کښې څان سره وساتئ څنګه چې بادشاهان په شاهي قَلعو کښې خپل خاص خادِمان څان سره ساتي. خیال ساتئ! چې حضرتِ ربیعه (رَضِىَ اللهُ عَنْهُ) چې په دې ځائے کښې د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه (جَنَّت کښې رَفاقَت (یعني ملګرتیا) غوښتې وه نو ضِمناً) یـې دا څیزونه هُم اوغوښتل [یعني په جَنَّت غوښتلو کښې دا ټول څیزونه راغلل یعني دا څیزونه چې]: په ژوند کښې په ایمان باندې اِستِقامت، د نیکو تَوفِیق، د ګناهونو نه بچ اوسیدل، د مرګ په وخت کښې په ایمان خاتِمه، د قَبْر په حساب کښې کامیابي، په حشر کښې د اعمالو قَبولِیَّت، پُل صِراط باندې په خیر تیریدل، په جَنَّت کښې د رَبِّ کَرِیم فضل او اوچتې مرتبې، دا ټول څیزونه صحابي د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوغوښتل او حُضُور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) صحابي ته عطا کړل، لِـهذا

**مونږه هُم د حُضُور** ﴿صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم﴾ نه ايمان، مال، اولاد، عِزَّت، جَنَّت هر څه غوښتلے شو، دا غوښتل سُنَّتِ صحابه دي، د حُضُور ﴿صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم﴾ د لنګر نه به تر قيامته پورې دا هر څه تقسيميږي او مونږ سوالګر به يـې ترينه اخلو. صوفيا فرمائي چې حضرت رَبِيعه ﴿رَضِيَ اللهُ عَنْهُ﴾ د حُضُور ﴿صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم﴾ نه د حُضُور ځان مبارک اوغوښتلو خو ولې چې حُضُور ﴿صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم﴾ به په جَنَّت کښې ملاويږي، لِـهذا د جَنَّت ذِکر يـې هُم وکړو. د حديثِ پاک د دې حِصَّې "په کثرتِ سُجُود (يعني د سجدو په کثرت) زما مدد وکړه" نه لاندې فرمائي: يعني جَنَّت کښې ستا اعلیٰ مُقام ته رَسَوَل زما په کرم دي صرف ستا په سجدو باندې نهٔ دي، تهٔ په خپلو سجدو زما په دې کار کښې اِمداد وکړه. عَلٰی نَفْسِكَ (يعني په خپل نفس باندې) فرمائيلو کښې اشارتاً فرمائيلے شوي دي چې د نفس مُخالَفَت د جَنَّت (حاصلولو) ذريعه ده. ﴿مِرقات﴾ کثرتِ سُجُود (يعني د سجدو د کثرت) نه اوښودلے شوه چې فقط پينځهٔ وخته نمونځ باندې کفايت مه کوه بلکې (يعني پينځهٔ وخته نمونځ سره سره) نوافِل (هُم) ډير ډير کوه چې زما د قُرب (يعني نزديکت) لائق جوړ شې. لکه بادشاه چې اُووائي چې زما څنګ ته راځې نو ښهٔ لباس واغونده. حاضري د بادشاه په کرم ده او ښهٔ لِباس د دربار د آدابو نه دے.

مالک ہیں خزانہ قدرت کے جو جس کو چاہیں دے ڈالیں
دی خلد جناب ربیعہ کو بگڑی لاکھوں کی بنائی ہے

مالک دے د قُدرت د خزانو چا له څه غواړي ورکوي
رَبِيعه ته يـې ورکړو جَنَّت، د اُمَّت وران کارونه سَمَوي

## اوچتې مرتبې د نفس په مُخالَفَت حاصليږي

**حضرتِ** سَيِّدُنا شَيخ عَبدُ الحق مُحَدِّث دِهلوي ﴿رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه﴾ د حديثِ پاک د دې حِصَّې (کثرت سره سجدې کولو باندې په خپل نفس زما مدد وکړه) نه لاندې فرمائي: دا فرمان هُم داسې دے څنګه چې طبيب مريض ته وائي: زهٔ به ستا علاج په داسې دوائي باندې کووم چې په هغې به تا ته شِفاء حاصله شي خو ته پرهيز او زما په خبرو عمل کولو کښې زما مدد (يعني ما سره تعاون) وکړه، او د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم [د دې الفاظو يعني] "په خپل

نفس باندې“ فرمائيلو کښې د دې خبرې تنبيه (يعنې خبردارے) دے چې اوچتې مرتبې صرف د نفس د مُخالَفت په ذريعه حاصليږي. (لمعات التنقيح ج ۳ ص ۱۷۳ مُلَخَّصاً)

د دې حديثِ پاک نه دا هُم معلومه شوه چې د بُزُرگانو خدمت کول او په کوم کار چې هغوئي خوشحاليږي، هغه پوره کول په حقيقت کښې د فضيلت او سعادت حاصلولو ذريعه ده، خاص طور د سرکارِ دوعالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رِضا (يعنې خوشحاليدل) په نظر کښې ساتل خو د دِين او دُنيا د ټولو نه لوئي سعادت او نيکي ده. (اَشِعَّةُ اللّمعات (اُردو) ج ۲، ص ۲۴۷)

## زيرے اوريدلو باندې سجده کول سُنَّتِ مُستَحَب دي

اے د نمانځهٔ عاشقانو! چې کله د خوشحالئ خبر واوريدے شي، نو دوه رکعاته د شُکرانې نمونځ ادا کول يا سَجدهٔشُکر ادا کول پکار دي. ”دِينې يا دُنيوي خوشحالئ خبر اوريدلو باندې په سَجده کښې پريوتلو ته سَجدهٔشُکر وائي. (مِراٰةُ المناجيح ج ۲ ص ۳۸۸) حضرتِ سَيِّدُنا ابو بَکره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ روايت کوي چې کله به رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د څه خوشحالئ خبر را ورسيدو يا به هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوشحاله شولو نو د الله پاک شُکر ادا کولو کښې به يې سَجده کوله (اَبوداؤد ج ۳ ص ۱۱۷ حديث ۲۷۷۴) حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: سَجدهٔشُکر ادا کول د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُمْ نه ثابت دي. (مِراٰةُ المناجيح ج ۲ ص ۳۸۹ ماخوذاً) آيا مونږه هُم کله د څه خوشحالئ په موقع سَجدهٔشُکر ادا کړې ده؟ د ”مَلفُوظاتِ اعلیٰ حضرت“ نه دوه عَرض و اِرشاد واورئ، عرض: سَجدهٔشُکر مَسنُون ده که مُستَحَب؟ اِرشاد: سُنَّتِ مُستَحَبّه ده. کله چې د اَبُو جَهل لعِين کټ کړے سر حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته راوړے شو نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سَجدهٔشُکر وکړه. عَرض: که چا د سَجدهٔشُکر نِيَّت د نمانځهٔ په سَجده کښې وکړو نو څه باک خو نشته؟ اِرشاد: هيڅ باک نشته او بهتره دا ده چې د نمانځهٔ نه علٰيحده يې وکړي. (مَلفُوظاتِ اعلیٰ حضرت ص ۱۴۶، ۳۷۹) ”بهارِ شريعت“ کښې دي: سَجدهٔشُکر مَثَلًا د چا اولاد پيدا شو يا ورته دولت حاصل شو، ورک شوے څيز يې اوموندو، يا مريض جوړ شو يا مسافر واپس راغلو، غرض دا

چې هر نعمت وي په هغې سَجدۂشُکر کول مُستَحَب دي“ (بهارشريعت ج١ص٧٣٨تا٧٣٩) **اللہ** کريم دې مونږ ته هُم په خوشخبرئ اوريدلو باندې د سَجدۂشُکر ادا کولو توفيق راکړي. د **اللہ** پاک په کرم که تاسو ته دا خوشخبري درکړے شي چې ستاسو د حج يا عُمرې او د مدينے مُنَوَّرې د حاضرئ وِيزه ولګيدله نو په دې سَجدۂشُکر کول پکار دي. ؎

اے کاش! کوئی آکر، کہدے مرے کانوں میں
چل! تجھ کو مدینے میں سرکار بلاتے ہیں

کاش چې! راشي څوک او راته اُووائي په غوږ کښې
روانيږه! ته غوښتلے مُصطَفیٰ يــې مدينے ته

## د سَجدۂشُکر طريقه

د سَجدۂشُکر (او سَجدۂتِلاوت) دواړو يوه طريقه ده. د مَکتَبَۃُالْمَدِينه د 1250 صفحو کتاب **بهارشريعت** جِلد اَوَّل صفحه 731 کښې دي: (د تلاوت او شُکر) د سجدې مَسنُون طريقه دا ده چې (په اودراسه کښې) په ولاړه اَللّٰهُ اَکبَر [وئيل شروع کړي او] وئيلو وئيلو کښې سجدې له لاړ شي او کم نه کم درې ځله سُبحٰنَ رَبِّیَ الْاَعلٰی اُووائي، بيا اَللّٰهُ اَکبَر وئيلو وئيلو کښې ولاړ شي، مخکښې او وروسته دواړه ځله اَللّٰهُ اَکبَر وئيل سُنَّت دي. او د ولاړې نه سجدې له تلل او د سجدې نه پس ودريدل دا دواړه قيام مُستَحَب دي. (بهارشريعت ج١ص ٧٣١) ﴿٨﴾ د سَجدۂ تِلاوت (او سَجدۂشُکر) د پاره اَللّٰهُ اَکبَر وئيلو وخت کښې نۀ لاس اوچتول دي نۀ په دې کښې تَشَهُّد (يعني اَلتَّحِيّات) شته او نۀ سلام. (بهارشريعت ج١ص ٧٣٣)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## سجده کښې يــې تندي ته نُقصان ورسيدو

حضرتِ سَيِّدُنا ابو اسماعيل مُرَّه رَحمَۃُ اللّٰهِ عَلَیه به هره ورځ يو زر نفلونه ادا کول او چې کله د

ډیر عُمر شولو نو 400 نفلونه به یې ادا کول. (البداية والنهاية ج٥ ص٥٦٥) حارِث غَنَوِی وائي چې ”یو ځل هغوئي دومره اوږده سَجْده وکړه، تر دې چې خاورې د هغوئي تندي ته نقصان اورسوو.“ هغوئي په 76 هِجري کښې وفات شولو. (تهذيب التهذيب ج٨ ص١٠٧) (152 رحمت بهری حکایات ص٤٧ تا٤٨)

## نوراني تندے

**حضرتِ** سَیِّدُنا ابُو اِسماعِیل رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ چې کله وفات شو نو د کور په کسانو کښې چا په خوب کښې په داسې حال کښې ولیدو لکه د هغوئي د سجدې ځائے [یعني تندے] چې د ځلیدلي ستوري په شان روښانه دے، نو عرض یې ورته وکړو چې دا ستاسو په مخ څه دي؟ هغوئي اُوفرمائیل: ”زما تندي ته چې خاورې نقصان رسولے وو د هغې په وجه زما تندے نُوراني کړے شو.“ عرض یې ورته وکړو: آخرت کښې تاسو ته څه مُقام حاصل شو؟ هغوئي اُوفرمائیل: ”بهترین کور دے، چې د هغې اوسیدونکي د دې ځائے نه نۀ مُنتقل کیږي او نۀ هغوئي ته مرګ راځي.“ (المنامات مع موسوعة للامام اِبنِ اَبِي الدنيا ج٣ ص٥٦)

## د رحمت نه ډک حکایت

دا هُم منقول دي چې حضرتِ سَیِّدُنا ابُو اِسماعِیل رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د وفات نه پس چا په خوب کښې ولیدو چې د هغوئي د سجدې ځائے نُور جوړ شوے دے نو تپوس یې ترینه وکړو چې تاسو چرته یې؟ هغوئي جواب ورکړو: ”زۀ په داسې کور کښې یم چې د دې اوسیدونکي به نه د دې ځائے نه سفر کوي او نه به دوئي ته مرګ راځي. **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د څه خوړولو نه بغیر سَجْده کول غوره دي

”اِحیَاءُ الْعُلُوم“ کښې دي: د (تابِعِي بُزُرګ) حضرتِ سَیِّدُنا عُمر بن عبدُ العزیز رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ

عادت مبارک وو چې همیشه به یې سَجْدہ په ځمکه کوله، د سجدې په ځائے به یې مُصَلّٰی وغیره نهٔ خوروله.“ (اِحْیَاءُ الْعُلُوم ج۱ ص ۲۰۴) (اِحْیَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج۱ ص ٤٦٦) او ”**بَہارِ شرِیعت**“ کښې هُم بِلا حائل (یعني بغیر د څه خورولو نه) سَجْدہ کول **مُسْتَحَب** لیکلي شوي دي. (اوګورئ بهارشریعت ج۱ ص ٥٣٨) تاجدارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: ”د **الله** پاک په نزد د بنده دا حالت د ټولو نه زیات خوښ دے چې هغه په **سَجْدہ** کولو اُووِیني چې مخ په خاورو باندې مږي.“ (مُعْجَم اَوْسَط ج ٤ ص ٣٠٨ حدیث ٦٠٧٥)

## په خاورو خړ تندي فضیلت

تر څو پورې چې د نمونځ کوونکي په تندي باندې د سجدې په دوران کښې لګېدلې خاوره پاتې وي، فرښتې [د هغه د پاره مسلسل] د بخښنې دُعـا غواړي، څنګه چې شَهَنشاهِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: ”په تاسو کښې چې کوم کس تر څو پورې د نمانځهٔ نه فارِغه نهٔ شي خپل تندے دې نهٔ صفا کوي ځکه چې تر څو پورې د هغه په تندي باندې د نمانځهٔ د سجدې نښه پاتې وي فرښتې د هغه د پاره مُسلسل د بخښنې دُعـا کوي.“ (مُعْجَم کبِیر ج ۲۲ ص ٥٦)

(د نمانځهٔ په دوران کښې) د **تندي** نه خاوره یا ګیا لرې کول مکروهِ (تنزیهی) دي، هله چې د هغې په وجه په **نمانځهٔ** کښې تشویش نهٔ کیږي، او که [د لرې کولو نه یې] تَکبُّر مقصود وي نو کَرَاهَتِ تَحرِیمي (ناجائزه او ګُناه) ده او که تکلیف ورکوي یا یې [ورسره د نمانځهٔ نه] خیال اوړي نو (بیا لرې کولو کښې) باک نشته او د نمانځهٔ نه پس لرې کولو کښې خو مُطلقاً څه باک نشته بلکې (لرې کول) پکار دي، چې رِیا [ریا کاري] پیدا نهٔ شي. (بهارشریعت ج۱ ص ٦٣١) (عالمګیری ج۱ ص ۱۰٥)

## په مخ د سجدې نښه

**حضرتِ** سَیِّدُنا امام فخرُ الدِّین محمد بن عُمَر رازي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه شپږ ویشتمه سیپاره کښې د

سُوْرَةُ الْفَتْح د آيت نمبر 29، سِيْمَاهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ؕ ([مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: د هغوئي علامت د هغوئي په مخونو کښې دے، د سجدو د نښې نه.) په تفسير کښې فرمائي: په دې کښې دوه قولونه دي: يو قول دا چې دا د سجدې نښه به په (دُنيا کښې نه بلکې) په ورځ د قيامت وي، ځکه چې اللّٰهُ کريم اِرشاد فرمائي: يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوْهٌ ([مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: په کومه ورځ به چې څه مخونه روښانه وي) (پ ٤، اٰلِ عِمْرٰن: ١٠٦) او اِرشاد فرمائي: نُوْرُهُمْ يَسْعٰى ([مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: د هغوئي نُور به منډې وهي (پ٢٨، التحريم: ٨)) او د هغوئي په مخونو کښې به نُور د اللّٰه پاک طرف ته د تَوجُّه کولو په وجه وي. څنګه چې حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهِيم خليلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام وئيلي وو: اِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ ([مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: ما خپل مخ د هغه په طرف کړو چا چې آسمانونه او ځمکه جوړ کړي دي. (پ٧، الانعام: ٧٩)) او څوک چې نمر ته مخامخ ودريږي نو نمر د هغه په مخ پريوځي چې د هغې په وجه د هغه په مخ ښۀ ډير نُور (يعني رڼا) ظاهريږي حالانکې د نمر نُور (يعني رڼا) عارضي وي او هغه ختم شي او اللّٰهُ کريم آسمانونو او ځمکې لره مُنَوِّر يعني روښانه کوونکے دے نو کوم کس چې د هغۀ په طرف مُتَوَجِّه شي د هغه په مخ باندې به داسې نُور ظاهريږي چې هغه به د اَنوارو (يعني رڼا ګانو) نه ډک وي. بل قول دا دے چې دا د سجدې نښه به په دُنيا کښې وي، بيا په دې کښې نور دوه قولونه دي: يو قول دا دے چې د دې نه مُراد هغه نښه (يعني تور داغ) دے کوم چې د سجدو د کثرت (يعني زياتوالي) په وجه په تندي ظاهريږي. بل قول دا دے چې د دې نه مُراد هغه ښائست دے کوم چې اللّٰه پاک د شپې سجده کوونکو په مخونو د ورځې ظاهروي او د عقلمندو د پاره دا خبره بالکل ثابته ده چې دوه کسان د شپې ويښ وي، يو کس شپه په شرابو څښلو او لَهْو و لَعِب (يعني لوبو ټوقو) کښې مشغول اوسيدلو کښې تيروي او بل يې په نمانځۀ، قِراءَت او عِلمِ دِين حاصلولو کښې تيروي نو صبا له هر کس په شرابو او لوبو ټوقو کښې شپه تيروونکي او ذِکر و شُکر کښې شپه تيروونکي کښې فرق محسوسوي. (تفسيرِ کبير ج١٠ ص٨٩)

## د تندي د داغ مُتَعَلِّق د اَعلٰی حضرت ”اَقُول“

اعلٰی حضرت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ”فتاوٰی افريقه“ کښې د سجدې د نښې مُتَعَلِّق د اوږد بحث نه پس صفحه 66 کښې ليکي: اَقُول (يعني زهٔ وايم): په دې باره کښې تَحقِيق حُکم دا دے چې د ښودنې د پاره بِاَلقَصْد (يعني اِرادَتاً) دا نښه پيدا کول حرامِ قطعي او ګناهِ کبيره ده او هغه نښه مَعَاذَالله د هغهٔ د اِستِحقاقِ جَهنَّم (يعني د دوزخ د حقدارئ) نښه ده تر څو چې توبه اونکړي، او که دا نښه د کثرتِ سُجُود (يعني زياتو سجدو) په وجه پخپله جوړه شوه نو هغه سجدې که د رياکارئ (يعني ښودنې د پاره) وې نو فاعِل [يعني کوونکے] جَهنَّمي او دا نښه اګرچې پخپله جُرم نهٔ دے خو د جُرم په وجه پيدا شوه لِـهذا د هُم هغه نارِيَت (يعني دوزخي کيدلو) نښه ده. او که هغه سجدې خالِصاً لِوَجْهِ الله (يعني خالص د الله پاک د پاره) وې خو دے په نښه جوړيدلو خوشحاله شو چې خلک به ما عابِد ساجِد (يعني عبادت ګُزار، سجدې کوونکے) ګڼي نو بيا رِيا راغله او دا نښه د هغه د پاره مذمُومه (يعني قابِلِ مُذَمَّت) شوه. او که د هغې [يعني نښې] طرف ته يې څه اِلتِفات (يعني خيال) نهٔ وي نو دا نښه نِشانِ مَحمُود (يعني د صِفَت لائقه نښه) ده. او د يوې ډلې په نزد په آيهٔ کريمه کښې د دې صِفت موجود دے، اُمِّيد دے چې [دا نښه] په قَبْر کښې د فرښتو د پاره د دهٔ د اِيمان او نمانځهٔ نښه شي او په ورځ د قيامت به دا نښه د آفتاب [يعني د نمر] نه زياته نُوراني وي. (فَتَاوٰیٰ افريقه)

## د تَهَجُّد ګزار مخ روښانه شي

د حضرتِ سَيِّدُنا حسن بصري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه تپوس اوکړے شو چې څه وجه ده چې د تَهَجُّد کوونکو مخونه ښکلي (يعني نُوراني) وي؟ هغوئي اُوفرمائيل: ”ځکه چې هغوئي د خپل پاک پروردګار د پاره تنهائي اختياروي نو الله پاک هغوئي ته د خپل نُور لِباس ور واغوندي.“ (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج ٥ ص ١٤٧) (اِحْيَاءُ الْعُلُوم (اردو) ج ٥ ص ٣٧٤)

## نيکي د زړهٔ نُور او د مخ ځليدل

يو بُزُرگ فرمائي: په نيکو کولو زړهٔ کښې نُور او د مخ ځليدل، رزق کښې فراخي او د خلکو په زړونو کښې د هغهٔ د پاره مَحَبَّت پيدا کيږي. د اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عُثمانِ غَني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اِرشاد دے: يو کس يو کار په پټه په ډېره رازدارئ کوي، الله پاک د هغې آثار د هغهٔ په مخ او د هغهٔ په کلام کښې (يعني خبرو) کښې راښکاره کوي. (تفسير القرآن العظيم ج٧ ص٣٣٧)

## د کراټو لوبغاړے ښنګه مُبَلِّغ جوړ شو

د سجدو خوند حاصلولو د پاره، د تَکَبُّر نه ځان خلاصولو او خپل ځان د عاجزئ نمونه جوړولو د پاره د عاشقانِ رَسُول دِيني تنظيم ”دعوتِ اسلامي“ په **مَدَني قَافِلو** کښې پخپله هُم سفر کوئ او په نورو هُم سفر کوئ. **مَدَنـي سپرلے**: فيصل آباد کښې اوسيدونکے يو اِسلامي ورور د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامليدو نه مخکښې د ډېر خراب کردار مالِک وو، دروغ، غِيبَت، **چُغلي**، بدنظري کول او جنګ جګړې د هغه د روزانه معمولات وو. هغهٔ مارشَل آرټس (يعني کراټے وغيره) زده کړې وې او د هغې په وجه به يې خلکو سره فُضُول جګړې کولې. هر نوے فيشن اختيارول د هغهٔ په مشغلو کښې شامل وو، افسوس! د نمونځونو نه دومره لرې وو چې هغهٔ ته دا هُم نهٔ وو معلوم چې د کوم نمونځ خومره رکعتونه وي! آخر د قِسمت ستورے يې داسې وځليدو چې د هغهٔ ملاقات خپل يو پخواني دوست سره وشو کوم چې د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامل شوے وو، هغهٔ پرې اِنفرادي کوشش وکړو او مَدَني قَافِله کښې د سفر کولو دعوت يې ورکړو، د هغهٔ اِنفرادي کوشش کامياب شو او دے سمدستي د درې ورځو د **مَدَني قافلې** مسافر جوړ شو. مَدَني قَافِله کښې د عاشقانِ رَسُول د صُحبَت په بَرَکت د خپل ژوند په مقصد پوهه شو او په خپلو ګناهونو باندې ډېر پښيمانه شو چې ما د ژوند ډېره زياته حِصَّه په غفلت کښې تيره کړه، د هغهٔ زړهٔ دومره نرمے شو چې کله به يې هُم بيان اوريدلو نو د سترګو نه به يې اوښکې رواني شوې تر دې چې د **مَدَني قافلې** نه واپس راتلو نو هُم په ژړا شو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه د

هغه ورځې نه پس يې د **دعوتِ اسلامي** لمَن مضبوطه ونيوله، او په ډويژن سطح باندې د مَدَني قَافِله ذِمَّه دار په حيثيت ديني کارونه عامولو کښې هُم مصروفِ عمل شو.

الفت مصطفٰے اور خوفِ خدا چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٦٩)

محبّت د خوږ آقا، او خوفِ خُدا کهٔ غواړئ نو راځئ قافلې کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

يارَبَّ الْمُصْطَفٰى! مونږ ته فرائضو سره سره د ډيرو ډيرو نفلونو کولو او کثرت سره د سجدو کولو سعادت رانصيب کړې.

فرائض پڑھوں خوب نفلیں پڑھوں میں کرم کر خدا! خوب سجدے کروں میں

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

توفيق راکړې چې کوومه زهٔ فرضونه او نفلونه رانصيب کړې يا خُدايا د سجدو ډير ډير خوندونه

| | |
|---|---|
| عاشقِ مصطفیٰ | مرتضیٰ<br>مرتضیٰ |
| سیّدالاوْلیا | مرتضیٰ<br>مرتضیٰ |
| خائف کبریا | مرتضیٰ<br>مرتضیٰ |
| متّقی پارسا | مرتضیٰ<br>مرتضیٰ |
| ہیں نڈر دِلیر ہیں | مرتضیٰ<br>مرتضیٰ |
| اپنے رب کے شیر ہیں | مرتضیٰ<br>مرتضیٰ |
| شہرِ علم کے ہیں باب | مرتضیٰ<br>مرتضیٰ |
| بُوالحسن بُوتُراب | مرتضیٰ<br>مرتضیٰ |
| والدِ حُسین ہیں | مرتضیٰ<br>مرتضیٰ |
| غم زدوں کا چین ہیں | مرتضیٰ<br>مرتضیٰ |

| | |
|---|---|
| یا علی مرتضیٰ! | مرتضیٰ<br>مرتضیٰ |
| ہو کرم ہو عطا | مرتضیٰ<br>مرتضیٰ |
| در پہ آئے ہیں گدا | مرتضیٰ<br>مرتضیٰ |
| بھیک دیجیے شہا | مرتضیٰ<br>مرتضیٰ |
| دردِ دِل کر عطا | مرتضیٰ<br>مرتضیٰ |
| آل کا واسِطہ | مرتضیٰ<br>مرتضیٰ |
| دو گناہ کی دوا | مرتضیٰ<br>مرتضیٰ |
| مجھ کو نیک دو بنا | مرتضیٰ<br>مرتضیٰ |

**تاریخ: ۱۲ / رجب المرجب ۱۴۴۰ھ**

**19-3-2019**

# خُشُوع او خُضُوع سـره

# د نمونځ کولو فضائل

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

## خُشُوع و خُضُوع سـره د نمونځ کولو فضائل

يا الله پاکه! څوک چې "**خُشُوع و خُضُوع سره د نمونځ کولو فضائل**" پوره باب ولولي يا واوري هغهٔ ته په نمانځهٔ کښې **خُشُوع و خُضُوع** ورکړې، ټول نمونځونه يـې قبول کړې او د دواړو جهانو خيرونه ورکړې. اٰمِين.

## د دُرُود شريف پرچه په کار راغله (حکايت)

د قيامت په ورځ به د يو مسلمان نيکئ په ميزان (يعني تَله) کښې کمې شي نو د ګنهګارو شفاعت کوونکـي خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره به يوه پرچه وي هغه به را اوباسي او د هغهٔ د نيکو په تله کښې به يـې کيږدي نو په هغې به يـې د نيکو تله درَنه شي. هغه به عرض وکړي: زما مور و پلار دې په تاسو قُربان شي! تاسو څوک يـې؟ حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به فرمائي: "زهٔ ستا نبي مُحَمَّد (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) يم او دا ستا دُرُود دے کوم چې تا په ما باندې راليږلے وو." (کتاب حسن الظن بالله مع موسوعه ابن ابی دُنيا ج۱ ص۹۲ حديث ۷۹ مُلَخَّصاً)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د خُشُوع تعريف

د **خُشُوع** معنیٰ ده: ”د زړهٔ فِعل او د ظاهري اندامونو (يعني لاسو او ښپو) عمل.“ (تفسيرِ کبِير ج٨ ص٢٥٩) د زړهٔ فِعل يعني د **الله** پاک عَظَمت پيشِ نظر ساتل، [داسې چې] د دُنيا نه يـې تَوجُّه لرې شوې وي او **نمانځهٔ** کښې يـې زړهٔ لګيدلے وي. او د ظاهري اندامونو عمل يعنې په سُکون ولاړ اوسي. اخوا ديخوا نهٔ ګوري، خپل بدن او جامو سره لوبې نهٔ کوي او څه عَبَث او بيکاره کار نهٔ کوي. (ماخوذ از تفسيرِ کبِير ج ٨ ص ٢٥٩، مدارِک ص ٧٥١، صاوی ج٤ ص١٣٥٦)

# نمانځهٔ کښې ”خُشُوع“ مُسْتَحَب ده

**عَلَّامه** بَدرُ الدِّين عَيني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په نمانځهٔ کښې **خُشُوع مُسْتَحَب** ده. (عُمدةُ القاری ج٤ ص٣٩١ تحت الحديث ٧٤١) اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: **د نمانځهٔ کمال [او] د نمانځهٔ نُور، د نمانځهٔ په ښهٔ والي او فَهم و تَدَبُّر او حُضُورِ قَلب** (يعنې خُشُوع) **کښې دے**. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج٦، ص٢٠٥) مطلب دا چې د اعلیٰ درجې نمونځ هغه دے کوم چې **خُشُوع** سره ادا کړے شي.

**الله** کريم په اَتَلَّسمه سيپاره **سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْن** آيت نمبر 1 او 2 کښې اِرشاد فرمائي:

**قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱﴾ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ﴿۲﴾** [مَفهوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: بيشکه مُراد ته ورسيدل ايمان والا کوم چې په خپلو نمونځونو کښې عاجزي کوي............

”تفسيرِ صِراطُ الْجِنان“ جِلد 6، صفحه 494 کښې دي: په دې آيت کښې ايمان والؤ ته زيرے ورکړے شوے دے چې بيشکه هغوئي د **الله** پاک په فضل په خپل مقصد کښې کامياب شو او د هميشه د پاره به جَنَّت ته داخل شي او د هر ناخوښه څيز نه به نجات حاصل کړي. (تفسيرِ کبِير ج٨ ص٢٥٨، روحُ البيان ج٦ ص٦٦ ملتقطاً) نور په صفحه 496 کښې دي: ايمان والا خلک د خُشُوع و خُضُوع سره نمونځ ادا کوي، هغه وخت د هغوئي په زړونو کښې د **الله** پاک ويره وي او د هغوئي اندامونه ساکن (يعنې په يو ځائے سکون سره) وي.

## وور ولګېدلو خو په نمانځهٔ کښې مشغول اوسېدلو!

**تابِعِي** بُزُرګ حضرتِ سَیِّدُنا مُسلِم بِن یَسار رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه به دومره په تَوَجُّه سره نمونځ کولو چې د خپل خوا و شا نه به هُم خبر نه وو، یو ځل په نمانځهٔ کښې مشغول وو چې خوا ته یـې وور ولګېدلو خو هغوئي ته هډو احساس هم اونشو تر دې چې وور مړ کړے شو. (الله والوں کی باتیں ج ۳ ص ٤٤٧)

## ځلور مختصر حکایات

**حِکایَت ﴿۱﴾**: صحابِیَه اُمُّ المُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدَتُنا عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي چې حُضُور نَبِـي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به زمونږ سره او مونږ به هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره خبرې کولې خو چې کله به د نمانځهٔ وخت شو نو (مونږ به داسې شو) لکه هغوئي چې مونږه نهٔ پیژني او مونږه هغوئي نهٔ پیژنو. (اِحْیَاءُ الْعُلُوم ج ۱، ص ۲۰۵) **حِکایَت ﴿۲﴾**: اَمِیرُ الْمُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدُنا صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به په نمانځهٔ کښې داسې وو لکه (ټک وهلے) میخ. **حِکایَت ﴿۳﴾**: بعضې صحابهٔ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان به په رُکوع کښې داسې مکمل سُکون کښې وو چې په هغوئي به مرغۍ کښیناستلې، لکه هغوئي چې د جَماداتو (یعني بې ساه څیزونو) نه وي. (اِحْیَاءُ الْعُلُوم ج ۱ ص ۲۲۸، ۲۲۹) **حِکایَت ﴿٤﴾**: بعضو صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان به فرمائیل: په ورځ د قیامت به خلک د نمانځهٔ والا هَیئَت (یعني حالت) باندې پاڅولے کیږي یعني په نمانځهٔ کښې چې چا ته څومره اِطمینان او سکون حاصل وي، هُم د هغې مطابق به د هغوئي حشر (یعني پاڅیدل) کیږي. (اَیضاً ج ۱ ص ۲۲۲)

## اللّٰه پاک د داسې نمانځهٔ په طرف نظر نهٔ فرمائي

**اللّٰه** پاک د داسې نمانځهٔ په طرف نظر نهٔ فرمائي چې په هغې کښې بنده د خپل بدن سره زړهٔ حاضر نهٔ کړي. (اِحْیَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ۱ ص ٤٧۰)

## نمانځهٔ کښې به يې مسلسل اوښکې بهيدلې

حضرتِ سَيِّدُنا سَعِيد تَنُوخِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به چې کله نمونځ کولو نو (دومره به يې ژړل چې) د رُخسار (يعني اننګو) نه به يې په ګيره باندې مسلسل اوښکې بهيدلې. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج۱ ص۴۷۰)

## په نمانځهٔ کښې ظاهري او باطِني خُشُوع څه ته وائي

په نمانځهٔ کښې خُشُوعِ ظاهري هُم وي او باطِني هُم، ظاهِري خُشُوع دا ده چې د نمانځهٔ د آدابو مکمل رِعايت اوکړے شي، مَثَلًا چې نظر يې د جائے نماز نه بهر لا نهٔ شي او د سترګې په ګوَټ چا طرف ته نهٔ ګوري، د آسمان په طرف نظر نهٔ اوچتوي، څه عَبَث او بيکاره کار نهٔ کوي، چې څه کپړه په اُوګو داسې نهٔ اچوي چې د هغې دواړه طرفونه زوړند وي (خو که څادر يې په دواړو اُوګو داسې واچولو چې د څادر يوه ډډه په بله ډډه د پاسه ور اَووښتي وي نو بيا يې که سرونه زوړند وي نو باک نشته)، ګوتو نه دې ټقونه نهٔ اوباسي او داسې حرکتونه دې نهٔ کوي. باطِني خُشُوع دا ده چې د الله پاک په عَظمَت يې نظر وي، د دُنيا نه يې تَوَجُّه لرې شوې وي او نمانځهٔ کښې يې زړهٔ لګيدلے وي. (تفسير صِراطُ الْجِنان، ج۶ ص۴۹۶)

## نمونځ څنګه پکار دے!

د **دعوتِ اسلامي** د مَکتَبَةُ الْمَدِينه د 63 صفحو کتاب "آدابِ دِين" صفحه نمبر 30 کښې دي: (نمونځ کوونکي ته پکار دي چې) د عاجزئ او **خُشُوع و خُضُوع** کيفيت پيدا کړي او حُضُورِ قَلب (يعني د زړهٔ په تَوَجُّه سره) **نمونځ** کوي، د وسوسو نه د بچ کيدلو کوشش دې کوي، په ظاهري او باطني طور دې تَوَجُّه سره نمونځ کوي، اندامونه دې په سکون ساتي، نظر دې ښکته ساتي، (په قِيام کښې دې) ښے لاس په ګڅ لاس د پاسه ږدي، په تِلاوت کښې دې غور و فِکر کوي، په ويره ويره او په خوف دې تَکبِير لولي، **خُشُوع و خُضُوع** سره دې رُکوع و سجود کوي، تعظيم و تَوقِير سره دې تَسبِيح (يعني سُبْحٰنَ رَبِّيَ الْعَظِيْم او سُبْحٰنَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى) وائي، او تَشَهُّد دې داسې لوَلي لکه الله پاک چې وِيني، (د رَحمَت خُداوندي) اُمِّيد دې

ساتي او سلام دې واړوي، په دې ويره دې وګرځي (يعنې واپس شي) چې معلومه نهٔ ده چې زما نمونځ قبول شوے هُم دے او که نهٔ! او د رضائے اِلٰهی طلب کولو کوشش دې کوي.
(آدابِ دِين)

## د حضرتِ حاتِمِ اَصَم د نمانځهٔ انداز

حضرتِ سَيِّدُنا **حاتِمِ اَصَم** رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه نه د هغوئي د **نمانځهٔ** په باره کښې تپوس اوکړے شو نو ويـې فرمائيل: "چې کله د **نمانځهٔ** وخت شي نو زهٔ پوره اودس کووم، بيا د **نمانځهٔ** ځائے له ورشم او کښينم تر دې چې زما ټول اندامونه په سکون شي، بيا نمانځهٔ د پاره ودريږم او بيا دا خيال کووم چې کعبهٔ مُعَظَّمه زما ورُوزو ته مخامخ ده، پُلِ صِراط زما د ښپو لاندې، جَنَّت زما ښي طرف ته او جَهنَّم زما ګڅ طرف ته او **مَلَکُ الۡمَوت** عَلَيۡهِ السَّلَام زما شا ته دے او هغه نمونځ خپل آخري **نمونځ** ګڼم. بيا د اُمِّيد او ويرې د مينځ په حالت کښې حقيقتاً **تکبِيرِ تَحرِيمه** وايم، قرآنِ کريم په واره واره [يعنې قلاره قلاره] وايم. رُکوع تَواضُع (يعنې عاجزئ) سره او سجده **خُشُوع** سره کووم. ګڅه ښپه خوره کړم او په هغې کښينم او ښئ ښپه ودرَوُوم. د ډير اخلاص نه د کار اخستلو باوجود د هُم دې خبرې ويره لرم چې زما نمونځ به قبول شي او که نه!" (اِحۡيَاءُ الۡعُلُوم ج ۱ ص ۲۰۶) **د اللّٰهُ رَبُّ الۡعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيۡن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## جَنَّت واجِب شي

د حضرتِ سَيِّدُنا عُقبه بِن عامِر رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه رِوايت دے: ما د **اللّٰه** پاک خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وليدو چې په ولاړه يـې خلکو ته دا اِرشاد فرمائيلو: "کوم مسلمان چې په ښه طريقه اودس اوکړی، بيا د ظاهر او باطِن د تَوجُّه سره دو رکعاته ادا کړي نو د هغه د پاره جَنَّت واجِب شي." (مُسلِم ص ۱۱۸ حديث ۵۵۳)

## د جَنَّت واجِب کيدلو مطلب

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حديثِ پاک د دې حِصَّې (جَنَّت واجب شي) په باره کښې فرمائي: د رَبِّ (کرِيم) په فضل و کرم، داسې چې دُنيا کښې به هغه ته د نيکو اعمالو توفيق ملاويږي، د مرګ په وخت کښې به په ايمان قائم اوسي، **قَبْر** و حَشر کښې به په آسانئ سره پاس [يعنې کامياب] شي. د حديث مطلب دا نۀ دے چې صرف اوداسه کولو او د تَحِيَّةُالْوُضُو دوه نفلونه کولو سره جَنَّتي شو، (او) نور ګنې د څه عمل ضرورت پاتې نۀ شو، (بلکې) د داسې قِسم حديثونو هُم دا مطلب وي (کوم چې اوس بيان شو). (مِراٰةُ المناجيح ج١ ص٢٣٦)

## خُشُوع سره نمونځ کول د ګناهونو کفّاره ده

د اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عُثمان بِن عَفَّان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے: ما د **الله** پاک د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوريدلے دے چې په کوم مسلمان باندې د فرض نمانځۀ وخت راشي او هغه په ښه طريقه اودس وکړي او **خُشُوع** سره نمونځ وکړي او صحيح طريقه باندې **رُکوع** وکړي نو هغه نمونځ د هغۀ د تيرو ګناهونو کفّاره شي تر څو چې هغه يوه کبيره ګناه اونکړي او دا (يعنې د ګناهونو د مُعافئ سلسله) هميشه وي (د يوې زمانے سره خاص نۀ دې) (مُسلِم ص ١١٦ حديث ٥٤٣)

## رُکوع نه مُراد دلته پوره نمونځ دے

**عَلَّامه** عبدُ الرَّءُوف مُناوِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک نه لاندې ليکي: د **رُکوع** نه مُراد د نمانځۀ ټول ارکان دي يعنې چې هغه د نمانځۀ ټول ارکان په ښه طريقه او **خُشُوع** سره ادا کړي او د ټولو ارکانو په ښه طريقه د ادا کولو مطلب دا وي چې هر رُکن په پوره طريقه (يعنې د سُنَّتو وغيره د لحاظ ساتلو سره) ادا کړے شي. (نور دا فرمائي:) نمونځ به د صغيره (يعنې وړو) ګناهونو د پاره کفّاره وي، د کبِيره (يعنې غټو) ګناهونو د پاره نه، ځکه چې

کبیره ګناهونه په **نمانځهٔ** نهٔ معاف کیږي (د کبیره ګناهونو د معافۍ د پاره به توبه او د هغې تقاضے پوره کول ضروري وي) او دا مطلب نهٔ دے چې وړې ګناه به صرف هغه وخت معاف کیږي چې کله غټې ګناهونه نهٔ وي (بلکې د غټو ګناهونو په موجودګئ کښې به هم واړه ګناهونه معاف کیږي، دا (یعنې د ګناهونو د مُعافۍ سلسله) همیشه وي) یعنې که هره ورځ هُم د چا نه (مَعَاذَالله) صغیره ګناهونه کیږي او هغه فرائض په پوره طریقه ادا کړي نو هر فرض به د خپلو [ادا کیدلو] نه مخکښې شوو ګناهونو کفّاره شي. (التیسیر ج ۲ ص ۳۵۸)

## بِالقَصْد (یعني اِرادَتاً) ګناه کول

**اے د معافۍ طلبګارو!** په نمانځهٔ باندې د صغیره ګناهونو د معاف کیدلو نه دې مَعَاذَالله څوک دا مطلب نهٔ اخلي چې ګنې صغیره ګناهونه کوه او بیا **نمونځونه** کوه معاف کیږي به. یاد ساتئ! صغیره ګناه په صغیره یعنې وړه ګڼلو باندې کولو سره هغه سخته کبیره ګناه جوړه شي او صغیره ګناه سپکه ګڼل بعضو صورتونو کښې کفر دے. په دې باندې ځان پوهه کولو د پاره د **دعوتِ اسلامي** د مَکتَبَةُ الْمَدِینه د 692 صفحو کتاب، ”کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب“ صفحه 385 تا 396 نه بعضې ”سوال و جواب“ ولولئ او د **الله** د ویرې نه په ولړزیږئ!

## د ګناه تعریف

**سُوال:** د ګناه څه تعریف دے؟ او ګناهِ صغیره او کبیره کوم کوم دي؟ **جواب:** صدرُ الافاضِل حضرت مولانا سیِّد نعیم الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه د اووه ویشتمې سیپارې د سُوْرَةُ النَّجْم د آیت نمبر 32 د حِصَّې اَلَّذِیْنَ یَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓىِٕرَ الْاِثْمِ وَ الْفَوَاحِشَ ([مَفهوم] ترجمۂ کنزالایمان: او هغوئې چې د لویو ګناهونو او بې حیائې نه ځان ساتي) نه لاندې فرمائي: ګناه هغه عمل دے چې د هغې کوونکے د عذاب مُستَحِق وي او بعضې اَهلِ عِلم فرمائیلي دي چې ګناه هغه ده چې د هغې کوونکے د ثواب نه محرومه شي، د بعضو قول دے: ناجائزه کار کولو ته

ګناه واﺋي. (خَزائِنُ الْعِرفان ص۹۷۳) **فقيهِ** مِلَّت مُفتيِ جلالُ الدِّين **امجدي** رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: ”د يو واجِب يو ځل پريښودل **ګناهِ صغيره** (يعنې وړه ګناه) ده په شرط د دې چې بې عُذرِ شرعي وي. لکه يو ځل د نمانځهٔ جَمعه پريښودل يا يو ځل ږيره خرئيل وغيره. او ګُناهِ صغيره په اِصرار [يعني بيا بيا كولو] ګُناهِ كبيره (يعنې غټه ګُناه) شي. د شِرک او كفر او هر حرامِ قَطعي اِرتِكاب كول ګُناهِ كبيره (يعنې غټه ګُناه) ده. او يو فرضِ قَطعي لکه د نمانځهٔ، روژې او زكوٰة وغيره نهٔ ادا كول هُم **ګناهِ كبِيره** ده.“ وَاللهُ تعالیٰ اَعلم. (فَتَاوىٰ فيضِ الرسُول، ج۲، ص۵۱۰)

## په ګناهِ صغيره باندې د اِصرار معنیٰ

**سُوال:** ”ګُناهِ صغيره په اِصرار ګُناهِ كبيره شي“ په دې كښې د اِصرار نه څه مُراد دے؟

**جواب:** د ”اِصرار“ معنیٰ ده: مضبوط تړل، مضبوطيدل، د چا سره داسې وابَسته كيدل [يعني تَعَلُّق ساتل] چې د هغهٔ نه نهٔ شي جُدا كيدلے. (تفسيرِ نعيمی ج٤ ص۱۹۳ مُلَخَّصاً) ”په ګُناه باندې د اِصرار كولو“ مُتَعَلِّق **مُختلِف** اَقوال دي: حضرت عَلَّامه **شَيخ عَبدُ الحق مُحَدِّث دِهلوي** رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: بعضې عُلَمائے كرامو فرمائيلي دي چې د اِصرار حد دا دے چې ګناه بيا بيا وكړي او په زړهٔ كښې بې باكي (يعنې بې خَوفي) **محسوسه** كړي. (اَشِعَّةُ اللّمعات، ج۲، ص۲۵۸) ”**فتاوىٰ شامي**“ كښې دي: د اِصرار حد دا دے چې څوک د ګُناه د پروا كولو نه بغير بيا بيا **صغيره** (يعني واړه ګناهونه) وكړي. (فَتَاوىٰ شامی ج۳، ص۵۲۰) كومه ګُناهِ صغيره يې چې كړې وي د هغې نه توبه كولو سره د اِصرار نه بهر را اُوځي. چنانچه د حضرتِ سَيِّدُنا ابوبكر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې د تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: كوم كس چې **اِسْتِغْفار** وكړو هغه په خپله ګناه اِصرار اونكړو اګر كه هغه په ورځ كښې اويا ځله ګُناه وكړي. (اَبو داوٗد ج۲ ص۱۲۰ حديث ۱۵۱٤) حَكيمُ الأُمَّت **حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په باره كښې فرمائي: (دا شرط دے چې) د توبه كولو په وخت كښې يې د ګناه نه د منع كيدلو (يعني پريښودلو) پوره اِراده وي او كه د توبه كولو

په وخت کښې يې هُم دا خيال وي چې **ګناه** به بيا هُم کووم، نو دا توبه نهٔ ده بلکې **(مَعَاذَ اللّٰه)** اِسلام پورې **ټوقې** کول دي. (مِراٰةُ المناجيح ج ۳ ص ۳۶۴)

# تَذکرۀ سَيِّدُنا صِدّيق اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ

**اے عاشِقانِ صَحابه و اَهلِبَيت!** اوس چې تاسو کوم حديثِ پاک واوريدو، د هغې راوي (يعني بيانوونکے) ورومبے خليفه، **اَميرُالْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدُنا صِدّيق اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دے. د هغوئي نوم مبارک **عبدُاللّٰه** او کُنيَت **ابوبکر** دے او **صِدّيق** او **عَتِيق** يې اَلقابات دي. د **صِدّيق** معنیٰ ده: "ډير زيات رښتونے." هغوئي د زمانهٔ جاهِلِيَّت نه په دې لقب مشهور شوے وو ځکه چې هميشه به يې رښتيا وئيل، او د عتيق معنیٰ ده: "آزاد". سرکارِ دو عالَم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي ته زيرے اورَولے وو: "اَنۡتَ عَتِيۡقٌ مِّنَ النَّارِ" يعني ته د دوزخ د وور نه آزاد يې." ځکه د هغوئي دا لَقَب شو. (تاريخُ الخُلَفاء ص ۲۹)

هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ **قُرَيشي** دے او په اووم **پُشْت** کښې يې شَجَرۀ نَسَب د رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **خانداني شَجَرے** سره يو ځائے کيږي. هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د **عامُ الْفِيل**[1] نه تقريباً دوه نيم کاله پس په مَکهٔ مُکرَّمه کښې پيدا شوے وو.

الٰہی! رحم فرما! خادمِ صدیق اکبر ہوں
تری رحمت کے صدقے واسطہ صدیق اکبر کا

اِلٰهي رحم وکړې! خادِم د صِدّيق اکبر يم
ستا رحمت غواړم، د صِدّيق اکبر په وسيله

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

[1] يعني په کوم کال چې نا مُراده اَبرَهه بادشاه د هتيانو د لښکر سره په کعبه شريفه باندې حمله کولو د پاره راغلے وو. د دې واقعے نور تفصيل حاصلولو د پاره د مَکْتَبَةُالْمَدِينه کتاب "عَجائِبُ القُرآن مع غَرائِبُ القرآن" اولوَلئ.

## زما مال و ځان په آقائے دوجهان ﷺ باندې قُربان

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِىَ اللهُ عَنهُ نه رِوايت دے چې سرکارِ دو عالَم، حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: ما ته کله د چا مال هُغه فائِده نهٔ ده راکړي کومه چې د ابوبکر مال راکړي ده." د بارګاهِ نُبُوَّت نه يې چې دا زيرے واوريدو نو حضرتِ سَيِّدُنا ابوبکر صِدِّيق (رَضِىَ اللهُ عَنهُ) په ژړا شو او عرض يې وکړو: يا رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زما او زما د مال مالِک خو هُم تاسو صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يې. (ابن ماجه ج١ص٨٢ حديث٩٣)

وُہی آنکھ اُن کا جو منہ تکے، وُہی لب کہ مَحو ہوں نَعت کے
وُہی سَر جو اُن کے لئے جُھکے، وُہی دل جو اُن پہ نِثار ہے

(حدائِقِ بخشِش شريف)

سترګې هغه دي چې هغوئي ته ګوري، شونډې هغه دي چې نعتونه وائي
سر دے هغه چې کړي تعظيم د هغوئي، زړهٔ دے هغه چې شي قربان په هغوئي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## صِدِّيقِ اکبر امامت وکړو

په خپل اُمَّت مهربانه آقا صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کله مريض شولو او مرض زيات شو نو ويې فرمائيل چې "ابوبکر ته حُکم وکړه چې د نمانځهٔ جَمعه ورکړي." حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِىَ اللهُ عَنهَا عرض وکړو: يا رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي زړهٔ نرم دے ستاسو په ځائے به جَمعه ورنکړے شي. ويې فرمائيل: حُکم ورکړه ابُوبکر ته چې د نمانځهٔ جَمعه ورکړي. حضرتِ سَيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِىَ اللهُ عَنهَا بيا هُم هغه عُذر وړاندې کړو. حُضُور (صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) بيا هُم دا حُکم په ټينګتيا سره اوفرمائيلو او حضرتِ سيِّدُنا ابوبکر صِدِّيق رَضِىَ اللهُ عَنهُ د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ژوند مبارک کښې جَمعه ورکړه. (بُخاری ج١ص٢٤٢ حديث ٦٧٨)

حضرتِ عَلَّامه جلالُ الدِّين سُيُوطي شافِعِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ليکي: عُلَماء فرمائي چې په دې حديث کښې په دې ډير صفا دليل دے چې حضرتِ صِدِّيقِ اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ټولو صحابؤ نه بِالکل افضل او د خِلافت او اِمامت د پاره د ټولو نه اَحَق و اَولىٰ (يعني زيات حقدار او بهتر) دے. (تاريخ الخلفاص ٤٧، ٤٨)

عِلْم ميں زُہد ميں بے شبہ تُو سب سے بڑھ کر کہ امامت سے تری کھل گئے جوہَر صِدّيق
اِس اِمامَت سے کُھلا تم ہو اِمامِ اکبر تھی يِہی رَمزِ نبی کہتے ہيں حيدر صِدّيق

(دِيوانِ سالِک)

عِلم و تقوىٰ کښې يې بيشکه ته د ټولو نه زيات
د اِمامت نه شو معلوم ستا قدر صِدّيق

د اِمامت نه شوه معلومه چې يې اِمامِ اکبر
دا اشاره وه د نبي وائي حيدر صِدّيق

## د صحابه په فضيلت کښې ترتيب

د **فضائِلو** او مرتبو په لِحاظ سره د مَسلک حق اَهلِسُنَّت و جَماعت په نزد چې کوم ترتيب دے د هغې په بيان کښې صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه حضرت مولانا مُفتي **مُحمد امجد علي** اعظمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: ټول صَحابَهٔ کرام اَعلىٰ او ادنىٰ (او په هغوئي کښې اَدنىٰ يو هم نه دے) ټول جَنَّتيان دي، د انبياء و مُرسَلِين نه پس، په ټول **مخلوقاتِ اِلٰهي** اِنسانانو او پيريانو او فرښتو کښې افضل صِدِّيقِ اَکبر دے، بيا عُمر فاروقِ اعظم، بيا عُثمانِ غني، بيا مَولىٰ علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ، څوک چې **مَولىٰ علي** رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د (حضرتِ سيِّدُنا) صدّيق يا فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه افضل وائي هغه ګُمراه او بد مذهبه دے. د خُلَفائے اَربَعهٔ راشِدِين نه پس د باقي عَشَرَهٔ مُبَشَّره او د حَضَراتِ حَسَنَين او د اصحابِ بَدر او اصحابِ بَيعَةُ الرِّضوان (عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان) د پاره اَفضلِيَّت دے او دا ټول قطعي جَنَّتيان دي. د افضل معنىٰ دا ده چې د **الله** تَعَالىٰ په نزد زيات عِزَّت او مَنزِلت والا وي، هُم دې ته د کثرتِ ثواب معنىٰ هُم ورکوي.

(مُلَخَّص از بَهارِ شرِيعَت ج ١ ص ٢٤١ تا ٢٥٤)

مصطفٰے کے سب صحابہ جنّتی ہیں لا جَرَم
سب سے راضی حق تعالٰی سب پہ ہے اُس کا کرم

بیشکه دي جَنّتیان ټول صحابه د مُصطفٰی
په ټولو دے کرم، له ټولو دے راضي حق تعالٰی

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## په سَفَرِ آخِرت کښې موافَقَت

**حضرت** مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفات د زَهرو د بیا اثر راڅرګندو په وجه شوے وو.[1] هُم دغسې د حضرتِ سیّدُنا ابوبکر صِدِّیق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ وفات د هٔغه مار د **زهرو** د بیا اثر راڅرګندو په وجه وشو کوم مار چې د هِجرت په شپه په غار کښې چیچلے وو. حضرتِ صِدّیقِ اکبر ته د **فَنَافِی الرَّسُوْل** درجه حاصله وه ځکه چې د هغوئي وفات هم د حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وفات نمونه وه، د ګُل په ورځ حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفات شوے وو او د ګُل د ورځې د تیریدو نه پس د شپې حضرتِ صِدّیقِ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ وفات شو. د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وفات په ورځ د شپې په ډِیوه کښې تیل نهٔ وو، د حضرتِ صِدّیقِ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د وفات په وخت کښې په کور کښې د کفن د پاره رقم نهٔ وو. دا ده فنا. (مِراٰةُ المناجیح ج ۸ ص ۲۹۵)

## وفات شریف

حضرتِ سَیِّدُنا صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ 22 جُمَادَی الْاُخْرٰی سن 13 هجري کښې د ګُل په ورځ د 63 کالو په عُمر کښې د دُنیا نه رخصت شولو او د سرکارِمدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په

[1] کوم زَهر چه د غزوهٔ خیبر په موقع زینب بِنتِ حارِث یهودنې ورکړې وو. (مدارج النبوة ج۲ ص۲۵۰)

ښتګ مبارك کښې آرام فرمائي. (اَلسُّنَنُ الکبریٰ لِلْبَیْہقی ج ۳، ص ۵۵۷ رقم ۶۶۶۳) (الطبقات الکبریٰ ج ۳ ص ۱۵۱)
(د نور معلومات د پاره د سَګِ مدينه رِساله ”عاشِقِ اکبر“ ولولئ)

جو یارِ غارِ محبوبِ خدا صدیقِ اکبر ہیں
وُہی یارِ مزارِ مصطفٰے صدیقِ اکبر ہیں

خوک شي بيانولے مرتبه د ابوبكر
يارِ غار دے محبوبِ خُدا د ابوبكر

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ګناه حلاله ګڼل

**سُوال:** ګناه حلاله ګڼل څنګه دي؟ **جواب:** هره صغيره يا کبيره (يعني وړه يا غټه) ګناه حلاله ګڼل کفر دے هله چې د هغې ګناه کيدل د دلِيلِ قَطعي (يعني آيتِ قرآني يا حديثِ مُتَواتِر يا اِجماعِ اُمَّت) نه ثابت وي، هُم داسې ګناه سپکه ګڼل هُم **كفر** دے. (منح الروض ص ۴۲۳)

**اے د الله پاک د رَحمت طلبګارو اِسلامي ورونړو! د ايمان د حفاظت فِکر وکړئ! الله** دې نۀ کړي که [د چا] په کفر خاتِمه وشوه نو تباه و برباد به شي. زمونږ بزرګانِ دِين به د ايمان د حفاظت ډير فكر كولو. چنانچه دوه حكايات اوګورئ:

### ﴿۱﴾......بيا په ژړا شولو (حِكايت)

حضرتِ سَيِّدُنا حبِيب عَجَمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د کوم کس خاتِمه چې په لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله (يعني کلمهٔ توحِيد) باندې وشي هغه جَنَّت ته داخليږي. بيا په ژړا شولو او ويـې فرمائيل: خوک زما د پاره ضمانت ورکوي چې زما خاتِمه به په لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله کيږي. (تَنبِيهُ المُغترين ص ۱۶۱)

### ﴿۲﴾......يو کس به د جهنم نه زر کاله پس راوځي

حضرتِ سَيِّدُنا حَسَن بَصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به فرمائيل: مونږ ته دا خبره رارسيدلې ده چې يو کس به يو زر کاله پس د جَهنَّم نه راوځي. بيا يـې اوفرمائيل: کاش چې! هغه کس زۀ وے

ځكه چې د جَهنَّم نه د هغهٔ وتل يقيني دي (يعني د هغهٔ په ايمان باندې خاتِمه مُقَرَّره ده) حضرتِ سَيِّدُنا شيخ عبدُ الوهّاب شَعراني رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې حكايت بيانولو نه پس فرمائي: اے ورورہ خپل نفس په دُنيوي اُمُورو كښې صرف د ضرورتِ شَرعِيه مطابق مشغول ساته، كيدے شي چې تا ته د غفلت په حالت كښې مرګ راشي، او دغسې ته په دواړو جهانو كښې نقصان سره مخامخ شې. وَ الْعِيَاذُ بِاللهِ تعالىٰ (تَنبِيهُ المُغتَرِين ص ١٦١) ("كفريه كلمات كے بارے ميں سوال جواب" نه اخستے شوے مضمون ختم شو، بعضې بعضې ځايونو كښې پكښې [ضروررتا] لږشان فرق شوے دے)

خدايا برے خاتمے سے بچانا پڑھوں كلمه جب نكلے دم نكلے

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ١١٠)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ماما اِنفرادي كوشش

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! په خپلو زړونو كښې د جَهنَّم ويره زياتولو او ځان د ګناهونو د بچ كولو ذهن جوړولو د پاره د عاشِقانِ رَسُول ديني تنظيم "دعوتِ اسلامي" ديني ماحول سره خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ. ستاسو د ترغيب د پاره يو مَدَنـي سپرلے وړاندې كيږي. چنانچه د فيصل آباد پنجاب يو اسلامي ورور به د دعوتِ اسلامي ديني ماحول كښې شامليدلو نه مخكښې شپه او ورځ په ګناهونو كښې اخته اوسيدلو، د مور او پلار نافرماني به يـې كوله او هغوئي به يـې خفه كول، خپل ګاونډيان به ترينه تنګ وو، فلمونه او ډرامې كتل او سندرې او سازونه اوريدل د هغهٔ ډيره خوښه مشغله وه، د بدو دوستانو د صُحبت په وجه د شرابو، هيروئنو او په نورو مختلفو نشو كښې اخته وو، د هغهٔ ماما د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره تَعَلُّق لرلو هغهٔ چې د دهٔ دې بدو كارونو نه خبر شو نو ډير يـې پوهه كړو او په ډيره مينه محبّت يـې د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډكه اِجتِماع كښې شركت كولو ته تيار كړو او ځان سره يـې اِجتِماع له بوتللو، د اِجتِماع نه پس يـې سمدستي عاشِقانِ رَسُول سره د درې ورځو مَدَنِي قَافِله كښې وليږلو. د عاشِقانِ رَسُول د

صُحبت په بَرَکت ورته په هغه درېِ ورځو کښې د اوداسه، غُسل او د نمانځهٔ د طريقې سره سره د ډېر څه زده کولو موقع په لاس ورغله، هغه په خپلو ګناهونو پښيمانه شو ا و د توبه کولو توفيق ورنصيب شو او د **عاشِقانِ رَسُول** د حُسنِ اخلاق او ښهٔ سلوک نه ډېر مُتأَثِّره شو او سمدستي د 63 ورځو مَدَني تربِيَّتي کورس کولو د پاره **فيضانِ مدينه** ګُجرات (پنجاب) ته روان شو.

بری صحبتوں سے کنارہ کشی کر      کے اچھوں کے پاس آکے پا مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٦)

پرېږده بد صُحبتونه راشه
د ښو څنګ ته حاصل کړه ديني ماحول

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب!      صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د نمانځهٔ په دوران کښې لړم 40 ځله اوچيچلو (حکايت)

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن مُبارک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زهٔ وړوکے ووم نو ما ته ډېر ښهٔ ياد دي چې يوه عبادت ګُزاره ښځه وه، هغه د نمانځهٔ په حالت کښې لړم څلوېښت (40) ځايه وچيچله خو د هغې په حالت کښې لږ فرق هُم رانغلو. چې کله هغه د نمانځهٔ نه فارِغه شوه نو ما ترينه تپوس وکړو: مورا! تاسو دا لړم ولې نهٔ لرې کولو؟ هغې جواب راکړو: بچيه! تهٔ لا اوس ماشوم يې، دا چرته مناسب وو! [ځکه چې] زهٔ خو د خپل **رب** تعالٰی په کار کښې مشغوله ومه، خپل کار مې څنګه کړے وے؟ (کشف المحجوب ص ٣٣٢)

## نمانځهٔ کښې سترګې مهٔ پټوئ

د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې رَحمتِ عالَم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: چې کله په تاسو کښې څوک په نمانځهٔ ودرېږي نو هغه دې خپلې سترګې نهٔ پټوي. (معجم کبير ج ١١ ص ٢٩ تحت الحديث ١٠٩٥٦)

## په نمانځهٔ كښې سترګې پټول د يهوديانو فعل دے

حضرتِ علامه عبدُ الرَّءُوف مُناوِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: په نمانځهٔ كښې د مجبورئ نه بغير سترګې بندول مکروهِ تنزيهي دي ولې چې دا د يهوديانو فِعل (يعني كار) دے البته كه خُشُوع ورسره زياتيږي او زړهٔ ورسره حاضر اوسي نو بيا سترګې پټول مكروه نهٔ دي. (فيض القدير ج۱ ص۵۳۰ تحت الحديث ۷۸۵)

## سترګې پټول كله بهتر وي

**بهارِ شريعت** كښې دي: په نمانځهٔ كښې سترګې پټول مکروهِ (تنزيهي) دي، خو چې كله په غړيدلو سترګو خُشُوع نهٔ حاصليږي نو بيا پټولو كښې باک نشته، بلكې بهتر دي. (بهارشريعت ج۱، ص ٦٣٤)

## نمانځهٔ كښې د اخوا ديخوا كتلو مسئله

په نمانځهٔ كښې په اخوا ديخوا مخ تاوهلو كتل مکروهِ تحريمي (ناجائز او ګناه) ده، كه پوره مخ تاو شوے وي يا بعض (يعني لږ). او كه مخ تاو نهٔ كړي، صرف په سترګو تاوهلو اخوا ديخوا بې حاجته كوري نو كراهَتِ تنزيهي دے او كه نادِراً په څه صحيح غرض وي نو اصلًا (يعني بالكل) باک نشته، (په نمانځهٔ كښې) نظر آسمان طرف ته پورته كول هُم مكروِ تَحرِيمي (يعني ناجائز او ګناه) دہ. (بهارشريعت ج۱ص ٦٢٦)

## لكه تهٔ چې الله وِينې

د بُخاري شريف په يو اورږد حديث كښې دا هُم دي: حضرتِ جِبريلِ اَمِين عَلَيْهِ السَّلَام په باركاه رِسالَت كښې عرض وكړو چې "احسان" څه دے؟ رسولِ كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: اَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَاَنَّكَ تَرَاهُ، فَاِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَاِنَّهٗ يَرَاكَ يعني (احسان دا دے چې) تهٔ د **الله** پاک عبادت داسې وكړې لكه ته چې هغه وِينې، كه تهٔ دا اُونكړے شې نو دا يقين وساته چې هغه تا وِيني. (بُخاري ج۱ص۳۱ حديث ۵۰)

## اے ګناه کوونکیه خبردار! اللّٰه وِيني

اے د نمانځهٔ عاشقانو! عِبادت کوونکے دې داسې عبادت کوي لکه [يعنې داسې تَصَوُّر دې کوي] چې زهٔ اللّٰه پاک وِينم. دا د اَخَصُّ الْخَواص يعنې په خاصو کښې د مخصوصو بندګانو مُقام دے. کاش چې! مونږ ته هُم دا مُقام حاصل شي، ګني دا هُم د سعادت خبره ده چې په نمانځهٔ او عبادت کښې دا تَصَوُّر قائم اوسي چې اللّٰه پاک ما وِيني! بلکې کاش! چې هر وخت [د بنده] هُم دا خيال قائم اوسي چې بيشکه اللّٰه پاک هر څه وِيني! يقيناً اللّٰه پاک هر څه وِيني! په هر حال کښې اللّٰه پاک هر څه وِيني! دغسې به دا اِنْ شَآءَاللّٰه د ګناهونو نه د بچ کيدلو ډيره لويه ذريعه وي. په څلورمه سِيپاره کښې د سُوْرَةُالنِّسَآء په وړومبي آيت کښې اِرشادِ رَبَّاني دے: اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا ﴿١﴾ (پ٤، النساء:١) [مَفهُوم]ترجمهٔ کنزُالاِیمان: بيشکه اللّٰه هر وخت تاسو وِيني.

## ”اللّٰه د آسمان نه ګوري“ داسې وئيل څنګه دي؟

اے د اللّٰه پاک ويره لرونکو! اللّٰه تعالٰی په هر صورت کښې هر څه ويني! خو بيا هُم دا خبره په ذهن کښې ساتل ضروري دي چې اللّٰه پاک د مکان [يعنې ځائے] او طرف نه پاک دے. په دې باره کښې د دعوتِ اسلامي د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه د 692 صفحو کتاب، ”کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب“ صفحه 104 تا 109 کښې دي:

**سُوال:** بدنګاهي کوونکي ته د ويرولو د پاره دا وئيلے شي که نهٔ چې اللّٰه تعالٰی د آسمان نه ګوري.

**جواب:** نهٔ شي وئيلے ځکه چې دا کفريه جُمله ده. فتاوٰی عالـمګيری جِلد 2 صفحه نمبر 259 کښې دي: ”اللّٰه پاک د آسمان نه يا عرش نه ګوري“ داسې وئيل کفر دے. (عالمگیری)

خو بد نګاهي کوونکي بلکې هره ګُناه کوونکي ته دا احساس ورکول پکار دي چې ”اللّٰه پاک هر څه ويني.“ څنګه چې په ديرشمه سيپاره کښې د سُوْرَةُالْعَلَق په څوارلسم آيتِ

کريمه کښې اِرشاد کيږي: اَلَمْ يَعْلَمْ بِاَنَّ اللّٰهَ يَرٰى ﴿۱۴﴾ [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: آيا نۀ پوهيږي چې **الله** [هر څه] وِيني.

## د زړو حجونو نه بهتر عمل

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** کاش چې! په حقيقي معنو کښې زمونږه په ذِهن کښې هر وخت دا خبره مضبوطه اوسي چې **الله کريم مونږه وِيني**، که واقعي دا تَصَوُّر مو مضبوط قائم شي نو بيا ګناهونه نۀ شي کيدے. حضرتِ سَيِّدُنا **اِمام ابو القاسِم قُشَيري** رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: حضرتِ حُصري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به فرمائيل: "يو ځل کښيناستل د زړو حجونو نه بهتر دي." د دې يو ځل کښيناستلو نه مُراد هُم دا دي چې ټوله تَوَجُّه راجمع کولو سره خپل ځان د **الله** پاک په بارګاه کښې حاضر تَصَوُّر کول (يعني چې **الله** پاک ما وِيني.) (رِساله قُشيريه ص۳۲۱)

**د الله رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په سترګو کښې به يـې د وور سَلائي وهلے کيږي

کاش چې! د نظر د حفاظت عادت مو جوړ شي، يقيناً چې د بدنګاهئ عذاب به هيڅوک هُم برداشت نۀ کړے شي. عَلَّامه اِبنِ جَوزي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نقل کوي: **"کوم کس چې د نامحرَمه نه د سترګو حفاظت اونکړو په ورځ د قيامت به د هغۀ په سترګو کښې د وور سَلائي وهلے کيږي."** (بَحْرُ الدُّمُوع ص۱۷۲)

## د سترګو د قُفلِ مدينه يوه مَدَني نُسخه

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد بِن محمّد بِن محمّد غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نقل کوي: حضرتِ سَيِّدُنا جُنَيد بَغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته چا عرض وکړو: يا سيّدي! زۀ د نظر ښکته ساتلو عادت جوړول غواړم، څه داسې خبره اِرشاد کړئ چې زۀ ترينه مدد حاصل کړم. هغوئي اُوفرمائيل: دا فِکر جوړ ساته چې که زما نظر بل چا ته ګوري د هغې نه مخکښې يو کتونکے (يعني الله

پاک) ما وِيني. (اِحيَاءُ الْعُلُوم ج ۵، ص ۱۲۹) **د الله رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم**

## د نظر ښکته ساتلو بهترينه طريقه

حضرت سيّدنا حَسَّان بن اَبُو سِنان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اختر د نمانځهٔ د پاره لاړو، چې بيرته يې کور ته تشريف راوړلو نو ښځې (يعني بي بي صاحبې) ورته اووئيل: نن دې څومره ښځې وليدلې؟ هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خاموشه وو، چې کله هغې ډير ځل تپوس وکړو نو ويې فرمائيل: ”د کور نه وتلو نه واخله بيرته ستا خوا ته راتلو پورې ما (د خپلو ښپو) ګوتو ته کتل.“ (کتابُ الورَع مع موسُوعه اِمام اِبنِ ابِي الدّنيا ج ۱، ص ۲۰۵) سُبحٰنَ الله د الله والؤ بې ضرورته او خاص طور د ګڼې په وخت کښې د اخوا ديخوا کتلو نه بچ اوسيدل مرحبا، چې هسې نه چرې په هغه چا مې نظر پريوځي چا ته چې شرعاً د کتلو اِجازت نهٔ وي! حضرتِ سَيِّدُنا داؤد طائي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (د ځوانو نيکو بندګانو يو علامت داسې) بيانوي: نيکو خلکو به فضول اخوا ديخوا کتل ناخوښه ګڼل. (سابِقه حواله ص ۲۰۴) **د الله رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم**

## څوک ګوري خو نهٔ؟

حضرتِ سَيِّدُنا فَرقَد سَبخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: مُنافِق چې کله اُووِيني چې هغه څوک (انسان) نه وِيني نو ګناه وکړي. افسوس! چې هغه د دې خبرې خو خيال ساتي چې خلک دې هغه [په ګناه کولو] اُونه وِيني خو د دې خبرې خيال نهٔ ساتي چې الله تعالیٰ هر څه وِيني. (اِحيَاءُ الْعُلُوم ج ۵ ص ۱۳۰)

چھپ کے لوگوں سے کئے جس کے گناہ — وہ خبردار ہے کیا ہونا ہے
ارے او مجرم بے پروا! دیکھ — سر پہ تلوار ہے کیا ہونا ہے

(حدائقِ بخشِش شریف ۱٦٧)

خلكو نه پټ مې ګناهونه كړې خُدائے خبردار دے راسره څه به كيږي
اے بې پرواه مُجرِمه اوګوره لږ تُوره په سر ده چې اوس څه به كيږي

("كفريه كلمات كے بارے ميں سوال جواب" نه اخستے شوے مضمون ختم شو، بعضې بعضې ځايونو كښې مې پكښې [ضرورتاً] لږ شان فرق كړے دے)

# ډيزائن والا څادر كښې نمونځ

"بُخاري شريف" كښې دي: د اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا نه رِوايت دے چې مكـى مَدَنـى مُصطَفىٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خَمِيصَه (يعني نقش و نګار والا) څادر كښې نمونځ وكړو، د هغې په نقش و نِګار باندې يـې يو نظر واچولو، چې كله فارغ شولو نو ويـې فرمائيل: زما دا څادر ابوجَهْم له يوسئ او د ابوجَهْم نه د اَنْبِجَانِيَّه څادر راوړئ ځكه چې دې (يعني ډيزائن والا) څادر زهٔ اوس د نمانځهٔ نه منع كړم." په يو روايت كښې دا هُم دي چې زهٔ په نمانځهٔ كښې د دې نقش و نګار (يعني ډيزائن) ته په كتلو شوم نو زهٔ ويره لرم چې دا [به] زما نمونځ خراب كړي." (بُخارى ج١ ص ١٤٩ حديث ٣٧٣)

# د لِباس اثر په زړهٔ كيږي

حَكيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك نه لاندې ليكي: خَمِيصَه [د تارونو] د بُوټو (يعني ډيزائن) والا څادر ته وائي، دا د وړئ تور څادر وو كوم چې ابوجَهْم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هِدِيَّـةً (يعني د تُحفې په طور د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په خِدمتِ اَقدَس كښې پيش كړے وو، سركار عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام هغه په سر كړے وو او نمونځ يـې كولو. اَنْبِجَانِيَّه د شام (يعني سُورِيا) د يوې استوګنې [ابادئ] نوم دے چې هلته ساده كپړې تياريږي د هُم هغې طرف ته د دې نِسبَت دے. څنګه چې دلته د بهاګل، بوريا او د ډهاكې مَلمَل يا د لائل پور لَټّهه مشهوره ده. ولې چې د څادر په واپس كولو به د ابوجَهْم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ زړهٔ ته خفګان رسيدلے ځكه يـې د هغوئي د زړهٔ ساتلو د پاره د هغې په بدل كښې د هغوئي نه بل څادر طلب كړلو. صُوفِيا فرمائي چې د لِباس اثر په زړهٔ پريوځي، خُصُوصاً صفا او روښانه زړونه زر اثر اخلي،

څنګه چې په سپينه کپړه باندې کۀ تور داغ معمولي هُم وي نو د لرې نه معلوميږي. د دې نه معلومه شوه چې د جومات مِحراب ساده کيدل بهتر وي چې د نمونځ کوونکي تَوجُّه نۀ خرابيږي. بعضې صوفيا د نقش و نګار والا مُصلّې په ځائے په ساده پَزَکي [يعني چټائي] باندې نمونځ کول خوښوي، د هغوئي ماخَذ (يعني بُنياد) هُم داحديث دے. ياد ساتئ چې دا هر څه د خپل اُمَّت د تعليم د پاره دي، د قَلبِ پاک مُصطَفیٰ (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) وارِدات (يعني مبارک زړۀ باندې تيريدونکي کيفيات) مختلف دي، کله د کپړې د بوټو (يعني ډيزائن) په وجه د خُشُوع و خُضُوع کميدلو انديښنه (يعني ويره) وي او کله په ميدانِ جِهاد کښې د تُورو په سوري کښې نمونځ کوي او په خُشُوع کښې يې هيڅ فرق نۀ راځي، کله د بَشَرِيَّت ظُهُور وي او کله د نُورانِيَّت نظارې وي. (مِراٰةُ المناجيح ج١ ص٤٦٦)

## ډيزائن والا لباس کښې نمونځ جائز دے

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! د دې نه دې څوک دا مطلب نۀ اخلي چې ګنې په رنګينو يا ډيزائن والا جامو کښې نمونځ کول ناجائزه دي! مسئله دا ده چې که د جامو ډيزائن وي يا په جيب کښې څه وزندار څيز وي يا هر داسې څيز چې هغه د نمانځۀ په خُشُوع کښې رُکاوټ اچوي د هغې نه بچ کيدل بهتر او د ثواب کار دے.

## نوي نعلَينِ شَرِيفَين

حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو ځل نوي نَعلَينِ شَرِيفَين يعنې مبارک پيزار په ښپو کړل، هغه يې خوښ شولو نو سَجدۀ شُکر يې وکړه او اِرشاد يې اوفرمائيلو: ما د خپل رب په وړاندې عاجزي وکړه چې هغه په ما غضَب ناک نۀ شي. بيا هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بهر تشريف يوړلو او د ټولو نه مخکښې چې ورته کوم سائل (يعني سوالګر) مِلاؤ شو هغۀ ته يې هغه نَعلَينِ شَرِيفَين عطا کړل. بيا يې اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته اِرشاد اوفرمائيلو: ”زما د پاره د زړې نرمې څرمنې نَعلَين (يعني پيزار) واخله.“ بيا يې هغه په

ښپو کړل. (اِحيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ۱ ص ۵۰۹)

## د سرو زرو ګوتمه [ګوتۍ]

د سرو د پاره د سرو زَرو د حرام کيدلو نه مخکښې د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په لاس مبارک کښې د سرو زرو يوه ګوتمه وه، هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نُوراني مِنبر باندې تشريف فرما وو چې ګوتمه يې لرې کړه او اِرشاد يې اوفرمائيلو: " دې زۀ مشغوله کړم، زما يو نظر د دې په طرف وو او يو نظر ستاسو (يعني د حاضرينو) په طرف." (اِحيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ۱ ص ۵۰۹)

## د سرو ګوتمه يې غوزاره کړه (حکايت)

زمونږ خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو کس په لاس کښې د سرو زرو ګوتمه وليده نو هغه يې [ترينه] اُوويستله او غوزاره يې کړه او دا يې اوفرمائيل چې "آيا څوک په خپل لاس کښې سکروټه ږدي!" چې کله حُضُور (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) تشريف يوړلو، چا هغوئي ته اُووئيل: خپله ګوتمه دې را اوچته کړه، او په څه کار يې راوله. هغوئي اُووئيل: قَسَم په خُدائے! زۀ به هغه کله هم نه اخلم، چې رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه غوزاره کړه. (مُسلِم ص ۸۹۱ حديث ۵۴۷۲)

ہر صحابیِ نبی جنّتی جنّتی | سب صحابیات بھی جنّتی جنّتی

هر صحابِـي نبي | جَنَّتي جَنَّتي
ټولو صحابِياتي هُم | جَنَّتي جَنَّتي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مرغۍ د محبَّت وَبال (حِکايت)

يو عابِد (يعني عبادت ګُزار بنده) په يو ځنګل کښې د اوږدې مودې پورې د اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت عبادت وکړو. هغۀ يو ځل يوه مرغۍ په يوه ونه کښې په خپله جاله کښې په چغيدلو وليده نو په زړۀ کښې يې اُووئيل: خومره ښه به وي چې زۀ د عبادت د پاره دې وَنې ته

نزدې ځائے جوړ کړم چې د دې مرغۍ د آواز نه اُنس يعنې مِينه [يعنې خوند] هُم حاصلووم. بيا هغه هُم هغسې وکړل، نو الله پاک د هغه وخت نبي عَلَيْهِ السَّلَام باندې وحې راوليږله: فلانکې عابِد (يعنې عبادت گُزار) ته اُووايه: "ته مخلوق سره مانُوس شوے (يعنې مينه دې ورسره حاصله کړه) ما ستا درجه داسې کمه کړه چې اوس به په يو عمل هُم تهٔ هغه حاصله نهٔ کړے شې." (اِحْيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ٥ ص ١٢١)

## مرغۍ ساتل څنګه دي؟

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! مرغۍ وغيره ساتل جائز دي. خو په دې کارونو کښې داسې مشغولِيَت مُناسِب نهٔ دے چې هغه د نمونځونو په خُشُوع او د نورو عباداتو په تَوجُّه کښې رُکاوټ جوړ شي. او دا ضروري ده چې داني او اوبه دومره کثرت سره ورکوئ چې په هيڅ طريقه هُم ستاسو په وجه هغوئي ته د لوَږې او تندې تکليف اُونه رسي. اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکې: "(ځاروي [او مرغۍ] ته دې) په ورځ کښې اَويا (70) ځله (يعنې ډير زيات ځله داني [گيا] او) اوبه بنائي. گنې اوږې او تږې ساتل سخته گناه ده." (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج ٢٤، ص ٦٤٤) په ځناور باندې د هيڅ قِسمه ظلم نه ځان ساتل ضروري دي ځکه چې په ځناور باندې ظُلم کول په مسلمان باندې ظُلم کولو نه هم غټه گناه ده. مسلمان مُقَدَّمه وغيره درج کولے شي، مظلوم ځناور عاجزه به چا ته فرياد وکړي! دا ياد ساتئ چې د مظلوم ځناور ښيرې قبليږی.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## صحابي باغ صَدَقه کړو (حکايت)

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو طَلحه انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خپل باغ کښې **نمونځ** کولو، ناڅاپه يوه د خړ رنگ کوتره والوَتله او د بهر وتلو لاره لټولو د پاره اخوا ديخوا تاويدله، هغوئي ته دې نظارې خوند ورکړو او د لږ ساعت د پاره يـې هغې ته کتل، بيا چې کله د **نمانځهٔ** په طرف

مُتَوَجِّه شولو نو ترينه هير شولو چې څو ركعتونه وشو! هغوئي اُوفرمائيل: زما مال (يعني باغ) زۀ په ازمينبت كښې واچولم! نو د رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار كښې حاضر شولو او د دې واقعې بيانولو نه پس يـې عرض وكړو: يارَسُولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! اوس هغه باغ صَدَقه دے، چرته يـې چې غواړئ صَدَقه يـې كړئ. (مؤطا امام مالِک ج۱ ص۱۰۷ حديث ۲۲۵)

## تابِعي باغ صَدَقه كړلو (حكايت)

يو تابِعي بُزُرگ رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه خپل د كجورو باغ كښې نمونځ ادا كړو، د كجورو وَنې د ميوو (د كثرت) په وجه راتِيتې شوي وې، په هغې يـې چې نظر پريوتلو نو خوند يـې وركړو او ترينه هير شو چې څو ركعاته يـې وكړل! هغوئي دا واقعه د اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عُثمانِ غَني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په خدمت كښې بيان كړه او عرض يـې وكړو: اوس هغه باغ صَدَقه دے هغه د **الله** پاک په لار كښې خرچ كړئ. نو حضرت سَيِّدُنا عُثمانِ غَني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هغه په پنځوس زره خرڅ كړلو. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ۱ ص ۵۱۰)

## د دوست د خفه كيدلو ويره خو...

اے **د جَنَّت طلبګارو!** تاسو وليده! د صحابي رَسُول او تابِعي بُزُرگ د نمانځۀ په **خُشُوع** كښې چې د هغوئي باغونه رُكاوټ جوړ شو نو هغه يـې د **الله** پاک په لار كښې خيرات كړل! سُبْحٰنَ الله! زمونږه بُزُرگانِ دِينو د نمانځۀ سره څومره زبردست مَحَبَّت لرلو، او آه! نن زمونږه دا حال دے چې اكثرو خلكو **نمونځ** بالكل هير كړے دے! د اذان په ذريعه پينځۀ وخته نمانځۀ ته رابللے كيږي خو بيخي احساس نۀ كوي! كه چا ته د ملک صدر يا يو وزيرِ دعوت نامه راوليږي نو هغه د خوشحالئ نه په جامو كښې نه ځائيږي، خلكو ته د هغه دعوت ډيره ډيره تذكره كوي چې په فلانكي تاريخ به زۀ د فلانكي وزير دعوت كښې شريک كيږم. افسوس! د دُنيوي افسر دعوت باندې خو فخر كوي خو چې د **نمانځۀ** دعوت وركوونكے (يعني مُـؤَذِّن) يـې دربارِ اِلٰهی ته د حاضرئ د پاره جومات ته غواړي نو

د هغې هيڅ پرواه نۀ كوي. كه څوک عزيز يا دوست ورته د وادۀ [يا بلې ښادئ] دعوت وركړي نو كه زړۀ يې نۀ غواړي خو بيا هُم د هغۀ دعوت قبلوي ځكه چې بعضې وخت د دې خبرې ويره وي چې كه دعوت مې قبول نۀ كړو نو چرې هغه خفه نۀ شي! خو آيا تاسو كله دا سوچ كړے دے چې كه د مُـؤَذِّن رابلل: حَيَّ عَلَى الصَّلَاة، يعنې "راشئ د **نمانځۀ** په طرف!" د اوريدلو باوجود مو كه د **نمانځۀ** دعوت قبول نۀ كړو نو پاک پروردګار به ناراضه شي! ياد ساتئ۔

پڑھتے ہیں جو نماز وہ جنت کو پائیں گے
جو بے نماز ہیں وہ جہنم میں جائیں گے

كوي چې څوک نمونځونه نو جَنَّت ته به لاړ شي
څوک نۀ كړي چې نمونځونه نو دوزخ ته به لاړ شي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# خُشُوع والا نمونځ غم لرې كوي

د دعوتِ اسلامي د مَكتَبَةُ الْمَدِينه د 103 صفحو كتاب "راهِ علم" [اُردو] صفحه نمبر 87 كښې دي: د طالِبِ عِلم د پاره مناسب نۀ دي چې هغه د دُنياوِي اُمُورو (يعنې دُنياوي مُعامَلاتو) باره كښې فِكر و غم وكړي ځكه چې د دُنياوي اُمُورو فِكر كول سراسر نُقصان دے او د هغې هيڅ فائده نشته ځكه چې د دُنيا فِكر د زړۀ د تور والي مُوجِب (يعنې سبب) وي، او فِكرِ آخرت د نُورِ قَلب [يعنې د زړۀ روښانه كولو] باعث وي او د هغه نُور اثر په **نمانځۀ** كښې ظاهريږي، (ولې) چې د دُنيا غم هغه د خير (يعنې ښيګړې د كارونو) نه منع كوي او د آخرت فِكر يې د خير كارونو طرف ته راپاروي. دا هُم ياد ساتئ چې **نمونځ** په **خُشُوع و خُضُوع** سره ادا كول او **تَحصِيلِ عِلمِ دِين** (يعنې عِلمِ دِين حاصلولو) **كښې مشغول** اوسيدل **فِكر او غم لرې كوي**. (راهِ عِلم)

غم روزگار میں تو مرے اشک بہ رہے ہیں ترا غم اگر رلاتا تو کچھ اور بات ہیں

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٣٨٤)

غمِ روزګار کښې مې بهيږي ډيرې اوښکې
څه به ښه وے چې ژړل مې ستا په غم کښې

# په روزئ کښې د بَرَکت مضبوطه ذريعه

د هُم دې "راهِ علم" په صفحه نمبر 92 کښې دي: په رِزق کښې د وُسعت قوي ذريعه يعني په روزئ کښې د بَرَکت مضبوطه ذريعه دا ده چې انسان نمونځ په خُشُوع و خُضُوع سره او د تَعدِيلِ ارکان (يعني د نمانځهٔ ارکان په ورو ورو د ادا کولو) لحاظ ساتلو او د ټولو واجِباتو او سُنَّتو او آدابو پوره رِعايت ساتلو سره ادا کړي. (راهِ علم)

# د اوږد عُمر حاصلولو لس اسباب

هغه څيزونه چې په عُمر کښې د اضافے سبب جوړيږي هغه دا دي: ﴿١﴾ نيکي کول ﴿٢﴾ مسلمانانو ته تکليف نۀ ورکول ﴿٣﴾ د مشرانو احترام کول ﴿٤﴾ صِلۀ رِحمي (يعني خپلوانو سره ښۀ سُلوک) کول ﴿٥﴾ هره ورځ سحر او ماښام دا کلِمات درې درې ځله لوستل: سُبۡحٰنَ اللهِ، مِلۡءَ الۡمِيۡزَانِ، وَمُنۡتَهَى الۡعِلۡمِ، وَمَبۡلَغَ الرِّضَا، وَزِنَةَ الۡعَرۡشِ، وَ الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ، وَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ، وَ اللهُ اَكۡبَرُ، مِلۡءَ الۡمِيۡزَانِ، وَ مُنۡتَهَى الۡعِلۡمِ، وَمَبۡلَغَ الرِّضَا، وَزِنَةَ الۡعَرۡشِ ﴿٦﴾ بې ضرورته د شنو ونو پريک کولو نه ځان ساتل ﴿٧﴾ په پوره طريقه د سُنَن و آداب لحاظ ساتلو سره اودس کول ﴿٨﴾ نمونځ په خُشُوع و خُضُوع سره ادا کول ﴿٩﴾ په يو اِحرام کښې حج و عُمره ادا کول يعني حَجِ قِران کول ﴿١٠﴾ د خپل صِحَت خيال ساتل. دا ټولې خبرې په عُمر کښې د زياتوالي سبب جوړيږي.

(راهِ عِلم ص ٩٥ بتغير قليل)

# بنده نه رکعتونه ولې هيريږي

د غيبو خبرې بيانوونکي زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: "چې

کله اذان کيږي نو شيطان شا تاؤ کړے په منډه وتښتي او هوا ترينه خارجيږي د پاره د دې چې اذان وانَوري، د اذان نه پس بيا راشي. او چې کله اِقامت کيږي نو بيا په منډه وتښتي، د اِقامت نه پس راشي او نمونځ کوونکي ته وسوسه ورکول شروع کړي او د هغهٔ هيرو شوو خبرو په باره کښې [هغهٔ ته] وائي: فلانکۍ خبره ياده کړه، فلانکۍ خبره ياده کړه تر دې چې نمونځ کوونکي ته ياد پاتې نهٔ شي چې هغهٔ څو رکعاته کړي دي؟“ (بُخاری ج۱ ص۲۲۲ حديث ۶۰۸)

## اذان کښې د شيطان لرې کولو تاثِير دے

حَکيمُ الاُمَّت **حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ د دې حديثِ پاک لاندې ليکي: دلته د شيطان د تښتيدلو ظاهري معنٰی مُراد ده او په اذان کښې د شيطان د دفع کولو تاثير دے، په دې وجه د طاعُون په خوريدلو باندې د اذانونو کولو وئيلے کيږي ځکه چې دا وَبا د پيريانو د اثر په وجه وي. د ماشوم په غوږ کښې اذان کوي ځکه چې د هغهٔ د پيدائش په وخت کښې شيطان موجود وي چې د هغهٔ په وهلو ماشوم ژاړي. د [مړي] ښخولو نه پس اذان کوي ځکه چې هغه د مړي د امتحان او د شيطان له طرف د تيريستلو وخت وي، د دې (يعني د اذان) په بَرَکت به شيطان وتښتي، او د مړي زړهٔ ته به سکون حاصل شي، په نوي کور کښې به يې زړهٔ ولګي، د نَکيرين (يعني مُنکر نَکير) د سوالاتو جوابات به ورياد شي. (مِراٰۃُ المناجيح ج۱ ص ۴۰۹) (د قبر خوا ته د اذان کولو مُتَعَلِّق د تفصيلي معلوماتو حاصلولو د پاره ”فتاوٰی رَضَوِيَّه“ (مُخَرَّجَه) جِلد 5 کښې د موجودې رسالې ”اِيْذَانُ الْاَجْرِفِيْ اَذَانِ الْقَبْرِ“ مطالَعه وکړئ)

## نمانځهٔ کښې هيرې شوې خبرې راياديږي

**حضرت** مُفتي احمد يار خان صاحِب څه مخکښې نور فرمائي: تجربه ده چې په نمانځهٔ کښې [بنده ته] هُغه خبرې ورياديږي کومې چې ورته د نمانځهٔ نه بهر يادې نه وي. د دې نه معلومه شوه چې **اللّٰه** پاک شيطان ته د انسانانو په زړونو د تَصَرُّف کولو قدرت ورکړے دے د انسانانو د

ازميښت د پاره، که هر څومره کوشش اوکړے شي خو د دې وسوسو نه کِلِّي (يعني مکمل طور باندې) نجات نۀ حاصليږي. پکار ده چې د وسوسو پرواه اونکړے شي، نمونځ دې جاري ساتي، [يعني] د مچانو د وجهې دې طعام نۀ پريږدي. (مِرْاٰةُ المناجيح ج١ص ٤١٠)

## شيطان ورته د خزانې دَرَک [يعني پته] اوښودله (حکايت)

يو کس مال ښخ کړو او [ځائے يې] ترينه هير شو او د حضرتِ سَيِّدُنا امام اعظم ابو حنيفه رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شو، هغوئي ورته اُوفرمائيل: توله شپه نفل نمونځ وکړه نو درياد به شي، هغه کس نمونځ کول شروع کړو، بس يو څو رکعاته يې چې وکړل نو ورياد شو (او نفلونه کول يې پريښودل) بيا د اِمامِ اعظم رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَيْه په خِدمت کښې حاضر شو او دا واقعه يې ورته بيان کړه. هغوئي ورته اُوفرمائيل چې ما ته معلومه وه چې شيطان به تا توله شپه نمانځۀ ته نۀ پريږدي او تا ته به ستا مال درياد کړي چې نمونځ کول پريږدې. (الخيراتُ الحسان ص ٧١ مُلَخَّصاً)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د دې حِکايت نه دا ظاهريږي چې د حضرتِ سَيِّدُنا امام اعظم ابو حنيفه رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَيْه د حُکم مطابق هغه کس د رضائے اِلٰهي د پاره **خُشُوع و خُضُوع** سره نفلونه وکړل او د هغۀ کار سم شو. دا ياد ساتئ! چې کله هُم د څه دُنيوي کار د پاره څه وظيفه کوئ نو په هغې کښې د ثواب نِيَّت هُم کول پکار دي، مَثَلًا په روزئ کښې بَرَکت د پاره، بيمارئ نه د شِفاء [حاصلولو] د پاره، د قرض د ادائيګئ د پاره، د اولاد کيدلو يا د رشتے ملاويدلو وغيره د پاره چې د دعوتِ اسلامي په قافِله کښې سفر کوئ يا څه وِرد او وظِيفه کوئ نو د **اللّٰه** پاک د رضا حاصلولو د پاره نِيَّت ضرور کوئ، که **اللّٰه** پاک ته منظوره وه نو کار به مو هُم وشي. هُم داسې **صلٰوۃُ الْحاجت** وغيره ادا کولو کښې هُم د ثواب نِيَّت کول پکار دي.

## که د رکعتونو شمير ترينه هير شي نو څه وکړي

”**بَهارِ شرِيعت**“ کښې دي: ❖ که د چا د رکعتونو په شمير کښې شک شي، مَثَلًا چې درې شوي دي که څلور او د بُلُوغ (يعني بالِغ کيدو) نه پس يې دا ورومبئ واقعه وي نو په

سلام ګرځولو یا په مُنافِيِ صلوٰة (یعني د نمانځهٔ خلاف کار) کولو دې یــې مات کړي یا دې یــې د غالِب ګُمان بمُوجِب (یعني مطابق) ادا کړي خو په هر صورت کښې دې دا نمونځ د (نوي) سر نه وکړي. مَحض [یعني صرف] د ماتولو نِیَّت کافي نهٔ دے (یعني د نمانځهٔ ماتولو عمل به کوي) او که دا شک وړومبے ځل نهٔ وي بلکې د دې نه مخکښې هم شوے وي نو که غالب ګمان یــې یو طرف ته وي نو په هغې دې عمل وکړي ګنې د کم طرف دې اختیار کړي یعني که په درېو او څلور کښې شک وي نو درې دې قرار کړي، که دوه او درې کښې یــې شک وي نو دوه، وَعَلٰی هٰذَا الْقِیَاس (یعني او هُم دغسې) او په دریم او څلورم دواړو دې قَعده وکړي ځکه چې اِحتِمال دے (یعني امکان دے) چې دریم رکعت څلورم رکعت وي او په څلورم کښې دې د قَعدې نه پس سَجْدهٔ سَهوْ وکړي او سلام دې وګرځوي او د ګُمانِ غالِب په صورت کښې سَجْدهٔ سَهوْ نشته خو که په سوچ کولو کښې یــې په قدر د یو رُکـن (یعني د درې ځله سُبْحٰنَ الله وئیلو په مِقدار) وقفه کړې وي نو سَجْدهٔ سَهوْ واجِب شوه ❖ که د نمانځهٔ پوره کیدو نه پس یــې شک پیدا شي نو د هغې هیڅ اعتبار نشته او که د نمانځهٔ نه پس یــې یقین وي چې کوم فرض رانه پاتې شوے دے خو په هغې کښې یــې شک دے چې هغه څه دے [یعني کوم فرض دے] نو بیا کول فرض دي. (بهارِشریعت ج۱ ص ۷۱۸)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## هغه به د انټرنیټ غلط استعمال کولو

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د اودس، غُسل او نمانځهٔ د مسائلو زده کولو جذبه حاصلولو د پاره او په خپل زړهٔ کښې خوفِ خُدا زیاتولو د پاره، د ګناهونو نه ځان خلاصولو او د جَنَّت په لاره د روانیدلو ذِهن جوړولو د پاره د عاشِقانِ رَسُول دِیني تنظیم ”دعوتِ اسلامي“ دیني ماحول کښې شامل اوسئ. د ترغیب د پاره یو مَدَنـي سپرلے واورئ: چنانچه د کراچئ د علاقې اورنګي ټاؤن اوسیدونکے یو اسلامي ورور به شپه او ورځ په

ګناهونو کښې اخته اوسيدلو، په اسنوکر، ډبُّو، کرکټ وغيره کښې به يـې جواري کوله، بدو دوستانو سره به يـې په شريکـه فلمونه او ډرامې کتلې او په ذاتي کمپيوټر به يـې شرم ناک فِلمونه کتل. د دې بيان د وخت نه زيات و کـم د څلورو پينځؤ کالو خبره ده چې يو ځل يـې انټرنيټ استعمالولو او مختلف ويب سائټونه يـې بدلول رابدلول چې ناڅاپه يو بيان آن لائن شو. هغه مخکښې کيدل غوښتل خو د بيان کوونکـي انداز د هغهٔ لاس ودرَولو او هغه بيان يـې اوريدل شروع کړو، مُبَلِّغ په خوفِ خُدا باندې بيان کولو. د بيان په دوران کښې هغه هُم په خپلو ګناهونو پښيمانه شو او بيان يـې چې واوريدو نو مُتأَثِّره شو. نور معلومات يـې چې وکړو نو معلومه شوه چې دا بيان د **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې په صحرائے مدينه ټول پلازه کراچۍ کښې کيدلو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه هغه [اِجتِماع ته لاړو او] په هُم هغه اِجتِماع کښې د غوثِ پاک پيران پير شيخ عبد القادِر جِيلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه مُرِيد جوړ شو او د ګناهونو نه حفاظت د پاره د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامل شو، دغسې هغهٔ ته د توبه کولو سعادت نصيب شو. د دې نه علاوه هُم هغهٔ د دعوتِ اسلامي بَرَکتونه ليدلي دي مَثَلًا يو ځل يـې خوب وليدو چې مسجِدِ نَبَـوِي شريف کښې مَدرَسةُ الْمَدِينه (بالغان) لګيدلې ده او اِسلامي ورونړه قرآنِ کريم لوَلي. يو ځل يـې وليدل چې په مسجِدِ نَبَـوِي کښې د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کيږي او يو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي بيان کوي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه په علاقائي سطح ورته د **نيک اعمالو** ذِمَّه داري هُم حاصله شوه او زيات و کـم يوولس مياشتې ورته په اِستِقامت سره هره مياشت مَدَني قافِله کښې د سفر سعادت هُم نصيب شو.

ترا شکر مولا دیا مدنی ماحول
نہ چھوٹے کبھی بھی خدا مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٧)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دُنيا نه تلونکي په شان نمونځ دې کوي

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چې کله په تاسو کښې څوک نمونځ کوي نو د رخصتيدونکي کس په شان دې د دې ګُمان لرلو سره **نمونځ** کوي چې نور به کله هُم دوباره نمونځ اونکړے شي. (جامِع صغير ص٥٠ حديث ٧١٦)

## د نمانځهٔ په وخت کښې خپل هر څيز ته اَلوَداع اُووايه!

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد بِن محمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: يعني د هغه کس په شان نمونځ کوه څوک چې خپل نفس رخصت کړي او د خپلو خواهشاتو نه په سفر روان شوے وي او خپل ژوند ته اَلوَداع [يعني رخصت] وائي او د خپل مولٰی په طرف روان وي. (اِحيَاءُ الْعُلُوم ج١ ص٢٠٥)

حضرتِ سَيِّدُنا بَکر بِن عبدُالله مُزَني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: که ته دا غواړې چې ستا نمونځ تا ته فائده درکړي، نو (د نمانځهٔ شروع کولو نه مخکښې) دا اُووايه: شايد چې زهٔ به د دې نمونځ نه پس بيا نمونځ اونکړے شم. (قصر الامل مع موسوعه لِاِمام اَبی الدنیا ج٣ ص٣٢٨ رقم ١٠٤)

## دا زما د ژوند آخري نمونځ دے

د نمانځهٔ په وخت کښې مرګ يادول پکار دي او دا ذهن جوړول پکار دي چې دا زما د ژوند آخري نمونځ دے. **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "خپل نمانځهٔ کښې مرګ يادوئ ځکه چې کله څوک په خپل نمانځهٔ کښې مرګ يادوي نو هغه به ضرور په ښهٔ انداز کښې نمونځ کوي او د هغه کس په شان نمونځ کوئ څوک چې اُمِّيد نهٔ لري چې هغه به بل نمونځ ادا کړے شي." (کَنْزُ الْعُمَّال ج ٧ ص٢١٢ حديث ٢٠٠٧٥)

## د مرګ په باره کښې شپږ (6) فَرامِينِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** يقيناً د هر نمونځ کوونکي خو به يقيناً يو نه يو آخري

نمونځ وي لِـهذا که په هر نمانځهٔ کښې بنده ته مرګ ورياد شي نو ډيره زياته د سعادت خبره ده. هسې هُم په اَحادِيثِ مُبارکه کښې د مرګ ترغيب ورکړے شوے دے، په دې سلسله کښې شپږ فَرامِـينِ مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واورئ: ﴿۱﴾ خوندونه ختموونکے زيات يادوئ. (اِبنِ مَاجَه ج ٤ ص٤٩٥ حديث ٤٢٥٨) يعني مرګ يادولو باندې خوندونه خراب کړئ چې د هغوئي طرف ته مو طبيعت نهٔ مائل کيږي او تاسو پوره تَوَجُّه سره د **الله** پاک په طرف مُتَوَجِّه شئ. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ٥ ص ٤٧٧)

## ﴿۲﴾ که څاروي د مرګ په باره کښې پوهه شوي وے نو.......

که څاروي د مرګ په باره کښې په هُغه څه پوهه شوي وے کوم چې انسان ته معلوم دي نو تاسو ته به د خوړلو د پاره خورب څاروے نهٔ شوے ملاويدے. (شُعَبُ الْاِيْمَان ج ۷، ص ۳۵۳ حديث ۱۰۵۵۷)

## ﴿۳﴾ د مرګ شل ځله يادولو فضيلت

حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا عرض وکړو: يارَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آيا شهيدانو سره به بل څوک هُم اوچتولے کيږي؟ اِرشاد يـې اُوفرمائيلو: "آو! هغه، څوک چې په شپه او ورځ کښې شل ځله مرګ ياد کړي." (قُوتُ الْقُلُوب ج ۲ ص ٤٣) د دې فضيلت وجه دا ده چې مرګ يادول بنده د دې دوکه بازې دُنيا نه لرې ساتي او د آخرت د تيارئ مطالبه کوي او مرګ نهٔ يادول بنده دُنياوي خواهشاتو کښې مشغولوي. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج ٥ ص ۱۹۳) (اِحْيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ٥ ص ٤٧٧)

## ﴿٤﴾ مرګ د مسلمان د پاره کفّاره ده

اَلْمَوْتُ كَفَّارَةٌ لِكُلِّ مُسْلِمٍ يعني مرګ د هر مسلمان د پاره کفّاره ده. (شُعَبُ الْاِيْمَان ج ۷ ص ۱۷۱ حديث ۹۸۸٦) دلته پوخ رښتينے مسلمان مُراد دے د چا د لاس او ژبې نه چې نور مسلمانان محفوظه اوسي او په هغه کښې مومِنانه اخلاق موجود وي او د ګناهونو ګندګي پکښې نهٔ وي يعني د کبيره (يعني غټو غټو) ګناهونو نه ځان ساتي او د فرائضو ادا کولو خيال ساتي

ځكه چې كه صغيره (يعني واړۀ) ګناهونه ترينه وشو نو مرګ هغه ګناهونه ختم كړي او هغه پاك او صفا كړي. (اِحيَاءُ الْعُلُوم ج ٥ ص ١٩٣) (اِحيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ٥ ص ٤٧٨)

## ﴿٥﴾ د خوشحالئ مجلِس

حُضُور نَبِيّ كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو مجلِس په خوا تيريدلو چې د هغې نه د خندا آوازونه اوچتيدل، اِرشاد يـې اُوفرمائيلو: په خپلو مجلسونو كښې د خوندونو خرابوونكـي تذكره هُم كوئ. هغوئ عرض وكړو: خوندونه خرابوونكـے څه خيز دے؟ اِرشاد يـې اُوفرمائيلو: مرګ. (تذكرة الموت مع موسوعه لِلإمام اَبى الدنيا ج ٥ ص ٤٢٣ حديث ٩٥)

## ﴿٦﴾ بيا د هغۀ دَرَجه دا نۀ ده

د رَسُولِ اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه كښې د يو كس ذِكر وشو نو خلكو د هغۀ ډير صِفَت وكړو. هغوئ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: هغه مرګ څنګه يادوي؟ خلكو عرض وكړو: مونږ خو نۀ دي اوريدلي چې هغه مرګ يادوي. اِرشاد يـې اُوفرمائيلو: بيا د هغۀ دا دَرَجه نۀ ده. (اِحيَاءُ الْعُلُوم ج ٥ ص ١٩٤) (اِحيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ٥ ص ٤٧٩)

# د مرګ په باره كښې د انبياء و اولياء بعضي واقعات او ارشادات

﴿١﴾ د الله پاك د عَظَمَت والا نبي حضرتِ سَيِّدُنا عيسىٰ رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام په مخكښې به چې كله د مرګ ذِكر كيدلو نو د هغوئ د پوستكي مبارك نه به د وِينې څاڅكي بهيدل.

﴿٢﴾ د الله پاك عظيم نبي حضرتِ سَيِّدُنا داؤد عَلَيْهِ السَّلَام به چې كله د مرګ او قيامت ذِكر كولو نو دومره به يـې ژړل چې د بدن جوړونه به يـې د خپل ځائے نه اوخوزيدل بيا به يـې چې كله د رَحمتِ اِلٰهي تَذكره كوله نو بيرته به خپل ځائے ته راغلل.

﴿٣﴾ تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا عُمر بِن عبدُ العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به روزانه د شپې په وخت كښې عُلَمائے كرام راجمع كول او بيا به يـې په شريكـه د قَبْر و آخرت او مرګ په باره كښې خبرې كولې، بيا به ټولو داسې ژړل لكه مخې ته يـې چې جنازه پرته وي.

﴿٤﴾ تابِعِي بزرګ حضرتِ سَيِّدُنا كَعْبُ الْاَحبار رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به فرمائيل: څوک چې مرګ اوپيژني په هغهٔ باندې د دُنيا مصيبتونه او غمونه سپک شي.

﴿٥﴾ حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهِيم تَيمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: دوو څيزونو زما نه د دُنيا خوندونه واخستل، يو د **مرګ** ياد او بل په بارګاهِ اِلٰهی کښې (د) ودريدلو (خيال). (اِحْيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج٥ ص٤٧٠)

﴿٦﴾ د حضرتِ سَيِّدُنا **محمد** بِن سِيرِين رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په وړاندې به چې كله د مرګ تذكره كيدله نو د هغوئي د بدن هره حِصَّه به اُوده شوله. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج٥ ص٤٨٠)

## ژوندے كس په قَبْر كښې (حِكايت)

حضرتِ سَيِّدُنا رَبِيع بِن خُثَيم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په خپل كور كښې يو **قَبْر** كنستے وو. چې كله به يې په زړهٔ كښې سختي محسوسوله نو په هغې كښې به څملاستلو او تر څو به چې **الله** پاک غوښتله په هغې كښې به موجود وو، بيا به يې د دې آيَتِ مباركه تِلاوت كولو:

رَبِّ ارْجِعُوْنِ ﴿۹۹﴾ لَعَلِّیْۤ اَعْمَلُ صَالِحًا فِیْمَا تَرَكْتُ (پ ١٨، المُؤمِنون: ٩٩، ١٠٠) [مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُالإيمان: اے زما ربـه ما بيرته وګرځوې، شايد چې زهٔ اوس څه خير اوکړم په هغې [يعني دنيا] كښې كومه مې چې پريښودله.

دا به يې څان سره بيا بيا لوستلو، بيا به يې څان ته اُووئيل: اے رَبِيع! ستا **ربّ** ته بيرته راوليږلې، اوس عمل كوه. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج ٥ ص٥٩٢)

## د ځمكې حيرانيدل

حضرتِ سَيِّدُنا اَحمد بِن حَرب نِيشاپوري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: څوک چې د څان د پاره بستره خوروي او د هغې ګونجې هواروي نو ځمكه په هغه كس باندې حيرانتيا كوي او وائي: اے انسانه! په ما كښې دننه به ته د اوږدې مودې پورې سخا كيږې او رژيږې، هغه

ولې نه يادوې! هغه وخت به زما او ستا په مينځ كښې يو څيز هُم نهٔ وي.

(اِحْيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ٥ ص ٥٩٣)

## اوږد اُمِّيد د نيكو په لار كښې رُكاوټ دے (حكايت)

د پيرانِ پير دستګير غوثُ الاعظم رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه په مشائخِ كرامو كښې يو مشهور بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا شيخ **معرُوف** كرخي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه يو ځل (د جُمعې د پاره) ''اِقامَت'' اُووئيلو، بيا يـې يو صاحِب ته اُوفرمائيل: مخكښې شئ او مونږ ته جُمعه راكړئ. هغوئي عرض وكړو: ''زهٔ به تاسو حضراتو ته د دې نمانځهٔ جُمعه دركړم خو آئنده به جُمعه نه دركووم.'' حضرتِ سَيِّدُنا شيخ **معرُوف** كرخي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه اُوفرمائيل: (معلوميږي دا چې) تاسو په خپل زړهٔ كښې دا منصوبه جوړوئ چې د بل نمونځ كولو پورې به ژوندے اوسيږئ! **مونږه د اوږدهٔ اُمِّيد** نه د **الله** پاک پناه غواړو، ځكه چې ''اوږد اُمِّيد'' د عَمَلِ خير (يعني نيكو) نه منع كول كوي.

(قصر الامل مع موسوعه لِاِمام اَبِی الدنیا ج ٣ ص ٣٢٧ رقم ١٠٢)

اے د **الله** **ويره لرونكو بندګانو!** امام جوړيدونكي صاحب چې دا اُووئيل چې زهٔ ستاسو خبره منم خو صرف يو ځل به درته جُمعه دركووم، په دې خبره هغوئي ته اُووئيل شو چې ښه تاسو دا خپل آخري نمونځ نه ګڼئ، دا اُمِّيد لرئ چې ژوندے به اوسم او د نورو نمونځونو موقع به هُم راته ملاويږي او مرګ مو هير كړے دے!

## زما تادي ده! (حِكايت)

حضرتِ سَيِّدُنا **سُحَيم** رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه چې د بنو تميم آزاد كړے غُلام وو، فرمائي: زهٔ د تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا عامِر بن عبدُاللّٰه رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه خوا ته ورغلے ووم، هغوئي د نمانځهٔ جُمعه وركوله، هغوئي مختصر نمونځ وكړو او زما په طرف مُتَوَجِّه شولو او ويـې فرمائيل: ''**زما تادي ده!** فوراً خپل ضرورت بيان كړئ!'' ما ترينه تپوس وكړو: د څه څيز تادي مو ده؟ هغوئي اُوفرمائيل: ''**الله** پاک دې په تاسو رحم وكړي **زما تادي ده!** چرته **مَلَکُ الْمَوت** عَلَيْهِ السَّلَام (زما

رُوح قبض کولو د پاره) رانشي.“ بیا زۀ د هغه ځائے نه پاځیدلم او هغوئي دوباره نمانځۀ کښېي مشغول شولو. (اِحْیَاءُ الْعُلُوم ج٥ ص٥٠٦)

## معلومه نۀ ده چې د خُلې نوَړئ به مې د حلق نه کوزه شي که نه!

اے عاشقانِ اولیاء! تاسو ولیده چې! د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت مقبول بنده حضرتِ سَیِّدُنا عامِر بِن عبدُالله رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه یوه ساه هُم د الله پاک د عبادت نه بغیر د اخستلو په حق کښې نۀ وو! د هغوئي دا ذِهن جوړ شوے وو چې بس دا دے مرګ راغے! لِـهذا چې څومره زر کیدے شي چې نیکئ راجمع کړم ځکه چې د وفات نه پس به د دې موقع نۀ شي مِلاویدے. زمونږه د خوږ مکـی مَدَنـی آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یو ساعت به هُم د ذِکرُالله نه خالي نۀ تیریدلو. یاد ساتئ! طُولِ اَمَل یعنې ”اوږد اُمِّید“ د آخرت د پاره نقصاني دے، دا خوش فهمي بنده ته ډیر زیات نقصان ورکوي چې اوس خو لا ډیر ژوند پاتې دے فلانکئ فلانکئ نیکئ به بیا وروستو وکړو! یقین وکړئ چې زمونږه ژوند هُم هغه دے کوم چې مونږ تیر کړے دے، اوس آئنده د یو ساعت د پاره هُم د ژوندي اوسیدلو ګارنټي هیڅ سره هُم نشته. په دې باره کښې د دعوتِ اسلامي د مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنه د 814 صفحو کتاب، ”اِحْیَاءُ الْعُلُوم (اُردو)“ جِلد 5 صفحه 485 نه یو انتهائي عبرت انګیز حدیث مبارک واورئ: د حضرتِ سَیِّدُنا ابُو سعید خُدري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوایت دے چې حضرتِ سَیِّدُنا اُسامه بِن زَید رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د حضرتِ سَیِّدُنا زَید بِن ثابِت رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه د یوې میاشتې په قرض باندې د سلو دِینارو په بدل کښې یوه وِینزه واخستله نو ما د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان واوریدو چې: آیا تاسو په اُسامه باندې نه حیرانیږئ چې هغۀ د یوې میاشتې قرض وکړو! بیشکه هغه اوږد اُمِّید ترلے دے، قَسَم په هغۀ ذات چې د چا په قبضۀ قُدرت کښې زما ساه ده! ما چې کله هُم سترګې رپـولې دي نو هُم دا ګُمان مې کړے دے چې د سترګو د بنو یو ځائے کیدلو نه مخکښې به الله پاک زما رُوح قبض کړي او چې کله مې هُم نظر پورته کړے دے نو هُم دا ګُمان مې کړے دے چې د نظر ښکته کولو نه مخکښې به مې رُوح قبض کړے شي او

چې کله مې هُم يوه **لُقمه** [يعنې يوه نوَړۍ] راپورته کړې ده نو زما هُم دا گُمان شوے دے چې د تيرولو نه مخکښې به مې د مرګ راتلو په وجه په حَلق کښې ونښلي. بيا يې اِرشاد اُوفرمائيلو: اے اِبنِ آدم! (يعنې اے انسانه!) که ته عقل لرې نو خپل ځان په مړو کښې شميره، قَسَم په هغۀ ذات چې د چا په قبضهٔ قُدرت کښې زما ساه ده! بيشکه د څه چې تا سره وعده کيږي[1] هغه ضرور راتلو والا دے او ته (الله) نه شې عاجِزه کولے."

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** تاسو وليده! چې زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څنګه په ښکلي انداز کښې مونږ ته د "اوږد اُمِّيد" نه د منع کيدلو تلقين فرمائيلے دے. يقيناً ــ

آگاہ اپنی موت سے کوئی بشر نہیں سامان سو برس کے ہیں پل کی خبر نہیں

خبر نه دے له خپل مرګه يو بشر
منصوبې د سلو کالو د يو ساعت نشته خبر

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

د غفلت د خوب نه د رابيدارولو او د "**اوږد اُمِّيد**" د آفت نه خبردارولو والا يو څو نور رِوايات او حِکايات واورئ او د خپل آخرت د پاره نيکئ جمع کړئ:

## چې ماښام کړې نو د سحر اُمِّيد مهٔ ساته

د اسلام د تبولو نه لوئي مُبَلِّغ رَحمتِ عالَم صَلَّی اللہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا ته اِرشاد اُوفرمائيلو: چې کله ته صبا کړې نو چې ستا په زړهٔ کښې د ماښام خيال رانشي او چې کله ماښام کړې نو د سحر اُمِّيد مهٔ ساته او د خپلې تندرُستئ نه د

---

[1] که هغه قيامت وي، يا د مرګ نه پس راپاڅيدل يا حساب يا ثواب و عذاب. (تفسير صِراطُ الۡجِنان،ج٣ص٢١٤)

بيمارئ د پاره او د ژوند نه د مرګ د پاره څه توښه واخله. اے عبدُالله تا ته معلومه نهٔ ده چې صبا به په کوم نوم ياديږې. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ٥ ص ٤٨٤)

## د نن جناب د صبا مرحوم

**اے عنقريب د دُنيا نه تلونکو!** په دې روايت کښې څومره د عبرت مَدَني ګُلونه دي. نن اګر چې مونږه د "جناب" په نوم ياديږو خو کيدے شي چې صبا زمونږ د نوم سره د "مرحُوم" لقب ولګولے شي!

صبح ہوتی ہے شام ہوتی ہے    عمر یوں ہی تمام ہوتی ہے

سحر شي بيا شي ماښام    عُمر شي داسې تمام

**صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب!    صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد**

## تاسو دُنيادار مهٔ جوړيږئ

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: زهٔ په تاسو باندې د دوو خبرو زياته ويره لرم ﴿١﴾ د خواهشاتو تابعداري [يعني منل] او ﴿٢﴾ اوږدهٔ اُمِّيدونه. د خواهشاتو تابعداري د حق نه منع کول کوي او **اوږده اُمِّيدونه** د دُنيا د **مَحَبَّت** سبب دي. بيا يې اِرشاد اُوفرمائيلو: واورئ! بې شکه **الله** پاک دُنيا هغهٔ ته هُم ورکوي چا سره چې **مَحَبَّت** فرمائي او هغهٔ ته هُم څوک چې ناخوښه ګڼي او چې کله يو بنده سره **مَحَبَّت** فرمائي نو هغهٔ ته د ايمان دولت عنايت کوي. واورئ! څه خلک ديندار وي نو څه دُنيا دار، لِهذا تاسو دِينداره جوړ شئ، دُنيادار مهٔ جوړيږئ، واورئ دُنيا شا کړې روانه ده او آخرت د **مخامخ** نه راروان دے، واورئ! تاسو د عمل په ورځ کښې يې چې په دې کښې هيڅ "حساب" نشته او عنقريب (يعني ډير زر) به تاسو په داسې حساب والا ورځ کښې يئ چې په هغې کښې به هيڅ "عمل" نهٔ وي.

(قصر الامل مع موسوعه لِاِمام اَبی الدنيا ج ٣ ص ٣٠٣ رقم ٣)

# د ديندار او دُنيا دار پيژندګلو

**اے دِينِ اِسلام سره مَحبَّت لرونکو!** بيان شوے حديثِ پاک د عِبرت د مدني ګلونو نه ښۀ مالا مال دے. په دې کښې مونږ ته د "دِيندار" جوړيدلو حُکم راکړے شوے دے او د دُنيادار جوړيدلو نه منع کړے شوي يو. **دِيندار** هغه دے څوک چې ظاهِراً او باطِناً (يعني ښکاره او پټ) دواړو حالتو کښې د اَحکامِ شريعت پابند وي، بغير د صحيح مجبورئ نه **بِاَلقَصْد** (يعني اِرادَتاً) فرض يا واجِب يا **سُنَّتِ مُؤَکَدَه** نۀ پريږدي. ياد ساتئ چې د چا ظاهري انداز خو د ديندارو والا وي، مَثَلًا ږيره او عِمامه او لِباس يـې د سُنَّتو مطابق وي، د نمانځۀ او روژې پابند هُم وي، زکوٰة هُم پوره اوباسي، خو د شرعي مجبورئ نه بغير **د جَمعي سره نمونځ** نه کوي، دروغ، غِيبَت، **چُغلي**، وعده خلافي او کنزلې وغيره ګناهونه کوي، دوستانو سره اکثر چې خوش اخلاقه او د حُسنِ اخلاق نمونه او خوږې خبرې کولو والا وي خو د کور کسانو يا ګاونډيانو وغيره ته د خپلې ژبې په ذريعه تکليف ورکوي، فِلمونه او ډرامې ګوري، سندرې او سازونه اوري، بدنظري کوي، نو داسې کس بالکل "دِيندار" نۀ شي کيدے [بلکې] دا خو فاسِق او **پوخ دُنيادار** دے.

اخلاق ہوں اچھے مرا کردار ہو ستھرا محبوب کا صدقہ تو مجھے نیک بنا دے

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۱۱۵)

اخلاق هُم زما ښۀ کړې او کردار مې هُم صفا اے رَبـه ما نيک جوړ کړې د محبوب په وسيله

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# درې لرګي

سرکارِ دوجهان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو ځل درې لرګي راواخستل، يو يـې خپلې مخې ته ښخ کړلو، بل يـې د هغې خوا ته، او دريم يـې لرې لرې، بيا يـې صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته اِرشاد اُوفرمائيلو: تاسو پوهيږئ چې دا څه دي؟ هغوئي عرض وکړو: اَللّٰهُ اَعْلَمُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَم

يعنې **اللہ** پاک او د هغهٔ رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زيات پوهيږي. اِرشاد يـې اُوفرمائيلو: "يو لرګے **انسان** او دويم **مرګ** دے او لرې والا [لرګے] **اُمِّيد** دے، انسان اُمِّيد طرف ته لاس ور وړاندې کوي خو د اُمِّيد په ځائے يـې مرګ ځان طرف ته راښکاږي."

(اِحْیَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ٥ ص ٤٨٥)

## بوډاوالے يـې مړ کړي

**حضرتِ** سَیِّدُنا **عبدُالله** اِبنِ مسعُود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: دا انسان دے او دا مرګونه دي کوم چې د هغه نه ګير چاپيره خوارهٔ دي، د دوئي نه پس **بوډاوالے**، او د بوډا والي نه پس **اُمِّيد** دے، لِـهذا انسان اُمِّيدونه تړلي وي حالانکې مرګونه ورته ګيرچاپيره خواره وي او کوم مرګ ته چې حُـکم وشي هغه بنده په خپل ګرفت کښې واخلي، که د هغو نه بچ شي نو **بوډا والے يـې مړ کړي** او هغه د "اُمِّيد" په اِنتِظار کولو کولو کښې لاړ شي.

(اِحْیَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ٥ ص ٤٨٦)

تجھے پہلے بچپن نے برسوں کھلایا جوانی نے پھر تجھ کو مجنوں بنایا
بڑھاپے نے پھر آکے کیا کیا ستایا اجل تیرا کر دے گی بالکل صفایا

جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## خوک جَنَّت ته تلل غواړي

د **حضرتِ** سَیِّدُنا حَسَن بصري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ نه رِوايت دے چې يو ځل د **اللہ** پاک خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان نه تپوس وکړو: آيا تاسو ټول جَنَّت ته داخليدل غواړئ؟ هغوئي عرض وکړو: آو جي. نو اِرشاد يـې اوفرمائيلو: خپل اُمِّيدونه کوتاه (يعني مختصر) کړئ، مرګ د سترګو مخې ته ساتئ او د **اللہ** پاک نه د حيا کولو حق ادا کړئ.

(اِحْیَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ٥ ص ٤٨٧)

## د دې دُنیا نه پناه چې د آخرت د خیر نه اِیسارول کوي

نبيِّ کریم رَءُوْفٌ رَّحِیْم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به دا دُعـا کوله: یا **الله**! زهٔ ستا پناه غواړم د هغه **دُنیا** نه کومه چې د آخرت په خیر کښې رُکاوټ واچوي، زهٔ پناه غواړم د هغه **ژوند** نه کوم چې په ښه مرګ کښې رُکاوټ جوړ شي او زهٔ پناه غواړم د هغه **اُمِّید** نه کوم چې په نیک عمل کښې رُکاوټ پیدا کړي. (اِحْیَاءُ الْعُلُوم ج ۵ ص ٤٨٧)

## خبردار! د صحت نه دوکه مهٔ خورئ

**حضرتِ** سَیِّدُنا **عبیدُالله** بِن **شُمَیط** رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي چې ما د خپل والِد صاحِب نه دا واوریدل: اے د اوږد صِحت نه دوکه خوړلو والؤ! آیا تاسو څوک د بیمارئ نه بغیر په مړ کیدلو نهٔ دي لیدلي؟ اے د اوږد مُهلت حاصلیدلو نه دوکه خوړلو والؤ! آیا تاسو بغیر د مُهلَت نه (یعنې ناڅاپه) څوک په مړ کیدلو نهٔ دے لیدلے؟ که تاسو د اوږد عُمر په باره کښې سوچ کوئ نو تیر شوي خوندونه به درنه هیر شي، تاسو صِحت په دوکه کښې اچولي یـئ یا اوږده موده په خیر تیریدلو باندې ناز [یعنې فخر] کوئ یا د مرګ نه بې ویرې شوي یـئ یا بیا د مرګ په فرښته باندې زړَوَر شوي یـئ! (یاد ساتئ!) چې کله **مَلَکُ الْمَوت** تشریف راوړي نو هغوئي به نهٔ ستاسو ډیر شے مال اِیسار کړے شي، نهٔ د خلکو زیاتوالے. آیا تاسو ته نهٔ ده معلومه چې د مرګ وخت ډیر زیات تـکلیف ورکوونکـے، سخت او په نافرمانو باندې د شرمنده کیدلو [وخت] دے. بیا یـې اُوفرمائیل: **الله** پاک دې په هغه بنده باندې رَحم اُوفرمائي څوک چې د مرګ نه پس په کار راتلونکي اَعمال وکړي او په هغه بنده دې هُم رحم اوفرمائي څوک چې د مرګ د راتلو نه مخکښې خپله مُحاسَبه (یعنې حساب) وکړي.

(اِحْیَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ۵ ص ٤٩١)

اے د **الله** ویره لرونکو! **الله** پاک دې په ما او په تاسو ټولو رَحم اُوفرمائي. اٰمِین. واقعي چې د انسان جسماني طاقت، دُنیاوي دولت، وزارت و حکومت او شان و شوکت هر څه

به په دُنيا کښې پاتې شي. بيشکه د دُنيا د غټ نه غټ مالدار د دُنيا نه تللو نه پس د عبرت نښه جوړ شي. ”سوشل مِيډيا“ باندې د دُنيا د يو ډېر زيات مالدار کس مُتَعَلِّق د هغهٔ د شړ قَبْر د تصوير سره څه تفصيلات ليکلي شوي وو. د هغه کس نوم حذف کولو [يعنې نه ليکلو] او د الفاظو د تبديلئ سره د عِبرت د پاره د هغه قِصّه وړاندې کيږي. کاش چې! مونږ ترينه عبرت واخلو!

## د کويت يو دولتمند تاجِر

د کويت يو تاجِر سره په سن 2008ء کښې اندازتاً څوارلس اربه ډالر وو. چې څه موده پس وفات شو نو د هُغه وخت د مال و دولت تفصيلات يې څه داسې بيان کړے شو: د کويت په بينکونو کښې دولس اربه ډالر نغد، 33 آئل کيرئير جهازونه، په دُنيا کښې د ټولو نه زياتې هوټلې، د ”زين تيلي کام“ نيم مالِک، کويت، مليشيا، دُبئ، فرانس، اِټلي او لندن کښې د شلو نه زيات اوچت اوچت عمارتونه. د عبرت د پاره په سوشل مِيډيا کښې د هغه د قَبْر تصوير ښودلے شوے وو چې دومره غټ مالدار سړے اوس په دې محل (يعني مختصر شان قَبْر) کښې پروت دے!

حسن ظاہر پر اگر تو جائے گا — عالم فانی سے دھوکا کھائے گا
یہ منقش سانپ ہے ڈس جائے گا — کر نہ غفلت یاد رکھ پچھتائے گا
ایک دن مرنا ہے آخر موت ہے
کر لے جو کرنا ہے آخر موت ہے

ظاهري ښائست که ګوري د دُنيا — له فاني دُنيا به اوخورې ته دوکه
دا دے ښکلے مار ځان ترينه ساته — اونکړې غفلت ګوره بيا به يې خفه
يوه ورځ به ځې دنيا نه آخر مرګ دے — څه چې کړې هغه کوه آخر دې مرګ دے

## تهٔ ظاهري ښائست دوكه كړې

صَحابي اِبنِ صَحابي اَميرُالْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا ابوبكـر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ به په خپله خُطبه كښې اِرشاد فرمائيلو: چرته دي هغه ښائسته مخونو والا چې په خپله ځوانئ به يـې ناز [يعنې فخر] كولو! چرته دي هغه بادشاهان چې ښارونه يـې جوړ كړي وو او د مضبوطو ديوالونو په ذريعه يـې هغه محفوظه كړي وو! چرته دي هغه كمانډران چې د جنګ په ميدان كښې به يـې كاميابئ حاصلولې! وخت هغوئي په ځمكه ښخ كړل، هغوئي اوس د قَبر د تورې تِيارې په تنګه كنده كښې پراتهٔ دي، [په نيكو كښې] تادي كوئ! تادي كوئ! بيا نجات دے، بيا نجات دے. (اِحْيَاءُالْعُلُوم (اُردو) ج ٥ ص ٤٩٥)

یہی تجھ کو دُھن ہے رہوں سب سے بالا | ہو زینت نرالی ہو فیشن نرالا
جیا کرتا ہے کیا یونہی مرنے والا | تجھے حسن ظاہر نے دھوکے میں ڈالا

جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

تهٔ خواهش لرې چې اوسيږمه د هر چا نه بالا | هم اوچت د هر چا نه پهٔ فيشن او پهٔ ښكلا
آيا داسې هم اوسيږي مړ كيدونكے | د ظاهر حُسن نه يې دوكه كيدونكے

دا دنيا د زړهٔ لګولو ځائے نهٔ دے
ځائے د عبرت دے د لوبيدلو ځائے نهٔ دے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اوږدو اُمِّيدونو نه د بچ كيدلو طريقه

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام مُحمّد بِن مُحمّد بِن مُحمّد غزالي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: په زړهٔ كښې د مرګ ياد قائمولو د پاره د دې نه بهتره يوه طريقه هُم نشته چې كوم خلك مړهٔ شوي دي د هغوئي مخونه او شكلونه دې ياد كړي چې هغوئي له مرګ په داسې وخت كښې راغلے وو

چې هغه د هغوئي په وَهم و ګمان کښې هُم نۀ وو يعنې ناڅاپه مړۀ شوي وو، البته چا چې د مرګ تياري کړې وه هغۀ لويه کاميابي حاصله کړه او د اوږدۀ اُمِّيد په دوکه کښې اخته کس ډير لوئي نقصان وکړو. انسان دې هر وخت د خپل بدن مُتَعَلِّق داسې غور و فِکر کوي چې چينجي به زما بدن په څه طريقه خوري، زما هډوکي به څنګه خواره واره شي، او داسې سوچ دې کوي چې معلومه نۀ ده چې چينجي به مخکښې زما د ښئ سترګې ګاټے خوري او که د ګڅې سترګې، آه زما بدن به د چينجو خوراک شي. ما ته به صرف هُم هغه عِلم و عمل فائده راکوي کوم چې ما خالص د **الله** کريم د پاره کړے وي. هُم داسې سوچونه به مو په زړۀ کښې د مرګ ياد تازه ساتي او د هغې په تيارئ کښې به مو مشغول ساتي.

(اِحْيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ٥ ص ٤٩٩)

کاش! عطار کا ہو طیبہ میں تیرے جلووں میں انتقال آقا

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ١٧٥)

کاش د عَطّار په طَيبه کښې وشي
ستا نـظـارو کښې انتِـقـال آقـا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د چا قبر به د جَنَّت باغ جوړيږي؟

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "څوک چې د مرګ په ياديدلو ويريږي قَبْر به د هغۀ د پاره د جَنَّت باغ جوړ شي." (جَمعُ الْجَوامِع ج ٢، ص ١٤ حديث ٣٥١٦)

اے د جَنَّت طَلَبګارو! يقيناً هغه کس انتهائي خوش نصيبه دے څوک چې د اوږدۀ اُمِّيد نه ځان ساتي، څوک چې د مرګ د ياد په وجه په ويره کښې اوسي، څوک چې د بدې

خاتِمې د ويرې، د قَبُر د تِيارو او د هغې د ويرې نه غلے غلے (يعنې ويريدلے ويريدلے) اوسې. آهـ

اندھیری قبر کا دل سے نہیں نکلتا ڈر
کروں گا کیا جو تو ناراض ہو گیا یارب

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۷۸)

زړۀ نه مې نۀ اوځي د قبر د تِيارو ويره
څۀ به كووم تۀ كه خفه شوې زما خوږه ربه

## په مونږ څه شوي دي

**د الله پاک د رَحمت اُمِّيدوارو!** د اوږدو اُمِّيدونو په سبب د ژوند وختونه په غفلت كښې ضائع كولو نه ځان ساتلو د پاره، د مرګ ياد په زړۀ كښې قائم ساتلو د پاره او آخرت كښې هُم بهترئ حاصلولو د پاره د عاشِقانِ رَسُول په صُحبتونو كښې د وخت تيرولو كوشش كوئ. راځئ چې يو **مَدَني سپرلے** واورو: د ليارئ، كراچۍ د يو زلـمي اسلامي ورور (عُمر تقريباً 22 كاله) په شروع شروع كښې د دعوتِ اسلامي ديني ماحول كښې شامل وو خو افسوس! د ګناهونو په خوند كښې ورک شو تر دې چې د ديني ماحول نه لرې شو. سر تور سر به ګرځيدو او نمونځ به يـې هُم نه كولو. د رمضان روژې به يـې هُم نه نِيولې. نيت كيفـے ته به لاړو او په انټرنيټ باندې به يـې سندرې او سازونه اوريدل او شرم ناک فلمونه به يـې كتل. يوه ورځ يـې ناڅاپه په نيټ باندې مَدَني چينل چالو كړو، چې په هغې باندې د نګرانِ شورٰى د بيان "**ہمیں کیا ہو گیا ہے؟**" [يعنې "**په مونږ څه شوي دي؟**"] كلِپ ښودلے شو بيا هغۀ هُم دا بيان په كور كښې په **مَدَني چينل** باندې واوريدو. دا بيان يـې چې واوريدو نو هُم هغه وخت يـې نِيَّت وكړو چې نوره به بِيره نه خَرَيم او نور حرام كارونه به هُم نه كووم. د نمانځۀ پابندي يـې شروع كړه، نيټ كيفـے ته تلل يـې هُم پريښودل، **عاشِقانِ رَسُول** سره يـې **مَدَني قافِله** كښې سفر هُم وكړو، د 63 ورځو تربِيَّتي كورس يـې

وکړو، بيا يـې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د پوره مياشتې اِعتِکاف کولو سعادت هُم حاصل کړو. دغسې د مَدَني چينل په بَرَکت بيا د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامل شو.

چوٹ کھا جائے گا اک نہ اک روز دل
دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
فضلِ رب سے ہدایت بھی جائے گی مل
دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٣٩)

يوه ورځ به اوشي پهٔ تا د رب رحمت
پهٔ ديني ماحول کښې وکړه اعتکاف
پهٔ فضل د رب به اوشي تا ته هدايت
پهٔ ديني ماحول کښې وکړه اعتکاف

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## خُشُوع و خُضُوع سره د نمونځ نهٔ کولو نُقصانات

**خادِمِ** نبي، حضرتِ سَيِّدُنا اَنَـس بن مالِک رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې د **الله** پاک د خوږ نبي، مکـی مَدَنـی مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: څوک چې نمونځونه په خپل وخت ادا کړي او د **نمانځهٔ** د پاره په ښه طريقه اودس وکړي او د هغې قِيام، **خُشُوع**، رُکوع و سُجُود (يعني سجدې) پوره کړي نو د هغهٔ **نمونځ** سپين او روښانه شي او د دې وَينا سره اوځي: "**الله** پاک دې ستا حفاظت اُوفرمائي څنګه چې تا زما حفاظت وکړو." او څوک چې **نمونځ** بې وخته ادا کړي او د هغې د پاره کامِل (يعني په ښه طريقه) اودس اونکـړي او د هغې **خُشُوع**، رُکوع او سَجدې پوره نهٔ کړي نو هغه نمونځ توره تِياره شي او د دې وَينا سره اوځي: "**الله** پاک دې تا ضائع کړي څنګه چې تا زهٔ ضائع کړم." تر دې

چې **اللّٰه** پاک چرته غواړي هغه (نمونځ) هلته ورسي، بیا هغه **د ورَستي** (یعنې شلیدلې زړې) کپړے په شان راونغښتلے شي او د هغه نمونځ کوونکي په مخ ور وِیشتلے شي. (مُعْجَم اَوْسَط ج ۲ ص ۲۲۷ حدیث ۳۰۹۵)

## اِطمینان سره د نمانځهٔ کولو فضیلت

اے د نمانځهٔ عاشقانو! نمونځ په اِطمینان او سکون سره کول پکار دي چې هغه د قَبولِیَّت منزِل ته ورسي. د حضرتِ سَیِّدُنا عُباده بِن صامِت رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ نه رِوایت دے چې د **نبیِّ رَحمت**، شَفِیعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: څوک چې په ښه طریقه اودس وکړي، بیا د نمانځهٔ د پاره ودریږي، د هغې رُکوع، **سُجُود** او قِراءَت پوره کړي نو نمونځ وائي: "**اللّٰه** پاک دې ستا حفاظت وکړي څنګه چې تا زما حفاظت وکړو، بیا هغه **نمونځ** د آسمان په طرف یُوړلے شي او د هغې د پاره څلیدل او **نُور** وي، نو د هغې د پاره د آسمان دروازې خلاصې کړے شي تر دې چې هغه د **اللّٰه** پاک په بارګاه کښې پیش کړے شي او هغه **نمونځ** د هغه نمونځ کوونکي شَفاعَت کوي. او که هغه د هغې رُکوع، **سُجُود** او قِراءَت پوره نهٔ کړي نو **نمونځ** وائي: "**اللّٰه** پاک دې تا ضائع کړي څنګه چې تا زهٔ ضائع کړم." بیا هغه **نمونځ** په داسې طریقه د آسمان په طرف یُوړلے شي چې په هغې باندې تِیاره خوَره وي او په هغې باندې د آسمان دروازې بندې کړے شي بیا هغه د زړې کپړے په شان راونغښتلے شي او د هغه **نمونځ** کوونکي په مخ ور وِیشتلے شي. (شُعَبُ الْاِیمان لِلْبَیْهَقِی ج ۳ ص ۱۴۳ حدیث ۳۱۴۰)

میں پانچوں نمازیں پڑھوں باجماعت | ہو توفیق ایسی عطا یاالٰہی
میں پڑھتا رہوں سنّتیں وقت ہی پر | ہوں سارے نوافل ادا یاالٰہی

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۱۰۲)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د نمانځهٔ نه پس د کيفياتو درې حِکايتونه

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد بِن محمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د **نمانځهٔ** ادا کولو نه پس په خپل زړهٔ کښې حيا او ويره محسوسه کړه او زړهٔ ته په **نمانځهٔ** کښې د کوتاهئ کولو احساس ورکړه او د دې خبرې نه ويرېږه چې چرې ستا **نمونځ** بيخي قبول نهٔ شي، ځکه چې کيدے شي چې تهٔ د يوې ظاهري يا باطِني ګُناه په وجه په غَضَبِ اِلٰهی کښې ګرفتار شوے يې او ستا **نمونځ** ستا په مخ در ويشتلے شوے وي، خو ورسره ورسره دا اُمّيد هُم ساته چې **الله** کريم به په خپل فضل و کرم ستا نمونځ قبول کړي. ﴿۱﴾ **حکايت:** حضرتِ سَيِّدُنا يَحيٰ بِن **وَثّاب** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به چې کله نمونځ وکړو نو ځومره به چې **الله** پاک غوښتله ايسار به شو [يعني د **نمانځهٔ** په ځائے به ناست اوسيدلو]، په هغوئي به د **نمانځهٔ** (د نه قبليدلو د ويرې) غم (داسې ښکاره وو چې) پيژندلے به شو ﴿۲﴾ **حکايت:**حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهِيم نَخَعِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د نمانځهٔ نه پس د يوې ګينټې پورې ايسار [يعني د **نمانځهٔ** په ځائے ناست] اوسيدلو (د نمانځهٔ د نه قبليدلو د ويرې په سبب به داسې محسوسيدله) لکه هغوئي چې مريض وي. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج۱ ص۲۳۰) ﴿۳﴾ حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهِيم بن اَدهَم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به چې کله هُم **نمونځ** ادا کړلو نو فرمائيل به يې: زهٔ دا ويره محسوسوم چې چرته زما **نمونځ** زما په مخ را اُونه ويشتلے شي (يعني چرته داسې اُونهٔ شي چې زما **نمونځ** قبول نهٔ شي). (تذکرةُ الْاَوْلِياء ج۱ ص۹۶)

# چرته زما نمونځ زما په مخ را اُونه ويشتلے شي!

اے خوږو خوږو **نمونځ ګزارو!** تاسو زمونږه د بُزُرګانِ دِين خوفِ خُدا وليدو! هٰغه صاحِبانو به د اعلیٰ درجې د نمونځونو ادا کولو باوجود د رَبُّ الْعِزَّت په بارګاه کښې عاجزي کوله. آه! د ظاهري او باطِني آدابو نه خالي زمونږه نمونځونه! اګر که په مونږه کښې څوک د **نمانځهٔ** په مسائلو کښې ماهر وي خو بيا هُم د **الله** تعالیٰ د پټ تدبِير نه ويريدل پکار دي او د هر **نمانځهٔ** نه پس دا ويره ساتل پکار دي چې چرته زما **نمونځ** زما په مخ را اُونهٔ ويشتلے شي!

ہوں میری ٹوٹی پھوٹی نمازیں خدا قبول    ان دو کا صدقہ جن کو کہا شہ نے "میرے پھول"

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب!          صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## امام صاحبان دې د نمانځهٔ مسائل بيانوي

امام صاحبانو ته پکار دي چې د موقع په مناسبت ښو ښو نِيَّتونو سره خپلو مُقتديانو ته د **بَهارِ شرِيعت** يا د **مَكتَبَةُ الْمَدِينه** د کتاب ''**د نمانځهٔ اَحکام**'' نه ضروري مسائل بيانوي، د صفونو صحيح ساتلو تاکيد، د نمانځهٔ د ارکانو د سُنَّتو مطابق او **خُشُوع و خُضُوع** سره د ادا کولو، او د رُکوع، **سُجُود**، قَومه، جَلسه وغيره اُمورو په صحيح طريقه سره د ادا کولو هدايت دې کوي، او مُقتديانو ته هُم پکار دي چې هغوئي د اِمام صاحب نه د **نمانځهٔ** مسائل زده کوي، زمونږ د مکی مَدَنی آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم طريقهٔ کار دا وو چې کوم نمونځ ګزاره به په نمانځهٔ کښې کوتاهي کوله نو د هغهٔ رهنمائي به يې فرمائيله، چنانچه

## د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم شا ته ليدل کول

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللهُ عَنهُ نه رِوايت دے چې سرکارِ دو جهان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يوه ورځ د **نمانځهٔ** جَمعه ورکولو نه پس د يو کس طرف ته مُتَوَجِّه شولو او ويې فرمائيل: ''اے فلانکيه! تهٔ خپل **نمونځ** په ښهٔ شان ولې نهٔ کوې؟ آيا نمونځ کوونکے د نمونځ کولو وخت کښې غور نهٔ کوي چې هغه څنګه نمونځ کوي؟ هغهٔ صرف د خپل ځان د پاره **نمونځ** کوي، قَسَم په خُدائے! **بيشکه زهٔ تاسو خپلې شا ته هُم داسې وِينم څنګه چې مو مخامخ وينم**.'' (مُسلِم ص ١٨٠ حديث ٩٥٧) د ''**بُخارِي شريف**'' په رِوايَت کښې دي: تاسو دا ګنړئ چې زما تَوجُّه ګنې صرف قبلې طرف ته وي، په **الله** مې دې قَسَم وي! زما نه، نهٔ ستاسو رُکوع پټه وي او نهٔ رانه ستاسو **خُشُوع پټه** وي او بيشکه زهٔ تاسو خپلې شا ته هُم وِينم. (بُخاری ج ١ ص ١٦١ حديث ٤١٨)

## اِمام صاحِب دې د نيکئ دعوت ورکوي

شارِح بُخاري حضرتِ عَلَّامه بَدرُ الدِّين عَيني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک د فائدو په بيان

کښې ليکي: اِمام ته پکار دي چې کله څوک په يوه ديني مُعامَله کښې په کوتاهۍ کولو يا په ناقِص ادا کولو اُووِيني نو هغه دې د هغه فِعل (يعنې حرکت) نه منع کړي او هغه دې هغه کار ته را اُوپارَوِي په کوم کښې چې زيات ثواب دے. (عُمدةُ القاری ج ۳ ص ۴۰۴ تحت الحدیث ۴۱۸) شارِح بُخاري مُفتي شريف الحق امجدي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په امام باندې لازِم دي چې که د مقتديانو په **نمانځهٔ** کښې څه خرابي اُووِيني نو هغوئي دې خبردار کړي. (نُزهَةُ القاری ج ۲ ص ۱۳۱)

## شا ته ليدل، آيا د نمانځهٔ سره خاص وو؟

**عَلَّامه** بَدرُ الدِّين عَيني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د اِمام مُجاهِد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه منقول دي چې د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا ليدل (صرف د نمانځهٔ د پاره خاص نه وو، [بلکې] دا ليدل) د هر وخت د پاره وو. (عُمدةُ القاری ج ۳ ص ۴۰۵)

## په زړهٔ مبارک باندې دوه سترګې او دوه غوږونه

**غزالي** زمان عَلَّامه سيِّد اَحمد سعيد کاظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: جِبريل عَلَيْهِ السَّلَام د شَقِّ صَدرِ مُبارک (يعنې سِينه مُبارکه چاک کولو) نه پس چې کله پاکيزه زړهٔ مبارک د زَم زَم په اوبو اُووِينځلو نو ويې فرمائيل: قَلْبٌ سَدِيْدٌ فِيْهِ عَيْنَانِ تُبْصِرَانِ وَ اُذُنَانِ تَسْمَعَانِ (يعنې) قَلبِ مُبارک د هر قِسم کوږوالي نه پاک دے او بې عَيبه دے، په دې کښې دوه سترګې دي چې هغه ليدل کوي او دوه غوږونه دي چې هغه اوريدل کوي. (فَتحُ الْبارِی ج ۱۳ ص ۴۱۰) د مبارک زړهٔ دا غوږونه او سترګې د دُنيا هُغه څيزونه چې محسوسيدلے شي د هغې نه د ډير زيات لرې حقيقتونو د ليدلو او اوريدلو د پاره دي ځنګه چې پخپله حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اِنِّیْ اَرٰی مَا لَا تَرَوْنَ وَ اَسْمَعُ مَا لَا تَسْمَعُوْنَ يعنې "زهٔ هغه وِينم څه چې تاسو نه شئ ليدلے او هغه اَورَم څه چې تاسو نه شئ اوريدلے." چې الله پاک خِلافِ عادَت د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په زړهٔ مبارک کښې سترګې او غوږونه پيدا کړي دي نو بيا دا وئيل چې د دُنيا هُغه څيزونه چې هغه محسوسيدلے شي د هغې نه د ډير زيات لرې حقيقتونو ليدل او اوريدل د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د

پاره کله کله دي. دائمي (يعني هميشه د پاره) نۀ دي، بالکل غلطه شوه. ځکه چې د ظاهري سترګو او غوږونو ليدل او اوريدل دائمي (يعني مستقل) دي نو د زړۀ مبارک د غوږونو او سترګو اوريدل او ليدل څنګه عارضي او کله کله کيدے شي؟ البته د حِکمَتِ خُداوندي په وجه د يوې خاصې مُعامَلے طرف ته د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خيال مبارک نۀ کيدل او تَوجُّه شريف لرې کيدل جُدا مُعامَله ده چې د هغې څوک (د غټ نه غټ عالِم هُم) مُنکر (يعني اِنکار کوونکے) نشته او هغه (يعني خيال نۀ کيدل) د عِلم خِلاف هُم نه دي، لِهذا د دې حَدِيثِ پاک په رڼا کښې دا حقيقت بالکل واضِحه شو چې د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باطِني طور اوريدل او ليدل عارضي نۀ بلکې دائمي (يعني هميشه د پاره) دي. (مَقالاتِ کاظمی ج۱ ص۱۶۰ تسهيلًا)

سرِ عرش پر ہے تِری گزر، دلِ فرش پر ہے تِری نظر
ملکوت و ملک میں کوئی شے نہیں وہ جو تجھ پہ عیاں نہیں

(حدائقِ بخشش ص ۱۰۹)

شرحِ کلامِ رضا: يارَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په عرشِ اعظم باندې ستاسو تګ راتګ دے او د الله کريم په عِنايت د ځمکې دننه رازونه تاسو ته ښکاره دي. د زمکو او آسمانونو يو څيز هم داسې نشته چې د الله پاک په کرم تاسو صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته معلوم نه وي.

دور نزدیک کے سننے والے وہ کان
کانِ لعلِ کرامت پہ لاکھوں سلام

(حدائقِ بخشش ص ۳۰۰)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## غفلت سره د شپې قِيام

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې د الله پاک د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد دے: ډير (د شپې) قِيام کوونکي داسې دي چې هغوئې ته د قِيام نه صرف وينښ اوسيدل ملاويږي. (شُعَبُ الْاِيْمان ج ۳ ص ۳۱۶ حديث ۳۶۴۲)

د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: **الله** پاک هغه عمل نۀ قبلوي په کوم کښې چې بنده د خپل بدن سره خپل زړۀ حاضر نۀ کړي.“ (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج۱ ص۲۰۳ حديث ۲٤)

## د غافِل د تولې شپې د عبادت نه بهتر عمل

صَحابي اِبنِ صحابي حضرتِ سَيِّدُنا **عبدُالله** اِبنِ عَبَّاس رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا فرمائي: ”غور و فِكر سره دوه رکعاته نمونځ کول، غافِل زړۀ سره توله شپه قِيام (يعني عبادت) کولو نه بهتر دي.“ (مجموع رسائل ابن رجب ج۱ ص۳۵۲)

## چې څومره خُشُوع وي هغه هومره ثواب وي

د حضرتِ سَيِّدُنا عَمّار بِن ياسِر رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے: ما د **الله** پاک د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوريدلے دے چې ”انسان د **نمانځۀ** نه فارغه شي او بيرته ګرځي خو د هغۀ د پاره (د نمانځۀ) صرف لَسمه، نَهمه، اَتمه، وومه، شپږمه، پينځمه، څلورمه، دريمه يا نِيمه حِصَّه ثواب ليکلے کيږي.“ (اَبو داؤد ج۱ ص۳۰٦ حديث ۷۹٦)

حضرتِ عَلَّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د حديثِ پاک نه مُراد دا دے چې د خُشُوع او غور و فِکر وغيره [په اعتبار يعنې د] نمانځۀ کامِل (يعني مکمل جوړوونکو) څيزونو په اعتبار د نمونځ ثواب حاصليږي څنګه چې د **جَمعې په نمانځۀ** کښې کيږي چې چا ته پينځۀ وِيشت درجې ثواب حاصليږي او چا ته اووه وِيشت درجې. (فيض القدير ج۲ ص۴۲۲، ۴۲۳ مُلَخَّصاً)

## تَذکِرۀ عَمّار بِن ياسِر رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا

اے عاشقانِ صحابه و اهلِبَيت! اوس چې تاسو کوم حديثِ پاک واوريدو د هغې بيانوونکے صحابِيِ رَسُول حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو الْيَقْظَان عَمّار بِن ياسِر رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا دے. د صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ډير زيات عَظَمت دے، د مکي مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ

عالیشان دے: زما په اُمَّت کښې زما د صحابه مثال په خوراک کښې د مالګې په شان دے ځکه چې خوراک د مالګې نه بغیر نۀ صحیح کیږي. (شرح السنة ج ۷ ص ۱۷٤ حدیث ۳۷۵٦) د دې حدیثِ پاک شرح دا ده: یعنې څنګه چې مالګه وي لږه، خو ټول خوراک صحیح کوي، هُم داسې زما صحابه زما په اُمَّت کښې لږ دي خو د ټولو اِصلاح د هُم دوئي په ذریعه ده. د ریل ګاډي وړومبۍ ډبه کومه چې اِنجن سره لګیدلې وي، هغه ټول ریل ګاډي ته د اِنجن فیض رَسَوي، انجن هغه وړومبۍ ډبه راښکاږي او نورې ټولې ډبې د هغې په ذریعه راښکلے کیږي. (مِراٰةُ الْمَنَاجِيح ج ۳ ص ۳٤۳) د عربو ځمکه چې کله د اسلام په نُوراني پلوشو روښانه شوه نو د حضرتِ سَیِّدُنا عَمّار بِن یاسِر رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا سره سره د هغوئي والِد ماجِد حضرتِ سَیِّدُنا یاسِر او والِده ماجِده حضرتِ سَیِّدَتُنا سُمَیَّه او وررور حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله رَضِیَ اللهُ عَنْهُمْ هُم د ایمان د دولت نه مالامال شول. (طبقاتِ اِبنِ سعد ج ۳ ص ۱۸٦)

## د دِینِ اِسلام د پاره قُربانۍ

ولې چې دې مُقَدَّسې کورنۍ به د غلامۍ ژوند تیرولو ځکه کفّارِ قُرَیش پوره کورنۍ ته قِسما قِسم تکلیفونه ورکول شروع کړل، کله به یې د حضرتِ سَیِّدُنا عَمّار رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په سِینه وزني کاڼے کیښودلو او کله به یې په اوبو کښې په غُوپو ورکولو بې حاله کړلو او کله به یې بدن ته د وور داغونه ورکولو ورکولو باندې بې حاله کړلو (الکافی فِی التّاریخ ج ۱ ص ۸۵۹) تر دې چې د هغوئي ملا مبارکه د هغه زخمونو نه ډکه شوه. چا د هغوئي ملا مبارکه ولیده نو تپوس یې ترینه وکړو: دا څنګه نښې دي؟ هغوئي اِرشاد اُوفرمائیلو: کفّارِ قُرَیش به زۀ د مَکے مُکرَّمې په سخته تَوده کاړیزه ځمکه باندې بربنده ملا څملولم او سخت تکلیفونه به یې راکول، دا د هغه زخمونو نښې دي. (طبقاتِ اِبنِ سعد ج ۳ ص ۱۸۸)

## جَنَّت د عَمّار مُشتاق دے

د حضرتِ سَیِّدُنا عَمّار بِن یاسِر رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا د قُربانو په بدله کښې هغوئي ته دا اِعزاز حاصل

شو چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائیلو: "جَنَّت د عَمّار مُشتاق (یعني خواهشمند) دے." (ترمِذی، ج ٥ ص ٤٣٨ حدیث ٣٨٢٢) "کوم کس چې عَمّار سره بُغض وساتلو، **اللّٰه** پاک دې د هغهٔ نه ناراضه شي." (مُسنَدِ اِمام اَحمد بن حَنبَل، ج ٦ ص ٦ حدیث ١٦٨١٤) هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره په ټولو غزواتو کښې شریک شوے وو. (تاریخ اِبنِ عَساکِر ج ٤ ص ٣٥٦)

## وفات شریف

حضرتِ سَیِّدُنا عَمّار بن یاسِر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا د اَمیرُ الْمُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په دَورِ خِلافَت کښې یو وِیشت (21) میاشتو پورې په کوفه کښې د ګورنرئ فرائض ادا کړل او په سن 37 هجري کښې د چارشنبې په ورځ په 7 صَفَرُ الْمُظَفَّر په جنګِ صِفین کښې د حضرت مولا علي شیرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په حمایت کښې په جنګ کښې د شهادت په مرتبه فائز شولو، هغه وخت د هغوئي عُمر مُبارک 93 کاله وو. (تاریخ اِبنِ عَساکِر ج ٤٣ ص ٣٥٩، ٤٤٩) **د اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیِّیْن** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

الٰہی! رحم فرما از پئے عمار بن یاسر
مجھے ہر حال میں رکھنا خدایا صابر و شاکر

اِلٰهي رحم وکړې په خاطر د عَمّار بن یاسِر — په هر حال کښې مو وساتې صابِر او شاکر

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد**

اوس تاسو د حضرتِ سَیِّدُنا عَمّار بن یاسِر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا ذِکرِ خیر واوریدو. ټول صحابهٔ کرام شان لرونکي دي! راځئ چې! د صحابهٔ کرامو شان واورو:

## د صحابه عَظَمت و شان د قرآن نه

**اللّٰه** تعالیٰ په سیپاره 27 سُوْرَةُ الْحَدِیْد آیت نمبر 10 کښې اِرشاد فرمائي:

لَا يَسْتَوِيْ مِنْكُمْ مَّنْ اَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَ قٰتَلَ ؕ اُولٰٓىِٕكَ اَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِيْنَ اَنْفَقُوْا مِنْۢ بَعْدُ وَ قٰتَلُوْا ؕ وَ كُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ وَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۰﴾

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِیمان: په تاسو کښې برابر نهٔ دي هغوئي، چا چې د فتح مَکـه نه مخکښې خرچ او جِهاد وکړو هغوئي په مرتَبه کښې لوئي دي، د هغوئي نه چا چې پس د فتح نه خرچ او جِهاد وکړو او هغوئي ټولو سره **الله** د جَنَّت وعده فرمائيلې ده او **الله** ته ستاسو د کارونو خبر دے.

## ټول صحابهٔ کرام جَنَّتیان دي

مُفَسِّرِ قرآن، حضرت مُفتي اَحمد یار خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د دې آیت لاندې فرمائي: د هغوئي (یعني صحابهٔ کرامو عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوَان) درجې اګر چې مختلفې دي خو د هغوئي جَنَّتي کیدل بالکل یقیني دي ځکه چې ربّ وعده فرمائیلې ده. ټول صحابه عادِل او مُتَّقِیان دي ځکه چې ټولو سره رَبِّ کریم د جَنَّت وعده فرمائیلې ده، د جَنَّت وعده فاسِق سره نهٔ کیږي. (نُورُالْعِرفان د مذکوره آیت مُتَعَلِّق) هر صحابي د نَبِيِّ کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابِیَت په نِسبَت زمونږ د پاره وَاجِبُ التَّعۡظِیم دے او د یو صحابي په شان کښې هُم ګُستاخي حرامه او ګُمراهي ده.

سیپاره 11 سُوۡرَۃُ التَّوۡبَہ آیت نمبر 100 کښې اِرشاد کیږي:

وَ السّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ وَ الْاَنْصَارِ وَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ ۙ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَ رَضُوْا عَنْهُ وَ اَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَاۤ اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۰۰﴾

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِیمان: او د ټولو نه اول مخکښیني مُهاجِر او انصار او هغوئي چا چې په نیکئ کښې د هغوئي تابعداري وکړه، **الله** د هغوئي نه راضي دے او هغوئي د **الله** نه راضي دي او د هغوئي د پاره یـې تیار کړي دي باغونه چې لاندې ترینه نهرونه جاري دي، همیشه همیشه به په هغو کښې اوسیږي، هُم دا غټه کامیابي ده.

**حضرت** مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه لیکي: په دې آیت کښې د تمامو صحابهٔ کرامو مُتعَلِّق د درېو خیزونه اعلان شوے دے: (۱) **الله** د هغوئي نه راضي شوے دے (۲) هغوئي د **الله** نه راضي شوي دي (۳) جَنَّت او د هغه ځائے نعمتونه د هغوئي په نوم مُقَرَّر شوي دي.
(امیر مُعاوِیه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ص ۲۹)

رَبِّ غَفُور د سُوْرَةُ الْفَتْح په آیت نمبر 29 کښې اِرشاد فرمائي:

مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ وَ الَّذِیْنَ مَعَهٗۤ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَیْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا یَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَ رِضْوَانًا ؗ سِیْمَاهُمْ فِیْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ؕ ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِی التَّوْرٰىةِ ۛۖ وَمَثَلُهُمْ فِی الْاِنْجِیْلِ ۛ۫

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِیمان: **مُحَمَّد** د **الله** رَسُول دے او د هغوئي ملګري په کافرو باندې سخت دي او په خپل مینځ کښې رحم کوونکي، ته به هغوئي وِینې په رُکوع کولو، په **سَجْده** کښې پرېوتلي، د **الله** فضل او رِضا لټوونکي، د هغوئي نښه د هغوئي په **مخونو** کښې ده د سَجدو د نښو نه، دا دے د هغوئي صِفت په توریت کښې او د هغوئي صفت په اِنجِیل کښې.

**حضرت** مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه فرمائي: په دې آیت کښې **الله** پاک د صحابهٔ کرامو د عباداتو، د هغوئي د رُکوع، سَجدو او د هغوئي په خپل مینځ کښې د رحیم و کریم کیدلو اعلان فرمائیلے دے. (امیر مُعاوِیه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ص ۲۵)

صحابهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم هغه هستئ دي د کومو ایمان چې **الله** تعالیٰ مَعیار ګرځولے دے او [په دې باره کښې] فرمائي:

فَاِنْ اٰمَنُوْا بِمِثْلِ مَاۤ اٰمَنْتُمْ بِهٖ فَقَدِ اهْتَدَوْا ۚ
(پ۱، البقرة: ۱۳۷)

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِیمان: بیا که هغوئي هُم دغسې ایمان راوړي [اے صحابه] څنګه چې تاسو راوړے دے، پس بیا هغوئي هدایت اوموندلو.

**مُفتي** احمد یار خان رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه فرمائي: په دې آیت کښې فرمائیلے شوي دي چې د ایمان صرف هُم هغه مُدَّعي (یعني دعویٰ لرونکے) په هِدایت دے څوک چې د صحابه په شان

ايمان لري يعني صحابه د ايمان معيار دي. (اميرِ مُعاوِيه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ ص ٢٩ مُلَخَّصاً)

**اللّٰه** پاک په لَسَمه سيپاره سُوۡرَۃُ الۡاَنۡفَال آيت نمبر 74 کښې اِرشاد فرمائي:

وَ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَ هَاجَرُوۡا وَ جٰهَدُوۡا فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَ الَّذِيۡنَ اٰوَوۡا وَّ نَصَرُوۡۤا اُولٰٓئِكَ هُمُ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ حَقًّا ؕ لَهُمۡ مَّغۡفِرَةٌ وَّ رِزۡقٌ كَرِيۡمٌ ﴿۷۴﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: او هغوئي چې ايمان يې راوړو او هِجرت يې وکړو او د **اللّٰه** په لار کښې اوجنګيدل او ځائے يې ورکړو او مدد يې وکړو، هُم هغوئي رښتوني ايماندار دي، د هغوئي د پاره بخښنه ده او د عزت روزي.

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې آيتِ مُبارک لاندې فرمائي: د دې آيت نه د ټولو مُهاجِرينو او انصارو رښتوني مومِنان کيدل او د هغوئي صاحِبِ دَرَجات کيدل معلوم شو، دا هُم معلومه شوه چې ټول صحابه عادِل دي، فاسِق يو هُم نهٔ دے، که د کوم يو نه څه جُرم وشو نو توبه ورته نصيب کيږي په هغې باقي نهٔ پاتې کيږي. (نُور العِرفان ص ٢٩٧ مُلَخَّصاً)

## د صحابه مُتَعَلِّق د آيتونو او اَحادِيثو خُلاصه

د پاس (يعني صفحه 373 تا 375 کښې د) ورکړو شوو آيتونو خُلاصه دا ده چې ټول صحابه جَنَّتيان دي، **اللّٰه** پاک د هغه ټولو نه راضي دے او هغوئي د **اللّٰه** نه راضي دي، د هغوئي د پاره د جَنَّت باغونه دي، هغوئي د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ملګري دي، د کفّارو په مقابله کښې سخت او په خپل مينځ کښې رحم کوونکي، د عبادت او رُکوع او سَجدې شوقين، د رِضائے اِلٰهی طلبګار، نُوراني مخونه لرونکي، معياري ايمان والا، د **اللّٰه** په لار کښې ځان، مال او کورونه قُربانوونکي، د مومِنانو مددګار، رښتوني ايمان والا، د **اللّٰه** له طرفه د مغفرت او رِزقِ کريم حقداران، په اُمَّت کښې د ټولو نه افضل.

## د صحابه شان و عَظَمت د اَحادِيثو نه

❖ اووه [7] فَرامِينِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ﴿۱﴾ زما اصحابو ته بد رد مه وائې، ځکه

چې که په تاسو کښې څوک د اُحُد غر هومره سره زر هُم [د الله په لار کښې] خرچ کړي نو هغه د هغوئې د يو مُد (پيمانے) برابر ته هم نۀ شي رسيدلے او نۀ د هغه مُد نِيمې ته. (بُخاری ج ۲ ص ۵۲۲ حدیث ۳۶۷۳) ﴿۲﴾ چې کله الله د چا [سره] ښيګړه کول غواړي نو د هغه په زړۀ کښې زما د ټولو صحابه مَحَبَّت پيدا کړي. (تاریخ اصبهان ج۱ ص ٤٦۷ رقم ۹۲۹) ﴿۳﴾ "څوک چې زما صحابه ته بد اُووائي په هغۀ د الله لعنت، او څوک چې د هغوئې د عِزَّت حفاظت وکړي زۀ به د قيامت په ورځ د هغۀ حفاظت کووم." (اِبنِ عساکر ج ٤٤ ص ۲۲۲) يعنې هغه به د جَهنَّم نه محفوظه ساتم (السراج المنیر شرح جامع الصغیر ج ۳ ص ۸٦) ﴿٤﴾ زما په ټولو صحابه کښې خير دے (اِبنِ عساکر ج ۲۹ ص ۱۸٤) ﴿۵﴾ زما د صحابه په معامَله کښې د الله نه اويريږئ، زما د صحابه په معامَله کښې د الله نه اويريږئ، زما نه پس هغوئې د طَعن و تشنيع [يعنې د ټوقو او بدو ردو] نښه مۀ جوړوئ. پس چا چې هغوئې سره مَحَبَّت وکړو نو هغۀ زما د مَحَبَّت په وجه هغوئې سره مَحَبَّت وکړو او چا چې هغوئې سره بُغض وساتلو نو هغۀ زما د بُغض په سبب هغوئې سره بُغض وساتلو او چا چې هغوئې ته تـکليف اورسَولو نو هغۀ ضرور ما ته تـکليف را ورسولو او چا چې ما ته تـکليف را ورسَولو نو ضرور هغۀ الله پاک ته تـکليف ورسَولو نو چا چې الله پاک ته تـکليف ورسَولو نو نزدې ده چې الله پاک به هغه اُونيسي. (تِرمِذِی، ج ۵ ص ٤٦۳ حدیث ۳۸۸۸) ﴿٦﴾ څوک چې زما صحابه ته بد اُووائي په هغۀ باندې د الله پاک، [او] د فرښتو او د ټولو انسانانو لعنت، الله پاک به د هغۀ، نۀ فرض قبلوي، نۀ نفل (الدعا للطبرانی ص ۵۸۱ حدیث ۲۱۰۸) ﴿۷﴾ چې کله تۀ خلک اُووِينې چې زما صحابه ته بد وائي نو اُووايه: د الله پاک لعنت دې وي ستا په شر باندې (تِرمِذِی، ج ۵ ص ٤٦٤ حدیث ۳۸۹۲) **حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې حديثِ پاک لاندې ليکي: يعنې صحابۀ کرام خو خير او خير [يعنې بهترين] دي ته هغوئې ته بد وائي نو هغه بدې پخپله ستا طرف ته درګرځي او د هغې مصيبت هُم په تا پريوځي. (مِراٰةُ المناجیح ج ۸ ص ۳٤٤)

**الله** کريم دې مونږ ته په زړۀ او بدن، او قلم او ژبه باندې د هر صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د تعظيم [يعني ادب] کولو توفيق راکړي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه د ايمان حفاظت اُوفرمائي او په جَنَّت کښې دې د هغوئي په قدمونو کښې ځائے رانصيب کړي. آمِين

امهاتُ المؤمنین و چار یار — سب صحابہ سے ہمیں تو پیار ہے

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۷۰۰)

**د شعر ترجَمه:** يعنې اَلْحَمْدُ لِلّٰه مونږه د ټولو اُمَّهَاتُ الْمُؤمِنِين او څلور واړه يارانو او ټولو صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان سره مِينه لرو.

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## زما طرف ته مُتَوَجِّه شه!

د **حضرتِ** سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې د سردارِ دوجهان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: چې کله بنده د نمانځۀ د پاره ودريږي نو هغه د **الله** پاک په بارګاه کښې حاضر وي، چې کله هغه اخوا ديخوا ګوري نو **الله** پاک اِرشاد فرمائي: "تۀ د چا طرف ته ګورې؟ آيا زما نه بهتر طرف ته ګورې؟ اے اِبنِ آدم (يعني اے انسانه!) زما طرف ته مُتَوَجِّه شه! زۀ د هغۀ نه بهتر يم د چا طرف ته چې تۀ ګورې." (مُسنَدالبزار ج١٦ ص٢٠٠ حديث ٩٣٣٢)

## نمانځۀ کښې د اخوا ديخوا کتلو سره د رَحمت مخ اړوَل

د حضرتِ سَيِّدُنا ابُوذَر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے: رَسُولِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: د **الله** پاک رَحمت د نمونځ کوونکي په طرف مُتَوَجِّه اوسي تر څو پورې چې هغه اخوا ديخوا اُونۀ ګوري، چې کله اخوا ديخوا اوګوري نو د **الله** پاک رحمت هُم د هغۀ نه واوړي." (اَبو داؤد ج١ ص ٣٤٤ حديث ٩٠٩)

## په نمانځهٔ کښې د اخوا دیخوا کتلو احکام

د دعوتِ اسلامي د مَکتَبَةُ الْمَدِينه د 496 صفحو كتاب، "نماز کے احکام" صفحه 252 کښې دي: (په نمانځهٔ کښې) نظر آسمان طرف ته اوچتول (مکروهِ تَحرِيمي، ناجائزه او ګُناه ده) (بهارِ شريعت ج١ ص٦٢٦) د الله پاک محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: "څه حال دے د هغه خلکو څوک چې په نمانځهٔ کښې آسمان طرف ته سترګې اوچتوي، د دې نه دې منع شي [او] يا به د هغوئي سترګې يوړلے (يعني واخستلے) شي." (بُخاری ج١ ص٢٦٥ حديث٥٧٠) (په نمانځهٔ کښې) مخ تاوهولو سره اخوا ديخوا کتل (هُم مکروهِ تَحرِيمی، ناجائزه او ګُناه ده) که پوره مخ يـې واوښتو او که لږ. د مخ اړولو نه بغير صرف سترګو تاوهلو سره اخوا ديخوا بې ضرورته کتل مکروهِ تنزِيهي (يعني ناخوښه) دي او که نادِراً (يعني ډير کـم کله کله) د څه صحيح غرض په وجه وي نو باک نشته. (بهارِ شريعت ج١ ص٦٢٦ تسهيلاً)

## الله پاک ما وِيني

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد بِن محمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: څنګه چې د اخوا ديخوا مُتَوَجِّه کيدلو نه بچ کيدلو د پاره سر او سترګې بچ کول ضروري دي، هم داسې زړهٔ هم بچ کول [ضروري] دي، چې کله مو زړهٔ غير طرف ته مُتَوَجِّه کيدل شروع شي نو هغهٔ [يعني خپل زړهٔ] ته ور ياد کړئ چې الله کريم د باطِن (يعني د زړهٔ د حالاتو) نه خبردار دے لِـهذا په خپل زړهٔ کښې خُشُوع اختياروئ، د دې فائده به دا وي چې ظاهري او باطني طور به تَوَجُّه اخوا ديخوا نهٔ ځي ځکه چې کله په باطن کښې خُشُوع وي نو په اندامونو (يعني د بدن په حِصّو) کښې هُم خُشُوع پيدا کيږي. حُضُورِ اکرم، شَهَنشاهِ اُمَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو کس وليدو چې هغهٔ په نمانځهٔ کښې د خپلې ږيرې سره لوبې کولې، نو ويـې فرمائيل: "که د دهٔ په زړهٔ کښې خُشُوع وے نو د دهٔ په اندامونو کښې به هُم خُشُوع وے." (نَوَادِرُ الْاُصُول ج١ ص ٥٨٢) (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج١ ص٢٢٨)

# په نمانځهٔ كښې ږيرې سره د لوبو كولو مسئله

”**نماز كے احكام**“ صفحه نمبر 247 كښې دي: (په نمانځهٔ كښې) ږيرې، بدن يا لِباس سره لوبې كول (مكروهِ تَحرِيمي، ناجائزه او ګُناه ده). (عالمگيرى ج۱ ص۱۰۵)

# نظر كله په كوم ځائے پكار دے (حكايت)

اعلىٰ حضرت رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ يو ځل د ماسپښين د نمانځهٔ نه پس په جومات كښې وظيفه كوله چې يو صاحب جومات ته راغلو او نِيَّت يـې اوتړلو، چې كله يـې رُكوع وكړه نو شټ يـې اوچت كړے وو او د سجدې ځائے ته يـې كتل، چې د نمانځهٔ نه فارِغ شو نو اعلىٰ حضرت رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ خوا ته را اوغوښتلو او شرعي مسئله يـې ورته بيان كړه چې د قِيام په حالت كښې نظر د سجدې په ځائے او د رُكوع په حالت كښې د ښپو په ګوتو باندې او د تَسْمِيع (يعنې د ركوع نه چې سر پورته كړې نو د سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَه وئيلو) په حالت كښې په سِينه باندې او د **سُجُود** په حالت كښې په پوزه باندې او د **قُعُود** (يعنې اَلتَّحِيَّات كښې د كښيناستلو) په حالت كښې په خپله غيرِه باندې نظر ساتل پكار دي، او د سلام اړولو وخت كښې د كاتِبِينو مَلحُوظ ساتلو (يعنې د اعمال ليكونكو فرښتو د لحاظ ساتلو په نِيَّت) خپلو اُوګو ته كتل پكار دي. (حياتِ اعلىٰ حضرت ج۱ ص ۳۰۳)

# د تندې په ځائے زنه په ځمكه ولګوه (حكايت)

**اعلىٰ** حضرت رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ يو ځل د **نمانځهٔ** نه پس د دِهلي (هِند) په يو **جومات** كښې په وظيفه كښې مشغول وو. يو صاحِب راغلو او د هغوئي خوا ته يـې نمونځ كول شروع كړو. تر څو چې په **قِيام** كښې وو د جومات ديوال ته يـې كتل، په رُكوع كښې يـې هُم سر اوچت كړے وو او **مخامخ** ديوال ته يـې كتل. چې هغه د **نمانځهٔ** نه فارِغه شو نو تر هٰغه وخته پورې اعلىٰ حضرت رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ هُم خپله وظيفه پوره كړې وه. هغه يـې خوا ته را اوغوښتلو او په شرعي مسئله يـې پوهه كړو چې ”په **نمانځهٔ** كښې په كوم كوم حالت

کښې کوم کوم ځائے ته کتل پکار دي.“ بيا يې ورته اُوفرمائيل چې: ”**د رُکوع په حالت کښې ښپو ته کتل پکار دي.**“ نو هغه صاحب بې قابُو شو او ويې وئيل: ’واه صاحِب! غټ مولانا راغلے يې، په **نمانځهٔ** کښې مخ قبلې ته کيدل پکار دي او **تهٔ زما مخ د قبلې نه اَړول غواړې!**“ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ورته د هغه د پوهې مطابق جواب ورکړو او ورته يې اُوفرمائيل: ”**بيا خو په سَجده کښې هُم د تندي په ځائے زَنه په ځمکه لګوه!**“ دا د حِکمت نه ډکه جُمله يې چې واوريدله نو بالکل خاموشه شو او په دې خبره پوهه شو چې ”**د مخ په قِبله کيدلو دا مطلب نهٔ دے چې [بنده دې] د اَوَّل نه واخله تر آخره پورې قبلې طرف ته مخ کړے ديوال ته ګوري**،“ بلکې صحيح مسئله هُم هغه ده کومه چې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيان کړه. (حياتِ اعلیٰ حضرت ج ۱ ص ۳۰٤)

## صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په نمانځهٔ کښې دِيدارِ مُصطَفیٰ (د ايمان نه ډک حِکايت)

په ”**بُخاري شريف**“ کښې رِوايت دے چې حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ (د تاجدارِ رِسالَت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بيمارئ د ورځو واقعه بيانوي) فرمائي: د ګُل په ورځ صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د **اَميرُ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدُنا ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په اِقتِدا کښې د سحر **نمونځ** ادا کولو چې ناڅاپه رَسُولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا د حُجرې مبارکې پرده پورته کړه او صحابهٔ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان يې په صفونو کښې په **نمانځهٔ** وليدل نو مُسکے شولو، **اَميرُ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدُنا ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دا ګُمان وکړو چې هغوئې صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **نمانځهٔ** د پاره تشريف راوړل غواړي نو صف کښې راتللو د پاره شا طرف ته کيدل شروع شولو او د ډيرې خوشحالئ نه د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان سترګو په **نمانځهٔ** کښې د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخ مبارک ته کتل شروع کړل او نزدې وه چې ټولو حَضَراتو **نمونځ** مات کړے وے خو حضور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته

اِشاره اُوفرمائيله چې **نمونځ** پوره کړئ. بيا يې کور مبارک ته تشريف يوړلو او پرده يې واچوله. (بُخاری ج۱ ص۴۰۶ حديث ۱۲۰۵)

## په نمانځهٔ کښې د حُضُور ﷺ تَصَوُّر

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** تاسو وليده! صحابهٔ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د **نمانځهٔ** په دوران کښې د خپل خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نظارو کښې مشغول شولو. کله چې نمونځ کوونکے په **نمانځهٔ** کښې قرآني الفاظ: يٰۤاَيُّهَاالنَّبِىُّ، يٰۤاَيُّهَا الرَّسُوْلُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ لوَلي، [او] په تَشَهُّد کښې اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِىُّ عرض کوي او دُرُودِ اِبراهِيمي وائي نو د عاشِقِ رَسُول نمونځ کوونکي په ذِهن کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تَصَوُّر راتلے شي، او په **نمانځهٔ** کښې د تعظِيم [يعنې ادب] سره د آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تَصَوُّر راتلل عَين سعادت دے. بيشکه دې سره په **خُشُوع** کښې اِضافه کيږي او **نمونځ** کامِل (يعنې پوره) کيږي خنګه چې حضرت عَلّامه اِبنِ حَجَر هَيتَمي مکی رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په شَرحُ الْعُباب کښې ليکي: په **نمانځهٔ** کښې سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په (اَيُّهَا النَّبِىُّ) وئيلو باندې مُخاطَب کولو کښې لکه چې دا اِشاره ده چې **اَللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت** د نبيّ رَحمت صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّت د نمونځ کوونکو نه پرده اوچته کړې او لکه حُضُور صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د هغوئي سره تشريف فرما دے د پاره د دې چې د هغوئي د پاره د اَفضل عَمَل (يعنې نمانځهٔ) ګواهي ورکړي او د هغوئي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د موجودګئ تَصَوُّر د هغوئي په خُشُوع کښې د اِضافے باعِث جوړ شي." (الايعاب شرح العُباب (مخطوطه) ص ۸۹، حاشيه اعانة الطالبين ج۱ ص ۲۸۸)

رياضت نام ہے تيری گلی ميں آنے جانے کا　　تصور ميں ترے رہنا عبادت اس کو کہتے ہيں

## په نمانځهٔ کښې د سلام عرض کولو طريقه

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد بِن محمّد بِن محمّد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: چې کله نمونځ کوونکے د **نمانځهٔ** په دوران کښې په **اَلتَّحِيات** کښې اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِىُّ وائي نو په تَصَوُّر

کښې دې ذاتِ پاک مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف فرما کړې او عرض دې کوي: اَلسَّلَامُ عَلَیْكَ أَیُّهَا النَّبِیُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ. یعنې اے نبي! په تاسو دې سلام او د **الله** پاک رَحمتونه وي او د هغهٔ بَرَکتونه. (اِحْیَاءُ الْعُلُوم ج۱ ص ۲۲۹)

آقا کے تصور نے جینے کا مزا بخشا میں کیسے کہوں جینا دشوار نظر آئے

د خوږ نبي تَصَوُّر، خوند راکړو د ژوندون
زهٔ اُوواېمه څنګه چې ژوند مې دے مشکل

## هره ورځ د یو نیم سل دوه سوه روپو د نشې ستنې

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** که د عِشقِ رَسُول ډک جامونه د څښلو او په دُنیا کښې د سُنَّتو مطابق د ژوند تیرولو خواهش لرئ نو د **عاشِقانِ رَسُول** دیني تنظیم، "دعوتِ اسلامي" سره عملي طور تړلي اوسئ. ستاسو د ترغیب د پاره یو "مَدَني سپرلے" وړاندې کیږي: چنانچه د لودهران (پنجاب) د اطرافو د علاقې "جلال پور موړ" یو زلمي (عُمر تقریباً 22 کاله) د بد صُحبت په وجه د نشې داسې عادت اختسے وو چې شاید کومه نشه به داسې وه چې هغهٔ به نهٔ کوله، بِالخُصُوص د نشې د ستنو یې داسې عادت اختسے وو چې هره ورځ به یې د یو نیم سلو دوو سوو روپو انجکشنې لګولې بلکې که څوک به یې پیدا نهٔ کړو نو ځپله به یې ځان له ستن وهله. والِد صاحب یې ورله کاروبار جوړ کړے وو هغه یې هُم په بدو عادتونو او د نشې په چکر کښې ختم کړے وو. د کور کسان د هغهٔ په وجه ډیر پریشانه وو، والد صاحب ترینه دومره تنګ وو چې د نشې ستنې وهلو نه ساتلو د پاره یې څو ځله په زنځیر اوتړلو خو هغه نهٔ سمیدو. هغه په خپله علاقه کښې د "لشکارا" په نوم مشهور وو. افسوس! چې هغهٔ او د هغهٔ دوستانو به په شریکه د رکشې والؤ نه في کس لس لس روپۍ بَتّه اختسله او دُکانونو نه به یې سامان مُفت اوچتولو. آه! پینځهٔ وخته **نمونځ** خو لرې خبره ده هغهٔ ته دا هُم یاد نهٔ دي چې په هُغه زمانه کښې به هغهٔ

کله د اختر **نمونځ** هُم کړے وو. يوه ورځ د هغهٔ د پاره **الله** پاک د سميدلو اسباب جوړ کړل، داسې وشو چې يوه ورځ هغه د کوره اُووَتلو نو د عِمامې والا **عاشِقانِ رَسُول مخې** له ورغلل او هغهٔ ته يې اُووئيل: يوه مَدَني قافِله د نيکئ دعوت د پاره ستاسو د **محلّې** جومات ته راغلې ده، برائے کرم! د مابنام **نمونځ** په جومات کښې ادا کړئ او د سُنَّتو ډک بيان واورئ. د **عاشِقانِ رَسُول** د عاجزانه انداز نه هغه ډير مُتأَثِّره شو او د مابنام **نمونځ** ادا کولو د پاره جومات ته ورغلو. د **نمانځهٔ** نه پس يې چې کله بيان واوريدو نو په زړهٔ يې دومره زبردست اثر وشو چې کله ورته هغوئي د بيان نه پس د درې ورځو **مَدَني قَافِله** کښې د سفر کولو دعوت ورکړو نو هغه سمدستي تيار شو او په سفر روان هُم شو. مَدَني قَافِله کښې يې د **عاشِقانِ رَسُول** د صُحبت او اِنفرادي کوشش په بَرَکت توبه وکړه او د هغې نه پس يې عمامه شريفه هُم په سر کړه، د سُنَّت مطابق لباس او فرائضو او واجباتو سره يې د خوږ مدني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّتو باندې د عمل کولو هُم پوخ نِيَّت وکړو. په دې نِيَّت باندې د عمل کولو برکتونه چې پرې ښکاره کيدل شروع شو نو د کور کسان يې ډير زيات خوشحاله شو او **محلّې** والا هُم خوشحاله او حيران شولو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه د خپلې **محلّې** په جومات کښې ورته د درس ورکولو سعادت هُم نصيب شو، او د دعوتِ اسلامي د مُبَلِّغ په حيثِيت د نيکئ دعوت عام کولو کښې مشغول شو.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٦٩)

اوګټئ ډير رحمتونه قافلو کښې لاړ شئ
زده کړئ ښکلې سُنَّتونه قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# په نمانځهٔ کښې د خُشُوع و خُضُوع پیدا کولو اسباب

## د حُضُور ﷺ څلور دعاګانې

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د خُشُوع ځائے زړهٔ دے او د دې د ظاهریدلو مقام اندامونه دي. د خُشُوع حاصلیدل د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت نهایت عظیم نعمت دے، اول خو شیطان بنده د نمانځهٔ نه منع کوي، که بیا هُم بنده نمونځ کول شروع کړي نو مُختلِف دُنیوي څیزونه وریادوي او په دې د نمانځهٔ د رُوح یعنې خُشُوع و خُضُوع ختمولو کوشش کوي. بُزُرګانِ دِین رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَیْهِم به خُشُوع و خُضُوع سره نمونځونه ادا کول، مونږ ته هُم د خُشُوع و خُضُوع حاصلولو د پاره ډیر ډیر کوشش کول پکار دي او د دې د حاصلولو د پاره په ژړا ژړا دُعـاګانې کول پکار دي. زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به داسې دُعـا کوله:

﴿۱﴾ اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ قَلْبٍ لَّا يَخْشَعُ

یا الله! زهٔ د هغه زړهٔ نه ستا پناه غواړم کوم چې خُشُوع اختیار نهٔ کړي.

﴿۲﴾ رَبِّ اجْعَلْنِی لَكَ شَكَّارًا، لَكَ ذَكَّارًا، لَكَ رَهَّابًا، لَكَ مِطْوَاعًا، لَكَ مُخْبِتًا، اِلَيْكَ اَوَّاهًا مُّنِيْبًا

اے زما ربّـه! ما ستا ډیر شُکر ګُزار، ستا کثرت سره ذِکر کوونکے، ستا نه ډیر زیات ویریدلو والا، ستا نهایت فرمانبردار، ستا د پاره خُشُوع اختیاروونکے، ستا په بارګاه کښې ډیر ژړا فریاد کوونکے او رُجُوع راوړونکے جوړ کړې.

﴿۳﴾ اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَّا يَنْفَعُ، وَمِنْ قَلْبٍ لَّا يَخْشَعُ، وَمِنْ نَفْسٍ لَّا تَشْبَعُ، وَمِنْ دَعْوَةٍ لَّا يُسْتَجَابُ لَهَا

یا الله! زهٔ ستا پناه اخلم د هغه عِلم نه، کوم چې نفع نهٔ ورکوي د هغه زړهٔ نه کوم چې خُشُوع نهٔ اختیاروي، د هغه نفس نه چې نهٔ مړیږي او د هغې دُعـا نه چې قبوله نهٔ شي.

﴿۴﴾ اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ صَلَاةٍ لَّا تَنْفَعُ

یا الله! زهٔ ستا پناه اخلم د هغه نمونځ نه کوم چې نفع رانکړي.

## عِلمِ نافِع سره زړۀ كښې خُشُوع پيدا كيږي.

**عَلَّامه** عبدُ الرَّءُوف مُناوِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دريمې **دُعـائے مُصطَفیٰ** نه لاندې فرمائي: په بارګاهِ اِلٰهی کښې ”د هٰغه عِلم نه، كوم چې ګټه ورنـكړي“ او ”د هٰغه زړۀ نه كوم چې خُشُوع اختيار نۀ كړي“ [دا دواړه خبرې] يو ځائے عرض كولو كښې دا اِشاره ده چې **عِلمِ نافِع** (يعنې ګټه وركوونـكي عِلم) سره په زړۀ كښې خُشُوع پيدا كيږي. (فيض القدير ج ٢ ص ١٩٤)

## عِلمِ نافِع څه ته وائي؟

عِلمِ نافِع (يعنې فائده وركولو والا عِلم) هٰغه عِلم وي چې هغه په زړۀ كښې اثر وكړي او په هغې كښې د **اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت** معرِفَت، عَظَمت، ويره، تعظيم او مَحبَّت واچوي او چې كله دا څيزونه په زړۀ كښې قرار اونيسي نو په زړۀ كښې خُشُوع پيدا كيږي او د زړۀ په تابعدارۍ كښې ټول اندامونه هُم خُشُوع اختيار كړي. (مجموع رسائل اِبنِ رَجَب ج ١ ص ١٦)

## شيطان نزدې نۀ ورځي

حضرتِ سَيِّدُنا **سَهْل** بِن عبدُالله تُستَري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ”د كوم كس په زړۀ كښې چې خُشُوع وي شيطان هغۀ ته نزدې نۀ ورځي.“ (بصائر ذوی التمییز ج ٢ ص ٥٤٢)

## ګناهونه د خُشُوع په لاره كښې ډير غټ رُكاوټ دي

كه تاسو خُشُوع و خُضُوع سره نمونځونه كول غواړئ نو د ټولو نه مخكښې د ګناهونو نه پرهيز وكړئ، ګناهونه د خُشُوع په لاره كښې ډير غټ رُكاوټ دي، په ګناه باندې قائم اوسيدلو سره خُشُوع نۀ شي حاصليدے.

## زړونه نرمـوونـكي كارونه

كه په زړۀ كښې نرمي او خُشُوع راوستل غواړئ نو كثرت سره [يعنې ډيرې] نيكۍ كوئ او يوه عظيمُ الشّانه نيكي تِلاوَتِ قرآن هُم ده. د تِلاوَت په سبب زړۀ نرميږي او خلكو سره

ښیګڼه کول هُم د زړهٔ د نرمئ باعِث دي. يو کس په بارګاهِ رِسالت کښې د زړهٔ د سختئ شکايت وکړو نو خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: ”که ته غواړې چې ستا زړهٔ نرم شي نو مِسکينانو باندې طعام خوره او د يتيم په سر باندې لاس راښکاږه.“ (شُعَبُ الْاِيْمان ج ۷ ص ۴۷۲، حديث ۱۱۰۳۴)

## د يتيم په سر باندې د لاس راښکلو فضيلت

د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه رِساله ”اِحترامِ مُسلم“ صفحه 12 تا 13 کښې دي: د کوم ماشوم يا ماشومې پلار چې وفات شي هغهٔ ته **يتيم** وائي. چې کله ماشوم بالِغ يا ماشومه بالِغه شي نو د يتيم احکام ختم شول. يتيمانو سره د حُسنِ سُلُوک [يعنې ښه سلوک] کولو هُم غټ ثواب دے. چنانچه د رَسُولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عظيم دے: ”څوک چې د يتيم په سر باندې صرف د **الله** پاک د رضا د پاره لاس راښکاږي نو په څومره ويښتو چې د هغهٔ لاس تير شو [نو] د هر ويښته په مُقابِل کښې د هغهٔ د پاره نيکئ دي او څوک چې په يتيمه جينئ يا يتيم هلک باندې احسان وکړي، (نو دوه ګوتې يې يو ځائے کړې او ويې فرمائيل) زهٔ او هغه به په جَنَّت کښې داسې يُو.“ (مُسْنَدِ اِمام اَحمَد بِن حَنْبَل، ج ۸ ص ۲۷۲ حديث ۲۲۲۱)

د اُمَّت غمخوار آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: که هلک يتيم وي نو د هغهٔ په سر باندې دې لاس راښکلو کښې مخې طرف ته راولي او که د ماشوم پلار [ژوندے] وي نو لاس دې راښکلو کښې د شاتہ طرف ته بوځي.“ (مُعْجَم اَوْسَط ج ۱ ص ۳۵۱ حديث ۱۲۷۹)

## د زړهٔ سختي ختمه لرې شي؟ (حکايت)

اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِىَ اللهُ عَنْهَا ته يوې زنانه د قَساوَتِ قَلبي (يعنې د زړهٔ د سختئ) شِکايت وکړو نو هغې رَضِىَ اللهُ عَنْهَا ورته اِرشاد اُوفرمائيلو: ”**مرګ په کثرت سره يادوه ستا زړهٔ به نرم شي**.“ چې کله هغه ښځې داسې وکړل نو د هغې زړهٔ نرم شو. بيا هغې د اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِىَ اللهُ عَنْهَا شُکريه ادا کړه. (اَلروضُ الفائق ص ۲۳)

## د زړۀ د پيدائش مقصد

امام شرفُ الدِّين حسين بن **مُحَمَّد** طِيبِي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه فرمائي: د زړۀ د پيدا کولو مقصد صرف دا دے چې هغه د **الله** پاک د پاره **خُشُوع** وکړي چې د هغې په سبب يې سينه برسيره شي او زړۀ يې د نُور اچولو قابل شي، چې په زړۀ کښې **خُشُوع** نۀ وي نو هغې ته به **سخت** وئيلے کيږي او د زړۀ د سختئ نه پناه غوښتل ضروري دي، **الله** کريم (په سيپاره 23 سُوۡرَةُالزُّمَر آيت نمبر 22 کښې) اِرشاد فرمائي:

فَوَيۡلٌ لِّلۡقٰسِيَةِ قُلُوۡبُهُمۡ مِّنۡ ذِكۡرِ اللّٰهِ ؕ

[مَفهُوم] ترجمۀ کنزُالاِيمان: نو خرابي ده د هغوئي د کومو خلکو زړونه چې د **الله** د ياد له طرفه سخت شوي دي.

(شرح الطيبى ج٥ ص٢١٠)

## د سخت زړۀ پيژندګلو

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه فرمائي: عاجِز زړۀ د زرخيزې [يعني ښه فصل زرغونوونکي] ځمکې په شان دے چې په هغې کښې ډير ښه پيداوار کيږي او سخت زړۀ د هغه سختې کاړيزے علاقې په شان دے چې په هغې کښې شيندلے شوے تُخم بيکاره ځي. (مِراٰةُ المناجيح ج ٤ ص ٦٠) (په يو بل مقام کښې فرمائي) په کوم زړۀ کښې چې د **الله** (پاک) په ذِکر سکون، د عذاب په تذکره ويره، د جَنَّت په تذکره شوق، د حُضُور عَلَيۡهِ السَّلَام په تذکره وِجدان (يعني قَلبي خوند) نه پيدا کيږي هغه سخت دے، **الله** (پاک) دې [مونږ] د دې نه وساتي. (مِراٰةُ المناجيح ج ٤ ص ٥٩)

آپ کا نام سنتے ہی سرکار کاش
دل مچلنے لگے جان ہو بے قرار

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٢٢٤)

کاش چې ستا په نوم اوريدو مې حُضُور
زړۀ په تـوپـونـو شي بـدن بې قـرار

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اللّٰه په نزد د نمر نه زيات روښانه مخ به د چا وي؟

په يو حديثِ قُدسي کښې **اللّٰه** پاک اِرشاد فرمائي: زۀ د هر نمونځ کوونکي **نمونځ** نۀ قبلووم بلکې زۀ د هغۀ **نمونځ** قبلووم خوک چې زما د عَظَمت په وجه تواضُع (يعنې عاجِزي) اختيار کړي، زما د حرام کړو څيزونو نه خپل خواهشات منع ساتي، زما په نافرمانۍ باندې اِصرار(هميشوالے) نۀ کوي، په اُوږي [کس] باندې خوراک کوي، بې لِباسه ته جامې ور واغوندي، مُصيبت کښې ګير کس باندې رَحم وکړي، مُسافِر له ځائے ورکړي او دا هر څه زما د پاره وکړي. زما دې په خپل عِزَّت و جَلال قَسَم وی! **د هغۀ د مخ نُور به زما په نزد د نمر د نُور (يعني رڼا) نه زيات روښانه وي،** د دې نه علاوه به زۀ د هغۀ جَهالَت حِلم (يعنې برداشت، نرمي [جوړ کړم]) او تِيارې [به يې] رڼا جوړې کړم، هغه به ما يادوي زۀ به هغه ته **لَبَّيْک** وايم، ما نه به غواړي زۀ به يې ورته عطا کووم، زما قَسَم به کوي زۀ به د هغۀ قَسَم پوره کووم او هغۀ ته به خپل قُرب [يعني نزديکت] عطا کړم او د هغۀ نګهباني به کووم او د خپلو فرښتو په ذريعه به د هغۀ حفاظت کووم. (کَنْزُالْعُمَّال ج۷ ص۲۱۴ حديث۲۰۱۰۰)

## په ګناهونو زړۀ تور شي

د چا زړۀ چې سخت شي د هغۀ نه **خُشُوع** رُخصته شي، د زړۀ سختيدلو ډير اسباب دي، په هغې کښې يو سبب **ګناه کول** هُم دي. د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې د سرکارِ دوجهان صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: چې کله بنده څه ګناه وکړي نو د هغۀ په زړۀ باندې يو تور ټکے پيدا شي، چې کله هغه ګناه پريږدي او توبه او **اِسْتِغْفار** وکړي نو د هغۀ زړۀ صفا شي او که بيا ګناه کوي نو هغه ټکے غټيږی تر دې چې پوره زړۀ يې تور شي. او هُم دا هغه زنګ دے د کوم ذِکر چې **اللّٰه** پاک داسې فرمائيلے دے:

كَلَّا بَلْ ۜ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۴﴾ (پ۳۰، المطففين: ۱۴)

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالایمان: هيڅ هُم نۀ دي، بلکې د هغوئي په زړونو باندې زنګ خيژولے دے د هغوئي د لاس ګټې [يعني کړو ګناهونو].

(تِرمِذِی، ج۵ ص۲۲۰ حديث۳۳۴۵)

جی چاہتا ہے پھوٹ کے روؤں ترے غم میں
سرکار! مگر دل کی قساوت نہیں جاتی

زړۀ مي غواړي چې اوژاړم ستا په ياد کښې زۀ په چغو
سختي نـۀ اُوځي له زړۀ مي مَـدَني خـوږه سـرداره

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۳۸۲)

## ظالِم سره ملاويدل زړۀ توروي

بغير د مقصد نه حُکامو سره ملاويدل مُناسب نۀ وي، د دې ډير منفي اثرات کيدے شي. د وخت يو بادشاه د اِمامُ الْاَصفياء حضرت داؤد طائي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه سره ملاقات کول غوښتل نو هغوئي انکار وکړو او د حضرتِ سَيِّدُنا اِمام ابو يُوسُف رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په حواله يې دا رِوايت بيان کړو: رُؤْيَةُ وَجْهِ الظَّالِمِ تُسَوِّدُ الْقُلُوْب يعنې د ظالِم مخ ليدل زړۀ تورَوِي. (سبع سنابل ص ۹۵ مُلَخَّصاً)

## ګناهونه د کفر قاصِدان دي

د بزرګانو فرمان دے: "ګناهونه د کفر قاصِدان (يعني اسباب) دي" يعني په دې اعتبار چې ګناهونه په زړۀ کښې تور والے پيدا کوي او زړۀ داسې پټ کړي چې بيا هغه کله يوه نيکي هُم نۀ قبلوي، هغه وخت زړۀ سخت شي او هره مهرباني او ويره ترينه اُوځي، بيا چې هغه کس څه غواړي کوي يې او کومه خبره چې يې خوښه وي په هغې عمل کوي، او د الله پاک په مُقابَله کښې شيطان خپل دوست جوړ کړي نو شيطان يې ګُمراهه کوي، دوکې ورکوي، د دروغو اُمِّيدونه ورکوي او خومره چې کيدے شي د هغۀ نه د کفر نه کمه يوه خبره باندې هُم نۀ راضي کيږي. (جَهنَّم میں لے جانے والے اعمال ج ۱ ص ۶۳)

دن رات مسلسل ہے گناہوں کا تسلسل
کچھ تم ہی کرو نا یہ نحوست نہیں جاتی

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۳۸۲)

شپه او ورځ دي مسلسل د ګناهونو سلسلې
څه وکړئ يا نبي دا سپيره والے نۀ ختميږي

## که په زړهٔ مهر ولګولے شي نو د نیکۍ توفیق به نهٔ کیږي

حضرتِ سَیِّدُنا حَسَن بَصري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: د **الله** پاک او د بنده تر مینځه د ګناهونو يو مُقَرَّر شوے حد دے چې کله بنده هغه حد ته ورسي نو **الله** پاک د هغهٔ په زړهٔ مُهر ولګوي، د هغې نه پس هغهٔ ته د نیکو توفیق نهٔ ورکړے کیږي." (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج ٤ ص ٦٥) (اِحْيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ٤ ص ١٥٧)

يا **الله** پاکه! [تا ته زما] د رحم درخواست دے، زما د زړهٔ نه د ګناهونو تور والے لرې کړې او دا د نیکو د نُور نه ډک کړې، مولٰی! ګني د هیڅ به پاتې نه شم.

ګناہوں کی عادت بڑھی جا رہی ہے ــــ کرم یا الٰہی کرم یا الٰہی
ګناہوں کی تاریکیاں چھا گئی ہیں ــــ کرم یا الٰہی کرم یا الٰہی
تُو عطّار کو بے سبب بخش مولٰی
کرم کر کرم کر کرم یا الٰہی

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ١١١)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د زړهٔ د سختۍ يو سبب فُضُول خبرې کول دي

حضرتِ سَیِّدُنا عیسٰی رُوحُ الله عَلٰی نَبِیِّنَا وَ عَلَیْهِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام خپلو حَوارِیانو ته نصیحت اوفرمائیلو: اے خلکو! تاسو د فُضُول وینا نه ځان ساتئ، کله هُم د ذِکرُالله نه علاوه د خپلې خُلې نه څه لفظ مهٔ اوباسئ، ګني ستاسو زړونه به سخت شي، حالانکې زړونه نرم وي (خو فُضُول خبرې کول هغه سخت کړي) او سخت زړهٔ د اَللهُ رَبُّ الْعِزَّت د رحمت نه محرومه وي (يعني که تاسو د **الله** پاک د رحمت اُمِّیدوار يې نو خپل زړونه د سختۍ نه وساتئ)." (عیون الحکایات ص ١١٩)

## خوندور خیزونه مسلسل خوړل د زړهٔ د سختۍ باعِث دي

**حضرتِ** سَیِّدُنا اِمام محمّد بِن محمّد بِن محمّد غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: د آخرت په لاره باندې د تلونکو بُزُرګانِ دِین رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم مبارک عادت وو چې هغوئي به هِنکولے [يعني،

ترکاري، سالن] کله کله خوړلو او د نفس د خواهشاتو نه به يـې ځان ساتلو، ځکه چې که انسان د خواهش مطابق خوندور خېزونه خوري نو د دې په وجه د هغهٔ په نفس کښې سختي (يعنې سرکشي او تَکبُّر)، او په زړهٔ کښې سختي پيدا شي، او هغه د دُنيا د خوندورو خيزونو دومره عادت واخلي چې د دُنيوي خوندونو مَحبَّت يـې په زړهٔ کښې کور وکړي او هغه د رَبِّ کائنات جَلَّ شَانُهٗ مُلاقات او د هغهٔ په بارګاهِ عالي کښې حاضري هيره کړي، د هغهٔ په حق کښې دُنيا **جَنَّت** او مرګ **قيدخانه** جوړه شي. البته هغه که په خپل نفس باندې سختي اچوي او د لذَّاتو [يعني خوندونو] نه يـې مَحرومه ساتي نو دُنيا د هغهٔ د پاره قيد خانه جوړه شي او تنګه شي او د هغهٔ نفس د دې قيد خانے او تنګئ نه آزادي غواړي او صرف مرګ د هغهٔ آزادي ده. د حضرتِ سَيِّدُنا يَحيٰي بِن مُعاذ رازي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په فرمان کښې هُم دې خبرې طرف ته اِشاره ده ځکه هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ”اے د صدِّيقينو ډلې! د جَنَّت وَلِيمه خوړلو د پاره خپل ځانونه اُوږي وساتئ ځکه چې نفس څومره اوږے وساتلے شي هغه هومره يـې د خوراک خواهش زياتيږي.“ (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج٣ ص١١٣)

## د کوهِ لبنان د اولياء نصيحت

د ډير خوراک کولو يو نقصان دا وي چې سړے د عبادت د خوند او خوږوالي نه محرومه کيږي، چنانچه اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا ابوبکر صِدِّيق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: زهٔ چې د کله نه مسلمان شوے يم ما کله ځان په خوراک نهٔ دے موړ کړے د پاره د دې چې د عبادت حَلاوَت (يعني خوږوالے) رانصيب شي. حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهِيم بِن اَدهَم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زهٔ په کوهِ لُبنان کښې د ډيرو اوليائے کرامو په صُحبت کښې پاتې شوے يم، په هغوئي کښې هر يو ما ته هُم دا وئيلي وو: چې کله خلکو ته ورشې نو هغوئي ته د څلورو خبرو نصيحت کوه، په هغې کښې يو نصيحت دا وو چې څوک زيات خوراک کوي هغهٔ ته به د عبادت خوند نهٔ نصيب کيږي. (منهاجُ الْعَابِدِين ص ٨٤، ٩٨)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د زړهٔ د سختئ يو سبب زيات خندل دي

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! خندل اګرچې جائز دي خو ”زيات خندل“ غفلت کښې اچولو والا، غير مُناسِب او زړهٔ مړ کوونکے کار دے، د غير ضروري خندلو نه د بچ کيدلو په سبب به اِنْ شَآءَاللّٰه په روحانِيَّت کښې ترقي حاصليږي. لِـهذا په دې سلسله کښې څه ارشادات پيش کيږي، کيدے شي چې د آخرت د ياد په باب کښې سنجيدګي حاصله شي! د رَسُولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عظيم دے: ”زيات مه خاندئ! ځکه چې زيات خنديدل زړهٔ مړ کوي.“ (اِبنِ مَاجَه ج٤ ص ٤٦٥ حديث ٤١٩٣)

## خندا د غفلت علامت دے

زياته خندا د آخرت نه د غفلت عَلامَت (يعني نښه) ده. سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: لَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا اَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيْلًا وَّ لَبَكَيْتُمْ كَثِيْرًا يعني که تاسو ته هٔغه څه معلوم وے څه چې ما ته معلوم دي نو کم به مو خندلے او زيات به مو ژړلے. (بُخاری ج٣ ص ٢١٨ حديث ٤٦٢١)

## آيا صحابه به خندل؟

د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه تپوس اوکړے شو چې آيا د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابه به خندل؟ ويې فرمائيل: آو، او د هغوئي په زړونو کښې ايمان د غر نه زيات مضبوط وو. (شَرْحُ السُّنه ج٦ ص ٣٧٥ حديث ٣٢٤٤)

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: شايد چې تپوس کوونکي به هغه حديث اوريدلے وو: ”زيات خندل زړهٔ مړ کوي“ نو هغه به دا سوچ کړے وي چې حضراتِ صحابهٔ کرام (عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان) به [ګني] هيڅ کله هُم نهٔ خندل (ځکه چې) هٔغه حضرات (خو) د ژوندو زړونو والا وو بيا د هغوئي د خندا سره څه تَعَلُّق وو! (د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا په ”آو“ کښې) د جواب (ورکولو) مقصد دا

دے چې **خندل** حرام نهٔ دي حلال دي، هٔغه حضراتو (یعني صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان) به هٔغه خندا نهٔ کوله چې زړهٔ مړ کړي یعني هر وخت خندل. بلکې هغوئي (صاحبانو) به داسې خندا کوله چې هغه زړهٔ تر و تازه ساتي او مخامخ کس هُم تر و تازه کړي. (مِرٰاۃ ج ٦ ص ٤٠٤)

## د زړهٔ د مرګ سبب

اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَیِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: څوک چې زیات خاندي د هغه رُعب کم شي او څوک چې مِزاح (یعني ټوقې ټقالې) کوي [هغه] د خلکو د نظره پریوځي، څوک چې کوم کار په کثرت سره (یعني زیات) کوي هغه په هم هغه حواله پیژندلے کیږي، څوک چې زیاتې خبرې کوي هغه زیاتې غَلَطۍ کوي او د چا غَلَطۍ چې زیاتې شي د هغهٔ حیا کمه شي او د چا حیا چې کمه شي د هغهٔ پرهیزګاري کمه شي او د چا پرهیزګاري چې کمه شي د هغهٔ زړهٔ مړ شي. (اِحیَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ٣ ص ٣٨٩)

## آیا دا د الله نه د ویره لرونکو انداز دے؟ (حکایت)

حضرتِ سَیِّدُنا وَهُب بِن وَرْد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د عِیدُالْفِطر [یعني واړه اختر] په ورځ څه خلک په خندا ولیدل نو اِرشاد یې اُوفرمائیلو: که د دې خلکو بخښنه شوې وي نو آیا دا د شُکر کوونکو کار دے او که د دوئي بخښنه نهٔ وي شوې نو آیا دا د خائِفِینو (یعني ویره لرونکو) انداز دے؟ (اِحیَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ٣ ص ٣٩٠) دا رِوایت به د غفلت د خندا مُتَعَلِّق وي ګنې د اختر په ورځ خوشحالي ښکاره کول پکار دي.

## د الله نه ویریدونکي څوک دي؟

صَحابي اِبنِ صَحابي حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه تپوس اوکړے شو چې خائِفِین (یعني **الله** پاک نه ویریدونکي) څوک دي؟ [هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ] اُوفرمائیل: د هغوئي زړونه د **الله** د ویرې نه زخمي دي، د هغوئي سترګې ژړاې، هغوئي وائي چې مونږه

ښكه خوشحالي وكړو چې مرګ راپسې دے او قَبر مو مخې ته دے او قيامت زمونږ د وعدے ځائے دے، په جَهنَّم باندې تيريدل دي او د **اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت** مخې ته ودريدل دي. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج ٤ ص ٢٢٧)

## په ژړا ژړا به جَهنَّم ته داخليږي

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا فرمائي: ''ښوک چې په خندا خندا ګُناه كوي هغه به په ژړا ژړا جَهنَّم ته داخليږي.'' (اِحْيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ٣ ص ٣٩١) تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا عامِر بِن قَيس رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ''ښوک چې په دُنيا كښې ډير خاندي هغه به په قيامت كښې ډير ژاړي.'' (تَنبِيهُ المغترين ص ٤٢)

## هغه بيا كله چا په خندا اُونه ليدلو

عظيم تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا اِمام حسن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو كس په خندا وليدو، هغوئي اُوفرمائيل: يَا فَتٰى هَلْ مَرَرْتَ بِالصِّرَاطِ؟ يعني اے ځلميه! آيا ته د پُل صِراط نه تير شوے يې؟ هغه اُووئيل: نه. بيا يې اُوفرمائيل: هَلْ تَدْرِیْ اِلَى الْجَنَّةِ تَصِيْرُ اَمْ اِلَى النَّارِ ؟ آيا تا ته معلومه ده چې ته به جَنَّت ته ځې كه دوزخ ته؟ هغه اُووئيل: نا. ويې فرمائيل: فَمَا هٰذَا الضِّحْكُ يعني بيا دا خندا ښكه ده؟ (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج ٤ ص ٢٢٧) يعني چې داسې مشكلات ستا په وړاندې دي او تا ته د خپل نجات عِلم هُم نشته نو بيا په كومه خوشحالئ خاندې؟ بيا هغه كس د هيچا سره هُم چا په خندا اُونهٔ ليدو. (اخلاق الصّالحين ص ٤٩)

## كه جَنَّت كښې ښوک اوژاړي نو عجيبه خبره ده

حضرتِ سَيِّدُنا محمد بِن واسِع رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: كه ته ښوک په جَنَّت كښې په ژړا اُووينې نو آيا تا ته به د هغه په ژړا تَعَجُّب [يعني حيرانتيا] نهٔ كيږي؟ چا عرض وكړو: ضرور به كيږي. اِرشاد يې اُوفرمائيلو: ښوک چې په دُنيا كښې خاندي خو هغه ته دا نهٔ وي

معلومه چې د هغه ځائے کوم يو دے (يعنې جَنَّت ته به ځي که جَهنَّم ته) نو په هغه (خندا کولو والا) کس باندې د دې نه هُم زياته حيرانتيا ده. (اِحيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ۳ ص ۳۹۱)

## د مرګ يقين لرونکي ښنګه وخاندي؟

په حديثِ قُدسي کښې راغلي دي (الله پاک فرمائي): عَجَبًا لِّمَنْ اَيْقَنَ بِالْمَوْتِ كَيْفَ يَفْرَحُ. يعنې تَعَجُّب [حيرانتيا] ده په هُغه کس څوک چې د مرګ يقين لري، بيا ښنګه خاندي! (شُعَبُ الْاِيْمان ج ۱ ص ۲۲۳ حديث ۲۱۲)

## د څلوېښتو کالو پورې يـې اُونه خندل

حضرتِ سَيِّدُنا سعيد بِن عبدُ العزيز رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د څلويښتو کالو پورې اُونهٔ خندل تر دې چې هغوئي وفات شولو. هُم دغسې به حضرتِ غَزوان رقّاشي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نهٔ خندل. (تَنبِيهُ الْمُغتَرِين ص ۴۲)

## پنځوسو کالو پورې چا په خندا اُونه ليدلو

حضرتِ سَيِّدُنا عَون بِن اَبُو زَيد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: زهٔ د حضرتِ عطاء سُلَمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه سره پنځوسو کالو پورې اوسيدم ما هغوئي کله په خندا نهٔ دے ليدلے. (تَنبِيهُ الْمُغتَرِين ص ۴۲)

## لِباس د نيکانو او.....

حضرتِ مُعاذَه عَدَوِيَّه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهَا يوه ورځ د يو داسې زلـمي په خوا تيريدله چې هغهٔ خندل او لِباس يـې د صُوف (يعنې وړئ) وو يعنې لِباس يـې صوفيانه وو نو هغې اُوفرمائيل: سُبْحٰنَ الله، لِبَاسُ الصَّالِحِيْنَ وَ ضِحْكُ الْغَافِلِيْنَ. سُبْحٰنَ الله! لباس خو يـې د نيکو خلکو دے او خندا يـې د غافِلانو [ده]. (تَنبِيهُ الْمُغتَرِين ص ۴۲)

## نمانځهٔ کښې د خندا اَحکام

﴿۱﴾ کهٔ د رُکوع او سُجود والا نمانځهٔ کښې بالِغ **قَهقَهه** ولګوله يعنې په دومره آواز

کښېږي يـې اوخندل چې خوا و شا والؤ واوريده نو اَودَس يـې هم مات شو او نمونځ يـې هم مات شو، او که په دومره آواز کښېږي يـې اوخندل چې صرف پخپله يـې واوريدله نو نمونځ يـې مات شو خو اَودَس يـې مات نهٔ شو، د مُسکـېږي کيدلو سره نهٔ نمونځ ماتيږي او نهٔ اَودَس. په مُسکـېږي کيدو کښېږي آواز بالکل نه وي صرف غاښونه ښکاره شي. ﴿۲﴾ بالِغ د جنازې په نمانځهٔ کښېږي **قَهقَهه** ولګوله نو نمونځ يـې مات شو خو اَودَس يـې مات نهٔ شو. ﴿۳﴾ د نمانځهٔ نه علاوه **قَهقَهه** لګولو سره اَودَس نهٔ ماتيږي خو بيا اَودَس کول **مُستَحَب** دي. زمونږ خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کله هم **قَهقَهه** نهٔ ده لګولې لِهٰذا مونږ له هم کوشش کول پکار دي چې په زوره زوره نهٔ خاندو.

**يا رَبِّ مُصطفٰے!** زمونږ د زړونو سختي لرې کړې

ہو گیا قلب ہائے سیاہ — لطف نورِ خدا کیجئے
قلب پتھر سے بھی سخت ہے — اس کو نرمی عطا کیجئے
جگمگا دیجے قلبِ سیاہ — لطف بدر الدُّجٰی کیجئے

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۵۰۵)

## ميوزِک سينټر يـې بند کړو

اے د آخرت د بهترۍ درد لرونکو! د بې ځايه خندا عادت ختمولو د پاره، د خلکو زړونه ازارولو نه ځان بچ کولو د پاره او سنجيدګي حاصلولو د پاره د عاشِقانِ رَسُول په صُحبت کښېږي اوسيدل اختيار کړئ. ستاسو د ترغيب د پاره يو "مَدَنـي سپرلے" پيشِ خدمت دے: د سُوئي (بلوچستان) يو اسلامي ورور هغه وخت په اتم کلاس کښېږي وو چې د بدو دوستانو صُحبت پرې اثر شروع کړو. د ميټرک نه پس يـې چې په کالِج کښېږي داخله واخستله نو قِسماقِسم بدو کارونو کښېږي اخته شو! شيطان د لاسه اونيوو او د تباهۍ کندې ته يـې غوزار کړو. شراب ښښل، وهل ټکول، جُواري او قِسما قِسم بد کارونه به يـې کول.

بعضې وخت خو به يـې ټوله شپه په جُواري کولو او نشه کولو کولو کښې تيره شوه تر دې چې د سحر اذانونه به يـې واوريدل خو افسوس! د خپلو دوستانو سره په مزو او مستۍ کښې اخته اوسيدو. چې کله به يـې مور پوهه کولو نو هغې سره به يـې تيزې تيزې خبرې کولې بلکې مَعَاذَالله [يعنې د الله پناه] کنزلې به يـې ورته کولې. په خپله کمره کښې يـې ګير چاپيره د فلمي اداکارو تصويرونه لګولي وو او د هغه تصويرونو شا ته يـې يو ځائے کښې ”پټه خانه“ جوړه کړې وه چې په هغې کښې به هر وخت د شرابو بوتل موجود وو. په هُم دې بدو کارونو کښې اخته وو چې د 1998ء کال راغلو. [دې دوران کښې] هغه خپل ”ميوزِک سينټر“ واچولو، يوه ورځ هغه په خپل دُکان کښې ناست وو چې د عمامې [يعنې د پټکي] والا يو اِسلامي ورور ورته د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه نه جاري شوے يو د سُنَّتو ډک بيان کيسټ ورکړو او د اوريدلو درخواست يـې ورته وکړو، هغۀ چې څنګه کيسټ چلول شروع کړو نو د يو مولانا آواز يـې واوريدو، هغه وارخطا شو او فوراً يـې بند کړو او کيسټ يـې هغه اِسلامي ورور ته بيرته اونيولو چې وروره! زما دې خيزونو سره نۀ لګي، زۀ دا کيسټ نۀ شم اوريدلے. هغه اِسلامي ورور د غُصَّه کولو په ځائے د ژړا په شان شکل جوړ کړو او ورته يـې اُووئيل چې که دلته يـې نه شئ اوريدلے نو مهرباني وکړئ! دا کيسټ کور ته يوسئ او هلته يـې واورئ. هغۀ ترينه ځان خلاصولو د پاره کيسټ واخستلو او د جيکټ په جيب کښې يـې واچولو. د شپې چې اُودۀ کيدلو نو هغه کيسټ ورياد شو، سوچ يـې وکړو چې اَورمه يـې [ځکه چې] که سحر را نه هغه اِسلامي ورور تپوس وکړو نو شرمنده به شم. چې هغه کيسټ يـې واوريدو نو حالت يـې بدل شو، چې کيسټ ختم شو نو دوباره يـې په ژړا ژړا واوريدو. د خپلو ګناهونو نه يـې توبه وکړه او د سحر **نمانځۀ** له جومات ته لاړلو. **نمونځ** ګزارو چې وليدو نو خوشحاله هُم شول او حيران هُم شول چې دا سړے هُم **نمانځۀ** له راغلو؟ او هغه هُم د سحر **نمانځۀ** له! بيا هغۀ خپل ”ميوزِک سينټر“ هُم بند کړو او څه موده

کښې يـې رِيره مُبارکه هُم پريښودله. بيا يـې په 2003ء کښې په عالَمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه کراچۍ کښې د مَدَني قَافِله کورس سعادت هُم حاصل کړو.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه د دولسو مياشتو مَدَني قَافِله کښې د سفر کولو موقع هُم ورنصيب شوه او د بلوچستان په دوه کابيناتو کښې ورته د مَدَني قَافِله ذِمَّه دار په حيثِيت د دعوتِ اسلامي ديني کار کولو سعادت هُم ورنصيب شو.

گر آئے شرابی مٹے ہر خرابی چڑھائے گا ایسا نشہ مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٧)

که راشي شرابي، لري به يـې شي هره خرابي
ور بـه کـړي داسې نـشه ديني ماحول

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د تَوجُّه لري کوونکو مُعامَلاتو نه مخکښې فارِغه شئ

د **نمانځهٔ** شروع کولو نه مخکښې د هغه ټولو څيزونو نه ځان فارِغه کړئ کوم چې د **نمانځهٔ** نه د تَوجُّه لري کولو او د يادِ اِلٰهي نه د غافِله کيدلو سبب جوړيدے شي، چې ځائے د سکون وي او د شور شغرب نه پاک وي، په **مخامخ** پرده يا جائے نماز باندې داسې گل کاري او گونجې وغيره نهٔ وي [يعني جائے نماز سَم خور وي] ځکه چې د هغې په وجه تَوجُّه لري کيږي او په **خُشُوع و خُضُوع** کښې خلل پريوځي. د سختې يخنۍ او سختې گرمۍ نه د بچ کيدلو اَسباب هُم اختيار کړئ. که د ډوډۍ خوړلو يا بَولو وغيره کولو حاجت وي نو د هغې نه ځان فارغه کړئ.

## د پوهې خبره (قول و حکايت)

حضرتِ سَيِّدُنا ابو دَرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به فرمائيل: "د سړي د پوهې [يعني عقلمندۍ] نه ده

چې هغه مخكښې خپل ضرروري كار ختم كړي چې د **نمانځهٔ** شروع كولو وخت كښې د هغه زړهٔ فارِغ وي.“ (قُوتُ الْقُلُوب ج۲ ص۱۶۹) تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا مسرُوق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د خپل كور كسانو ته فرمائيل: ”(زما سره مُتَعَلِّق) خپل ټول حاجتونه زما د **نمانځهٔ** شروع كولو نه مخكښې مخكښې ما ته بيان كړئ.“ (حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء ج۲ ص۱۱۲ رقم ۱۶۱۱)

## زړهٔ طعام طرف ته مائل كيدل په خُشُوع كښې رُكاوټ دے

حضرت عَلَّامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اِرشاد فرمائي: د كومې خبرې په وجه چې تَوَجُّه لرې كيږي او (هغه خبره) دفع (يعني لرې) كولے شي نو د هغې د لرې كولو نه بغير هر **نمونځ** مكرُوه دے مَثَلًا چې د ډكو بَولو يا تشو بَولو يا رِياح [يعني ګيس] غَلَبه وي، خو چې كله وخت ختميږي نو نمونځ دې وكړي بيا دې يـې راوګرځوي. (يعني د واجِبُ الاِعاده په نِيَّت دې يـې بيا وكړي ځكه چې نمونځ مكروهِ تَحريمي شوے وو) هُم دغسې كه طعام مخې ته راغلو او هغه خواهش لري. غرض څه داسې اَمر پيښ وي چې د هغې په وجه تَوَجُّه لرې كيږي، خُشُوع كښې فرق راځي نو په هغه وختونو كښې هُم **نمونځ** كول مكروه دي. (بهارِ شريعت ج۱ ص۴۵۷)

## نمانځهٔ نه ”طعام“ نه، د ”طعام“ نه نمونځ جوړ كړم

شارِح بُخاري مُفتي شريفُ الحق امجدي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: كه طعام مخې ته ايښودے شوے وي يا څوك طعام خوري او جَمعه شروع شي نو د جَمعې د پاره خوراك پريښودل واجِب نهٔ دي او په هُم دې حُكم كښې هُغه صُورت هُم دے چې سخت اوږے وي او طعام تيار وي. سيِّدُنا **اِمام اعظم** (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) فرمائيلي دي: **نمونځ** نه طعام جوړ كړم چې د **نمانځهٔ** په وخت كښې مې زړهٔ طعام طرف ته لګيدلے وي، د دې نه بهتره ده چې د طعام نه **نمونځ** جوړ كړم چې د خوراك په وخت كښې مې زړهٔ په **نمانځهٔ** كښې لګيدلے وي.“ [خو] دا هُغه وخت دي چې كله د **نمانځهٔ** په وخت كښې ګُنجائش وي او كه د دې

[خبرې] اندیښنه وي چې [ډوډۍ] خوړلو خوړلو کښې به د **نمانځهٔ** وخت تیر شي یا به مکروه وخت راشي نو بهر حال **نمونځ** دې **مخکښې** وکړې. (نُزھَۃُ القاری ج۲ ص۳۳۸، ۳۳۹)

## د نمانځهٔ د پاره منډه وهل ښه نه دي

د تَکبِیرِ اُولٰی یا جَمعې د پاره منډه وهل منع دي، دغسې مو که ساه لنډه لنډه شوه نو "خُشُوع" به څنګه راشي؟ د دعوتِ اسلامي د مَکتَبَةُ الْمَدِينه د 168 صفحو کتاب، "**جلد بازی کے نُقصانات**" صفحه 31 تا 32 کښې دي: یقیناً تَکبِیرِ اُولٰی سره د جَمعې **نمونځ** کول لوئې سعادت دے څنګه چې د حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس بِن مالِک رَضِیَ اللہُ عَنْهُ نه رِوایت دے چې حُضُور نَبِیِّ کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائې: چا چې د رضائے اِلٰهی د پاره خلویښتو ورځو پورې تَکبِیرِ اُولٰی سره د جَمعې نمونځ ادا کړو، د هغهٔ د پاره دوه قِسمه نجاتونه اولیکلے شو، یو نجات د جَهنَّم نه او بل د مُنافَقَت نه. (تِرمِذِی ج۱ ص۲۷٤ حدیث۲٤۱) بعضې اِسلامي وروڼه د تَکبِیرِ اُولٰی حاصلولو د پاره په تادۍ کښې منډه وهي چې د هغې په وجه په ځمکه د درَب (آواز) پیدا کیږي کوم چې د جومات د آدابو خلاف دے.

## په منډه مهٔ راځئ

حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو هُرَیره رَضِیَ اللہُ عَنْهُ فرمائې چې ما د حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوریدلے دے "چې کله د **نمانځهٔ** تکبِیر اُووئیلے شي نو په منډه مهٔ راځئ، بلکې د ګرځیدلو په شان په اِطمینان راځئ، کوم چې حاصل کړئ هغه ادا کړئ، کوم چې پاتې شي پوره یې کړئ." (مُسلِم ص ۲۳۹ حدیث ۱۳٦۰)

## نمانځهٔ د پاره د منډه نهٔ وهلو فائدې

**حضرت** مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْه د دې حدیثِ پاک لاندې فرمائې: یعنې د جَمعې د پاره په ویره مهٔ رامنډه کوئ ځکه چې په دې کښې د غورزیدلو او خُوګیدلو اندیښنه ده. د

دې نه يو څو مسئلې معلومې شوې: **يوه** دا چې جَمعه کښې شامليدلو د پاره سکون سره راتلل **مُسْتَحَب** دي، منډه وهل د **مُسْتَحَب** خلاف دي، حرام نهٔ دي. دويمه دا چې (د نمانځهٔ آخري جُزو (يعني حِصَّه) ملاويدو سره جَمعه مِلاؤ شي لِـهذا څوک چې د جُمُعې د **نمانځهٔ** په **اَلتَّحِيات** کښې شامِل شي هغه دې جُـمُعه ادا کړي (يعني هغه د جُمُعې جَمعه حاصله کړه). دريمه دا چې په کوم رکعت کښې مُقتدي شريک شي هغه د شمير په لحاظ [د هغه] وړومبے رکعت دے او د قِراءَت په لحاظ سره يـې آخري رکعت دے. (مُفتي صاحب نور ليکي:) کله نه چې څوک د **نمانځهٔ** په اِراده د کور نه روان شوے دے هغهٔ ته د **نمانځهٔ** ثواب ملاويږي بيا تيزي ولې کوي! ولې غوررزيږي او خوګيږي! په اِطمينان دې راځي چې څه حاصل کړي هغه دې ادا کړي. ياد ساتئ چې که د تَکبِيرِ اُولٰی يا رُکوع حاصلولو د پاره لږ شان تيزئ سره راشي څو دومره نه چې د غوررزيدلو او خوګيدلو انديښنه وي نو باک نشته.

(مِراۃُ المناجيج ج۱ ص ۴۲۵، ۴۲۶ مُلَخَّصاً)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّى اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د شيطان درې وسلې (حِکايت)

تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا **وَهْب** بِن مُـنَـبِّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: شيطان د بني اِسرائيلو د يو بُزُرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دوکه کولو ډير کوشش وکړو خو کامياب نهٔ شو. يوه ورځ هغه بُزُرګ د څه ضرروت د پاره بهر اُووتلو نو شيطان هُم ورسره ملګرے شو، هغه د خواهشاتو او غُصّې په ذريعه دوکه کول غوښتلو، خو هيڅ هُم اُونه شو، بيا يـې د هغهٔ د ويرولو د پاره د غَر نه يو کمَر [ختې] را اوښويولو، بُزُرګ د **الله** پاک ذِکر شروع کړو نو هغه ختې لرې لاړو. بيا يـې د هغوئي د ويرولو د پاره د ازمري او نورو سرے خورو ځناورو شکل اختيار کړو، هغوئي بيا د ذِکرِ اِلٰهی نه کار واخستو او د هغهٔ پرواه يـې اونکړه. چې کله بُزُرګ **نمونځ** شروع کړو نو شيطان د **مار** په شکل کښې د هغوئي د ښپو نه شروع شو او بدن نه يـې راتاؤ شو، تر دې چې سر ته يـې ورسيدو، چې کله هغوئي **سَجْده** کول غوښتل نو د مخ نه يـې راتاؤ شو، چې

بُزُرګ د سجدې د پاره سر مبارک کېښودلو نو مار خُله وازه کړه چې د هغوئي سر په خُله کړي، بُزُرګ هغه لرې کړو او په ځمکه يې سَجْده وکړه، چې **نمونځ** يې پوره کړو نو مخکښې روان شولو. شيطان ښکاره مخې له ورغے او ويې وئيل: ما ستاسو د دوکه کولو ډير کوششونه وکړل خو کامياب نۀ شوم، زۀ تاسو سره دوستي کول غواړم، آئنده به تاسو کله هُم نۀ دوکه کووم. بُزُرګ اُوفرمائيل: تا نن زما د ويرولو ډير کوشش وکړو خو بِحَمْدِاللّٰه زۀ اُونۀ ويريدم، زۀ ستا د دوستئ هيڅ ضرورت نۀ لرم. شيطان اُووئيل: آيا تاسو به زما نه د خپل کور د کسانو د حالاتو تپوس نۀ کوئ چې ستاسو په غير موجودګئ کښې په هغوئي څه تير شو! بُزُرګ اُووئيل: زۀ د هغوئي نه مخکښې مړ شوے يم (يعني ما ته د هغوئي په باره کښې ستا نه د تپوس کولو هيڅ ضروت نشته) هغه اُووئيل: آيا تاسو به دا تپوس نۀ کوئ چې زۀ خلک څنګه دوکه کووم! هغوئي اُوفرمائيل: آو دا راته اُووايه. شيطان اُووئيل: د درې څيزونو په ذريعه يې دوکه کووم: (۱) بُخل (۲) غُصَّه (۳) نشه. انسان چې کله په **بُخل** کښې اخته شي نو زۀ د هغۀ مال د هغۀ په نظر کښې کم ښکاره کول شروع کړم، دغسې (د خپل مال زياتولو په حِرص کښې) هغه د خپل مال شرعي حقونو ادا کولو نه منع شي بلکې پرَدي مال کښې رَغبَت کول شروع کړي. او چې کله انسان په **غُصَّه** کښې راشي نو زۀ هغۀ سره داسې لوبې کووم لکه ماشوم چې د پنډوس [يعني بال] سره لوبې کوي. اګر که هغه (دومره نيک وي) چې په خپله دُعـا مړي ژوندي کوي نو بيا هُم زۀ د هغه غُصَّه ناک کس نه نۀ مايُوسه کيږم، ځکه چې کله نا کله به هغه په **غُصَّه** کښې بې قابُو شي او څه داسې جُمله به اُووائي چې په هغې به يې آخرت تباه شي. او چې کله انسان **نشه** کول شروع کړي نو زۀ هغه په خپله خوښه چې کوم طرف ته غواړم هُغه طرف ته يې راښکاږم او بوځمه يې څنګه چې [خلک] چيلئ د غوږ نه نيولې بوځي. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص ۱۱۰ مُلَخَّصاً)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د دې حکايت نه معلومه شوه چې شيطان بنده په هر ممکن صورت کښې د عبادت نه د منع کولو کوشش کوي خو نيک او مُخلِص بندګان

د اللّٰهُ کريم په مدد د هغه په پنجه کښې د نښتلو نه بچ شي. دا هُم معلومه شوه چې بُخل، غُصَّه او نشه د شيطان درې بدترينه وسلې دي چې د هغې په ذريعه هغه د خلکو د بربادولو کوشش کوي، هر مسلمان ته پکار دي چې د شيطان دا وسلې ناکامه کړي.ـ

کمر توڑی ہے عصیاں نے، دبایا نفس و شیطاں نے
نہ کرنا حشر میں رسوا، مرا رکھنا بھرم مولیٰ

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۹۸)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## کاش! چې په ژړا ژړا مو نمونځ نصيب شي

کاش چې! د **نمانځهٔ** د تَکبِيرِ اُولٰی د پاره لاس اوچتولو وخت کښې زمونږه دا تَصَوُّر وي چې داسې ده لکه زهٔ چې **اللّٰه** پاک وِينم. يا کم از کم دا خيال مو پيدا شي چې **اللّٰه** پاک ما وِيني او زهٔ د يو ساعت د پاره هُم د هغهٔ نه پټ نهٔ يم. کاش چې! د قِيام په حالت کښې مو سر د پښيمانتيا نه ټيټ وي، اُوګې مو د هَيبَت نه رپيږي، مخ مو د وېرې نه زيړ وي، په زړهٔ کښې مو د **خُشُوع** کيفيت وي او د اندامونو نه مو د هغې اِظهار کيږي او د سترګو نه مو اوښکې رواني وي او په رُکوع و **سُجُود** کښې مو د هغه عَظَمت پيشِ نظر وي او په **سَجْدَه** کښې مو دا يقين هُم وي چې زهٔ دا وخت **اللّٰه** پاک ته ډير زيات نزدې يم ځنګه چې **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: "بنده **اللّٰه** پاک ته د ټولو نه زيات نزدې د سجدې په حالت کښې وي." (مُسلِم ص ۱۹۸ حدیث ۱۰۸۳) خو دا ټول کيفيتونه به په هٰغه صورت کښې پيدا کيږي چې زړهٔ مو د دُنياوي ګندونو نه پاک او صفا وي او په زړهٔ کښې مو دا خيال وي چې **اللّٰه** کريم هر څه وِيني او د هغهٔ په دربار کښې مو د جواب ورکولو د پاره د پيشئ احساس وي او په ذِهن کښې مو د آخرت فِکر قائم وي.

## مبارکې سينې به د کټوئ په شان جوش وهلو

سرکارِ نامدار، مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې کله نمونځ ادا کولو نو سينې مبارکې به يـې د کټوئ په شان جوش وهلو. (مُسْنَدِ اِمام اَحمَد، ج ٥ ص ٥٠١ حديث ١٦٣٢٦)

## رنګ به يـې زيړ شولو (حکايت)

د رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نمسي، اِمامِ عالي مُقام، حضرت اِمام حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهزاده حضرتِ سَيِّدُنا اِمام زَينُ العابِدِين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به چې کله اودس کولو نو رنګ مبارک به يـې زيړ شو. د کور کسانو ترينه تپوس وکړو: د اودس په وخت کښې دا په تاسو څه وشي؟ اِرشاد يـې اوفرمائيلو: "تاسو ته څه معلومه ده چې زۀ د چا په بارګاهِ عالي کښې ودريدو والا يم!" (الزهد ص ٣٦٣ حديث ٢١٣٨)

## د مولا علي بدن به په لړزان شو (حکايت)

چې کله به د نمانځۀ وخت شولو نو د حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى، شيرِ خُدا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بدن به په لړزان شو او د مخ رنګ به يـې بدل شو، عرض به ورته اوکړے شو: يا اَميرَ الْمُؤمِنِين! څه وشو؟ هغوئي به فرمائيل: د هغه امانت ادا کولو وخت راغـے کوم چې الله پاک په ځمکه او آسمان او غرونو پيش کړو نو هغوئي د هغې د اوچتولو نه انکار وکړو اَو اويريدل او ما (يعنې انسان) هغه اوچت کړو. (اِحيَاءُ الْعُلُوم ج ١ ص ٢٠٦)

## حضرتِ يحيٰ عَلَيْهِ السَّلَام به ډير زيات ژړل

د الله پاک رښتيني نبي، نبي اِبنِ نبي حضرت سَيِّدُنا يَحيٰي بِن زَکَرِيّا عَلَيْهِمَا السَّلَام به چې کله په نمانځۀ ودريدو نو (د خوفِ خدا په وجه) به يـې دومره زيات ژړل چې وَنو او د خاورو لُوټو به هم ورسره ژړل، د حضرت سَيِّدُنا يَحيٰي عَلَيْهِ السَّلَام به هُم دغسې مُسلسل اوښکې بهيدلې تر دې چې د اوښکو په سَبَب د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام په مخ مُبارَک زخمونه شوي وو. د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام مور مبارکې

رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهَا به ورله په زخمونو باندې د وړئ پتيئ اونخښلولې. د هغې باوجود به چې کله هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام بيا په **نمانځهٔ** ودريدَلو نو بيا به په ژړا شولو، د هغې په وجه به هغه د وړئ پتيئ لـمدې شوې. والِده **محترَمه** به يـې چې کله د اوچولو د پاره هغه نچوړوَلې او هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام به د خپلو سترګو نه وتلې اوبه د خپلې مور په لاسونو بهيدلې ليدَلې نو د **الله** تعالیٰ په بارګاه کښې به يـې داسې عرض کولو: "**اے الله پاکه! دا زما اوښکې دي او دا زما مور ده او زهٔ ستا بنده يم او ته د ټولو نه زيات رحم کوونکے يې.**" (اِحیاءُ العلوم ج٤ ص٢٢٥ مُلَخَّصاً)

## د فاروقِ اعظم د ژړا آواز (حکايت)

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن عُمَر رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا فرمائي چې ما اَمِيرُالْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پسې **نمونځ** وکړو، ما د درې صفه شا نه د هغوئي د ژړا آواز واوريدو. (حِلیَةُ الاَولیاء ج١ ص٨٨ حديث ١٣٤)

## د جَهنَّم نقشه جوړه شي (حکايت)

حضرتِ سَيِّدُنا بِشْر بن حُسَين رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: ما چې حضرتِ سَيِّدُنا سعيد بِن عبد العزيز رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه کله هُم په فرض **نمانځهٔ** ولاړ ليدلے دے نو د هغوئي په بِيره مبارکه مې اوښکې بهيدلې ليدلې دي. حضرتِ سَيِّدُنا اِسحاق بِن اِبراهِيم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: ما به حضرتِ سَيِّدُنا سعيد بِن عبد العزيز رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه مخ په قِبله په **نمانځهٔ** کولو ليدلو او په پزکي باندې به مې د هغوئي د اوښکو د غورزيدلو آواز اوريدلو. حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو عبد الرَّحْمٰن اَسَدي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به فرمائيل چې ما حضرتِ سَيِّدُنا سعيد بِن عبد العزيز رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته عرض وکړو: اے اَبُو محمد! تاسو په **نمانځهٔ** کښې ولې ژاړئ؟ هغوئي اووئيل: اے وراره! د دې خبرې تپوس ولې کوې؟ ما عرض وکړو: شايد چې د دې نه **الله** پاک ما ته فائده را ورسوي. هغوئي اِرشاد اُوفرمائيلو: **زهٔ چې کله هُم نمانځهٔ د پاره ودريږم نو زما مخې ته د جَهنَّم نقشه جوړه شي.** (اِبنِ عَساکر ج٢١ ص ٢٠٣)

## هر وخت ژړيدلو والا بُزُرګ

حضرتِ سَيِّدُنا سُفيان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې د حضرتِ سَيِّدُنا سعيد بِن سائب طائفِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوښکې به تقريباً نه ودريدلې، هر وخت به يـې ژړل. که نمونځ به يـې ادا کولو نو په ژړا ژړا، که طواف به يـې کولو نو په ژړا ژړا، که قرآنِ کريم لوستلو ته به ناست وو نو په ژړا ژړا، زما به چې ورسره کله په لاره کښې مُلاقات کيدلو نو هُم ژړل به يـې. يو کس هغوئي ته هر وخت ژړيدلو باندې ملامتيا ورکړه (يعني بد يـې ورته اُووئيل) نو په ژړا شولو او (د عاجزئ په طور يـې) اُوفرمائيل: تا ته (زما په ژړا نه، بلکې) زما په خطاګانو او زياتو کولو باندې ملامته کول پکار دي ځکه چې دا دواړه (يعني خطاګانې او زياتي کول) په ما باندې غالِب راغلي دي. هغه کس چې دا واوريدل نو هغوئي يـې پريښودلو او ترينه لاړو. (الرقة و البكاء مع موسوعة ابن ابی دنیا ج ۳ ص ۲۱۵ رقم ۲٤۲)

## نمانځۀ کښې د ژړا شرعي مسئله

که د **نمانځۀ** په دوران کښې د دَرد يا مصيبت په وجه دا الفاظ آه، اُوه، **اُف، تُف** اُووتل يا آواز سره ژړلو کښې حُرُوف پيدا شولو، نو نمونځ **فاسِد** [يعني مات] شو، که په ژړا کښې صرف اوښکې اُووتلې، آواز او حُرُوف ادا نۀ شو نو باک نشته. (عالمگیری ج۱ ص۱۰۱، رَدُّالْمُحْتَار ج ۲ ص ٤٥٥) که په **نمانځۀ** کښې يـې د اِمام د لوستلو په آواز باندې اوژړل او "واه"، "**نَعَم**" "آؤ"، يـې په ژبه جاري شو نو هيڅ باک نشته ځکه چې دا د **خُشُوع** په وجه دي او که د اِمام د خُوش اِلـحانئ [يعني ښۀ آواز] په وجه يـې دا الفاظ اُووئيل نو **نمونځ مات شو**. (دُرِّمُختار و رَدُّالْمُحْتَار ج ۲ ص ٤٥٦)

تو ڈر اپنا عنایت کر، رہیں اس ڈر سے آنکھیں تر
مٹا خوف جہاں دل سے، مٹا دنیا کا غم مولیٰ

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۹۸)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نمانځهٔ كښې چې څه لوَلي چې د هغې په معنیٰ پوهېږي

د **خُشُوع** حاصليدو د پاره په **نمانځهٔ** كښې چې كوم سورتونه او د نمانځهٔ اَذكار لوستلے كيږي مَثَلًا ثَناء، سورهٔ فاتِحه، د رُكوع او سجدې تسبيحات او دُرُود شريف وغيره، د دې معنې چې معلومې وي چې بنده ته پته وي چې خپل پروردګار ته څه عرض كوي. كه د آياتو او دُعـاګانو معنې په ذِهن كښې موجودې وي نو خيالات به يـې په قابو كښې كيدے شي، او اِنْ شَــآءَاللّٰه مكمل طور به **خُشُوع و خُضُوع** سره د نمانځهٔ كولو سعادت ورنصيب كيږي.

## چې د دې نه هم نه وي خبر چې ښي او ګڅ طرف ته څوک دے

حضرتِ سَيِّدُنا حَكم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: دا خبره د **نمانځهٔ** د پوره كيدلو نه ده چې تا ته معلومه نه وي چې ستا ښي او ګڅ طرف ته څوک دے. (مُصَنَّف اِبنِ اَبی شَیۡبَة ج ١ ص ٤٩٢ حديث ١٥) صحابي اِبنِ صحابي حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُمَا فرمائي: په نمانځهٔ كښې **خُشُوع** دا ده چې نمونځ كوونكے خپل ښي او ګڅ طرف ته كس نهٔ پيژني. تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا سعيد بِن جُبَير رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: ”كله نه چې ما د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُمَا دا فرمان اوريدلے دے، څلويښت كاله كيدو والا دي چې ما په **نمانځهٔ** كښې خپل ښي يا ګڅ طرف ته كس نهٔ دے پيژندلے.“ (اِتحَافُ السَّادَةِ الۡمُتَّقِيۡن ج ٣ ص ١٨١)

نمازوں میں ایسا گما یاالٰہی نہ پاؤں میں اپنا پتا یاالٰہی

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## زر زر ادا كولو سره د نمانځهٔ رُوح لا ړ شي

رُكوع، سَجُده، قَومه، جَلسه وغيره كه اطمينان سره ادا نهٔ كړے شي نو په هيڅ صورت كښې **خُشُوع و خُضُوع** نهٔ شي پيدا كيدے ځكه چې تادئ [يعني زر زر كولو] سره د **نمانځهٔ**

رُوح لاړ شي.

## نمونځ ادا كولو كښې تادي [يعني زر زر كول]

افسوس! نن صبا د مسلمانانو ډير كم شمير **نمونځ** كوي او څوک يې چې كوي هُم نو په هغوئي كښې هُم بعضي خلک د تادئ [يعني زر زر كولو] په وجه ډير ځله خپل نمونځونه برباد كړي. په تادئ كښې [يعني زر زر ادا كولو كښې] غلط **نمونځ** كوونكے **د نمانځهٔ غَل** قرار كړے شوے دے. د **الله** پاک د آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: ”په خلكو كښې د ټولو نه بد تر غل هُغه دے څوک چې په خپل نمانځهٔ كښې **غلا** كوي.“ صحابهٔ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض وكړو: ”يارَسُولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! څوک په خپل **نمونځ** كښې څنګه غلا كولے شي؟ نو خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: ”هغه د هغې رُكوع او **سُجُود** پوره نهٔ ادا كوي.“ يا يې اِرشاد اُوفرمائيلو: ”هغه د هغې په رُكوع و **سُجُود** كښې خپله ملا نهٔ نيغوي.“ (مُسْنَد اِمام اَحمَد بِن حَنْبَل، ج ٨ ص ٣٨٦ حديث ٢٢٧٠٥)

## د مال د غل نه د نمانځهٔ غَل بد تر دے

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديث لاندې فرمائي: معلومه شوه چې د مال د غَل نه **د نمانځهٔ غل** بدتر دے ځكه چې د مال غل كه سزا هُم اوخوري نو (د غلا د مال نه) څه نا څه ګټه هم وكړي خو **د نمانځهٔ غَـل** به سزا پوره تيروي د هغهٔ د پاره د ګټې هيڅ صورت نشته. د مال غل د بنده حق وهي او **د نمانځهٔ غَـل** د **الله** تعالىٰ حق وهي.“ دا د هغوئي حال دے څوک چې **نمونځ** ناقِص [يعني پورا نهٔ ادا] كوي. د دې نه دې هُغه خلک د عِبرت درس حاصل كړي څوک چې د سره **نمونځ** نهٔ كوي. (مِراٰةُ المناجيح ج ٢ ص ٧٨)

## د بدې خاتِمې وعيد

حضرتِ سَيِّدُنا حُذَيفه بِن يَمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يو كس وليدو چې هغهٔ په **نمانځهٔ** كولو كښې

رُکوع او **سُجُود** پوره نهٔ ادا کول. نو هغه ته يـې اوفرمائيل: ”تا **نمونځ** اونـکړو او که ته په هُم دې حالت کښې مړ شوې نو د حضرتِ سيّدُنا **مُحمّدِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په طريقه باندې به ستا مرګ نه واقع کيږی.“ (بُخاری ج۱ ص۲۸٤ حديث۸۰۸) د نَسائی شريف په رِوايت کښې دا هُم دي چې هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ ترينه تپوس وکړو: ”ته د کله نه داسې **نمونځ** کوې؟ هغهٔ اووئيل: د **څلويښتو** کالو نه. ويـې فرمائيل: تا د **څلويښتو** کالو نه بالکل **نمونځ** نهٔ دے کړے او که په هُم دې حالت کښې تا ته مرګ راغـے نو په **دينِ مُحمّدی** عَلٰی صَاحِبِهَا الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام باندې به نهٔ مړ کيږې. (نسائی ص ۲۲۵ حديث ۱۳۰۹)

# تذکرهٔ حضرت حُذَيفه بِن يَمان رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُمَا

**اے عاشقانِ صحابه و اَهلِبَيت!** اوس تاسو د حضرتِ سَيّدُنا حُذَيفه رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ فرمان واوريدو، هغوئي پخپله هُم صحابِـي رَسُول وو او د هغوئي والِد مُحترم هُم [صحابي وو]. د حضرتِ سَيّدُنا حُذَيفه رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ کُنيَت اَبُـو عبدُاللّٰه او لَقَب صاحِبِ سِرِّ رَسُولِ‌اللّٰه (يعني د رَسُولُ‌اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رازدار) دے. د صحابهٔ کرامو د عَظَمت او شان به څه وائي! پخپله حُضُور نَبِـيِّ کريم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: اَکۡرِمُوۡا اَصۡحَابِیۡ فَاِنَّهُمۡ خِيَارُکُمۡ. يعني زما د صحابه عِزَّت کوئ ځکه چې هغوئي په تاسو کښې بهترين خلک دي. (مشکوٰة ج۲ ص٤۱۳ حديث ٦۰۱۲) د هغوئي د والِد ماجِد نوم حضرتِ حِسْل يا حُسَيْل وو خو د ”يَمان“ په لقب مشهور وو. والِد صاحِب يـې د څه وجوهاتو په وجه مَکهٔ مُکرَّمه پريښودې وه او په مدينهٔ مُنَوَّره کښې يـې اوسيدل اختيار کړې وو او هُم هلته يـې وادهٔ هُم وکړو، دغسې د حضرتِ سَيّدُنا حُذَيفه رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ پيدائش په مدينه کښې وشو. (زرقانی علی المواهب ج٤ ص٥٥٧) په هُم دې وجه حضرتِ سَيّدُنا حُذَيفه رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ فرمائي چې کله مکـی مَدَنـی تاجدار صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته اختيار راکړو چې زهٔ خپل ځان د مهاجرينو په ډله کښې اوشميرم که په انصارو کښې، نو ما انصار خوښ کړل. (مُعۡجَم کبِير ج ۳ ص ۱٦٤ حديث ۳۰۱۱)

ہم کو سب اصحاب محبوب خدا سے پیار ہے

اِنْ شَآءَاللّٰہ دو جہاں میں اپنا بیڑا پار ہے

مونږه لـرو مِيـنه صحـابه ا واهلِ بيت سـره د حُضُـور

اِنْ شَآءَاللّٰه مونږ به شُو کامياب په دوجهانو کښې ضرور

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## منافقين به يې پيژندل

هغوئي به منافِقِين او د نِفاق نښې ډيرې ښې پيژندلې، يو ځل د غيبو خبر ښودونکي د **الله** پاک خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپلې خوا ته را اُوغوښتلو او د يو يو مُنافِق نوم يې ورته اوښودلو. هُم دا وجه وه چې کله به هُم کومه جنازه راتلله نو اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به دا معلومات کولو چې حضرت حُذَيفه په دې جنازه کښې شامل دے که نهٔ؟ که حضرتِ حُذَيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به پکښې شامل وو نو حضرتِ سَيِّدُنا عُمَر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به د هغې جنازې جَمعه ورکړه کنې پخپله به هُم پکښې نهٔ شريک کيدلو. (اسد الغابة ج١ ص٥٧٣) په يوه موقع باندې صحابيِ رَسُول حضرتِ سَيِّدُنا حُذَيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اُوفرمائيل: وَالله! د دُنيا د ختميدلو پورې چې خومره هُم داسې فِتنه پيدا کوونکي خلک راځي چې د هغوئي تابعدار [يعني منونکي] درې سوه يا د دې نه زيات وي د هغوئي ټولو نومونه، د هغوئي د پلارانو نومونه او د هغوئي د قبيلو نومونه رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ ته ښودلي دي. (اَبو داؤد ج ٤ ص ١٢٩ حديث ٤٢٤٣)

## دربارِ فاروقي کښې مُقام

**حضرتِ** سَيِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به چې کوم يو کس ته څه عُهده حواله کوله نو د هغه ځائے د خلکو په نوم به يې داسې ليکل ”چې تر څو پورې دوئي ستاسو په مينځ

كښېي عدل كوي نو تاسو د دوئي اِطاعَت كوئ،“ خو چې كله يـې حضرتِ سَيِّدُنا حُذَيفه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته د ”مَـدائن“ د ګورنر عُهده وركړه نو ويـې ليكل: خلكو! د دوئي اِطاعَت كوئ او څه چې دوئي اوغواړي، دوئي ته يـې وركړئ. (اِبنِ عَساكر ج ١٢ ص ٢٨٦ ماخوذاً)

## د حضرتِ حُذَيفه بِن يَمان سادګي

حضرتِ سَيِّدُنا حُذَيفه بِن يَمان رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا ډير زيات ساده طبيعت لرلو او تَـكَلُّفاتو [يعني سهولتونو] نه به يـې ځان ساتلو چنانچه په دراز ګوش (يعني خر) باندې سور ډيرې بې نيازۍ سره يـې دواړه ښپې يو طرف ته زوړندې كړې وې او د مَدائن د ګورنر په حيثيت ښار ته داخل شولو او د ښار خلک په انتظار وو او دا اندازه يـې هُم اونكړے شوه چې نوے ګورنر څوک دے؟ وروسته چې معلومه شوه نو خلک په منډه په خدمت كښې ورحاضر شو او د هغوئي د ضرورياتو په باره كښې يـې ترينه تپوس وكړو نو هغوئي اُوفرمائيل: د ځان د پاره طعام [يعني خوراک] او د خر د پاره ګيا په ورځ كښې دوه ځله پكار ده (او بس). (اِبنِ عَساكر ج ١٢ ص ٢٨٦ ماخوذاً) حضرتِ سَيِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته چې كله د هغوئي د ”مَدائن“ نه د بيرته راتللو اطلاع وشوه نو مدينے ته راتلو والا لاره كښې يـې د هغوئي انتظار شروع كړو چې د هغوئي مخكښينے او موجوده حالت اُووِيني. چې هغوئي يـې په هُم هغه مخكښيني حالت (يعني تش لاس) وليدو نو (د خوشحالۍ نه يـې) غيږه وركړه او ورته يـې اُوفرمائيل: ته زما ورور او زۀ ستا ورور يم. (الزهد ص ٢٠٠ رقم ١٠١٣)

## خوفِ خُدا او خُشُوع و خُضُوع

هغوئي به **نمونځ** په انتهائي **خُشُوع و خُضُوع** سره ادا كولو. يو ځل په **نمانځۀ** كښې په ژړا ژړا په سلګو شولو. چې فارغ شولو نو نزدې يـې يو كس موجود وليدو، اِرشاد يـې ورته اُوفرمائيلو: تا چې څه وليدل هغه بالكل چا ته مه وايه. د **الله** د ويرې او د دُنيا نه د بې رَغبتۍ

په وجه به يـې د دې خواهش اظهار کولو چې دروازه بنده کړم او کښينم او هيڅوا سره نه ملاويږم تر دې چې بارګاهِ اِلٰهي کښې حاضر شم (يعنې وفات شم). (صفة الصفوة ج١ص٣١٢)

## وِصال مبارک

د **حضرتِ** سَيِّدُنا حُذَيفه بِن يَمان رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا د وفات وخت چې کله نزدې راغلو نو په ژړا شولو. چا ترينه د وجهې تپوس وکړو نو ويـې فرمائيل: په دې وجه نه ژاړم چې دُنيا رانه پاتې کيږي ځکه چې مرګ خو ما ته **محبوب** [يعنې خوښ] دے، (بلکې د ژړا وجه دا ده چې) زۀ نه پوهيږم چې کله [د **الله** پاک په بارګاه کښې] پيش کړے شم نو **الله** پاک به زما نه راضي وي او که ناراضه؟ (اِبنِ عَساکر ج١٢ص٢٩٦) هغوئي د دريم خليفه حضرتِ سَيِّدُنا عُثمانِ غَني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د شهادت نه څلويښت ورځې پس (غالِباً 28) مُحَرَّمُ الْحَرَام 36 هجري کښې په مَدائن (سلمان پاک) کښې وفات شولو، هُم هلته د هغوئي مزار مبارک دے. (بغية الطلب فی تاريخ حلب ج٥ص٢١٧٥)

## څو صدئ پس هُم بدن سلامت

د وفات نه سوونه کاله پس 1351 هجري کښې غالباً د 20 ذُوالْحِجَّةِالْحرام په ورځ د حضرتِ سَيِّدُنا حُذَيفه او حضرتِ سَيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا قبرونو ته د لـمدوالي راتلو په وجه د هغوئي مبارک بدنونه بل ځائے ته منتقِل کړے شو نو ټولې دُنيا نه راتلونکو لکونو زيارت کوونکو په خپلو سترګو وليدل چې د دواړو اصحابِ رَسُول رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا مبارک بدنونه او پاکيزه کفنونه تر دې چې د ګيرو مبارکو د ويښتو پورې بالکل صحيح سلامت وو، مبارکو بدنونو ته کتلو نه داسې **محسوسيدله** چې شايد د هغوئي د وفات کيدلو د دوه درې ګينټو نه زيات وخت نه دے تير شوے. (قبر کھل گئی ص١٤تا١٥) **د اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د قبر سپړدلو مسئله

چې کله قَبُر ته لـمدوالے يا اوبه وغيره راشي نو د يو عاشِقِ رَسُول مُفتي د اجازت نه

بغير هيڅ کله سپړدل نه دي پکار. د دې نه علاوه بعضې وخت مړے په خوب کښې راشي او وائي چې زۀ ژوندے يم! ما در اُوباسئ! يا وائي زما قبر ته اوبه راغلي دي، زۀ دلته پريشانه يم! زما مړے څه بل ځائے ته منتقل کړئ! وغيره، اګر که بيا بيا څوک داسې خوبونه اُووِيني، د خوبونو په بُنياد "قَبْر سپړدل" جائز نه دي. بِالفرض که چا د خوب په بنياد يا د شرعي اجازت نه بغير قَبْر اوسپړدلو او د مړي بدن د کفن سره سلامت را اووتلو، خوشبوګاني ترينه راتللې او نورې ښے ښے نښې ښکاره شوې، بيا به هُم بې اِجازتِ شرعي قَبْر سپړدلو والا ګنهګار وي، په دې باره کښې د **فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه شريف** "سوال او جواب" اوګورئ، **سُوال:** په دې باره کښې څه فرمائي چې يوه ښځه د حَمل د پوره مودې نه پس د حمل په حالت کښې وفات شوه، هغه د دستور مطابق ښخه کړے شوه، يو مردِ صالِح (يعني نيک سړي) خوب اوليدو چې د هغې **ژوندے ماشوم** پيدا شوے دے، اوس د دغه سړي په خوب باندې د اعتماد کولو په وجه قَبْر کنستل او هغه ماشوم د ښځې د خوا نه راويستل جائز دي که نۀ؟ **جواب:** جائز نۀ دي، خو چې کله څه ښکاره دليل وي، پرده **محفوظه** ده او خوبونه قِسماقِسم وي. "**سِـراجِـيـه**" بيا "**هِـنـدِيـه**" کښې دي چې: د يوې ښځې د حمل اووه مياشتې شوې وې ماشوم به د هغې په خيټه کښې حرکت کولو، هغه مړه شوه او ښخه کړے شوه، بيا چا په خوب کښې وليده چې هغه وائي: زما ماشوم شوے دے، نو قَبْر به نۀ کنستلے کيږي. وَاللہُ تَعَالٰی اَعْلَم يعني او خُدائے بَرتَر ډير ښۀ پوهيږي. (فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه، ج ۹، ص ۴۰۵)

"**ملفوظاتِ اعلٰی حضرت**" صفحه 501 نه د "قَبْر سپړدلو" مُتَعَلِّق نهايت اَهم او عِبرت انګيز "سوال او جواب" اوګورئ: **سُوال:**: يو قَبْر کچه دے، هر ځل پکښې (د باران وغيره) اوبه داخليږي (آيا) په هغې کښې پوخ ډاټ (يعني د سُوري بندولو څه ځيز) ولګوو؟ **جواب:** قَبْر باندې ډاټ [يعني د سُوري بندولو څه ځيز] لګولو کښې باک نشته، خو سپړدل نۀ دي پکار. مړي باندې چې خاورې واړولے شي نو هغه امانت شي د **اللّٰه** پاک، د هغې کشف (يعني سپړدل) جائز نۀ دي. (ځکه چې په قَبْر کښې مړے د دوه حاله نه خالي نۀ وي

(يا خو) مُـعَذَّب (يعنې عذاب كښې) دے يا مُنعَم عَلَيه (يعنې نعمت كښې). كه مُـعَذَّب (يعنې عذاب كښې) وي نو كتونكے به يـې وِيني، او په هغې به هغه [كتونكي] ته پخپله غم رسي او څه كولے نۀ شي. او كه مُنعَم عَلَيه (يعنې نعمت كښې) وي نو په هغې د هغۀ (يعنې مړي) ناكوارې ده [يعنې هغه دا راز ښكاره كيدل بد ګڼي].

رہے یارب! ہمیشہ عشقِ احمد میرے سینے میں
حُذیفہ کا وسیلہ میری رحلت ہو مدینے میں

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د قارغه په شان ټونګې مۀ وهه

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُ الرَّحمٰن بِن شِبْل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې نَبِيِّ كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قارغه په شان ټُونګو وهلو او د سرِے خور ځناور په شان لاس خورولو نه منع فرمائيلې ده. (اَبو داوٗد ج ۱ ص ۳۲۸ حديث ۸۶۲)

## د حديث شرح

يعنې ساجِد (سَجْده كوونكے) دې سَجْده دومره زر زر نۀ كوي څنګه چې قارغه په ځمكه ټونګه اُووهي او فوراً يـې را اوچته كړي او په سجده كښې دې څنګلې په ځمكه نۀ لګوي، څنګه يـې چې سپے، شرمښ وغيره د كښيناستلو په وخت كښې لګوي.
(مِراٰۃُ المناجيح ج ۲ ص ۸۷)

## د زر زر نمونځ كوونكي مثال

د حضرتِ سَيِّدُنا ابُو مُوسیٰ اَشعَري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې د **الله** پاك خوږ رَسُول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: څوك چې رُكوع په پوره طريقه نۀ ادا كوي او په

سَجْده كښې ټونګې وهي د هغهٔ مثال د هغه اُوږي په شان دے چې هغه يوه يا دوه كجورې اوخوري نو دا د هغه لوږه نهٔ شي ختمولے. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج١ ص ١٩٩ حديث ٧)

## دوباره يې پرې نمونځ وکړو

**حضرتِ** سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې يو كس جومات ته راغلو، رَحمتِ عالَم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جومات په يو كوټ كښې تشريف فرما وو، هغه كس **نمونځ** وكړو او حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته يې سلام وكړو، هغه ته نَبِيِّ كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: وَعَلَيْكَ السَّلام، بيرته وګرځه، **نمونځ** وكړه تا **نمونځ** اونكړو! هغه وګرځيدو **نمونځ** يې وكړو بيا راغلو سلام يې وكړو، خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته اُوفرمائيل: وَعَلَيْكَ السَّلام، بيرته وګرځه، **نمونځ** وكړه تا **نمونځ** اونكړو! هغهٔ دويم ځل يا د هغې نه هُم پس عرض وكړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما ته رازده كړئ. هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: "چې كله ته د **نمانځهٔ** په طرف پاڅې نو اودس پوره كوه، بيا كعبې ته مخ كوه، بيا تكبير وايه، بيا چې خومره قرآن آسان وي اولوله بيا رُكوع وكړه تر دې چې په رُكوع كښې مُطمئن شې، بيا پاځه تر دې چې نيغ ودريږه بيا سَجْده وكړه تر دې چې په سَجْده كښې مُطمئن شې بيا پاځه تر دې چې اطمينان سره كښينې بيا سَجْده وكړه تر دې چې په سَجْده كښې مُطمئن شې بيا پاځه تر دې چې اطمينان سره كښينې بيا خپل ټول **نمانځهٔ** كښې هُم دا كوه." (بُخارى ج٤ ص ١٧٢ حديث ٦٢٥١)

## د رَسُولِ اكرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم په شان نمونځ

تابِعِي بُزُرګ اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ عُمر بن عبدُ العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به په سُنَّتو باندې د عمل كولو پوره پوره كوشش كولو. چې كله هغوئي د مدينے منوّرې حاكِم وو نو هغه ورځو كښې د نَبِيِّ كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خادِمِ خاص حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس بن مالِك رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د عراق نه مدينے مُنَوَّرې ته تشريف راوړلو نو په حضرتِ سَيِّدُنا عُمر بن عبدُ العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پسې يې **نمونځ** وكړو. د حضرتِ سَيِّدُنا عُمر بن عبدُ العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **نمونځ**

د هغوئې ډېر خوښ شو، نو د **نمانځهٔ** کولو نه پس يــې اُوفرمائيل: ”مَا رَاَيْتُ اَحَدًا اَشْبَهَ بِصَلَاةِ النَّبِيِّ مِنْ هٰذَا الْغُلَامِ يعني ما د دې زلــمي نه زيات د رَسُولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره مشابهه [يعني يو شان والي والا] نمونځ کولو والا بل هيڅ څوک نهٔ دے ليدلــے.“ (سيرت عمر بن عبد العزيز لابن جوزى ص ٣٤) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د اعلٰی حضرت نمونځ

حضرت مولانا محمد حُسين چشتي نِظامي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: اعلٰی حضرت، اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به چې څومره په احتياط سره **نمونځ** کولو، نن صبا هٰغه خبره نهٔ ښکاري. هميشه به زما دوه رکعتونه د هغوئې په يو رکعت کښې کيدل او نورو خلکو به زما څلورو رکعاتو سره کم از کم شپږ رکعاته بلکې اَته رکعاته کول. (حياتِ اعلٰى حضرت ج١ ص١٥٤) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د آقا ﷺ قِراءَت.... مرحبا!

هُم دغسې په نمانځهٔ کښې **خُشُوع** حاصلولو د پاره تِلاوت په قلاره قلاره [يعني په دمه دمه] کول پکار دي او کوم کوم ځائے کښې چې شرعي رخصت وي هلته مَثَلًا د شپې په تنهائي کښې تَهَجُّد وغيره کښې نهايت خوش اِلحانئ [يعني خوږ آواز او طرز] سره قرآنِ کريم لوستل پکار دي. تابِعِي بُزُرگ حضرتِ سَيِّدُنا يَعلٰى بِن مَمْلَک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا اُمِّ سَلَمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه د تاجدارِ رِسالَت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قِراءَت په باره کښې

تپوس وکړو، نو هغې رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم داسې قِراءَت بیان کړلو چې د هغې يو يو حَـرف واضحه وو. (نسائی ص ۲۸٤ حدیث ۱٦۲٦ مُلَخَّصاً)

## قرآنِ کريم لږ لوَله خو صحيح يې لوَله

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په ''**مِرْاٰۃُ الْمَنَاجِيح**'' کښې فرمائي: يعني د هغوئي (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) قِراءَت نهايت په قلاره قلاره [يعني په دمه دمه] او صفا وو، چې هره کلمه باندې يـې بنده جُدا جُدا پوهيدلو او د هرې کلمې حُرُوف ح، ع، ز، ذ، ظ، ض باندې به بنده واضحه پوهيدلو. يوه کلمه به بلې سره مخلوط (يعني ګډه وډه) نۀ کيدله، د قرآنِ کريم د تِلاوت هُم دا طريقه پکار ده، د زيات لوستلو کوشش مۀ کوئ، (اګر چې لږ لوَلئ خو) د صحيح لوستلو کوشش کوئ. (مِراٰۃُ المناجیح ج ۲ ص ۲٤۷)

## ښۀ قاري هغه دے چې د اللّٰه نه ويريږي

حضرتِ سَيِّدُنا طاؤُس رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ بيان کوي چې د نَبِـيِّ کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې عرض اوکړے شو: څوک په قرآنِ کريم کښې خوش آوازه او ښۀ قِراءَت والا دے؟ اِرشاد يـې اُوفرمائيلو: هُغه، چې کله تاسو هغه په قرآن لوستلو واورئ نو محسوسه کړئ چې هغه د **اللّٰه** پاک نه ويريږي. (دارمی، ج ۲ ص ٥٦۳ حدیث ۳٤۸۹)

## ..... د اوريدونکو غوني به زيګ شو

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: دا حديث د هُغه ټولو حديثونو شرح دے په کومو کښې چې د ښۀ آواز، د ښۀ تِلاوت حُکم ورکړے شوے دے يعني زړونه دردوونکي ادا او خوفِ خُدا والا قِراءَت ښۀ دے، نفسِ آواز (يعني د لوستونکي خپل آواز) که نرے وي او که درووند. بعض بُزُرګان ليدلي شوي دي چې د هغوئي آوازونه پيرِ وو خو د هغوئي په تلاوت به ټخپله د هغوئي هُم او د اوريدونکو غوني

زِيګ شولو او زړونه به يې رپيدل، **الله** پاک دې داسې تِلاوت رانصيب کړي. اٰمِين
(مِراٰةُ المناجيج ج ۳ ص ۲۷۴)

د قرآن تِلاوت کول يقيناً ډير لوئي سعادت دے، د قرآنِ کريم يو حَرف لوستلو باندې **د لسو نيکو** ثواب حاصليږي، چنانچه **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: ”څوک چې د کتابُ الله يو حَرف لوَلي، هغهٔ ته به يوه نيکي ملاويږي چې هغه به د لسو برابره وي. زهٔ دا نهٔ وايم [چې] الٓمّٓ يو حَرف دے، بلکې اَلِف يو حَرف، **لام** بل حَرف او **مِيم** بل حَرف دے.“
(ترمِذِی، ج ٤ ص ٤١٧ حديث ٢٩١٩)

## د هر حَرف په بدله کښې 100 نيکۍ

**اَميرُ الْمُؤمِنِين** حضرتِ **سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى** رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: څوک چې په نمانځهٔ کښې په ولاړه د قرآنِ پاک تلاوت وکړي د هغهٔ د پاره د هر حَرف په بدل کښې 100 نيکۍ دي او څوک چې په نمانځهٔ کښې په ناسته تلاوت وکړي د هغهٔ د پاره د هر حَرف په بدل کښې 50 نيکۍ دي او څوک چې د نمانځهٔ نه علاوه په اَوداسه کښې تِلاوت وکړي د هغهٔ د پاره 25 نيکۍ دي او څوک چې بې اودسه تلاوت وکړي د هغهٔ د پاره 10 نيکۍ دي او د شپې قِيام غوره دے ځکه چې هٰغه وخت زړهٔ زيات فارِغه وي. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج ۱ ص ۳۶٦) (اِحْيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ۱ ص ۸۳۱)

بعضې اِسلامي ورونړه په نهايت تيز رفتارۍ سره قرآنِ کريم لوَلي د پاره د دې چې د زيات نه زيات تلاوت سعادت حاصل کړي خو د تلاوت په دوران کښې د تجويد د قواعِدو رعايت نهٔ کوي او غلط ملط يې وائي، حالانکې د قرآنِ کريم د حُروفو صحيح ادا کول او غلط وئيلو نه ځان بچ ساتل فرضِ عَين دي، چنانچه اعلٰى حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ”بيشکه دومره تجوِيد چې په هغې د حُروفو تصحيح اوشي (يعني حُرُوف صحيح ادا شي)، او غلط وئيلو نه بچ شي، **فرضِ عَين** دے.“ (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه مخرّجه ج ٦، ص ٣٤٣)

## قرآنِ پاک په قلاره قلاره [یعنې په کم رفتار] لوستل پکار دي

يو کم ديرشَمه سيپاره، سُوْرَةُ الْمُزَّمِّل آيت نمبر 4 کښې الله پاک اِرشاد فرمائي:

وَ رَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِیْلًا ؕ﴿۴﴾ [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِیمان: او قرآن ښه په قلاره قلاره [یعنې په دمه دمه] لوَله.

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ”ترتِيل“ په وَضاحَت کښې نقل کوي: ”قرآنِ مجيد دومره په قلاره او په دمه لوَله چې اوريدونکے د هغې آيتونه او الفاظ شميرلے شي.“ (فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه مُخَرَّجه، ج۶، ص۲۷۶) او فرض نمانځهٔ کښې دې داسې تِلاوَت کوي چې [اوريدونکے] جُدا جُدا په هر حَرف پوهيدے شي، په تراوِيح کښې په مُتَوَسِّط (يعنې درميانه) طريقه باندې او د شپې په نفلونو کښې يې دومره تيز وئيلے شي چې پخپله پرې پوهيدے شي. (دُرِّ مُختار ج۲ ص۳۲۰) ”مَدارِک“ کښې دي: ”اِطمينان سره، حُرُوف جُدا جُدا، د وقف (يعنې د ودريدلو وغيره د علاماتو) د حفاظت او د ټولو حرکاتو (يعنې زير، زبر وغيره) د ادائيګۍ خاص خيال ساتل دي. ”تَرْتِیْلًا“ (يعنې ښه په دمه دمه) په دې مسئله کښې تاکيد پيدا کوي چې دا خبره د تلاوت کوونکي د پاره نهايت ضروري ده.“ (مدارک التنزيل ص۱۲۹۲، فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه مُخَرَّجه، ج۶، ص ۲۷۸، ۲۷۹) (د ترتيل احکام زدهٔ کولو د پاره فتاوىٰ رَضَوِيَّه جِلد 6 صفحه 275 تا 282 ولولئ)

## عوام دې د درميانه درجې تادئ والا تِلاوَت کوي

فتاوىٰ رَضَوِيَّه جِلد 7 صفحه 478 تا 479 کښې په قلاره او درمياني رفتار باندې د وئيلو په حواله ډير ښکلے کلام شوے دے، دلته د هغې خُلاصه په آسانو الفاظو کښې د عرض کولو کوشش کووم: څوک چې په قرآنِ مجيد لوستلو کښې د غور و فِکر کولو صلاحِيت نهٔ لري د هغوئي د پاره په تِلاوَت کولو کښې د درميانے درجې تادي [يعنې زر زر وئيل] افضل کيدل پکار دي ځکه چې څومره زر زر يې وائي هغه هومره به تِلاوَت زيات کيږي او د قرآنِ کريم په هر حَرف باندې لس نيکۍ دي، که د سلو په ځائے پينځهٔ سوه

حُرُوف ولولي نو د زړو په ځائے به پينځۀ زره نيکئ حاصلې کړي. او هر ثواب په پوهيدلو باندې مُنحَصِر نۀ دے. **حِکايت**: حضرتِ سَيِّدُنا امام اَحمد بِن حَنبل رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په خوب کښې د **الله** پاک دِيدار وکړو نو عرض يې وکړو: اے زما **ربه**! کوم څيز ستا بندګان ستا د عذاب نه خلاصوونکے دے؟ [**الله** پاک] اُوفرمائيل: زما کتاب (يعني قرآنِ کريم). عرض يې وکړو: هغه پوهيدلو سره لوستل دي که بغير د پوهيدلو نه؟ ويې فرمائيل: (په دواړو طريقو يعني) پوهيدلو سره (لوستل) او بغير پوهيدلو سره (لوستل). (د تفصيل د پاره اوګورئ: فتاوٰی رَضَوِيَّه جِلد 7 صفحه 478، 479)

تلاوت کی توفیق دیدے الٰہی گناہوں کی ہو دور دل سے سیاہی

شوق راکړي د تِلاوَت يا اِلٰهي د ګناهونو مې ختم کړي عادت يا اِلٰهي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نمانځۀ ضروري مسائل زده کول ضروري دي

د **نمانځۀ** ضرروي مسائل زده کول ضروري دي ځکه چې خوک د **نمانځۀ** فرائض، واجِبات، سُنَّت او د **نمانځۀ** فاسِد کوونکو څيزونو وغيره عِلم لري هغه په ښه طريقه **نمونځ** کولے شي او خوک چې د **نمانځۀ** د ضرروي مسائلو نه ناخبره وي هغه به صحيح **نمونځ** څنګه ادا کړے شي! ياد ساتئ! په کوم کس چې **نمونځ** فرض دے په هغۀ باندې د **نمانځۀ** ضروري مسائل زده کول هُم فرض دي.

## د ناوَک [د واده د هلک] نمونځ (حِکايت)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! انتهائي نازک دور راغلے دے، زمونږ خوا و شا د داسې مسلمانانو يو شمير کيدے شي چې هغوئي ته **نمونځ** کول بالکل نۀ وي زده، څنګه چې د **دعوتِ اسلامي** د يو مَدَني [عالِم] اِسلامي وررور بيان دے چې زۀ د کراچئ په يو

جومات کښې امام يم. يوه شپه د ماسخوتن د **نمانځهٔ** نه پس د **مَدرَسةُالْمَدِينه** (بالغان) په سِلسِله کښې مونږ يو څو اِسلامي وروڼه په جومات کښې موجود وو چې يو **ناوَک** [يعني د وادهٔ هلک] د يو څو دوستانو سره جومات ته راغلو او ما ته يې اُووئيل: چې ما ته **نمونځ** وکړئ. ما ورته په جواب کښې اُووئيل چې **نمونځ** خو ما خلکو ته کړے دے، تاسو خپل وکړئ. هغهٔ بيا اُووئيل چې تاسو ما ته **نمونځ** ولولئ. نو بيا زهٔ د هغهٔ په خبره پوهه شوم چې هغه وائي چې ما ته بيخي **نمونځ** کول نهٔ دي زده، لِهذا تاسو ما ته د دې طريقه اوښايئ. ما يو پوهه اِسلامي ورور ته اُووئيل چې تاسو دوئي ته طريقه اوښايئ. هغوئي ورته طريقه اوښودله خو هغه د 34 کالو د وادهٔ هلک ته د رُکوع، **سُجُود**، **اَلتَّحِيات** وغيره مُتَعَلِّق هيڅ هُم نه وو معلوم چې دا څه ته وائي او څنګه يې کوي! تر دې چې هغه ته يو يو څيز اوښودلے شو چې لاسونه غوږونو پورې پورته کړئ او بيا يې د نامه نه لاندې اوتړئ، رُکوع او **سَجْدِه** داسې وکړئ، دغسې د شروع نه واخله تر آخرې پورې هغهٔ ته يو يو څيز اوښودلے شو، او بله دا چې هغه د ماسخوتن د **نمانځهٔ** د پاره نهٔ بلکې څکه راغلے وو چې د هغوئي په برادرئ کښې د وادهٔ په موقع رسم دے چې د وادهٔ هلک به دوه رکعاته نفل ادا کوي.

مسجد تو بنا دی شب بھر میں ایماں کی حرارت والوں نے
من اپنا پرانا پاپی ہے، برسوں میں نمازی بن نہ سکا

## ”د قَبْر ورومبۍ شپه“ نومې بيان يې ژوند بدل کړو

اے د **نمانځهٔ عاشقانو!** نمونځونو کښې د تادئ [يعني د زر زر] کولو علامت ختمولو د پاره، د نمونځونو ضروري اَحکامو باندې ځان پوهه کولو د پاره او نمونځونو کښې د **خُشُوع و خُضُوع** جذبه زياتولو د پاره مَدَني قَافِلو کښې سفر کول خپل معمول جوړ کړئ. ستاسو د ترغيب د پاره يو ”مَدَنـي سپرلے“ پيش کيږي: چنانچه د **ډهرکي** (ضلع ګهوټکي، سندهـ) يو اسلامي ورور (عُمر تقريباً 24 کال) دُنيادار شان زلمے وو او دِيني معلوماتو نه ډير زيات

لرېي وو. نهٔ د **نمونځونو** پابندي، نهٔ د روژو خيال! هيڅ يې هُم نهٔ کول. غلطو دوستانو سره خوشې ګرځيدل، فلمونه او ډرامې کتل د هغهٔ معمول وو. د بد صُحبت په وجه يې شراب څښل هُم شروع کړي وو. د هغهٔ په شان وران کاري کس د نيکو په لاره باندې د راتلو سبب د دعوتِ اسلامي يو مُبَلِّغ جوړ شو چې هغهٔ پرې اِنفرادي کوشش وکړو او د هفته واره سُنَّتو ډکه اِجتِماع دعوت يې ورکړو او اَلْحَمْدُلِلّٰه هغهٔ په اِجتِماع کښې شرکت وکړو. په هغهٔ باندې لږ ډير اثر ضرور وشو خو ګناهونو کښې د انښتلو په وجه يې د دعوتِ اسلامي ډير بَرَکتونه حاصل نه کړے شو. بيا څه موده پس ورته هُم هغه اِسلامي ورور عاشِقانِ رَسُول سره د درې ورځو مَدَني قافِله کښې د سفر کولو دعوت ورکړو، په دې باندې هغهٔ لَبَّيْک اُووئيلو او د **الله** پاک په لار کښې يې سفر اختيار کړو. د مَدَني قافلې په دوران کښې ورته يو مُبَلِّغ د 63 ورځو مَدَني تربِيَّتي کورس کولو ترغيب ورکړو نو هغهٔ ته د دې کورس کولو سعادت هُم نصيب شو. د هُم دې کورس په دوران کښې ورته په فيضانِ مدينه کراچۍ کښې کيدونکې د درې ورځو تربِيَّتي اِجتِماع کښې د شرکت کولو موقع هم نصيب شوه، په هغې کښې يې بيان "**قبر کی پہلی رات** [د قبر وړومبۍ شپه]" واوريدو نو په زړهٔ کښې يې تبديلي راپورته شوه او د تيرو ګناهونو نه يې توبه وکړه او د سُنَّتو مطابق انداز اختيارولو پوخ نِيَّت يې وکړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه هغهٔ ته په يو جومات کښې د امامت کولو سعادت هُم نصيب شو او د علاقائي مشاورت د نګران په حيثيت ورته د دعوتِ اسلامي د ديني کارنو ذِمَّه داري هُم نصيب شوه.

ترا شکر مولا دیا مدنی ماحول
نہ چھوٹے کبھی بھی خدا مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٧)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## .... نو ټول معاملات به صحيح شي

**حضرتِ** سَیِّدُنا اِبنِ شَوذَب رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه بيانوي: ما د حضرتِ سَیِّدُنا یونُس بِن عُبَید رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه دا فرمان اوريدلے دے چې دوه خصلتونه داسې دي چې که هغه په بنده کښې صحيح شي نو د هغهٔ باقي ټول معاملات به صحيح شي، هغه **نمونځ** او ژبــه دي. (حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء ج ۳ ص ۲۲ رقم ۳۰۰۶)

## د نمانځهٔ قبليدلو د پاره اخلاص شرط دے

**اے د نمانځهٔ عاشقانو!** کاش چې! مونږ ته د بيان کړے شوي **خُشُوع و خُضُوع** پيدا کولو والا اسباب اختيارولو سره **نمونځ** کول نصيب شي، کاش چې! زمونږه نمونځونه د **الله** پاک د نيکو بندګانو د نمونځونو نمونه جوړ شي. اٰمين. دا هُم ياد ساتئ چې د نمانځهٔ د قبوليت د پاره د ټولو نه بُنيادي شرط **اِخلاص** دے. لِـهذا هر قِسم **نمونځ** که فرض وي او که نفل، صرف او صرف د **الله** پاک رضا حاصلولو د پاره کول پکار دي، خلکو ته ښودنې د پاره رياکارانه **نمونځ** کول نهٔ دي پکار. د اخلاص په اَهَمِّيَّت او د رياکارئ په مَذَمَّت کښې يو څو رِوايات وغيره پيش کيږي:

## د فِـتنهٔ دَجَّال ويره

حضرتِ سَیِّدُنا ابُو سعِيد خُدري رَضِیَ اللهُ عَنْه فرمائي: يوه ورځ مونږه خپل مينځ کښې د مَسِيحِ دَجَّال تَذکره کوله، په دې کښې رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو او ويـې فرمائيل: آيا زهٔ تاسو ته هغه خبره اُونه ښايم د کومې چې ما ته په تاسو باندې د **دَجَّال** نه زياته ويره ده؟ مونږه عرض وکړو: ولې نهٔ. ويـې فرمائيل: هغه شِرک خَفي (يعني پټ شِرک) دے، سړے په **نمانځهٔ** ودريږي او په دې وجه ښه طريقه سره **نمونځ** ادا کوي چې بل کس يـې په **نمانځهٔ** کولو وِيني. (اِبنِ مَاجَه ج ٤ ص ٤٧٠ حديث ٤٢٠٤)

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د حديثِ پاک د دې حِصَّې (د کومې چې ما ته په تاسو باندې د **دَجَّال** نه زياته ويره ده) لاندې فرمائي: ځکه چې **دَجّال** خو به په هر کس نه

پيښيږي او هغه به هُم قيامت ته نزدې وي، بيا انسان به د هغهٔ نه بچ کيدے هُم شي ځکه چې که د هغهٔ خوا ته نهٔ ورځي نو د هغهٔ په جال کښې به هُم نهٔ نښلي، خو د (شِرک خَفِي يعنې) ”رِياکارئ“ مصيبت هر کس ته هر وخت ورپيښ دے ځکه دا آفت د **دَجّال** نه زيات خطرناک دے. (مِراٰةُ المناجيح ج ٧ ص ١٤٣)

## دَجّال ته د مَسِيح وئيلو وجه

”**مِراٰةُالْمَنَاجِيح**“ کښې دي:د دَجّال يوه سترګه **مَمْسُوح** ده [يعنې په يوه سترګه ړوند دے] يا ولې چې هغه به د حَرَمَينِ شريفَين نه سِوا باقي د ټولې دُنيا سَيل کوي په دې وجه هغهٔ ته مَسِيح وئيلے کيږي. ياد ساتئ چې حضرت عيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام ته ”**مَسِيح**“ ځکه وائي چې هغوئي به مړے په لاس لګولو ژوندے کولو او بيمار به يـې په لاس لګولو تندرست کولو، يا ځکه چې هغوئي يو ځائے هُم کور نه وو جوړ کړے هميشه به په سفر کښې اوسيدلو. (مِراٰةُ المناجيح ج ٢ ص ١٠٨ مُلَخَّصاً)

## د رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ توهين کوونکے

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې د خلکو په مخکښې په ښه طريقه او يواځې په بده طريقه نمونځ ادا کړو، بيشکه هغهٔ د خپل **رَبّ** تَوهِين [يعنې بې اَدَبي] وکړه. (مُسنَدِاَبو يَعْلٰی ج ٤ ص ٣٨٠ حديث ٥٠٩٥) دلته د تَوهِين نه مُراد په بارګاهِ اِلٰهی کښې د ادب کمي ده، کفريه تَوهِين مُراد نهٔ دے.

## د ورَک [يعنې غير مشهور] بنده فضيلت

اَميرُالْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ مسجِدِ نَبَـوِي ته تشريف يوړلو، سَيِّدُنا مُعاذ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ يـې د مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مزار مبارک په خوا کښې په ژړا وليدو. حضرتِ سَيِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اُوفرمائيل: ولې ژاړې؟ حضرتِ سَيِّدُنا مُعاذ (رَضِیَ اللهُ عَنْهُ) عرض وکړو: يوه خبره مې د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اَوريدلې وه، هغه مې

ژړوي. ما د حُضُور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) نه دا فرمان اوريدلے وو: ”لږه شان رِيا هُم شِرک ده او څوک چې د **الله** پاک د ولي سره دُښمني كوي هغه د **الله** پاک سره جنګ كوي. **الله** پاک ته نيكان پرهيزګاران، پټ شوي [يعنې خپلې نيكۍ پټوونكي] خوښ وي، هُغه خلک چې غائب [يعنې ورک] وي نو څوک يې لټوي نهٔ، كه حاضر وي نو څوک يې رابلي نهٔ، او نهٔ يې [څوک ځان ته] رانزدې كوي، د هغوئي زړونه د هدايت ډيوې دي، د هر ګرد وهلې تِيارې نه اُوځي.“ (مُسْتَدْرَک ج ٤ ص ٣٠٦ حديث ٥٢٣١، اِبنِ مَاجَه ج ٤ ص ٣٥١ حديث ٣٩٨٩) يعني د مُشكلاتو او بلاګانو [يعنې مصيبتونو] نه جُدا وي. (بهارِ شريعت ج ٣ ص ٦٣٢)

”مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيح“ كښې د حديثِ پاک د دې حِصَّې (د هر ګَرد وهلې تِيارې نه اُوځي) لاندې لِيک دي: يعنې دا اَوْلِيآءُ الله به د تِيارو كورونو، غيرِ مشهور مَحَلّو، نامعلومو ابادئو نه [مسلسل] پيدا كيږي. يا دا مطلب دے چې هُغه حضرات به د تِيارو ګرد وهلو عقائدو او اَعمالو او شُبهاتو (يعنې غلطو عقيدو، بدو عملونو او شک و شُبهې والا اُمورو) نه اُوځي، كله به په هغې كښې نهٔ نښلي. (مِراٰة ج ٧ ص ١٤٠)

## شهيد په جَهنَّم كښې

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې د حضور نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډک فرمان دے: ”د قيامت په ورځ به د ټولو نه مخكښې د يو شهيد فيصله كيږي، چې كله هغه راوستلے شي نو **الله** تعالٰی به هغهٔ ته خپل نعمتونه وريادوي نو هغه به د هغه نعمتونو اِقرار كوي، بيا به **الله** پاک اِرشاد فرمائي: ”تا د دې نعمتونو په بدله كښې څه عمل وكړو؟“ هغه به عرض كوي: ”ما ستا په لاره كښې جِهاد كړے وو تر دې چې شهيد شوم.“ **الله** پاک به اِرشاد فرمائي: ته **دروغژن** يې، تا جِهاد ځكه كړے وو چې تا ته بهادُر اُووئيلے شي او هغه تا ته اُووئيلے شو“ (يعنې ستا د جِهاد او شهادت عِوَض (يعنې بدله) دا شوه چې خلكو ستا صفت وكړو، ځكه چې تا په هُم دې نِيَّت جِهاد كړے وو، د اسلام د خدمت د

پاره دي نهٔ وو کړے (مِراٰۃُ المناجیح ج۷ ص۱۹۱)، بيا به د هغهٔ په باره کښې **جَهنَّم** ته د تللو حُکم وركړي نو هغه به پړمخې په راښکلو جَهنَّم کښې واچولے شي. (يعنې نهايت ذِلّت سره به د مخ سپي په شان د ښپې نه راښکل شي او د جَهنَّم د غاړې نه به ښکته ور غوزار کړے شي. د جَهنَّم جَوَروالے د آسمان او ځمکې د فاصلې نه کروړونه هومره زيات دے. [مونږ د هغې نه] د **الله** (پاک) پناه [غواړو!])

## د رِياکار قاري او عالِم انجام

بيا به هغه کس راوستلے شي چا چې عِلم زده کړے وو، [او نورو ته يې] ښودلے وو او قرآنِ کريم يې لوستلے وو، هغه چې راشي نو **الله** پاک به هغهٔ ته هُم خپل نعمتونه ورياد کړي نو هغه به هُم د هغه نعمتونو اِقرار کوي، بيا به **الله** پاک د هغهٔ نه تپوس وکړي: "تا د دې نعمتونو په بدله کښې څه وکړل؟" هغه به عرض کوي چې "ما عِلم زده کړے وو او نورو ته مې ښودلے وو او ستا د پاره مې قرآنِ کريم لوستلے وو." **الله** پاک به اِرشاد فرمائي: تهٔ دروغژن يې تا عِلم ځکه زده کړے وو چې تا ته **عالِم** اُووئيلے شي او قرآنِ کريم دې ځکه لوستلے وو چې تا ته **قاري** اُووئيلے شي او هغه تا ته اُووئيلے شو." (يعنې ستا دا ټول خدمت د دِين د پاره نهٔ وو بلکې د عِلم په ذريعه د عِزَّت او مال ګټلو د پاره وو هغه تا ته حاصل شوي وو اوس زمونږ نه څه غواړې؟ دې حديث ته د کتلو په وجه بعضې عُلَماء په خپلو کتابونو خپل نومونه هُم نهٔ دي ليکلي او چا چې ليکلے دے نو د مشهوريدلو د پاره نهٔ بلکې د خلکو دُعاګانې حاصلولو د پاره يې ليکلے دے (مِراٰۃُ المناجیح ج۷ ص۱۹۱)) بيا به هغه هُم جَهنَّم کښې د اچولو حُکم اوکړے شي نو هغه به پړمخې په راښکلو **جَهنَّم** کښې واچولے شي.

## د رِياکار مالدار اَنجام

بيا به يو **مالدار** کس راوستلے شي چا ته چې **الله** پاک کثرت سره مال ورکړے وو، هغه به راوستلے شي او نعمتونه به ورياد کړے شي هغه به هُم د هغه نعمتونو اِقرار وکړي، نو

**اللّٰه** پاک به اِرشاد فرمائي: ”تا د هغه نعمتونو په بدله کښې څه وکړل؟“ هغه به عرض کوي: ”ما ستا په لار کښې چې کوم ځائے ضرروت پيښ شو هلته مې خرچ کړو.“ نو **اللّٰه** پاک به اِرشاد فرمائي: تهٔ دروغژن يې تا داسې ځکه کړي وو چې تا ته **سخي** اُووئيلے شي او هغه تا ته اُووئيلے شو.“ بيا به د هغهٔ په باره کښې د جَهنَّم حُکم اوشي دغسې به هغه هُم پړمخې په راښکلو **جَهنَّم** کښې واچولے شي. (مُسلِم ص ۸۱۳ حديث ۴۹۲۳)

## رِيا والا نيکي جَهنَّم ته د تللو سبب ده

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د بيان شوي حديثِ پاک نه لاندې ليکي: معلومه شوه چې څنګه په **اخلاص** کړې نيکي د **جَنَّت** حاصليدلو ذريعه ده هُم دغسې رِيا والا نيکي **جَهنَّم** ته د تللو او په ذِلّت کښې د اخته کيدلو سبب ده. دلته د رِياکار شهيد، عالِم او سخي ذِکر وشو، ځکه چې هغوئي **بهترين عملونه** کړي وو، چې دا اعمال په رياکارئ برباد شو نو د نورو اعمالو به څه وائي! **د رياکارئ د حج او زکوٰة او نمانځهٔ هم دا حال دے.** (مِراٰةُ المناجيح ج ۷ص ۱۹۱، ۱۹۲)

## د اخلاص سوال وکړئ

**اے د جَنَّت طلبګارو!** تاسو وليده! رياکاري چې خطرناکه باطِني بيماري ده، دې هغه بدنصيبه هلاک کړل! غور خو وکړئ چې د جِهاد په شان نيک کار، د شهادت په شان عظيم نعمت، د قرآنِ کريم او عِلمِ دِين زده کولو او ښودلو په شان پاکيزه عمل او د صَدَقه او خيرات په شان بهترين کارونه په خاورو کښې ګډ شو ځکه چې د کوونکو نِيَّتونه د **اللّٰه** تعالیٰ د رضا کولو په ځائے د دُنيا د عِزَّت او شُهرت حاصلولو وو. ميدانِ جنګ کښې ځان قُربانوونکي هُم د جَنَّت نعمتونه حاصل نهٔ کړے شو ځکه چې د هغهٔ په زړهٔ کښې دا نِيَّت وو چې خلک راته بهادُر اُووائي، مالدار د خپل خوږ څيز يعني مال ورکولو باوجود هُم په نُقصان کښې پاتې شو، ځکه چې د هغهٔ دا نِيَّت وو چې خلک راته سخي اُووائي، او د

شپې او ورځې د محنت كولو باوجود د عِلم او قِراءَت زده كوونكي قاري په لاس هُم هيڅ رانغلل ځكه چې هغهٔ دا هر څه د شُهرت د پاره كړي وو. د هغه رياكارانو كوششونه بيكاره لاړل او د خپل صفت اوريدلو خوښولو غلط نِيَّت هغوئي د جَنَّتي اعمالو كولو باوجود جَهنَّم ته غوزار كړل.

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! د الله پاک د بې نيازئ نه اُويريږئ او د هغهٔ په بارګاه كښې په ژړا او زارئ د اخلاص خيرات اوغواړئ.

مرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو
کر اخلاص ایسا عطا یاالٰہی

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ١٠٥)

زما هر عمل دې وي بس دا ستا د پاره
راكړې داسې اخلاص را عطا يا اِلٰهى

## د رِيا تعريف

د رِيا تعريف دا دے: "**د الله پاک د رِضا نه علاوه په څه بله اِراده عِبادت كول.**" لكه د عبادت كولو چې يـې دا غرض وي چې خلک د دهٔ د عبادت نه خبر شي د پاره د دې چې دے د هغوئي نه مال حاصل كړي يا خلک د دهٔ **تعريف** وكړي يا يـې نيک بنده اوګڼي يا يـې **عِزَّت** وغيره وكړي. (اَلزَّوَاجِر ج١ ص٨٦)

## د اخلاص تعريف

د مَكتَبَةُ الْمَدِينه د 312 صفحو كتاب "**نجات دلانے والے اعمال**" صفحه 25 كښې دي: "په يو نيک عمل كښې مَحض (يعني صرف) د رضائے اِلٰهى حاصلولو اِراده كولو ته اِخلاص وائي." (اِحيَاءُ الْعُلُوم ج ٥ ص ١٠٧)

## که خلک يـې پخپله صفت کوي نو بيا؟

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُوذر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې رَسُولِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه تپوس اوکړے شو: دا اُوفرمائې چې سړے ښۀ کار کوي او خلک د هغۀ **تعريف** [يعنې صفت] کوي (دا رِيا ده که نه)؟ ويـې فرمائيل: دا د مومن د پاره **جَلْد** يعنې په دُنيا کښې زيرے دے.“ (مُسلِم ص ۱۰۸۹ حديث ۶۷۲۱) (يعنې دا رِيا نۀ ده بلکې د قَبولِيَّت نښه ده چې د خلکو د خُلو نه پخپله هغۀ صفت اُوځي. غرض دا چې د رِيا تعلق د عامِل (يعنې عمل کوونکي) نِيَّت سره دے چې هغه د ښودنې (او) شُهرت په نِيَّت نيکي وکړي، [نو بيا] دا رِيا ده.) (مِراٰةُ المناجيح ج ۷ ص ۱۲۹ مُلَخَّصاً)

## د وفات نه پس يـې سخاوت معلوم شو

حضرتِ سَيِّدُنا امام زَينُ الْعابِدِين رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په خپل ژوند کښې دوه ځله خپل ټول مال د **اللّٰه** پاک په لار کښې خيرات کړو. د هغوئي د سخاوت دا حال وو چې د مدينے مُنَوَّرې د ډيرو غريبانانو کورونو ته به يـې په داسې پټه طريقه رقم ليږلو چې غريبانان به خبر هُم نۀ وو چې **دا رقم د کوم ځائے نه راځي**! خو چې کله هغوئي وفات شولو نو هغه غريبانان خبر شو چې دا د حضرت اِمام زَينُ الْعابِدِين رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه **سخاوت** وو. (سير اعلام النبلاء ج۵ ص ۳۳۶، ۳۳۷)

## خيرات به يـې داسې ورکولو چې اخستونکے يـې اُونه پيژني

سُبْحٰنَ اللّٰه! د آلِ رَسُول د سترګو تور، د امام حُسين د زړۀ ټکور امام زَينُ الْعابِدِين رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د نيکو پټولو جذبه صد کروړ مرحبا! داسې نور حضرات هُم تير شوي دي چې هغوئي به د پټ خيرات ورکولو دومره زيات کوشش کولو چې اخستونکے پوهه نۀ شي چې چا راکړو! چنانچه د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه کتاب ”**ضيائے صدقات**“ صفحه 242 کښې دي: بعضې (صاحبانو) خو به [خيرات] د نابينا په لاس کښې ورکړو او بعضو به د فقير په لاره کښې واچولو او د فقير د ناستې د ځائے خوا ته به يـې داسې کيښودلو چې ورکوونکے به نۀ ښکاره کيدو. او بعضو خو به د اُودۀ فقير په جامو کښې واچولې او بعضو به د بل په لاس فقير ته [صدقه]

داسې ور ولېږله چې هغه ته د ورکوونکي عِلم اُونه شي او ورکوونکي به ور ورلو والا (وکیل) ته د خبرې پټې ساتلو وئیل چې د هغهٔ په باره کښې ورته نهٔ وائي.'' آه! مونږه که د یو نیک کار د پاره چنده ورکولو کښې کامیاب هُم شو نو تر څو پورې چې نور خلک خبر نهٔ شي تر هغې پورې زمونږ زړهٔ ته سکون نهٔ حاصلیږي، بس په څه حِیله بهانه د خپل خیر و خیرات تذکره ضرور کوو!

## رِیا سره د نمانځهٔ کولو مسائل

حضرت عَلَّامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: که فرض یې د رِیا په طور ادا کړل نو بیا به یې هُم د ذِمّې نه ساقِط (یعني ختم) شي. اګر چې د اخلاص نهٔ کیدلو په وجه به یې ثواب اُونه شي. په یو مقام کښې فرمائي: عبادت که هر یو وي خو په هغې کښې اخلاص نهایت ضروري څیز دے یعني مَحض (صرف) د رضائے اِلٰهی د پاره عمل کول ضروري دي، د ښودنې د پاره عمل کول بِالاِجماع (یعني بِالاِتِّفاق) حرام دي. (بهارِ شریعت ج ۳ ص ۶۳۶، ۶۳۸)

## د رِیا دوه صورتونه

د رِیا دوه صورتونه دي، که څوک اصل عبادت د رِیا سره کوي یعني مَثَلًا د خلکو په مخکښې [خو] نمونځ کوي او که څوک لیدونکے نهٔ وے نو بیا به یې هډو کولے نهٔ، دا رِیائے کامِل (یعني پوره رِیاکاري) ده ځکه چې د داسې عبادت بالکل ثواب نشته. بل صورت دا دے چې په اصل عبادت کښې خو یې رِیا نشته، که څوک وے او که نهٔ وے بهر حال به یې نمونځ کولے خو په وَصف (یعني ښهٔ والي) کښې یې رِیا ده چې که څوک لیدونکے نهٔ وے نو بیا به یې هُم کولے خو داسې ښهٔ به یې نهٔ کولے. دا دویم قِسم د ورومبي نه د کمې درجې دے، په دې کښې د اصل نمانځهٔ ثواب شته او نمانځهٔ

كښې يـې چې كوم ښۀ والـے راوستے دے د هغې ثواب دلته نشته ځكه چې دا (د ښۀ والي اضافه) د رِيا په وجه ده په اخلاص نه ده. (رَدُّالْمُحْتَار ج ۹ ص ۷۰۱) (بهارِشريعت ج ۳ ص ۶۳۷)

## رِيا والا عبادت د چينجي وهلي تُخم په شان دے

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: رِيا والا عبادت د چينجي وهلي تُخم (يعني داسې تُخم چې هغه چينجي د دننه نه په وهلو وهلو ريزه ريزه او بيكاره كړے وي د هغې) په شان دے، چې د هغې نه پيداوار نۀ كيږي. (مِراٰةُ المناجيح ج ۷ ص ۱۴۳)

## د رِياكارئ د ويرې نه عبادت پريښودل څنګه دي؟

د مَكتَبَةُالْمَدِينه د 166 صفحو كتاب، "**رِياكارى**" صفحه نمبر 83 كښې دي: **خوږو اِسلامي ورونړو!** كيدے شي چې د چا په زړۀ كښې شيطان دا وسوسه واچوي چې د **رِياكارئ** دومره **آفتونه** دي او د رِياكارئ نه **بچ كيدل** هُم بےحده **مشكل** دي نو د سره بيا هډو **نيک عمل** كول نۀ دي پكار چې كم از كم د رِياكارئ د سزا نه خو بچ شو. د داسې اِسلامي ورونړو په خدمت كښې عرض دے چې د رِياكارئ د ويرې نه نيک عمل پريښودل د عقلمندئ خبره نۀ ده ځكه چې داسې به مونړه د **اخلاص** او **نيكئ** د دوارو د ثوابونو نه **محرومه** شو. حضرتِ سَيِّدُنا فُضَيل بِن عِياض رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه اِرشاد فرمائي: "د خلكو د پاره عمل پريښودل **رِياكاري** ده او د خلكو د پاره عمل كول شِرک (اصغر) دے، او **اخلاص** دا دے چې **الله** پاک تا ته د دې دوارو څيزونو نه نجات دركړي." (اَلزَّوَاجِر ج ۱ ص ۸۶)

## د رِيا په وجه فرض مه پريږدئ

"بهارِ شريعت" كښې دي: كه چا ته په فرض ادا كولو كښې د رِيا د مُداخَلَت (يعني داخليدلو) انديښنه وي نو د دغه مُداخَلَت په وجه دې فرض نۀ پريږدي بلكې فرض دې ادا كړي او د رِيا لرې كولو او اخلاص حاصلولو كوشش دې كوي. (بهارِشريعت ج ۳ ص ۶۳۹)

## په تنهائي کښې هُم رياکاري کيدے شي

د **ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت** نه ”عرض و اِرشاد“ واورئ:

**عرض:** که څوک يواځې د **خُشُوع** د پاره نمونځ کوي او عادت جوړوي چې [بيا] د خلکو په مخکښې هُم **خُشُوع** وي نو آيا دا رِيا ده يا څه دي؟ **اِرشاد:** دا هُم رِيا ده (ځکه) چې په زړهٔ کښې نِيَّت د غيرِ خُدا دے. (مَلفُوظاتِ اعلیٰ حضرت ص۲۳۱) **عَرض:** که د رِيا د پاره يـې نمونځ او روژه وکړل نو فرض به يـې ادا کيږي که نهٔ؟ **اِرشاد:** فِقهي نمونځ او روژه به يـې وشي ځکه چې مُفسِد (يعني نمونځ يا روژه ماتولو والا څه کار) پـکښې نهٔ دے پيښ شوے، [خو] ثواب به يـې نهٔ کيږي، بلکې د وور د عذاب حقدار به وي. په ورځ د قيامت به هغهٔ ته وئيلے کيږي: ”اے فاجِره! اے غادِره (يعني اے بې وفا)! اے خاسِره! (يعني نقصان اوچتوونکيه)! اے کافِره! ستا عمل حَبط (يعني ضائع) شو، خپل اجر د هغهٔ نه اوغواړه د چا د پاره به دې چې [عمل] کولو.“ (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت ص ۱۳۸)

## د ديرشو کالو نمونځونه يـې را وګرځول

يو بُزُرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ديرشو کالو پورې د جومات په **وړومبي صف** کښې (د جَمعې) سره نمونځونه ادا کول، يوه ورځ ورته **وړومبي صف** کښې ځائے مِلاؤ نهٔ شو او دويم صف کښې ودريدلو نو شرم ورغلو چې خلک به څه وائي چې اوګوره! نن د دې سړي نه وړومبے صف لاړو. چې دا خيال ځنګه ورغلو نو پوهه شو او خپل نفس ته يـې اُووئيل چې: ”اے نفسه! ما چې د **ديرشو** کالو پورې کوم نمونځونه په وړومبي صف کښې ادا کړي دي آيا هغه خلکو ته ښودلو د پاره وو چې تا ته نن شرم درځي!“ بيا هغوئي د **ديرشو** کالو نمونځونه راوګرځول (يعني بيا يـې ادا کړل) او د کمالِ صِدق و اِخلاص ناشنا مثال يـې قائم کړو.

(اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج ۲ ص ۳۰۲)

## که نیک عمل وکړو نو هُم نفس یـې پټولو ته نهٔ پرېږدي

اَللہُ اَکبَر! زمونږه د بزرګانو د اخلاص جذبه مرحبا! صرف د زړهٔ د یو خیال په وجه یـې د دیرشو کالو نمونځونه بیا ادا کړل. آه! زمونږه غافلانو حال خو دا دے چې اول خو مو د زړهٔ په پټي کښې د عبادت د جذبې تُخم نشته او که په څه طریقه څه نا څه عبادت وکړو نو د اخلاص د اوبو د کمي [په وجه] بلکې د واه واه [یعني د خپل صفت اوریدلو] د بد آفت په وجه د عبادت فصل ضائع کړو۔

نفسِ بدکار نے دل پر یہ قیامت توڑی
عملِ نیک کیا بھی تو چھپائے نہ دیا

## خلک به تُف تُف کوي او تیرېږي به

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! ریاکاري داسې خوفناک باطِني مرض دے چې د انسان په عقل باندې پرده اچوي. څوک چې د عباددت په ذریعه د خلکو نه د عِزَّت، مال و دولت او قدر و مَنزِلَت طلبګار وي هغه ډیر زیات نادان دے ځکه چې هغه د **الله** پاک او د رَسُولِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رِضا او د جَنَّت د اعلٰی نعمتونو او اَبَدي (یعني د همیشه) راحتونو په مقابله کښې دې عارِضي خیزونو ته ترجیح ورکړه کوم چې ختمیدونکي دي، دا کس [داسې دے] لکه ثواب چې خرڅوي او [د هغې په بدل کښې] عذاب اخلي او د هغه مخلوق رضا کولو د پاره تکلیفونه برداشت کوي چې هغوئي دهٔ ته د دې نیکو هیڅ بدله نهٔ شي ورکولے، نهٔ د جَنَّت نعمتونه ورکولے شي، نهٔ یـې د جَهنَّم د عذاب نه خلاصولے شي! بلکې که په دې دُنیا کښې خلکو ته د هغهٔ د رِیاکارئ د نِیَّت معلومات وشي نو په هغهٔ باندې به تُف تُف کوي.

الٰہی! مجھ کو بنادے خلوص کا پیکر قریب آئے نہ میرے کبھی ریا، یارب!

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۷۸)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ټولو نه مخکښې به خُشُوع اوچته شي

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "د ټولو نه مخکښې به چې د خلکو نه اوچتولے کیږي هغه خُشُوع و خُضُوع ده." حضرتِ اَبُو دَردا رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د دې نښه داسې بیانوي چې د **الله** پاک حبیب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د خُشُوع اوچتیدلو حال به دا وي، [چې] ته به جامِع مسجِد ته لاړ شې نو هلته به یو نمونځ کوونکے هُم خُشُوع والا نهٔ ښکاري." (تِرمِذِی،ج٤ ص٢٩٧حدیث٢٦٦٢)

## یو نمونځ یې هُم نهٔ وو کړے

اَمیرُ الْمُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ په مِنبر باندې اُوفرمائیل: "بېشکه د اسلام په حالت کښې د انسان په مخ باندې سپین ولګي (یعني د ډِیره سپینه شي) خو هغهٔ د رضائے اِلٰهی د پاره یو **نمونځ** هُم پوره نهٔ وي ادا کړے." عرض اوکړے شو: دا څنګه؟ ویې فرمائیل: "هغه په خُشُوع و خُضُوع **الله** پاک طرف ته نهٔ مُتَوَجّه کیږي." (اِحیَاءُ الْعُلُوم ج١ ص ٢٣٣) (اِحیَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج١ ص٥٣٢)

## آیا د مچ د وجهې حرکت وکړم؟

د حضرتِ سَیِّدُنا خَلَف بِن اَیُّوب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نه تپوس اوکړے شو: په **نمانځهٔ** کښې په تاسو باندې مچان کښیني نو هغه ولې نهٔ لرې کوئ؟ آیا تاسو ته د هغې نه تکلیف نهٔ رسي؟ تاسو د هغې نه رسیدونکې تکلیف باندې څنګه صبر کوئ؟ اِرشاد یې اُوفرمائیلو: ما ته دا خبره رارسیدلې ده چې کله فاسِقان خلک د بادشاه [له طرفه] کوړې خوړلو باندې صبر کوي نو خلک وائي: فلانکے (کوړې خوړلو والا) کس ډیر صبر کوونکے دے او هغوئي (یعني کوړې خوړلو والا خلک) په دې فخر کوي. او زهٔ د خپل **رَبِّ کرِیم** په بارګاه کښې ولاړ د مچ (کښیناستلو په وجه بې صبري وکړم او د هغې) په وجه حرکت وکړم! (یعني دا نهٔ

شم كولے) (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج١ ص٢٠٦) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

## ښپه مبارکه يـې کټ شوه خو پوهه نۀ شو (حکايت)

د حضرتِ سَيِّدُنا عُروه بِن زُبَير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ښپه کښې چې کله د آکِلَه بيماري پيدا شوه (آکِلَه هُغه دانې ته وائي چې د هغې په وجه غوښه او خرمن سخا شي او غوښه ترينه رژيږي) نو طبيبانو دا تجويز ورکړو چې ستاسو ښپه به کټ کيږي چې دا زخم په پوره بدن کښې خور نۀ شي خو هغوئي د دې نه انکار کولو. د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زَوجه [يعني بي بي] طبيبانو ته اُووئيل: تاسو د دوئي ښپه کټ کولو باندې هله قادِر کيدے شئ چې کله دوئي په **نمانځۀ** کښې وي. چنانچه د **نمانځۀ** په حالت کښې د هغوئي ښپه مبارکه کټ کړے شوه. د **نمانځۀ** نه فارغيدلو نه پس چې هغوئي وليدل چې طبيبانو ګير کړے دے نو اِرشاد يـې اُوفرمائيلو: آيا دويم ځل هُم د کټ کولو اِراده ده؟ هغوئي اُووئيل: بس هُم هغه يو ځل وو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اُوفرمائيل: په **اللّٰه** پاک مې دې قَسَم وي! زۀ په تاسو (يعني چې تاسو زما ښپه کټ کړه، په دې) بيخي پوهه شوے نۀ يم. (المدخل لابن الحاج ج ٢ ص ٣٦٦)

## زۀ په دې ښپه کله هُم ګناه طرف ته نۀ يم تلے

اِمام **بَيْهَقِي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دا حکايت د څه فرق سره نقل کړے دے، په هغې کښې دا هُم دي: حضرتِ سَيِّدُنا عُروَه بِن زُبَير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپله کټ شوې ښپه په لاس کښې راواخسته او ښکل يـې کړه، بيا يـې اوفرمائيل: ”په هُغه ذات مې دې قَسَم وي! چا چې زۀ په تا د پاسه سور کړے ووم، بيشکه هغه (رَبِّ کرِيم) ته معلومه ده چې زۀ په دې (ښپه) کله هُم يو حرام کار يا ګُناه طرف ته نۀ يم تلے.“ بيا د هغوئي په حُکم هغه ښپې ته غُسل ورکړے

شو، خوشبو پرې ولګولے شوه او په يوه کپړه کښې اونغښتلے شوه او د مسلمانانو قبرستان ته د ښخولو د پاره وليږلے شوه. (شُعَبُ الْاِيمان ج ۷ ص ۱۹۸ حديث ۹۹۷۹)

## په حُسنِ يُوسُف باندې د مصر زنانؤ خپلې ګوتې کټ کړې

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونو! تاسو وليده چې! زمونږه بُزُرګانِ دِين رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم به په خومره خُشُوع وخُضُوع سره نمونځونه ادا کول چې د نمانځهٔ په دوران کښې يې ښپه کټ شوه خو هيڅ احساس ورته اُونهٔ شو! او آه! يو زمونږ حالت دے چې د نمانځهٔ په دوران کښې د خواهشاتو په کندو کښې ګرځو او بالکل دا غور نهٔ کوو چې د چا په بارګاه کښې ولاړ يُو! او بُزُرګانِ دِين به چې په نمانځهٔ کښې داخل شو نو په مَحبَّتِ اِلٰهی کښې به مست شولو او د دُنياومافِيها (يعنې دُنيا او دې کښې چې څه دي د هغې) نه به بې خبره شول، په دې باندې ځان د دې مثال نه پوهه کړئ چې ډاکټر کله آپريشن کوي نو مريض له انجکشن اُووهي او بې هوشه يې کړي، بيا د هغې په وجه مريض ته د خپل بدن د کټ کيدلو او شلولو هيڅ احساس نهٔ کيږي. اوګورئ! د مِصر ښځو چې کله د حضرتِ سَيِّدُنا يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام حُسن و جمال وليدو او په چاړه يې ميوه کټ کول غوښتل نو د ميوې په ځائے يې خپلې ګوتې کټ کړې او هيڅ احساس ورته اُونه شو. نو د چا په سترګو کښې چې د جَمالِ يُوسُفي نظارې وې هغوئي د خپلو لاسونو په کټ کولو پوهه نهٔ شوې نو څوک چې د باطِن او ظاهر د تَوجُّه سره بارګاهِ اِلٰهی طرف ته مُتَوَجِّه وي هغهٔ ته د ښپې کټ کولو احساس څنګه کيدے شي!

پیش یوسف کاٹے ہیں زنانِ مصر نے
تیری خاطر سر کٹا بیٹھے فدایانِ جمال

(ذوقِ نعت)

## اوس خلک د هغوئي مثالونه ورکوي

په خپلو اعمالو کښې د اخلاص زياتولو، خپل نمونځونه د رِيا نه بچ کولو او د عاشِقِ

رَسُول جوړېدلو د پاره د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره تړلي اوسئ. د ديني ماحول د بَرَکتونو به څه وائي! راځئ چې يو مَدَنـي سپرلے واورو: د فيصل آباد د تحصيل چک جُهمره د علاقې رُستَم آباد شريف يو زلـمي اِسلامي وروړ د ديني ماحول نه مخکښې د بد صُحبت په وجه د ګناهونو ډک ژوند تيرولو، مور او پلار سره بد تميزي کول او جګړې کښې بدې کنزلې کول په علاقه کښې د هغهٔ معمول جوړ شوے وو. په لړه لړه خبره باندې به يـې وهل ټکول کول، په هُم دې وجه به يـې اکثر د محلّې خلکو سره تَعَلُّقات صحيح نهٔ وو. ژبه يـې دومره اوږده وه چې کله به د محلّې اِمام صاحب د هغهٔ د پوهه کولو کوشش کولو نو انتهائي بدتميزئ سره به يـې د هغوئي خبره کټ کړه او بد رد وئيل به يـې شروع کړل. يو ځل خو يـې په غُصَّه کښې د دې حده پورې اُووئيل چې مولانا صاحب! تا ته د نصيحت کولو نه بغير بل څه درځي! که نور نصيحت دې راته وکړو نو مړ به دې کړم!!! د کور کسانو په څه طريقه تيار کړو او د قرآنِ کريم د تعليم د پاره يـې په 3 مئ 1999ء کښې په يوه مدرسه کښې داخل کړو. څه ورځې پس دعوتِ اسلامي کښې شامِل يو اِسلامي وروړ د هغهٔ د ګناهونو نه ډک تور ژوند کښې د هدايت ځليدلے ستورے جوړ شو، هغه داسې چې هغه اِسلامي وروړ ورته د عاشِقانِ رَسُول دِيني تنظيم "دعوتِ اسلامي" هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې د شِرکت دعوت ورکړو، د هغهٔ خوش نصيبي وه چې د اِنکار کولو په ځائے يـې د هغوئي دعوت قبول کړو او اِجتِماع له لاړو، هلته مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي د سُنَّتو ډک بيان کښې د ګناهونو تباه کارئ بيانولې، انداز يـې داسې ښکلے او د تاثِير نه ډک وو چې د هغهٔ په زړهٔ يـې ډېر اثر وکړو، هغهٔ ته خپل ګناهونه ورياد شول او بدن يـې په لړزان شو او د سترګو نه يـې اوښکې رواني شوې، د اِجتِماع ختميدلو پورې يـې په زړهٔ ګُزار خوړلے وو. هغهٔ هميشه هميشه د پاره د ګناهونو نه د ځان ساتلو پخه اراده وکړه يعنې پخه توبه يـې وکړه، او د زړهٔ دُنيا يـې داسې بدله شوه چې د پرون ورځې پورې د مور او پلار ګُستاخه وو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه داسې فرمانبردار جوړ شو چې اوس خلک خپلو

ماشومانو ته د هغه د ادب د انداز مثالونه ورکوي، کومو خلکو به چې د هغه نه ډېره كوله او نفرت به يې ترينه كولو اوس ورسره د محبت سلوک کوي. د عاشِقانِ رَسُول شَفقتونو هغه په داسې مَدَني رنګ کښې رنګ کړو چې **فرض نمونځونه د جَمعې سره کولو سره سره يې د نفلونو کولو معمول هُم جوړ شو. ړيره يې پريښودله او د عمامې تاج يې هُم په سر کړو.**

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د شاتو مچۍ 17 ځله اوچيچلو

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمد بِن اسماعيل بُخاري (الـمعرُوف **اِمام بُخاري**) رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه يوه ورځ **نمونځ** کولو، د شاتو مچۍ 17 ځله اوچيچلو، **نمونځ** پوره كولو نه پس يـې اُوفرمائيل: لږ اوګورئ! دا څه څيز دے چې ما ته يـې په **نمانځهٔ** کښې تـکليف راکولو، شاګردانو چې اوكتلو نو د هغوئي شا مبارکه ورلَّس (17) ځايه پړسيدلې وه. اِمام بُخاري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه د شاتو مچۍ 17 ځله چيچلو باوجود د **نمانځهٔ** نهٔ ماتولو مُتَعَلِّق اُووئيل چې ما د يو آيت تِلاوَت کولو او زما دا خواهش وو چې زهٔ دا آيت پوره كړم. (هدی الساری مقدمه فتح الباری ص ٤٥٥)

## د مور په دُعـا يـې سترګې بِينا شولې (حكايت)

اے د **نمانځهٔ عاشقانو!** تاسو په **نمانځهٔ** کښې د خُشُوع انداز اوليدو! حضرتِ سَيِّدُنا اِمام بُخاري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه په 13 شَوَّالُ الْمُكَرَّم 194 هجري کښې د جُمُعې په ورځ پيدا شوے وو. او تقريباً د 62 کاله په عُمر کښې په 256 هجري کښې د خيالي په شپه وفات شوے وو. په ماشوم والي کښې نابِينا شوے وو. د هغوئي والدې محترمې د **الله** پاک په بارګاه کښې ډيره زياته په ژړا ژړا دُعـاګانې کولې، د هغې په بَرَکت **اللهُ رَبُّ الْعِزَّت** هغوئي ته بِينائي ورکړه. هغوئي به د بُخاري شريف د هر حديث مُبارک ليکلو نه مخکښې غُسل کولو او دوه رکعاته نفل به يـې ادا کول. (رحمت بھری حکایات ص 152)

## د حُضُورِ اقدس ﷺ په دربار کښې د اِمام بُخاري انتظار

**حضرتِ سَیِّدُنا عبدُ الواحِد طَواوِیسي** رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ بیانوي چې ما ته په خوب کښې د حُضُور نبيِّ پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دیدار نصیب شو، خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان سره په یو مقام باندې ولاړ وو. ما د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې سلام عرض کړو، هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سلام جواب عنایت کړو، بیا ترینه ما د ودریدلو د سبب تپوس وکړو نو هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائیلو چې "زهٔ د **محمد بِن اسماعیل بُخاري انتظار کووم**." یو څو ورځې پس خبر راغے چې اِمام بُخاري وفات شوے دے. تحقیق کولو باندې معلومه شوه چې په کومه شپه هغوئي وفات شوے وو په هُم هغه شپه ما ته د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دیدار شوے وو. (سیر اعلام النبلاء ج۱۰ ص ۳۱۹)

## د مزارِ بُخاري بَرَکتونه

د اِمام بُخاري رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ د جنازې د نمانځهٔ نه پس چې د هغوئي په **قَبْر** مبارک باندې خاورې واړولے شوې نو د ډیرې مودې پورې د هغه خاورې نه د مُشکو خوشبو راتلله. او د ډیرې مودې پورې به خلک د لرې لرې نه راتلل او د اِمام بُخاري د مزار شریف خاوره به یې د تَبَرُّک په طور ورله. ابُو فَتح سَمرقَندي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ بیانوي چې د اِمام بُخاري د وفات نه دوه سوه (200) کاله پس په سَمَرقَند کښې قَحط راغے. خلکو څو څو ځله "د اِستِسقاء نمونځ" وکړو، دُعـاګانې یـې وکړې خو باران نهٔ کیدلو، بیا یو نیک سړے د ښار د قاضی خوا ته ورغلو او هغهٔ ته یـې مشوره ورکړه چې تهٔ د ښار خلک ځان سره کړه او د اِمام بُخاري مزار شریف ته لاړ شئ او هلته د **اللّٰه** پاک نه د باران دُعـا وکړئ شاید چې **اللّٰه** پاک ستاسو دُعـا قبوله کړي. د ښار قاضي دا مشوره قبوله کړه او د ښار خلک یـې ځان سره کړل او د اِما بُخاري رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ مزار شریف ته حاضر شو، خلکو هلته ډیره په ژړا ژړا د **اللّٰه** پاک نه په ډیره **خُشُوع و خُضُوع** سره دُعـا اوغوښتله او اِمام بُخاري رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ ته یـې د

دُعا د قَبولِیَّت د پاره درخواست وکړو. په هُم هغه ساعت په آسمان وریځې راخورې شوې او اووه ورځې مسلسل دومره باران اُو وریدو چې د خلکو د پاره د "خرتنګ" نه "سَمَرقَند" ته رسیدل مشکل شو. (ارشادالساری ج۱ ص۶۷) د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرتِ سَیِّدُنا عبدُاللّٰه بِن زُبیر خُشُوع و خُضُوع (5 حکایات)

### ﴿۱﴾ په ډیر ښهٔ انداز نمونځ کوونکے:

حضرتِ سَیِّدُنا عَمرو بِن دِینار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما د صحابي اِبنِ صحابي حضرتِ سَیِّدُنا عبدُاللّٰه بِن زُبیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه زیات په ښهٔ انداز باندې څوک په **نمانځهٔ** کولو نهٔ دے لیدلے.

### ﴿۲﴾ مَنجنِیق به ګټان وَرَوَل خو په نمانځهٔ کښې به یې فرق نه راتلو:

تابِعي بُزُرګ حضرتِ سَیِّدُنا هِشام بِن عُروَه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بیانوي: حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ مُنکدِر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ما ته اُوفرمائیل: که تاسو عبدُاللّٰه بِن زُبَیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په **نمانځهٔ** کولو لیدلے وے نو تاسو به ضرور وئیلے چې دا د وَنې یوه څانګه ده چې هوا یې رَپوِي (یعني څنګه چې د هوا لګیدلو په وجه د وَنې څانګه ریږي، دغسې به هغوئي په نمانځهٔ کښې ریږیدلو) په میدانِ جنګ کښې به د **نمانځهٔ** په دوران کښې مَنجنِیق (چې د توپ په شان یوه آله وي او د هغې په ذریعه غټ غټ ګټان ویشتلے کیږي هغې) به ګټان راویشتل او ګټان به د هغوئي نه ګیر چاپیره غورزیدل خو د هغوئي به بالکل څه پروا هُم نه وه.

### ﴿۳﴾ لکه لرګے:

تابِعي بُزُرګ حضرتِ سَیِّدُنا مُجاهِد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: چې کله به عبدُاللّٰه بِن زُبَیر

رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا په **نمانځهٔ** ودريدلو نو داسې به معلوميدو [لكه په يو ځائے ولاړ] لرګے چې وي او دا خبره به د هغوئي په **نمانځهٔ** كښې د **خُشُوع** و **خُضُوع** په وجه وئيلے شوه.

## ﴿٤﴾ د جومات كوتره:

حضرتِ سَيِّدَتُنا اَسماء بِنتِ ابي بَكـر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا فرمائي: د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن زُبَير رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا شپې به اكثر په قِيام يعني (يعني نمونځونو) كښې تيريدلې او ورځې به يـې په روژو كښې تيريدلې او هغوئي ته به **د جومات كوتَره** وئيلے شوه.

## ﴿٥﴾ ډير زيات مُناجات كوونكے:

حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ اَبِي مُلَيكه رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه بيانوي: تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا عُمر بِن عبدُ العزيز رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه زما نه تپوس وكړو: تاسو د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن زُبَير رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا مُتَعَلِّق څه معلومات لرئ؟ ما اُووئيل: كه تاسو هغوئي ليدلے وے نو د **الله** پاک نه د هغوئي په شان مُناجات (يعني التجاكاني او دُعـاګاني) كوونكے به مو بل نه وے ليدلے. (حِليَة الاَولياء ج١ص٤١٠، ٤١١) **د الله رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د حضرتِ سَيِّدُنا مَسرُوق خُشُوع و خُضُوع

**حضرتِ** سَيِّدُنا مَسرُوق بِن عبدُ الرَّحمٰن هَـمَداني كوفي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه تابِعِي بُزُرګ تير شوے دے، د سركارِ دوعالَم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ظاهري وفات نه يـې مخكښې اسلام قبول كړے وو او خُلَفائے راشِدِين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمۡ اَجۡمَعِیۡن وغيره سره يـې ملاقات كړے وو. هغوئي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه په كوفه كښې په سن 62 هجري كښې وفات شو، هُم هلته يـې مزار شريف دے. (سير اعلام النبلاء ج ٥ ص ١٠٢، ١٠٥)

## ﴿۱﴾ كوم كار چې وي مخكښې يـې را ته اُووائې:

تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا مَسرُوق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به چې كله په **نمانځهٔ** ودريدلو نو داسې به ښكاريدله لكه چې ګوشه نشِين (يعني د ټولو نه بې تَعَلُّقه) دے او د خپل كور كسانو ته به يـې وئيل: خپل ټول حاجتونه زما د نمانځهٔ شروع كولو نه مخكښې بيان كړئ. (حِليَةُ الاَولياء ج ۲ ص ۱۱۲ مُلَخَّصاً)

## ﴿۲﴾ د نمانځهٔ په وخت كښې به يـې پرده رازوړنده كړه:

حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهِيم بِن محمد بن مُنتَشِر رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه بيانوي: حضرتِ سَيِّدُنا مَسرُوق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به د ځان او د كور د كسانو تر مينځه پرده زوړنده كړه او نمانځهٔ كښې به مشغول شولو او د كور د كسانو او دُنيا نه به يـې ځان كټ (يعني بالكل جُدا) كړلو. (حِليَةُالاَولياء ج ۲ ص ۱۱۲ مُلَخَّصاً)

## ﴿۳﴾ په حج كښې ټوله ټوله شپه سجدې:

حضرتِ سَيِّدُنا ابُو اسحاق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: حضرتِ سَيِّدُنا مَسرُوق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به د حج په دوران كښې ټولې ټولې شپې په سجدو كښې تيرولې. (حِليَةُ الاَولياء ج ۲ ص ۱۱۲ مُلَخَّصاً)

## ﴿٤﴾ په سفرِ حج كښې بالكل اُودهٔ نه شو:

حضرتِ سَيِّدُنا عَلاء بِن هارون رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: حضرتِ سَيِّدُنا مَسرُوق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه حج ته تشريف وړے وو نو بيرته راتلو پورې يـې صرف خپل تندے په ځمكه لګولو (يعني اُودهٔ نه شولو بلكې ډير ډير عبادتونه يـې كول). هغوئې رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: بنده **رب** ته د ټولو نه زيات نزدې د سجدې په حالت كښې وي. (حِليَةُالاَولياء ج۲ ص۱۱۲) **د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د حضرتِ سَیِّدُنا عامِر خُشُوع و خُضُوع (6 حِکایات)

## ﴿۱﴾ مار به راتاؤ شوے ناست وو:

تابِعي بُزُرګ حضرتِ سَیِّدُنا عامِر بِن عبدُالله بِن عبدِ قَیس رَحْمَۃُاللهِ عَلَیْه **قَائِمُ الَّیل** او **صائِمُ الدَّهر** وو (یعني شپه به یې په عبادت کښې تیروله او د ورځې به یې روژه نیوله) د هغوئي د سجدې په ځائے به شیطان د مار په شکل کښې حلقه جوړ شوے [یعني راتاؤ شوے] کښیناستو، چې د مار بوئي به یې **محسوس** کړو نو په لاس به یې لرې کړو او **سَجْدَه** به یې وکړه او (چې کله به یې سلام وګرځولو نو هغه ته به یې) اُوفرمائیل: که ستا بُوئي نۀ وے نو ما به په تا د پاسه **سَجْدَه** کړې وے. (حِلیَۃُ الاَولیاء ج ۲ ص ۱۰۳)

## ﴿۲﴾ په قمیص کښې دننه مار:

حضرتِ سَیِّدُنا عَلقَمه رَحْمَۃُاللهِ عَلَیْه فرمائي: ما لیدلے وو چې حضرتِ سَیِّدُنا عامِر رَحْمَۃُاللهِ عَلَیْه به **نمونځ** کولو او مار به یې قمیص ته داخل شو او په لستوڼي وغیره به وتلو خو هغوئي به لږ حرکت هُم نۀ کولو. هغوئي ته عرض اوکړے شو: تاسو مار ولې لرې نۀ کړو؟ ویې فرمائیل: په **الله** پاک مې دې قَسَم وي ما ته حیا راځي چې د **الله** تعالیٰ نه سِوا د بل چا نه اویریږم! قَسَم په خُدائے! ما ته خو **محسوس** شوي هُم نۀ دي چې هغه کله داخل شو او کله اُووتو! (حِلیَۃُ الاَولیاء ج ۲ ص ۱۰۳)

## ﴿۳﴾ هره ورځ یو زر رکعاتونه:

د حضرتِ سَیِّدُنا **وَهْب** رَحْمَۃُاللهِ عَلَیْه نه رِوایت دے چې حضرتِ سَیِّدُنا عامِر رَحْمَۃُاللهِ عَلَیْه بهترین عبادت ګُزارو کښې شامل وو. هغوئي په ځان باندې روزانه یو زر رکعاته کول لازِم کړي وو. د نمر ختلو نه واخله مازیګره پورې به مسلسل په **نمانځۀ** کښې مشغول اوسیدلو. چې کله به بیرته تللو نو پنډۍ به یې پړسیدلې وې. خپل نفس ته به یې

فرمائيل: اے نفسه! اے د بدئ حُكم وركوونكيه! ته صرف د عبادت د پاره پيدا كړے شوے يې. په خُدائے چې! زۀ به تا مسلسل مصروفه ساتم تر دې چې بستره به ستا نه حِصَّه وانخلي (يعنې آرام به نۀ كووم).“

## ﴿٤﴾ د ځنګلي ځناورو د اوسيدلو ځائے:

**تابِعي** بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا عامِر بِن عبدُالله بِن عَبدِ قَيس رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه يوه ورځ **وادِئ سِباع** (يعنې د ځنګلي ځناورو د اوسيدلو ځائے) طرف ته تشريف يوړلو، هلته به حضرتِ سَيِّدُنا حُـمَـمَه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نومې يو **حَبَشي عابِد** (يعنې عبادت ګُزار) اوسيدلو. هغوئي په يو ګوَټ كښې او هغه حَبَشي عابِد په بل ګوَټ كښې په عبادت كښې مشغول وو. څلويښت ورځو او څلويښت شپو پورې د يو بل خوا ته رانغلل. چې كله به د فرض **نمانځۀ** وخت شولو نو **نمونځ** به يـې ادا كړو بيا به دوباره په نفلونو كښې مشغول شول. څلويښت ورځې پس حضرتِ سَيِّدُنا عامِر عَبدِ قَيس رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د حضرتِ سَيِّدُنا حُـمَـمَه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه خوا ته تشريف يوړلو او تپوس يـې ترينه وكړو: **الله** پاک دې په تاسو رَحم وكړي تاسو څوک يـې؟ هغوئي اُووئيل: پريږدئ! ما خپل كار ته پريږدئ. حضرتِ سَيِّدُنا عامِر رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه اُوفرمائيل: زۀ تاسو ته قَسَم دركووم، اُووائې تاسو څوک يـې؟ هغوئي جواب وركړو: زۀ حُـمَـمَه يم. [حضرتِ سَيِّدُنا عامِر] اُوفرمائيل: كه تاسو هُم هغه حُـمَـمَه يـې د چا چې ما ته تذكره شوې وه نو بيا تاسو په دُنيا كښې د ټولو نه زيات عبادت ګُزار يـې. تاسو ما ته د خپل بهترين خصلت په باره كښې اُووائې. حضرتِ سَيِّدُنا حُـمَـمَه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه اُووئيل: بيشكه زۀ د عمل په مُعامَله كښې په كوتاهئ (يعنې كمې) كښې اخته يم، كه د فرض نمونځونو مُقَرَّره وختونه زما د قِيام و **سُجُود** د قطع كيدلو سبب نۀ جوړيدلے نو ما به دا خوښولے چې ټول عُمر مې په رُكوع كښې تير شوے وے، او [يا] زما مخ په **سَجْده** كښې پروت وے تر دې چې زۀ وفات شوے وے خو فرائض ما داسې كولو ته نۀ پريږدي.

## ځنګله ځناور ورته د شا نه په اُوګه پنجې بښخې کړې!:

بيا ترينه حَبَشي تپوس وکړو: الله پاک دې په تاسو رَحم اُوفرمائي! تاسو څوک يـې؟ هغوئي اُوفرمائيل: زهٔ عامِر بِن قَيس يم. [حَبَشي] اووئيل: که تاسو هُم هغه عامِر بِن قَيس يـې د چا چې ما تذکره اوريدلې وه، بيا خو تاسو د ټولو خلکو نه زيات عبادت ګُزار يـې، لِـهذا ما ته د خپل بهترين خصلت په باره کښې اُووائې. حضرتِ سَيِّدُنا عامِر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اُوفرمائيل: بيشکه زما نه هُم په عمل کښې کوتاهي (يعني کمي) کيږي خو د الله رَبُّ الْعِزَّت د هَيبَت و جَلال عَظَمت مې په زړهٔ کښې دومره [ډير] دے چې زهٔ د هغهٔ نه علاوه د يو څيز نه هُم نهٔ ويريږم. يو ځل ځنګلي ځناور زما نه چاپيره شول، يو ځناور د شا نه په ما حمله وکړه او زما په اُوګه يـې پنجې بښخې کړې او ما د دې آيتِ مُقَدَّسه تِلاوت کولو:

ذٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوْعٌ ۙ لَّهُ النَّاسُ وَ ذٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُوْدٌ ﴿۱۰۳﴾ (پ۱۲ هُود: ۱۰۳) [مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُ الإيمان: [دا] هغه ورځ ده چې په هغې کښې به ټول خلک راجمع کيږي او هغه ورځ د حاضرئ ده.

ځناور چې وليدل چې ما د هغهٔ هيڅ پروا اونکړه نو زهٔ يـې پريښودم او لاړو.

## سَيِّدُنا حُـمَـمَه به هره ورځ 800 نفلونه کول:

حضرتِ سَيِّدُنا حُـمَـمَه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اُووئيل: اے عامِر! ستا د پاره کوم يو څيز د هلاکت باعِث دے؟ ويـې فرمائيل: "ما ته د الله پاک نه حيا راځي چې د هغه نه علاوه د بل څيز نه ويره وکړم." حضرتِ سَيِّدُنا حُـمَـمَه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اُووئيل: که الله پاک زهٔ د خيټې (يعني خوراک څښاک) په آزمائش کښې نهٔ اچولے نو زما رَبُّ الْعِزَّت به زهٔ هر وخت په رُکوع او سُجُود کښې مشغول ليدلے خو چې زهٔ خوراک وکړم نو د قضائے حاجت ضرورت هُم پيښيږي (او دغسې وخت خرچ کيږي). د حضرتِ سَيِّدُنا حُـمَـمَه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په باره کښې منقول دي چې روزانه به يـې 800 رکعاته نفلونه کول او بيا به يـې (عاجزي کوله او داسې

به يـې) فرمائيل: زۀ د عبادت په مُعامَله كښې كوتاهي (يعنې كمي) كولو والا يم. هغوئي به د عاجزئ په طور خپل ځان ډير زيات ملامته كولو. (حِلیَۃ الاَولیاء ج ۲ ص ۱۰۴ حديث ۱۵۸۱)

## ﴿۵﴾ د اوبو نه بړاس ختلو (كرامت):

حضرتِ سَیِّدُنا قَتاده رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې يو ځل حضرتِ سَیِّدُنا عامِر بِن قَيس رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په بارګاهِ اِلٰهی كښې عرض وكړو: ”يا **الله** پاكه! په جمي [يعني د يخنئ په موسم] كښې زما د پاره طَهارَت (يعنې اودس وغيره) كول آسان كړې.“ (د هغې نه پس به) چې كله د طهارت د پاره اوبه راوړے شوې نو (هغه به قدرتي طور تودې وې او) د هغې نه به بړاس ختلو. (الزهد لابن مبارک ص ۲۹۵ حديث ۸۶۱، الله والوں کی باتیں ج ۲ ص ۱۴۹)

## ﴿۶﴾ وور بل اړخ ته تاو شو (كرامت):

حضرتِ سَیِّدُنا ابُو سُلیمان داراني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې يو ځل حضرتِ سَیِّدُنا عامِر بن قَيس رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته عرض اوكړے شو: ”ستاسو د كور خوا و شا وور لګيدلے دے (لِهذا د خپل كور خبر واخلئ). هغوئي اُوفرمائيل: ”وور پريږدئ هغه د **الله** پاک له طرفه مامُور (يعني مُقَرَّر) دے.“ بيا په **نمانځۀ** كښې مشغول شو. آخر دا چې كله وور اخوا ديخوا ځايونه اوسيزل او د هغوئي كور ته راورسيدو نو بل اړخ ته تاو شو. (ابنِ عَساکر ج ۲۶ ص ۳۱، الله والوں کی باتیں ج ۲ ص ۱۴۹)

## ما ګنهګار هُم نيک كړې يا الله!:

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! سُبْحٰنَ الله! د **الله** پاک ويره داسې وې! عمل داسې وې! عاجزي داسې وې! چې روزانه زر زر **ركعاته** كوې، هر وخت په عبادت كښې مشغول اوسې او چې كوم وخت په قدر د ضرورت خوراک وغيره كښې تير شي نو په هغې هُم افسوس كوې چې كاش! دا وخت مې هُم په نفلونو كښې تير شوے وے. د داسې عظيم عبادت كولو باوجود عاجزي كول او ځان كوتاهئ (يعنې كمي) كولو والا ګڼل بس د هغه

مُقَدَّسو خلکو حِصَّه وه. آه! يو زمونږه حالت دے چې اول خو عمل نۀ کوو، او که چرته دوه ځلور رکعاته نفل وکړو نو ځان ډير پرهيزګار او عبادت ګُزار ګڼو! او که مونږه کله د چا په مخکښې عاجزي کوو نو هغه هُم داسې وي چې پخپله يې زمونږه خپل زړۀ هُم تصديق نۀ کوي. پاک پروردګار دې زمونږه په حال رحم اُوفرمائي او د هُغه عظيمو بُزُرګانو د عبادتونو او د رښتيني عاجزئ په خاطر دې مونږ ته هُم د عبادت د کثرت نعمَت او د حقيقي عاجزئ دولت راعطا کړي او د هُغه ښو بزرګانو په خاطر دې مونږه هُم نيک کړي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## تُحفې يې تقدير بدل کړو

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! خوفِ خُدا او عِشقِ مُصطَفىٰ حاصلولو د پاره او په ګناهونو کښې اخته کوونکو دوستانو نه ځان خلاصولو او د مور او پلار د فرمانبردارئ جذبه زياتولو د پاره د عاشِقانِ رَسُول ديني تنظيم، "دعوتِ اسلامي" ديني ماحول کښې شامل اوسئ، راځئ چې يو "مَدَنـي سپرلے" واورو: ګوجرانواله (پنجاب) ته نزدې د يو ښار **راهوالي** يو اِسلامي ورور د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته راتلو نه مخکښې په قِسماقِسم ګناهونو کښې اخته وو، جينکو سره د دوستانے کولو شوقين وو او ډير ځله به يې د نيمې شپې پورې د هغوئي سره خبرې کولې او ګنده شيطاني خوندونه به يې اخستل، د فلمونو ډرامو کتلو او سندرو اوريدلو خو دومره شوقي وو چې د سندرو تقريباً 700 کيسټې ورسره وې، د دې باوجود به چې کله نوے کيسټ راتلو والا وو نو دا سوچ به يې وکړو چې پته نشته مارکيټ ته به دا کله راځي! د هول سَيل والؤ نه به يې د مخکښې نه واخستلو. ټوله ورځ به يې په ميدان کښې کرکټ کولو او ټوله شپه به يې بې فائده په سړکونو، هوټلو او لارو کوڅو او چوکونو کښې تيرولې، د نيمې شپې پورې به د کور نه بهر وو تر دې پورې چې کله به هر طرف ته تيارۀ او خاموشي خوره شوه او د دې باوجود به هغه کور ته نۀ وو راغلے نو اکثر به يې والد صاحب د هغۀ په تلاش کښې اُووتلو حالانکې والِد صاحِب

يـې د جومات اِمام وو او د سحر جَمعې ته د راپاڅيدلو په وجه به د شپې زر اُودهٔ کيدلو خو هغهٔ ته د والد صاحب په آرام کښې د خلل راتللو هيڅ پرواه نهٔ وه او نهٔ يـې دا احساس لرلو چې زما د غلطو کارونو په وجه به زما د پلار عِزّت او وقار خراب شي. والد صاحب به څو څو ځله د ځان سره کښينولو او پوهه کولو به يـې خو هغهٔ به په يو غوږ واوريدله او په بل به يـې اُووِيستله. په هغهٔ باندې د **الله** پاک دا احسان وشو چې مُلتان کښې کيدونکې د عاشِقانِ رَسُول د دِيني تنظيم، ''دعوتِ اسلامي'' د سُنَّتو ډکې اِجتِماع ته د تللو سعادت ورنصيب شو، هلته يـې په اختتامي دُعـا کښې دا وعده وکړه چې آئنده به د **الله** پاک د نافرمانئ والا کارونه نهٔ کووم او نيک کارونه به کووم. د **الله** پاک په کرم هغهٔ ته **د نيکو کولو توفيق نصيب شو او نمونځونه ادا کول يـې شروع کړل، د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول په بَرَکت ورته اِستِقامت هُم نصيب شو او مسلسل څلورو مياشتو پورې يـې يو نمونځ هُم قضا نهٔ شو** خو بدقسمتئ سره يـې يو ځل بيا د بدو دوستانو په صُحبت کښې ناسته شروع کړه. ''**صُحبت اثر لري**'' لِـهذا هغه يو ځل بيا په زړو ګناهونو کښې اخته شو او په ورو ورو د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول نه لرې شو. د ديني ماحول نه د محرومه کيدلو نه يوه اوږده موده پس يوه ورځ اِتِّفاقاً د هغهٔ د يو مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي سره وړومبے ملاقات وشو، د مخکښې نه د څه پيژندګلو نهٔ کيدلو باوجود چې ورسره هغه اِسلامي ورور په ډير زيات مَحبَّت مُصافَحَه وکړه [يعنې لاس مِلاؤ کړو] نو اول هغه په غلط فهمئ کښې پريوتلو چې شايد دا څوک ضرورتمند دے ځکه راسره په ډيره خوش اخلاقئ ملاويږي، دے به ضرور زما نه څه د پيسو وغيره سوال کوي! خو د هغې برخلاف چې کله هغه اِسلامي ورور هغهٔ ته په مُسکا مُسکا د **مَكتَبَةُ الْمَدِينه** نه جاري شوے د بيان کيسټ ''*بادشاهوں کی هڈياں*'' ''يعني **د بادشاهانو هډوکي**'' ورکړو او د شروع نه تر آخرې پورې د اوريدلو تاکيد يـې ورته وکړو او د څه څيز سوال يـې هُم ترينه اونکړو بلکې د هغهٔ نه يـې د کيسټ هَدِيَّه هُم اُونه غوښتله نو هغهٔ ته د خپلې غلط فهمئ احساس وشو، چې کور ته راغلو او هغه بيان يـې واوريدو نو د **الله** د ويرې نه په

لړزان شو او په سترګو کښې يـې اوښکې راغلې او د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې تيرې شوې خلور مياشتې ورپادې شوې چنانچه هغه يو ځل بيا په نيکو باندې اِستِقامت حاصلولو د پاره د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامل شو او هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې يـې پابندۍ سره شرکت کول خپل معمول جوړ کړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه هغۀ ته کابينه سطح باندې د تعوِيذاتِ عَطّارِيه د ذِمَّه دار په حيثيت د سُنَّتو د خدمت سعادت حاصل شو، **الله** پاک دې هغۀ ته او مونږ ټولو ته د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې اِستِقامت رانصيب کړي. آمِين

صَلُّوْاعَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خُشُوع و خُضُوع

# ﴿13 حِکايات﴾

## ﴿۱﴾ د اوښکو باران:

د دعوتِ اسلامي د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه د 36 صفحو رِساله ''اشکوں کی برسات [د اوښکو باران]'' صفحه 1 تا 2 کښې دي: **يو مصروف** بازار کښې د ريښمو د کپړے په يو دُکان کښې د هغه دُکان خادِم په دُعا کښې مشغول وو او **الله** تعالیٰ نه يـې د جَنَّت سُوال کولو. دا يـې چې واوريدل نو د دُکان د مالِک زړۀ نرمے شو او د سترګو نه يـې اوښکې جاري شوې تر دې چې ژامې او اُوګې يـې په رپيدلو شوې. د دُکان مالِک فوراً د دُکان بندلو حُکم وکړو، د سر نه يـې کپړه تاؤ کړه او زر پاخيدو او ويـې وئيل: افسوس! مونږ د **الله** تعالیٰ په بارګاه کښې خومره جَرّي (يعني بې ويرې) شوي يو چې په مونږ کښې يو کس صرف د خپل زړۀ په خوښه **الله** تعالیٰ نه **جَنَّت** غواړي. (يعني دا خو ډير زيات هِمَّت والا سوال دے) زمونږ په شان (ګنهګارانو) ته خو د **الله** تعالیٰ نه (د خپلو ګناهونو) مُعافي غوښتل پکار دي.

دا د دُكان مالِک ډير زيات خَوفِ خُدا والا وو، د شپې به چې كله په نمانځهٔ ولاړ وو نو ستركو نه به يــې **د اوښكو باران** داسې وريدلو چې پزكې باندې به د اوښكو د غورزيدلو د ټپ ټپ آواز صفا اوريدلے شو. او دومره به يـې ژړل چې د كاونډيانو به پرې رحم راغـے. (مُلَخَّص از اَلخیراتُ الحِسان ص۵۰، ۵۴)

## په جَنَّت غوښتلو كښې شرعاً حرج نشته:

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! تاسو خبر يـې چې دا څوک وو؟ دا د دُكان مالِک د كروړاؤ حَنَفيانو عظيم مشر، سَيِّدُنا **اِمام اعظم اَبُو حَنِيفه نُعمان بِن ثابِت** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وو. د هغوئي عاجزي مرحبا! د هغوئي خوفِ خُدا صد مرحبا! د جَنَّت سوال كولو باندې د هغوئي دا كيفيت د خوفِ خُدا په وجه وو كنې جَنَّت غوښتلو كښې شرعاً حرج [يعني څه باک] نشته. چنانچه زمونږ گنهګارانو شفاعت كوونكـے خوږ مكـى مَدَنـى آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: څوک چې د **الله** نه درې ځله جَنَّت اوغواړي نو جَنَّت وائي: اِلٰهی! دے جَنَّت ته داخل كړې او څوک چې درې ځله د جَهنَّم نه پناه اوغواړي نو جَهنَّم وائي: اِلٰهی! دے د جَهنَّم نه **محفوظه** كړې. (تِرمِذی ج ۴ ص ۲۵۷ حديث ۲۵۸۱)

**شَرحِ حديث:** يعني څوک چې روزانه سحر او ماښام يا په ورځ كښې يو وخت، درې ځله دا اُووائي: "اَللّٰهُمَّ اَدْخِلْنِى الْجَنَّةَ" [يعني، يا **الله** ما جَنَّت ته داخل كړې.] او درې ځله دا اُووائي: "اَللّٰهُمَّ اَجِرْنِىْ مِنَ النَّارِ" [يعني، يا **الله**! ما د دوزخ نه وساتې] نو يقيناً به جَنَّت د هغه د پاره د داخلې دُعـا كوي او يقيناً به دوزخ د ځان نه د پناه وركولو د **الله** په باركاه كښې عرض كوي. (ملخص ازمِراٰةُ المناجیح ج ۴ ص ۶۷)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۲﴾ د نمانځهٔ نه مخكښې په ژړا دُعـا

حضرتِ سَيِّدُنا فضل بِن دُكين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما په تابِعينو كښې هيڅ څوک هُم د حضرتِ

سَيِّدُنا اِمامِ اعظم اَبُوحنيفه رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په شان بهترين انداز کښې په **نمانځهٔ** کولو نهٔ دے ليدلے. هغوئي به د **نمانځهٔ** شروع کولو نه **مخکښې** ډيره په ژړا او زارئ دُعا کوله تر دې چې ليدونکي به وئيل چې واقعي خوفِ خُدا لرونکے هُم دا دے. کثرت سره د عبادت کولو په وجه به هغوئي د يو زوړ مَشک په شان مراوے معلوميدلو. (الخيرات الحسان ص ۵۱)

## ﴿۳﴾ يو آيت بيا بيا لوستلو باندې ېې شپه تيره کړه

اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه يوه شپه په **نمانځهٔ** کښې د سيپاره 27 سُوۡرَةُالۡقَمَر آيت نمبر 46:

بَلِ السَّاعَةُ مَوۡعِدُهُمۡ وَالسَّاعَةُ اَدۡهٰى وَاَمَرُّ ﴿۴۶﴾

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: بلکې د هغوئي وعده په قيامت ده او قيامت نهايت سخت او ډير ترېخ.

ولوستلو او ټوله شپه يې بيا بيا وئيلو او بله شپه يې چې په **نمانځهٔ** کښې قِراءَت کولو او د سيپاره 27، سُوۡرَةُالطُّور آيت نمبر 27:

فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيۡنَا وَوَقٰنَا عَذَابَ السَّمُوۡمِ ﴿۲۷﴾

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: نو **الله** په مونږه احسان وکړو او مونږه يې د بَر [يعنې تودې هَوا] د عذاب نه وساتلو.

[چې دې آيت] ته راورسيدو نو بيا بيا يې هُم دا آيتِ مبارکه لوستلو تر دې چې مُؤَذِّن د سحر اذان وکړو. (اَلۡخَيۡراتُ الۡحسان ص ۵۱)

## ﴿٤﴾ په نمانځهٔ کښې سُوۡرَةُالزِّلزال اوريدلو باندې د اِمامِ اعظم حال

حضرتِ سَيِّدُنا يَزِيد بِن لَيث رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه بيان کوي: يو ځل (د ماسخوتن فرض نمانځهٔ کښې) اِمام (د قيامت په ويره باندې مُشتمل) سُوۡرَةُالزِّلزال ولوستو او حضرتِ سَيِّدُنا **اِمامِ اعظم** ابُو حَنِيفه رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه هُم په جَمعه کښې شامِل وو. **نمانځهٔ** نه فارغيدلو نه پس ما اوکتل چې حضرتِ سَيِّدُنا اِمامِ

اعظم ابُو حَنِيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فِکرمند ناست دے او اوږدۀ اوږدۀ اسويلي کوي. زۀ د هغه ځائے نه پاځيدلم چې د هغوئي تَوجُّه خرابه نۀ شي او ډيوه چې په هغې کښې لږ شان تيل وو هغه مې په هُم هغه ځائے پريښودله. بيا چې زۀ د سحر ختلو نه پس ورغلم نو ډِيوه (هُم هغسې) بَله وه او اِمام صاحِب ولاړ وو او خپله بِيره مبارکه يې نيولې وه او عرض يـې کولو: اے هُغه ذاته! چې د يوې ذرّې هومره د خير (يعني نيکئ) جزائے خير او د يوې ذرّې هومره شَر (يعني بدئ) سزا به ورکوې، نُعمان (يعني ابُو حَنِيفه) د وور نه داسې وساتې چې وور ته نزدې هُم نۀ شي او دے (يعني ابُو حَنِيفه) په خپل فراخه رَحمت کښې داخل کړې. چې زۀ د هغوئي خوا ته ورغلم نو تپوس يـې را نه وکړو چې په ډِيوه وړلو پسې راغلے يې؟ نو ما عرض وکړو چې ما خو د سحر اذان هُم وکړو. نو ويـې فرمائيل: څه چې تا وليدل دا چا ته مۀ ښکاره کوه. بيا يـې د سحر دوه سُنَّت وکړل او کښيناستلو، تر دې چې جَمعه ودريدله او هغوئي د شپې [يعني د ماسخوتن] په اوداسه زمونږ سره د سحر نمونځ وکړو. (اَلْخَيْراتُ الْحسان ص ۵۳)

مجھے نارِ دوزخ سے ڈر لگ رہا ہے　　ہو مجھ ناتواں پر کرم یاالٰہی

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۱۱۰)

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** د حضرتِ سَيِّدُنا اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د د **الله** پاک نه د ويرې به څه وائي! چې د قيامت خوفناک کيفيت باندې مُشتمل سُوْرَةُالزِّلزال يـې واوريدو نو داسې ويره پرې راغله چې ټوله شپه يـې د آخرت په فِکر کښې تيره کړه! افسوس! د داسې قرآني سورتونو لوستلو او اوريدلو په مونږه هډو هيڅ اثر نۀ کيږي! سُوْرَةُالزِّلزال په ديرشمه سيپاره کښې دے، په دې کښې اَتَه آيتونه دي. "صِراطُ الْجِنان فِی تَفْسِیْرِ الْقُرآن" جِلد 10 صفحه 789 تا 794 نه دا مُبارک سُورت، ترجمهٔ کنزُالاِيمان او د دې مختصر تفسير وړاندې کووم، دا ولولئ او د آخرت د بهترئ د پاره پرې غور او فِکر وکړئ.

# سُوْرَةُ الزِّلزال مع ترجمه و تفسِير

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

اِذَا زُلۡزِلَتِ الۡاَرۡضُ زِلۡزَالَهَا ۙ﴿۱﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: د **الله** په نوم شروع چې ډیر مهربانه او رحم والا دے.

چې کله ځمکه اولړزولے شي ښنګه چې د هغې لړزیدل مُقَرَّر دي.

## ځمکه به په زلزله اولړزولے شي

(یعني) اِرشاد یـې فرمائیلے دے چې کله ځمکه په زلزله اولړزولے شي او په ځمکه به یوه ونه، یو عِمارت او یو غر باقي پاتې نهٔ شي، تر دې چې د زلزلې د سختئ په وجه به هر څیز مات [یعني ذرّې ذرّې] شي. د ځمکې دا لړزیدل به هُغه وخت وي چې کله قیامت نزدې وي یا به د قیامت په ورځ ځمکه لړزیږي. (خازن ج٤ ص٤٤٠)

وَ اَخۡرَجَتِ الۡاَرۡضُ اَثۡقَالَهَا ۙ﴿۲﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او ځمکه خپل بوج بهر ته غوزار کړي.

## انسانانو او پیریانو ته ثقلین ولې وائي؟

یعني چې کله به ځمکه په خپل ځان کښې دننه موجودې خزانې او مړي ټول بهر راغوزار کړي. یاد ساتئ! انسانان او پیریان بوج والا وجودونه دي، تر څو پورې چې په ځمکه د پاسه موجود دي نو دوئي په ځمکه بوج دي او چې کله په ځمکه کښې دننه وي نو د ځمکې د پاره بوج دي، په هُم دې وجه انسانانو او پیریانو ته ثَقَلَین وائي ځکه چې که دوئي مړهٔ وي او که ژوندي وي ځمکه د دوئي بوج اوچتوي. (مدارک ج٢ ص٨٢٦، خازن ج ص٤٠٠، ٤٠١ ملتقطاً)

## د قیامت په ورځ د مال نه بیزاري

د حضرت (سَیِّدُنا) اَبُو هُرَیره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه رِوایت دے چې، رَسُولُ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد

فرمائيلے دے: ”ځمکه به د سرو زرو او سپينو زرو د ستنو [يعني پيلرو] په شان د خپل ځيګر ټُکړې راوګرځوي [يعني بهر را اوباسي]، قاتِل يـې چې اُووِيني نو وائي به چې د هُم دې (مال) په وجه خو ما قتل کړے وو، خپلوي ماتوونکے به وائي، په هُم دې وجه خو ما خپلوي ماته کړې وه، غل يـې چې اُووِيني نو وائي به چې د هُم دې مال په وجه زما لاس کټ کړے شوے وو، بيا به ټول هغه مال پريږدي او څوک به د هغې نه هيڅ هُم وانخلي.“ (مُسلِم ص۳۹۲ حديث۲۳۴۱)

وَ قَالَ الْاِنْسَانُ مَا لَهَا ۝۳ [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: او انسان به وائي: په دې څه وشو؟

## په ځمکه څه وشو؟

يعني د هغه زلزلې په وخت کښې چې کوم خلک موجود وي هغوئي به حيرانتيا سره اُووائي: په ځمکه څه وشو چې داسې مُضطَرِبه (يعني بےقراره) شوه او **دومره سخته زلزله** راغله چې څه په دې کښې دننه وو هغه ټول يـې بهر راغوزار کړل. (رُوحُ البَيان، ج۱۰ص۴۹۲)

يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ اَخْبَارَهَا ۝۴ [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: په هغه ورځ به هغه خپل خبرونه بيانوي.

## ځمکه به د نيکو او بدو خلکو خبرونه ورکوي

د دې آيت او د دې نه پس والا آيت خُلاصه دا ده چې کله دا اُمور واقع کيږي نو په هغه ورځ به ځمکه د **اللہ** پاک په حُکم مخلوق ته خپل خبرونه ښائي او کومه نيکئ بدئ چې په دې دپاسه شوې وي هغه ټولې به بيانوي او د دې نه مقصود به دا وي چې ځمکه د نافرمانو نه ګِيله وکړي او د فرمانبردارو شُکريه ادا کړي، ځکه به هغه دا وائي چې فلانکي کس په ما باندې **نمونځ** کړے وو، فلانکي زکوٰة ورکړے وو، فلانکي **روژې** نيولې وې او فلانکي **حج** کړے وو او فلانکي کفر کړے وو، فلانکي زِنا کړې وه، فلانکي غلا کړې وه،

فلانکي ظُلم کړے وو تر دې چې (دا واوري نو) کافِر به دا تَمَنّا کوي چې هغه (يعني کافر پخپله) جَهنَّم ته غوزار کړے شي. (ملتقطاً از خازن ج ٤ ص ٤٠١، تفسيرِ کبير ج ١١ ص ٢٥٥)

يَوْمَىٕذٍ يَّصْدُرُ النَّاسُ اَشْتَاتًا ۙ۬ [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: په هغه ورځ به خلک خپل **رب** طرف ته ګرځي په خو لارو [تقسيم شوي].

## د چا مخ به سپين وي او د چا تور

د دې آيت معنىٰ دا ده چې د قِيامت په ورځ به خلک د حساب په ځائے پيش کيدلو نه پس د هغه ځائے نه ډيرې لارې شي [يعني په ډيرو لارو به روان شي او د **الله** په طرف به] ګرځي، ځوک به په ښي طرف د جَنَّت په طرف روان وي او ځوک به په ګڅ طرف دوزخ طرف ته روان وي چې هغوئي ته د هغوئي د اعمالو جزا [يعني بدله] اوښودلے شي. بله معنىٰ دا ده چې په کومه ورځ هغه اُمُور واقع کيږي د کومو چې ذِکر اوکړے شو نو په هغه ورځ به خلک د خپلو قبرونو نه د حساب ځائے ته په مختلفو حالتونو بيرته ورګرځي، د چا مخ به سپين وي او د چا مخ به تور وي، ځوک به [په سورلئ] سور وي او ځوک به په زنځيرونو او بيړو کښي تړلے پيدل وي، ځوک به د امن په حالت کښې وي او ځوک به په ويره کښې وي چې هغوئي ته د هغوئي اعمال اوښودلے شي. (خازن ج ٤ ص ٤٠١، رُوحُ البَيان، ج ١٠ ص ٤٩٣ ملتقطاً)

وَ مَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ۝۸ [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او ځوک چې د يوې ذرّې هومره بدي وکړي هغه به اووينې.

## نيک او بد اعمال به په ورځ د قيامت ورښودلے کيږي

حضرتِ عبدُالله اِبنِ عَبّاس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا فرمائي چې هر مُؤمِن او کافِر ته به د قيامت په ورځ د هغهٔ نيک او بد اعمال ښودلے کيږي، مومن ته به د هغهٔ نيکئ او بدئ اوښائي او **الله** پاک به يـې بدئ معاف کړي او په نيکو به ثواب ورکوي او د کافِر نيکئ به رد کړے شي ځکه چې هغه د کفر په وجه ضائع شوې وي او د بدو په بدله کښې به عذاب ورکولے شي.

## کافر ته به په دُنیا کښې د هغه د نیکۍ بدله ورکولے کیږي

حضرت محمد بن كَعْب قُرَظِي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي چې کافِر به د یوې ذرّې هومره نیکي کړې وي نو هغه به د هغې جزا (یعني بدله) په هُم دې دُنیا کښې اُووِیني تر دې پورې چې کله د دُنیا نه اُوځي نو هغه سره به یوه نیکي هُم نۀ وي او په مومنانو کښې به څوک هغه وي چې هغه ته به د خپلو بدو سزا په دُنیا کښې ورکړے شي نو آخرت کښې به هغۀ سره یوه بدي هُم نۀ وي. بعضې مُفَسِّرِینو فرمائیلي دي چې د دې نه مخکښینے آیت (نمبر 7) د مومنانو په باره کښې دے او دا آیت (نمبر 8) د کفارو په باره کښې دے. (ملتقطاً از خازن ج ٤ ص ٤٠١.، مدارک ج ٢ ص ٨٢٦)

## نیکي لږه هُم په کار راځي او وړه ګناه هُم وَبال ده

د دې آیت نه دا معلومه شوه چې نیکي لږه هُم په کار راځي او ګناه که وړه وي نو هُم وَبال (یعني مصیبت) دے. د حضرتِ (سَیِّدُنا) ابو هُرَیره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوایت دے: رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: "بنده کله د الله پاک د خوشنودۍ [یعني رضا] خبره کوي او د هغې طرف ته تَوجُّه هُم نۀ کوي (یعني بعضې خبره د انسان په نزد نهایت معمولي وي) الله پاک د هغې (خبرې) په وجه د هغۀ ډیرې درجې اوچتوي او کله د الله پاک د ناراضۍ خبره کوي او د هغې خیال هُم نۀ کوي [یعني هغه معمولي ګڼي] د هغې (خبرې) په وجه [به] جَهنَّم ته غوزاریږي.

(بُخاری ج ٤ ص ٢٤١ حدیث ٦٤٧٨) (تفسیر صِراطُ الْجِنان، ج ١٠، ص ٧٨٩ تا ٧٩٤)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٥﴾ د چت نه مار را پریوتو! (حکایت)

اِمامِ اعظم رَحْمَةُاللهِعَلَيْه یو ځل په جومات کښې نمونځ کولو، یو مار د چت نه راپریوتو، خلک اخوا دیخوا وتښتیدل خو هغوئي هُم هغسې په نمانځۀ کښې مشغول وو او خبر هُم نۀ شو.

(تفسیرِ کبیر ج ١ ص ٢١٣)

## ﴿٦﴾ د حَنَفيانو د پاره د بخښنې زيرے

سَيِّدُنا اِمامِ اعظم رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَيْه په خپل ژوند کښې پينځۀ پنځوس (55) حجونه کړي وو، چې کله يې د آخري حج کولو سعادت حاصل کړو نو خُدّامِ کعبۀ مُشَرَّفه [يعنې د خانه کعبې خادِمانو] د هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَيْه په خواهش بَابُ الْكَعْبَه (يعنې د کعبې دروازه) برسيره کړه، نو هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَيْه په ډيره زياته عاجزئ دننه ور داخل شولو او د بَيتُ الله د دوه ستنو تر مينځه ودريدلو او په دوه رکعاته کښې يې پوره قرآنِ پاک ختم کړو، بيا يې د ډير ساعته پورې په ژړا ژړا مُناجات (او دُعاګانې) کولې. هغوئي په دُعـا کښې مشغول وو چې د بيتُ الله د يو ګُوټ نه آواز راغـے: "تا په ښه طريقه زمونږه معرفت حاصل کړو او خُلُوص سره دې خدمت وکړو، مونږه تا اوبخښلې او تر قيامته پورې چې څوک ستا په مذهب وي (يعنې ستا تقلِيد کوي، يعنې حَنَفِي وي) هغه مې هُم اوبخښلو." (دُرِّمُختار ج١ ص١٢٦-١٢٧) اَلْحَمْدُ لِلّٰه مونږه څومره خوش نصيبه يُو چې مونږه د حضرتِ سَيِّدُنا اِمامِ اعظم اَبُو حنيفه رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَيْه لـَمَن مبارکه نيولې ده.

مروں! شہا! زیرِ سبز گنبد، ہو مدفن آقا بقیع غرقد
کرم برائے رسولِ اکرم، امامِ اعظم ابو حنیفہ

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٥٧٤)

## ﴿٧﴾ د روضۀ رَسُول نه د سلام جواب

زمونږه اِمامِ اعظم رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَيْه باندې د شَهنشاهِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيحده لُطف و کرم وو. په مدينۀ مُنَوَّره کښې چې کله هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَيْه د سرکارِ نامدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په روضۀ مُبارکه باندې داسې سلام عرض کړو: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا سَيِّدَ الْمُرْسَلِيْن (يعنې اے د رَسُولانو سرداره! په تاسو دې سلام وي) نو د روضۀ مبارکه نه د جواب آواز راغلو: وَعَلَيْكَ السَّلَامُ يَا اِمَامَ الْمُسْلِمِيْن. (او اے د مسلمانانو اِمامه په تا دې سلام وي!). (تذكرةُ الاَوْلِياء ج..ص١٨٦)

تمہارے دربار کا گدا ہوں، میں سائل عشقِ مصطفٰے ہوں
کرم پئے شاہ غوثِ اعظم، امام اعظم ابو حنیفہ

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٥٧٤)

## ﴿٨﴾ د اِمامِ اعظم د ورځې او شپې معمولات

حضرتِ مِسعَرِ بِن كدام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: "زۀ د اِمامِ اعظم ابو حَنِيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه جومات ته حاضِر شوم، ما وليدل چې د سحر نمونځ ادا كولو نه پس اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه توله ورځ خلكو ته عِلمِ دِين وئيلو، په دې دوران كښې صرف د نمونځونو وقفې وشوې. پس د ماسخوتنه يې خپلې آستانې (يعنې كور مبارک) ته تشريف يوړلو. لږ ساعت پس په ساده لِباس كښې، ښۀ خوشبوداره عِطر لګولې، ښكلے نُوراني مخ نيولے بيا راغلو او د جومات يو كُوټ كښې په نفلو كښې مشغول شو تر دې چې صبا صادِق شو، بيا يې كور مبارک ته تشريف يوړلو او جامې يې بدلې كړې او بيا يې تشريف راوړو او د سحر نمونځ جَمعې سره ادا كولو نه پس يې بيا د پرون په شان تر ماسخوتنه پورې د درس و تدرِيس سلسله جاري وساتله. ما سوچ وكړو چې نن خو به دوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير زيات ستړے شوے وي، نن شپه خو به ضرور آرام كوي، خو دويمه شپه يې هُم هغه معمول وو. بيا دريمه ورځ او شپه هُم دغسې تيره شوه. زۀ ډير زيات مُتأَثِّره شوم او فيصله مې وكړه چې تول عُمر به د دوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خِدمت كښې اوسيږم. چنانچه ما د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په جومات كښې مُستقِل اوسيدل اختيار كړل. **ما هلته د خپلو اوسيدو په موده كښې اِمامِ اعظم** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **د ورځې كله بې روژه او د شپې كله د عِبادت او نوافِلو نه غافِل اُونۀ ليدلو.** البته ماسپښين نه مخكښې به يې لږ شان آرام كولو. (المناقِب لِلمُوَفّق ج١، ص٢٣٠تا٢٣١) د حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ اَبِي مُعاذ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه رِوايت دے، مِسعَرِ بِن كدام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيحده خوش نصيبه وو چې د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفات د اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په جومات كښې د سَجدې په حالت كښې وشو.

(المناقِب لِلمُوَفّق ج١، ص٢٣٠تا٢٣١)

جو بے مثال آپ کا ہے تقویٰ، تو بے مثال آپ کا ہے فتویٰ
ہیں علم و تقویٰ کے آپ سنگم، امامِ اعظم ابو حنیفہ

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٥٧٣)

ده بې مِثاله ستاسو تقوىٰ، ده بې مِثاله ستاسو فَتوىٰ
د عِلم و تقوىٰ يـې تاسو سنګم، اِمامِ اعظم ابو حنيفه

## ﴿۹﴾ ديرش کاله مُسلسل روژې

”اَلْخَيْراتُ الْحِسان“ کښې دي، هغوئي مسلسل ديرش کاله روژې ونيولې، ديرش کاله پورې به يـې په يو رکعَت کښې پوره قرآنِ پاک ختمولو، څلويښت (بلکې 45) کاله پورې يـې د ماسخوتن په اوداسه د سحر نمونځ ادا کړے دے، کوم ځائے کښې چې هغوئي وفات شو په هغه مُقام کښې هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه اووه زره (7000) ځله قرآنِ پاک ختم کړے وو. (الخيراتُ الحسان ص٥٠)

## ﴿۱۰﴾ د اِمامِ اعظم عظيم شاګرد

د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بن مُبارَک رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په مخکښې چا اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه باندې اِعتِراض وکړو نو هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه اُوفرمائيل: ”آيا تهٔ داسې کس باندې اعتراض کوې چا چې پينځهٔ څلويښتو کالو پورې پينځهٔ واړه نمونځونه په يو اودس ادا کړي وو او هغه به يو رکعت کښې پوره قرآنِ پاک ختمولو او ما سره چې څه فِـقه ده دا مې د هغوئي نه زده کړې ده.“ (الخيراتُ الْحِسان ص٥٠)

## ﴿۱۱﴾ د خلکو د حُسنِ ظَن خيال ساتل

اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه به په شروع کښې ټوله شپه عِبادت نهٔ کولو. هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه يوه ورځ د چا نه دا خبره واوريدله چې ”ابُو حنيفه ټوله شپه نهٔ اُودهٔ کيږي.“ چنانچه د هغهٔ د حُسنِ ظَن (يعنې نيک ګُمان) په وجه هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ټوله شپه عِبادت شروع کړو. (الخيراتُ الحسان ص٥٠)

ہے دھوم چاروں طرف سخا کی، بھری ہے جھولی ہر اک گدا کی
عطا ہو مجھ کو بھی طیبہ کا غم، امام اعظم ابو حنیفہ

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٥٧٣)

هر خوا عام ستا سخاوَت دے، لَمَن د خلکو ډکول ستا عادت دے
مـا تـه هُـم راکـړئ د مـــــدينے غـم، اِمـامِ اعظم ابـو حنيفه

## ﴿۱۲﴾ د رمضان په مياشت کښې 61 ختمِ قرآن

امام ابو يُوسُف رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: اِمامِ اعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به د عِيدُالۡفِطۡر [يعني واړه اختر] د ورځې سره په رَمَضَانُ الۡمُبَارَک کښې 62 ځله قرآنِ پاک ختمولو، (يو ورځ کښې، يو شپه کښې، يو ټوله مياشت کښې په تراويح کښې او يو د اختر په ورځ) او مال کښې به يـې سخاوت کولو، عِلم ښودلو کښې صابِر (يعني صبر کوونکے) وو، خپله باره کښې کيدونکي اعتراضات به يـې اوريدل، غُصّه به يـې بالکل نهٔ کوله. (الخيراتُ الحسان ص۵۰)

عطا ہو خوفِ خدا خدارا دو الفتِ مصطفٰی خدارا
کروں عمل سنّتوں پہ ہر دم، امامِ اعظم ابو حنیفہ

(وَسائلِ بخشش ص ۲۸۳)

راکـړئ خـوفِ خُدا لِله، راکـړئ اُلفَتِ مُصطَفیٰ لِلّٰه
چې کړم عمل په سُنّتو هر دَم، اِمامِ اعظم ابو حنيفه

## ﴿۱۳﴾ ځان يـې قربان کړو خو حکومتي عُهده يـې قبوله نهٔ کړه

عَبّاسي خليفه منصور، اِمامِ اعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ته عرض وکړو چې تاسو زما د مملکت قاضِيُ الۡقُضاة (يعني چيف جسټس) جوړ شئ. هغوئي اوفرمائيل: زهٔ د دې عُهدې قابِل نهٔ يم. منصور اُووئيل: تاسو دروغ وائې. هغوئي اوفرمائيل: که زهٔ دروغ وايم نو تاسو خو پخپله فيصله وکړه! دروغژن سړے هډو د قاضي جوړيدو لائق نهٔ وي. خليفه منصور دا خبره خپله بې ادبي وګڼله او هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه يـې جيل ته وليږو. هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به يـې هره ورځ په سر مبارک لس کوړې وهلو چې د هغې په وجه به د هغوئي د سر مبارک نه وينه د ښپو د ګيټو پورې بهيدله، دغسې يـې هغوئي مجبوره کولو چې قاضي جوړيدو ته تيار شي، خو هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه حکومتي عُهده قبلولو ته راضي

نۀ شو. دغسې هغوئي د روزانه لسو کوړو په حساب 110 کوړې اُووهلے شو. د خلکو همدردي اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ سره وه. آخر دا چې په دوکه ورته **د زَهرو پیاله** ورانديې کړے شوه، خو هغوئي په مومِنانه فِراست زهر اوپیژندل او څښلو نه یې انکار وکړو، نو هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ یې څملولو او په زور یې په حلق کښې زهر ورواړول. زَهرو چې خپل اثر کول شروع کړو نو هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د **الله** تعالیٰ په بارګاه کښې **سَجۡده** کښې پریوتلو او د سَجدې په حالت کښې په 150 هجري کښې وفات شولو. (اَلۡخَیۡراتُ الۡحِسان ص۹۲.۸۸) هغه وخت د هغوئي عُمر مبارک 80 کاله وو. د هغوئي مزار شریف په بَغداد شریف کښې دے. **د اللّٰهُ رَبُّ الۡعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

دیارِ بغداد میں بلا کر، مزار اپنا دکھا جہاں پر

ہیں نور کی بارشیں چھما چھم، امام اعظم ابو حنیفہ

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۵۷۳)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# د حضرتِ سَیِّدُنا حَسَن بِن صالِح (مُؤَذِّن) خُشُوع و خُضُوع

## اذان کولو کښې بیهوشه شولو

حضرتِ سَیِّدُنا حَسَن بِن صالِح رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ (مُؤَذِّن وو. هغوئي) یو ځل اذان کولو چې اَشۡهَدُ اَنۡ لَّاۤ اِلٰهَ اِلَّا الله یې اُووئیلو نو بیهوشه شولو او ځمکې له یې تشریف راوړو [یعنې راپریوتلو]، خلکو د منارې نه راکوز کړلو، د هغوئي ورور اذان وکړو او د **نمانځۀ جَمعه** یې ورکړه، په دې دوران کښې هغوئي بےهوشه وو. (تَنبِیهُ المغترین ص ۵۳)

## د الله د ويرې نه ژړېدو والا مور او زامن

حضرتِ سَيِّدُنا حَسَن بِن صالِح رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه به د صبا صادِقه پورې نفلونه کول. بيا به د خپل **نمانځهٔ** په ځائے کښيناستلو او ډېر به يې اوژړل او د هغوئي وررو به په حُجره کښې ناست ژړل، مور صاحبې به يې هُم شپه او ورځ د **الله** د ويرې ژړل. اول يې مور صاحِبه وفات شوه، بيا يې ورور حضرتِ سَيِّدُنا علي بِن صالِح رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه وفات شو او د هغې نه پس هغوئي هُم د دنيا نه تشريف يوړلو.

## د وفات نه پس د درې واړو حال

د مور صاحبې او دواړو وروڼو د وفات نه پس چې کله سَيِّدُنا حَسَن بِن صالِح رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه چا په خوب کښې وليدو او د والدهٔ مرحُومه په باره کښې يې ترينه تپوس وکړو نو هغوئي اِرشاد اُوفرمائيلو: "په خَوفِ خُدا کښې د هميشه ژړېدلو په سبب **الله** پاک هغې ته د هميشه خوشحالي ورکړه." بيا يې ترينه د ورور په باره کښې تپوس وکړو نو ويې فرمائيل: "هغه هُم په خير سره دے." او چې کله ترينه د هغوئي د خپل ځان مُتَعَلِّق تپوس اوکړے شو نو دا يې اُوفرمائيل او لاړلو چې "مونږ خو به صرف د **الله** پاک په **عَفو** و کرم (يعني مُعافي او مهربانئ) باندې يقين ساتلو." (الرقة والبكاء مع موسوعه امام ابنِ ابى دُنيا ج ٣ ص ٢١١ رقم ٢٢١) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## نمونځ به هُم نهٔ ورتللو

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د [نورو] عبادتونو او نمونځونو شوق حاصلولو او اسلامي معلوماتو کښې اضافه کولو د پاره د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې د شرکت پابندي کوئ: راځئ چې يو "مَدَني سپرلے" واورو: د کراچۍ د علاقې گُلشنِ حدِيد يو اِسلامي ورور د عاشِقانِ رَسُول ديني تنظيم دعوتِ اسلامي کښې شامليدلو نه

مخکښې د دُنیا په مزو کښې ورک وو. د عِلمِ دِین د کمي یې دا حال وو چې نۀ یې په صحیح طریقه اودس او غُسل زده وو او نۀ ورته د نمانځۀ صحیح طریقه معلومه وه. هغه د نیکئ په لاره داسې روان شو چې یوه ورځ د ماښام نمونځ کولو د پاره د خپلې علاقې جومات ته لاړلو نو هلته یو د عمامې والا اِسلامي ورور درس ورکولو، د هغۀ انداز یې خوښ شو نو دے هُم د اوریدلو د پاره کښیناستلو. د درس نه پس ورسره مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي په ډیر شَفقت [او مَحبَّت] ملاقات وکړو او د اِنفرادي کوشش په دوران کښې یې ورته په هُم هغه جومات کښې قائمه مَدرَسةُ الْمَدِینه (بالغان) کښې د سبق وئیلو دعوت ورکړو، د هغه اِسلامي ورور د مَحبَّت نه ډک انداز په وجه هغۀ انکار اونکړے شو او [مَدرَسةُ الْمَدِینه (بالغان) کښې د شرکت کولو اراده یې وکړه. چې په مَدرَسةُ الْمَدِینه (بالغان) کښې یې سبق لوستل شروع کړو نو د هغې په بَرَکت یې د اودس، غُسل او نمانځۀ طریقه هُم زده کړه او قرآنِ مجید یې هُم په صحیح مَخارجو زده کړو، په هُم دې دوران کښې یې چې کله د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې شرکت وکړو نو حیران شو چې دومره ګڼ شمیر کښې ځلمو د سُنَّتو مطابق ږیرې پرېښې دي او د عمامې شریفې تاجونه یې په سر کړي دي. د دعوتِ اسلامي د دیني ماحول مَدَنـي سپرلے یې چې ولیدو نو د هغۀ په زړۀ کښې هُم د سُنَّتو مطابق د ژوند تیرولو جذبه بیداره شوه، ګیره یې هُم پرېښودله او وخت تیریدلو سره سره یې دعوتِ اسلامي سره تَعَلُّق هُم نور مضبوط شو.

اگر سنّتیں سیکھنے کا ہے جذبہ      تم آجاؤ دیگا سکھا مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٦)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

# د حضرتِ سَیِّدُنا مُسلِم بِن یَسار خُشُوع و خُضُوع (12 حكايات)

## ﴿۱﴾ د خلكو په خندا خبرو به نهٔ خبريدلو

حضرتِ سَیِّدُنا عبدُ الـحَمِید بن عبدُالله رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه رِوايت دے: حضرتِ سَیِّدُنا مُسلِم بِن يَسار رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به چې كله كور ته داخل شو نو د كور ټول كسان به خاموشه شو، هيڅ قِسمه خبرې به يې نهٔ كولې خو چې كله به يې **نمونځ** شروع كړو نو هغوئي به په خندا او خبرو كښې مشغول شولو (ځكه چې هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته به د هغې خبر نهٔ كيدو) [يعني په نمانځهٔ كښې به داسې مشغول وو چې د خوا و شا به ورته هډو خبر نهٔ كيدو]. (اللہ والوں کی باتیں ج۲ ص۴٤۸تا۴٤۹)

## ﴿۲﴾ ته څه خبر يـې زما زړهٔ چرته وي!

حضرتِ سَیِّدُنا مُسلِم بِن يَسار رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته يو ځل چا عرض وكړو: تاسو په **نمانځهٔ** كښې كله چا په اخوا ديخوا مُتَوَجِّه كيدلو نهٔ يـې ليدلے. نو ويـې فرمائيل: "تاسو څه خبر يـې چې زما زړهٔ چرته وي!" (اللہ والوں کی باتیں ج۲ ص۴٤۷)

## ﴿۳﴾ ناځاپه يو شامي كس كور ته راداخل شو

حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله بِن مُسلِم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه بيان كوي: يوه ورځ زما والِد محترم حضرتِ سَیِّدُنا مُسلِم بِن يَسار رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په نمانځهٔ كښې مشغول وو چې ناځاپه يو شامي كس كور ته راداخل شو، ټول خلك ويريدل او د هغهٔ نه راتاو شو، چې كله معامَله ختمه شوه نو زما والده صاحِبه زما والِد صاحِب ته عرض وكړو: يو شامي كور ته راداخل شوے وو، ټول خلك ويريدل خو تاسو رانغلئ؟ هغوئي اُوفرمائيل: "زهٔ خو هډو پوهه شوے نهٔ يم!" (اللہ والوں کی باتیں ج۲ ص۴٤۸)

## ﴿٤﴾ د جومات ستن اوغورزيدله

حضرتِ سَيِّدُنا مَيمُون بِن حَيَّان رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه بيان کوي: ما حضرتِ سَيِّدُنا مُسلِم بِن يَسار د **نمانځۀ** په دوران کښې کله لږ شان هُم اخوا ديخوا مُتَوَجِّه کيدلو باندې نۀ دے ليدلے، يوه ورځ د جومات يو ستن اوغورزيدله، د هغې په غورزيدلو د بازار خلک هُم ويريدل خو حضرتِ سَيِّدُنا مُسلِم بِن يَسار رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه هُم هغسې **نمونځ** کولو او هغه طرف ته يې هيڅ تَوجُّه هُم اونکړه.
(اللہ والوں کی باتیں ج ۲ ص ٤٤٨)

## ﴿٥﴾ د جومات ديوال اولويدو خو هغوئي خبر هُم نه شو

حضرتِ سَيِّدُنا مُسلِم بِن يَسار رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه يو ځل د **نمانځۀ** جَمعه ورکوله چې ناڅاپه د جومات ديوال اولويدو خو هغوئي پوهه هُم نۀ شولو. (اللہ والوں کی باتیں ج ۲ ص ٤٤٨)

## ﴿٦﴾ لکه څه کيږه چې پرته وي

حضرتِ سَيِّدُنا غَيلان بِن جَرِير رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه بيان کوي: حضرتِ سَيِّدُنا مُسلِم بِن يَسار رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه به چې کله **نمونځ** کولو نو داسې به ښکاريدلو لکه کيږه چې پرته وي (يعني دومره په **خُشُوع وخُضُوع** به يې نمونځ کولو چې بالکل به يې حرکت نۀ کولو). (اللہ والوں کی باتیں ج ۲ ص ٤٤٩)

## ﴿٧﴾ ښخ شوے موږکے

حضرتِ سَيِّدُنا عَون رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه بيان کوي: ما به چې کله حضرتِ سَيِّدُنا مُسلِم بِن يَسار رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه په **نمانځۀ** کولو ليدلو نو داسې به ښکاريدلو لکه يو موږکے چې ښخ ولاړ وي، هغوئي به د **نمانځۀ** [قيام] په دوران کښې لږ هُم نۀ خوزيدلو او نۀ به د هغوئي په جامو کښې څه حرکت پيدا کيدلو. (اللہ والوں کی باتیں ج ۲ ص ٤٤٩، ٤٥٠)

## ﴿٨﴾ ټول نمونځ نمونځ

حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ عَون رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه بيان کوي: حضرتِ سَيِّدُنا مُسلِم بِن يَسار رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه به کله

**نمونځ** نهٔ كولو نو هُم داسې به ښكاريدلو لكه په **نمانځهٔ** كښې چې وي. (اللہ والوں کی باتیں ج۲ ص ٤٤٩)

## ﴿۹﴾ په نمانځهٔ كښې د خُشُوع په سبب مريض ښكاريدل

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن مُسلِم رَحْمَةُاللهِعَلَيْه بيان كوي: ما چې خپل والِد مُحترم حضرتِ سَيِّدُنا مُسلِم بِن يَسار رَحْمَةُاللهِعَلَيْه كله هُم په **نمانځهٔ** كولو ليدلے دے نو ما هُم دا گُمان كړے دے لكه هغوئي چې بيمار وي. (اللہ والوں کی باتیں ج۲ ص ٤٤٩)

## ﴿۱۰﴾ د سجدې ځائے يې داسې وو لكه اوبه چې پرې اړولي وي

د **حضرتِ** سَيِّدُنا امام محمد بِن سِيرِين رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د اولاد نه يو كس بيانوي: ما حضرتِ سَيِّدُنا مُسلِم بِن يَسار رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په جامِع مسجِد كښې وليدو، چې د سجدې نه يې سر راپورته كړو نو د سجدې ځائے يې د اوښكو د كثرت [يعني ډير والي] په وجه داسې شوے وو لكه هلته چې اوبه اړولے شوې وي. (صفوۃ الصفوۃ ج۳ ص ۱۵۹)

## ﴿۱۱﴾ د سجدې ځائے يې په اوښكو لُوند وو

**حضرتِ** سَيِّدُنا ربيع بِن صَبِيح رَحْمَةُاللهِعَلَيْه نه رِوايت دے چې حضرتِ سَيِّدُنا مَكحُول رَحْمَةُاللهِعَلَيْه اَهلِ بَصره ته اُوفرمائيل: اے بَصره والؤ! ما ستاسو يو سردار وليدو، هغه كعبې مُعَظّمې ته داخل شو او د **مخامخ** دوو ستنو په مينځ كښې دوه ركعاته **نمونځ** كولو نه پس يې په **سَجْده** كښې دومره اوژړل چې په اوښكو يې ځمكه لـمده شوه. ما د هغه نه دا واوريدل: "(اے الله كريم!) زما تير شوي گناهونه او بد اعمال معاف كړې." چې اُومې كتلو نو هغه حضرتِ سَيِّدُنا مُسلِم بِن يَسار رَحْمَةُاللهِعَلَيْه وو. (اللہ والوں کی باتیں ج۲ ص ٤٥٣)

## ﴿۱۲﴾ مخامخ دوه غاښونه يې اولويدل

حضرتِ سَيِّدُنا مُعاوِيه بِن قُرَّة رَحْمَةُاللهِعَلَيْه بيانوي: سَيِّدُنا مُسلِم بِن يَسار رَحْمَةُاللهِعَلَيْه به اوږدې سجدې كولې چې د هغې په وجه يې **مخامخ** دوه غاښونو كښې نَو شوے وو. چې كله هغه اولويدل نو

هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه هغه بنخ کړل. (حِلۡيَةُ الۡاَوۡلِيَاء ج ۲ ص ۳۳۱)

## بدن نه د جُدا کيدونکي څيز د ښخولو حُکم دے

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په بيان شوي حکايت کښې د غوږزيدلو غاښونو د ښخولو تذکره ده، په دې سِلسِله کښې مسئله واورئ: ''کوم څيز چې د انساني بدن نه جُدا شي د هغې د ښخولو حُکم دے. لکه ويښته، نُوکان، وِينه، غاښ وغيره.'' (حاشية الطحاوی علی المراقی ص ۵۲۷ مُلَخَّصاً)

## پينځۀ سبق آموز اقوال

د حضرتِ سَيِّدُنا مُسلِم بِن يَسار رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه په نمانځۀ کښې خُشُوع و خُضُوع مر حبا! هغوئي د مدينے مُنَوَّرې په تابِعِينو کښې دے، هغوئي د ډيرو صحابۀ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان سره د ملاقات شرف حاصل کړے وو، ډير اَحادِيثِ مُبارکه هُم د هغوئي نه مَروِي دي. د هغوئي پينځۀ سبق آموز اقوال ولولئ او عِبرت حاصل کړئ: ﴿۱﴾ حضرتِ سَيِّدُنا مُسلِم بِن يَسار رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه فرمائيلي دي: زۀ د خپل عمل په باره کښې په ويره کښې اوسيږم چې چرته په دې کښې داسې څيز داخل نۀ شي چې هغه دا تباه کړي. ﴿۲﴾ اَو فرمائي: هغه مَحبَّت، مَحبَّت نۀ دے کوم چې رضائے اِلٰهی د پاره نۀ وي، زۀ صرف د رِضائے اِلٰهی د پاره مَحبَّت کووم. (الطبقات الکبری ج ۷ ص ۱۳۹ رقم ۳۰۵۹ مختصراً) ﴿۳﴾ هغوئي به شرم گاه ته ښے لاس لګول ناخوښه ګڼل او فرمائيل به يې: زۀ اُمِّيد لرم چې خپله نامۀ اعمال به په ښي لاس نيسم. (الزهد ص ۲۵۹ رقم ۱۳۹۱) ﴿۴﴾ هغوئي فرمائي: چې کوم لباس تۀ واغوندې او دا خيال کوې چې تۀ په دې جامو کښې د نورو جامو نه زيات ښۀ ښکارې نو (پوهه شه چې) دا لِباس ستا د پاره ډير بد دے. (الزهد ص ۲۵۹ رقم ۱۳۸۹) ﴿۵﴾ هغوئي فرمائي: د حقيقي خوند خواهش مندو ته په تنهائي کښې په بارګاهِ اِلٰهی کښې د مُناجات [يعني سوال زاري] کولو نه زيات خوندور يو څيز هُم نۀ ښکاري. (الغزلة والانفراد مع موسوعه اِمام اِبنِ اَبِی دُنيا ج ۶ ص ۵۳۸ رقم ۱۷۶)

## د وفات نه پس يـې په خوب كښې د سلام جواب ورنكړلو

حضرتِ سَيِّدُنا مالِک بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې حضرتِ سَيِّدُنا مُسلِم بِن يَسار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مې د وفات نه يو كال پس په خوب كښې وليدو، ما ورته سلام وكړو خو هغوئي جواب رانكړو، ما ورته عرض وكړو چې تاسو د سلام جواب ولې رانكړو؟ نو هغوئي اُوفرمائيل: ”زۀ خو وفات شوے يم زۀ د سلام جواب څنګه دركړم؟“ ما ترينه تپوس وكړو چې ”د وفات په ورځ ستاسو څه كيفيت وو؟“ هغوئي اُوفرمائيل:”زۀ ويرې او وارخطائي او سخت مصيبت ګير كړے ووم.“ ما ترينه تپوس وكړو: ”د هغې نه پس څه وشو؟“ هغوئي اُوفرمائيل چې د كريم ذات په باره كښې ستا څه خيال دے؟ رَبِّ كرِيم [زما] نيكئ قبولې كړې او بدئ يـې معاف كړې او هغه يـې په نيكو كښې بدلې كړې.“ حضرتِ سَيِّدُنا مالِک بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې دا بيان كولو نو په سلګو سلګو په ژړا شو او بې هوشه شولو، څه ورځې پس بيمار شولو او په هُم هغه بيمارئ كښې يـې د فاني دُنيا نه سفر وكړو (يعني وفات شولو) خلكو دا ګڼله چې د هغوئي زړۀ اوچاودلو. (ابنِ عساکر ج٥٨ ص١٤٩) د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په نمونځ كښې د خُشُوع پيدا كولو 27 مَدَني ګلونه

﴿۱﴾ كه لوږه يا تنده لرئ نو هغه ختمه كړئ ﴿۲﴾ د متيازو وغيره ﴿۳﴾ ضروري خبرو اترو او ﴿٤﴾ فون كولو يا اوريدلو نه ځان فارغه كړئ ﴿٥﴾ موبائل فون سائلِنټ كړئ ﴿٦﴾ ماشومانو نه لرې اوسئ ﴿۷﴾ د شور شغرب د آوازونو نه د بچ كيدلو تدبير وكړئ ﴿۸﴾ څوک مو چې انتظار كوي هغه فارغ كړئ ﴿۹﴾ كه مخامخ ديوال باندې نقش و نِګار وي يا مخامخ شيشه وغيره وي او تَوجُّه مو خرابيږي نو ځائے بدل كړئ ﴿۱۰﴾ كه ګرمي مو په خُشُوع كښې ركاوټ جوړيږي نو د پكې يا كه كيدے شي نو د A.C تركيب وكړئ ﴿۱۱﴾ كه يخني مو كيږي نو په نمانځۀ كښې

ګرم لِباس او هِيټر وغيره اِستعمالوئ ﴿۱۲﴾ لِباس، عِمامه، څادر وغيره كښې مو يو څيز هُم په تَوجُّه كښې رُكاوټ جوړ نهٔ شي، د دې خيال ساتئ، مَثَلًا چې لباس مو تنګ نهٔ وي، د هغې [يعني لباس] چيچل نهٔ محسوسيږي، وغيره ﴿۱۳﴾ كه ماشي مو ښپې چيچي نو جُرابې په ښپو كړئ ﴿۱٤﴾ عِمامه ښويدل يا د هغې د پاسه څادر په سجده كښې ښويدل يا د دې په وجه ګرمي كيدل يا د تنګيدلو باعث كيدل وغيره په خُشُوع كښې رُكاوټونه وي ﴿۱٥﴾ كه په جيب كښې د موجودو څيزونو بوج رُكاوټ جوړيږي نو هغه اوباسئ ﴿۱٦﴾ نقش و نِګار والا مُصلّٰى باندې نمونځ كولو نه ځان ساتئ ﴿۱۷﴾ كه مُصلّٰى يا كارپيټ وغيره مو د خُشُوع د كمئ باعث جوړيږي نو لرې يـې كړئ يا ترينه ښځپله لرې شئ ﴿۱۸﴾ كه هر څيز مو په خُشُوع كښې خلل اچوي كه كيدے شي نو هغه لرې كړئ ﴿۱۹﴾ كه وسوسې مو په خُشُوع كښې رُكاوټ جوړيږي نو نمونځ شروع كولو نه مخكښې په داسې طريقه چې خلک پوهه نهٔ شي ګڅې اُوګې طرف ته درې ځله تُف تُف وكړئ، بيا لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيم ولولئ، په قِيام كښې د سَجدې ځائے ته، په رُكوع كښې خپلو ښپو ته، په سَجْده كښې پوزې ته او قَعده كښې خپلې غيږې ته ګورئ اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيْم د وسوسو نه به بچ شئ ﴿۲۰﴾ كوم نمونځ چې ادا كوئ هغه د خپل ژوند آخري نمونځ ګڼئ ﴿۲۱﴾ دا سوچ كوئ چې الله پاک ما وِيني ﴿۲۲﴾ مختلفو نمونځونو كښې د سُوْرَةُ الْفَاتِحَه نه علاوه سورتونه بدل بدل لوَلئ ﴿۲۳﴾ د نمانځهٔ په دوران كښې په تِلاوَت كښې د تَجوِيد ضروري قواعِدو باندې عمل كوئ ﴿۲٤﴾ د آيتونو او اَذكارو يو يو حَرف صحيح ادا كوئ او ﴿۲٥﴾ په نمانځهٔ كښې چې څه لوَلئ د هغې په معنٰى نظر ساتئ ﴿۲٦﴾ د نمانځهٔ فرائض، واجِبات، سُنَن و مُسْتَحَبّات په ښه طريقه ادا كوئ ﴿۲۷﴾ زر زر نهٔ بلكې اطمينان سره نمونځ كوئ.

خشوع اے خدا! تو نمازوں میں دیدے اجابت کرم سے دعاؤں میں دیدے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# هغه به د اختر نمونځ هُم نهٔ کولو

اے د **الله** پاک د رَحمت طلبګارو! د **خُشُوع وخُضُوع** رُکاوټونه لرې کولو د پاره، په نمانځهٔ کښې د زړهٔ تَوَجُّه زياتولو د پاره او په دې کښې د وسوسو نه د بچ کيدلو جذبه حاصلولو د پاره د دعوتِ اسلامي دينې ماحول کښې شامل اوسئ او مَدَني چينل ګورئ. راځئ چې يو مَدَني سپرلے واورو: چنانچه د يو اِسلامي ورور يو عزيز چې د هغهٔ په باره کښې چا هدو د نمونځ ګزاره جوړيدلو تَصَوُّر هُم نهٔ شو کولے، ځکه چې جُمُعه څه چې هغه به کله د اختر نمونځ هُم نهٔ کولو. د **الله** شان چې په سن ١٤٢٩ھ (2008ء) کښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک په مياشت کښې د **الله** رَبُّ الْعِزَّت په رَحمت د تاجدارِ رِسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّت ته د "مَدَني چينل" تُحفه مِلاؤ شوه. د هغه اِسلامي ورور يو عزيز چې مَدَني چينل چالو کړو نو ډير يې خوښ شو. هغهٔ چې کله د يو مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي بيان واوريدو نو د زړهٔ دُنيا يې بدله شوه، ګناهونو نه يې توبه وکړه او د پينځهٔ وخته نمونځ ادا کولو نِيَّت يې وکړو، او د بال بچو سره د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه مُرِيد هُم جوړ شو.

مدنی چینل سنتوں کی لائے گا گھر گھر بہار　　مدنی چینل سے ہمیں کیوں والہانہ، ہو نہ پیار

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٣٢)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اے زمونږه خوږه **الله**! مونږ ته هر نمونځ **خُشُوع وخُضُوع** سره د ادا کولو سعادت رانصيب کړې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## نوې مياشت ليدلو باندې دا دُعا لوستل سُنَّت دي!

رَسُولِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې کله هِلال وليدو نو دا دُعا به يې لوستله:

اَللّٰهُمَّ اَهِلَّهٗ عَلَيْنَا بِالْاَمْنِ وَالْاِيْمَانِ، وَالسَّلَامَةِ وَالْاِسْلَامِ، رَبِّيْ وَرَبُّكَ اللّٰهُ۔

ترجَمه: اے **الله** پاکه! دا په مونږه باندې امن، سلامتۍ او اسلام سره را اوخیژوې، (اے میاشتې!) زما او ستا **رب**، **الله** پاک دے. (اَلْمُسْتَدْرَک لِلْحَاکِم ج ٥ ص ٤٠٥ حديث ٧٨٣٧)

د قمري میاشتې د وړومبۍ، دویمې او دریمې شپې میاشتې [یعنې سپوږمۍ] ته هلال وائي، د هغې نه د وروسته شپو سپوږمۍ ته قَمَر وائي. (مرقاة المفاتيح ج٥ ص٢٨٣) دا دعا وړومبۍ، دویمې او دریمې شپې پورې لوستلے شئ.

## د نیکۍ دعوت (مختصر)

مونږه د **الله** پاک ګنهګار بندګان او د هغهٔ د خوږ حبیب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غُلامان یُو. یقیناً ژوند **مختصر** دے، مونږه ساعت په ساعت مرګ ته نزدې کیږو. ډیر زر ده چې مونږ به د تورو تِیارو **قَبْر** ته کوز کړے شو. نجات د **الله** پاک حُکم منلو او د رَسُولِ کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّتو باندې عمل کولو کښې دے.

د عاشِقانِ رَسُول دیني تنظیم "دعوتِ اسلامي" یوه مَدَني قَافِله د ............ نه ستاسو د علاقې .......... جومات ته راغلې ده. مونږه تاسو ته "د نیکۍ دعوت" درکولو د پاره حاضر شوي یُو. په جومات کښې اوس درس جاري دے، مهربانۍ وکړئ او درس کښې شرکت د پاره تشریف راوړئ، مونږ تاسو ځان سره بوتللو د پاره راغلي یُو، راځئ! مونږ سره تشریف یوسئ! (که هغه تیار نۀ شي نو ورته اووائې چې) که اوس نۀ شئ تللے نو د ماښام نمونځ هم هلته ادا کړئ. د نمانځۀ نه پس به اِنْ شَآءَاللّٰه د سُنَّتو ډک بیان کیږي. تاسو ته درخواست دے چې بیان ضرور واورئ.

**الله** پاک دې مونږ او تاسو ته د دواړو جهانو خیرونه رانصیب کړي، اٰمِین.

# د نمانځهٔ نهٔ کولو

# عــــذابُــونــه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# د نمانځۀ نه کولو عذابُونه

يا ربِّ مُصطَفٰی! څوک چې ”د نمانځۀ نۀ کولو عذابونه“ پوره باب ولولي يا واوري،
د هغۀ نه دې کله هُم نمونځ قضا نۀ شي او هغه ته د جَهنَّم نه آزادي ورکړې. اٰمين.

## د درود شريف فضيلت

د حضرتِ سَيِّدُنا خَلَّاد بِن کثِير رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د وفات په وخت کښې د هغوئي د بالښت نه لاندې د کاغذ يوه ټُکره مِلاؤ شوه. په هغې ليکلي شوي وو: هٰذِهٖ بَرَاءَةٌ مِّنَ النَّارِ لِخَلَّادِ بْنِ كَثِيْرٍ يعني ”دا د خَلَّاد بِن کثِير د پاره د وور نه د نجات چيټۍ ده.“ خلکو د هغوئي د کور د کسانو نه تپوس وکړو نو هغوئي اُووئيل چې مرحُوم به په هره جُـمُعه دا دُرُود شريف: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدِ ِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ زر ځله لوستلو. (القولُ البديع ص٣٨٢) د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيلمانځه خلکو د پاره د جَهنَّم خوفناکه کنده

اَلْحَمْدُ لِلّٰه نمونځ يو عظيم نعمت دے، څوک چې نمونځ پابندئ سره کوي هغه به د جَنَّت حقدار وي او څوک چې فرض نمونځونه نۀ کوي هغه به د جَهنَّم حقدار وي. شپاړسمه سيپاره سُوْرَةُ الْمَرْيَم آيت نمبر 59 کښې اللّٰه پاک اِرشاد فرمائي:

فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَ اتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيًّا ۙ﴿۵۹﴾

[مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالایمان: نو د هغوئي نه پس د هغوئي په ځائے هغه ناخَلفه راغلل کومو چې نمونځونه ضائع کړل او په خپلو خواهشاتو پسې شول، نو نزدې ده چې هغوئی به دوزخ کښې د ”غَیّ“ ځنګل ته بوتلے شي.

## خوفناک کوهے

په **بیان** شوي آیت کریمه کښې د ”**غَیّ**“ تذکره ده حضرت عَلّامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي فرمائي: ”**غَیّ**“ په جَهنَّم کښې یوه کنده ده چې د هغې ګرمي او جَوَر والے د ټولو نه زیات دے، په هغې کښې یو کوهے دے چې د هغې نوم دے ”**هَبْهَبْ**“ دے کله چې د جَهنَّم وور په مړ کیدو شي نو **الله** پاک هغه کوهے برسیره کړي چې د هغې [د تود والي] په وجه هغه (د جهنَّم وور) هم هغسې بیا تیز شي (**الله** پاک ارشاد فرمائي:) كُلَّمَا خَبَتۡ زِدۡنٰهُمۡ سَعِيۡرًا﴿۹۷﴾ (پ۱۵ بنیٓ اِسرآءِیل: ۹۷) [یعني] چې کله په مړ کیدو راشي مونږ به هغه نور تیز کړو.

دا کوهے د بیلمانځو، زِناکارو او شرابیانو او سُود خورو او مور و پلار ته تکلیف ورکوونکو د پاره دے. (بهارِ شریعت ج۱ ص ٤٣٤)

## دُنیوي کوهے

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د **الله** د ویرې نه ولړزیږئ! او په ویره ویره زر زر د خپلو ګناهونو نه توبه وکړئ! بیان شوي رِوایت کښې د بیلمانځو، شرابیانو، زِناکارو، سُود خورو او مور و پلار ته تکلیف ورکوونکو د پاره د عِبرت درس دے، د هغه خوفناک کوهي تَصَوُّر راوستلو د پاره چرته د یو دُنیوي جَوَر کوهي په غاړه ودریږئ او د هغې جَوَر والي ته اوګورئ او سوچ وکړئ چې که د دُنیا په دې کوهي کښې قید کړے شم نو آیا دا سزا به

برداشت کړے شم؟ که نۀ يـې شو برداشت کولے او يقيناً نۀ يـې شو برداشت کولے نو بيا به د جَهنَّم د خوفناک کوهي عذاب څنګه برداشت کړے شو!

## په ګرمو اوبو کښې د غوټې سزا هُم څوک نه شي برداشت کولے نو....

## (حِکايت)

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُ الرَّحمٰن بِن يَزِيد بِن جابِر رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: يو ځل ما د حضرتِ سَيِّدُنا يَزِيد بِن مُرثَد رَحْمَةُاللهِعَلَيْه نه تپوس وکړو: ما تاسو هميشه په ژړا ليدلي يـې، آخر تاسو دومره ولې ژاړئ؟ هغوئي اُوفرمائيل: تاسو دا تپوس ولې کوئ؟ ما اُووئيل: په دې اُمِّيد باندې چې شايد ما ته څه د نصيحت نه ډک جواب مِلاؤ شي. هغوئي اُوفرمائيل: قَسَم په خُدائے! بعضې وخت زما مخې ته خوراک کيښودے شي نو د خوفِ خُدا په وجه زما زړۀ نرے شي [يعنې ژړا راشي] او زۀ د خوراک نه بې پرواه شم، کله داسې هُم وشي چې خپلو کسانو سره ناست يم نو ناڅاپه زما دا حالت شي او زۀ بې اختياره په ژړا شم، ما ته چې اوګوري نو زما بچي او د کور ټول کسان هُم په ژړا شي حالانکې هغوئي ته د ژړا سبب معلوم نۀ وي. زما بي بي به اکثر دا شکايت کولو چې هائے افسوس! شايد که بله څوک مسلمانه ښځه داسې وي چې د هغې خاوند ستاسو هومره غمژن وي، زۀ خو ستاسو په مَحَبَّت پسې ړنده شوم، تاسو باندې کله داسې خوشحالي نۀ راځي چې په هغې مې سترګې يخې شي. ما ترينه تپوس وکړو چې آخر هغه څه خيز دے چې هغې تاسو دومره غمژن کړي يـئ او په ويره کښې اچولي يـئ؟ هغوئي اُوفرمائيل: که د نافرمانو په وجه ما ته په تَودو اوبو کښې د غوپو راکولو فيصله واورولے شي نو دا هُم دومره سخته سزا ده چې د دې په وجه ژړيدل پکار دي خو مُعامَلَه د دې نه ډيره زياته سخته ده ځکه چې د **الله** پاک د نافرمانو په وجه به مُجرِمان د جَهنَّم په وور کښې قيد کړے شي او هغه وور يقيناً د برداشت نه بهر دے، نو بيا زۀ د هغه وور د ويرې نه ولې اُونه ژاړم؟ (عيون الحكايات ص ٩٢ مختصراً) (عيون الحکايات (اردو) ج ١ ص ١٢٩)

مرے اشک بہتے رہیں کاش ہر دم　　ترے خوف سے یاخدا یاالٰہی
ترے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ　　میں تھر تھر رہوں کانپتا یاالٰہی
مسلماں ہے عطار تیری عطا سے
ہو ایمان پر خاتمہ یاالٰہی

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۱۰۵)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مُنافِقِینو په تَورات کښې بيان شوي صِفات

تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا کَعْبُ الْاَحبار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې قَسَم په خُدائے! زۀ په تَورات کښې د مُنافِقِينو دا صِفات لوَلَم: په خواهشاتو پسې ګرځيدونکي او نمونځ پريښودونکي.

بيا هغوئي د شپاړسمې سيپارې سُوْرَةُ مَرْيَم آيت نمبر 59 ولوستلو:

فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَ اتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ۙ (۵۹)

[مَفهُوم] ترجمۀ کنزُالایمان: نو د هغوئي نه پس د هغوئي په ځائے هغه ناخَلفه راغلل کومو چې نمونځونه ضائع کړل او په خپلو خواهشاتو پسې شو نو نزدې ده چې هغوئی به دوزخ کښې د "غَيّ" ځنګل ته بوتلے شي.

(تفسير دُرِّ منثور ج ۵ ص ۵۲٦)

## د جَنّتيانو د جَهنّميانو نه تپوس

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام ابوحامد محمّد بن محمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خُشُوع و خُضُوع سره د نمونځونو ادا کوونکو د پاره د کاميابئ حاصلولو او جَنَّتُ الْفِرْدَوْس ته د تللو د زِيري مُتَعَلِّق آياتِ قرآني بيانولو نه پس "اِحْيَاءُ الْعُلُوم (اُردو)" جِلد 1 صفحه 528 کښې فرمائي: "زما په خيال

په غافِله زړۀ سره صرف ژبه زر زر خوزول دې درجې ته رَسَوَل نۀ شي کولے. په هُم دې وجه **اللّٰه** پاک د دوئي (يعنې نمونځ ګُزارو) په مقابَله کښې د دوزخيانو مُتَعَلِّق اِرشاد فرمائيلے دے:

مَا سَلَكَكُمْ فِيْ سَقَرَ ﴿۴۲﴾ قَالُوْا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ ﴿۴۳﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: تاسو کومې خبرې دوزخ ته بوتلئ، هغوئي اُووئيل: مونږ به نمونځ نه کولو. (پ۲۹.المدثر۴۳.۴۲)

لِـهذا نمونځ ګُزاره د جَنَّتُالفِردَوس وارثان دي او هُم هغوئي د **اللّٰه** پاک د نُور مشاهده کوونکي او د هغه ذات د نزديکت نه خوند اخستونکي دي.“

## د قِيامت په ورځ وړومبے سُوال

حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ”د ټولو نه مخکښې به د قِيامت په ورځ د بنده نه د نمانځۀ حساب اخستلے کيږي، که دا صحيح شو نو باقي اعمال به هُم صحيح شي او که دا وران شو نو ټول وران شُو.“ (مُعْجَم اَوْسَط ج۱ ص۵۰٤ حديث۱۸۵۹) (بهارِ شريعت ج۱ ص٤۳۷)

روزِ محشر کہ جاں گداز بود | اولیں پُرسش نماز بود

(يعني د قيامت په ورځ چې بدنونه وِيلي کوونکي ورځ ده، په هغې کښې به د ټولو نه وړومبے د نمانځۀ تپوس کيږي)

## د جَهنَّم په دروازه نوم

حُضُور نبيِّ پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: څوک چې قَصداً (يعني اِرادَتاً) نمونځ پريږدي د هغۀ نوم د جَهنَّم په هغه دروازه وليکلے شي په کومه به چې هغه داخليږي. (حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء ج۷ ص۲۹۹ حديث۱۰۵۹۰)

## زر کاله ژړا به هُم کار نهٔ کوي

د اعلیٰ حضرت والِدِ محترم عَلّامه مُفتي نَقي علي خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: څوک چې بغير د څه عُذره او بې سببه نمونځ اونکړي او د خُدائے او رَسُول نه اصلًا (يعني بالکل) نهٔ شرميږي، د قِيامت په ورځ که [هغه کس] د يو نمانځهٔ په بدل کښې تړله دُنيا ورکول غواړي [نو هُم] ترينه قبوله به نهٔ کړے شي او که زر کاله وژاړي نو هُم نجات به ورته نهٔ حاصليږي.

(انوارِ جمالِ مُصطفیٰ ص ۳٤٤)

## د زرګاؤ کلونو د عذاب حقدار

اعلیٰ حضرت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: چا چې **بِالقَصۡد** (يعني اِرادتاً) د يو وخت (نمونځ) پريښودلو، زرګاؤ کلونه په جَهنَّم کښې د اوسيدلو حقدار شو، تر څو چې توبه اونکړي او د هغې قضا اونکړي. مسلمانان که د هغهٔ په ژوند کښې هغه د سره (يعني بالکل) پريږدي، هغهٔ سره خبرې نهٔ کوي، هغه سره نهٔ کښيني. نو ضرور هغه (بيلمانځه) د دې (بائيکاټ) لائق دے. (د بيلمانځه کس د صُحبت نه د بچ کيدلو نور تاکيد کښې سيّدی اعلیٰ حضرت قرآني آيت پيش کړے دے چنانچه ليکي چې) **الله** پاک (اوومه (7) سيپاره **سُوۡرَةُ الۡاَنۡعَام** آيت نمبر 68 کښې) فرمائي:

وَ اِمَّا يُنۡسِيَنَّكَ الشَّيۡطٰنُ فَلَا تَقۡعُدۡ بَعۡدَ الذِّكۡرٰى مَعَ الۡقَوۡمِ الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۶۸﴾

[مَفۡهُوم] ترجمهٔ کنزُ الايمان: او که چرته شيطان ستا نه هير کړي نو چې درياد شي ظالِـمانو سره مهٔ کښينه.

(فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج۹، ص ۱۵۸، ۱۵۹)

''تفسيراتِ اَحمَدِيه'' کښې د دې آيتِ مبارکه لاندې ليکلي دي: دلته ظالِمِين نه مُراد کافِرِين، مُبتَدِعِين يعني ګُمراه او بد دِينه او فاسِقان دي. (تفسيرات اَحمديه ص ۳۸۸)

## د بيلمانځه 15 سزاګانې

د **الله** پاک د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: ''څوک چې د نمانځهٔ پابندي

کوي، **الله** پاک به په پينځهٔ خبرو سره د هغهٔ اِکرام (يعني عِزَّت) وکړي: (۱) د هغهٔ نه به تنګي او (۲) د قَبْر عذاب لرې کړي (۳) **الله** پاک به اعمال نامهٔ د هغهٔ په ښي لاس کښې ورکوي (٤) هغه به پُل صِراط باندې د بجلۍ په شان تيزۍ سره تير شي او (۵) جَنَّت ته به بې حسابه داخل شي. او **څوک چې د سستۍ په وجه نمونځ پريږدي، الله** پاک به هغه ته " **15** سزاګانې" ورکوي: پينځهٔ په دُنيا کښې، درې د مرګ په وخت کښې، درې قَبْر کښې او درې قَبْر نه د وتلو وخت کښې. **دُنيا کښې ورکوونکې پينځهٔ سزاګانې**: (۱) د عُمر نه به يې بَرَکت ختم کړے شي (۲) د مخ نه به يې د نيکو بندګانو نښه ورانه کړے شي (۳) **الله** پاک به هغهٔ ته د يو عمل ثواب هُم ورنکړي (٤) د هغهٔ يوه دُعا به هُم آسمان ته نهٔ رسي او (۵) د نيکو بندګانو په دُعاګانو کښې به يې هيڅ حِصَّه نه وي. **د مرګ په وخت کښې ورکوونکې 3 سزاګانې**: (۱) هغه به ذليله مري (۲) اُوږے به مري او (۳) تږے به مري اګر که په هغه باندې د ټولې دُنيا سمندرونه وڅښلے شي بيا به يې هُم تنده نهٔ ماتيږي. **په قَبْر کښې ورکوونکې 3 سزاګانې**: (۱) د هغهٔ قَبْر به دومره تنګ کړے شي چې پوښتۍ به يې په يوه بله کښې داخلې شي (۲) د هغه په قَبْر کښې به وور بل کړے شي بيا به هغه شپه ورځ په انګار [يعني سکروټو] باندې ډډې په ډډې اوړي را اوړي او (۳) په قَبْر کښې به هغهٔ باندې يو ښامار (يعني ډير غټ مار) مُسَلَّط کړے شي چې د هغهٔ نوم اَلشُّجاعِ الْاَقرَع (يعني ګنجے مار) دے، د هغه سترګې به د وور وي، او نُوکان به يې د وسپنې وي، د هر نُوک اوږدوالے به د يوې ورځې د فاصلې پورې وي، هغه به مړي سره خبره کوي او وائي به: "زهٔ اَلشُّجاعِ الْاَقرَع (يعني ګنجے مار) يم." د هغهٔ آواز به د بريښنا والا تندر په شان وي، هغه به وائي: "زما **رب** ما ته حُکم کړے دے چې د سحر نمونځ ضائع کولو باندې تا د نمر ختلو پورې وهم او د ماسپښين نمونځ ضائع کولو باندې تا د مازيګره پورې وهم او د مازيګر نمونځ ضائع کولو باندې تا تر ماښامه پورې وهم او د ماښام نمونځ ضائع کولو باندې تا تر ماسخوتنه پورې وهم او د ماسخوتن نمونځ ضائع کولو باندې تا تر سحره پورې وهم." چې کله هُم هغه [ښامار] هغه (مړے) وهي نو هغه به اويا

لاسه پورې په ځمکه کښې ښخ شي او هغه (نمونځ پرېښودونکے) به تر قيامته پورې په دې عذاب کښې اخته اوسي. **د قيامت په ورځ ورکوونکې درې سزاګانې:** **(١)** د حساب سختي **(٢)** د **الله** پاک ناراضګي او **(٣)** جَهنَّم ته داخليدل دي.[1] (کتاب الکبائر للامام الحافظ الذهبی ص ٢٤)

**وَضاحَت:** بيان شوي حديث کښې د پينځلَّسو سزاګانو تذکره ده خو تفصيل د 14 سزاګانو بيان شوے دے شايد چې راوي نه پينځلَّسمه سزا هيره شوې ده. البته د فقيه ابُو اللَّيث سَمَرقَندي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نقل شوي رِوايت کښې پوره د پينځلَّس سزاګانو تذکره ده چې په هغې کښې دا شامل کړے شي نو پينځلَّس پوره شي. [او هغه دا ده چې] "دُنيا کښې به د هغهٔ نه خلک نفرت کوي." (نيکيوں کی جَزائيں او ر گناهوں کی سزائيں ص ١٣ (دَرَجَبُ الْمُرَجَّب 1428ھ نُسخه) (قرة العيون مع روض الفائق ص ٣٨٣)

## د بيلمانځه درې بد قسمتئ

منقُول دي: "په ورځ د قيامت به هغه (يعني نمانځهٔ کښې سستي کوونکے) په دې حال کښې راځي چې د هغهٔ په مخ باندې به درې کرښې ليکلې شوې وي: (١) اے د **الله** حق بربادوونکيه! (٢) اے د **الله** د غَضَب سره مخصوصه! (٣) څنګه چې دُنيا کښې تا حَقُّ الله يعني د **الله** پاک حَق ضائع کړو هُم دغسې ته هُم د **الله** پاک د رَحمت نه مايُوسه شه." (اَلزَّوَاجِر ج١ ص ٢٩٦) (جہنّم میں لے جانے والے اعمال ج١ ص ٤٤٤)

## د ګناه عذاب په دُنيا او آخرت دواړو کښې کيږي

"تفسير صِراطُ الْجِنان" جِلد 6 صفحه 263 کښې دي: څنګه چې د ګناه عذاب په دُنيا او آخرت کښې ورکولے کيږي هُم دغسې د نيکئ فائده هُم په دواړو جهانو کښې ملاويږي.

---

[1] کُن شمير مُحَدِّثِينو د دې رِوايت په اَسنادو باندې جرح کړې ده خو بيا هُم عُلَماء د وعظ و نصيحت په کتابونو کښې شامل کړے هُم دے. لهٰذا! بيلمانځه خلق لمانځه ته رانزدې کولو د پاره "د لمانځه فيضان" کښې دا روايت شامل کړے شوے دے.

کوم مسلمان چې پینځهٔ واړه نمونځونه پابندئ سره د جَمعې سره ادا کوي هغهٔ ته په رزق کښې بَرَکت او قَبر کښې فراخي نصیب کیږي او پُل صِراط باندې به په آسانئ تیریږي او څوک چې جَمعې سره نمونځ نهٔ کوي د هغهٔ په ګټه کښې به بَرَکت نهٔ کیږي، په مخ به یې د صالِحِینو آثار نهٔ وي، د خلکو په زړونو کښې به د هغهٔ نه نفرت وي، په ځنکدن کښې به په لوَږه او تَنده کښې او د قَبر په تنګئ کښې به اخته کیږي او د هغه حساب به هُم سخت کیږي.

اے بیلمانځو! په خپله کمزورئ رحم وکړئ، سستي ختمه کړئ او نمونځ کول شروع کړئ! چې د نمانځهٔ عادت مو جوړ شي نو بیا به مو اِنْ شَآءَاللّٰه زړهٔ ته د **نمونځ** کولو نه بغیر سکون نهٔ حاصلیږي.

پڑھتے رہو نماز تو جنت کو پاؤ گے
چھوڑو گے گر نماز جہنم میں جاؤ گے

کوئ ډیر ډیر مونځونه چې جَنَّت ته به لاړ شئ
که نهٔ کوئ مونځونه نو دوزخ ته به لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د شیطان په شان څوک؟ (حکایت)

یو بُزُرګ شیطان ولیدو نو ویـې فرمائیل: څه داسې طریقه را ته اوښایه چې زهٔ هُم ستا په شان شم! شیطان اُووئیل: په نمانځهٔ کښې سستي کوه او ډیر ډیر د دروغو قَسَمونه خوره! هغه بُزُرګ فوراً اُووئیل: زهٔ **الله** سره وعده کووم چې کله به هُم په نمانځهٔ کښې سستي نهٔ کووم او کله به هُم د دروغو قَسَم نهٔ خورم! شیطان وارخطا شو او ویـې وئیل: زهٔ هُم وعده کووم چې کله به هُم کوم انسان ته نصیحت نهٔ کووم. (ملخّص از تنبِیهُ الغَافِلِین ص ۱۵۰)

## عمل ضائع شو

مکی مَدَنی آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ”چا چې فرض نمونځونه بغير د عُذر نه پريښودل نو د هغهٔ عمل ضائع شو.“ (مُصَنَّف اِبنِ اَبِی شَیْبَة ج ۷ ص ۲۲۳ حدیث ٤٩)

## بد اخلاقي يې ختمه شوه

[خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!] د خپلو نيکو د حفاظت د پاره، د شيطان د جال نه ځان خلاصولو د پاره، رضائے اِلٰهی والا کارونه زياتولو د پاره او په وخت باندې د نمونځونو کولو جذبه حاصلولو د پاره د عاشِقانِ رَسُول ديني تنظيم، ”دعوتِ اسلامي“ ديني ماحول سره هر وخت خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ. مَدَني سپرلے: د راولپنډۍ يو اِسلامي ورور به مخکښې خپلو دوستانو سره تږوقي تقالي او کنزلي او بد رد وئيل او په لاره روانو خلکو ته به يې بې وجه تکليف ورکولو، د هغهٔ د حرکتونو په وجه خلک د هغهٔ نه بيزاره وو. افسوس! د هغهٔ بد عادتونه صرف د کور نه بهره پورې نه وو بلکې چې کور ته به داخل شو نو کور کښې به يې هُم ډيره زياته بدتميزي کوله، که په کور کښې به ورته په وخت خوراک مِلاؤ نهٔ شو نو بې حده شور به يې کولو، په وړه وړه خبره به يې کور کښې فساد کولو، لوښې به يې اخوا ديخوا ويشتل او په دې وجه به ترينه د کور کسانو هُم نفرت کولو. غرض دا چې اخلاق او کردار يې ښهٔ نهٔ وو، د هغهٔ د بد اخلاقئ ختميدلو سبب دا جوړ شو چې د هغوئي د علاقې د جومات يو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي به روزانه د ماسخوتن د نمانځهٔ نه پس د **فيضانِ سُنَّت** د درس ورکولو سعادت حاصلولو، خوش قسمتئ سره هغهٔ ته هُم په هغه جومات کښې حاضريدل نصيب شو او د فيضانِ سُنَّت درس کښې د کښيناستلو موقع ورنصيب شوه. بيا دا سلسله روانه وه. هغهٔ ته په درس کښې ډيرې فائده مندې خبرې اوريدل نصيب شوې، مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي به د درس نه پس ډير د مَحبَّت په انداز کښې اِسلامي ورونړو ته هفته واره د سُنَّتو ډکې اِجتِماع کښې د شرکت کولو ترغيب ورکولو. دغسې هغهٔ ته هُم هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې د

شرکت کولو موقع حاصله شوه. هلته يې چې د مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي د سُنَّتو ډک بيان واوريدو او د هغه ځائے ماحول يې وليدو نو دعوتِ اسلامي نه دومره مُتأَثِّره شو چې په اِجتِماع کښې شرکت کول يې د ژوند حِصَّه جوړه شوه، او د هغې په بَرَکت د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامل شو، د عاشِقانِ رَسُول د صُحبت په بَرَکت د هغهٔ بد عادتونه ختم شو. د هغې نه مخکښې به يې خلکو ته تکليف ورکولو خو اوس يې په زړهٔ کښې د نيکئ د دعوت ورکولو او خلک د آخرت د عذاب نه د بچ کولو جذبه پيدا شوه. اَلْحَمْدُلِلّٰه هغهٔ ته د علاقائي مُشاورت د نګران په حيثيت د ديني کارنو کولو موقع هُم حاصله شوه.

پلا کر مئے عشق دے گا بنا یہ  تمہیں عاشق مصطفٰے مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٨)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نمونځ قضا کولو عذاب

ديرشمه سيپاره سُوْرَةُ الْمَاعُوْن، آيت نمبر 4 او 5 کښې اِرشاد کيږي:

فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ ﴿۴﴾ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ﴿۵﴾

[مَفهوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: نو د هغه نمونځ کوونکو خرابي ده چې خپل نمونځونه يې په هير کښې اچولي دي.

"تفسِير صِراطُ الْجِنان" کښې د سُوْرَةُ الْمَاعُوْن د بيان شوي پينځم آيت لاندې دي: نمانځهٔ نه د غفلت يو څو حالتونه دي، لکه پابندئ سره نهٔ کول، په صحيح وخت نه کول، فرائض او واجِبات په صحيح طريقه نه ادا کول، د شرعي عُذر نه بغير جَمعې سره نهٔ کول، د نمونځ پرواه نهٔ کول، يواځې ځائے کښې قضا کول او د خلکو په مخکښې کول وغيره، دا ټول صورتونه په وعِيد [يعني د سزا ورکولو وعده] کښې داخل دي او په شوق نهٔ کول، د پوهيدلو سره نهٔ ادا کول [يعني **نمونځ کول خو نهٔ** زده کول] او تَوجُّه سره نهٔ کول هُم د نمانځهٔ نه غفلت کښې داخل دي

البته دا صورتونه په هُغه وعید کښې داخل نهٔ دي کوم چې د دې نه مخکښې آیت کښې بیان شوي دي. (تفسیر صِراطُ الْجِنان، ج۱۰ ص۸٤۱)

## د جَهنَّم خوفناکه کنده "وَیل"

کتاب "اَلْکبائِر" کښې منقول دي: "په جَهنَّم کښې یوه کنده ده چې د هغې نوم وَیل دے، که په هغې کښې د دُنیا غرونه واچولے شي نو هغه به هُم د هغې د ګرمئ نه وِیلي شي او دا د هُغه خلکو ځائے دے کوم چې په **نمانځهٔ** کښې سُستي کوي او د وخت [تیرولو] نه پس یې قضا ادا کوي. خو که هغوئي په خپله کوتاهئ (یعنې خطا باندې) پښیمانه شي او بارګاهِ خُداوندي کښې توبه وکړي." (کتاب الکبائر للذهبی ص۱۹)

## د وخت تیرولو نه پس نمونځ کولو باندې د عذاب اندیښنه

حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله اِبنِ مسعُود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې سرکارِ دوجهان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یو ځل د صحابهٔ کرامو په خوا تیریدلو نو اِرشاد یې اوفرمائیلو: "آیا تاسو ته معلومه ده چې ستاسو **الله** پاک څه فرمائي؟" صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُمْ عرض وکړو: **الله** پاک او رَسُول صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بهتر پوهیږي. رسولِ نامدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې ځله هُم دا تپوس وکړو، بیا یې اُوفرمائیل: "**الله** پاک فرمائي چې زما دې په خپل عِزَّت او جلال قَسَم وي! کوم بنده چې نمونځ د هغې په وخت کښې ادا کوي زهٔ به هغه جَنَّت ته داخلووم او څوک یې چې وخت تیرولو نه پس ادا کوي، که زهٔ غواړم نو په هغهٔ به رحم کووم او که غواړم نو عذاب به ورکووم."

(مُعجَم کبِیر ج۱۰ ص۲۲۸ حدیث۱۰۵۵۵)

## لکه اَهل و مال ترینه لاړل

رَسُولُ‌الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: د چا نه چې نمونځ لاړو [یعنې قضا شو] لکه د هغهٔ نه چې اهل و مال لاړل. (بُخاری ج۲ ص۱۰۵ حدیث ۲۰٦۳) (بهارِشریعت ج۱ ص٤٤۱) په یو بل حدیثِ پاک

کښېي دي: ”د چا نه چې د مازيګر نمونځ لاړو [يعنې قضا شو] لکه د هغهٔ کور او مال چې لُوټ شو.“ (بُخاری ج۱ ص۲۰۲ حديث ۵۵۲) (مِراٰۃُ المناجیح ج۱ ص۳۸۱)

**شَرحِ حديث:** يعنې لکه هغه کس ته چې دومره نقصان ورسيدو چې د هغې تَلافي نهٔ شي کيدے (يعنې د هغې بدله نهٔ شي کيدے) هُم دغسې عصر (يعنې د مازيګر نمونځ) پريښودونکي ته ناقابلِ تَلافي نقصان رسي. (مِراٰۃُ المناجیح ج۱ ص۳۸۱)

## د معراج په شپه يـې عذاب وليدو

سرورِ کائنات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د معراج په شپه د يو داسې قوم (يعنې داسې خلکو) خوا ته تشريف يوړلو چې د هغوئې سرونه په ګټه چقولے کيدل، چې کله به هُم هغوئې اوچقولے شو [نو] د مخکښې په شان به صحيح شو او دا سلسله هُم دغسې روانه وه نو خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تپوس وکړو: اے جبرائيل! دا څوک دي؟ هغوئې عرض وکړو: دا هغه کسان دي د چا سرونه به چې په **نمونځ** کولو درانه کيدل (يعنې فرض نمونځ به يـې پريښودلو). (مُسنَد بزار ج۱۷ ص۵ حديث ۹۵۱۸)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** که د چا سر معمولي څوګ شي نو هم سخت تکليف محسوسوي نو مَعَاذَالله (يعنې د **الله** پناه) که د نمونځونو قضا کولو په صورت کښې د بنده نازک سر فرښتو چقول شروع کړو نو څه حال به يـې وي! کاش! کاش! کاش! چې ټول مسلمانان پاخه نمونځ ګزاره شي.

توفيق دے الٰہی مجھے تو نماز کی | صدقے میں مصطفٰے کے بنے خو نماز کی

## د سر چقولو سزا

د سحر د نمانځهٔ په وخت کښې اُودهٔ پراته خلک دي د نمانځهٔ وخت په اُودو د تيرولو د خوفناکې سزا کيفيت ولولي او توبه دې وکړي. سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرامو

عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان ته اُوفرمائيل: نن شپه دوه کسان (يعني جِبرائيل او مِيکائيل عَلَيۡهِمَا السَّلَام) زما خوا له راغلل او زهٔ يـې اَرضِ مُقَدَّسه (يعني بَيۡتُ الۡمُقَدَّس[1]) ته راوستلم. (بُخاری ج۱ص ٤٦٧ حديث ١٣٨٦) ما وليدل چې يو کس ملاست دے او د هغهٔ سر ته يو کس کټه اوچته کړې ولاړ دے او پرله پسې د هغهٔ سر چقوي، هره پيره چقولو نه پس سر بيا صحيح شي. ما هغه فرښتو ته اُووئيل: سُبۡحٰنَ الله! دا خلک څوک دي؟ هغوئي عرض وکړو: مخکښې تشريف يوسيءِ! (د نورو منظرونو راښودلو نه پس) فرښتو عرض وکړو: وړومبے کس کوم چې تاسو صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وليدو (يعني د چا سر چې چقولے کيدو) دا هغه وو چا چې قرآن اولوستلو بيا يـې هغه پريښودے وو او د فرضو نمونځونو په وخت کښې به اُودهٔ کيدلو. (بُخاری ج٤ ص ٤٢٥ حديث ٧٠٤٧ مُلَخَّصاً)

## د سر چقلوسزا ولې؟

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام شهابُ الدِّين احمد بِن محمد قَسطَلاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د سر چقولو د سزا وجه دا بيانوي: ”ولې چې هغه به د **نمانځهٔ** په وخت کښې اُودهٔ کيدلو او د خوب ځائے سر دے ځکه هغه ته په سر کښې سزا ورکولے شوه.[2]“ حضرتِ عَلَّامه اِبنِ هُبَيره رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: ولې چې هغه د ټولو نه اعلٰى څيز قرآنِ شريف پريښودے وو (يعني د قرآنِ پاک تِلاوت او د هغې په تقاضو کولو باندې عمل کول يـې پريښودي وو[3]) ځکه هغهٔ ته د ټولو نه اعلٰى اندام سر کښې سزا ورکړے شوه. (فَتۡحُ الۡبارِی ج ١٣ ص ٣٧٩ تحت الحديث ٧٠٤٧)

## جَهنَّم ته د تللو حُکم به وشي

قَصداً (يعني اِرادتاً) نمونځونه قضا کوونکي او د دروغو قَسَمونه خوړلو والا ته به جَهنَّم ته د تللو حُکم ورکولے کيږي. څنګه چې د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِيَ اللهُ عَنۡهُمَا نه رِوايت

---

[1] (نُزهَةُ القاری ج ٢ ص ٨٧٤)
[2] ارشاد السّاری ج ١٤ ص ٥٦٦
[3] ماخوذ از مراٰة ج ٦ ص ٣٠١

دے چې د قِيامت په ورځ به يو کس د **اللّٰه** پاک په بارګاه کښې ودرَولے شي، **اللّٰه** پاک به هغهٔ ته جَهنَّم ته د تللو حُکم اوفرمائي، هغه به عرض وکړي: يا **اللّٰه**! زهٔ ولې جَهنَّم ته ليږلے کيږم؟ اِرشاد به وشي: "نمونځونه د هغوئي د وخت تيرولو نه پس د ادا کولو او زما د نوم د دروغو قَسَمونه خوړلو په وجه." (اَلزَّوَاجِر ج١ ص٢٩٦) (جَهنَّم ميں لے جانے والے اعمال ج١ ص٤٤٤، ٤٤٥)

## تور ماريې خُله خوړله! (حِکايَت)

حضرت عَلَّامه مُفتي عِنايت احمد کاکوروي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه (وفات: 1279 هجري) ليکي: په "شَرحِ بَرزَخ" کښې لِيک دي چې په بَغداد کښې د يو مالدار سړي لور په حَق ورسيدله، د ساه ختلو نه پس خلکو د دستور مطابق په هغې ځادر واچولو، بيا يې چې ترينه د کَفَن دَفَن (د بندوبست د پاره) ځادر لرې کړو نو څه ګوري چې يو تور **مار** لګيا دے د هغې مخ چيچي او د هغې د ټول بدن نه راتاؤ شوے دے! خلکو غوښتله چې هغه **مار** اُووهي، د هغه مړي پلار اُووئيل: دا هغه **مار** نهٔ دے چې په وهلو به لرې شي، دا **مار** غَضَبِ اِلٰهی معلوميږي، پس د هغې نه هغه **مار** ته ورنزدې شو او ورته يې اُووئيل چې "زهٔ پوهه يم چې تهٔ د خُدائے په حُکم راغلے يې خو مونږ ته هُم د دې حُکم دے چې د رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو مطابق د مړي کَفَن دَفَن وکړو" دا يې چې واوريدل نو هغه **مار** د هغه جينۍ نه لرې شو او لاړو د کور په يو ګوټ کښې کښيناستو. چې هغې ته يې غُسل ورکړو او کفن يې ور واغوستلو او جنازه پورته کول يې غوښتل نو هغه **مار** راټوپ کړو او د هغه مړي نه هُم هغسې راتاو شو، تر دې چې د هغې سره ښخ شو. خلکو د هغې د پلار نه تپوس وکړو چې دې جينۍ به څه ګُناه کوله چې د هغې په سبب په دې داسې عذابِ شدِيد (يعنې سخت عذاب) ښکاره شو؟ هغه اُووئيل چې بله خو يې څه ګُناه نه کوله خو کله کله به يې **نمونځ** قضا کولو.

(مَحاسِن العمل و الافضل ص٧ تا ٨)

بے نمازی کی نحوست ہے بڑی
مرکے پائے گا سزا بے حد کڑی

د بيلمانځه سپرهٔ والے دے ډير زيات
مرګ نه پس به عذاب مومي دے ډير زيات

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## قَبُر کښې د وور شُعلې (حِکايَت)

د يو کس خور وفات شوه. چې هغه يې ښخه کړه او بيرته راغلو نو د رقم خلته (د پيسو تيلۍ) ترينه په قَبُر کښې لويدلې وه، لِهذا د خلتې راويستلو د پاره د خور قَبُر ته ورغلو او قَبُر يې اوکنستو، څه ګوري چې د خور په قَبُر کښې يې د وور لمبې بلې دي! هغۀ په قَبُر خاورې واچولې او خفه په ژړا د مور خوا ته ورغلو او تپوس يې ترينه وکړو چې مورې! زما د خور اَعمال څنګه وو؟ هغې اُووئيل چې بچيه ولې تپوس کوې؟ هغۀ عرض وکړو: ما د خپلې خور په قَبُر کښې د وور شُعلې او لمبې وليدلې. دا يې چې واوريدل نو مور يې هُم په ژړا شوه اَو ويې وئيل: کاش ستا خور به په **نمانځۀ** کښې سُستي کوله او د وخت تيرولو نه پس به يې **نمونځ** کولو (يعني اِرادَتاً به يې **نمونځ** قضا کړلو بيا به يې کولو). (مُکاشَفَةُ الْقُلُوب ص۱۸۹تا۱۹۰ مُلَخَّصاً)

## آه! مونږ خو ګرمي هُم نۀ شو برداشت کولے

اے د جَنَّت طلبګارو! په ويره ويره د **اللہ** پاک په بارګاه کښې توبه وکړئ، لږ سوچ خو وکړئ چې نن مونږه د دُنيا د وور نه څومره ويريږو! که په يو کور کښې وور ولګي نو د هغې اوسيدونکي لا څه چې خوا و شا اوسيدونکي هُم د ويرې نه خپل کورونه پريږدي او وتښتي! وور خو پريږدئ! که لږه شان ګرمي زياته شي نو زمونږه حال بد شي او په يوه ډِډه هُم ساعت نۀ تيريږي، افسوس! ډير افسوس! د دې تجرباتو لرلو باوجود هُم مونږه عِبرت او نصيحت نۀ حاصلوو!

## نمونځ نۀ کول د قضا راګرځولو نه غټه ګناه ده

د **اللہ** پاک د رَحمت اُميدوارو! چرته شيطان مو په دې وسوسه کښې اخته نۀ کړي چې د **نمانځۀ** قضا راګرځول سخته ګناه ده لِهذا که **نمونځ** پاتې شي نو قضا راګرځول نۀ دي پکار! داسې بالکل نۀ ده، قضا راګرځولو او توبه کولو سره د توبه قبليدلو او بخښنې مضبوط اُمِّيد دے

خو چې څوک د سره هډو نمونځ اونکړي [يعنې قضا را اُونهٔ کړځوي] نو په توبه باندې د هغهٔ نمونځ نهٔ معاف کيږي خو که **الله** پاک يو مسلمان په خپل شانِ کرِيمي بې حِسابه جَنَّت کښې داخل کړي نو هغه مالِک و مُختار دے. بهرحال د نمونځونو پابندي کوئ، که تير نمونځونه مو قضا کړي وي نو د هغې هُم حساب ولګوئ او د ټول عُمر د نمونځونو قضا راوګرځوئ! که نِيَّت صفا وي نو اِنْ شَآءَاللّٰه منزِل به آسان شي، تاسو هِمَّت وکړئ، مايُوسه کيږئ مهٔ! اِمامِ اَهلِسُنَّت مولانا شاه **اَحمد رضا خان** رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ فرمائي: که د يو کس په ذِمّه د ديرش، څلويښتو کالو نمونځونه وي **واجِبُ الْاَدا** (يعنې د کومو قضا راګرځول چې لازِم وي)، هغه د هٰغه ضروري کارونو نه علاوه چې د هغې نه بغير ګُزاره نهٔ کيږي، (او نور) کاروبار وغيره يې پريښودلو (او قضا راګرځول يې) شروع کړل او پخه اِراده يې وکړه چې ټول نمونځونو به کووم نو هله به دمه کووم! او فرض کړئ چې په هُم دې حالت کښې يوه مياشت پس يا يوه ورځ پس هغه وفات شو نو **الله** پاک به په خپل رَحمَتِ کامِله د هغهٔ ټول نمونځونه ادا کړي. قالَ اللهُ تعالیٰ (يعنې **الله** پاک فرمائي):

وَ مَنْ یَّخْرُجْ مِنْۢ بَیْتِهٖ مُهَاجِرًا اِلَى اللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ ثُمَّ یُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ اَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِؕ (پ۵ النساء:۱۰۰)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: څوک چې د خپل کور نه د **الله** او رَسُول طرف ته هجرت کوونکے اُوځي بيا هغهٔ ته په لاره کښې مرګ راشي نو د هغهٔ ثواب د **الله** په ذمّهٔ کرم ثابِت شو.

دلته مُطلق (يعنې بغير د څه قيد لګولو نه) فرمائيلې شوي دي چې د کوره يې يو قدم اُووِيستلو او مرګ يې راغے نو پوره عمل به د هغهٔ په نامهٔ اعمال کښې اوليکلے شي او کامِل (يعنې پوره) ثواب به اوکټي، هلته نِيَّتونو ته ګوري، ټول دار و مدار په **حُسنِ نِيَّت** (يعنې په ښهٔ نِيَّت) دے. (مَلفُوظاتِ اعلیٰ حضرت ص ۱۲۶)

## د نوکرئ په وجه نمونځ قضا کول ګناهِ کبیره ده

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د پینځهٔ وخته نمانځهٔ پابندي ډېره زیاته ضروري ده، د نوکرئ یا تِجارت یا تعلیم وغیره په وجه د یو وخت **نمونځ** قضا کول هُم ګُناهِ کبیره، حرام او جَهنَّم ته بوتلونکے کار دے، هلته د جُمعې ملاویدو باوجود یې که سَیټ [یعني د کار مالِک] د جُمعې کولو نه منع کوي نو داسې نوکري دې نهٔ کوي، که د نوکرئ په وجه **نمونځ** یا جُمعه هُم قضا کوي نو ګنهګار او د وور د عذاب حقدار به وي. د فرضو نمونځونو د جُمعې نه د منع کولو مالِک ته هیڅ اختیار نشته، که هغه یې منع کوي نو بیا دې هُم نهٔ منع کیږي او د نوکرئ په خاطر دې خپل **نمونځ** نهٔ پریږدي. او که نمونځ خو کوي، خو جُمعې سره د **نمانځهٔ** نهٔ کولو څه بل عُذر وي نو بیا جُمعه پریښودلو کښې باک نشته.

## په قیامت کښې نهٔ ویره نهٔ وارخطائي

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: درې قِسمه خلک داسې دي چې هغوئي به د قِیامت په ورځ د تورې کستورئ [د عطرو د ختو] په ختانو باندې وي، هغوئي ته به نهٔ د حساب ویره وي او نهٔ څه وارخطائي، تر دې چې د خلکو حساب به وشي: (۱) چا چې رِضائے اِلٰهی د پاره د قرآنِ پاک تِلاوت وکړو او د خلکو اِمامَت یې وکړو هله چې هغوئي د هغهٔ نه خوشحاله وي (۲) چا چې رِضائے اِلٰهی د پاره په جومات کښې اذان وکړو او خلک یې د **الله** پاک طرف ته را اُوبلل (۳) د چا چې په دُنیا کښې د رِزق په مُعامَله کښې ازمیښت اوکړے شو خو هغه ازمیښت هغه د اُخرَوِي اَعمالو نه غافِله نهٔ کړو. (شُعَبُ الْاِیمان لِلْبَیْهَقِی ج ۳ ص ۱۱۹ حدیث ۳۰۶۰)

## که ګناه اونکړم نو روزي نهٔ پیدا کیږي (حِکایَت)

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه "فَتَاوٰی رَضَوِیَّه" جِلد 23 صفحه 528 کښې فرمائي: (تابِعِي بُزُرګ) حضرتِ سَیِّدُنا سُفیان ثَورِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه یو کس د سرکاري نوکرئ نه منع کړلو (ځکه چې د حکومت بعضو نوکرو کښې د ظُلم او ګُناه نه بچ کیدل اکثر مشکل وي. دا یې چې واوریدل نو) هغهٔ اُووئیل: د بال

بچو به مې څه کيږي! (هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) اُوفرمائيل: لږ غوږ کيږدئ! [يعني واورئ!] دا کس وائي چې که زۀ د خُدائے نافرماني وکړم نو (هغه به) زما بال بچو ته روزي ورکوي او که اِطاعَت يې وکړم (يعني که د شريعت حُکم اُومنم او غَلَط کار پريږدم) نو (الله پاک به ما) بې روزئ پريږدي.
(فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج ۲۳، ص ۵۲۸)

## روزي د رَبِّ کرِيم په ذِمّهٔ کرم ده

ياد ساتئ! که د روزئ هره ذريعه وي او د هغې د پاره **نمونځ** پريښودلے شي نو په هغې کښې بَرَکت نۀ شي کيدے، روزي ورکول د هُم هغه پروردګار په ذِمَّـهٔ کرم ده چا چې **نمونځ** فرض کړے دے. د دولسمې سيپارې په شروع کښې دي:

وَ مَا مِنْ دَآبَّةٍ فِی الْاَرْضِ اِلَّا عَلَی اللّٰهِ رِزْقُهَا (پ۱۲ هُود:۶۰)

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او په ځمکه ګرځيدونکے يو خيز داسې نشته چې د هغه رِزق د الله په ذِمَّـهٔ کرم نۀ وي.

## رزق ورکول په الله پاک باندې واجِب نۀ دي

"تفسير صِراطُ الْجِنان" جِلد 4 صفحه 396 تا 397 کښې د دې آيت لاندې لِيک دي: عَلَّامه اَحمد صاوِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د دې آيت دا مُراد نۀ دے چې ژوندو خيزونو ته رِزق ورکول په الله پاک باندې واجِب دي ځکه چې الله پاک د دې نه پاک دے چې په هغهٔ باندې څه خيز واجِب شي بلکې د دې نه مُراد دا دے چې ژوندو خيزونو ته رِزق ورکول او د هغوئي کفالَت کول الله پاک په خپله ذِمَّـهٔ کرم باندې لازِم کړي دي او د دې خلاف نۀ کوي. د رِزق ذِمَّه واري اخستل يې "عَلٰی" سره ځکه بيان کړي دي چې د بنده په خپل **رب** باندې تَوَکُّل (يعني يقين) مضبوط شي او که هغه (د رِزق حاصلولو) اَسباب اختيار کړي نو په هغې (اسبابو) دې يقين نۀ ساتي بلکې صرف په الله پاک دې اِعتِماد او يقين ساتي، اَسباب دې صرف ځکه اختياروي چې الله پاک د اَسبابو اختيارولو حُکم فرمائيلے دے ځکه چې الله پاک

وزګار اوسیدلو والا بنده نهٔ خوښوي. د ځمکې د ژوندو ښېزونو يې خاص طور ذِکر ځکه فرمائيلے دے چې هُم دوئي د خوراکونو مُحتاجه دي او آسماني ژوندي ښېزونه لکه فرښتې او حُورِ عِين، هغوئي د دې رِزق مُحتاجه نهٔ دي بلکې د هغوئي خوراک تَسبِيح و تَهلِيل دے.

(صاوی ج ۳ ص ۹۰۰،۹۰۱)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** **اللّٰهُ** رَزَّاق باندې يقين ساتلو سره هميشه د روزئ ذريعه داسې مُلازَمَت (يعني نوکري) جوړول پکار دي چې په هغې کښې د **اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت** نافرماني کول نهٔ پيښيږي، چې **نمونځ** بلکې **جَمعه** پريښودل هُم پکښې نه وي. او سَيټ (يعنی مالِک) ته هُم پکار دي چې نمونځ ګُزاره مُلازِمان ساتي، که ملازم بيلمانځه وي نو هغه ته دې بيا بيا د **نمانځهٔ** ترغيب ورکوي.

## نمونځ ګُزاره خادِم (حِکايت)

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې رَسُولِ اکرم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرتِ سَيِّدُنا **اَبُوالْهَيْثَم بِن تَيِّهان** رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته اِرشاد اُوفرمائيلو: آيا ستا سره خادِم شته دے؟ هغوئي عرض وکړو: نه. خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: چې کله مونږ ته قيديان [په لاس] راشي نو راشهَ، چې کله حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له دوه کسان راوستلے شُو نو حضرتِ سَيِّدُنا **اَبُو الْهَيْثَم بِن تَيِّهان** رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په دربار کښې حاضر شولو، حُضُور نَبِيِّ کريم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته اِرشاد اُوفرمائيلو: په دوئي کښې يو خوښ کړه. هغوئي عرض وکړو: يا نَبِيَّ الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو يې راله خوښ کړئ، خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: د چا نه چې مشوره واخستے شي هغه امِين (يعني امانتدار) دے، (بيا يې د يو کس طرف ته اِشاره وکړه او ويې فرمائيل:) ته دا واخله ځکه چې دا ما په **نمانځهٔ** کولو ليدلے دے او د دهٔ مُتَعَلِّق د ښيګړې [يعني دهٔ سره د ښيګړې کولو] وَصِيَّت قبول کړه. (ترمِذِی، ج ٤ ص ١٦٣، ١٦٤ حديث ٢٣٧٦)

## ملازم هُم هغه ښهٔ دے چې نمونځ ګزاره وي

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حديثِ پاک د دې حِصّې (د چا نه چې مشوره

واخستے شي هغه اَمِين دے) نه لاندې ليکي: د قيامته پورې يـې دا قاعِده مقرره کړه چې که تاسو نه څوک مشوره اوغواړي نو په تاسو لازِمه ده چې هغهٔ ته خِلافِ مَصلَحَت مشوره مهٔ ورکوئ، که داسې مو وکړل نو تاسو خائِن (يعنې خيانت کوونکي) شوئ. مشوره اخستونکے اګر که دُښمن وي خو مشوره ښه ورکوئ. د حديثِ پاک د دې حِصَّې (تهٔ دا واخله ځکه چې دا ما په نمانځهٔ کولو ليدلے دے) نه لاندې ليکي: د دې نه معلومه شوه چې هميشه نمونځ ګُزاره مسلمان د خپل کار د پاره مُلازِم ساتئ، ښځه، اولاد، خادِمان، دوستان، خپلوان، هُم هغه ښهٔ دي کوم چې نمونځ ګُزاره وي، نمونځ ګُزاره سړے اِنْ شَآءَاللّٰه مُتَّقِي، پرهيزګاره او ښيګړه کوونکے وي، چې څوک د خُدائے نه نهٔ ويرېږي هغه به د بنده نه او د هغهٔ حق وهلو نه څه ويرېږي؟ د حديث مبارک د دې حِصَّې (او د دهٔ مُتَعَلِّق د ښيګړې وَصِيَّت قبول کړه) نه لاندې ليکي: د دې فرمانِ عالي دوه معنې کيدے شي: يوه دا چې دے خادِم ته هميشه د ښو خبرو نصيحت او وَصِيَّت کوه، د دهٔ اِصلاح هُم ستا په ذِمَّه ده، بله دا چې ته د دهٔ مُتَعَلِّق زما وَصِيَّت قبول کړه چې دهٔ سره د ښيګړې سُلوک کوه. هغه حضرت [يعني اَبُوالْهَيْثَم بِن تَيِّهان رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ] ترينه دا بله معنٰي واخستله او هغوئي چې کور ته لاړلو نو هغه يـې آزاد کړو. (مِراٰةُالمناجيح ج٦ ص ٦٣٠)

تو بھی نماز پڑھ تر انو کر پڑھے نماز ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ اے کاش! بچہ بچہ، برادر! پڑھے نماز

## نمونځ يوه پيمانه ده

تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو الْعَالِيَه رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: زهٔ چې د ډيرو ورځو سفر وکړم او د يو کس خوا ته (د حدِيثِ پاک اوريدلو د پاره) ځم او هلته ورسيږم نو د ټولو نه مخکښې د هغهٔ د نمانځهٔ جائزه اخلم، که هغه په نمونځ قائمولو او پوره طريقه باندې ادا کولو باندې اُو وينم نو هغه سره پاتې شم او د هغهٔ نه حديث اورم، [او] که هغه په نمانځهٔ ضائع کولو اُو وينم نو حديث اوريدلو نه بغير ترينه بيرته راځم او (په زړهٔ کښې) وايم (چې دے نمونځ ضائع کوي نو) د نمانځهٔ نه علاوه نور مُسْتَحَبّات خو به بدرجهٔ اَولٰی (يعنې د دې نه زيات) ضائع کوي.

(حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء ج٢، ص ٢٥٠ حديث ٢١١٩)

## ځوک چې فرض نهٔ ادا کوي هغه به قرض څه ادا کړي! (فرضي حِکايَت)

يو زلـمـے د يو پيژندګلو والا نيک نمونځ ګُزاره دُکاندار خوا ته ورغلو او د دُعـا سلام نه پس يـې هغهٔ ته اُووئيل: "ما ته پينځهٔ زره روپۍ قرض راکړه، درې ورځې پس به يـې درکړم." دُکاندار رقم شميرل شروع کړو او د هغهٔ نه يـې تپوس وکړو: زيات په کوم جومات کښې نمونځ کوې؟ هغه زلـمي جواب ورکړو: "زهٔ د نمانځهٔ په مُعامَله کښې کمزورے يم، نمونځ خو نهٔ کووم." دُکاندار چې دا واوريدل نو رقم يـې بيرته په ګله [دراز] کښې واچولو او ويـې وئيل: زهٔ تا ته قرض نهٔ شم درکولے. زلـمے حيران شو او ويـې وئيل: جناب! د نمانځهٔ د قرض سره څه تَعَلُّق دے! زهٔ پخه وعده کووم چې درې ورځې پس به قرض بيرته درکړم. خو دُکاندار د قرض ورکولو نه اِنکار وکړو او ويـې وئيل: "ځوک چې د **اللّٰه** پاک "**فرض**" نه ادا کوي هغه به زما "**قرض**" څه ادا کړي!" (دا حِکايت د اِحساس پيدا کولو د پاره بيان کړے شوے دے، البته بيلمانځه ته قرض ورکول جائز دي او دا هُم ضروري نه ده چې بيلمانځه کس به قرض اوخوري)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## "نيک اعمالو" باندې د عمل کولو سعادت ورنصيب شو

په زړهٔ کښې د نمونځونو جذبه زياتولو د پاره، او په زړهٔ کښې د نمونځونو قضا کولو نه ويره پيدا کولو د پاره د "نيک اعمالو" مطابق د عمل کولو په ذريعه ځان نيک جوړولو د پاره دعوتِ اسلامي سره خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ. راځئ چې يو مَدَنـي سپرلے واورو: د مُلتان يو اِسلامي ورور ديني ماحول ته راتلو نه مخکښې مسلسل په ګناهونو کښې اخته وو، د فلمونو کتلو خو دومره شوقي وو چې په يوه ورځ کښې به يـې درې او ځلور ځلور فلمونه هُم کتل، کوم وخت به چې پاتې وو هغه به يـې په بليئرډ لوبې کولو کښې ضائع کړو. فلمونو کښې د عِشقِيه فِسقِيه قيصو کتلو په وجه پخپله هُم په عِشقِ مَجازِي کښې اخته شوے وو. د عملي خرابۍ سره سره يو مصيبت دا هُم وو چې د بدو عقائدو خلکو ګير کړے وو. يوه ورځ

يـې په زړۀ کښې خيال پيدا شو چې ګورم چې دا دعوتِ اسلامي والا څه وائي! چنانچه خپل يو دوست سره يو ځائے د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع له لاړلو. هلته يـې چې د مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي بيان وغيره واوريدو نو زړۀ ته يـې سکون حاصل شو خو عَمَلي حالت يـې څه خاص بدل نۀ شو. يو اسلامي وررو سره يـې رابطه وه، هغۀ [اسلامي وررو] پرې کوشش وکړو او مُلتان کښې کيدونکـې د درې ورځو اِجتِماع له بوتللو کښې کامياب شو. هلته يـې ”د ګناهونو سزاګانې“ بيان واوريدو، هغې يـې په زړۀ ډير اثر وکړو او د سترګو نه يـې اوښکې جارې شوې، اَلْحَمْدُ لِلّٰه هغۀ د ګناهونو نه توبه وکړه او د دعوتِ اسلامي خوش عقيده ديني ماحول کښې شامل شو او د **نمانځۀ** او روژو د پابندئ سره سره يـې په سُنَّتو هُم عمل شروع کړو، او دومره باعمله شو چې رِساله **72** ”**نيک اعمال**“ کښې ورته په **71** باندې د عمل کولو سعادت هُم حاصل شو.

اے بیمارِ عِصیاں تو آجا یہاں پر  گناہوں کی دے گا دوا مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٨)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!  صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د چا چې نمونځ نشته د هغه هيڅ دين نشته

د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمَر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې د دواړو جهانو د سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: د چا چې امانت نشته د هغۀ هيڅ ايمان نشته، د چا چې طَهارت نشته د هغۀ هيڅ نمونځ نشته او د چا چې **نمونځ** نشته د هغۀ هيڅ دِين نشته ځکه چې په دين کښې د **نمانځۀ** هُم هغه مُقام دے کوم چې په بدن کښې د سر دے. (مُعْجَم اَوْسَط ج١ ص٦٢٦ حديث ٢٢٩٢) **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا چې **نمونځ** نشته د هغۀ په اسلام کښې هيڅ حِصَّه نشته. (مُسنَد بزار ج١٥ ص١٧٦ حديث ٨٥٣٩)

## چا چې نمونځ پرېښودو هغهٔ دِين اوغورزولو

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **نمونځ** د دِين ستن ده او چا چې **نمونځ** پرېښودو هغه دِين اُونړَولو (يعنې اوغورزولو). (اِحيَاءُ العُلُوم ج١ ص٢٠١)

## د نمانځهٔ په مُعامَله کښې د الله نه اووېرېږئ!

حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: مونږه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وفاتِ ظاهري په وخت کښې حاضر وو، خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ ته درې ځله اِرشاد اُوفرمائيلو: "**د نمانځهٔ په مُعامَله کښې د الله نه اوېرېږئ!**" (شُعَبُ الْاِيمان ج ٧ ص ٤٧٧ حديث ١١٠٥٣)

عَلَّامه مُناوِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې رِوايت لاندې فرمائي: يعنې د نمانځهٔ د پابندئ په ذريعه خپل ځان د **الله** پاک د غَضَب نه بچ کړئ په دې اُمِّيد چې ستاسو **رَبِّ کرِيم** راضي شي.

## نمونځ نهٔ کول د بې بَرَکتئ سبب دے

مُفتي سيِّد عبدُ الفتَّاح حُسيني قادِري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (وفات 1323 هجري) فرمائي: هميشه **نمونځ** جَمعې سره ادا کولو سره د نيک بختئ او مالدارئ بَرَکت حاصليږي، بد بختي او مُفلِسي (يعنې غريبي) لرې تښتي او جَمعه پرېښودلو سره او د دې نه علاوه بالکل **نمونځ** نه کولو سره بَرَکت ختميږي. (دولت بے زوال ص ٢٠)

## نمونځ نه کولو نه به بل زيات خلاف سُنَّت کار څه وي! (حِکايت)

د عارِف بِالله، شيخ صالِح سُليمان قادِري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دربار کښې يو ځل والِيِ مِصر اِبنِ طُولون حاضر وو، په هم دغه دوران کښې يو کس راغلو او عرض يې وکړو: "يا سيِّدِي! نن شپه ما په خوب کښې د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار وکړو، د هغوئې صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رنګ تور وو." شيخ سُليمان اُوفرمائيل: خپل خوب اِبنِ طُولون ته بيان کړه. هغه اِبنِ طُولون ته خپل

خوب واوروِلو نو اِبنِ طُولُون اُووئيل: کوم کس چې دا خوب ليدلے دے هغه په خِلافِ سُنَّت کارونو کښې مشغول دے ځکه چې د رَسُولِ پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخ مُبارک سپين وو او تور رنګ د سپين برعکس [يعني اَپوټه] دے، خوب ليدونکے ضرور د خِلافِ سُنَّت کار مُرتَکِب دے. هغه کس اُووئيل: ما د سُنَّتو خلاف يو کار هُم نۀ دے کړے، خو دومره خبره ضرور ده چې بعضې وخت د سستئ په وجه زما نه **نمونځ** پاتې شي. شيخ سُليمان قادِري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه اُوفرمائيل: **نمونځ** نۀ کولو نه بل زيات خِلافِ سُنَّت کار څه وي! **نمونځ** نۀ کول د تېرولو نه غټه ګناه ده، او د دې د سپيره والي په وجه د سړي مخ هُم تور شي. شيخ سُليمان قادِري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه هغه خوب ليدونکي ته نور اُووئيل: **نمونځ** نۀ کولو نه توبه وکړه او خپل پاتې شوي نمونځونه ادا کړه. (الكواكب السائرة بأعيان المائة العاشرة ج ٢ ص ١٤٧)

## اللّٰه پاک به غضب فرمائي

**اللّٰه** پاک حضرتِ سَيِّدُنا **داوٗد** عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي اُوفرمائيله: اے **داوٗد!** بـني اِسرائيلو ته اُووايه! چا چې يو **نمونځ** هُم پرېښودو، هغه به د قيامت په ورځ ما سره په داسې حال کښې ملاقات کوي چې زۀ به په هغۀ غَضَب کووم. (الزهر الفائح ص ٢٧)

## د تېرولو نه غټه بې حيائى

د اعلٰى حضرت والِدِ مُحترم، حضرت عَلَّامه مُفتي نقي علي خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: "**نمونځ** پرېښودل او د خپل مالِک حُکم نۀ منل د تېرولو ګناهونو نه غټه ګناه او د تېرولو بې حياګانو نه غټه بې حيائي ده" (انوارِ جمالِ مُصطفٰے ص ٣٤٥)

## د اَعمالو بربادي

اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې د حُضُور نَبِـيّ کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډک اِرشاد دے: چا چې قَصداً (يعني اِرادَتاً) **نمونځ** پرېښودو، **اللّٰه** پاک به د هغه عملونه برباد کړي او د **اللّٰه** پاک ذِمّه به د هغۀ نه اوچته شي، تر څو چې هغه د

**اللّٰه** پاک په بارګاه کښې توبه اونکړي. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب ج۱ص ۲۱٦ حدیث ۱۸)

## بیلمانځه نه د اِسلام امان اوچتیږي

د حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو دَرداء رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه رِوایت دے چې د **اللّٰه** پاک خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته وَصِیَّت وکړو: یو څیز هُم د **اللّٰه** پاک شریک مه جوړوه اګر که ځوک دې مړ کړي یا دې اوسیزي او فرض **نمونځ** قَصداً (یعني اِرادَتاً) مهٔ پریږده ځکه چې دا [یعني نمونځ] چا عَمَداً (یعني اِرادَتاً) پریښودلو د هغهٔ نه ذِمَّه اوچته کړے شي. او شراب مهٔ څښه ځکه چې دا د هر شر (یعني هرې بدئ) کنجي ده. (اِبنِ مَاجَه ج٤ ص ۳۷٦ حدیث ٤۰۳٤)

## ”د هغهٔ نه ذِمَّه اوچته کړے شي“ معنٰی

**حَکیمُ الاُمَّت**، حضرت مُفتي اَحمد یار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د حدیثِ پاک د دې حِصَّې (د هغهٔ نه ذِمَّه اوچته کړے شي) نه لاندې لیکي: یعني بیلمانځه نه د اسلام امان اوچت شو، هغهٔ ته حاکم په دې (یعني نمونځ پریښودلو) باندې د سختې نه سخته سزا ورکولے شي. یا دا مطلب دے چې نمونځ ګُزاره د **اللّٰه** پاک په امان (یعني حفاظت) کښې اوسیږي، د سوونو مصیبتونو نه **محفوظه** اوسي، بیلمانځه د دې نه **محرومه** وي. (مِراٰةُ المناجیح ج۱ ص ۳٦۹) په یو مقام کښې لیکي: بیلمانځه د **اللّٰه** په امان کښې (یعني حفاظت) کښې نهٔ اوسیږي، د **نمانځهٔ** په بَرَکت انسان په دُنیا کښې د آفتونو نه، د مرګ په وخت کښې د بدې خاتِمې نه، **قَبر** کښې د ناکامه کیدو نه، او حشر کښې به د مصیبتونو نه **بِفَضْلِهٖ تعالٰی** (یعني د **اللّٰه** پاک په فضل) په اَمن کښې اوسیږي. صوفِیا فرمائي چې د وظیفو، عَمَلِیاتو او د تعویذاتو د فائدو حاصلولو د پاره د **نمانځهٔ** پابندي ضروري ده، د شیخ او مُرید دواړو د پاره. (مِراٰةُ المناجیح ج۱ ص ۷۹)

## چې کله یې بِینائي ختمه شوه (حِکایت)

چې کله د حضرتِ سَیِّدُنا عبدُاللّٰه اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا بِینائي ختمه شوله نو عرض ورته

اوکړے شو چې مونږ به ستاسو علاج وکړو، آیا تاسو د دې د پاره یو څو ورځې **نمونځ** پریښودے شئ؟ هغوئي اُوفرمائیل: نه، ځکه چې د دواړو جهانو سردار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: چا چې **نمونځ** پریښودو نو هغه به **اللّٰه** پاک سره په داسې حال کښې ملاقات کوي چې **اللّٰه** پاک به د هغۀ نه ناراضه وي. (مَجۡمَعُ الزَّوائِد ج ۲ ص ۲۶ حدیث ۱۶۳۲)

## د اللّٰه دوست څوک؟ او دُښمن څوک؟

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: **اللّٰه** پاک اِرشاد فرمائي: درې خیزونه داسې دي چا چې د هغې حفاظت وکړو هغه زما رښتینے دوست دے او چا چې هغه ضائع کړل هغه زما دُښمن دے (۱) (پینځۀ واړه فرض) نمونځونه (۲) (د رَمَضان) روژې (۳) د جَنابَت نه غُسل.

(شُعَبُ الۡاِیۡمان ج ۳ ص ۹۱ حدیث ۲۷۴۹)

## د حدیث شرح

**حضرتِ** عَلّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوِي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ د دې حدیثِ پاک لاندې لیکي: د "**رِښتیني دوست**" نه مُراد دا دے چې **اللّٰه** پاک به د هغۀ ضامِن جوړ شي او د هغۀ حفاظت به فرمائي او د **نمونځ** ضائع کوونکي کس د "**اللّٰه** پاک دُښمن" کیدو نه مُراد دا دے چې که د **اللّٰه** پاک عَفو و کرم (یعنې معاف کول او مهرباني کول) د هغۀ شامِلِ حال نه شو نو **اللّٰه** پاک به هغه ته عذاب ورکوي او هغه به بې عِزّته کړي. (فیض القدیر ج ۲ ص ۳۸۳ مختصراً) یاد ساتئ چې د **اللّٰه** د دُښمن لفظ په حقیقت کښې صرف د کافرو د پاره دے.

## د ټولو نه اَهَم کار نمونځ دے

تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَیِّدُنا نافِع رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ نه رِوایت دے چې اَمیرُ الۡمُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د خپلو صوبو ګورنرانو ته فرمان ولیږلو چې ستاسو د ټولو کارونو نه اَهَمّ [کار] زما په نزد **نمونځ** دے، چا چې د دې "حِفظ" وکړو او د دې مُحافَظَت یې وکړو (د

حِفظ او مُحافَظَت وَضاحَت مخکښې راروان دے) هغهٔ خپل دِين محفوظ وساتلو او چا چې دا ضائع کړو هغه به نور [حقونه] د دې نه زيات ضائع کوي. (مؤطا امام مالِک ج۱ص۳۵ حديث۶)

## نمونځ د ايمان پيژندګلو ده

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: ”**نمونځ** د اِيمان عَلامت (يعني پيژندګلو) ده نو څوک چې د **نمانځهٔ** د فرائضو، سُنَّتو او آدابو لِحاظ ساتلو سره په صِدق (يعني رښتيني) زړهٔ سره د دې مُحافَظَت کوي هغه مومِن دے.“ (اَلْفِرْدَوْس بِمَأثُور الْخطاب ج۳ص۴۱ حديث۴۱۰۲)

## د ”حِفظ“ او ”مُحافَظَت“ معنٰی

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ د دې فرمانِ فاروقي (ستاسو د ټولو کارونو نه اَهَمّ [کار] زما په نزد **نمونځ** دے) نه لاندې په **مِراٰة** جِلد 1 صفحه 376 کښې فرمائي: يعني د سَلطَنَت کارونه او مُلکي انتظام د **نمانځهٔ** نه پس دي، چې د **نمانځهٔ** وخت راشي نو ټول کارونه په خپل ځائے پريږدئ (او **نمانځهٔ** کښې مشغول شئ) د دې نه دوه مسئلې معلومې شوې: **يوه** دا چې سُلطانِ اسلام ته پکار دي چې د رِعايا دِيني حالات صحيح کړي، صرف په دُنيا دې نظر نهٔ ساتي، **بله** دا چې ”غټ صحيح کړه نو واړه به پخپله صحيح شي!“ په هُم دې وجه هغوئي حُکامو ته خُصوصِيَت سره خِطاب وکړو (چا چې دا ضائع کړو هغه به نور د دې نه زيات ضائع کوي). د حِفظ نه (دلته) مُراد **نمونځ** په صحيح طريقه کول دي او د **مُحافَظَت** نه مُراد هميشه او په صحيح وخت ادا کول دي. د دې فرمان نه معلومه شوه چې څنګه د **نمانځهٔ** پابندي د ټولو نيکو دروازه برسيره کوي هُم دغسې **نمونځ** پريښودل د ګناهونو دروازه برسيره کوي، **ربّ** (تعالیٰ) فرمائي:

اِنَّ الصَّلٰوۃَ تَنۡهٰی عَنِ الۡفَحۡشَآءِ وَ الۡمُنۡکَرِ ؕ (پ۲۱، العنکبوت: ۴۵)

([مَفهوم] ترجمهٔ کنزُالايمان: بيشکه نمونځ منع کول کوي د بې حيائي او بدې خبرې نه)

(مِراٰةُ المناجيج ج۱ص ۳۷۶)

## د نمونځونو د مُحافَظَت نور وَضاحَت

اِمام شَرفُ الدِّين حُسَين بِن محمد طِيبِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: **مُحافَظَت** نه مُراد دا دے چې **نمانځهٔ** نه غفلت اونکړي، هغه دې د هغې په وختونو کښې ادا کړے شي، د هغې ارکان دې پوره طور ادا کړے شي او خپل ځان دې د دې کارونو په اِهتِمام کښې مصروف کړے شي د کومو په ذريعه چې **نمونځ** کامِل کيږي. (شرح الطيبى ج٢ ص١٩٣)

## خلک د خپل بادشاه په دِين وي (محاوره)

اِمام ابو عُمَر اِبنِ عبدُ الـبَرّ رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: حضرتِ سَيِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په خپل شاهي فرمان کښې حُکّام ځکه مُخاطَب کړل چې خلک په هغوئي پسې روان وي، څنګه چې مثال بيانيږي چې اَلنَّاسُ عَلٰى دِيْنِ الْمَلِك (خلک د بادشاه په دِين وي)، د **الله** پاک د خوږ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: "زما د اُمَّت دوه قِسمه خلک که صحيح شول نو ټول خلک به صحيح شي او هغه حُکام او عُلَماء دي. (اَلْفِرْدَوْس بِمَأْثُوْر الْخطَاب ج٢، ص٤٠٢ حديث٣٧٨٤)" اِبنِ عبدُ الـبَرّ رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نور فرمائي: کوم کس چې **الله** پاک د رِعايا حُکمران جوړ کړے وي په هغهٔ لازِم دي چې هغه د هغوئي سره دا ښيګړه وکړي چې د هغوئي څارنه کوي او په دِيني مُعامَله کښې د ښيګړې کولو نه بله کومه ښيګړه کيدے شي! او هغه ښيګړه کول هُم د هغهٔ سره څوک چې **نمونځ** نهٔ کوي (هغه نمونځ ګُزاره جوړ کړي) تر دې چې د **نمانځهٔ** په باره کښې راځي چې د چا **نمونځ** نشته د هغه هيڅ دِين نشته. د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد دے: "کوم بنده چې **الله** پاک د رِعايا حُکمران جوړ کړے وي او هغه [د هغوئي] د خير غوښتلو په ذريعه د هغوئي نګراني [څارنه] اونکړي داسې کس به د جَنَّت خوشبو هُم اُونه مومي" (بُخاری ج٤ ص٤٥٦ حديث ٧١٥٠) حضرتِ سَيِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د خپلې رِعايا د پاره د شَفِيق (يعني مهربانه) پلار په شان وو ځکه چې هغوئي ته دا عِلم وو چې د هر نګران نه به د هغهٔ د ماتحتو په باره کښې

تپوس کيږي. (الاستذکار ج۱ ص۸٤) الغَرَض بيلمانځه کس سره بهترينه ښيګړه دا ده چې هغه نمونځ ګُزاره جوړ کړے شي.

## بيا بيا غوږزيدلو نه پس آخر مضبوط ودريدلو

په نمونځونو باندې اِستِقامت حاصلولو د پاره، خلکو ته د نمانځهٔ د ترغيب ورکولو جذبه زياتولو د پاره او د نمانځهٔ اوداسه مسائل پخپله زده کولو او نورو ته زده کولو د پاره هُم دعوتِ اسلامي سره خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ! **مَدَني سپرلے:** د اُکاړه (پنجاب) د نزدې علاقې شفيق نکر يو اِسلامي ورور په نمونځونه باندې اِستِقامت حاصلولو نه مَحرومه وو، ځو ځو مياشتې به جومات ته تللو نه مَحرومه وو، د دُنيا د مَحبَّت پرې داسې غَلَبه وه چې د مرګ تذکره به پرې ښه نهٔ لګيده، نفس او شيطان به ورته په زړهٔ کښې دا خبره اچوله چې ښې مزې کوه! چې هر څه کيږي بيا به ګورو! د بې عِلمئ يـې دا حال وو چې د غُسل د اَهَمو مسائلو نه هُم ناخبره وو، په هُم دې وجه به بعضې وخت په ناپاکه حالت کښې جومات ته نمانځهٔ له لاړو. د هغهٔ د قِسمت ستورے داسې اوځليدو چې يوه ورځ د ماسپښين نمانځهٔ له جومات ته لاړو. جَـمعه شوې وه نو يواځې نمونځ يـې وکړو. هغه وخت د دعوتِ اسلامي مَدَني قَافِله جومات کښې موجوده وه، د عاشِقانِ رَسُول مخونه په ږيره مبارکه او [سرونه] د عِمامې په نُور روښانه وو. چې کله هغه د نمانځهٔ نه فارِغه شو نو د مَدَني قافلې يو اِسلامي ورور د هغهٔ خوا ته ورغلو او د سلام او مُصافَحه [يعنې لاس ملاوولو] نه پس يـې د هغهٔ ملاقات د اميرِ قافِله سره وکړو. هغوئي پرې کوشش وکړو او په **مَدَني قَافِله** کښې د سفر کولو ترغيب يـې ورکړو، هغهٔ اُووئيل چې زهٔ خو اِجتِماع له هُم نهٔ ځم او تاسو ما ته مَدَني قافله کښې د سفر کولو دعوت راکوئ! په دې خبره باندې اميرِ قافِله د حِکمتِ عَمَلئ سره په هغهٔ باندې نور کوشش وکړو نو هغهٔ نِيَّت ښکاره کړو چې کله راته موقع مِلاؤ شوه نو مَدَني قَافِله کښې د سفر کولو سعادت به حاصلووم. د هغې نه پس کور ته واپس لاړو. د مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي د اِنفرادي کوشش دا فائده وشوه چې هغه د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع ته تللو ته تيار شو او تقريباً دوه مياشتې

پس د يو خپلوان سره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع ته حاضر شو. هلته يـې چې مَدَني قَافِله وليده نو زړهٔ يـې خوشحاله شو، بيا خوش قسمتئ سره دويم ځل هُم اِجتِماع کښې حاضر شو او چې کله اِجتِماعي دُعـا کيدله نو د سترګو نه يـې اوښکې رواني شوې او د خپل پروردګار په بارګاه کښې يـې توبه اِسْتِغْفار شروع کړو. د هغې نه پس صلوٰة و سلام پيش کړے شو او بيا د اِسلامي وروڼو خپل مينځ کښې د ملاقات سلسله شروع شوه نو د يو پخواني دوست ورسره ملاقات وشو او هغه په اِجتِماع کښې د دهٔ په شريک کيدلو باندې ډير خوشحاله شو، هغه پخواني دوست د هغهٔ ملاقات نورو اِسلامي وروڼو سره هُم وکړو، هغوئي ورسره په مَحبَّت سره مِلاؤ شو او تُحفه يـې هُم ورکړه. دا مَحبَّتونه يـې چې وليدل نو زړهٔ يـې ډير زيات خوشحاله شو، د عمل جذبه يـې بيداره شوه او بِيره خرئيل يـې پريښودل خو نفس و شيطان دا کله برداشت کولے شوه چې هغه دې بِيره پريږدي، چنانچه دوه هفتې پس يـې بِيره اوخرئيله. بيا هغهٔ ته د مَكْتَبَةُالْمَدِينه نه جاري شوو بياناتو اوريدلو موقع مِلاؤ شوه نو د ګناهونو نه د بچ کيدلو ذِهن يـې جوړ شو او هغهٔ يو ځل بيا بِيره خرئيل پريښودل، چې د رمضان مياشت تيره شوه نو يو ځل بيا پرې شيطان غَلَبه وکړه او بِيره يـې اوخرئيله. بيا يـې يوه ورځ ځان ته په آئنه کښې اوکتل نو خپل مخ يـې چې د بِيرې د نُور نه خالي اوليدو نو زړهٔ کښې ډير شرمنده شو او خپل ضمير ملامته کړو. هغهٔ يو ځل بيا پخه اِراده وکړه چې نور زما څټ خو کټ کيدے شي خو زما بِيره نه شي کټ کيدے، اللہ پاک اِستِقامت ورکړو او مُستقل طور بِيره پريښودلو کښې کامياب شو. د دعوتِ اسلامي مَدَني قَافِله کښې د سفر په بَرَکت ديني ماحول ته نور نزدې شو، په ژوند کښې يـې د نيکو سپرلے راغـے، اخلاق و کردار او ظاهِر و باطِن يـې صحيح کيدل شروع شو. اَلْحَمْدُلِلّٰه هغهٔ ته د ذيلي مشاورت د نګران په حيثيت د ديني کارنو کولو موقع هُم حاصله شوه.

الفت مصطفٰے اور خوفِ خدا    چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٦٩)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!    صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

## نمونځ ضائع کول د قيامت نزدې راتللو نښه ده

د اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرت عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې د نبيِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيْم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډک فرمان دے: د قيامت نزدې کيدلو نښه ده چې تاسو به خلک په نمانځهٔ ضائع کولو وِينئ. (کَنْزُ الْعُمّال ج ١٤ ص ٢٤٣ حديث ٣٩٦٣٢)

## د نمانځهٔ "ضائع" کولو معنٰی

حضرت عَلَّامه محمد بِن عبدُ الرَّسُول بَـرزَنجـي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه (وفات: 1103 هجري) د دې حديثِ پاک لاندې ليکي: د **نمانځهٔ** ضائِع کولو نه مُراد دا دے چې خلک به يا خو بالکل **نمونځ** نهٔ کوي يا که کوي نو د هغې فرض يا واجب به پرېږدي او دا د هُغه حديث خلاف نهٔ دې په کوم کښې چې دا دي چې "د دې اُمَّت نه به د ټولو نه مخکښې امانت او د ټولو نه آخره کښې **نمونځ** اوچت کړے شي" ځکه چې د هغې نه مُراد دا دے چې د **نمانځهٔ** صُورت [يعني شکل] به باقي پاتې وي او دلته د **نمانځهٔ** ضائِع کولو نه مُراد دا دے چې هغوئې به نمونځ خُشُوع سره يا د هغې د شرائطو سره نهٔ ادا کوي. (الاشاعة الاشراط الساعة ص ١٢٣)

## قيامت ته نزدې به د ډېرو زياتو خلکو نمونځ نهٔ قبليږي

د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُاللّٰه اِبنِ مسعُود رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: د قيامت نزدې کيدلو نښه دا ده چې پنځوس کسان به **نمونځ** کوي خو په هغوئې کښې به د هيچا **نمونځ** هُم نهٔ قبليږي. (اَلجامِعُ الصَّغِير ص ١٥٠ حديث ٢٤٨١)

## شرحِ حديث

**عَلَّامه محمد** بِن عبدُ الرَّسُول **بَـرزَنجي** رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې ليکي: د دې معنٰی دا ده چې هغوئې به د **نمانځهٔ** د شرائطو او ارکانو لحاظ نهٔ ساتي چې د هغې په سبب به د هغوئې **نمونځ** صحيح نهٔ وي او په هُم دې وجه به د هغوئې **نمونځ** نهٔ قبليږي. (الاشاعة الاشراط الساعة ص ١١٤)

**حضرت** عَلَّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې حديث لاندې ليکي: په هغوئي کښې به د يو **نمونځ** هُم څکه نهٔ قبليږي چې د عِلم کمي به وي او د جَهالَت غَلَبه به وي، تر دې چې هغوئي ته به څوک داسې کس نهٔ ملاويږي چې هغوئي ته **د دِين د ستنې** [يعنې] **نمانځهٔ** اَحکام زده کړې او دِيني اَحکامو کښې د هغوئي رهنُمائي وکړي او د هغوئي عبادت صحيح کړي او حقيقت دا دے چې د پنځوسو شمير د حَد بندئ د پاره نهٔ دے بلکې د کثرت بيانولو د پاره دے (يعنې د نمونځ کوونکو ډير زيات شمير به داسې وي چې د هغوئي **نمونځ** به نهٔ قبليږي). (فيض القدير ج ٢ ص ٦٧٩ حديث ٢٤٨١، التيسير ج ١ ص ٣٤٧)

## نمونځ پرېښودونکے بد بخته او محرومه دے

تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يوه ورځ صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته اِرشاد اُوفرمائيلو: ”دُعا وکړئ، يا **الله**! په مونږ کښې بدبخته او محرومه کس مهٔ پاتې کوې.“ بيا يې اِرشاد اُوفرمائيلو: آيا تاسو ته معلومه ده چې محرُومه او بدبخته څوک دے؟ صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض وکړو: يارَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! هغه څوک دے؟ نو ويې فرمائيل: نمونځ پرېښودونکے. (اَلزَّوَاجِر ج ١ ص ٢٩٦)

## د دوزخيانو نچوړ

د **الله** پاک آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: چا چې يو **نمونځ** د نشې په حالت کښې پرېښودو، لکه دُنيا او په دې کښې موجود هر څه چې د هغهٔ سره وو او په زور ترينه واخستلے شو او چا چې څلور نمونځونه د نشې په حالت کښې پرېښودل نو په **الله** پاک باندې حق دے چې په هغهٔ باندې د طِيْنَةُ الْخَبَال نه اوڅښي. عرض اوکړے شو **طِيْنَةُ الْخَبَال** څه دي؟ اِرشاد يې اُوفرمائيلو: د دوزخيانو نچوړ (يعنې نوونه او وِينې). (مُسْنَد اِمام اَحمَد بِن حَنْبَل، ج ٢ ص ٥٩٣ حديث ٦٦٧١)

## د تورو مارانو د زَهرو کوټ

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** نشه هسې هُم حرامه ده، بيا د دې په وجه نمونځونه پاتې

کيدل هُم د عذاب باعِث دي. شراب بې حده خراب او د سخت عذاب باعِث دي، دې ته خو نزدې ورتلل هم نهٔ دي پکار. **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: چا چې په دُنيا کښې شراب وڅښل، **الله** پاک به په هغه باندې د تورو مارانو د زَهرو داسې کُوټ اوڅښي چې د هغې د څښلو نه مخکښې به د هغهٔ د مخ غوښې په لوښي کښې راپريوځي، او چې کله هغه اوڅښي نو د هغهٔ غوښې او پوستکے به ورژيږي چې د هغې نه به دوزخيانو ته هُم تکليف رسي، ياد ساتئ! بې شکه شراب څښلو والا، جوړوونکے او په بل جوړولو والا، اوچتوونکے او په بل اوچتوونکے او د دې ګټه خوړلو والا، ټول په ګناه کښې شريک دي، **الله** پاک به نهٔ خو په دوئي کښې د چا **نمونځ** قبول کړي، نهٔ روژه او نهٔ حج، تر دې چې هغوئي توبه وکړي، که بې توبه مړهٔ شو نو په **الله** پاک باندې حق دے چې په هغوئي په دُنيا کښې د څښلې هر کُوټ په بدله کښې د جَهنَّم نوونه اوڅښي. خبر شئ! هر نشه راوستونکے څيز حرام دے او هر شراب حرام دي. (جَہنَّم میں لے جانے والے اعمال ج ۲ ص ۵۸۲) (اَلزَّوَاجِرُ ج ۲ ص ۳۱٦)

**مُفتي** احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د يو بل رِوايت لاندې د **طِيْنَةُ الْخَبَال** په باره کښې ليکي: **خَبَال** په معنٰى د فساد، **طِيْنَةُ** په معنٰى د بدبُوداره نچوړ، دا به ډير زيات ګرم او ډير بدبُوداره، ټِينګ ټِينګ وي، سخت خراب خوند چې [بنده ته] په کتلو اُلټئ ورشي او په زړهٔ باندې يـې خرهٔ راشي خو د تندې او لوَږې د وجهې به په څښلو **مجبوره** وي. د **الله** پناه! (مِرآۃُ المناجیح ج ٦ ص ٦٦١)

## خوفناک ماران او د قچر په شان لړمان

منقُول دي: په جَهنَّم کښې يوه کنده ده چې د هغې نوم "**لَمْلَم**" دے، په هغې کښې د اوښ د څټ په شان پيړ پيړ **ماران** دي، د هر مار اوږدوالے د يوې مياشتې د فاصلې هومره دے، چې کله هغه مار بيلمانځه کس اوچيچي نو زهر به يـې په بدن کښې د اوياؤ (70) کالو پورې جوش وهي. او په دوزخ کښې يوه کنده ده چې د هغې نوم "**جُبُّ الْحُزْن**" دے، په هغې کښې د تور قچر په شان **لړمانان** دي، د هر لړم اويا لشکې دي او په هره لشکه کښې د زهرو پونډ ده،

هغه لړم چې کله بيلمانځه کس اوچيچي نو زهر به د هغه ټول بدن کښې خواره شي او د هغه زهرو ګرمي د زرو کالو پورې وي، د هغې نه پس د هغه (بيلمانځه) د هډوکو نه غوښې اورژيږي او د شرمګاه نه يـې نوونه روان شي او ټول دوزخيان پرې لعنت وائي. (قرة العيون معه الروض الفائق ص ٣٨٥) (نیکیوں کی جزائیں اور گناہوں کی سزائیں ص ٢١ مُلَخَّصاً)

اے د عذاب نه ويريدونكو اِسلامي وروڼو! په لړزان شئ! او په ويره ويره د **الله** پاک په بارګاه کښې د زړۀ په صِدق توبه وکړئ او د نمونځونو اهتمام شروع کړئ، ګنې ياد ساتئ چې د **الله** پاک عذاب به څوک هُم برداشت نۀ کړے شي.

## بې غوښې مخونه

په "**قُرَّةُالْعُيُوْن**" کښې نقل شوي يو حديثِ پاک کښې دا مضمون دے چې د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّت لس [قِسمه] کسان داسې دي چې په هغوئي به **الله** پاک د قيامت په ورځ غَضَبناک وي، د هغوئي مخونه به د غوښې نه بغير د هډوکو ډانچه وي او د هغوئي جَهنَّم طرف ته د بوتللو حُکم به اوفرمائي. هغه لس [قِسمه] کسان دا دي: (١) بوډا زناکار (٢) ګُمراه پيشوا [يعني ګُمراه دِيني مشر] (٣) د شرابو عادت لرونکے (٤) د مور او پلار نافرمانه (٥) **چُغل** خور (٦) د دروغو ګواهي ورکوونکے (٧) زکوٰة نۀ ورکوونکے (٨) سُود خور (٩) ظالِم او (١٠) **بيلمانځه**. خو **بيلمانځه** د پاره به دوه هومره عذاب وي او بيلمانځه به په ورځ د قيامت په داسې حال کښې پاڅي چې دواړه لاسونه به يـې څټ سره تړلي شوي وي او فرښتې به يـې وهي، جَنَّت به هغه ته وائي: "نۀ تۀ زما نه يـې او نۀ زۀ ستا نه يم." او جَهنَّم به ورته وائي: تۀ زما نه يـې او زۀ ستا نه يم، په **الله** پاک مې دې قَسَم وي! يقيناً زۀ به تا له سخت ترين عذاب درکووم. هُغه وخت به د هغه (بيلمانځه) د پاره د دوزخ دروازه برسيره شي او د تيز رفتار غشي په شان به د هغې په دروازه کښې داخِل شي، او د هغۀ سر به په څټکو وهلے کيږي او د جَهنَّم په هُغه طَبقه کښې به وي په کومه کښې به چې فِرعَون، هامان او قارُون وي. (مُلَخَّص از قُرَّةُالْعيون ص ٣٨٤) (نیکیوں کی جزائیں اور گناہوں کی سزائیں ص ١٨، ١٩ ملخَّصاً)

## د يو سيکنډ کروړمه حِصَّه به هُم عذاب برداشت نۀ شي

ولې چې فِرعَون، هامان او قارُون کفّار وو لِـهذا هغوئي به هميشه هميشه په جَهنَّم کښې اوسيږي خو بيلمانځه مسلمان مَعَاذَالله که دوزخ ته لاړ شي نو آخر به د جَهنَّم نه راويستلے شي او جَنَّت ته به داخل کړے شي، خو ياد ساتئ! د جَهنَّم عذاب به څوک د سيکنډ کروړمه حِصَّه هم برداشت نۀ کړے شي. د جَهنَّم مختصر حال واورئ او د الله د ويرې نه په لړزان شئ.

## د جَهنَّم عذاب او د دُنيا تکليفونه

جَهنَّم د قَهرِ قَهّار او غَضَبِ جَبّار مَظهَر (يعنې د الله پاک د غضب ښکاره کيدو ځائے) دے څنګه چې د الله پاک د رحمتونو او نِعمتونو اِنتِها (يعنې حَد) نشته او انساني عقل د هغې اندازه نۀ شي لګولے هُم دغسې د الله پاک د قَهر و غَضَب هُم هيڅ حد نشته. هر هُغه تکليف ورکوونکے څيز چې د هغې تَصَوُّر کيدے شي د هغۀ (يعنې د الله پاک) د بې اِنتِها عذاب يوه معمولي حِصَّه ده. مَثَلًا د څه مشين په ذريعه د ژوندي انسان نُوکان ويستل، څوک په چړو يا ډانګو وهل، په چا د پاسه وزندار ګاډے خيژول او د هغۀ هډوکي چقني کول، د چا د سر ويښته نيولو او راښکلو سره د هغۀ په وازه خُله کښې د ټوپک ډز کول، د چا اندامونه کټ کول او په هغې د پاسه مرچکي او مالګې دوړول، په ژونديني خرمن ويستل، د بې هوشۍ نه بغير آپريشن کول، يا د مختلفو بيمارو تکليفونه مَثَلًا د سر درد، تبه، د خيټې درد يا خطرناکې بيمارۍ مَثَلًا د زړۀ دَوره، کينسر، د ګُردې د کاڼي درد، خارښ، ډير زيات ګبراهټ [وارخطائي، ويره] وغيره وغيره، هر مرض او دُنيوي مصيبت چې د هغې تَصَوُّر کيدے شي هغه د جَهنَّم د تکليفونو په مقابله کښې هيڅ هُم نۀ دي. فرض کړئ که د دُنيا ټولې بيمارۍ او مصيبتونه په يو کس راجمع شي نو بيا هُم د جَهنَّم د ټولو نه وړوکي عذاب هومره هُم نۀ شي کيدے.

## د جَهنَّم د ټولو نه وړوکے عذاب

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: چا ته به چې د جَهنَّم د ټولو نه د کمې درجې عذاب

[ورکولے] کيږي هغه ته به د وور څپلۍ د تسمو (يعني د ترلو والا مزو) سره په بنپو کړے شي، چې په هغې به د هغهٔ دِماغ داسې خوټکيږي څنګه چې د تانبې پتيله خوټکيږي، هغه به دا ګڼي چې د ټولو نه زيات عذاب ما له راکولے کيږي حالانکې هغه له به د ټولو نه کم عذاب ورکولے کيږي. (مُسلِم ص ۱۱۱ حديث ۵۱۷)

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: د ټولو نه د کمې درجې عذاب به چې په چا وي، **اللّٰه** پاک به د هغهٔ نه تپوس وکړي: "که ټوله ځمکه ستا شي نو آيا د دې عذاب نه خلاصيدلو د پاره به ټوله په فِديه (يعني نغدي معاوضه) کښې ورکړې؟" هغه به عرض وکړي: آو. [**اللّٰه** پاک] به اوفرمائي: چې کله ته د آدم (عَلَیْہِ السَّلَام) په شا کښې وې نو مونږه د دې نه ډير آسان څيز حُکم فرمائيلے وو چې **کفر** مهٔ کوه خو تا اُونهٔ منله. (بُخاری ج ۲ ص ۴۱۳ حديث ۳۳۳۴)

## دوزخ نه د امان غوښتلو فضيلت

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! جَهنَّم نه پناه غوښتل خپل عادت جوړ کړئ! **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: "کوم کس چې درې ځله د دوزخ نه پناه اوغواړي نو دوزخ دُعا کوي: يا **اللّٰه**! دے زما نه په پناه کښې وساتې." (ترمِذِی ج ۴ ص ۲۵۷ حديث ۲۵۸۱) پناه په دې الفاظو هُم غوښتلے شئ: "يا **اللّٰه** پاکه! ما د جَهنَّم نه وساتې!" اٰمِين.

گناہ گار ہوں میں لائقِ جہنم ہوں — کرم سے بخش دے مجھ کو نہ دے سزا یارب
برائیوں پہ پشیماں ہوں رحم فرما دے — ہے تیرے قہر پہ حاوی تری عطا یارب

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۷۸)

زهٔ ګنهګار يمه لائق د جهنم يم ربه — بخشش مې وکړې په کرم، مهٔ کړه سزا يا رب
په خپلو بدو پښيمان يم رَحم اُوفرمائې — بالا په قهر ستا رَحمت دے، کړه عطا يا رب

## قارون سره حَشر

حُضُورِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: "څوک چې د **نمانځهٔ** حفاظت وکړي، د

هغهٔ د پاره به **نمونځ** د قِیامت په ورځ نُور (رڼا) او دلِیل او نَجات [یعني خلاصے] وي او څوک چې د دې حفاظت اونکړي، د هُغه د پاره به د قِیامت په ورځ نه نُور وي او نهٔ به دلیل وي او نهٔ نجات. او هغه کس به په ورځ د قِیامت د قارون، فرعون، هامان او اُبیٔ بِن خَلَف سره وي" (مُسْنَدِاِمام اَحمَدبِن حَنْبَل. ج ۲ ص ۵۷٤ حدیث ٦٥٨٧)

## د نمانځهٔ په وجه به په قَبْر او پل صِراط باندې رڼا وي

**حضرت** مُفتي احمد یار خان رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ فرمائي: (د حدیثِ پاک دا الفاظ: چا چې د **نمانځهٔ** حفاظت وکړو) داسې چې همیشه **نمونځ** کوي، صحیح یې کوي، په اخلاص یې تَوجُّه سره کوي، هُم دا معنٰی ده د **نمانځهٔ** قائمولو چې د دې حُکم قرآن **مجید** څو څو ځله ورکړے دے: "اَقِیۡمُوا الصَّلٰوۃَ" (یعني نمونځ قائم کړئ) او د حدیثِ پاک د دې حِصَّې (**نمونځ** به د قِیامت په ورځ نُور او دلِیل او نَجات وي) په باره کښې فرمائي: په قِیامت کښې **قَبْر** هُم داخل دے ځکه چې مرګ هُم قیامت دے. مطلب دا دے چې **نمونځ** به په **قَبْر** او **پُل صِراط** باندې رڼا وي چې سجده ګاه [یعني په سَجْده کښې ځمکه باندې لګیدونکے ځائے] به د تیزې بیړئ په شان پړقیږي او **نمونځ** به د هغهٔ د مومِن کیدلو بلکې عارِف بِاللّٰه (یعني د **اللّٰه** پاک پیژندګلو لرونکي) کیدلو دلیل وي او د هغه **نمونځ** په ذریعه به هغهٔ ته د هر ځائے نه نجات (یعني خلاصے) حاصلیږي، ځکه چې د قیامت په ورځ به وړومبے تپوس د **نمانځهٔ** کیږي، که په هغې کښې بنده کامیاب شو نو اِنْ شَآءَاللّٰه مخکښې به هُم کامیاب شي. (مِرْاٰۃُ المَناجیح ج۱ ص ۳٦۷، ۳٦۸)

## د بیلمانځه کس د غیر مُسلمو سره د حشر وَضاحَت

(مُفتي صاحب نور فرمائي:) **اُبَیّ بِن خَلَف** هُغه مُشرک دے کوم چې نَبِـيِّ کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اُحُد په ورځ په خپل (مبارک) لاس قتل کړو. "**مِرقاة**" کښې دي: په دې کښې اِشارتاً فرمائیلے شوي دي چې د بیلمانځه حشر (یعني پاځیدل) به د هُغه کافرو سره کیږي او د نمونځ ګُزاره مومن حشر (یعني پاځیدل) به اِنْ شَآءَاللّٰه د نبیانو، صِدّیقانو، شُهَدا او صالِحِینو (یعني

نیکو بندګانو) سره کیږي، د دې نه دا لازِمه نهٔ ده چې بیلمانځه ګنې کافِر شي او نمونځ ګُزاره ګنې (مَعَاذَالله) نبي (جوړ شي) بلکې بیلمانځه به د قِیامت په ورځ د هغه کافرو سره ودرَولے شي لکه یو شریف سړے چې د ذلیلو خلکو سره کښینول د هغهٔ ذِلّت دے.

(مُحکښې نور فرمائي:) یاد ساتئ چې په قیامت کښې به د هر کس حشر (یعنې پاځیدل) د هغه چا سره کیږي چا سره چې هغهٔ په دُنیا کښې مَحبّت لرلو او د چا په شان چې هغهٔ کارونه کول، ولې چې بیلمانځه کس د کافرو په شان کار کوي لِهذا د هغهٔ حشر (یعنې پاځیدل) به هُم د هغوئي سره کیږي، نمونځ ګُزاره د نیبانو او صِدّیقانو نقل کوي لِهذا د هغهٔ حشر (یعنې پاځیدل) به د هغوئي سره کیږي. ځکه وائي چې د ښو خلکو نقل هُم ښهٔ وي او د بدو نقل هُم بد وي. (مِراٰۃُ المناجیح ج۱ص ۳۶۷، ۳۶۸)

## قارون وغیره سره د حشر کیدلو تفصیل

بعضې عُلَماء فرمائي: ”څوک چې د مال او دولت د مشغولِیَت په وجه نمونځ پریږدي هغه به په ورځ د قِیامت د **قارُون** سره پاځولے کیږي، څوک چې د **حکومت** د مشغولیت په وجه نمونځ نهٔ کوي د هغهٔ حشر به د **فِرعون** سره کیږی، څوک چې د **وزارت** د مصروفِیَت په وجه د **نمانځهٔ** نه محرومه وي هغه به د فرعون د وزیر **هامان** سره په ورځ د قِیامت پاځولے کیږی او که څوک د **تجارت** د مصروفیاتو په وجه نمونځ پریږدی هغه به د مَکے مُکرّمې د بدنام کافر تاجِر **اُبَیّ بِن خَلَف** سره په ورځ د قیامت پاځولے کیږي.“ (کتاب الکبائر ص ۲۱)

## د اُبَـیْ بِن خَلَف عِبرتناکه واقعه

په روایت کښې دي چې اُبَـیْ بِن خَلَف (په جنګِ بَدَر کښې اونیولے شو او د خلاصي د پاره یې چې) کله خپله فِدیه (یعنې نقده مُعاوَضه) ادا کړه نو ویې وئیل: زهٔ به خپل اس ته روزانه ډیرې دانې ورکووم او (مَعَاذَالله) د رَسُولُالله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شهید کولو وخت کښې به دا اس اِستعمالووم، چې کله د رَسُولُالله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مُحکښې د دې خبرې تذکره وشوه نو اِرشاد

يـې اوفرمائيلو: ”اِنْ شَآءَاللّٰه **زهٔ به هغه قتل كووم**“ بيا د غَزوهٔ اُحُد په موقع باندې اُبَـىٔ بِن خَلَف زغره، فولادي ټوپۍ [يعنې د وسپنې هيلمټ] او نور د وسلې او د حفاظت سامان په ځان بار كړے په اس سور شو او ويـې وئيل: لَا نَجَوْتُ اِنْ نَجَا مُحَمَّدٌ يعنې كه **مُحَمَّد** (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) بچ شولو نو بيا به زهٔ نهٔ بچ كيږم (يعنې كه هغوئي ما شهيد نهٔ كړو نو هغوئي به ما قتل كړي). د اُحُد په ميدان كښې زبردست جنګ جاري وو چې هغهٔ خپل اس د سركارِ نامدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په طرف وزغلوو، صحابهٔ كرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم چې د هغهٔ اِرادې وليدلې نو هغه يـې ايسارول غوښتل خو سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: د دهٔ د لارې نه لرې شئ او بيا يـې د هغهٔ په بدن كښې د نيزې څُوكه ښخه كړه، اُبَـىٔ بِن خَلَف زخمي شو او د اس نه ښكته غوزار شو او مَكے مُكرَّمې پورې ژوندے اُونهٔ رسيدو او په لاره كښې مړ شو. اُبَـىٔ بِن خَلَف چې كله زخمي شو او راوغورزيد نو څه ملګرې يـې د حال معلومولو د پاره راغلل خو هغهٔ د غوئي په شان رمباړې وهلې. هغوئي ورته اُووئيل چې دومره شور ولې كوې؟ تهٔ خو معمولي شان كريدلے يـې! هغهٔ هغوئي ته د سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې اِرشاد تذكره وكړه چې (هغوئي فرمائيلي وو:) ”زهٔ به اُبَـىٔ قتل كووم!“ بيا هغهٔ اُووئيل چې قَسَم مې دې په هغهٔ وي د چا په قبضه كښې چې زما ساه ده! كوم تكليف چې په ما تيريږي كه هغه په اَهلِ **ذُوالْمَجَاز** (”ذُوالْمَجَاز“ د عربو د يو بازار نوم وو) [يعنې كه دا تكليف د هغه بازار په ټولو خلكو) باندې [تقسيم شوے] وے نو هغوئي ټول به مړهٔ شوي وے. بيا هغه مَكے مُكرَّمې ته رسيدلو نه مخكښې په لاره كښې مړ شو. (الخصايص الكبرىٰ ج١ص٣٥٢)

## د غور مُقام

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د فِكر مُقام دے چې يو پوخ كافِر او د خوږ مُصطَفىٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُښمن خو په فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دومره پوخ يقين لرلو چې كله هغهٔ دا اِرشادِ مُصطَفىٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واوريدو چې ”زهٔ به اِنْ شَآءَاللّٰه هغه قتل كووم!“ نو هغه د خپل ژوند نه مايُوسه شو، خو زمونږه غُلامانِ مُصطَفىٰ هُم عجيبه حال دے چې مونږه د عِشقِ

رسول او ځان قربانولو دعویٰ لرلو او د تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هر فرمان باندې د زړهٔ په صِدق سره د ايمان لرلو باوجود د نافرمانئ په باره کښې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بيان کړو عذاباتو په مُعامَله کښې غافله يُو.

## د يو کفنونو غلا کوونکي قِصّه (حِکايت)

د حضرتِ سَيِّدُنا حَسَن بَصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په لاسو مبارکو د کفنونو يو داسې غَل توبه وکړه چې هغهٔ سوونه کفنونه غلا کړي وو. د حسن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په تپوس هغهٔ د درې قبرونو اَسرار آميز **واقعات** بيان کړل. چنانچه هغه اُووئيل:

## د وور زنځيرونه

**يو** ځل ما يو **قَبْر** اوکنستو نو يو زړهٔ درزَوونکے منظر وو! څه وينم چې **د مړي مخ تور دے، په لاسو او ښپو کښې يې د وور زنځيرونه دي او د خُلې نه يې وِينه او نوونه جاري دي** او داسې مُردار بوئي يې کولو چې زړهٔ ورسره خرابيدو. دا خوفناک منظر مې چې اوليدو نو زهٔ د ويرې نه تښتيدو والا ووم چې **مړي اُووئيل**: ولې تښتې؟ راشه واوره چې ما ته د کومې ګُناه سزا راکولے کيږي! د مړي آواز مې چې واوريدو نو په ځائے ودريدم او زړهٔ مې غټ کړو او د **قَبْر** خوا ته ورغلم، چې دننه مې اوکتل نو د عذاب فرښتې ناستې وې او د هغه په څټ کښې يې **د وور زنځيرونه اچولي وو**. ما مړي نه تپوس وکړو: ته څوک يې؟ هغهٔ جواب راکړو زهٔ مسلمان اِبنِ مسلمان يم خو افسوس! زهٔ **شرابي** او **زِناکار** ووم او د هُم دې بدمستئ په حالت کښې مړ شوم او عذاب کښې ګرفتار شوم."

هغه د کفنونو غل نور داسې بيان وکړو:

## تور مړے

**په** يوه بله موقع چې کله ما د کفن غلا کولو په غرض **قَبْر** اوکنستو نو **يو تور مړے**

**ودریدو او ژبه یې راویستلې وه! د هغهٔ نه څلورو واړو طرفو نه وور چاپیره وو او فرښتو یې په مرئ کښې زنځیرونه اچولي وو.** هغه سرېي چې زهٔ ښنګه اولیدم نو غږ یې راته وکړو: ''وروره! زهٔ سخت ترږے یم، ما باندې لږې اوبه اوڅښه.'' فرښتو ما ته اُووئیل: خبردار! دې **بیلمانځهٔ** ته اوبه مهٔ ورکوه. بیا ما زړهٔ غټ کړو او هغه مړي نه مې تپوس وکړو: ته څوک وې او ستا جُرم څه دے؟ هغه جواب راکړو: زهٔ مسلمان ووم خو افسوس! ما د **اللّٰه** تعالیٰ ډیرې نافرمانئ کړې دي او زما په شان ډیر ګنهګار په عذاب کښې ګرفتار دي.'' هغه نور اُووئیل:

## قَبْر کښې باغ

هُم دغسې یو ځل ما یو **قَبْر** اوکنستو **نو هغه دننه ډیر فراخه وو او یو ډیر زیات ښکلے باغ مې پکښې اولیدو چې نهرونه پکښې جاري دي او یو ښکلے او ښائسته زلـمے پکښې مزې کوي.** ما هغهٔ نه تپوس وکړو: تا ته د کوم عمل په سبب دا انعام درکړے شو؟ هغهٔ اُووئیل: ما یو واعِظ نه اوریدلي وو چې څوک د **عاشورې په ورځ شپږ رکعاته نفل وکړي اللّٰه** تعالیٰ د **هغهٔ بخښنه کوي**، لِـهذا ما به هر کال د عاشورې په ورځ **شپږ رکعاته** نفل ادا کول. (راحتُ القُلُوب ص۶۰ مُلَخَّصاً) (د هغه وعظ کوونکي په وینا باندې د نیک ګُمان لرلو په وجه هغه زلـمي د عاشورې د نفلو کولو ثواب حاصل کړو، ګني د حدیثونو په کتابونو کښې د عاشورې د شپږو رکعاتو نفلو رِوایَت پیدا نهٔ شو.)

## څوک چې ښخ نهٔ کړے شي نو آیا په هغه به هُم عذاب وغیره کیږي؟

**اے د اللّٰه پاک ویره لرونکو!** تاسو ولیدل! چې بیلمانځه، شرابي او زِناکار او د **اللّٰه** پاک نافرماني کوونکي په څومره خوفناک عذاب کښې ولیدلے شو. یاد ساتئ! عذابِ **قَبْر** حق دے، ''**حدیقهٔ نَدِیَّه**'' کښې دي: عذابِ **قَبْر** در اصل عذابِ بَرزَخ ته وائي، دې ته عذابِ **قَبْر** ځکه وائي چې عام طور خلک په **قَبْر** کښې ښخیږي، ګني که څوک اوسوَزي، ډوب شي، ځناور یې اوخوري، چینجي یې اوخوري یا د هغهٔ اِیره په هوا کښې والوَځولے شي، په هر حالت کښې به هغهٔ سره د جَزا او سزا سِلسِله کیږي. (الحدیقة الندیه ج۱ص ۲۶۶)

## د مسلمانانو د عذاب ښودلو سبب

د **بَرزَخ** لفظي معنٰی ده پناه او پرده، د مرګ نه واخله د قِيامت په ورځ پاڅيدلو پورې وقفې ته **بَرزَخ** وائي، د بَرزَخ مُعامَلات ژوندي خلک نۀ وِيني، البته کله کله يې **اللّٰه** پاک د خپلو بندګانو د ترغِيب (يعني د نيکئ رَغبَت ورکولو) يا تَرهِيب (يعني د ګُناهونو د سزاګانو نه ويرولو) د پاره ښکاره کوي! مشهور مُحَدِّث اِمام اَوزاعي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه نه تپوس اوکړے شو چې غير مُسلِمه مړۀ کيږي نو د هغوئي عذاب نۀ ښکاري خو د ګنهګارو مسلمانانو عذاب بعضې وخت ښودلے کيږي، د دې څه سبب دے؟ هغوئي جواب ورکړو چې د غير مُسلِمو په دوزخي کيدلو کښې چا ته هيڅ شک نشته خو د [بعضې] مسلمانانو دا حالت ځکه ښودلے کيږي چې هغوئي [يعنې نور مسلمانان ترينه] عِبرت حاصل کړي او د ګناهونو په مُعامَله کښې بې ويرې نۀ اوسيږي. (شَرحُ الصُّدُور ص ١٧٨ مُلَخَّصاً)

## د عذابِ قَبۡر ثُبُوت د قرآن نه

د عذابِ قَبۡر حَق کيدل د قرآن کريم نه ثابِت دي. چنانچه سيپاره 29 سُوۡرَۃُالنُّوح آيت نمبر 25 کښې د حضرتِ سَيِّدُنا نُوح عَلَيۡهِ السَّلَام د نافرمانه قوم په طوفان کښې د غرق کيدلو نه پس په عذابِ قَبۡر کښې د اخته کيدلو داسې بيان دے:

مِمَّا خَطِيْٓـٰٔتِهِمْ اُغْرِقُوْا فَاُدْخِلُوْا نَارًا ۬

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: په خپلو څنګه خطاګانو باندې ډُوب کړے شو بيا په وور کښې داخِل کړے شو.

د دې آيتِ مبارکه د دې حِصَّې ”بيا په وور کښې داخِل کړے شو“ په تفسير کښې ليکلې دي: هِيَ نَارُ الْبَرْزَخِ وَالْمُرَادُ عَذَابُ الْقَبْر. يعنې د هغه وور نه مُراد د بَرزَخ وور دے او عذابِ قَبۡر ترينه مُراد دے. (روح المعانی جزء ٢٩ ص ١٢٥)

د عذابِ قَبۡر مُتَعَلِّق سيپاره 24 سُوۡرَۃُالۡمُؤۡمِن آيت نمبر 46 کښې **اللّٰه** پاک فرمائي:

اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّ عَشِيًّا ۚ وَ

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: [هغه] وور چې هغوئي پرې

يَوۡمَ تَقُوۡمُ السَّاعَةُ ۟ اَدۡخِلُوۡۤا اٰلَ فِرۡعَوۡنَ اَشَدَّ الۡعَذَابِ ﴿۴۶﴾

سحر او مابنام پيش کولے کيږي. او په کومه ورځ به چې قِيامت قائم شي، حُکم به وشي چې فرعون والا په ډير سخت عذاب کښې داخل کړئ.

په دې آيت کښې واضِح طور د عذابِ قَبۡر بيان دے. داسې چې اَشَدَّ الۡعَذَابِ (يعنې ډير سخت عذاب) نه د جَهنَّم عذاب مُراد دے چې هغه به د قِيامت په ورځ وي، د هغې نه مخکښې چې کوم عذاب دے هغه عذابِ قَبۡر دے. (نُزهَةُ القاری ج۲ ص۸۶۲، عمدۃ القاری ج۶ ص۲۷۴)

عذابِ قبر و جہنم سے تو بچا یا رب! ترے حبیب کا دیتا ہوں واسطہ یا رب!

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## پينځهٔ قبرونه (حِکايت)

د **خليفه** عبدُ المَلِک خوا ته يو ځل يو ډير ويريدلے کس حاضر شو او ويې وئيل: **بادشاه سلامت!** زهٔ بيحده ګنهګار يم او ځان پوهه کول غواړم چې آيا زما د پاره هُم معافي شته که نه؟ **خليفه** ورته اُووئيل: آيا ستا ګناه د ځمکې او آسمان نه هُم غټه ده؟ هغهٔ جواب ورکړو: غټه ده. **خليفه** اُووئيل: آيا ستا ګناه د لوح و قلم نه هُم غټه ده؟ هغه اُووئيل: غټه ده. **خليفه** تپوس وکړو: آيا ستا ګناه د عرش و کرسئ نه هُم غټه ده؟ هغه اُووئيل: غټه ده. خليفه اُووئيل: وروره! يقيناً ستا ګناه د **اللّٰه** پاک د رَحمت نه غټه نهٔ شي کيدے. دا يې چې واوريدل نو په ژړا شو! **خليفه** اُووئيل: وروره! آخر ما هُم خبر کړه چې ستا ګناه څه ده؟ هغه اُووئيل: بادشاه سلامت! تاسو ته وئيلو باندې ډير زيات شرميږم خو بيا هم تاسو ته عرض کووم، کيدے شي چې زما د توبې څه صورت جوړ شي. بيا هغهٔ خپل **خوفناک داستان** اورول شروع کړو. هغهٔ اُووئيل: **بادشاه سلامت!** زهٔ يو د کفنونو غل يم، نن شپه ما د **پينځهٔ قبرونو** نه عبرت حاصل کړو او توبه کولو ته تيار شوم.

## د شرابي انجام

**کفن** غلا کولو د پاره چې ما **وړومبے قَبُر** اوکنستو نو د مړي مخ د قبلې نه اووښتے وو. زۀ اُویریدم او چې ښنګه بیرته روان شوم نو یو غیبي آواز حیران کړم. چا اُووئیل: ''دې مړي نه د عذاب تپوس خو وکړو.'' ما په ویره ویره اُووئیل: ما کښې هِمَّت نشته، ته راته اُووایه! آواز راغے: دا کس **شرابي** او **زِناکار** وو.

## د خنزیر په شان مړے

**دویم قَبُر** مې چې اوکنستو نو یو زړۀ درزَوونکے منظر مې اولیدو! څه وینم چې د مړي مخ د **خِنزیر په شان شوے دے او طوق او زنځیرونو کښې تړلے شوے دے.** غیبي آواز راغے: دۀ به د **دروغو قَسَمونه** خوړل او **حرام** به یې خوړل.

## د وور میخونه

دریم **قَبُر** مې چې اوکنستو نو په هغې کښې هُم یو خوفناک منظر وو. **مړي څټ طرف ته ژبه ویستلې وه او په بدن یې د وور میخونه ټک وهلے شوي وو.** غیبي آواز اُووئیل: دۀ به **غِیبت** کولو، **چُغلي** به یې کوله او خلک به یې خپل مینځ کښې **جنګول.**

## وور ترینه چاپیره وو

**څلورم قَبُر** مې چې اوکنستلو نو ډیر زیات ویروونکے منظر مې اولیدو! **مړے په وور کښې ډډې په ډډې اووښتو او فرښتو د وور په ګُرزونو وهلو.** په ما ډیره زیاته ویره راغله او وتښتیدم خو زما په غوږونو یو غیبي آواز لګیدلو چې دې بدنصیبه به په **نمانځۀ** کښې او د **رَمَضان** په روژو کښې سُستي کوله.

## په ځوانۍ کښې د توبه کولو انعام

**پینځم قَبُر** مې چې اوکنستو نو د هغې حالت د تیرو څلورو واړو **قبرونو** نه بالکل

برعکس (يعني مختلِف) وو. **قَبْر** د نظر د حده پورې فراخه وو، دننه يو **تخت** باندې ښکلے زلمے **ناست وو.** غيبي آواز اُووئيل: دۀ په ځوانۍ کښې توبه کړې وه او د **نمانځۀ** او **روژې** سخت پابند وو. (تذکرۃُ الْواعظین ص ٦١٢ مُلَخَّصاً)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** بيان شوے حِکايت بيا بيا ولولئ او د **الله** د ويرې نه په لړزان شئ! **الله** پاک کله کله د قبرونو منظرونه يعني د بَرزَخ حالات څکه ښکاره کوي چې خلک ترينه عِبرت حاصل کړي او د ګناهونو نه ځان وساتي او د نيکئ لار اختيار کړي.

نمازیں نہ چھوڑو! گناہوں کو چھوڑو
کبھی یادِ حق سے نہ منہ اپنا موڑو

نمونځ مۀ پرېږدئ، ګُناه پرېږدئ       د حق د ياد نه غفلت پرېږدئ

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد**

## د فِلمونو شوقي حافِظِ قرآن څنګه جوړ شو؟

د دُنيا نه ايمان د سلامت وړلو سوچ جوړولو د پاره، عذابِ **قَبْر** نه بچ کولو والا اعمالو زياتولو د پاره او **قَبْر** و آخرت کښې سُکون حاصلولو د پاره د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره هر وخت خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ. **مَدَني سپرلے:** د لاهور يو اِسلامي ورور د فِلمونو ډرامو کتلو د ليونتوب د حده پورې شوق لرلو، په کومه ورځ به چې په تِي وِي باندې فِلم ښودلے شو نو د کور ټول خلک به اُودۀ شُو خو هغۀ ته به خوب نۀ ورتلو او پوره فِلم به يې کتلو، هغۀ به په فِلمونو کښې د کار کولو خوبونه هُم ليدل. د هغوئي خوا ته جومات کښې به يو اِسلامي ورور د **"فيضانِ سُنَّت"** درس ورکولو. دے به چې کله هُم جومات ته لاړلو نو د هغۀ درس به يې ضرور اوريدلو. د هغه مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي د ملاقات کولو د **مَحَبَّت** نه ډک انداز يې ډير خوښ شوے وو. دۀ به د زړۀ نه د هغۀ ادب کولو خو هغۀ سره به ډير کم وخت کښيناستلو. وخت هُم دغسې په غفلتونو کښې تيريدلو. د دۀ يو ورور د دعوتِ اسلامي په مَدرَسةُالْمَدينه کښې قرآنِ

کريم حِفظ کولو. هغه ته يـې چې اوکتل نو د دهٔ په زړهٔ کښې هُم د قرآنِ کريم د حِفظ کولو جذبه پيدا شوه. آخر دا چې د کور د کسانو په اِجازت هغه هُم په ”مَدرَسةُالْمَدِينه“ کښې داخله واخستله. د قرآنِ کريم په بَرَکت يـې د زړهٔ زنګ لرې کيدل شروع شو، د فِلمونو ډرامو او نورو ګناهونو نه يـې نفرت پيدا شو او د قرآنِ پاک مَحبَّت يـې په زړهٔ کښې پوخ شو. د خپل قاري صاحب په شَفقَت او د هغوئي د اِنفرادي کوشش په بَرَکت هغه هُم د عِمامې تاج په سر کړو، د سُنَّتو مطابق لباس يـې واغوستلو او ديني کارونو کښې حِصَّه اخستل يـې شروع کړل. اَلْحَمْدُلِلّٰه هغهٔ ډير زر قرآنِ کريم حِفظ کړلو او اَلْحَمْدُلِلّٰه ديني کارنو کولو کولو کښې د ذيلي مُشاورت نګران هُم جوړ شو.

يقيناً مقدر کا وہ ہے سکندر جسے خیر سے مل گیا مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٧)

يقيناً هغه دے د مُقَدَّر سِکندر چا ته چې نصيب شو په خير ديني ماحول

**دُعـائے عَطّار:** اے زمونږه خوږه خوږه **الله!** مونږ ته روزانه پينځهٔ وخته په وړومبي صَف کښې د تـکبِيرِ اُولٰی سره د جَمعې د نمونځونو ادا کولو سعادت رانصيب کړې او د کومو کومو مسلمانانو چې قضا نمونځونه پاتې دي هغوئي ته هغه زر زر د ادا کولو توفِيق ورکړې او تاخير سره د کولو د ګناه نه د توبه کولو توفيق ورکړې او توبه يـې قبوله کړې او مونږ نه هميشه د پاره راضي شې، زمونږه، زمونږ د مور و پلار او د ټول اُمَّت بخښنه وکړې.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

حضرتِ سَيِّدُنا خواجه غريب نواز حسن سَجزي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:
يوه ګناه به هُم دومره نُقصان نهٔ در رسوي څومره نُقصان به چې تا ته د مسلمان د بې عِزَّتئ کولو په وجه در رسي.
(اخبارُ الاخبار ص ٢٣)

# د نمانځهٔ د عاشِقانو
# 86 حِکايات

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# د نمانځهٔ د عاشِقانو

# 86 حِکايات

يا رَبِّ کرِيم! څوک چې "**د نمانځهٔ د عاشِقانو 86 حِکايات**" پوره ولولي يا واوري هغوئي د نمانځهٔ د عاشقانو په فيضان مالا مال کړې او ځنکدن او قبر او حشر هر ځائے کښې يـې امن و امان نصيب کړې. اٰمِين.

## د دُرُود شريف فضيلت

**يو** زلـمي د خانه کعبې طواف کولو او صرف **دُرُود شريف** يـې لوستلو، چا ورته اُووئيل: آيا تا ته د طواف بله څه دُعـا نهٔ ده ياده يا څه بله خبره ده؟ هغهٔ اُووئيل: دُعـاګانې خو را ته يادې دي خو خبره دا ده چې زهٔ او زما والِد صاحب دواړه د حج د پاره راروان وو، والِد صاحِب مې په لاره کښې بيمار شو او وفات شو، مخ يـې تور شو او سترګې يـې کږې شوې او خيټه يـې اُوپړسيدله! ما ډير اوژړل او دا مې اُووئيل: اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْن چې کله د شپې تيارې خوَرې شوې نو زما سترګې ولګيدې، په خوب کښې مې د سپينو جامو خُوشبُوداره خُوشبُوداره او د يو **ډير زيات ښکلې هستئ** ديدار وکړو. هغوئي زما د والِد مرحُوم خوا ته تشريف راوړلو او خپل **نُوراني لاس مُبارک** يـې د هغهٔ په مخ او خيټه باندې راښکلو، ناڅاپه زما د مرحُوم پلار مخ د پئيو [يعنې شودو] نه زيات سپين او روښانه شو او خيټه يـې هُم په صحيح حالت شوه، چې هغه بُزُرګ واپس روان شولو نو ما د هغوئي لَـمَن مبارکه اونيوله او عرض مې ورته وکړو: يا سيِّدِي!

(يعني اے زما سرداره!) ستاسو دې په هٔغه ذات قَسَم وي چا چې تاسو په دې ځنګل کښې زما د والِدِ مرحُوم د پاره رَحمت جوړ کړئ، تاسو څوک يـې؟ هغوئي اُوفرمائيل: ته مونږه نه پيژنې؟ مونږ خو مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) يُو. ستا دا پلار ډير ګنهګار وو خو په مونږه باندې به يـې کثرت سره دُرُود وئيل، چې کله پرې دا مصيبت نازِل شو نو دهٔ مونږ ته فرياد وکړو لِـهذا مونږ د دهٔ مدد وکړو او مونږه د هر هٔغه کس مدد ته تشريف راوړو څوک چې په دې دُنيا کښې په مونږه باندې زيات دُرُود وائي. (رَوْضُ الرَّيَاحِين ص ١٢٥)

فرياد اُمتی جو کرے حالِ زار میں ممکن نہیں کہ خیرِ بشر کو خبر نہ ہو

(حدائقِ بخشش)

امتي چې فرياد وکړي د خپل حال کيدے نۀ شي چې حضور ترې خبر نۀ شي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿١﴾ د وادهٔ په وړومبي سحر هُم په جَمعه کښې حاضري

صحابِيِ رَسُول حضرتِ سَيِّدُنا حارِث بِن حَسّان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د وادهٔ شپه تيرولو نه پس چې کله د سحر د نمانځهٔ جَمعې ته جومات ته تشريف راوړلو نو هغوئي ته عرض اوکړے شو: "اَتَخْرُجُ وَاِنَّمَا بَنَيْتَ بِاَهْلِكَ فِيْ هٰذِهِ اللَّيْلَةِ؟ يعني آيا تاسو (د سحر د نمانځهٔ جَمعې له) تشريف راوړے دے حالانکې تيره شپه خو تاسو خپل اَزدواجي ژوند شروع کړے دے؟" هغوئي اُوفرمائيل: وَالله! کومه ښځه چې ما د سحر د نمانځهٔ د جَمعې نه ايساروي نو هغه به ضرور بده ښځه وي. (مُعْجَم کبِير ج٣ ص٢٥٣ حديث ٣٣٢٤) د اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## يوه ورځ به د تورو تيارو قَبْر ته کوزيدل وي

په دې حِکايَت کښې د هٔغه نوي وادهٔ والؤ د پاره د عِبرت درس دے کوم چې د نمونځ

ګُزاره کيدو باوجود د وادهٔ د ورومبئ شپې په سحر د نزدې جومات کيدو باوجود د سحر نمونځ په کور کښې ادا کوي يا يې **مَعَاذَالله** قضا کړي. توبه!! توبه!! **خَبَردار!** دُنيوي خوشحالي بالکل عارضي وي. حقيقي خوشحالي هُم هغه ده چې کله د رضائے اِلٰهي خوشخبري حاصله شي او د ايمان د سلامتئ سره په **قَبْر** کښې سُکون سره اُودهٔ کيدل رانصيب شي. خيال ساتئ! که د هر قِسمه خوشحالئ موقع وي هُغه مرګ بالکل مهٔ هيروئ چې هغه کله ناڅاپه د وادهٔ هلک يا ناوې هُم د رنړاګانو نه څليدلې د وادهٔ د کوټې نه اوچت کړي او د تورو تِيارو **قَبْر** کښې يې څملوي!

موت یہ کہنے لگی دولہا دلہن سے وقت عیش　　ہے اندھیری قبر میں تم کو بھی سونا ایک دن

مرګ اُووئيل ناوې او ناوکي ته د عشرت په وخت
تاسو به هُم شئ يو ورځ اُودهٔ په تِياره قَبر کښې

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۲﴾ وروسته وفات شوے جَنَّت ته ورومبے داخل شو

د حضرتِ سَيِّدُنا طَلحه بِن عُبَيدُ الله رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې د بَلِيّ قبيلې **دوه ورونړه** په دربارِ رِسالَت کښې حاضر شُو او يو ځائے يې ايمان راوړو. په هغوئي کښې به يو ورور د بل نه زيات عبادت کولو. هغه عبادت ګُزار ورور يې په جِهاد کښې شهيد شولو او بل د هغې نه پس يو کال پورې ژوندے وو بيا هغه هُم وفات شو. حضرتِ سَيِّدُنا طلحه بِن عُبَيدُ **الله** رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: ما خوب اوليدو چې د جَنَّت په دروازه کښې ولاړ يم. يو راوتونکے د جَنَّت نه را اُووتلو او وروسته وفات شوي ورور ته يې جَنَّت کښې د داخليدلو اجازت ورکړو، بيا دوباره را اُووتلو او شهيد ورور ته يې اجازت ورکړو، بيا زما په طرف مُتَوَجِّه شو او ويې وئيل: "ته واپس لاړ شه! ستا لا وخت نهٔ دے راغلے." چې سحر شو او ما دا خوب خلکو ته بيان کړو نو خلک په دې ډير حيران شو، چې کله دا خبره د **الله** پاک خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ورسيدله نو

هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: تاسو په څه خبره حيران يـې؟ خلکو عرض وکړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! وړومبي ورور به زيات عبادت کولو بيا هغه شهيد هُم شو خو وروسته وفات شوے ورور د هغۀ نه مخکښې جَنَّت ته داخل شو! نو ويـې فرمائيل: آيا دا د شهيد ورور نه پس يو کال پورې ژوندے نۀ وو پاتې؟ خلکو عرض وکړو: آو جي. اِرشاد يـې اُوفرمائيلو: آيا هغۀ د شهيد (ورور) نه پس د رَمَضان روژې نۀ وې نيولې؟ په کال کښې دومره دومره نمونځونه يـې نۀ وو کړي؟ خلکو عرض وکړو: آو جي. اِرشاد يـې اُوفرمائيلو: نو بيا دې د هغو دواړو په مينځ کښې د ځمکې او آسمان د فاصلې نه زيات لرې والے ولې نۀ وي؟ (سُنَنِ اِبنِ مَاجَه ج ٤ ص ٣١٣ حديث ٣٩٢٥) **د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د دې حِکايت نه معلومه شوه چې د نيکو نه ډک اوږد ژوند ښۀ وي. حضرتِ سَيِّدُنا اَبُوبَکره رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: يو کس تپوس وکړو: يارَسُولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! کوم انسان بهتر دے؟ هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: ”د چا چې عُمر اوږد وي او کارونه يـې ښۀ وي.“ عرض وشو: کوم انسان بد دے؟ اِرشاد يـې اُوفرمائيلو: ”د چا چې عُمر اوږد وي او کارونه يـې بد وي.“ (ترمِذِی، ج ٤ ص ١٤٨ حديث ٢٣٣٧)

دے شوق تلاوت، دے ذوق عبادت     رہوں باوضو میں، سدا یا الٰہی

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ١٠٢)

راکړې شوق د تِلاوت، راکړې شوق د عبادت
هُم توفيق د اوسيدو په اوداسه کښې سدا يا اِلٰهی

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد**

## ﴿٣﴾ د شاتو د مچۍ د بنګارې په شان آواز

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ مسعُود رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ به چې کله د خلکو د اُودۀ کيدلو نه پس

راپاڅيدلو او قِيام (يعني عبادت) به يـې کولو نو د هغوئي نه به د سحره پورې د شاتو د مچۍ په شان د بنګاري آواز اوريدلے شو. (اِحْيَاءُالْعُلُوم ج١ص٤٦٧) (اِحْيَاءُالْعُلُوم (اُردو) ج١ص١٠٥٦) **د اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٤﴾ مِنٰی کښې يو ولي بل ولي اوپيژندلو

**اے عاشقانِ صحابه و اولياء!** د شاتو د مچو د آواز مُتَعَلِّق اعلٰی حضرت رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه سره پيښيدونکې يوه واقعه د هغوئي زباني واورئ، چنانچه فرمائي: د وړومبي ځل په حاضرئ (يعني د وړومبي حج په سفر) کښې د مِنٰی شريف په جومات کښې د ماښام په وخت کښې حاضر ووم، چې ټول خلک د جومات نه لاړل نو د جومات دننه حِصَّه کښې مې يو صاحِب وليدو چې مخ په قِبله په وظيفه کښې مصروف دے. زۀ د جومات په انګڼ کښې دروازې سره ووم او دريم کس په جومات کښې نۀ وو. ناڅاپه يو آواز د بنګاري په شان په جومات کښې محسوس شو لکه د شاتو د مچۍ بنګارے.'' فوراً مې په زړۀ کښې دا حديث راغے: ''د اَهلُ اللّٰه د زړۀ نه داسې آواز اُوځي لکه د شاتو مچۍ چې آواز اوباسي [يعني بنګيږي].'' ما وظيفه پرېښودله او د هغوئي طرف ته روان شوم چې ځان د پاره پرې د مغفرت دعا وکړم، کله هُم زۀ د يو بُزُرګ څنګ ته بِحَمْدِاللّٰهِ تعالٰی دُنياوي حاجت د پاره نۀ يم ورغلے، چې کله ور روان شوم په هُم دې خيال چې په هغوئي باندې د مغفرت دُعـا وکړم. غَرَض دا چې صرف دوه قَدَمه د هغوئي په طرف ورغلے ووم چې هغه بُزُرګ رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه زما طرف ته مخ کړو او آسمان طرف ته يـې لاسونه اوچت کړل او درې ځله يـې اُوفرمائيل ''اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِاَخِيْ هٰذَا، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِاَخِيْ هٰذَا، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِاَخِيْ هٰذَا'' (يعني اے **اللّٰه** زما دا ورور اوبخښې، اے **اللّٰه** زما د دې ورور مغفرت وکړې، اے **اللّٰه** زما د دې ورور بخښنه وکړې) زۀ پوهه شوم چې هغوئي فرمائي: ''مونږه ستا کار وکړو، اوس تۀ زمونږه په

کار کښې مۀ مُخِل کيږه (يعني خلل مۀ اچوه)" زۀ ترينه دغسې واپس وګرځيدم. (مَلفُوظاتِ اعلیٰ حضرت ص٤٩٠) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُعائے مغفرت فضائل

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د دې حکايت نه دا درس هُم حاصل شو چې د دُنيا د فائدې په مقابله کښې د آخرت راحت او د ګناهونو مغفرت غوښتل زيات پکار دي. چې کله چا ته د يو بُزُرګ سره د ملاقات سعادت نصيب شي نو **حَتَّی الْاِمکان** هغوئي ته د خاتِمۀ بِالخير او د مغفرت د دُعا درخواست کول پکار دي. او ځپله هُم د ځان د پاره او د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّت د **مغفرت** د پاره ټول عُمر دُعا کول پکار دي. **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: **اللّٰه** پاک فرمائي: "اے زما بندګانو! تاسو ټول ګنهګار يې خو خوک چې ما بچ کړل، لِهذا زما نه د مغفرت سوال کوئ، زۀ به ستاسو بخښنه وکړم او په تاسو کښې چې چا يقين وکړو چې زۀ په بخښلو باندې قادِر يم بيا يې زما نه زما د قدرت په وسيله **اِسْتِغْفار** وکړو (يعني بخښنه يې اوغوښتله) نو زۀ به د هغۀ بخښنه وکړم." (سُنَنِ اِبنِ مَاجَه ج ٤ ص ٤٩٥ حديث ٤٢٥٧) (جنّت ميں لے جانے والے اعمال ص ٤٩٢) **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: چا چې **اِسْتِغْفار** په خپل ځان باندې لازِم کړو **اللّٰه** پاک به د هغۀ هره پريشاني لرې کړي او د هرې تنګئ نه به راحت ورکړي او هغۀ ته به د داسې ځائے نه رِزق ورکوي د کوم ځائے نه چې د هغۀ ګُمان هُم نۀ وي." (سُنَنِ اِبنِ مَاجَه ج ٤ ص ٢٥٧ حديث ٣٨١٩) (جنّت ميں لے جانے والے اعمال ص ٤٩٤)

ہو نہ عطار حشر میں رسوا بے حساب اس کی مغفرت فرما

عَطّار مۀ کړې آخرت کښې تۀ رُسوا

بې حسابه يې تۀ وکړې مغفرت

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٥﴾ با كرامَتــه اَعرابي

”تفسيرِ كبِير“ كښې دي: يو صحابي رَضِىَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما يو اَعـرابِي د جومات دروازې طرف ته راتلونكـے وليدو، هغه د اُوښې نه كوز شو او هغه [اُوښه] يـې هُم هغه ځائے كښې پريښودله او جومات ته داخل شو او په سُكون او اِطمينان سره **نمانځهٔ** كښې مشغول شو، بيا يـې دُعـا وكړه، چې بهر ته را اُووتلو او اوښه يـې نهٔ وه نو په بارگاهِ اِلٰهى كښې يـې عرض وكړو: يا اِلٰهى! ما ستا امانت ادا كړو! زما امانت چرته دے؟ راوي وائي چې مونږه حيران پاتې شو چې په لږ ساعت كښې يو سړے په اوښه [سور] راغـے او اوښه يـې هغهٔ ته حواله كړه.
(تفسيرِ كبِير ج١ ص٢١٣)

اے د **نمانځهٔ عاشقانو!** هغه اَعرابي صاحِبِ كرامَت بُزُرگ وو، البته هر كس ته د دې اجازت نشته، د خپل سامان حفاظت به كوي لكه څنګه چې يو [بل] اَعرابي خپل اوښ خلاص پريښودو او ويـې وئيل: ما په اللّٰه كريم تَوَكُّل (يعني بهروسه) وكړه. نو د **اللّٰه** پاک آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: اِعْقِلْهَا وَتَوَكَّلْ ”دا اوتړه بيا تَوَكل وكړه.“ (اِحيَاءُ الْعُلُوم ج٤ ص٨٣٢)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٦﴾.........نو كمراه به شئ

تابِعِي بُزُرگ حضرتِ سَيِّدُنا اَبُـو **بَحرِيَّه** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زهٔ د (مُلک شام) حِمص [ښار] جومات ته داخل شوم نو صحابِـي رَسُول حضرتِ سَيِّدُنا مُعاذ بِن جَبَل رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه مې دا فرمان واوريدو: چا ته چې دا خوښه وي چې د **اللّٰه** پاک په بارگاه كښې حاضريدلو وخت كښې هغهٔ ته هيڅ ويره نهٔ وي نو هغهٔ ته پـكار دي چې كله اذان وكړے شي نو **نمانځهٔ** د پاره دې جومات ته حاضر شي ځكه چې د جَمعې سره نمونځ كول د **سُـنَنِ هُـدىٰ** نه دي او دا د هُغه سُنَّتو نه دي كوم چې ستاسو د پاره حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جاري كړي دي او هيڅ څوک دې دا نهٔ وائي چې زما په كور كښې جائے نماز (يعني د نمانځهٔ ځائے) شته دے زهٔ خو به په كور كښې **نمونځ**

وکړم. که تاسو داسې کوئ نو د خپل نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **سُنَّت** پرېښودونکي به ياديږئ او که تاسو د خپل نبي **سُنَّت پرېښودل نو ګمراه به شئ.** (اللہ والوں کی باتیں ج۱ ص۴۲۷)

## سُـنَنِ هُـدیٰ څه ته وائي؟

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د شرعي اِجازت نه بغير د فرض **نمانځهٔ** جَـمعه هيڅ کله پرېښودل نهٔ دي پکار، **الله** دې نهٔ کړي که څوک ګمراه شو نو تباه به شي! بيان شوي حکايت کښې د **سُـنَنِ هُـدیٰ** تذکره ده، د دې په باره کښې د مِراٰت د تَحرِير خُلاصه ده: کوم کارونه چې حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عادت په طور کړي دي هغه **سُـنَنِ زَوائِد** دي لکه ويښته ګمنزول، کدُّو په رَغبَت خوړل، او کوم کارونه يـې چې د ”عبادت“ په طور کړي دي هغه **سُنَنِ هُـدیٰ** دي. د ”سُـنَنِ هُـدیٰ“ دوه قِسمونه دي: **مُؤَکَده** او غيرِ **مُؤَکَدَه**، کوم کارونه چې حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هميشه کړي دي هغه **مُؤَکَدَه** دي او که د هغې حُکـم يـې هُم ورکړے وي نو هغه **واجِب** دي. او کوم کارونه يـې چې کله کله کړي دي هغه غيرِ **مُؤَکَدَه** دي، لِـهذا **جَمعې** سره نمونځ او (د دې د پاره) جومات کښې حاضري، حق دا دے چې دا دواړه **واجِب** دي. (مِراٰةُ المناجيح ج۲ ص۱۷۵ بتغيُّر) دلته عِلمي اعتِبار سره نور تفصيل هُم شته دے.

## ﴿۷﴾ جَمعې سره مَحبَّت

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام اِبنِ شَهاب زُهري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو ځل يو کس پسې **نمونځ** وکړو، هغه [امام] غَلَطياني کولې. هغوئي اُوفرمائيل: که جَمعې سره د نمانځهٔ کولو د يواځې نمونځ کولو په مقابله کښې فضيلت نهٔ وے نو ما به په دې کس پسې **نمونځ** نهٔ کولے. (اللہ والوں کی باتیں ج۳ ص۵۱۴)

**اے د نمانځهٔ عاشقانو!** د دې حِکايت نه د يو ډېر غټ عالِـمِ دِين اِمام زُهري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **جَمعې** سره د **نمانځهٔ** کولو مَحبَّت معلوم شو، چې د اِمام د غلطيانو باوجود يـې جَـمعه نهٔ پرېښودله. دلته د غلطيانو نه مُراد به بعضې وړې وړې غَلَطياني وي چې د هغې په سبب به په هغه پسې

**نمونځ** کول جائز وي، کُنې غتې غتې غلطیانې مَثَلًا که عَقائد يې غلط وي يا يې په نمانځهٔ کولو کښې څه داسې غلطې وي چې په هغه پسې نمونځ کول جائز نهٔ وي نو اِمام زُهري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه به په هغهٔ پسې بالکل **نمونځ** نهٔ کولې. **اللّٰه** پاک دې مونږه هُم **د جَمعې د نمانځهٔ** شوقیان جوړ کړي. اٰمِین.

نمازیں جماعت سے پڑھتے رہیں ہم یوں سوئے جناں کاش! بڑھتے رہیں ہم

کاش چې جمعې سره نمونځ کوو همیش
داسې کاش چې د جنّت په لور روان اوسو همیش

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۸﴾ د جَمعې د پاره يې سفر ودرَولو

حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو حازِم خُناصِري اَسَدِي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه بیانوي: زهٔ د حضرتِ سَیِّدُنا عُمر بِن عبدُ العزیز رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په دَورِ خِلافَت کښې د جُمُعې په ورځ دِمَشق ته راغلم، خلک هغه وخت د جُمُعې نمانځهٔ له روان وو، ما سوچ وکړو چې که د مطلوبه ځائے طرف ته سفر جاري ساتم نو جَـمعه به رانه لاړه شي [حالانکې مسافِر باندې جَـمعه واجِب نه وي]، لِـهذا مخکښې **نمونځ** ادا کووم، دا سوچ مې وکړو او **نمانځهٔ** له روان شوم، د جومات دروازې له چې راغلم نو خپل اُوښ مې کښینولو او اُومې تړلو او جومات ته داخل شوم. (اللہ والوں کی باتیں ج۵ ص۳۹۱)

## د سفر په وجه نمونځ مهٔ قضا کوئ

سُبۡحٰنَ اللّٰه! لائِقِ تَقلِید عمل دے، مونږ ته هُم ضرورتاً سفر ودرَول پکار دي او د **نمونځ** ادا کولو نه پس بیا خپل سفر جاري ساتل پکار دي. [په سفر کښې هُم] **نمونځ** په هیڅ صورت کښې قضا کول نهٔ دي پکار او د جَمعې د پاره هُم کوشش کول پکار دي چې لاړه نهٔ شي.

اسلامي خويندې [په سفر کښې] په دې مُعامَله کښې څه ډېر غفلت کوي، هغوئي ته هُم داسې حِکمتِ عَمَلي اختيارول ضروري دي چې **نمونځ** قضا نهٔ شي.

نہ چھوڑو! نہ چھوڑو! نمازیں نہ چھوڑو! کبھی یادِ حق سے نہ منہ اپنا موڑو

مه پرېږدئ! مه پرېږدئ! نمونځونه کله مه اړوئ د رب د ياد نه! **مخونه** کله

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۹﴾ په سُور نمر کښې په سر د پاسه وريځ

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو سُلَيمان مُکتِب رَحۡمَۃُاللهِ عَلَیۡه بيانوي چې يو ځل مَکے مُکرَّمې ته روان ووم او د حضرتِ سَيِّدُنا کُرْز رَحۡمَۃُاللهِ عَلَیۡه سره په سفر کښې شريک ووم. د هغوئي معمُول وو چې په کوم ځائے به مو پړاؤ اچولو نو خپلې اِضافي کپړې [يعني د سر څادر وغيره] به يې لرې کړو او کجاوه کښې به يې کيښودلو او **نمانځهٔ** د پاره به يې علٰيحده (ځان له) ځائے ته تشريف يوړلو، چې کله به يې د اوښانو د روانيدلو شور واوريدو نو واپس به راغلو. يوه ورځ هغوئي په راتلو کښې ناوخته کړو نو د قافلې کسان د هغوئي په تلاش کښې اُووتل، زهٔ هُم په هغوئي کښې شامل ووم. **ما وليدل چې هغوئي په سخت نمر کښې د دوو غرونو په مينځ کښې يو فراخه ميدان کښې نمونځ کولو او وريځ پرې سورے کړے وو.** د **نمانځهٔ** نه چې فارِغه شو او زهٔ يې وليدم نو زما خوا ته راغلو او ويې وئيل: اَبُو سُلَيمان! تا سره مې يو کار دے. ما ترينه تپوس وکړو: اَبُو عبدُالله! څه کار دے؟ هغوئي اُوفرمائيل: زهٔ غواړم چې تا دلته څه وليدل هغه پټ وساته. ما اُووئيل: ستاسو دا خبره به پټه پاتې وي. هغوئي اُووئيل: وعده وکړه! ما قَسَم اوخوړو چې ستاسو په ژوند کښې به دا خبره هيچا ته هُم نهٔ کووم. (اللہ والوں کی باتیں ج ٥ ص ١٠٣ تا ١٠٤)

## ﴿۱۰﴾ په توکانو [يعني لاړو] مبارکو يې شفاء حاصله شوه

اے د نمانځهٔ عاشقانو! تاسو وليدل! د حضرتِ سَيِّدُنا کُرْز رَحۡمَۃُاللهِ عَلَیۡه د نمونځونو حالت

مرحبا! د هغوئي کرامت مرحبا! د حُبِّ جاه او شُهرت نه د لرې اوسیدلو جذبه مرحبا! د هغوئي یو بل کرامَت واورئ او اِیمان تازه کړئ. چنانچه حضرتِ سَیِّدُنا فُضَیل بِن غَزوان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بیانوي چې حضرتِ سَیِّدُنا اِبنِ شُبْرُمه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ''بَرسام'' (یعنې د سینې په درد یا سکې [یعنې پهیپړو] کښې د اوبو کیدلو په بیمارئ) کښې اخته وو، حضرتِ سَیِّدُنا کُرز بِن وَبَره رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د هغوئي عِیادت [یعنې تپوس] د پاره راغلو. هغوئي د هغهٔ (یعنې مریض) په غوږ کښې خپل لُعاب (یعنې لاړې مبارکې) واچولې (د هغې په بَرَکت) د هغوئي بیماري ختمه شوه. (اللہ والوں کی باتیں ج۵ ص۱۰۳)

سُبْحٰنَ الله! د چا لاړې چې دومره کمالي وي نو د هغهٔ د عَظَمت او شان به څه حال وي!

اولیائے کرام کی شانیں　　　بامقدر ہیں ان کو جو مانیں

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۱۱﴾ د جَهنَّم وریادیدلو اثر

حضرتِ سَیِّدُنا شَدَّاد بِن اَوس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به چې کله خپلې بسترې له لاړو نو داسې ډډې په ډډې به اَووښتلو لکه کټوئ کښې چې د غنمو داني اَوړي را اَوړي، او فرمائیل به یې چې ''د جَهنَّم یاد ما اُودهٔ کیدلو ته نهٔ پریږدي.'' بیا به پاځیدلو او نمونځ به یې شروع کړو. (جَنَّت میں لے جانے والے اعمال ص ۱٤٧)

## ﴿۱۲﴾........نو په خپلو سرونو به مو خاورې اچولے

آه! د جَهنَّم سختې!! هائے! د دوزخ تباهیانې!! د وور د عذاب د ویرې د خائِفینو یعنې خوفِ خُدا لرونکو زړونه ټکړې ټکړې کیږي. په یو روایت کښې دي چې حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یوه ورځ خُطبه ورکړه او ویې فرمائیل: دوه عظیم خیزونه جَنَّت او جَهنَّم مهٔ هیروئ! بیا یې اوژړل تر دې چې اوښکې یې روانې شوې یا یې مبارکو اوښکو د ږیرې مبارکې دواړه ډډې لمدې کړې او ویې فرمائیل: که تاسو ته معلوم وے څه چې د

آخرت په باره کښې ما ته معلوم دي نو تاسو به په خاورو ګرځيدلے او په خپلو سرونو به مو خاورې اچولے. (کتاب الرقة و البکاء مع موسوعه امام اِبنِ ابی دُنیا ج ۳ ص ۱۹۰ حدیث ۱۰۲) (مُکاشَفَةُ الْقُلُوب (اُردُو) ص ٦٦٠)

جلادے نہ نار جہنم کرم ہو    بچے بادشاہ امم یاالٰہی

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۱۱۱)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# ﴿۱۳﴾ د جَنَّت بسترې ښې نرمې دي

حضرتِ سَیِّدُنا عبدُ العزيز بِن ابو رَوَّا رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه به د شپې د اُودهٔ کيدلو د پاره بسترې له راغلو او په هغې به يې لاس راښکلو او فرمائيل به يې: ''ته ډيره نرمه او ډيره ښه يې خو په **الله** پاک مې دې قَسَم وي! د جَنَّت بستره به ستا نه زياته نرمه وي.'' بيا به يې ټوله شپه **نمونځ** کولو. (جَنَّت میں لے جانے والے اعمال ص ۱٤۷)

**اے د جَنَّت طلبګارو!** زمونږ د بُزُرګانو څومره ښکلے شان وو! د چا به د جَهنَّم د ويرې خوب وتښتيدلو او د چا به د جَنَّت په شوق کښې، او آه! يو مونږه يُو چې خوب اګر چې زمونږه هُم کله کله تښتي خو د هغې سبب د جَنَّت شوق يا د جَهنَّم ويره نهٔ وي بلکې صرف د دُنيا غم او ټينشن وي. آه!ـ

عفو کر اور سدا کے لئے راضی ہو جا
گر کرم کر دے تو جنت میں رہوں گا یارب! (وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۸۵)

وکړه بخښنه او راضي شه د هميش د پاره
که کرم وکړې، په جَنَّت کښې به اوسيږم ربه

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿١٤﴾ هره شپه قبرستان کښې

حضرتِ سَیِّدُنا عَمرو بِن عُتبه بِن فَرقَد رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه به هره شپه د کوره اُووتلو او قبرستان ته به يې تشريف يوړلو او فرمائيل به يې: "اے قَبُر والؤ! صَحِيفې راټولې کړے شوې دي او اَعمال اوچت کړے شو!" (مَطلب دا دے چې د مرګ نه پس ستاسو په اعمالنامو کښې د اعمالو ليکلو سلسله ختمه شوې ده مګر زۀ خو لا ژوندے يم، ما ته ښۀ اعمال کول پکار دي) بيا به يې ټوله شپه **نمونځ** (يعني نفلونه) کول. بيا به واپس راغلو او د سحر په **نمانځۀ** کښې به حاضر شو.

(جَنَّت میں لے جانے والے اعمال ص ١٤٨)

## اے دوزخ نه د بچ کيدلو خواهشمندو!

اے دوزخ نه د بچ کيدلو خواهشمندو! د قبرستان (اَدِيرې) خاموشي د دُنيا د سهولتونو او د آرام او راحت د ټولو سامانونو د بربادئ خبر ورکوي، د قبرونو خوا ته حاضري د آخرت تيارئ طرف ته رهنمائي کوي. مات شوي قبرونه لکه چې د بې وفا دُنيا داستانونه اوروي، وائي اوګورئ! په ما کښې دننه د ځنګه ښکلو ښکلو خلکو وجودونه په خاورو کښې بدليږي! "مُکاشَفَۃُ الْقُلُوب" کښې دي: يو کس د حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم نه تپوس وکړو چې د ټولو نه غټ زاهِد څوک دے؟ خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: چا چې **قَبُر** او مَصائب هير نۀ کړل، د دُنياوِي زَيب و زِينَت [يعني د ښکلا] ښۀ څيزونه يې پريښودل، فاني (يعني ختميدونکي) څيزونو باندې يې دائمي (يعني هميشه پاتې کيدونکو) څيزونو ته ترجيح ورکړه، راروان صبا يې په خپل ژوند کښې اُونۀ شميرلو او خپل ځان يې قبرونو والؤ کښې اوشميرلو.

(مُکاشَفَۃُ الْقُلُوب (اُردو) ص ٦٥٨) (شُعَبُ الْاِیْمان ج ٧ ص ٣٥٥ حدیث ١٠٥٦٥)

زندگی آمد برائے بندگی زندگی بے بندگی شرمندگی

[يعني د ژوند مقصد بندګي يعني د **الله** پاک فرمانبرداري کول دي، د بندګئ نه سِوا ژوند خو هسې شرمندګي ده]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۱۵﴾ د جَنَّت حُوره په خوب کښې

حضرتِ سَیِّدُنا اَزهر بِن مُغِیث رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه چې ډير زيات عبادت گُزار بُزُرګ وو، هغوئي فرمائي چې ما په خوب کښې يوه داسې ښځه وليده چې هغه د دُنيا د ښځو په شان نه وه، ما د هغې نه تپوس وکړو: "ته څوک يې؟" هغې جواب راکړو: "زۀ د جَنَّت حُوره يم." ما چې دا واوريدل نو ما ورته اُووئيل: "زما سره وادۀ وکړه!" هغې جواب راکړو: "زما مالِک له د نکاح پيغام وليږه او زما مَهر ادا کړه." ما ترينه تپوس وکړو: "ستا مَهر څه دے"؟ هغې اُووئيل: "د شپې ناوخته پورې **نمونځ** کول." (جَنَّت میں لے جانے والے اعمال ص ۱۴۸)

## د جَنَّتي حُورې شان

اے د **نمانځۀ** عاشقانو! مونږ ټولو ته د **اللّٰه** پاک رضا حاصلولو د پاره او **جَنَّتُ الۡفِرۡدَوۡس** ته بې حسابه تللو د پاره او د هغې نه ختميدونکي نعمتونه او د غټو سترګو حُورې حاصلولو د پاره د **اللّٰه** پاک په رحمت باندې نظر ساتلو سره سره پينځۀ وخته فرض نمونځونو سره سره ډير ډير نفلونه هُم ادا کول پکار دي. د جَنَّتي حُورې هُم څه ښکلے شان دے! بهارِ شريعت کښې دي: په يو رِوايَت کښې داسې دي چې که حُوره د خپل لاس ورغوے د ځمکې او آسمان تر مينځه را اُوباسي نو د هغې د ښائست په وجه به خَلائق (يعنې مخلوقات) په فِتنه کښې پريوځي او که خپله لُوپټه ظاهره کړي نو د هغې د ښائست په مخکښې به **آفتاب** (يعنې نمر) داسې شي لکه د **آفتاب** (يعنې د نمر) په مخکښې ډِيوه. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب ج ٤ ص ٢٩٨ حدیث ٩٧) که يوه حُوره په سمندر کښې **تُوکاني** [يعنې لاړې] تُوکي نو د هغې د توکانړو د خوږ والي په وجه به سمندر خوږ شي. (بهارشریعت ج ۱ ص ۱۵۲، ۱۵۹)

یاخدا میری مغفرت فرما　　باغِ فردوس مرحمت فرما

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۷۵)

يا اللّٰه وکړې مغفرت زما　　د اوسيدو ځائے کړې جَنَّت زما

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب!　صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۱٦﴾ الله پاک په خوب کښې اُوفرمائيل

يو بُزُرګ په خوب کښې الله پاک وليدو او الله پاک نه يې دا فرمان واريدو چې زما دې په خپل عِزَّت او جَلال قَسَم وي! زهٔ به سُلَيمان تَيمي له د اوسيدلو ښهٔ ځائے ورکووم ځکه چې هغهٔ څلويښتو کالو پورې زما د پاره د ماسخوتن په اوداسه د سحر **نمونځ** ادا کړے دے.

(اِحْيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج۱ ص۱۰٦۰)

سُبْحٰنَ الله! د نمانځهٔ د عاشقانو به څه وائې!

جس وقت اے نمازیو! دنیا سے جاؤ گے | راضی خدائے پاک کو لاریب پاؤ گے

چې کله نمونځ ګزاره تهٔ لاړ شې د دُنيا نه | بيشکه به راضي وي الله ستا نه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۱۷﴾ نمانځهٔ له تللو کښې په لاره کښې وفات

حضرتِ سَيِّدُنا عُبَيده بِن جَرَّاح رَضِیَ اللهُ عَنْهُ **بَيتُ الْمُقَدَّس** ته نمانځهٔ له روان وو چې په لاره کښې وفات شو او د طاعُون په وجه يې د شهادت رُتبه حاصله کړه. (حضرت سیِّدُنا اَبُو عُبَيده بِن جَرَّاح رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ص۵۰)

## د شهادت د ثواب حاصلولو اَسباب

اے د نمانځهٔ عاشقانو! د الله پاک خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې په خپل ظاهري ژوند کښې کومو لسو صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته يو ځائے د جَنَّت خوشخبري ورکړې وه هغوئي ته "عَشَرَهٔ مُبَشَّرَه" وائي، حضرتِ سَيِّدُنا ابُو عُبَيده بِن جَرّاح رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په هُغه خوش نصيبو کښې شامل وو. **نمانځهٔ** کښې يا **نمانځهٔ** له تللو وخت کښې وفات کيدل د خوش نصيبو حِصَّه او د غټ سعادت خبره ده او طاعُون کښې وفات کيدل شهادت دے، هُم دغسې [بعضې] نورو مرضونو وغيره کښې هُم وفات کيدل د شهادت ثواب دے، مَثَلًا د پوښتۍ درد، مِرګي، د خيټې درد (د بهارِ شريعت جِلد 1 صفحه 858 په حاشِيه نمبر 1 کښې ليکلي دي: د دې (يعني د خيټې د بيمارئ) نه مُراد

اِستِسقا (نومې بيماري چې په هغې کښې خيټه غټه شي او تنده ډيره لګي) يا دستونه کيدل دواړه قولونه دي او دا لفظ دواړو ته شامليدے شي لِـهذا د هغۀ (يعني د **الله** پاک) د فضل نه اُمِّيد دے چې دواړو ته د شهادت اجر حاصل شي) تِږې بِږې او تبه کښې وفات کيدونکے شهيد دے. هُم دغسې ډوبيدلو، سوزيدلو والا، که په چا ديوال راپريوځي د هغې نه، ښځه د ماشوم پيدائش کښې يا د بې وادۀ کيدو په حالت کښې يا د مُوذي ځناور (مَثَلًا د مار وغيره) د چيچلو نه چې وفات شي، څوک چې شلَوونکي ځناور (مَثَلًا ازمري، پړانګ وغيره) اوخوړو هغه هُم شهيد دے. هُم دغسې هره شپه سُوْرَۀ يٰسٓ شريف لوستلو والا او څوک چې په اوداسه کښې اُودۀ شو او وفات شو، د جُمُعې په ورځ مړ کيدو والا، څوک چې په نبِيِّ پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې (هره ورځ) دُرورد شريف لوَلي هغه هُم د شهادت ثواب ګټي. (د نورو تفصيلاتو د پاره بهارِ شريعت جِلد اَوَّل صفحه 857 تا 863 ولولئ)

مرا یہ خواب ہو جائے شہا! شرمندہ تعبیر　　مدینے میں پیوں جامِ شہادت یا رسول اللہ

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۳۲۹)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د سکول ټيچر ښکله توبه ګار شو

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د ايمان د سلامتۍ فِکر زياتولو او د جامِ شهادت څښلو جذبه حاصلولو او دُنيا نه اَمن و امان سره د تللو ذِهن جوړولو د پاره صرف او صرف د عاشقانِ رَسُول په صُحبت کښې اوسئ او هغوئي سره **مَدَني قافِلو** کښې ډير ډير سفر کوئ. **مَدَني سپرلے**: د نَوشهرو فيروز (سندھ) اوسيدونکے يو اِسلامي ورور د دعوتِ اسلامي د سُنَّتو ډک ماحول ته راتلو نه مخکښې د نفس و شيطان په لاسو کښې لوبيدلو. د دُنيوي مستقبل روښانه کولو د پاره به ډير زيات فکرمند اوسيدلو، د ژوند يوه اوږده حِصَّه يـې د دُنياوي عُلومو او فنونو ډِګرو حاصلولو کښې تيره کړې وه خو ديني معلوماتو نه دومره لرې وو چې **نمونځ** يـې هُم په صحيح طريقه نۀ شو کولے او نۀ يـې کله قرآنِ کريم زده کولو د پاره وخت ويستلے وو.

چې کله د ډېر زيات محنت نه پس ”اعلٰى ډِګري“ حاصلولو کښې کامياب شو نو د ښهٔ مُلازمت حاصلولو کوشش يې شروع کړو او ډېر زر د خپلې علاقې يو سکول کښې د ټيچر په منصب فائز شو چې هلته به مَعَاذَالله [يعنې د الله پناه] هلکانو او جينکو يو ځائے سکول وئيلو. چې مال ګټل يې شروع کړو نو په بدو سر شو. د چوټهٔ نه پس به يې زيات وخت د بدو دوستانو سره تيريدلو، لوفرانو دوستانو به ورته د ګناه مختلفې طريقې ښودلې او د بد کار کولو د پاره به يې راپارولو. د بدو دوستانو صُحبت هغه ډېر زيات خراب کړو او آخر داسې کار يې وکړو چې هغه کول نهٔ وو پکار. ”ګُناه کله پټه پاتې کيدے شي“ ځکه په قلاره قلاره د هغهٔ د بدو کارونو نه خلک خبر شو، خلکو د هغهٔ په بد کردار باندې تبصِرې شروع کړې، د کوره به چې اووتلو نو خلکو به د دهٔ باره کښې يو بل ته اشارې کولې او په نفرت او سپک نظر به يې ورته کتل. دغسې هغه د خلکو مخې ته ورتللو نه ډډه شروع کړه. په داسې حالاتو کښې د هغهٔ ژوند تيرول ډېر مشکل شو، هغه خپل ضمير ملامته کول شروع کړو چې ته د سکول يو ټيچر يې او تا په معاشره کښې خپله پيژندګلو په داسې ګنده کار کولو وکړه، د خپل منصب دې هُم هيڅ خيال اُونه ساتلو. د دې حالاتو نه د پريشانه کيدلو په وجه هغه د يو څو ورځو د پاره کلے پريښودو خو بد او مطلبي خلک کله د چا دوستان کيدے شي! آخر دا چې هُم هغه دوستانو د هغهٔ ټول پټ ګناهونه ښکاره کړل او د هغهٔ پاتې عِزَّت يې هُم خاورو کښې ګډ کړو. دې حالاتو کښې به شيطان هغهٔ ته د خُود کشئ کولو وسوسې ورکولې چې په خلکو کښې دې عِزَّت پاتې نهٔ شو نو د ژوند څه فائده! د شيطان خبره منلو په وجه هغهٔ د خپل ځان ختمولو کوشش هُم وکړو خو ژوند يې لا پاتې وو ځکه بچ شو. د هغهٔ خوش قسمتي وه چې د دعوتِ اسلامي خوشبودار ديني ماحول کښې شامل شو او د خودکشئ خيال يې د زړهٔ نه اُووتو، هغهٔ ته د ژوند د بې بها ساګانو د قدر او منزِلَت اِحساس څه داسې وشو چې يو ځل يې ټي وي چالو کړو او چينل يې بدلولې را بدلولې چې **مَدَني چينل** ته ورسيدو نو لاس يې ودريدلو. هغه وخت براهِ راست مَدَني مُذاکره کيدله، د عِلمِ دِين ګُلونه تقسيميدل، د فِکرِ آخرت شُعُور

ورکړے کيدلو، مَدَني مُذاکره اوريدلو اوريدلو کښې پرې رِقّت راغے [يعني زړۀ يې نرے شو]، د خوفِ خُدا داسې غَلَبه پرې راغله چې د سترګو نه يې اوښکې رواني شوې. هغه د خپل مغفرت د پاره فکرمند شو، د ګناهونو نه يې توبه وکړه او د دعوتِ اسلامي د هفته وارې اِجتِماع معلومات يې حاصل کړل او اِجتِماع ته د تللو معمول يې جوړ کړو، د ديني ماحول بَرَکتونه حاصلول يې شروع کړل او په مَدَني قَافِلو کښې يې سفر هُم شروع کړو، چې د دعوتِ اسلامي والؤ صُحبت ورته حاصل شو نو زړۀ ته يې سکون حاصل شو، بې قرارې يې ختمه شوه او د نمونځونو پابندي يې شروع کړه. د هغۀ په ژوند کښې راتلونکې مَدَني اِنقِلاب باندې هر کس حيران وو، هُم هغه خلک چې د هغۀ د سُورې نه به هُم تښتيدل او د هغۀ نه به يې نفرت کولو او سپک نظر به يې ورته کولو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه هغوئې ورسره د مَحبَّت سُلُوک شروع کړو.

اے گناہوں کے مریضو! چاہتے ہو گر شفا آن کرتے ہی رہو تم مدنی چینل کو سدا

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٣٣)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۱۸﴾ آقا ﷺ به اَهلِبَيت د نمانځۀ د پاره پاڅول

حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس بن مالِک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: شپږو مياشتو پورې د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا معمول وو چې د سحر د نمانځۀ د پاره تشريف وړلو وخت کښې به د حضرتِ سيِّده فاطمةُ الزَّهرا رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د کور په خوا تيريدلو نو فرمائيل به يې: "اے اَهلِ بَيت! نمونځ قائم کړئ." (بيا به يې د سيپاره 22 د سُوْرَةُ الْاَحْزاب آيت نمبر 33 تلاوت فرمائيلو)

اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَيْتِ وَ يُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيْرًا ﴿۳۳﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: الله خو هُم دا غواړي اے د نبي د کور کسانو چې تاسو نه هره ناپاکي لرې کړي او تاسو پاک کړي ښۀ سوتره.

حَکِيمُ الْاُمَّت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په ”تفسِير نُورُالۡعِرفان“ کښې په دې حديثِ پاک کښې د بيان شوي آيتِ مبارکه لاندې چې څه فرمائيلي دي په هغې کښې دا هُم دي: په کور کښې اوسيدونکي ټول خلک د انسان ”اَهل“ وي. ښځې، اولاد، وروڼه وغيره. کامِل [يعنې پوره] نمونځ ګُزاره هغه نۀ دے چې صرف پخپله نمونځ کوي بلکې (پوره نمونځ ګُزاره خو هغه دے چې پخپله نمونځ ګُزاره وي او د خپل کور ټول کسان هُم نمونځ ګُزاره جوړ کړي. (تفسِير نور الۡعِرفان ص۵۱۲)

## ﴿۱۹﴾ بي بي فاطِمه او ګاونډيانو سره همدردئ

د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږ نمسے حضرتِ سَيِّدُنا اِمامِ حَسن مُجتَبیٰ رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي: ما به خپله والِده مُحترمه رَضِيَ اللهُ عَنۡهَا ليدله چې د شپې به يې په مسجِدِ بَيت (يعني په کور کښې د نمونځ کولو مخصوص ځائے) کښې نفلونه کول تر دې چې د سحر د نمانځۀ وخت به شو. ما د هغې نه د مسلمانانو سړو او ښځو د پاره ډيرې دُعاګانې اوريدلې دي. هغې به د خپل ذات د پاره هيڅ دُعا نۀ کوله. ما عرض وکړو: مور جانې! څه وجه ده چې تاسو د خپل ځان د پاره هيڅ دُعا نۀ کوئ؟ هغې اُوفرمائيل: ”مخکښې ګاونډ دے بيا کور.“ (مدارِجُ النُّبُوَّت ج۲ ص۴۶۱)

## د ګاونډيانو بعضې حقونه

**اے د صحابه او اَهلِبَيتو عاشقانو!** تاسو د جَنَّتيانو ښځو د سردارې حضرت بي بي فاطِمه زَهرا رَضِيَ اللهُ عَنۡهَا د عبادت شوق او ګاندېانو باندې مهرباني وليده! بيشکه د ګاونډيانو غټ اَهَمِّيَّت دے، افسوس! اوس مونږ د دې احساس نۀ کوو. ګاونډيانو سره هميشه ښۀ سُلُوک کول پکار دے. د مَکتَبَةُالۡمَدِينه ”مُکاشَفَةُالۡقُلُوب“ (اردو) صفحه 587 کښې د ورکړې شوي مضمون په رڼا کښې عرض کيږي: د **ګاونډي** د حقونو نه دا هم دي چې د هغۀ ليدلو سره دې هغۀ ته سلام کوي، هغۀ سره دې اوږدې خبرې نۀ کوي، د هغۀ نه دې اکثر غوښتل نۀ کوي، مرض کښې دې د هغۀ پوښتنه کوي، مصيبت کښې دې هغۀ ته تسلي ورکوي، که هغۀ کره مړے وشي نو

هغهٔ سره دې موجود اوسي، خوشحالۍ کښې دې هغهٔ ته مبارکباد ورکوي او د هغهٔ په خوشحالۍ کښې دې شريک اوسي، د هغهٔ غَلَطۍ دې معاف کوي، د خپل چت نه دې د هغهٔ کور ته نه ګوري، هغه دې د خپل کور په ديوال باندې د لرګي (برګه، بَـش) وغيره ايښودلو نه نهٔ منع کوي، د هغهٔ د کور په انګڼ کښې يا دروازې سره دې کچره، خاوره (وغيره) نهٔ غورزوي، د هغهٔ د کور لار دې نهٔ تنګوي (د هغهٔ د کور مخې ته دې په ګاډي ودَرولو يا هارن وهلو باندې هغهٔ ته تکليف نهٔ ورکوي)، هغه چې کور ته څه څيز وړي هغې ته دې رتې رتې نهٔ ګوري، د هُغه په غير موجودګۍ کښې دې د هغهٔ د کور د حفاظت نه نهٔ غافِله کيږي، د هغهٔ غِيبَت دې (د هيچا نه) نهٔ اوري، د هغهٔ د عِزَّت حفاظت دې کوي، د هغهٔ اولاد سره دې په نرمۍ خبرې کوي، د کومو دِيني او دُنياوي اُمورو نه چې هغه ناواقِفه وي په هغې کښې دې د هغهٔ رَهنُمائي کوي. دا هُغه حُقُوق دي کوم چې عام و خاص د هر مسلمان د پاره ضروري دي.

پڑوسی کو بھائی! نہ ہر گز ستانا　　　وگرنہ جہنم بنے گا ٹھکانا

ګاونډي مهٔ تنګوه اے زما وروره　　　ګنې لا ړ به شې دوزخ ته زما وروره

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۲۰﴾ چرګ چې کله بانګ وکړو

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ مسعُود رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ فرمائي: د حُضُور نَبِـيّ کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوا ته يو چرګ بانګ وکړو نو يو کس اُووئيل: ''اے **الله!** په دهٔ لعنت وکړې.'' خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اوفرمائيلو: ''په دهٔ لعنت مهٔ کوه او بد ورته مهٔ وايه، بيشکه دا د **نمانځهٔ** د پاره بلل کوي.'' (اللہ والوں کی باتیں ج ٤ ص ٣٣٥)

## ''چرګ نمانځهٔ د پاره رابلل کوي'' د دې معنٰى

حضرت عَلَّامه کمالُ الدِّين دَميري رَحۡمَةُ اللہِ عَلَیۡه فرمائي: ''چرګ نمانځهٔ د پاره رابلل کوي'' د

دېِ معنٰی دا نهٔ ده چې هر کله هغه بانګ کوي نو دا دېِ اوګڼلے شي چې د **نمانځهٔ** وخت شو بلکې د چرګ فِطرت کښې دا خبره ده چې هغه د سحر راختلو په وخت کښې بيا بيا اذان کوي چې د هغې په وجه خلک نمانځهٔ ته پاڅي او دغسې چرګ خلک نمانځهٔ ته د راپاڅولو ذريعه دے، دېِ ته مَجازاً (يعنې مُرادي طور) دُعَاءُ الدِّيْكِ اِلَى الصَّلٰوةِ (يعنې چرګ **نمانځهٔ** د پاره رابلل کوي) وئيلے شوي دي. بهرحال د سحر د وخت په تَعَلُّق د دهٔ په بانګ بالکل اِعتِماد کول نهٔ دي پکار ځکه چې اکثر تجرباتو نه دا خبره ثابته شوې ده چې د انسانانو د ښکالو [يعني د ښپو آواز] اوريدلو او ګرځيدلو راګرځيدلو باندې د صبا صادِق نه مخکښې هُم چرګان بانګونه شروع کړي. (حياةالحيوان ج١ص٤٧٩ مُلَخَّصاً)

## د الله فضل اوغواړئ!

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: چې کله تاسو د چرګ آواز واورئ نو **الله** پاک نه د هغهٔ فضل اوغواړئ ځکه چې چرګ فرښته وِيني او چې کله تاسو د خَر آواز واورئ نو د **الله** پاک پناه اوغواړئ ځکه چې خَر شيطان وِيني. (بُخاری ج٢ص٤٠٥ حديث ٣٣٠٣)

## د چرګ د بانګ په وخت کښې دُعـا قبليږي

د رَحـمَتِ عالَم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې اِرشاد "چې د چرګ آواز واورئ نو **الله** پاک نه د هغهٔ فضل اوغواړئ" په وَضاحَت کښې حضرتِ سَيِّدُنا قاضِي عِياض رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي چې فرښتې د مومِن بنده په دې (يعنې د فضل په) دُعـا "آمِين" وائي او د هغهٔ د پاره **اِسْتِغْفار** کوي او د هغهٔ د اِخلاص ګواهي ورکوي او دا (يعنې د چرګ د بانګ کولو) وخت د دُعـا د قبليدلو وخت دے. او "خَر" د شيطان په ليدلو هنېري يعنې آواز اوباسي، د دې وجه دا ده چې شيطان اُووِيني نو خَر اويريږي. لِـهذا مومِن بنده ته پکار دي چې د **تَعَوُّذ** (يعنې اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم وئيلو) په ذريعه د **الله** رَبُّ الْعِزَّت د رَحمت په پناه کښې راشي. (حياةالحيوان ج١ص٤٧٩ مُلَخَّصاً)

## د چرګ د غوښې مُتَعَلِّق 10 مَدَنـي ګلونه

(١) د چرګ غوښه د غِذائِيَت نه ډکه وي (٢) د هغه چرګ غوښه زياته خوږه وي د کوم آوز چې نۀ زيات په قلاره وي او نۀ ډير اوچت (٣) د وړوکي عُمر د چرګ چې لا بانګ يـې نۀ وي کړے [يعنې د چرګوړي] غوښه د ټولو د پاره فائده منده وي (٤) د چرګ غوښه په جمي [يعنې د يخنئ] په موسم کښې زياته فائده ورکوي (٥) د دې غوښه د "يَخ مِزاج والؤ" او بُوډاګانو د پاره فائده منده وي (٦) د ځوان چرګ غوښه د خيټې د پاره فائده منده ده او قبض ختموي. او د دې غوښه (٧) د قُولِنج (د غټې کولـمې [يعنې د پينغ د درد.] (٨) د جوړونو د درد (٩) رَعشه (يعنې د بدن د رپيدلو د بيمارئ) او (١٠) د تبې د پاره هُم فائده منده ده.

## د آزاد ګرځيدونکي ښاروي غوښه

د فارمي ښاروو [او چرګانو] په ځائے د هغه حلالو ښاروو [او چرګانو] غوښه ښه وي کوم چې په آزادئ سره ځريږي او داني وغيره خوري. **ښاروي [او مرغۍ] ځنګول**: چرګان، ګډان، سپي وغيره د هر قِسمه ځناور ځنګول يا د هغوئي د ځنګولو تماشه کتل دواړه حرام دي او جَهنَّم ته بوتلونکي کارونه دي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٢١﴾ د کور لرې کيدلو حِکمَت

حضرتِ سَيِّدُنا اُبَـئ بِن کَـعْب رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: زۀ يو داسې صاحِب پيژنم چې د هغوئي کور د مَسجِدُالنَّبَوِی نه د ټولو نه لرې وو او د هغوئي نه به **نمونځ** (يعنې جَـمعه) کله هُم نۀ قضا کيدله، ما هغوئي ته مشوره ورکړه چې حِمار [يعنې خر] واخلئ چې په هغې سور په نمر او تِياره کښې په آسانئ جومات ته راتلے شئ. هغوئي اُووئيل: زما نِيَّت دا دے چې زما د پاره د کور نه جومات پورې د راتلو او د جومات نه د کور کسانو طرف ته د واپس تللو ثواب اوليکلے شي.

حُضُورِ اَقدَس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (هغه صحابي ته) اِرشاد اوفرائيلو: ”اللہ پاک دا ټول (ثواب) ستا د پاره جَمعَ کړلو.“ (مُسلِم ص ٢٦٢ حديث ١٥١٤ مختصراً)

## په هر هر قدم باندې نيکي

سُبْحٰنَ الله! د صحابي د نيکو د حِرص به څه وائې! بيشکه د جَمعې نمانځهٔ له تللو راتللو کښې جومات طرف ته هر قدم، کوم يو نيک مَجلِس، د عُلَماء او نيکو بندګانو د ديدار، د ښهٔ صُحبَت، د سُنَّتو ډکو اِجتِماع، محفِلِ نعت وغيره طرف ته د تللو راتللو د پاره هر هر قدم ليکلے کيږي، قدمونه چې څومره زيات وي نيکئ هُم هغه هومره زياتې وي. کاش چې مونږ ته هُم د نيکو جمع کولو جذبه حاصله شي.

کچھ نیکیاں کمالے جلد آخرت بنالے کوئی نہیں بھروسا اے بھائی! زندگی کا

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ١٧٨)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٢٢﴾ په ښه طريقه نمونځ کوونکے به يې آزادولو

صحابي اِبنِ صحابي حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن عُمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا به چې خپل کوم غُلام په ښه طريقه **نمونځ** کولو اوليدلو نو هغه به يې آزاد کړلو. چې کله غُلامان د دې خبرې نه خبر شو نو هغوئ اِبنِ عُمَر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ښودلو د پاره په ښه طريقه **نمونځ** کول شروع کړو او هغوئ به هُم هغوئ آزادول. چا هغوئ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته په دې باره کښې عرض وکړو نو هغوئ اِرشاد اُوفرمائيلو: څوک چې د **اللہ** په نُوم باندې مونږ ته دوکه راکوي مونږ د هغوئ نه دوکه خورو. (المستطرف ج١ ص ٢٠٧)

## ﴿٢٣﴾ نمونځ کزاره غُلامانو ته آزادي حاصله شوه

حضرتِ سَيِّدُنا مُعاذ بِن جَبَل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ **نمانځهٔ** د پاره تشريف يوړلو او غُلامان يې په ځان

پسې شا ته **نمونځ** کولو باندې وليدل نو تپوس يې ترينه وکړو: تاسو د چا د پاره **نمونځ** کوئ؟ هغوئي اُووئيل: د **الله** پاک د پاره. هغوئي رضی اللہ عنہ اُوفرمائيل: "ځئ لاړ شئ! ما تاسو ټول د **الله** پاک د رضا د پاره آزاد کړئ." (اللہ والوں کی باتیں ج۱ ص۴۲۱)

سُبْحٰنَ الله! د نمونځونو په بَرَکت غُلامانو ته په دُنيا کښې آزادي حاصله شوه، اِنْ شَآءَ اللّٰه مونږ غُلامانِ مُصطَفیٰ ته به هُم د حضرتِ سَيِّدُنا مُعاذ بِن جَبَل رضی اللہ عنہ د هغه خوش نصيبو غُلامانو (او په حقيقت کښې زمونږ د سردارانو) په خاطر د **نمانځهٔ** په بَرَکت د جَهنَّم نه آزادي نصيب شي.

پابندی نماز کی عادت بنائیے　　دوزخ سے بچ کے سوئے جناں بڑھتے جائیے

عادت جوړ کړئ د نمانځه د پابندئ　　ذريعه ده جنت ته د تلو او دوزخ نه د ازدئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۲٤﴾ د نيکئ خاموش دعوت

حضرتِ سَيِّدُنا ابوبکر صِدِّيق رضی اللہ عنہ د اسلام په شروع کښې د خپل کور په آنګڼ کښې يو جومات جوړ کړے وو، هلته به يې د قرآنِ کريم تِلاوَت کولو او **نمونځ** به يې پکښې کولو. خلکو به چې د هغوئي دغه رُوح تازه کوونکے منظر وليدو نو د هغوئي خوا و شا ته به راجمع شولو، د هغوئي رضی اللہ عنہ تِلاوَتِ قرآن او عبادت و رِياضَت او خَوفِ خُدا کښې د ژړلو په وجه به خلک ډير مُتأَثِّره کيدل. د هغوئي د دې عمل په سبب ډير خلک اسلام کښې داخل شو. (فیضانِ صدیق اکبر ص۶۲)

## ﴿۲۵﴾ د دُعـا په بَرَکت مغفرت

اے د **نمانځهٔ عاشقانو!** معلومه شوه چې د **الله** پاک د نيکو بندګانو د نيکو، د هغوئي د صُحبتونو او د هغوئي په دُعـاګانو نورو ته فائده رسي. چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا يزِيد بِن هارون رحمۃ اللہ علیہ وائي: ما حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو اِسحٰق **محمد** بِن يَزِيد واسطي رحمۃ اللہ علیہ په خوب کښې وليدو

نو تپوس مې ترينه وکړو: **اللّٰه** تعالیٰ تاسو سره څه مُعامَله وکړه؟ نو هغوئي اُوفرمائيل: زما مغفرت يـې وکړو. ما ترينه تپوس وکړو: د مغفرت څه سبب جوړ شو؟ هغوئي اُوفرمائيل: يوه ورځ حضرتِ سَيِّدُنا **اَبُو عَمرو بصري** رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه د **جُمُعې** په ورځ زمونږ خوا ته تشريف فرما شولو او دُعـا يـې وکړه نو مونږه اٰمِين اُووئيلو، بس په هُم دې وجه مې **مغفرت** وشو. (شَرْحُ الصُّدُور ص ۲۸۲، کتاب المنامات مع موسوعة اِبنِ اَبِي الدُّنيا ج ۳ ص ۱۵۶ رقم ۳۳۷)

نیک بندوں کے طفیل اے میرے پیارے کردگار
بخش دے بس بخش دے تو بخش دے پروردگار

## د حاجي مُشتاق اِنفرادي کوشش

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** د عِلمِ دِين زده کولو او ښودلو ثواب حاصلولو د پاره د فيضانِ سُنَّت کم از کم دوه درسونه ورکولو يا اوريدلو معمول جوړ کړئ، اِنْ شَآءَاللّٰه ستاسو معلوماتو کښې به د ډيرې اضافې سره سره تاسو ته نور بَرَکتونه هُم نصيب شي، د فيضانِ سُنَّت د درس يو **مَدَني سپرلے** اوګورئ: چنانچه د اورنګي ټاؤن، کراچۍ اوسيدونکي يو اسلامي ورور د **"دعوتِ اسلامي"** ديني ماحول کښې شامليدلو نه مخکښې د ګناهونو ډک ژوند تيرولو، سندرې او سازونه اوريدل او د ګډا پروګرامونو کښې ګډا کول د هغهٔ خوښه مشغله وه. د **اللّٰه** کريم داسې کرم وشو چې د هغهٔ د علاقې يو اِسلامي ورور هغهٔ ته ترغيب ورکړو چې د ماسخوتن د نمانځهٔ نه پس مَدرَسةُ الْمَدِينه (بالغان) ته قرآنِ مجيد لوستلو د پاره راځه. د اسلامي ورور د مَحَبَّت نه ډک انداز يـې چې وليدو نو هغهٔ انکار اُونکړے شو، چې کله يـې د ماسخوتن **نمونځ** کولو نه پس په مَدرَسةُ الْمَدِينه (بالغان) کښې سبق لوستل شروع کړو نو د هغه ځائے ماحول يـې ډير خوښ شو او باقاعدګۍ سره يـې هلته تلل شروع کړل، هلته به د قرآنِ کريم [ناظره] تعليم ورکړے کيدلو، د اودس، غُسل او نمانځهٔ مسائل به ښودلے شو او په ډير ښکلي انداز کښې به اخلاقي تربِيَّت هُم کيدلو. مَدرَسةُ الْمَدِينه (بالغان) کښې د سبق وئيلو په بَرَکت هغه د هفته واره سُنَّتو ډکه اِجتِماع پابند شو، "نيک اعمالو" باندې يـې

عمل هُم شروع کړو او په زړۀ کښې يـې د نيکو اعمالو طرف ته رَغبَت زياتيدل هُم شروع شو. يو ځل د ”دعوتِ اسلامي“ د مرکزي مجلِسِ شوریٰ مرحُوم نګران حاجي مُشتاق عطاري رَحمَةُ اللهِ عَلَيه د هغوئي علاقې ته تشريف يوړلو او هغۀ ته يـې د اِنفرادي کوشش په دوران کښې اُوفرمائيل: تاسو د فيضانِ سُنَّت درس ولې نۀ ورکوئ؟ هغۀ عُذر بيان کړو چې ”صاحبه زما ږيره نشته.“ حاجي مُشتاق مرحوم ورته اُوفرمائيل: ”اِنْ شَآءَاللّٰه د درس په بَرَکت به ږيره هم پريږدې.“ د حاجي مشتاق وَينا پوره شوه يعنې اَلْحَمْدُلِلّٰه هغۀ د فيضانِ سُنَّت درس ورکول هُم شروع کړو او ږيره مبارکه يـې هُم پريښودله.

تو داڑھی بڑھالے عمامہ سجالے  نہیں ہے یہ ہرگز برا مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٦)

تۀ ږيره پريږده او عِمامه په سر کړه  راشه ډير ښۀ دے دا ديني ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٢٦﴾ عجيبه زلـمے

حضرتِ سَيِّدُنا ابو عبدُالله رَحمَةُ اللهِ عَلَيه په يو جومات کښې مُـؤَذِّن وو. هغوئي فرمائي: زما يو زلـمے ګاونډي وو چې ما به څنګه اذان وکړو هغه به فوراً جومات ته راغلو او هر نمونځ به يـې جَمعې سره ادا کولو، نمانځۀ نه فوراً پس به خپل کور ته روان شو. زما دا خواهش وو چې کاش دا زلـمے زما سره خبرې وکړي يا زما نه د خپل ضرورت څه څيز اوغواړي. يوه ورځ هغه زلـمے زما خوا ته راغلو او ما ته يـې اُووئيل: اے ابو عبدُالله! آيا تاسو ما ته د تِلاوت د پاره عارضي طور قرآنِ پاک راکولے شئ؟ ما هغۀ ته قرآنِ کريم ورکړو، هغۀ واخستلو او سينې ته يـې ولګولو او ويـې وئيل: ”نن مونږ ته ضرور څه غټه واقعه پيښيدونکې ده.“ دا يـې اُووئيل او خپل کور طرف ته روان شو. هغه ما تولـه ورځ اُونۀ ليدلو. نو زما په زړۀ کښې تشويش پيدا شو. زۀ د ماسخوتن د نمانځۀ نه پس د هغۀ کور ته ورغلم نو هغه زلـمے وفات پروت دے او يو طرف ته يـې بالښت او لَوټه پراته دي او قرآنِ کريم يـې په غيږه کښې دے. ما قرآنِ کريم

اوچت کړو او خلکو ته مې د هغهٔ د مرګ خبر ورکړو. بیا مو اوچت کړو او په کټ کښې مو واچولو. ما ټوله شپه دا سوچ کولو چې د دهٔ کفن د چا نه اوغواړم! دهٔ ته به کفن څوک ورکوي؟ چې د سحر د **نمانځهٔ** وخت شو نو ما اذان وکړو او چې څنګه جومات ته داخل شوم نو **په مِحراب کښې مې نُور شان اولیدو، چې ورغلم نو څه ګورم چې کفن پروت دے**، ما هغه راواخستو او خپل کور کښې مې کیښودو او د **اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت** شُکر مې ادا کړو چې هغهٔ جَلَّ جَلَالُهٗ د کفن مسئله حل کړه، بیا مې د سحر **نمونځ** شروع کړو، چې سلام مې وګرځولو نو زما نښي طرف ته (د هغه وخت مشهور اولیائے کرام) حضرتِ سَیِّدُنا ثابِت بُناني، حضرتِ سَیِّدُنا مالِک بِن دِینار، حضرتِ سَیِّدُنا حبیب فارسي او حضرتِ سَیِّدُنا صالِح الـمُرِّي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم موجود دي. ما د هغوئي نه تپوس وکړو چې اے زما وروڼو! نن سحر تاسو دلته څنګه تشریف راوړلو؟ هغوئي اُوفرمائیل: آیا ستاسو په ګاونډ کښې نن څوک وفات شوے دے؟ ما عرض وکړو: "آو جي! یو زلـمے وفات شوے دے چې هغهٔ به زما سره یو ځائے **نمونځ** کولو." هغوئي اُوفرمائیل: مونږه د هغهٔ خوا ته بوځه. ما هغوئي ځان سره بوتلل او د هغه زلـمي کور ته ورغلو نو حضرتِ سَیِّدُنا مالِک بِن دِینار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د هغهٔ د مخ نه کپړه لرې کړه او د هغهٔ د سجدې ځائے یې ښکل کړو، بیا یې اُوفرمائیل: "اے **حَجَّاج** (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه)! زما مور او پلار ستا نه قُربان! چې کوم ځائے کښې هُم ستا حال خلکو ته ظاهر شو تا هغه ځائے پریښودو او داسې ځائے کښې دې اوسیدل اختیار کړل چې هلته ته هیچا هُم نهٔ پیژندلې." د هغې نه پس هغه بُزُرګانو هغه زلـمي ته غُسل ورکول شروع کړو، په هغوئي کښې هر یو سره یو یو کفن وو، ټولو هُم دا فرمائیل چې دې زلـمي ته به زهٔ **کفن** ورکووم. نو ما مِحراب کښې مِلاؤ شوے کفن هغوئي ته اوښودو او قصه مې ورته بیان کړه، په دې خبره هغوئي ټولو اُوفرمائیل چې "دې زلـمي ته به هُم دا **کفن** ورکوو." بیا مونږه هغهٔ ته هُم هغه کفن ورکړو او قبرستان طرف مو واخستلو. د هغه زلـمي په جنازه کښې دومره کسان شامل شو چې مونږ ته د اُوګې ورکولو موقع هُم مِلاؤ نهٔ شوه، معلومه نهٔ ده چې د هغهٔ په جنازه کښې شرکت کولو د پاره دومره ډیر خلک د کوم ځائے نه راغلي وو؟

(عيون الحكايات (اردو) ج۱ص۹۷) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم**

## نيکئ پټولو کښې خير دے

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** **سُبْحٰنَ الله**! تاسو وليدل چې يو عام ښکاره کيدونکے زلـمے د **الله** مقبول بنده وختلو! د حُبِّ جاه [يعني د خپل صفت خواهش لرلو] او رِياکارئ نه بچ کيدلو د پاره هغهٔ څان پټ ساتلے وو! د نيکو پټولو مقصد د هغې د ضائِع کيدلو نه بچ کول هُم وي ځکه چې نفس او شيطان د انسان ښکاره دُښمنان دي او هغوئي انسان نيکئ کولو ته نهٔ پريږدي او که څوک هِمَّت وکړي او څه نيکي وکړي نو دوئي يې پټه ساتلو ته نهٔ پريږدي. د شيطان په دوکه کښې د راتللو په وجه د خلکو د مُتأَثِّره کولو د پاره د انسان په زړهٔ کښې د خپلو نيکو ښکاره کولو خواهش پيدا کيږي نو هغه خلکو ته خپل اعمال ښکاره کړي او هغوئي نه د خپلې نيک نامئ صفت واوري او د تَـکَبُّر، حُبِّ جاه او رياکارئ جَوَړې کندې ته غوزار شي. لِـهذا که چا ته د يو نيک عمل کولو سعادت نصيب شي نو د هغه نيک عمل د کولو نه پس د هغې پټ ساتلو کښې خير وي.

## اويا هومره اضافه ختمه کړے شي

واقعي خپل نيک اعمال پټ ساتل د نيکو کولو نه زيات مشکل وي ځنګه چې د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو دَرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې د نَبِـيِّ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: بيشکه عمل کولو نه پس هغه د رِياکارئ نه ساتل د عمل کولو نه زيات مشکل دي. او انسان چې څه عمل کوي نو د هغهٔ د پاره داسې نيک عمل اوليکلے شي کوم چې تنهائي [يعني يواځې ځائے] کښې شوے وي او د هغهٔ د پاره اويا هومره ثواب زيات کړے شي. بيا شيطان په هغهٔ پورې انښتے وي (او هغه راپاروي) تر دې چې سړے د خلکو په مخکښې د هغه عمل ذِکر وکړي او هغه ښکاره کړي نو بيا د هغهٔ د پاره دا عمل (د پټ په ځائے) عَلانِيه [يعني ښکاره]

اوليکلے شي او د اجر نه يې اوبا (70) هومره اِضافه ختمه کړے شي، تر دې چې هغه دويم ځل د خلکو په مخکښې د هغه عمل ذِکر کوي او غواړي چې خلک هُم د هغه تذکره وکړي او په هغه عمل د هغهٔ صِفَت اوکړے شي نو هغه د عَلانِيه نه هُم ختم کړے شي او رياکارئ کښې اوليکلے شي. پس بنده دې د اللّٰه پاک نه اويريږي او د خپل دِين حفاظت دې وکړي او بيشکه رِياکاري شِرکِ (اَصغر) دے. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج١ ص٤٧ حديث ٥٦)(نيکياں چھپاؤ ص٢١تا٢٢)

## عمل پټولو کښې هيڅ نقصان نشته

حضرتِ سَيِّدُنا عَلّامه عبدُ الغني نابلُسي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: چې په رِيا او اِخلاص دواړو کښې شيطاني چالُونه او دوکه بازئ دي نو تا ته بيدار او خبردار اوسيدل لازِم دي. پس! که تهٔ په دې نهٔ پوهيږې چې تهٔ مُخلِص يې که رِياکار نو بيا خو ستا د پاره خپل نيک اعمال صرف پټول بهتر دي چې په دې کښې ستا د پاره هيڅ نقصان نشته. (حديقة ندية ج١ ص٥١٧ مُلَخَّصاً)(نيکياں چھپاؤ ص٢٠تا٢٢)

## بعضو صورتونو کښې نيکئ ښکاره کولو کښې ثواب دے

ياد ساتئ! بعضې صورتونو کښې نيکئ ښکاره کولو کښې ثواب دے مَثَلًا داسې کس چې خلک د هغهٔ تابعداري کوي، هغه خلکو ته د ترغيب ورکولو په نِيَّت داسې عمل ښکاره کولے شي هله چې هغه ظاهرولو کښې د رِيا ګډون (يعني مِلاوټ) نهٔ وي. دغسې اخلاص سره عمل ښکاره کولو باندې هغه د ثوابِ عظيم حقدار دے ځنګه چې په حديثِ پاک کښې دي: ”چې کله د عَلانِيه عمل تابعداري اوکړے شي نو هغه (ښکاره کوونکے عمل) د پټ کوونکي عمل نه افضل دے“ (شُعَبُ الۡاِيمان ج٥ ص٣٧٦ حديث ٧٠١٢)

بنادے مجھ کو الٰہی خلوص کا پیکر　　قریب آئے نہ میرے کبھی ریا یارب

(وَسائلِ بخشِش(مُرَمَّم) ص ٧٨)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب!　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# تذکرۂ حضرت اَبُو دَرداء رَضِیَ اللہُ عَنْہُ

**اے عاشقانِ صحابه و اَهلِبَیت!** د تیر بیان شوي حدیثِ پاک راوِي (یعني بیانوونکے) صحابِي رَسُول حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو دَرداء رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دے. د صحابۂ کرامو لوئي شان دے، د **اللّٰه** پاک آخري رَسُول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "هُغه مسلمان ته به د جَهنَّم وور نۂ رسي چا چې زۀ ولیدم یا یې زما لیدونکے (یعني یو صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ) ولیدو." (ترمِذِی، ج٦ ص٤٦١ حدیث ٣٨٨٤)
**اللّٰه** پاک چې په کومو خوش نصیبو باندې د فَهم و فِراسَت (یعني عقل او پوهې) دروازې برسیره کړې دي او د کومو خلکو په ژبه یې چې د عِلم وا حِکمَت چینې جاري کړې دي په هُغه خوش نصیبو کښې یو نوم د عالِمِ بےمثال، قاري باکمال، عابِدِ با اِخلاص، مشهور صحابِيِ رَسُول حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو دَرداء رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دے. شهنشاهِ دوعالَم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: "زما د اُمَّت حکیم **عُوَیْمَر** (یعني اَبُو دَرداء) دے." (مُسند الشامیین ج٢ ص٨٨)

## نوم او کنیَت

د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اصل نوم **عُوَیْمَر** او کنیَت اَبُو دَرداء دے. هغوئي به تویځ په سر کوله او په هغې به یې د عِمامې شریفې تاج تړلو او شمله مُبارکه به یې د دواړو اُوګو تر مینځه (یعني شا مبارکه) باندې ساتله. هغوئي به مخکښې تِجارت کولو. خو د عِبادت د شوق او د آخرت د حساب د سختئ د ویرې نه یې تِجارت پریښودو او په یادِ اِلٰهی کښې مصروف شو. (معرفة الصحابة لابی نعیم ج٣ ص٤٧٥، ٤٧٦)

## برستن مو ولې را اُونه لیږله

حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو دَرداء رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د نهایت سادګئ او بې سر و سامانئ په حالت کښې ژوند تیر کړے وو، یو ځل د یخنئ په موسم کښې یو څو کسان د هغوئي میلمانه جوړ شو، چې شپه شوه نو طعام یې ور ولیږلو خو برستنې یې نۀ شوې ورلیږلے. بله ورځ هغه خلک هغوئي ته شکایت د پاره راغلل نو هغوئي ولیدل چې هغوئي او د هغوئي زَوجه محترمې سره د یخنئ نه بچ

کيدلو د پاره برېستن څه چې ګرم لباس هم نشته، د ميلمنو په مخونو چې کوم د خفګان اثر وو هغه په حيرانئ کښې بدل شو نو هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ورته اُوفرمائيل: زمونږه يو اصلي کور دے چې کوم سامان هُم جمع کيږي هغه مونږه هلته ليږو، آخر به مونږه د هغې (يعني آخرت) طرف ته ګرځُو. (صفة الصفوة ج١ص ٣٢٤ مُلَخَّصاً)

## د عِلمِ دِين زده کولو او ښودلو حلقې

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو دَرداء رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ به د عِلمِ دِين مبارک محفل قائمولو او د علم طلبګارو ته به يې شرعي مسائل ښودل او قرآنِ پاک به يې ورته په صحيح طريقه لوستل زده کولو، چنانچه هغوئي به هره ورځ جومات ته تشريف راوړلو او هغه پاکيزه محفل به يې داسې جوړلو چې د لسو لسو کسانو حلقې به يې جوړې کړې او په هغې [يعني هره حلقه] باندې به يې يو نګران مُقَرَّر کړو چې هغهٔ به هغوئي ته سبق وئيلو، او په دې دوران کښې به هغوئي [يعني حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو دَرداء رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ] ولاړ وو، که څوک به په څه خبره پوهه نهٔ شو نو د هغوئي نه به يې تپوس کولو او هغوئي به تسلي بخش جواب ورکولو، کله به داسې وو چې هغوئي به د قرآنِ پاک تلاوت کولو او نګرانان به ګير چاپېره ناست وو په غور به يې اوريدلو، بيا به [هغه نِګرانان] حلقو ته ورغلل او څه به يې چې زده کړي وو هغه به يې هغوئي ته ښودل شروع کړل. چې کله به دا پاکيزه محفل ختم شو نو هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ به تپوس کولو چې چا کره څه دعوت وغيره خو نشته؟ که چا به اُووئيل چې آو، نو هغوئي به هلته تشريف يوړلو، که نهٔ به وو نو د روژې نِيَّت به يې وکړو او اِرشاد به يې فرمائيلو چې زما روژه ده حالانکې د ټولو حلقو انتظام به يې په ډيره ښه طريقه سنبالولو. يو ځل د مجلِس شُرَکَاء اوشميرلے شو نو شپاړس سوه [1600 کسان] وو. (اِبنِ عَساکر ج١ ص ٣٢٨)

## په ځنارو باندې شَفقَت

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو دَرداء رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ به په ځناورو باندې د حد نه زيات بوج اچول بد ګڼل.

چنانچه كله چې به چا د هغوئې اوښ قرض بوتللو نو هغوئې به ورته فرمائيل: په دۀ باندې زيات بوج مۀ اچوه ځكه چې دا د هغې طاقت نۀ لري. چې كله د هغوئې د وفات وخت راغے نو د اوښ طرف ته مُتَوَجِّه شو او وېـې فرمائيل: صبا په ورځ د قيامت په بارگاهِ اِلٰهی كښې زما نه تپوس [يعنې زما شكايت] مۀ كوه ځكه چې ما په تا باندې ستا د طاقت نه زيات بوج نۀ دے اچولے. (ابنِ عَساكر ج ٤٧ ص ١٨٥)

## دُنيا نه رُخصتي

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو دَرداء رضي الله عنه په سن 32 هجري كښې د صحابِيِ رَسُول، اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عُثمانِ غَني رضي الله عنه په دَورِ خِلافت كښې وفات شولو. په آخري وخت كښې چې پرې ډيره سخته وارخطائي راغله نو زوجۀ مُحترمه ترينه د هغې د وجهې تپوس وكړو نو اِرشاد يـې اُوفرمائيلو: زۀ خو مرگ خوښووم خو زما نفس يـې نۀ خوښوي، دا يـې چې اُوفرمائيل نو په زوره زوره يـې اوژړل، بيا يـې مسلسل كَلِمۀ طَيِّبه وئيله او وفات شو. (اسدُ الغابة ج ٤ ص ٣٤١) د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلى الله عليه وآله وسلم

ابودرداکے صدقے میں، الٰہی! قبر روشن ہو
انہیں کا واسطہ مولیٰ! مرا فردوس مسکن ہو

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٢٧﴾ خلوېښت كاله ترينه جَـمعه نۀ وه تلې

زمونږه د بُزُرگانِ دِين رحمهم الله په زړونو كښې به د جَمعې دومره جذبه وه چې د خوږې خوږې مدينے اوسيدونكے حضرتِ سَيِّدُنا ابو محمد سعِيد بِن مُسَيَّب رحمة الله عليه فرمائي: ”شل كاله كيدو والا دي چې مسلسل مې د نمانځۀ د اذان آواز عَين (يعنې رسا) هُغه و خت په

غوږونو لګېي چې زهٔ د جومات مخې ته رارسيدلے يم.“ (کيميائے سعادت ج١ ص١٨٤) په يو بل رِوايت کښې دي چې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د ثلويښتو کالو نه، نهٔ کله زما نه جَـمعه قضا شوې ده او نه زما نظر د خلکو د څټونو شا طرف باندې لګېدلے دے. (الطبقاتُ الکبرىٰ ج٥ ص٩٩)

## ﴿۲۸﴾ ميمون بِن مِهران فرمائي

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** معلومه شوه چې حضرت اَبُو محمد سعِيد بِن مُسَيَّب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ثلويښت کاله مسلسل هر نمونځ په وړومبي صَف کښې ادا کړے دے، ځکه يې د خلکو د څټونو شا طرف باندې نظر نهٔ وو پريوتے. **حِکايت:** حضرتِ سَيِّدُنا مَيمُون بِن مِهران رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما ته دا خبره رارسيدلې ده چې د ثلويښتو کالو په موده کښې کله هُم داسې نهٔ دي شوي چې حضرتِ سَيِّدُنا ابو محمد سعِيد بِن مُسَيَّب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دې جومات ته هغه وخت رارسيدلے وي چې نمونځ کوونکي د **نمانځهٔ** نه فارِغ شوي وي او روان وي د جومات نه اوځي. (الطبقاتُ الکبرىٰ ج٥ ص٩٩)

## د يزِيد پلِيد ګنده کارنامے

چې کله د يَزِيد پلِيد فسادي لښکر په مدينهٔ مُنَوَّره کښې طوفان جوړ کړو او قتلونه او بربادئ او د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ګاونډيانو باندې يې قِسما قِسم ظلمونه وکړل، د هغه ځائے د اوسيدونکو کورونه يې لُوټ کړل، اووه سوه (700) صحابهٔ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان يې شهيدان کړل او نور عام اوسيدونکي چې ورسره اوشميرئ نو د لسو زرو نه يې زيات شهيدان کړل، هلکان يې قيد کړل، د مَسجِدِ نَبَوِي شريف په ستنو پورې يې اسونه اوتړل، درې ورځو پورې په مَسجِدِ نَبَوِي شريف کښې خلکو **نمونځ** اونکړے شو.

## ﴿۲۹﴾ د روضهٔ رسول نه به د اذان آواز راتللو

حضرت اَبُو محمد سعِيد بِن مُسَيَّب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ځان مجنُون (يعني ديوانه) جوړ کړو او په هغه

ورځو کښې په مَسجِدِ نَبَوِي کښې حاضر اوسيدلو، پخپله اِرشاد فرمائي: د ”واقعهٔ حُـرَّه“ په ورځو کښې (يعنې په کومو ورځو کښې چې د يَزِيد لښکر تباهي راوستې وه) په مَسجِدِ نَبَوِي شريف کښې زما نه علاوه بل هيڅ هُم نهٔ وو، د شاميانو (يعني د يزيديانو) ډلې به مَسجِدِ نَبَوِي شريف کښې داخليدلې او هغوئي به وئيل: ”دې بُوډا ليونې ته اوګورئ!“ او چې کله به هُم د نمانځهٔ وخت شو نو د روضهٔ رَسُول نه به د اذان آواز راتللو، بيا به زهٔ مخکښې لاړم او نمونځ به مې وکړو او زما نه علاوه به هيڅ څوک هُم په جومات کښې نهٔ وو.

(الطبقاتُ الکبریٰ ج ۵ ص ۱۰۰)

نہ شمر ہی کاوہ ستم رہا، نہ یزید کی وہ جفا رہی    جو رہا تو نام حسین کا جسے یادر کھتی ہے کربلا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!    صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۳۰﴾ بيا به د ماسخوتن او سحر د جَمعې څه کيږي؟

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** په بيان شوي مضمون کښې چې د يزيد پليد د فساديانو فوځيانو د ظُلم لړزوونکے داستان دے، په دې کښې د حضرت اَبُو محمد سعِيد بِن مُسَيَّب رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د روضهٔ رَسُول نه د اذان اوريدلو او د هغه آواز شريف په راتلو د **نمانځهٔ** ادا کولو د **عظِيمُ الشّان کرامت** ذِکرِ خير هُم دے. هغوئي د جَمعې د نمانځهٔ دومره شوقي وو چې هغوئي ته د علاج د پاره هُم داسې ځائے ته تلل منظور نه وو کوم ځائے کښې چې د جَمعې نمونځ په خطره کښې پريوځي! چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ حَرمَله رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ بيانوي چې د حضرت اَبُو محمد سعِيد بِن مُسَيَّب رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په سترګو کښې تکليف شو نو خلکو ورته عرض وکړو: اے اَبُو محمد! که تاسو ”وادِئ عتيق“ [يوه دَرَه ده هغې] ته تشريف يوسئ او د هغه ځائے شين والي [يعني شنو کياګانو وغيره] ته اوګورئ نو ستاسو په تکليف کښې به کمے راشي. هغوئي اِرشاد اوفرمائيلو: بيا به زما د ماسخوتن او سحر د **جَمعې** څه کيږي؟ (الطبقاتُ الکبریٰ ج ۵ ص ۹۹)

اے د نمانځهٔ عاشقانو! تاسو وليده! تابِعِي بُزُرګ حضرت اَبُو محمد سعِيد بِن مُسَيَّب رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په جومات کښې د کيدونکې جَمعې خومره مَحبَّت لرلو چې د ماسخوتن او سحر د جَمعې د تللو د ويرې د سترګو د علاج د پاره شين والي ليدلو د پاره تللو ته هُم تيار نهٔ شو. واقعي شِين رنګ ته کتل د سترګو د بينائي د پاره فائده مند دي، په دې سلسله کښې څه مَدَني ګُلونه قبول کړئ او خوشحاله شئ.

## شينکي ته کتلو سره بينائي تيزيږي

حضرتِ سَيِّدُنا امام شافِعِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: څلور څيزونه د سترګو د طاقت (يعني بِينائي) زياتيدلو باعِث دي: (۱) مخ په قبله کښيناستل (۲) د اُودهٔ کيدلو وخت کښې رانجه پورې کول (۳) شين والي [يعني شنو کياګانو وغيره] ته کتل (٤) جامې پاکې او صفا ساتل. (حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء ج۲ ص ۲۷) سُبْحٰنَ الله! د سَيِّدُنا امام شافِعِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د اِرشاد مطابق د شين والي نظاره کول هُم د نظر تيزولو باعث دي. د شين رنګ به څه وائې! د يو رِوايت مطابق مکی مَدَنی مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته په ټولو رنګونو کښې **شين رنګ** خوښ وو. (مُعْجَم اَوْسَط ج ٦ ص ٦٩ حديث ٨٠٢٧)

حضرت عَلَّامه شيخ عبد الحق مُحَدِّث دِهلَوِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د شين رنګ په صفت کښې فرمائي: "**شين رنګ** ته کتل نظر تيزوي." (کشف الالتباس فی استحباب اللباس ص ۳۷)

## د اَهلِ جَنَّت لباس به شين وي

اللهُ رَبُّ الْعِزَّت د جَنَّت والؤ لباس بستره وغيره د **شين رنګ** جوړ کړي دي چنانچه په سيپاره 15 سُوْرَةُ الْکَهْف آيت نمبر 31 کښې دي:

وَ يَلْبَسُوْنَ ثِيَابًا خُضْرًا مِّنْ سُنْدُسٍ وَّ اِسْتَبْرَقٍ

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او شنې جامې به د نرمو ريښمو او د قنادِيزو [يعني پيړو ريښمو] اغوندي.

## شين رنګ د نظر د پاره مُوافِق دے

حضرتِ سَيِّدُنا امام ابو عبدُالله محمد بن احمد قُرطُبي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې آيتِ کريمه نه لاندې

فرمائي: شين رنګ څکه خاص کړے شوے دے چې دا د بَصارَت (يعني نظر) د پاره موافِق دے. (التذکرة بأحوال الموتٰی ص ٤٨٠ مُلَخَّصاً) (عِمامې کے فضائل ص ٢٥٧)

## څه د عشق وينا.....

سُبْحٰنَ الله! د شين رنګ د قسمت به څه وائي! دې رنګ ته دا سعادت حاصل دے چې مسلسل يـې روضهٔ رَسُول ته غاړه ورکړې ده. عاشِقانِ رَسُول د شين شين ګُنبد شريف زيارت کولو باندې خپلې سترګې يَـخوي، د شين شين ګُنبَد زيارت کولو سره به د سترګو نظر هُم زياتيږي، او که څوک ديوانه په عِشقِ رَسُول کښې ډوب شي او په ډير تعظيم سره د شين ګُنبد ديدار وکړي نو د الله کريم په فضل و کرم به د هغهٔ د زړهٔ نظر هُم تيز شي!ـ

دل پہ جب کرن پڑتی، ان کے سبز گنبد کی
اس کی سبز رنگت سے باغ بن کے کھل جاتا
گنبد حضرا! خدا تجھ کو سلامت رکھے
دیکھ لیتے ہیں تجھے پیاس بُجھا لیتے ہیں

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿٣١﴾ اوچت به يې کړو او جومات ته به يې راوړلو

د تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا عبدُ الرَّحمٰن سُلَمِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په باره کښې راځي چې هغوئي به يـې د بيمارئ په حالت کښې اوچت کړے وو او جومات ته به يـې (د جَمعې نمانځهٔ د پاره) بوتللو. (مُصَنَّف اِبنِ اَبِی شَيْبَة ج ١ ص ٣٨٦ حديث ٢) صرف دا نهٔ بلکې د باران په ورځ به هُم هغوئي [د بيمارئ په حالت کښې] اصرار کولو چې ما جومات ته يوسئ چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا سَعْد بِن عُبَيده رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيانوي چې حضرتِ سَيِّدُنا عبدُ الرَّحمٰن سُلَمِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د باران او چقړو

باوجود خپلو رُفَقاؤ (یعني ملګرو) ته حُکم ورکولو چې ما اوچت کړئ او جومات ته مې (د جَمعې د نمانځهٔ د پاره) یوسئ. (الزھد لابنِ مبارک ص ۱۴۱ حدیث ۴۱۹)

## په مرض او باران کښې د جَمعې مسئله

اے نیکو بندګانو سره مَحَبَّت لرونکو! ماشآءالله! د حضرتِ سَیِّدُنا عبدُ الرَّحمٰن سُلَمِي رَحْمَۃُاللهِ عَلَیْه د جَمعې د **نمانځهٔ** سره مَحَبَّت مرحَبا! البته مسئله دا ده چې داسې مریض چا ته چې جومات ته تللو کښې سخت مَشَقَّت پیښیږي هغهٔ ته د جومات جَـمعه مُعاف ده، هُم دغسې که سخت باران وي یا لاره کښې سختې چقړې وي نو غیرِ مریض ته هُم جَمعې د پاره جومات ته حاضریدل معاف دي.

نمازوں کے عاشق پہ رحمت خدا کی — اور اس کو عطا ہو گی جنت خدا کی

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د نیکۍ د دعوت جذبه پکښې پیدا شوه

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د عِلمِ دِین خورولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافلې هُم دي، په ټول عُمر کښې یو ځل په یو مخ دولس میاشتې، په هرو دولسو میاشتو کښې یوه میاشت او هره میاشت کښې درې ورځې عاشِقانِ رَسُول سره مَدَني قَافِلو کښې سفر اختیار کړئ. د مَدَني قافلې د بَرَکتونو نه ډک یو "مَدَني سپرلے" واورئ: د لاهور د یو اِسلامي ورور د عُمر **25** کاله تیر شوي وو خو د عِلمِ دِین نه دومره لرې وو چې د **نمانځهٔ** او روژې د بُنیادي مسئلو علم یې هُم نهٔ لرلو، یوه ورځ جومات ته نمانځهٔ د پاره حاضر شو نو یو اِسلامي ورور ورسره ملاقات وکړو او په هُم دغه دوران کښې یې مَدَني قَافِله کښې د سفر کولو دعوت هُم ورکړو. د دعوتِ اسلامي د دیني ماحول نه د ناواقفه کیدلو په وجه هغهٔ شروع کښې انکار وکړو خو د محلّې د جومات امام صاحب هِمَّت ورکړو او مَدَني قَافِله کښې سفر ته یې تیار کړو. د هفته وارې سُنَّتو ډکې اِجتِماع نه پس سحر مَدَني قافله په سفر روانیدله. د اِجتِماع

په ختميدو باندې د هغوئي "اميرِ قافِله" د هغۀ په تلاش کښې په هغۀ پسې را ورسيدلو، هغه د دُنيا په مَحبَّت کښې اخته کس په جومات کښې دومره ډير ساعت ايساريدلو باندې وار خطا شوے وو او نورې درې ورځې په جومات کښې تيرولو ته يې زړۀ نۀ وو، لِهٰذا خپل هغه مُحسِن [يعني احسان کوونکي] ته په غُصَّه شو چې "زۀ تا نۀ پيژنم، زۀ هيڅ مَدَني قَافِله کښې سفر نۀ کووم. بس مهرباني وکړه او ما پريږده چې کور ته لاړ شم" خو اميرِ قافِله اِسلامي ورور د جوابي غُصَّې کولو په ځائے هغه په شَفقَت او مهربانئ پوهه کول شروع کړو او په مِنَت زارئ يې دوباره مَدَني قَافِله کښې سفر کولو ته راضي کړو. د مَدَني قافلې په ورومبئ ورځ چې کله مَدَني قافلې والؤ د زده کولو مَدَني حلقې ولګولې نو هغه په زړۀ کښې بې حده شرمِنده شو چې ما ته خو بُنيادي مسائل هُم معلوم نۀ دي! اَلْحَمْدُلِلّٰه د عاشِقانِ رَسُول په صُحبت کښې درې ورځې تيرولو نه پس هغۀ ځه نا ځه عِلمِ دِين مَثَلًا د اودس، غُسل او نمانځۀ بعضې احکام زده کړل او په زړۀ کښې يې د دِينِ متِين د خدمت جذبه پيدا شوه او کور ته په داسې حال کښې واپس لاړو چې په سر باندې يې د مَدَني قافلې ياد تازه کوونکې عِمامه شريفه هُم وه.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٦٩)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٣٢﴾ اويا کاله ترينه جَمعه نۀ وه تلې

حضرتِ سَيِّدُنا وَکيع رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زۀ د حضرتِ سَيِّدُنا اَعمَش رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې د دوو کالو نه حاضريږم، ما داسې نۀ دي ليدلي چې هغوئي نه دې چرته د جَمعې يو رکعت تلے وي، بلکې تقريباً اويا (70) کاله نه د هغوئي نه تَکبِيرِ اُولٰى هُم نۀ دے تلے. (تهذيب التهذيب ج ٣ ص ٥٠٨)

## د حضرت اَعمَش تعارُف

د حضرتِ سَيِّدُنا اَعمَش رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پوره نوم ابو محمد سُليمان بن مهران اَعمَش اَسَدي دے،

هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د "بنو کاهِل" آزاد کړے غلام دے. حضرتِ سَيِّدُنا عيسٰی بِن يُونُس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: مونږه په خپله زمانه کښې د حضرتِ اَعمَش برابر هيڅ څوک نهٔ دے ليدلے، ما مالداران او بادشاهان د حضرتِ اَعمَش د مجلِس نه زيات په بل مجلِس کښې حقير نهٔ دي ليدلي، حالانکې هغه وخت به هغوئي ته د دِرهَمو (يعني رقم) ضرروت هُم وو. حضرتِ سَيِّدُنا يحيٰ بِن سعيد قَطَّان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه به چې کله د حضرتِ اَعمَش تذکره کوله نو فرمائيل به يې چې حضرتِ اَعمَش عِبادت گُزار وو، د جَمعې د نمانځهٔ او د وړومبي صف پابندي کوونکے وو او فرمائيل به يې: حضرتِ اَعمَش "د اسلام پيژندګلو ده". (صفة الصفوة ج٢ ص٧٧) **د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿٣٣﴾ کله چا د جَمعې په تلاش کښې نهٔ وو ليدلے

حضرتِ سَيِّدُنا يحيٰ بِن مَعِين رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي چې حضرتِ سَيِّدُنا يحيٰ بِن سعيد قَطَّان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه شلويښت کاله داسې تير کړل چې د زوال په وخت (يعني د نمر رسا د سر په برابرې راتلو او د ماسپښين وخت شروع کيدلو نه مخکښې وخت) کښې به جومات کښې موجود وو او هغوئي چا د جَمعې په تلاش کښې کله هُم نه وو ليدلے (يعني د هغوئي نه هډو جَـمعه قضا کيدله نهٔ، چې هغوئي ته دې بل څائے کښې د جَمعې تلاش کولو ضرورت پيښ شوے وے). (صفة الصفوة ج٢ ص٢٤٧)

## د دواړو اُوګو په مينځ کښې يـې د نجات خوشخبري ليکلې شوې وه! (حِکايَت)

د جَمعې د نمانځهٔ دومره اِهتِمام الله! الله! د هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه نمونځونو او عبادتونو د الله پاک په رحمت کښې هُغه مقام حاصل کړو چې حضرتِ سَيِّدُنا زُهَير بابِي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: ما په خوب کښې وليدل چې د حضرتِ سَيِّدُنا يحيٰ بِن سعيد قَطَّان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په بدن باندې يوه کُرته

وه چې په هغې باندې د دواړو اُوګو په مينځ کښې دا عِبارت ليکلے شوے وو: بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم، كِتَابٌ مِّنَ اللهِ الۡعَزِيۡزِالۡعَلِيۡم، بَرَاءَةٌ لِّيَحۡيَى بۡنِ سَعِيۡدٍ الۡقَطَّانِ مِنَ النَّار يعنې د **الله** پاک په نوم شروع چې نهايت مهربان او رحم والا دے، د **الله** عِزَّت او عِلم والا له طرفه دا ليک دے چې د يحيٰ بِن سعيد قَطَّان د پاره د جَهنَّم نه نَجات دے. (سير اعلام النبلاء ج ۸ ص ۱۱۶)

تمنا ہے فرمایئے روزِ محشر      یہ تیری رہائی کی چِٹّھی ملی ہے

(حدائقِ بخشش ص ۱۸۸)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۳۴﴾ د نمانځۀ د يو عاشِقِ عجيبه دعا

"**مَلفُوظاتِ اعلیٰ حضرت**" کښې دي: يو صاحِب د صالِحِينو نه وو، ډير ضعيفه وو، د جومات پينځۀ وخته حاضري به يې نۀ پريښوده. يوه شپه د ماسخوتن (د جَمعې حاضرۍ) کښې اوغورزيدلو او خُوګ شولو. نمانځۀ نه پس يې عرض وکړو: "اِلٰهي! زۀ ډير ضعيفه شوے يم، بادشاهان خپل بوډاګان غُلامان د خدمت نه آزادوي (لِهٰذا) ما آزاد کړې." د هغوئي دُعا قبوله شوه، خو داسې چې سحر راپاځيدلو نو (عقل يې ختم شوے وو يعنې) مجنون (يعنې ديوانه) شوے وو. (او د نمانځۀ او جَمعې هوش يې نۀ لرلو) (مَلفُوظاتِ اعلیٰ حضرت ص ۲۸۰)

## ﴿۳۵﴾ د 126 کالو د عُمر باوجود د جَمعې نمونځ

حضرتِ سَيِّدُنا سُفيان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه بيانوي چې د حضرتِ سَيِّدُنا سُوَيد بِن غَفله رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه عُمر يو سل او شپږ ويشت (126) کاله وو خو هغوئي د جَمعې سره نمونځ کولو د پاره جومات ته تشريف وړلو. (شرح ابن بطّال ج ۲ ص ۲۹۰)

## ﴿۳۶﴾ نمانځۀ نه پس به د خلکو په کومک پاڅيدلو

حضرتِ سَيِّدُنا اِسحاق هَـمَداني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به د خلکو په کومک [يعنې مدد] جومات ته

راتللو او هغوئي به د **نمانځهٔ** نه پس ځپله نه شو پاځيدلے بلکې خلکو به پاځولو. (شرحِ ابنِ بطّال ج ۲ ص ۲۹۰)

## آه! زمونږ د اکثريت بد حال

اے د جَنَّت طلبګارو! تاسو وليده! زمونږه بُزُرګانِ دِين به د **نمانځهٔ** څنګه **عاشقان** وو او د هغوئي په نزد د **جَمعې د نمانځهٔ** څومره اَهَمِّيَّت وو چې د ډير زيات بوډا والي، د سختې بيمارئ او د ډيرې زياتې کمزورئ باوجود به په هره مُمکنه طريقه جومات ته ضرور حاضريدل تر دې چې د خلکو په زور به روان وو او د خپل پاک پروردګار دربار ته به حاضريدل. آه! يو د نن صبا مسلمانانو د اکثريت بد حال دے چې اذانونه ختم شي، جَمعه لاړه شي بلکې **نمونځ** هُم قضا شي خو هيڅ پرواه يې هُم نهٔ وي او نهٔ يې په زړهٔ کښې څه د ملامتيا احساس پيدا کيږي۔

روح ميں سوز نہيں قلب ميں احساس نہيں　　کچھ بھی پيغام نبی کا تمہيں پاس نہيں

روح کښې دې درد نشته، زړهٔ کښې دې احساس نشته
تا ته هيڅ قِسمه د نبي د پيغام لحاظ نشته

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب!　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۳۷﴾ شيطان نمانځهٔ د پاره راپاځولو

حضرت مولانا جلالُ الدِّين رُومي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ''مَثنَوِي شريف'' کښې فرمائي: د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مشهُور صَحابي حضرتِ سَيِّدُنا اميرِ مُعاوِيه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خپله قيام ګاه کښې اُودهٔ وو. ناڅاپه چا راويښ کړلو، چې سترګې يې اوغړولې او ويې کتل نو راپاځولو والا څوک نهٔ ښکاريدو، هغوئي اُوفرمائيل: تهٔ څوک يې؟ او ستا نوم څه دے؟ شيطان چې ادا واوريدل نو هغهٔ اُووئيل چې زما بد نصيبه نوم ''اِبلِيس'' دے کوم چې ډير مشهور دے. حضرتِ سَيِّدُنا اميرِ مُعاوِيه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حيران شولو او ويې فرمائيل: د اِبلِيس کار خو مسلمان اُودهٔ کول او د هغوئي نه **نمونځ** قضا کول دي، تهٔ که اِبلِيس يې نو بيا تا زهٔ د **نمانځهٔ** د پاره ولې

راپاڅولوم؟ ستا کار خو د خلکو نه **نمونځ** قضا کول دي، په چا **نمونځ** کول خو ستا کار نۀ دے.
اِبلِیس چې څه اُووئیل هغه واورئ او عبرت حاصل کړئ! شیطان غاښونه اوچیچل او ویې
وئیل: تاسو ما څکه راپاڅولئ چې که تاسو نه دا **نمونځ** قضا شوے وے نو تاسو به ډیر افسوس
کولے او د زړۀ د اخلاصه به مو ژړلے، د **نمانځۀ** پاتې کیدو په غم کښې به ستاسو افسوس او
ستاسو بې قرارئ، او بارګاهِ **رَبُّ الْعِزَّت** کښې ستاسو ژړا او زارئ باندې ستاسو ثواب دوه سوه
رکعاته **نمانځۀ** نه هُم زیات شوے وے! څکه ما تاسو **نمانځۀ** ته راپاڅولئ چې ثواب مو زیات
نۀ شي۔

من حسودم از حسد کردم چنیں      من عدُوم کار من مکر است و کیں

یعنې زۀ د مسلمان حاسِد یم او د هُم دي حسد د جذبې په وجه ما تاسو نمانځۀ ته
راپاڅولئ (چې تاسو ته زیات ثواب حاصل نۀ شي) زۀ خو د مسلمانانو دُښمن یم، دوکه او دُښمني
زما کار دے. (مثنوی معنوی مع تفسیر عرفانی مثنوی معنوی ج ۲ دفتر دوم ص ۳۲۸، ۳۴۸ مُلَخَّصاً)

## د شیطان د فریبي جال نه بچ کیدل مشکل وي

اے **عاشقانِ صحابه و اهلِبَیت**! تاسو ولیدل! چې د یو صحابي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه هُم شیطان د خپلو
شیطاني چالونو نه قلار نۀ شو نو مونږ ګنهګار په څه کښې شمیر یُو؟ **الله** پاک دې مونږ ټولو ته
حقیقي معنو کښې د اخلاص نعمت راکړي.

بنادے مجھ کو الٰہی! خلوص کا پیکر
قریب آئے نہ میرے کبھی ریا یارب!

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۷۸)

اٰمِین بِجاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

# تذکرۂ اَمِير مُعاوِيه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ

**اے عاشقانِ صحابه و اهلِبَيت!** اوس تاسو ايمان تازه کوونکے حِکايت واوريدو، **سُبْحٰنَ اللہ!** د **نمانځۀ** عاشِق، کاتِبِ وحي، صحابي اِبنِ صحابي حضرتِ سَيِّدُنا اميرِ مُعاوِيه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هُم د **نمانځۀ** ځومره زبردست عاشق وو! مرحبا! د حضرتِ سَيِّدُنا اميرِ مُعاوِيه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هُم څه ښکلے شان دے! هغوئي ښځپله صحابي، والِدِ محترم يـې هُم صحابي، مور صاحِبه يـې هُم صحابيه او ګرانه خور سَيِّدَتُنا اُمِّ حبِيبه هُم صحابيه بلکې د **اللہ** په فضل د "**اُمُّ الْمُؤمِنِين**" کيدلو شرف هُم ورته حاصل وو. رِضْوَانُ اللّٰہِ عَلَيْهِمْ اَجْمَعِيْن

ليتا ہوں اس لئے تو ميں نام معاويہ
ميں ہوں غلامِ ابنِ غلامِ معاويہ

ځکه نوم اخلم زۀ د حضرت مُعاوِيه زۀ يم غُلام د غُلامِ حضرت مُعاوِيه

نبيِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيْم صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: د انبيائے کرامو (عَلَيْهِمُ السَّلَام) ذِکر کول عبادت دے او د صالِحِينو (يعني نيکو خلکو) ذِکر (د ګناهونو) کفّاره ده. (جامِع صغير ص ٢٦٤ حديث ٤٣٣١) حضرتِ سَيِّدُنا سُفيان بِن عُيَينه رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَيْه فرمائي: عِنْدَ ذِکْرِ الصّٰلِحِيْنَ تَنْزِلُ الرَّحْمَة. يعني د نيکو خلکو د ذِکر په وخت کښې رحمت نازليږي. (حِليَةُ الاَولياء ج٧ ص٣٣٥ رقم ١٠٧٥٠) نو راځئ چې د رحمت د نازليدلو او د ګناهونو مغفرت حاصلولو په اُمِّيد د **اللہ** پاک د مقبول بنده حضرتِ سَيِّدُنا اميرِ مُعاوِيه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تذکرۀ خير وکړو.

## هر صحابِـي جَنَّتي جَنَّتي

حضرتِ سَيِّدُنا اميرِ مُعاوِيه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ صحابِـي رَسُول وو او د حُکـمِ قرآني مطابق هر صحابي جَنَّتي دے. **اللہ** پاک اووه ويشتمه (27) سيپاره سُوْرَةُ الْحَدِيد آيت نمبر 10 کښې اِرشاد فرمائي:

لَا یَسْتَوِیْ مِنْكُمْ مَّنْ اَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَ قٰتَلَ ؕ اُولٰٓىٕكَ اَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِیْنَ اَنْفَقُوْا مِنْۢ بَعْدُ وَ قٰتَلُوْا ؕ وَ كُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ وَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِیْرٌ۠ ﴿۱۰﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: په تاسو کښې برابر نۀ دي هغوئي کومو چې د فتح مکه نه مخکښې [مال] خرچ کړو او جِهاد يې وکړو هغوئي په مرتبه کښې لوئي دي د هغوئي نه کومو چې د فتحِ [مکه] نه پس [مال] خرچ کړو او جِهاد يې وکړو. او هغوئي ټولو سره **الله** د جنَّت وعده کړې ده او **الله** ته ستاسو د کارونو خبر دے.

په دې آيتِ مُقَدَّسه کښې د صحابۀ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان دوه قِسمونه بيان کړے شوي دي او د هغوئي ټولو د پاره د "حُسنٰی" يعنې د جَنَّت وعده شوې ده. **وَ كُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ** ([مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: او هغوئي ټولو سره **الله** د جنَّت وعده کړې ده) نه لاندې شيخ احمد صاوي مالِکي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: معنٰی دا ده چې هغه ټول صحابۀ کرام عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان کومو چې د فتحِ مکه نه مخکښې ايمان راوړلو او د **الله** پاک په لار کښې يې [مال] خرچ کړو او کومو چې د فتحِ مکه نه پس ايمان راوړلو او د **الله** پاک په لار کښې يې [مال] خرچ کړو، **الله** پاک هغوئي ټولو سره د "حُسنٰی" يعنې د جَنَّت وعده فرمائيلې ده. (تفسير صاوی ج٦ ص٢١٠٤)

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د دې بابرکته آيت لاندې فرمائي: د دغه (صحابۀ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان) درجې اګر چې مختلفې دي خو د هغوئي ټولو جَنَّتي کيدل بالکل يقيني دي ځکه چې **رب** وعده فرمائيلې ده. ټول صحابه عادِل او مُتَّقِي دي ځکه چې ټولو سره **رَبِّ کرِيم** د **جَنَّت** وعده فرمائيلې ده، د جَنَّت وعده فاسِق سره نۀ کيږي. کومه تاريخي واقعه چې په هغوئي کښې د يو (صحابي) فِسق ثابِت کړي هغه (واقعه بالکل) دروغ ده، قرآن رښتوَنے دے. (او يا بيا هغوئي ته **الله** پاک د توبه کولو توفيق ورکړو او هغوئي په ګناه قائم نۀ دي پاتې شوي) (نورالعرفان د آيتِ مذکوره تحت)

هر صحابِي نبي جَنَّتي جَنَّتي
ټولي صحابياتي هُم جَنَّتي جَنَّتي

# امیرِ مُعاوِیه جَنَّتي دے

اعلٰی حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د یو صحیح حدیث نه د سَیِّدُنا امیر مُعاوِیه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فضیلت او جَنَّتي کیدل ثابت کړي دي، د هغې د عربي عبارت ترجمه اوګورئ: ترجمه: د **الله** پاک په توفیق وایم: **الله** پاک په خپل احسان او کرم زۀ په داسې صحیح حدیث باندې مُطَّلَع کړے یم کوم چې (خاص طور) د حضرت مُعاوِیه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د جَنَّتي کیدلو ګواهي ورکوي: **حدیث**: امام بخاري، د عُمَیر بِن اَسوَد عَنسي نه او هغوئي د حضرتِ سَیِّدَتُنا اُمِّ حَرام رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه رِوایت کوي، هغه فرمائي چې هغې د نَبِيِّ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوریدلے دے: "زما د اُمَّت د ټولو نه وړومبے لښکر چې په سمندر کښې به غزوه کوي، هغوئي واجِب کړلو (یعني جَنَّت)." اُمِّ حَرام رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: ما عرض وکړو: یارَسُولَ الله! [آیا] زۀ په هغوئي کښې یم؟ ویې فرمائیل: "ته په هغوئي کښې یې" (بُخاری ج۲ ص۲۸۸ حدیث۲۹۲٤) او دا خبره (اهلِ عِلم ته) معلومه ده چې دا غَزوه د حضرتِ سَیِّدُنا عُثمانِ غَني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په دَورِ خِلافَت کښې د حضرتِ مُعاوِیه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په اِمارَت (یعني سرداری) کښې شوې وه. لِـهذا ثابته شوه چې **هغوئي د هُغه خلکو نه دے، د کومو د پاره چې جَنَّت واجب شو** او هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ خو د هغوئي امیر (یعني سردار) وو.

(تعلیقات الامام اهل السنة علی العلل المتناهیة ص ٥ مخطوط)

# اوس به یو جَنَّتي راشي (حِکایَت)

صحابي اِبنِ صحابي حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله بِن عُمَر رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا رِوایت کوي چې د **الله** پاک آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یوه ورځ اِرشاد اُوفرمائیلو: "اوس به ستاسو مینځ ته یو کس راشي، هغه جَنَّتي دے." نو مُعاوِیه (رَضِیَ اللهُ عَنْهُ) راداخل شولو. مکی مَدَنی مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: **یَا مُعَاوِیَةُ، اَنْتَ مِنِّیْ وَ اَنَا مِنْكَ**. یعني "اے مُعاوِیه! ته زما نه یې او زۀ ستا نه یم" بیا خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوه ګوتې رایو ځائے کړې اَو ویې فرمائیل: **وَاِنَّكَ تُزَاحِمُنِیْ عَلٰی بَابِ الْجَنَّةِ کَهَاتَیْنِ**. یعني "ته به د جَنَّت په دروازه کښې ما سره داسې یې" (اِبنِ عَساکر ج٥٩ ص٩٩ والفردوس ج٥ ص٣٩٣ حدیث٨٥٣٠، ٨٨٣٠ مُلَخَّصاً)

## ازمري خبرې وکړې (حِکايَت)

حضرتِ سَيِّدُنا عَوف بِن مالِک اَشجَعِي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: زهٔ په يو ځائے کښې اُودهٔ ووم، ناڅاپه وارخطا راويښ شوم او کښيناستم. څه ګورم چې يو اَزمرے زما طرف ته راروان دے! ما د وسلې راخستلو اِراده وکړه نو ازمري اُووئيل: ودرېږهٔ! زهٔ خو تاسو ته يو پيغام درکولو د پاره راغلے يم. ما ترينه تپوس وکړو: ته چا راليږلے يې؟ ازمري اُووئيل: زهٔ **اللّٰه** پاک ستاسو خوا ته راليږلے يم چې تاسو ته خبر درکړم چې (حضرتِ سَيِّدُنا) مُعاوِيه (رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ) جَنَّتي دے. ما تپوس وکړو: څوک مُعاوِيه؟ نو ازمري اُووئيل: ”حضرتِ مُعاوِيه بِن اَبِي سُفيان (رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا)“ (مُعۡجَم کبِير ج ١٩ ص ٣٠٧ معجم الصحابة ج ٥ ص ٣٦٧ رقم ٢١٩١) (فيضانِ امير معاويه ص ١٨٦)

با عمل بے ریا حضرت معاویہ جنتی بے شبہ حضرت معاویہ

## اللّٰه و رسول مُعاوِيه سره مَحَبَّت کوي (حکايت)

حُضُور نَبِيّ کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يوه ورځ اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا اُمِّ حبيبه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا کره تشريف يوړلو نو هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وليدل چې اُمُّ الْمُؤمِنِين خپل ورور حضرتِ سَيِّدُنا امِيرِ مُعاوِيه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ بشکل کړلو. اِرشاد يې اُوفرمائيلو: آيا ته مُعاوِيه سره مَحَبَّت کوې؟ عرض يې وکړو: دا زما ورور دے، ده سره به مې مَحَبَّت ولې نهٔ وي. خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: فَاِنَّ اللهَ وَ رَسُوۡلَهٗ يُحِبَّانِهٖ. يعني **اللّٰه** او رَسُول هُم مُعاوِيه سره مَحَبَّت کوي. (مجمع الزوائد ج ٩ ص ٥٩٥ حديث ١٥٩٢٣)

## دُعـائے مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَسَلَّم

رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاهِ اِلٰهي کښې عرض وکړو: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ هَادِيًا مَّهْدِيًّا وَّاهْدِ بِهٖ. يعني ”يا **اللّٰه** پاکه! دے **هادي** (يعني هدايت ورکوونکے) **مَهـدِي** (يعني هدايت يافته) جوړ کړې او د دهٔ په وجه خلکو ته هدايت ورکړې.“ (تِرمِذِی ج ٥ ص ٤٥٥ حديث ٣٨٦٨)

نکلی ہے ان کی مدح زبانِ حضور سے ہے کس قدر بلند مقام معاویہ

## کله چې يو کس سخت کلامي وکړه (حکايت)

حضرتِ سَيِّدُنا اميرِ مُعاوِيه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته يو ځل چا سختې خبرې وکړې، چا عرض وکړو: ”که تاسو اوغواړئ نو دۀ ته عبرتناکه سزا ورکولے شئ.“ هغوئي اُوفرمائيل: ما ته د دې خبرې نه حيا راځي چې زما د رِعايا د څه غلطئ په وجه زما حِلم او بُردباري (يعني نرمي او قُوَّتِ برداشت) کم شي. (حِلمِ معاويه لابنِ ابی الدنيا ص ٢٢ رقم ١٤)

## بې مثاله کفن

حضرتِ سَيِّدُنا اميرِ مُعاوِيه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ سره د **الله** پاک د خوږ رَسُول صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کُرته مبارکه، يو تَهبند شريف [يعني لَنگ مُبارک]، يو څادر مبارک، نُوکان مبارک او يو څو موئے مبارک (يعني ويښته مبارک) وو. هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د وفات په وخت کښې وَصِيَّت وکړو چې دې مُقَدَّسو جامو کښې ما ته کفن راکړئ او نُوکان مبارک او موئے مبارک زما په خُله او پوزه کيږدئ او زما په سينه يې خواره کړئ او بيا ما اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْن ته اوسپارئ. (ابنِ عَساکر ج ٥٩ ص ٢٢٩)

**وفات شريف:** حضرتِ سَيِّدُنا اميرِ مُعاوِيه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د زيارت په ورځ، 22 رَجَبُ الْمُرَجَّب، سن 60 هِجري کښې د ”مُلک شام“ مشهور ښار دِمشق کښې وفات شولو. (تاريخِ اِبنِ عَساکر ج ٥٩ ص ٢٤١) هغه وخت د هغوئي عُمر 78 کاله وو.

**مزار شريف:** دِمِشق کښې د بَاْبُ الصَّغِير خوا سره دے. (تاريخ الخلفاء ص ١٥٨)

ہاتھوں میں ان کے ہاتھ نہ دیتے کبھی حسن ۔۔۔ اک بھی نہ ٹھیک ہوتا جو کامِ معاویہ

# د سَيِّـدُنا مُعـاوِيه په باره کښې
# د بعضې صحابه او بزرګانو تأثرات

## حضرتِ اميرِ مُعاوِيه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د عبدُالله بِن عُمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا په نظر کښې:

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن عُمَر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا يو ځل اِرشاد اوفرمائيلو: "(حضرتِ اميرِ) مُعاوِيه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په خلکو کښې د ټولو نه زيات حَلِيم و بُردبار (يعني نرمۍ والا او برداشت کوونکے) وو."

(السنة ج١ص ٤٤٣ رقم ٦٨١) (فيضانِ اميرِ مُعاوِيه ص ١٨٨)

## حضرتِ اميرِ مُعاوِيه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د قبِيصه بِن جابِر تابِعي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ په نظر کښې:

حضرتِ سَيِّدُنا قَبِيصه بِن جابِر رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: ما د حضرتِ سَيِّدُنا اميرِ مُعاوِيه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه زيات معاف کوونکے، د جهالت نه بےحده لرې او باوقاره بل هيڅ څوک نۀ دے ليدلے.

(سير اعلام النبلاء ج٤ص ٣٠٨) (فيضانِ اميرِ مُعاوِيه ص ١٩٤)

## حضرتِ اميرِ مُعاوِيه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د عبدُ الله بِن مُبارَک رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ په نظر کښې:

د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن مُبارک رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ نه چا تپوس وکړو چې: په حضرتِ سَيِّدُنا اميرِ مُعاوِيه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ او حضرتِ سَيِّدُنا عُمر بِن عبدُ العزيز رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ کښې څوک افضل [يعني غوره] دے؟ هغوئي اُوفرمائيل: په الله پاک مې دِې قَسَم وي! د رَسُولُ‌الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ملګرتيا کښې د حضرتِ سَيِّدُنا اميرِ مُعاوِيه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اس په پوزه کښې داخله شوي دُوړه [هُم] د حضرتِ سَيِّدُنا عُمر بِن عبدُ العزيز رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ نه زر هومره بهتره ده. (نیکی کی دعوت ص ٢٥٨ بحواله فتاوٰی حديثيه ص ٤٠١)

## حضرتِ اميرِ مُعاوِيه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د پيرانِ پير غوثُ الاعظم رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ په نظر کښې:

د اوليائے کرامو عظيم پيشوا، حُضُور غوثُ الاعظم پيرانِ پير دستګير رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: د حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی شيرِ خُدا او حضرتِ سَيِّدُنا اميرِ مُعاوِيه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا په مينځ کښې

چي کوم اختلافات شوي وو هغه د **اللّٰه** رَبُّ الْعِزَّت مَشِيَت (يعني خوښه) کَښل پکار دي او خُله بنده ساتل پکار دي. (غنية الطالِبين ج١ص١٨٦ مُلَخَّصاً)

## حضرتِ اميرِ مُعاوِيه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د اِمام اَحمد بن حَنبَل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په نظر کښې:

د کروړاؤ حَنبيليانو عظيم پيشوا حضرتِ سَيِّدُنا ابو عبدُالله امام اَحمد بِن حَنبل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې چا عرض وکړو: اے ابو عبدُالله! زما ماما په حضرتِ سَيِّدُنا اميرِ مُعاوِيه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پورې بدې رَدې وائي او بعضې وخت زهٔ د هغهٔ (ماما) سره طعام خورم، څه وکړم؟ هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فوراً اِرشاد اُوفرمائيلو: "هغهٔ سره طعام مهٔ خوره." (السنة ج١ص٤٤٨رقم ٦٩٣) (فيضانِ اميرِ مُعاوِيه ص١٩٥)

## حضرتِ اميرِ مُعاوِيه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د داتا صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په نظر کښې:

حضرتِ سَيِّدُنا داتا گنج بخش علي هجويري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: حضرتِ سَيِّدُنا اميرِ مُعاوِيه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضرتِ سَيِّدُنا اِمام حُسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره داسې مَحَبَّت لرلو چې هغوئي ته د نذرانو پيش کولو باوجود به يې هغوئي ته مَعذِرَت کولو او فرمائيل به يې: "فِي الحال ما ستاسو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صحيح خدمت اونکړے شو، آئنده به تاسو ته نوره نذرانه پيش کړم." (کشف المحجوب ص٧٧ ماخوذاً) (فيضانِ اميرِ مُعاوِيه ص١٩٣)

نذرانہ ان کا لیتے تھے حسنین شوق سے
دیتے تھے واپسی پہ سلام معاویہ

## حضرتِ اميرِ مُعاوِيه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په نظر کښې:

د کروړاؤ نقشبنديانو عظيم پيشوا، حضرتِ سَيِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمان دے: حضرتِ سَيِّدُنا اميرِ مُعاوِيه په **حُقُوقُ الله** (يعني د الله پاک حقونو) او **حُقُوقُ الْعِباد** (يعني د بندګانو حقونو) ادا کولو کښې خليفهٔ عادِل دے. (مکتوبات امام ربانی مکتو دوصدوپنجاه‌ویکم ج١ص٥٨) (فيضانِ اميرِ مُعاوِيه ص١٩١)

## حضرتِ امیرِ مُعاوِیه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د اِمام نَووي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په نظر کښې:

شارِح مُسلِم، حضرتِ سَیِّدُنا اِمام **شَرفُ الدِّین** نَووِي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: د حضرتِ سَیِّدُنا امیرِ مُعاوِیه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ شمیر په عادِلو (یعنې انصاف کوونکو)، صاحِبِ فضیلت او مُمتاز صِفات لرونکو صحابؤ کښې کیږي. (شرح مُسلِم للنووی ج۸ جزء ۱۵ ص ۱۴۹) (فیضانِ امیرِ مُعاوِیه ص ۱۹۱)

## حضرتِ امیرِ مُعاوِیه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د اِبراهِیم بِن مَیسَره رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په نظر کښې:

حضرتِ سَیِّدُنا اِبراهِیم بِن مَیسَره رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: ما کله هُم داسې نهٔ دي لیدلي چې حضرتِ سَیِّدُنا عُمَر بِن عبدُ العزیز رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ دې په خپل دَورِ حکومت کښې حضرتِ سَیِّدُنا امیرِ مُعاوِیه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ته د بدو ردو وئیونکې نه علاوه بل څوک په کوړو وهلے وي. (شرح اصول اعتقاد اهل السنة ج۲ ص۱۰۸۴، رقم ۲۳۸۵) (فیضانِ امیرِ مُعاوِیه ص ۱۹۰)

## حضرتِ امیرِ مُعاوِیه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د شهابُ الدِّین خَفاجِي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په نظر کښې:

شارِح شِفاء شریف حضرت عَلّامه شهابُ الدِّین خَفاجِي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: څوک چې په حضرتِ سَیِّدُنا مُعاوِیه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ طَعن وکړي (یعنې بدې رَدې ورپورې اُووائي) هغه د جهنَّم د سپو نه یو سپے دے. (نسیم الریاض ج۴ ص۵۲۵)

## حضرتِ امیرِ مُعاوِیه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د اِمامِ اَهلِسُنَّت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په نظر کښې:

اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: **بِالْجُمله** زمونږ [یعنې زمونږ د ټولو] اهلِ حق په نزد امام بُخاري د حضرت امام اعظم سره هُم هغه نِسبت لري کوم چې حضرتِ امیرِ مُعاوِیه د اَمیرُالْمُؤمِنِین مَولَی الْمُسلِمِین سَیِّدُنا و مولانا **عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی** کَرَّمَ اللّٰہُ وَجۡہَهُ الۡکَرِیۡم سره لري چې په هغوئي کښې فرقِ مراتِب بیشمیره او حق بدستِ حیدرِ کرّار، خو مُعاوِیه هُم زمونږه سردار دے، په هغوئي پورې طَعن [یعنې بدې رَدې وئیل] هُم د فُجّارو [یعنې گُمراهانو] کار دے. (فَتَاوٰی رَضَوِیّه، ج۱۰، ص۲۰۱) خُلاصه دا ده چې یقیناً حضرتِ سَیِّدُنا مَولٰی علي شیرِ خُدا کَرَّمَ اللّٰہُ وَجۡہَهُ الۡکَرِیۡم د

حضرتِ سَيِّدُنا امیرِ مُعاوِيه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه ډير زيات فضيلت لري، خو حضرت مُعاوِيه هُم زمونږه سردار دے، لِـهذا هغوئي ته بد رد وئيل د بې حيا فاسقانو خلکو کار دے.

يه ہے رضا کا فيض که راشد کے ہاتھ ميں
حب علی کی مے ہے تو جامِ معاويه

**د شعر مفهوم:** يعنې دا د اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ بَرَکت دے [يعن د هغوئي هُم دا تربِيَّت دے] چې مونږه اَهلِسُنَّت د حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى رَضِیَ اللہُ عَنْہُ او حضرتِ سَيِّدُنا امير مُعاوِيه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دواړو سره ډيره مِينه مَحَبَّت لرو.

## حضرتِ اميرِ مُعاوِيه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د صدرُ الشَّرِيعه رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ په نظر کښې:

صَدرُ الشَّرِيعه، مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ فرمائي: اَمِير مُعاوِيه اَوَّل مُلُوکِ اِسلام (يعنې وړومبے بادشاهِ اسلام) دے، هُم د هغوئي طرف ته په تَورات شريف کښې اِشاره ده: مَوْلِدُهٗ بِمَکَّةَ وَمُهَاجَرُهٗ بِطَيْبَةَ وَ مُلْکُهٗ بِالشَّام. يعنې "هغه نبـي آخِرُ الزَّمان (يعنې آخري نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) به مکه کښې پيدا کيږي او مدينے ته به هِجرت کوي او د هغوئي سَلطَنَت به په (مُلک) شام کښې وي." نو د اَمِيرِ مُعاوِيه بادشاهي اګرچې سلطنت دے، خو د چا! د مُحَمَّدٌ رَّسُولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سلطنت دے. (بهارِ شريعت ج١ ص ٢٥٨) (فيضانِ اميرِ مُعاوِيه ص١٩٨)

| | | | |
|---|---|---|---|
| خائفِ کبريا | حضرتِ مُعاوِيه | زاهد و پارسا | حضرتِ مُعاوِيه |
| با عَمَل بې ريا | حضرتِ مُعاوِيه | عاشقِ مُصطَفیٰ | حضرتِ مُعاوِيه |
| کړئ کرم را عطا | حضرتِ مُعاوِيه | صاحِبِ اِتِّقا | حضرتِ مُعاوِيه |
| ډير ښکلے خوش ادا | حضرتِ مُعاوِيه | خوش نُما خوش لِقا | حضرتِ مُعاوِيه |
| مُخلِص و با وفا | حضرتِ مُعاوِيه | با عَمَل بې رِيا | حضرتِ مُعاوِيه |
| هَم دَمِ با وفا | حضرتِ مُعاوِيه | با اَدَب با حَيا | حضرتِ مُعاوِيه |
| جَنَّتي بې شُبه | حضرتِ مُعاوِيه | باخُدا با صفا | حضرتِ مُعاوِيه |

د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## هغۀ له هم ژړا ورغله

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اسلامي معلومات حاصلولو، خوفِ خُدا او عِشقِ مُصطَفىٰ حاصلولو، د صحابه و اهلِ بَيت په مَحبَّتِ کښې زړونه روښانه کولو او په سُنَّتو باندې د عمل کولو جذبه حاصلولو د پاره د عاشِقانِ رَسُول ديني تنظيم، "دعوتِ اسلامي" مَدَني قَافِلو کښې سفر وکړئ. مَدَني سپرلے: د صوبه خيبر پښتونخوا ښار ډيره اسماعيل خان اوسيدونکي يو اِسلامي ورور د خپل ژوند يوه غټه حِصَّه د عِلمِ دِين نه لرې تيره کړې وه. يوه ورځ د يو نزدې کلي نه يو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي د هغوئي کلي ته تشريف راوړلو او د ماښام د نمانځۀ نه پس يې بيان وکړو، د بيان په آخره کښې يې هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې د شرکت کولو ترغيب هُم ورکړو. هغۀ نِيَّت وکړو خو اِجتِماع کښې يې شرکت اونکړے شو ځکه چې د دعوتِ اسلامي مَدَني مرکز د هغوئي د کلي نه ډير لرې وو او هغۀ سره بل څوک تللو والا هُم نۀ وو. بله هفته هُم هغه مُبَلِّغ بيا تشريف راوړلو او د ماښام د نمانځۀ نه پس يې د سُنَّتو ډک بيان وکړو. يوه مياشت هُم دغسې تيره شوه خو هغۀ په اِجتِماع کښې شرکت اونکړے شو. دا ځل هُم هغه مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي مَدَني قافلې سره د هغوئي کلي ته تشريف راوړلو او د اِنفرادي کوشش په ذريعه يې سره د هغۀ درې خلور اِسلامي وروڼه د اِجتِماع د پاره تيار کړل. دا ځل هغۀ په خپل نِيَّت عمل وکړو او هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع ته لاړلو. د سُنَّتو ډک بيان نه پس ذِکر او دُعا وشوه، د دُعا په دوران کښې يې رِقَّت آميز [يعني زړۀ نرموونکے] منظر وليدو چې د اِجتِماع شُرَکاء په ژړا ژړا دُعا کوي. "صُحبت اثر لري" ځکه هغۀ له هُم ژړا ورغله. د اِجتِماع برکتونه فوراً ښکاره شو چې د يو عاشِقِ رَسُول په ترغيب باندې هغۀ مَدَني قَافِله کښې د سفر کولو نِيَّت هُم وکړو. بل ځل ورسره څوک راتلو والا نۀ وو نو يواځې

اِجتِماع له راغلو او صبا له د مَدَني قافلې مسافر جوړ شو. مَدَني قَافِله کښې د سفر کولو په بَرَکت د هغهٔ په نمانځهٔ، اوداسه او غُسل کښې موجودې بعضې غلطئ ختمې شوې او څه دُعــاګانې يــې هُم زده کړې او نور دا چې د مَدَني قافلې په بَرَکت يــې د ګناهونو نه توبه وکړه او مَدَني رنګ کښې رنګ شو. چې مَدَني قافلې نه کور ته راغلو نو د عمامې تاج يــې په سر ځليدلو. د کلي خلکو چې دا وليدل نو حيران شول چې دومره زر په دهٔ کښې دا تبديلي څنګه راغله! هغهٔ هِمَّت وکړو او په جومات کښې يــې د "**فيضانِ سُنَّت**" درس هُم شروع کړو. د فيضانِ سُنَّت د درس په بَرَکت درې نورو اِسلامي ورونړو هُم د عمامو تاجونه په سر کړل او د هغوئی په کلي کښې هُم د ديني کارونو سلسله روانه شوه.

چاہو گر برکتیں قافلے میں چلو　　　پاؤ گے عظمتیں قافلے میں چلو

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٦٩)

که ډير غواړئ برکتونه قافلو کښې لاړ شئ　　　کړئ حاصل به عظمتونه قافلو کښې لاړ شئ

صَـلُّـوْاعَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۳۷﴾ د ويښ اوسيدلو عجيبه نُسخې

د **تابعي** بُزُرګ حضرتِ سيِّدُنا **صَفوان بِن سُـلَـيم** رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه پښدئ په **نمانځهٔ** کښې د ډير وخته پورې ودريدلو په وجه پړسيدلې وې. هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه به دومره په کثرت سره عِبادت کولو چې که هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه ته چا وئيلے وے چې صبا قيامت دے (ځکه عبادت زيات کړئ) نو هم هغوئي په خپل عِبادت کښې نور زيات والے نهٔ شو کولے (ځکه چې هغوئي سره په عبادت کښې د اضافے د پاره په وخت کښې هيڅ ګُنجائِش نهٔ وو). چې کله به **ژمے** [يعني د يخنئ موسم] وو نو د کوټې په سر به يــې **نمونځ** کولو چې د يخنئ د لاسه اُودهٔ نهٔ شم او چې **اوړے** به شو نو په کوټه کښې دننه به يــې **نمونځ** کولو چې د ګرمئ د تـکـليف په وجه اُودهٔ نه شم او ټوله شپه به يــې په عبادت کښې تيره کړه. آخر دا چې **هغوئي** رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه **د سَجدې په حالت**

**کښې وفات شولو.** هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه به دُعا کوله: "اے **الله** پاکه! زۀ ستا ملاقات خوښووم ته هُم زما ملاقات خوښ کړې." (اِحۡيَاءُ الۡعُلُوم ج ٥ ص ١٤٧) (اِحۡيَاءُ الۡعُلُوم (اُردو) ج ٥ ص ٣٧٣)

## ﴿٣٩﴾ اوبو کښې د غوپه وهلو په ذريعه د خوب علاج

د حضرت اِبراهِيم بِن حاکم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه قول دے: زما والِد مُحترم له به چې کله خوب ورغلو نو درياب ته به کوز شولو او د **الله** **تَسۡبِيۡح** [يعني ثناء صِفَت] به يې شروع کړو چې د هغې په اوريدلو به د درياب مَهيان راجمع شولو او هغوئي به هُم **تَسۡبِيۡح** وئيل شروع کړه. (مُکَاشَفَةُ الۡقُلُوب (اردو) ص ٨٤)

## ﴿٤٠﴾ يا الله! زما د شپې خوب اوتښتوې!

تابِعِي بُزُرګ حضرتِ **وَهۡب** رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د **رب** تعالىٰ نه دُعـا وکړه: "يا **الله** پاکه زما د شپې خوب اوتښتوې." **الله** پاک د هغوئي دُعـا قبوله کړه او هغوئي ته خلويښتو کالو پورې خوب نۀ ورتلو، دغسې ټولې شپې هغوئي په عبادت کښې تيرې کړې. (مُکَاشَفَةُ الۡقُلُوب (اردو) ص ٨٤)

عطا کردے عبادت کا مجھے جذبہ خدائے پاک! نہ ہو سستی نہ غفلت کا کبھی غلبہ خدائے پاک!

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## هغوئي څنګه وو او مونږه څنګه يُو!

سُبۡحٰنَ الله! زمونږه بُزُرګانِ دِين رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهِم به د عبادت څنګه شوق لرلو، عبادت کښې د رُکاوټ جوړيدونکي خوب تښتولو د پاره به يې څنګه عجيبه عجيبه طريقې اختيارولې. يقيناً زمونږه او د هغوئي په نمونځونو کښې لوئي فرق دے. د بعضو صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان قول دے: انسان چې په **نمانځهٔ** کښې څومره سکون او اطمينان او خوند حاصلوي هُم هغه هومره به هغهٔ ته د قيامت په ورځ سُکون وي. (مُکَاشَفَةُ الۡقُلُوب (اردو) ص ١٤٣) يا **الله**! د حقيقي نمونځ ګُزارو په خاطر! مونږ ستا د خوښې نمونځ ګُزاره جوړ کړې! اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيۡن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

الٰہی! نمازوں کا جذبہ عطا کر نمازوں کے شیدائیوں کا بھلا کر

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۴۱﴾ په نمانځهٔ کښې وفات

تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَیِّدُنا زُراره بِن اَبِي اَوفٰی رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ نهايت عابِد و زاهِد او خوفِ اِلٰهی لرونکے باعَمَله بُزُرګ وو. د تِلاوتِ قرآن په وخت کښې به يے چې کله د وَعِيد او عذاب آيتونه ولوستل يا واوريدل نو په لړزان به شولو بلکې کله کله به د **اللّٰه** د ويرې نه بےهوشه شولو. يوه ورځ يے د سحر په نمانځهٔ کښې (د سيپاره 29 سُوْرَۃُ الْمُدَّثِّر آيت نمبر 8 او 9) فَاِذَا نُقِرَ فِی النَّاقُوْرِ ۙ﴿۸﴾ فَذٰلِكَ یَوْمَىٕذٍ یَّوْمٌ عَسِیْرٌ ۙ﴿۹﴾ ([مَفهوم] ترجمهٔ کنزُالاِیمان: نو بيا چې کله شپيلۍ اُووهلے شي نو هغه ورځ [ډيره زياته] سخته ورځ ده.) [چې د دې] تِلاوت وکړو نو د نمانځهٔ په حالت کښې پرې د خَوفِ اِلٰهی دومره غَلَبه وشوه چې په لړزان شولو او ځمکې ته يے تشريف راوړلو او رُوح يے وختلو. (ترمِذِی،ج۱ص۴٤٤، اولیاۓ رجال الحدیث۱۲۳ مُلَخَّصاً) د **اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت** دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیِّیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## ﴿۴۲﴾ په ځنکدن کښې هُم نهٔ ځملاستلو!

**تابِعِي** بُزُرګ حضرتِ سَیِّدُنا سُفيان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي چې حضرتِ سَیِّدُنا صَفوان بِن سُلَيم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ قَسَم خوړلے وو چې **اللّٰه** پاک سره د ملاقاته (يعني وفات) پورې به په ځمکه ډډه نهٔ اچووم. (يعني نهٔ به ځملم، په نفلونو وغيره کښې به وخت تيرووم) بيا ځلويښت کاله نه زياته موده په خپل قَسَم قائم اوسيدلو. چې کله آخري وخت راغے او د ځنکدن سختې زياتې شوې نو هغه وخت هُم د ځملاستلو په ځائے ناست وو. لُور ورته عرض وکړو: بابا جانه! که تاسو ځملئ نو؟ هغوئي اُوفرمائيل: که ما داسې وکړل نو **اللّٰه** پاک سره منلے شوے نذر [يعني منبته] او د هغهٔ خوړلے شوے قَسَم به پوره نهٔ کړے شم. (سیر اعلام النبلاء ج ٦

ص١٦٦) د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٤٣﴾ د رُوح وتلو په حالت کښې د جَمعې سره نمونځ!

تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا مُصعَب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن زُبَير رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا شهزاده [يعني زوئي] حضرتِ سَيِّدُنا عامِر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ځنکدن (يعني رُوح وتلو) په تڪليف کښې اخته وو چې د ماښام آذان شروع شو، هغوئي اُوفرمائيل: زما لاس اونيسئ (او ما جومات ته اورسوئ)، چا ورته عرض وکړو: تاسو بيمار يې. هغوئي اُوفرمائيل: زۀ دې د الله پاک بلل واورم او قبول دې يې نۀ کړم! (يعني زۀ دې د اذان اوريدلو نه پس په جَمعه کښې شريک نۀ شم، زۀ داسې نۀ شم کولے) چنانچه خلکو يې لاس اونيولو او جومات ته يې راوستلو او د ماښام په جَمعه کښې شامل شولو، لا صرف يو رکعت يې ادا کړے وو چې رُوح يې وختلو (يعني وفات شولو). اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ﴿١٥٦﴾ ([مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: مونږه د الله مال يُو او هُم د هغۀ په طرف به ګرځُو). منقول دي چې بعضې وخت به هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ماسخوتن د نمانځۀ نه فارِغ کيدلو نه پس نه واخله د سحره پورې مسلسل دُعا کوله! (سير اعلام النبلاء ج٦ ص٥٢) د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

نماز میں جسے موت آئے خوش نصیب ہے وہ
خدا رسول سے فردوس سے قریب ہے وہ

په نمانځه کښې چې مړ شي خوش نصيب دے هغه
خُدائے او رَسُول او فِردَوس ته قريب دے هغه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د پوزې وِينه يـې څنګه بنده شوه؟

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! واقعي د نمانځهٔ د حقيقي عاشقانو شان ډير عجيبه وي! دُنيا نه رخصتيدلو وخت کښې نمونځ، او هغه هُم د جَمعې سره او هغه هُم په جومات کښې! بس دا د هغوئي حِصَّه وه چې حاصله يـې کړه. د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره هر وخت خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ، اِنْ شَآءَالله د نمانځهٔ د حقيقي عاشقانو څه نا څه حِصَّه به ضرور حاصله کړئ. راځئ چې يو ”مَدَنـي سپرلے“ واورو: د ګُجر خان يو اِسلامي ورور ته دعوتِ اسلامي کښې شامليدلو نه مخکښې نهٔ نمونځ زده وو او نهٔ د اوداسه طريقه، خلکو ته به يـې کتل او هغسې نمونځ به يـې کولو خو بهرحال جومات ته به نمانځهٔ له تللو خو چې کله به د اذان يا اِقامت وئيلو د پاره څوک نهٔ وو نو دے به په زړهٔ کښې ويريدلو چې چرته څوک ما ته د اذان يا اِقامَت اُونه وائي! لِـهذا د ويرې نه به اخوا ديخو شولو، بيا ورته د دعوتِ اسلامي ديني ماحول نصيب شو. په اوړي [يعنې د ګرمۍ په موسم] کښې به يـې پوزه ماتيدله او وينه به ترينه روانه شوه، د دې نه هغه پريشانه وو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه چې تر کله يـې عِمامه شريفه تړل شروع کړې دي د هغې نه پس يـې کله پوزې نه وينه نهٔ ده راغلې. اَلْحَمْدُ لِلّٰه مَدَني قَافِلو کښې بيا بيا د سفر کولو په بَرَکت هغهٔ ته د نمانځهٔ، اوداسه او د غُسل ډيرې مسئلې د زده کولو موقع نصيب شوه بلکې نورو ته يـې هُم زده کړې.

شفائيں مليں گی، بلائيں ٹليں گی　　　　يقيناً ہے برکت بھرا مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشش (مُرَمَّم) ص ٦٤٨)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٤٤﴾ د نيم بدن نه د رُوح وتلو باوجود...

حضرتِ سَيِّدُنا امام عبدُ الوهّاب شَعراني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: سيِّدِي محمد بِن عِنان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به سخت بيمار وو خو د هغې باوجود به يـې جَـمعه نهٔ پريښودله بلکې جَمعې له به په ښويدلو

راتللو. زۀ د هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د وفات په وخت حاضر ووم، د ځنکدن په حالت کښې يې په ناسته ناسته اِمام پسې هُغه وخت نِيَّت اوتړلو چې د بدن د لاندينۍ نيمې حِصَّې نه يې رُوح وتلے وو او په اِشارو يې نمونځ وکړو، چې سلام يې وګرځولو نو مونږه ثملولو، هغوئي [په لاس کښې] تَسْبِيْح نيولې وې او په قلاره آواز کښې يې څه لوستل شروع کړل، د رُوح وتلو په وخت کښې يې آخري حرکت هُم دا وو چې لاسونه يې په تَسْبِيْح خوزَولو کښې مشغول وو. (الواقع الانوار القدسية فی بيان العهود المحمدية ص ٤٩٠) د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

محبت میں اپنی گما یا الٰہی نہ پاؤں میں اپنا پتا یا الٰہی
رہوں مست و بے خود میں تیری ولا میں پلا جام ایسا پلا یا الٰہی

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ١٠٥)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٤٥، ٤٦﴾ دو مختصر حِکايتونه

اے د نمانځۀ عاشقانو! تاسو وليده! زمونږه بُزُرګانِ دِين به د الله پاک په مَحبَّت کښې څنګه ډوب اوسيدل چې د مرګ په سختۍ کښې هُم د مَحبَّتِ اِلٰهی مستۍ هغه صاحبان د جَمعې د نمانځۀ په شوق کښې مست کړي وو! او د ځنکدن په وخت کښې هُم هغوئي غافِله نه وو. خو آه! يو مونږه يُو چې که د ژوند د سُکون ساعتونه وي او که بې ترتيبه خيالات وي په هر حال کښې راباندې غَفلَت مُسَلَّط وي! کاش چې د غفلت نه خلاص شو ګني سختې پښيمانۍ سره مخامخ کيدے شو! د مَکتَبَةُ الْمَدِيْنه کتاب مُکاشَفَةُ الْقُلُوب (اُردو) صفحه 54 کښې دي: **حِکايَت:** يو نيک سړی خپل اُستاذ په خوب کښې وليدو او تپوس يې ترينه وکړو چې ستاسو په نزد د ټولو نه غټ حَسرَت [يعني پښيمانتيا] څه دے؟ اُستاذ جواب ورکړو: د غَفلَت حسرت د ټولو نه غټ دے. **حِکايَت:** يو صالِح (يعني نيک) سړي خپل پلار په خوب کښې وليدو او

تپوس يـې ترينه وکړو چې بابا جانه تاسو ځنګه يـې او څه حال مو دے؟ پلار يـې جواب ورکړو: مونږه ژوند په غَفلَت کښې تير کړو او هُم په غَفلَت کښې مرۀ شُو.

## د غَفلَت تعريف

دِيني مُعامَلاتو کښې غفلت نه مُراد هُغه هير دي کوم چې په انسان باندې د عقل او احتياط د کمئ په وجه خواره وي. (مفردات الفاظ القرآن ص ٦٠٩ مُلَخَّصاً)(باطنی بیماریوں کی معلومات ص ١٧٩)

## دا به تا په غفلت کښې واچوي

د بُخاري شريف په يو حديث کښې دا هُم دي: په **الله** پاک مې دې قَسَم وي! زۀ په تاسو باندې د فَقر ويره نه لرم خو زۀ ويره لرم چې په تاسو به دُنيا خوَره [يعني فراخه] کړے شي ځنګه چې تاسو نه مخکښينو قومونو باندې خوَره [يعني فراخه] کړے شوې وه، پس تاسو به د دې دُنيا په خاطر د مخکښينو خلکو په شان خپل مينځ کښې مقابله کوئ، او دا به تاسو په **غَفلَت** کښې واچوي ځنګه چې يـې تير شوي قومونه غافله کړي وو. (بُخاری ج ٤ ص ٢٢٥ حدیث ٦٤٢٥، باطنی بیماریوں کی معلومات ص ١٨٠ تا ١٨١) (د مَكتَبَةُ الْمَدِينه رِساله "غَفلَت" ولولئ اِنْ شَآءَالله ډيره فائده به حاصله کړئ)

مجھے غفلتوں سے بچا یا الٰہی — مجھے نیکیوں میں لگا یا الٰہی

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٤٧﴾ د يوې نيکئ په باره کښې هُم دا مه وائې چې د دې څه فائده!

حضرتِ عَلَّامه نَجمُ الدِّين غَزِّي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: څوک چې يو نيم نيک عمل کوي، د **الله** پاک د رَحمت نه اُمِّيد دے چې هغۀ ته به د هغه نيک عمل په وجه کله نا کله ضرور فائده کيږي. (حسن التنبه ج ٢ ص ١٦١)

اے عاشقانِ صحابه و اَهلِبَيت! معلومه شوه چې يوه نيکي هُم کمتره ګڼل نه دي پکار او هيڅ

کله هُم کوم بيلمانځه کس د يو **مُستَحَب** کار نه منع کول نهٔ دي پکار. مَثَلًا داسې وئيل چې تهٔ **نمونځ** خو کوې نهٔ، نو د غَوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د اِيصالِ ثواب د نياز [يعني خيرات] نه څه فائده! بيشکه نمونځ فرض دے او چې څوک يې نهٔ کوي هغه سخت ګنهګار دے، نمونځ ضرور کول پکار دي خو چې څوک يې نهٔ کوي هغه د نورو نيکو نه منع کول صحيح نهٔ دي، کيدے شي چې بُزُرګانو سره د عقيدت په وجه او د هغوئي د نياز [يعني خيرات] په بَرَکت هغه ته د نمونځونو کولو توفيق هُم نصيب شي، چنانچه **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: "بعضې وخت په انسان کښې د موجود يو نيک عادت په وجه **الله** پاک د هغهٔ ټول اعمال ښهٔ کړي" (مُعْجَم اَوْسَط ج١ص٥٤٤ حديث٢٠٠٦)

## ﴿٤٨﴾ په ژړا ژړا نابِينا کيدو والا زنانه

حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهِيم خَواص رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي چې مونږه د رِحله نومې عابِدې خوا ته ورغلو. هغې به په کثرت سره روژې نِيولې او (د خوفِ خُدا په وجه به يې) **دومره ژړل چې بينائي يې ختمه شوې وه** او دومره زيات نمونځونه به يې کول چې آخر دا چې بيا به يې په ولاړه نمونځ نهٔ شو کولے، لِهٰذا په ناسته به يې نمونځونه کول، مونږه هغې ته سلام وکړو او بيا مو ورته د اللّٰه تعالیٰ د رَحم و کرم تذکره وکړه چې د هغې جوش کم کړے شي. هغې چې دا خبره واوريدله نو يوه چغه يې وکړه او ويې فرمائيل: "ما ته د خپل نفس پيژندګلو حاصله شوې ده چې د هغې په سبب زما زړهٔ زخمي شوے دے او ځيګر مې ټُکړې ټُکړې شوے دے، قَسَم په خُدائے جَلَّ جَلَالُہٗ زهٔ غواړم [يعني ارمان کووم] چې کاش! اللّٰه تعالیٰ زهٔ هډو پيدا کړې نهٔ وے او زهٔ يو قابِلِ ذِکر څيز نهٔ وے." دا يې اوفرمائيل او بيا په نمانځهٔ کښې مشغُوله شوه. (اِحياءُ العُلوم ج٥، ص١٥٢)(اِحيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج٥ص٣٨٦، ٣٨٧) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغې رحمت وي او د هغې په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

آه! سلبِ ایماں کا خوف کھائے جاتا ہے     کاش کے! مری ماں نے، ہی نہیں جنا ہوتا

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ١٥٨)

## د خوفِ خُدا نه د ژړلو فضيلت

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** تاسو وليده! چې هغه بُزُرګه زنانه د خوفِ خُدا نه د مسلسل ژړيدلو په وجه نابينا شوې وه. يقيناً د خوفِ خُدا په وجه ژړيدل ډير غټ سعادت دے. **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "د کوم بندۀ مومِن د سترګو نه چې د **الله** پاک د ويرې په سبب د مچ د سر هومره اوښکه هُم را اووتله او د هغۀ مخ ته ورسيدله نو **الله** پاک په هغه بنده باندې دوزخ حرام کړي." (ابنِ مَاجَه ج ٤ ص ٤٦٧ حديث ٤١٩٧)

## د فِلمونو اداکار تَهَجُّد ګزار جوړ شو

د **دادُو** (سندھ) د خوا و شا علاقې يو کس بد کرداره، بد اخلاقه او شرابي وو. سندهي فلمونو کښې به يې اداکاري هُم کوله. بدو خلکو سره يې دوستي وه او کله به يې هُم **نمونځ** نۀ کولو. خو د والِد صاحب يې اَلْحَمْدُ لِلّٰه پرهيزګاره او نمونځ ګُزاره بلکې تَهَجُّد ګُزاره سړے وو، د هغۀ نور ورونړه هُم نمونځ ګُزاره وو، بس يو دے پکښې بدو عادتونو کښې اخته شوے وو. که پلار به هُم څه نا څه پوهه کړو او ځان سره به يې نمانځۀ د پاره بوتللو نو چې د جومات دروازې ته به ورسيدلو نو لاس به يې ترينه خلاص کړو اَو وبه تښتيدلو، محلّه دار هُم ترينه تنګ وو او کله به چې خپلوانو کره لاړو نو د هغوئي د انداز نه به هُم صفا محسوسيدله چې هغوئي به د دۀ خپل کور ته راتلل نۀ خوښول. په 2008ء کښې د مُحَرَّمُ الْحَرَام په مياشت کښې يو ځل ځان سره والِد صاحب د ماسخوتن **نمانځۀ** له بوتلو. د نمانځۀ نه پس يې د عمامو والؤ دوو اِسلامي وروڼو سره ملاقات وشو نو هغوئي د هغۀ کشر ورور او د هغۀ والدصاحب ته د درې ورځو مَدَني قَافِله کښې د سفر کولو دعوت ورکړو نو کشر ورور يې اُووئيل چې زما دا ورور به تاسو سره مَدَني قَافِله کښې سفر وکړي، هغۀ هُم ځان خلاصولو د پاره بهنه وکړه خو چې کور ته راغلو نو کشر ورور ته يې اُووئيل چې تۀ ورسره لاړ شه، زۀ مُوليانو سره نۀ ځم، صبا زما د فِلم شُوټِنګ دے، خو والد صاحب ورته اُووئيل چې که زما سره مَحَبَّت کوې نو

مَدَني قَافِله کښې لاړ شه او د هغهٔ سامان يــې هُم تيار کړو. بله ورځ هغه په کور کښې اُودهٔ وو چې د مَدَني قافلې والا اسلامي وروڼه ورپسې کور ته راغلل، دغسې هغه عاشِقانِ رَسُول سره د درې ورځو مَدَني قَافِله کښې سفر کولو کښې کامياب شو. د مَدَني قافلې په دوران کښې د اِسلامي ورونړو د مَحبَّت او شَفقَت نه ډير مُتأَثِّره شو او چې کله يـې د مَکتَبَةُالْمَدِينه رِساله "مُردے کے صدمے" [يعني د مړي غمونه] ولوستله نو سخت وويريدلو، د خپلو ګناهونو نه يـې توبه وکړه او د غوثِ پاک په سلسله کښې مُرِيد شو. مَدَني قَافِله کښې ورته د فرضو نمونځونو سره سره د تَهَجُّد، اِشراق او څاښت د نمونځونو ادا کولو سعادت هُم نصيب شو، چې مَدَني قافلې نه واپس راغلو نو د شپې پاڅيدلو او د تَهَجُّد **نمونځ** يـې ادا کړو نو والِد صاحب يـې ډير زيات خوشحاله شو چې دهٔ خو به فرض نمونځونه هُم نهٔ کول او اوس د تَهَجُّد **نمونځ** ادا کوي! د کور نور کسان هُم په دې تبديلئ باندې ډير خوشحاله شو. اَلْحَمْدُلِله عِمامه يـې هُم په سر کړه او د سُنَّت مطابق ږيرې پريښودلو يـې هُم پوخ نِيَّت وکړو. دا تبديلي يـې چې وليده نو د ګاونډ هٔغه خلک چې مخکښې د دهٔ نه تنګ وو اوس ورسره په خوشحالئ ملاويږي، هغه خپلوان چې هغوئي خپلو کورونو ته د دهٔ راتلل نهٔ خوښول اوس ترينه ګيله کوي چې ته مونږ کره ولې نه راځې. صرف يوه هفته پس ورته فيضانِ مدينه سکهر کښې د 63 ورځو تربِيَّتي کورس [شروع] کولو سعادت هُم نصيب شو. د هٔغه ځائے نه چې واپس راغلو نو مَدَني قَافِله ذِمَّه دار جوړ کړے شو او ديني کارونه کولو کولو کښې ورته د نيک اعمالو ذِمَّه داري هُم نصيب شوه.

بے شک اعمال بد اور افعال بد کی چھٹیں عادتیں، قافلے میں چلو
کر سفر آئیں گے، تو سدھر جائیں گے اب نہ سستی کریں، قافلے میں چلو

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۶۷۳)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

# ﴿٤٩﴾ د مرګ په ياد کښې اُورېږ اوسيدونکې زنانه

حضرتِ سَيِّدَتُنا مُعاذه عَدَوِيّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا به هره ورځ د سحر په وخت کښې فرمائيل: ''(شايد) دا هغه ورځ ده په کومه کښې به چې زۀ مړه کيږم.'' بيا به يې د ماښامه پورې هيڅ نۀ خوړل. بيا به چې کله شپه شوه نو وئيل به يې (شايد چې) دا هغه شپه ده، په کومه کښې به چې زۀ مړه کيږم.'' بيا به يې سحره پورې نمونځونه کول. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج٥ ص١٥١) (اِحْيَاءُ الْعُلُوم(اُردو) ج٥ ص٣٨٥) د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

مسلسل موت نزدیک آرہی ہے، ہائے! بربادی
کرم مولٰی! گناہوں کا مرض بڑھتا ہی جاتا ہے

(وَسائلِ بخشِش(مُرَمَّم) ص ٤٣٤)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مرګ ياد د سعادت مندو حِصَّه ده

سُبْحٰنَ الله! مرګ دومره ډير يادول!!! بيشکه د مرګ ياد د سعادتمندو حِصَّه ده: اللّٰه تَبَارَکَ وَتَعَالٰی يو کم ديرشمه (29) سيپاره سُوْرَةُ الْمُلْک آيت نمبر 2 کښې اِرشاد فرمائي:

الَّذِىْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَ الْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ؕ

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: هغه چا چې مرګ او ژوند پيدا کړو چې ستاسو ازميښت وشي چې په تاسو کښې د چا کار زيات ښۀ دے.

د دې آيتِ مُبارکه په تفسير (کښې يو قول) دے: ''چې په تاسو کښې څوک مرګ په کثرت سره ياد ساتي، د دې د پاره ښه تياري کوي او ډيره زياته ويره لري''

(شُعَبُ الْاِيمان لِلْبَيْهَقِي ج ٧ ص ٤٠٨ حديث ١٠٧٨٨)

## دوه خيزونو زما د پاره د دُنيا خوند ختم کړو

حضرتِ سَيِّدُنا عَبْدُ الْاَعْلٰى تَيْمِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اُوفرمائيل: دوه خيزونو زما د پاره د دُنيا خوند ختم

کړو: (۱) د مرګ ياد او (۲) د الله پاک په حُضُور کښې د ودريدلو خيال. (حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء ج۵ ص۱۰۲ حديث ٦٤٨٥)

حضرتِ سَيِّدُنا عَون بن عبدُالله رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: څوک چې مرګ په صحيح معنو کښې اوپيژني هغه راتلونکے صبا خپل ژوند کښې نهٔ شميري، څومره داسې خلک دي چې هغوئي د ورځې اِستِقبال وکړو (يعني ورځ يې حاصله کړه) خو ورځ يې پوره نهٔ کړے شوه او څومره د صبا تياري کوونکو صبا حاصل نهٔ کړے شو. که تاسو مرګ او د هغې په فاصله باندې غور وکړئ نو ضرور به د اوږدو اُمِّيدونو او د هغو د تګګئ نه نفرت کوئ. (مُصَنَّف اِبنِ اَبِی شَيْبَة ج۸ ص۲۲۳ حديث ۵) (شَرْحُ الصُّدُور (اردو) ص ٦٩)

## د رضائے اِلٰهی د پاره کم خوراک عبادت دے

د **نمانځهٔ** د عاشقې په حِکايت کښې د لوَړې تذکره هُم ده. بيشکه د **الله** د رِضا د پاره کم خوراک عبادت او د ثواب کار دے. **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: "چې کله بنده په خپل خوراک کښې کمے وکړي نو د هغهٔ جَوف (يعني باطِن) د نُور نه ډک کړے شي."

(جامِع صغِير ص ۳۵ حديث ٤٦٩)

بھوک سہنے پیاس سہنے کی خدا توفیق دے　　گم تری یادوں میں رہنے کی سدا توفیق دے

د کم خوراک او کمو خښلو خُدا توفيق راکړې
ستا په يادونو کښې د ورک اوسيدلو سَدا توفيق راکړې

## ﴿۵۰﴾ د جَهنَّم ياد يې خوب اوتښتولو

حضرتِ سَيِّدُنا طاؤس رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به چې کله په بِستره څملاستلو نو داسې ډډې په ډډې به اَووښتلو لکه کټوئ کښې چې دانه ټوپونه وهي، بيا به يې [د ويرې] ټوپ کړلو او پا به څيدلو او بستره به يې راټوله کړه او د سحره پورې به **نمانځهٔ** کښې مشغول اوسيدلو، بيا به يې وئيل: "د دوزخ ياد د عبادت ګُزارو خوبونه الوَځوَلي دي." (اِتحَافُ السَّادَةِ الْمُتَّقِين ج۵ ص ۵۲۹)

# په هر سُوري كښې يو مار

اے د اللّٰه پاک ویره لرونکو! هائے! هائے! د جَهنَّم عذاب! هغه به څوک برداشت کړے شي، هيڅ څوک هُم نۀ، بالكل به يې هيڅ څوک هُم برداشت نۀ کړے شي، يا اللّٰه! مونږه د جَهنَّم نه وساتې. اٰمِين. روايت دے چې په جَهنَّم كښې اَويا (70) زره درې دي، په هره دَره كښې اَويا (70) زره غونډئ دي، په هره غونډئ كښې اَويا (70) زره سُوري دي، په هر سُوري كښې يو مار دے چې هغه د دوزخيانو مخونه مسلسل چيچي. (كتاب صفة النار مع موسوعه اِبنِ اَبى دنيا ج ٦ ص ٤٠٩ حديث ٤٥) (مُكاشَفَةُ الْقُلُوب (اردو) ص ٣٨٥)

درد سر ہو یا بخار آئے تڑپ جاتا ہوں ... میں جہنم کی سزا کیسے سہوں گا یارب!

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٨٥)

که په سر مې درد شي يا شي تبه هُم لړزيږم ترينه
د جَهنَّم سزا به څنګه تيروم يا رَبه!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٥١﴾ ستا پلار د ناخاپه راتلونكي عذاب نه ويريږي

اَللّٰهُ اَكبَر! څوک چې څومره نيک وي هُم هغه هومره هغه خَوفِ خُدا لري، د اللّٰه پاک ويره لرونكي تابِعي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا رَبِيع بِن خُثَيم رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْه ته د هغوئي لُور عرض وکړو: بابا جانه! څه وجه ده چې خلک اُودۀ شي او تاسو نۀ اُودۀ کيږئ؟ نو اِرشاد يې اُوفرمائيلو: ستا پلار د هغه عذاب نه ويريږي كوم چې ناخاپه د شپې راشي. (شُعَبُ الْاِيمان، ج١ ص٥٤٣ حديث ٩٨٤) د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

مجھے نارِ دوزخ سے ڈر لگ رہا ہے
ہوں مجھ ناتواں پر کرم یاالٰہی

(وسائل بخشش (مرمم) ص 110)

زۀ ویریږم د دوزخ له اَوره وکړې په ما ناتوان کرم یا اِلٰهی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۵۲﴾ د شروع 20 کاله یې د نمانځۀ د پاره مَشَقَّت اوچت کړو

حضرتِ سَیِّدُنا عَمرو بِن محمد بِن اَبِی رَزِین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه رِوایت دے چې حضرتِ سَیِّدُنا ثابِت بُنانِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اُوفرمائیل: "ما 20 کاله پورې د **نمانځۀ** په مُعامَله کښې مَشَقَّت اوچت کړو (یعنې مِحنت مې وکړو) او 20 کالو پورې مې خوشحالئ سره نمونځ ادا کړو." (صفة الصفوة ج۲ رقم ۱۷۵، الله والوں کی باتیں ج ۲ ص ۴۹۰)

## که زړۀ مو غواړي او که نۀ، نیکئ جاري ساتئ!

اے د **نمانځۀ عاشقانو!** د دې حِکایَت نه دا درس حاصل شو چې که زړۀ مو غواړي او که نۀ، **نمونځ** کول جاري ساتئ! که په ذِکر او دُرُود کښې، د نیکئ د دعوت دیني کارنو کښې، مَدَني قَافِلو کښې سفر کولو کښې، "نیک اعمالو" باندې عمل کولو، هره ورځ د فِکرِ مدینه په ذریعه د "نیک اعمالو" ډکولو او د هرې اسلامي میاشتې په یکم تاریخ [خپل ذِمَّه دار ته] جمع کولو کښې، د سُنَّتو ډکې اِجتِماع کښې حاضرئ کښې او د عاشِقانِ رَسُول په صُحبت کښې مو که زړۀ لګي او که نۀ، دا ټول کارونه جاري ساتئ، اِنْ شَآءَ اللّٰه کله نا کله به مو زړۀ ضرور ولګي.

## ﴿۵۳﴾ د فالِج باوجود جَمعې سره نمونځ

تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَیِّدُنا رَبِیع بِن خُثَیْم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه باندې چې کله فالِج راغے نو د دوو سړو په زور به یې جومات ته د جَمعې نمانځۀ له تشریف راوړلو، چې کله به ورته عرض اوکړے شو: "مُحترمه! تاسو خو معذوره یې." هغوئي به فرمائیل: خو زۀ د مُؤَذِّن نه حَیَّ عَلَی الصَّلاة (یعنې نمانځۀ ته راشئ!)، او حَیَّ عَلَی الْفَلَاح (یعنې ښیګړې طرف ته راشئ!) اورَم او ښوک چې اذان واوري هغۀ

ته پکار دي چې د جَمعې نمانځهٔ ته حاضر شي، اګر که په ښويدلو تلل ورپيښ وي! (حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء ج۲ص۱۳۳حديث۱۷۰۷) دا د هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه جَمعې سره د نمانځهٔ کولو جذبه او د اوچتې درجې تقویٰ وه، البته مسئله هُم دا ده چې داسې مريض چې هغهٔ ته جَمعې له تللو کښې مَشَقَّت پيښيږي هغهٔ ته د جومات حاضرې مُعاف ده.

## ﴿۵٤﴾ د نمانځهٔ په ذريعه حاجَت روائي

د يو کس قاضي سره څه حاجت پيښ شو نو هغهٔ د حضرتِ سَيِّدُنا ثابِت بُناني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه نه مدد اوغوښتلو، چنانچه هغوئي ورسره روان شولو، د کوم جومات په خوا به چې تيريدلو نو **نمونځ** به يې پکښې کولو تر دې چې د قاضي خوا ته ورسيدل، هغه وخت مجلِس ختم شوے وو، هغوئي قاضي صاحب سره د هغه کس د حاجت په باره کښې خبره وکړه نو د هغه حاجت پوره کړے شو، بيا هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه هغه کس ته مُتَوَجِّه شولو او ويې فرمائيل: د سفر په دوران کښې چې تا څه وليدل هغه به تا ته بوج محسوس شوے وي. هغهٔ عرض وکړو: آو جي! هغوئي اُوفرمائيل: ما به چې کله هُم **نمونځ** وکړو نو د **الله** پاک نه به مې ستا د حاجت سوال ضرور کولو. (اللہ والوں کی باتیں ج۲ص۴۹۲)

## ﴿۵۵﴾ تپوس د پاره به چې تللو نو د مريض په کور کښې به يې اول نمونځ کولو

حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ شَوذَب رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه بيانوي چې کله به مونږه حضرتِ سَيِّدُنا ثابِت بُناني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه سره د يو مريض تپوس د پاره تللو او د مريض کور ته به ورسيدلو نو هغوئي به مسجِدِ بَيت (يعنې کور کښې د نمانځهٔ د پاره مخصوص کړے شوي ځائے) کښې نمونځ ادا کولو بيا به يې د مريض خوا ته تشريف ورلو. (اللہ والوں کی باتیں ج۲ص۴۹۱)

## مسجِدِ بَيت جوړ کړئ

اے د نمانځهٔ عاشقانو! د دې حِکايَت نه دا هُم معلومه شوه چې د پخوا پاکيزه دَور مسلمانانو

په کوروونو کښې به "مسجِدِ بَيت" وو. افسوس! اوس په کوروونو کښې بيډ رُوم، ډرائنګ رُوم، ډريسِنګ رُوم، استډي رُوم، فِټنِس رُوم، تې وي لاؤنج او معلومه نۀ ده نور څه څه جوړوي خو که نۀ جوړوي نو مسجِدِ بَيت نۀ جوړوي. "**بهارِشريعت**" کښې د مسجِدِ بَيت په ترغيب کښې ليکلي دي: د زنانه د پاره دا **مُستَحَب** هُم دي چې کور کښې د نمانځۀ د پاره څه ځائے مُقَرَّر کړي او پکار ده چې هغه ځائے صفا سوتره ساتي او بهتره دا ده چې هغه ځائے د چوترې وغيره په شان اوچت کړي. بلکې سړي د پاره هُم پکار دي چې په کور کښې د نفلونو د پاره څه ځائے مُقَرَّر کړي ځکه چې نفل نمونځ په کور کښې کول افضل دي. (دُرِّمُختار ورَدُّالْمُحتَارج۳ ص۴۹۴، بهارِشريعت ج۱ ص۱۰۲۱) ياد ساتئ! د مسجِدِ بَيت د پاره پوره کوټه کښې **مخصوصول** ضروري نۀ دي، په يوه کوټه کښې چې لږ شان ځائے هُم مخصوص کړے شي نو کافي دے. د دې جُدا تعمير کول وغيره هُم ضروري نۀ دي.

## ﴿۵٦﴾ په هر جومات کښې نمونځ

حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ شَوذَب رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه بيانوي چې کله به هُم زۀ د حضرتِ سَيِّدُنا ثابِت بُناني رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه سره چرته تللم نو د کوم جومات په خوا به چې هُم تيريدلو نو ضرور به يې پکښې **نمونځ** ادا کولو. (اللہ والوں کی باتیں ج۲ ص۴۹۱)

## ﴿۵۷﴾ د صحابي شَفقَت

تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا حميدُ الطَّوِيل رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه بيانوي چې کله به مونږه د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په خِدمت کښې حاضريدو د پاره تللو نو حضرتِ سَيِّدُنا ثابِت بُناني رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به هُم زمونږ سره وو چې کله به هُم د يو جومات په خوا تيريدلو نو هغوئي به پکښې ضرور **نمونځ** کولو، چې کله به مونږه د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په خِدمت کښې حاضر شو نو هغوئي به تپوس کولو: "ثابِت چرته دے؟ بيشکه هغوئي (په عبادت کښې) ښۀ کوشش کوي ځکه زۀ هغوئي سره ډير مَحبَّت کووم." (مُصَنَّف اِبنِ اَبِی شَيْبَة ج۸ ص۳۱۷ حديث۱۵۷.. (اللہ والوں کی باتیں ج۲ ص۴۹۱)

## تذکرۂ حضرتِ اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ

**اے عاشقانِ صحابه و اَهلبَیت!** اوس چې تاسو کوم حِکایَت واوریدو، په دې کښې د نَبِيِّ کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د جَلِیلُ القدر صحابي، د سَفَر و حَضَر رفیق [یعني ملګرے] او د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خاص خادِمِ حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ذِکرِ خیر وو. صحابۂ کرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان ټول د شان مالکان دي، د حضرت عبدُ الرَّحِیم بن زَید رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ والِد صاحِب فرمائي: زما د خلوېښتو داسې تابِعِینِ عظام سره ملاقات شوے دے چې هغوئي ټولو به مونږ ته د صحابۂ کرامو نه دا حدیث بیانولو چې رَسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: ''څوک چې زما د ټولو صحابؤ سره مَحَبَّت وکړي، د هغوئي مدد وکړي او د هغوئي د پاره اِسْتِغْفَار وکړي نو **الله** پاک به هغه ته د قِیامت په ورځ په جَنَّت کښې زما د صحابه مَعِیَّت (یعني ملګرتیا) نصیب کړي.'' (الجامع لاخلاق الراوی للخطیب ص۳۰۹ حدیث۱۳۶۸) دغسې خو به ټول صحابۂ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم د **الله** پاک د آخري نبي جنابِ محمدِ عَرَبِي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خدمت ګُزارئ د پاره هر قِسمه تیار اوسیدل خو یو څو خوش نصیبه صحابۂ کرام داسې دي چې د هغوئي شمیر د حُضُور سَرورِ دوعالَم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خصوصي خادِمانو کښې کیږي، په دې مُقَدَّس فهرست کښې یو نوم د حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هُم دے. راځئ چې د هغوئي ذِکرِ خیر وکړو او د **الله** پاک رحمتونه حاصل کړو.

## هر صحابِی نبي! جَنَّتي جَنَّتي

د هغوئي نوم اَنَس دے. هغوئي په قبیلهٔ انصار کښې د خزرج د یو شاخ بني نَجار سره تَعَلُّق لري، د هغوئي د والِده نوم اُمِّ سُلَیم بِنتِ مِلحان دے. د هغوئي کُنیَت حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اَبُو حَمزه ایښودے وو او د هغوئي مشهور لَقَب **خَادِمُ النَّبِي** دے او په دې لقب باندې هغوئي بېحده فخر کولو. د لسو کالو په عُمر کښې په خِدمَتِ اَقدس صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې حاضر شوے وو او د لسو کالو پورې [مُسلسل] یې د حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خدمت ګُزارئ شرف حاصل کړلو. (الاکمال فِی اسماء الرجال ص۵، اسد الغابة ج۱ص۱۹۲، ۱۹۳)

# دُعـائے مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم

نَبِـيِّ کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي د پاره خاص طور دُعـا وکړه: اَللّٰهُمَّ اَکْثِرْ مَالَهٗ وَوَلَدَهٗ وَاَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ يعنې ”يا الله پاکـه! د دۀ په مال او اولاد کښې کثرت عطا کړې او دے په جَنَّت کښې داخِل کړې.“ د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ بيان دے چې د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دې درې دُعـاګانو کښې د دوه دُعـاګانو د قَبولِيَّت نظاره خو ما وليده او زۀ اُمِّيد لرم چې زۀ به ضرور د دريمې دُعـا نظاره هُم اُووينم، يعنې جَنَّت ته به داخل شم. (سيرتِ مُصطَفٰی ص۷۰۲ مُلَخَّصاً، مسند عبد بن حميد ص۳۷۵ حديث ۱۲۵۵) حضرتِ سَيِّدُنا اَنَـس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: قَسَم په خُدائے! (د دې دُعـا په بَرَکت) زما مال ډير زيات دے او نن زما اولاد او د اولاد اولاد د سلو نه زيات دے. (مُسلِم ص۱۰۳۵ حديث ۶۳۷۶)

# نمانځۀ او تِلاوتِ قرآن سره مَحبَّت

حضرتِ سَيِّدُنا اَنَـس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ به هره ورځ د ماښام د نمانځۀ نه پس جامې بدلَولې او ماسخوتنه پورې به يـې مسلسل نفلونه ادا کول. (ابنِ عَساکر ج۹ ص۳۶۳ مُلَخَّصاً) چې کله به يـې د ختمِ قرآن سعادت حاصل کړلو نو خپل بال بچي به يـې راجمع کړل او د هغوئي ټولو د پاره به يـې دُعـا کوله. د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خبرې به په انتهائي کمو الفاظو مشتملې وې. (صفة الصفوة ج۱ ص۳۶۲)

# وفات شريف

د حضرتِ سَيِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په دَورِ خِلافَت کښې خلکو ته تعليم ورکولو د پاره هغوئي د مدينے مُنَوَّرې نه بصرې ته لاړلو. سن 91 هجري (يا 93 هجري) کښې وفات شولو. د وفات په وخت کښې يـې عُمر مبارک 103 کاله وو. بصره کښې وفات کيدونکو صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان کښې د ټولو نه پس هغوئي وفات شولو او هُم هلته يـې مزارِ اَقدَس جوړ شو. (الاکمال فِی اسماء الرجال ص۵)

# قَبْر کښې تبرُّک نَبَوِي

د حُضُور سرورِ کائنات صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په تبرُّکاتو کښې حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ سره عَصا [يعني همسا] مبارکه وه، هغوئي وَصِيَّت کړے وو چې دا زما د ښخولو په وخت کښې زما په کفن کښې کيږدئ، چنانچه هغه مبارکه عصا د هغوئي په کفن کښې کيښودلے شوه. (اسد الغابة ج١ ص٧٢١ مُلَخَّصاً) د هغوئي والِده اُمِّ سُلَيم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوَله مبارکه جمع کوله او خوشبو کښې به يې ګډوله، (مُسلِم ص٩٧٨ حديث ٦٠٥٥) حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ وَصِيَّت وکړو چې زما په **حَنُوط** کښې هُغه خوشبو ګډه کړئ په کومه کښې چې د حُضُور رَحمَت عالَم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوَله مبارکه ګډه کړے شوې ده. (بُخاری ج٤ ص١٨٢ حديث ٦٢٨١) **حَنُوط** هُغه خوشبو ته وائي کومه چې کفن او مړي باندې لګولو د پاره تياره کړے شوې وي او په هغې کښې کافُور او صندل وي. (عُمدةُ القاری ج١٥ ص٣٩٢ تحت الحديث ٦٢٨١) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صحابہ کا گدا ہوں اور اہلِ بیت کا خادم
یہ سب ہے آپ ہی کی تو عنایت یارسولَ اللہ

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٣٣٠)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٥٨﴾ يا اللّٰه! قَبْر کښې د نمانځهٔ کولو شرف راکړې

حضرتِ سَیِّدُنا اِبنِ شَوذَب رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ بيانوي چې ما د حضرتِ سَیِّدُنا ثابِت بُناني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ نه داسې دُعا واوريدله: ”اے **اللّٰه** پاکه! که تا په **مخلُوق** کښې چا ته په **قَبْر** کښې د **نمانځهٔ** کولو شَرَف ورکړے وي نو ما ته يې هُم راکړې.“

(شُعَبُ الْاِيمان ج٣ ص٥١٦ حديث ٣١٩١، اللّٰہ والوں کی باتیں ج٢ ص٤٨٨)

## ﴿۵۹﴾ د نمانځهٔ، روژې او ذِکر نه بغير مې ژوند نهٔ دے پکار

حضرتِ سَيِّدُنا مُبارک بِن فَضاله رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه بيانوي چې زهٔ د (تابِعي بُزُرګ) حضرتِ سَيِّدُنا ثابِت بُناني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د مَرضِ وفات په دوران کښې د هغوئی په خدمت کښې حاضر شوم، هغه وخت هغوئي د کور پاسني منزِل کښې وو او مسلسل يـې خپل شاګردان يادول، چې مونږ د هغوئي خوا ته حاضر شو نو ويـې فرمائيل: ”اے ورونړو! تيره شپه ما هغسې نمونځ اونکړے شو ځنګه به مې چې مخکښې کولو، ځنګه به مې چې روژې نيولې هغسې روژې هُم نه شم نيولے او ځنګه به مې چې خپلو هَم نشِينو (يعني ملګرو) سره يو ځائے ذِکرُالله کولو اوس د هغې طاقت هُم نهٔ لرم.“ بيا يـې په بارګاهِ اِلٰهی کښې عرض وکړو: ”اے **الله** پاکه! که تا ته زما د هُم دې درې څيزونو (نمونځ، روژه او ذِکر) نه ايسارول منظور دي نو بيا ما د يو ساعت د پاره هُم په دُنيا کښې مهٔ پاتې کوې.“ يا يـې [داسې] عرض وکړو: ”ځنګه چې زهٔ د نمونځ کولو، روژه نيولو او ستا د ذِکر اِراده کووم، [يا **الله**] که تا ته زما د دې نه ايسارول منظور دي نو بيا ما د يو ساعت د پاره هُم په دُنيا کښې مه پاتې کوې.“ چنانچه هُم هغه وخت هغوئي وفات شولو. (الله والوں کی باتيں ج۲ ص۴۹۰) د الله رَبُّ الۡعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږ بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## ﴿۶۰﴾ قَبۡر کښې يـې نمونځ کولو

د حضرتِ سَيِّدُنا شَيبان بِن جَسر رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه والِدِ ماجِد فرمائي: قَسَم په هٰغه خُدائے د چا نه سِوا چې بل هيڅ معبُود نشته! حضرتِ سَيِّدُنا ثابِت بُناني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ما او حضرت حميدُ الطَّوِيل رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه يا يو بل کس لـحد ته کوز کړلو، چې کله مونږه خښتې صحيح کړلې نو اِتِّفاقاً يوه خښته ور اوغورزيدله، [چې خښته پسې مې اوکتل نو] ناڅاپه مې وليدل چې هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په قَبۡر کښې نمونځ کولو، ما خپل ملګري نه تپوس وکړو: چې آيا تا وليدو؟ نو هغهٔ اُووئيل: خاموشه اوسه! چنانچه د ښخولو نه فارغيدلو نه پس مونږه د هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه لور طرف ته ورغلو او تپوس مو ترينه وکړو چې ستاسو والِدِ مُحترم به څه عمل کولو؟ هغې تپوس وکړو چې تاسو

څه وليدل؟ مونږه ورته تېوله واقعه بيان کړه، نو هغې اُووئيل: زما والِد صاحِب د پنځوسو (50) کالو نه مسلسل شَب بيداري کوله [يعني د شپې عبادتونه کول]، چې کله به د پيشمني وخت شولو نو داسې دُعـا به يـې کوله: يا **الله** پاکـه! که تا په خپل **مخلوق** کښې چا ته په **قَبْر** کښې د **نمانځهٔ** ادا کولو شَرَف عطا کړے وي نو ما ته يـې هُم راعطا کړې. **الله** پاک د هغوئي دُعـا قبوله کړه. (صفة الصفوة ج ۲، جزء ۳ ص ۱۷۷، اللہ والوں کی باتیں ج ۲ ص ۴۸۹)

اللہ! دیدے ایسی محبت نماز کی چھڑوا سکے نہ موت بھی الفت نماز کی

اللهُ! ما ته راکړې د نمانځهٔ داسې مَحبَّت
چې په مرګ مې ختم نهٔ شي د نمانځهٔ سره اُلفَت

## ﴿٦١﴾ قَبْر مبارک نه د تِلاوت آواز

حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهِيم بن صِمَّـه مُهَلبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيانوي: "چې کوم خلک د پيشمني په وخت کښې د حضرتِ سَيِّدُنا ثابِت بُناني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د قبرِ مُبارک په خوا تيريږي هغوئي ما ته اُووئيل چې کله هُم مونږه د هغوئي د **قَبْر** شريف په خوا تير شوي يُو مونږه د قرآن د تِلاوَتِ آواز اوريدلے دے." (کتاب التہجد و قیام اللیل مع موسوعة للامام ابن ابی الدنیا ج ۱ ص ۳۳۲، رقم ٤١٥، (اللہ والوں کی باتیں ج ۲ ص ٤٩٢) د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.
اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مشر ترهٔ زوئي يـې قتل شو

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د نشې عادت ختمولو، د ګناهونو خصلتونه ختمولو او د نيکئ لاره اختيارولو د پاره هر وخت د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامل اوسئ. **مَدَني سپرلے**: د شاهدرې لاهور يو اِسلامي ورور به مخکښې د شرابو په نشه، د چرسو په نشه او نورو

بدو کښې اخته وو. د بدو دوستانو د صُحبت په وجه يــې دا احساس هُم نه لرلو چې په مسلمانانو باندې نمونځ فرض وي، بلکې هغهٔ ته به که چا د نمانځهٔ دعوت ورکولو نو د هغهٔ نه به يــې ځان داسې خلاصولو چې ته لا ړ شه زهٔ درځم او زړهٔ کښې به يــې دا سوچ کولو چې که دا کس پخپله نمونځ کوي نو اودې يــې کړي، ما ته چې کله توفيق نصيب شو نو بيا به يــې وکړم. بيا يوې واقعې د هغهٔ ژوند تريخ کړو او هغه دا چې د هغهٔ د مشر تره زوئې چا د ځمکې معمولې جګړې باندې قتل کړو! د دې واقعې نه پس هغه اوسيدلو د پاره کلي ته لاړو، د هغه مشر ورو چې هغهٔ سره يو ځائے اوسيدلو هغه د غوثِ پاک په سلسله کښې مُرِيد وو هغهٔ به هُم ورته د نيکئ دعوت ورکولو او د نمانځهٔ ترغيب به يــې ورکولو نو دهٔ به مور ته شکايت کولو چې دا ورور زما نه ولې نهٔ قلاريږي، چې کله زما خوښه وه نمونځ به کووم. بيا د رَمَضَانُ الْمُبَارَک مياشت راغله نو هغهٔ ته ورور عاشِقانِ رَسُول سره د پوره مياشتې د اِعتِکاف کولو دعوت ورکړو نو هغهٔ په ډيره غُصَّه اُووئيل چې ما سره دومره پيسې نشته چې بال بچو ته يــې د خرچې د پاره پريږدم او زهٔ ترينه لاړ شم، په هغه ورځ ورله يو عزيز [يعنې نزدې خپل کس] لس زره روپئ په تُحفه کښې ورکړې، د دې غيبي مدد نه پس هغهٔ سره نور څه د انکار ګُنجائش نهٔ وو! هغه جامِع مسجد اقصٰی شيرانواله ګيټ لاهور ته اِعتِکاف د پاره ورغلو. يو څو ورځې خو نفسياتي طور په نوي ماحول کښې پريشانه وو، بيا يــې په قلاره قلاره زړهٔ ولګيدو، د مَدَني مُذاکرې بَرَکتونه يــې حاصلول شروع کړل، يوه ورځ يــې په مَدَني مُذاکره کښې د فِکرِ آخرت مُتَعَلِّق خبرې واوريدلې نو ځان سره په زړهٔ کښې شرمنده شو، او نګرانِ شوریٰ هُم د قَبْر مُتَعَلِّق لږ شان بيان وکړو او د هغې په اوريدلو د ډيرو اِسلامي ورونړو د سترګو نه اوښکې رواني شوې. يوه ورځ په مَدَني مُذاکره کښې د صلهٔ رِحمي (يعنې خپلوانو سره د ښهٔ سلوک) مُتَعَلِّق دا مَدَني ګُل بيان شو چې که د خپلوانو، عزيزانو نه مو څه قصور شوے وي نو هغوئې معاف کول پکار دي. دې خبرې د هغهٔ په زړهٔ ډير اثر وکړو. د خپلو ګناهونو نه يــې توبه وکړه، د نمانځهٔ او روژو د پابندئ نِيَّت يــې وکړو او چې د اِعتِکاف نه پس کور ته لاړو نو د مور ښې

یـې ښکل کړې، د تره د زوئي قاتلانو له ورغلو، هغوئي یـې معاف کړل او روغه وغیره یـې وکړه. اَلْحَمْدُلِلّٰه ږیره یـې پرېښودله او عِمامه شریفه یـې هُم په سرکړه.

تو نرمی کو اپنانا جھگڑے مٹانا　　رہے گا سدا خوشنما مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٦)

ته نرمي کوه جګړې مۀ کوه　　وي به ډېر ښکلے سدا مدني ماحول

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿٦٢﴾ تِوله شپه به یـې نمونځونه کول

حضرتِ سَیِّدُنا عبدُ العزیز بِن رَوَّاد رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَیْه به د شپې په شروع کېدو سره د خپلې بسترې خوا ته راغلو او په هغې به یـې لاس راښکلو او وئیل به یـې: "بیشکه تۀ نرمه یـې خو قَسَم په خُدائے چې په جَنَّت کښې به ستا نه زیاته نرمه بستره ملاویږي." بیا به یـې ټوله شپه نمونځ کولو. (اِحْیَاءُ الْعُلُوم ج١ ص٤٦٧) (اِحْیَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج١ ص١٠٥٦، ١٠٥٧) د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږ بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیِّیْن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! بیشکه جَنَّت د اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت ډېر لوئي نعمت دے، مونږ ټولو ته د هغې د حاصلولو خواهش لرل او د هغې د حاصلولو د پاره ډېر ډېر عبادتونه کول پکار دي او د نبيِّ رحمت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شفاعت جَنَّتُ الْفِرْدَوْس ته د داخلیدلو ډېر ډېر اُمِّید ساتل پکار دي.

یا خدا میری مغفرت فرما　　باغ فردوس مرحمت فرما

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٧٥)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿٦٣﴾ ښېې مبارکې به یـې هر وخت پړسیدلې وې

د حضرتِ سَیِّدُنا مَسرُوق رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَیْه زوجهٔ مُحترمه رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَیْهَا فرمائي چې د حضرتِ سَیِّدُنا

مسرُوق رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ښپې مبارکې به په نمانځهٔ کښې د اوږد قِيام (يعني ډير وخته پورې د مسلسل ودريدلو) په وجه هر وخت پړسيدلې وې، چې کله زهٔ د هغوئي شا ته ناسته يم نو قَسَم په خُدائے! په هغه باندې رحم راشي او په ژړا شم. (اِحۡيَاءُ الۡعُلُوم ج٥ ص١٤٣) (اِحۡيَاءُ الۡعُلُوم (اُردو) ج٥ ص٣٦٤) **د اللهُ رَبُّ الۡعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## ﴿٦٤﴾ د خوږ آقا ﷺ ښپې مبارکې اُوپړسيدلې

د **الله** والؤ د نمونځونو جذبه مرحبا! مونږه په معمولي بيمارئ کښې په فرضو نمونځونو کښې سستي کوو او د هغه حضراتو به د نفلونو د کثرت په وجه ښپې اوپړسيدلې! بچپله زمونږه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شپې د نمونځونو کيفيت **الله**! **الله**! د مَكتَبَةُ الۡمَدِينه د 125 صفحو عظيم الشَّان کتاب "شُکر کے فضائل" صفحه نمبر 51 کښې ورکړے شوے مضمون د الفاظو معمولي تبديلئ سره عرض کووم: حضرتِ سَيِّدُنا مُغِيره بِن شُعبه رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي چې خوږ مکی مَدَنی مُصطفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (د شپې) په نمانځهٔ کښې دومره اوږد قيام وکړو چې ښپې مبارکې يې اوپړسيدلې. عرض ورته اوکړے شو چې: اے د دواړو جهانو سرداره! تاسو صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دومره تکليف ولې اوچتوئ؟ تاسو صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو يقيناً بخښلي شوي يئ. نو اِرشاد يې اُوفرمائيلو: "آيا زهٔ شُکر گُزار بنده جوړ نهٔ شم؟"

مرحبا! کیا خوب ہے! اللہ والوں کی نماز
ان کے صدقے ہم کو بھی دے یا خدا سوز و گداز

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٦٥﴾ د جهنَّم نه پناه راکړې

حضرتِ سَيِّدُنا صِلَه بِن اَشۡيَم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه به ټوله شپه نمونځ کولو، چې کله به سحر شو نو د **الله**

پاک په بارګاه کښې به يـې عرض وکړو: ''اِلٰهی! زهٔ د جَنَّت قابِل خو نهٔ يم، خو ته په خپل رحمت ما ته د جَهنَّم نه پناه راکړې.'' (اِحیَاءُالعُلوم (اردو) ج۱ص۱۰۵۷) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## دوزخ نه د پناه غوښتلو فضيلت

**اے د اللّٰه پاک ويره لرونکو بندګانو!** قَسَم په خُدائے! د يو سيکنډ د پاره هُم څوک د جهنَّم عذاب نهٔ شي برداشت کولے! مونږ ته د جَهنَّم نه هر دم پناه غوښتل پکار دي. په دې سلسله کښې يو څو رِوايات ولولئ او د جَهنَّم نه ډيره ډيره پناه اوغواړئ: د **اللّٰه** پاک آخري نبي، **مُحَمَّدِ عَـرَبي** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: څوک چې د جَهنَّم نه پناه غواړي نو جَهنَّم وائي: اَللّٰهُمَّ اَجِرْهُ مِنَ النَّارِ. يعنې يا **اللّٰه** پاکه! دهٔ ته د جَهنَّم نه پناه ورکړې. (الاحاديث المختارة ج٤ص٣٩٠ حديث ١٥٥٩)

## جَهنَّم نه درې ځله د پناه غوښتلو فضيلت

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوک چې د **اللّٰه** پاک نه درې ځله د جَنَّت سُوال کوي نو جَنَّت وائي: ''يا **اللّٰه** پاکـه! دے جَنَّت کښې داخل کړې.'' او څوک چې درې ځله د جَهنَّم نه پناه اوغواړي نو جَهنَّم وائي: '' يا **اللّٰه** پاکه! دهٔ ته د جَهنَّم نه پناه ورکړې.'' (ترمِذی ج٤ ص ٢٥٧ حديث ٢٥٨١)

## جَهنَّم نه اووه (7) ځله د پناه غوښتلو فضيلت

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: کوم بنده چې د جَهنَّم نه هره ورځ اووه (7) ځله پناه غواړي، نو جَهنَّم وائي: ''يا ربـه! ستا بنده زما نه پناه غواړي، ته دهٔ ته پناه ورکړې.'' (مُسنَدِاَبویَعْلٰی ج٥ ص ٣٧٩ حديث ٦١٦٤) ''**شَجَرۂ قادِريَّه رَضَويَّه**'' [اُردو] صفحه 26 کښې دي: (د سحر او مابنام د نمانځهٔ نه

پس) اَللّٰھُمَّ اَجِرْنِیْ مِنَ النَّارِ[1] اووه ځله ولولئ. **فضيلت:** لوستونکے که په هغه ورځ يا شپه کښې مړ شي نو **الله** پاک به هغه د جَهنَّم نه **محفوظه** ساتي. (اَبو داؤد ج ٤ ص ٤١٥ حديث ٥٠٧٩)

گناہ گار ہوں میں لائق جہنم ہوں کرم سے بخش دے مجھ کو نہ دے سزا یارب

(وَسائِلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٧٨)

زۀ ګنهګار يمه لائق د جَهنَّم د سزا بخشش مې وکړې ما ته مۀ راکړې سزا يا رب

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿٦٦﴾ جواب ولې نۀ راکوئ؟

حضرتِ سَيِّدُنا جعفر بِن **محمد** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د شپې په وخت کښې د قبرونو خوا ته ورغلو او وئيل به يې: اے **قَبْر** والؤ! زۀ چې تاسو ته غږ کووم نو تاسو جواب ولې نۀ راکوئ؟ بيا به يې فرمائيل: وَالله! د دوئي او د جواب په مينځ کښې رُکاوَټ دے او لکه زۀ چې هُم د دوئي په شان يم. بيا به يې د سحر د وخت شروع کيدلو پورې نمونځ کولو. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ٥ ص ٥٩٠)

## د مرګ يادولو فائدې

سُبْحٰنَ الله! د **الله** پاک نيکو بندګانو به مرګ کثرت سره يادولو او خپل ځان به يې په وفات شوو خلکو کښې حسابولو. بيشکه مرګ کثرت سره يادول انتهائي فائده مند دي، چنانچه د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه کتاب ''شَرحُ الصُّدُور (اُردو)'' صفحه 67 کښې دي:''بعضې بُزُرګانو فرمائيلي دي: څوک چې مرګ کثرت سره يادوي هغه د درې خبرو په ذريعه عِزَّت حاصلوي ﴿١﴾ د توبه کولو زر توفيق ﴿٢﴾ د زړۀ قناعَت او ﴿٣﴾ عبادت کښې **چُستي**. او چا چې مرګ هير کړو هغه به درې خبرو کښې ګرفتار کړے شي: (١) په توبه کښې ناوخته کول (٢) د ضرورت مطابق رِزق باندې نۀ راضي کيدل او (٣) عبادت کښې سُستي.''

---

1 اِلٰهي ما د جَهنَّم نه بچ کړې.

مسلسل موت نزدیک آرہی ہے، ہائے! بربادی
کرم! مولیٰ! گناہوں کا مرض بڑھتا ہی جاتا ہے

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۴۳۴)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ټول به په دوزخ د پاسه تیرېږي

اے د نمانځۀ عاشقانو! د **اللّٰه** پاک د عذاب نه مۀ بې ویرې کیږئ. آه! هر کس به د جَهنَّم د پاسه تیرېږي. چنانچه شپاړسمه سیپاره سُوْرَةُمَرْيَم آیت 71 او 72 کښې **اللّٰه** پاک اِرشاد فرمائي:

وَ اِنْ مِّنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴿۷۱﴾ ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّ نَذَرُ الظّٰلِمِيْنَ فِيْهَا جِثِيًّا ﴿۷۲﴾ (پ۱۶، مریم:۷۱، ۷۲)

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِیمان: او په تاسو کښې هیڅ خوک داسې نشته چې په دوزخ به نۀ تیرېږي، ستاسو د **رب** په ذِمَّه دا ضرور ترلې شوې خبره ده، بیا به مونږه ویره لرونکې بچ کړو او ظالِمان به پکښې په زنګونانو [پریوتلې] پریږدو.

د هُم دې آیتِ مُقَدَّسه پیشِ نظر خوفِ خُدا لرونکو بُزُرګانِ دِین رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْهِم فرمائیلي دي: مونږ ځکه ویریږو چې مونږ په دوزخ باندې د پاسه د تیریدلو یقین لرو خو په نجات کښې مو شک دے.

## جَهنَّم نه زر کاله پس راوتلو والا کس

حضرتِ سَیِّدُنا حَسَن بصري رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه چې کله دا حدیث شریف بیان کړلو کوم چې د هغه کس په باره کښې راغلے دے چې هغه به د دوزخ نه زر کاله پس را اُوځي او دا به وائي چې: يَاحَنَّانُ! يَامَنَّانُ! یعني اے ډیر رَحم کوونکیه! اے ډیر احسان کوونکیه! د هغې نه پس یې اُوفرمائیل: کاش چې هغه کس زۀ وے. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ٤ ص ٧٨ تا ٧٩)

زر کاله پس د جَهنَّم نه راوتونکے هغه کس کاش چې زۀ وے، دا سَیِّدُنا حَسَن بَصري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه شايد ځکه اوفرمائيل چې د هغۀ خاتِمه به يقيناً په ايمان شوې وي ګني څوک چې په کفر مړ شي هغه خو به کروړونه، اربونه کالونه پس هُم [يعنې] مطلب دا چې کله هُم د جَهنَّم نه بهر نۀ شي وتلے. مونږ جَهنَّم نه د **الله** پاک پناه غواړو.

مجھے نارِ دوزخ سے ڈر لگ رہا ہے ہو مجھ ناتواں پر کرم یاالٰہی

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۱۱۰)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿٦٧﴾ هغه ستن څه شوه؟

منقُول دي چې کله حضرتِ سَیِّدُنا رَبيع بِن خُثَيم رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه وفات شو نو د هغوئي د ګاونډي ماشومې لُور خپل پلار نه تپوس وکړو: بابا جانه! زمونږ د ګاونډي په کور کښې چې کومه **ستن** [ولاړه] وه هغه څه شوه؟ هغوئي ورته اُوفرمائيل: هغه (ستن نۀ وه بلکې هغه خو) زمونږه نيک ګاونډي وو چې د شپې د شروع نه واخله تر آخري پورې به په عبادت [يعني نمانځۀ] کښې ولاړ اوسيدلو. [در اصل] ماشومې (د تِيارې په وجه) حضرت [رَبيع بِن خُثَيم رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه] ستن ګڼلو، ځکه چې هغه [ماشومه] به صرف د شپې د خپل کور چَت ته خَتَله او حضرت به يې (خوا ته کور کښې په نمانځۀ) ولاړ ليدلو. (رساله قُشيريه ص٤١٦) **د اللّٰهُ رَبُّ الۡعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿٦٨﴾ خوشحالي وکړم که غم؟

د **حضرتِ** سَیِّدَتُنا حَبِيبه عَدَوِيَّه رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡهَا په باره کښې منقُول دي چې هغې به کله د ماسخوتن نمونځ وکړو نو د خپل کور په **چَت** به ودريدله او څادر به يې د ځان نه په ښه طريقه

راتاؤ کړو او عرض به يـې کولو: يا **الله** پاکـه! ستوري پټ شولو او (د خلکو) سترګې اُودې شوې، د دُنيا بادشاهانو خپلې دروازې بندې کړې او هر مُحِب (يعني مَحَبَّت کوونکي) خپل محبوب (يعني ګران کس) سره خَلوَت (يعني تنهائي) اختيار کړه او زۀ ستا په بارګاه کښې ولاړه يم. بيا به په **نمانځۀ** کښې مشغوله شوه. چې کله به سحر شو نو عرض به يـې کولو: اے **رَبِّ کَرِيم**! شپه تيره شوه او د ورځې رڼا راغله خو ما ته نۀ ده معلومه چې تا زما دا شپه قبوله کړه چې زۀ خوشحالي وکړم! يا دې دا شپه د خپلې بارګاه نه رَد کړه چې زۀ غم وکړم! زما دې ستا په عِزَّت قَسَم وي! تر څو پورې چې ته ما ژوندئ ساتې زما به هُم دا معمول وي، که تا زۀ د خپلې بارګاه نه اوشړلم نو بيا به هُم زما په زړۀ کښې ستا د جُود و کرم اُمِّيد باقي اوسي. (اِحيَاءُ الْعُلُوم ج٥ ص١٤٩) (اِحيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج٥ ص٣٨١) **د اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

تجھ سا سیاہ کار کون! ان سا شفیع ہے کہاں!
پھر وہ تجھی کو بھول جائیں، دل یہ ترا گمان ہے

(حدائق بخشش، ص. ۱۷۹)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عاجزئ فضائل

سُبْحٰنَ الله! د اللّٰهُ کريم د نيکې بندې عبادتونه او **عاجزي** مرحبا! د **الله** د رضا د پاره کړې عبادت باندې عاجزي کول پخپله يو عظيم عبادت دے ﴿۱﴾ **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: اَفْضَلُ الْعِبَادَةِ التَّوَاضُعُ يعني غوره عبادت تواضُع (يعني عاجزي) ده. (شُعَبُ الْاِيْمَان ج٦ ص٢٧٨ حديث ٨١٤٨، دين ودنيا کی انوکھی باتيں ج١ ص٢٩٩) ﴿۲﴾ رَسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "څوک چې د قدرت [لرلو] باوجود ښې جامې اغوستل د تواضُع [يعني عاجزئ] په طور پريږدي، **الله** پاک به هغۀ ته د کرامَت حُلَّه (يعني جَنَّتي لباس) ور واغوندي." (اَبو داؤد ج٤ ص٣٢٦ حديث ٤٧٧٨)(بهارِ شريعت ج٣ ص٤٠٤)

﴿۳﴾ حُضُور نَبِيِّ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: معاف کولو سره د بنده عِزَّت زياتيږي لِـهذا تاسو معاف کول کوئ، **الله** (پاک) به تاسو ته عِزَّت درکړي او عاجزي بنده اوچتوي [يعنې عزت زياتوي] لِـهذا تاسو عاجزي کوئ، **الله** (پاک) به تاسو ته بُلندي [يعنې عِزَّت] درکړي. او صَدَقه (يعنې خيرات کول) مال کښې اضافه کوي لِـهذا تاسو صَدَقه کوئ **الله** (پاک) به ستاسو مال زيات کړي. (کَنْزُ الْعُمَّال ج ۳ ص ٤٨ حديث ٥٧١٦، دين ودنيا کی انوکھی باتيں ج ۱ ص ۳۰۰)

## عاجزي څه ته وائي؟ (حکايت)

مروِي دي چې يو ځل حضرتِ سَيِّدُنا يُونُس بِن عُبَيد، حضرتِ سَيِّدُنا اَيُّوب سختياني او حضرتِ سَيِّدُنا حَسَن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم بهر اُووتل او د عاجزئ مُتَعَلِّق خبرې يـې شروع کړې. حضرتِ سَيِّدُنا حَسَن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اُوفرمائيل: آيا تاسو ته معلومه ده چې عاجزي څه څيز دے؟ عاجِزي دا ده چې ته د خپل کور نه اُوځې نو کوم مسلمان چې اُووينې هغه د خپل ځان نه غوره گُمان کړې. (اِحيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ۳ ص ۱۰۰۵)

نہ کروں کبھی تکبر بنوں عاجزی کا پیکر
پئے مصطفٰے کرم کر! اے خدائے ربِّ اکبر

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٦٩﴾ خلويښت زره رکعاتونه

حضرتِ سَيِّدُنا ابُو احمد مغازِلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: بغداد شريف کښې يو کس 40،000 (څلويښت زره) دِرهَمه په فُقَراؤ تقسيم کړل، حضرتِ سَيِّدُنا سَمنون بِن حمزه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ما ته اُوفرمائيل: اے اَبُو اَحمد! تاسو گورئ نۀ! دې کس دومره دِرهمونه خرچ کړل او خومره نيک عمل يـې وکړو او مونږ سره د تقسيمولو د پاره هيڅ نشته، لِـهذا مونږ داسې ځائے ته ځُو چې هلته مونږه د دې کس له طرفه خرچ کوونکي هر دِرهَم په بدله کښې يو يو رکعت اوکړے شو، چنانچه مونږه ''مَـدائِن'' ته لاړو او هلته مو څلويښت زره رکعاته وکړل. (رِسالہ قشيريہ ص ٥٨)

## رقم تقسيوونکے افضل دے که ذِکر کوونکے؟

سُبْحٰنَ الله! مقابله داسې وي! او بيشکه د دِرهَمو تقسيمولو په مُقابله کښې يو رکعت کول افضل ترين عمل دے. فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ”که د يو کس څولۍ د دِرهَمو نه ډکه وي او هغه تقسيموي او بل د الله پاک ذِکر کوي نو د الله پاک ذِکر کوونکے به افضل [يعني غوره] وي“ (مُعْجَم اَوْسَط ج.٤. ص ٢٧٤ حديث٥٩٦٩، جنّت ميں لے جانے والے اعمال ص ٤١٥)

میں پڑھتا رہوں سنّتیں وقت ہی پر ہوں سارے نوافل ادا یا الٰہی

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ١٠٢)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٧٠﴾ ژړا او فرياد کوونکي کورنۍ

**حضرتِ** سيِّدُنا قاسِم بِن راشِد شَيباني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې حضرتِ سيِّدُنا زَمعه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زمونږ کره قيام وکړو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره لُونړه او د هغوئي مور هم وه. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د شپې ډير وخته پورې **نمونځ** کولو. چې کله د پيشمني وخت شو نو په اوچت آواز يې داسې اووئيل: ”اے د شپې آرام کوونکي قافلې مسافرو! آيا ټوله شپه به خوبونه کوئ؟ آيا پاڅئ به نۀ او سفر به نۀ کوئ؟“ نو هغوئي زر زر راپاڅيدل او د يو طرف نه د ژړا آواز راتلل شروع شو نو بل طرف نه د دُعا کولو آواز، د يو طرف نه د قرآنِ پاک لوستلو آواز راتلل شروع شو نو بل طرف ته چا اودس کولو. چې کله سحر شو نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په اوچت آواز اووئيل: ”د شپې اکثره حِصَّه په سفر کښې د تيروونکي کس د سحر په وخت کښې خلک صِفَت کوي.“ (دا يو مثال دے چې د ښۀ انجام په غَرَض په عِبادت کښې د تکليف برداشت کولو او د صبر په ترغيب کښې بيانيږي) (صفة الصفوة ج١ ص ١٥٤) **د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## ﴿۷۱﴾ هر وخت به يو نه يو کس نمونځ کولو

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** څومره زبردست حکايت دے، څومره عبادت ګُزاره خاندان وو! **الله** پاک دې مونږ ته هُم سره د بال بچو په شپو کښې د عبادتونو او ژړا فرياد کولو سعادت رانصيب کړي. اٰمِين. دا خو په شپو کښې د نفلونو کولو تَذکره وه، اوس د يو داسې کور حکايت وړاندې کيږي چې په هغې کښې به هر وخت يو نه يو کس نمونځ کولو. چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا مِسعَر بِن کدام رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي چې د حضرتِ سَيِّدُنا **داوُد** عَلَیۡہِ السَّلَام د کور په خلقو کښې به هر وخت يو نه يو کس په **نمانځهٔ** کښې مشغول اوسيدلو.

(شُعَبُ الْاِيمان، ج ٤ ص ١٢٤ حديث ٤٥٢٤ مُلَخَّصاً)

مری آنے والی نسلیں، ترے عشق ہی میں مچلیں
انہیں نیک تو بنانا، مدنی مدینے والے
مرے غوث کا وسیلہ، رہے شاد سب قبیلہ
انہیں خلد میں بسانا، مدنی مدینے والے

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٤٢٩)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۷۲﴾ 400 رکعاتونه

د **حضرتِ** سَيِّدُنا شُرَحبِيل بِن مُسلِم رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ نه رِوايت دے چې دوه کسان د حضرتِ سَيِّدُنا ابو مُسلِم خَولاني رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ ملاقات د پاره د هغوئي کور ته لاړل، د کور کسانو يې ورته اُووئيل چې حضرت په جومات کښې دے. چنانچه دواړه جومات ته ورغلل نو حضرت په **نمانځهٔ** کښې مشغول وو، دوئي انتظار کولو، دواړو د حضرت رکعاتونه شميرل شروع کړل، يو کس درې سوه (300) (پورې شميرل) او بل د څلورو سوو (400) پورې اوشميرل (يعني څلور سوه پورې يې شميرل). (حِلْيَةُ الاَولياء ج ٢..ص ١٤٨..رقم ١٧٦٥، اللہ والوں کی باتیں ج ٢ ص ٢٠٢) **د الله رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

عمل کا ہو جذبہ عطا یاالٰہی گناہوں سے مجھ کو بچا یاالٰہی

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ١٠٢)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿٧٣﴾ ديارلس ځائے نه ترړلے شوے بُزُرګ

سُبْحٰنَ الله! د نمانځۀ د عاشقانو هُم څه ښکلے شان دے! د مَکتَبَةُ الْمَدِينه د اُردو ترجمې والا "مُکاشَفَةُ الْقُلُوب" صفحه نمبر 84 کښې دي: حضرتِ حُسين بِن منصور حَلّاج رَحْمَةُاللهِعَلَيْه خپل بدن د ګِيټو [پړکو] نه واخله زنګونانو پورې ديارلس (13) ځايه په بيړو کښې کلک ترړلے وو او په هُم دې حالت کښې به هغوئ شپه او ورځ کښې زر رکعاته نفلونه ادا کول.

(مُکاشَفَةُ الْقُلُوب(اردو) ص ٨٤، تاریخ بغداد ج ٨ ص ١٢٧)

## ﴿٧٤﴾ دُکان کښې 400 رکعاتونه

**حضرتِ** جُنَيد بَغدادي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه به بازار ته لاړلو او خپل دُکان به يې برسيره کړو او د هغې مخې ته به يې پرده واچوله او څلور سوه رکعاته نفل به يې ادا کړل، بيا به يې دُکان بند کړلو او واپس به کور ته راغلو. (شُعَبُ الْاِيمان ج ٣ ص ١٧١ حديث ٣٢٥٢) حضرت حَبشي بِن داؤد رَحْمَةُاللهِعَلَيْه څلويښت کاله پورې د ماسخوتن په اوداسه د سحر نمونځ ادا کړے وو. (مُکاشَفَةُ الْقُلُوب(اردو) ص ٨٤)

## مسلمان څنګه کيدل پکار دي

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد بِن محمّد غزالي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د نيکئ د دعوت ډير ښکلي مَدَني ګلونه اِرشاد فرمائي: مسلمان د پاره ضروري دي چې هغه هر وخت په اوداسه کښې اوسي، چې کله هُم بې اودسه شي نو فوراً دې اودس وکړي (او که مکروه وخت نۀ وي نو) دوه رکعاته نفل دې ادا کړي، چې کله هُم کښيني مخ په قِبله دې کښيني، د زړۀ په ډيره تَوجُّه دې دا تَصوُّر کوي چې دے د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وړاندې په مُواجَهه شريف کښې (يعنې د مخ مبارک مخې ته) ناست دے، په خپل هر کار کښې دې صبر و برداشت لازِم ساتي، غم دې

برداشت کوي خو د بدو بدله دې په بدو نۀ ورکوي، د ګناهونو نه دې مسلسل توبه کوي، تَکبُّر او رِیا ته دې نزدې هم نۀ ورځي ځکه چې تَکبُّر د شیطان صِفَت دے، خپل ځان ته دې په سپک نظر او خلکو ته دې د احترام په نظر ګوري ځکه چې څوک د نیکو خلکو په احترام نۀ پوهیږي الله پاک هغه د هغوئي د صُحبت نه محرومه کړي او څوک چې د عبادت په عِزَّت او عَظَمت نۀ پوهیږي الله پاک د هغۀ د زړۀ نه د عبادت خوږوالے اوباسي.

(مُکاشَفَةُ الْقُلُوب (اردو) ص ٨٤)

خطاؤں کو میری مٹا یا الٰہی مجھے نیک خصلت بنا یا الٰہی

(وَسائِلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ١٠٠)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿٧٥﴾ خپله پنډۍ به يې په چابک وهله

حضرتِ سَیِّدُنا عُثمان بِن اَبِي عاتِکه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بیان کوي چې د حضرتِ سَیِّدُنا ابُو مُسلِم خَولاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په معمولاتو کښې يو معمول دا هُم وو چې په جومات کښې يې يو چابک زوړند کړے وو او فرمائیل به يې چې د څاروو نه زیات د دې (چابک) حقدار خو زۀ پخپله يم. چې کله به يې (په عبادت کښې) څه سُستي محسوسوله نو خپله پنډۍ به يې يو دوه ځله په چابک وهله او فرمائیل به يې چې که زۀ په خپلو سترګو جَنَّت یا جَهنَّم اُووینم نو بیا به هُم په خپل عمل کښې څه اِضافه اونکړے شم (ځکه چې هغوئي به په عبادت کښې دومره وخت لګولو چې نور پکښې د اِضافے ګُنجائش نه وو). (حِلْیَةُ الْاَوْلِیَاء ج ٢ ص ١٤٩ حدیث ١٧٦٧) (اللہ والوں کی باتیں ج ٢ ص ٢٠٣) د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## ﴿٧٦﴾ حیرانوونکي معمولات

حضرتِ سَیِّدُنا حافِظ عبدُ الغني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به خپل وختونه بیکاره نۀ ضائع کول. د سحر د

**نمانځهٔ** نه پس به يـې خلکو ته قرآنِ کريم وئيلو او بعضې وخت به يـې خلکو ته څه حديثونه هُم وئيل، بيا به پاڅيدلو او اودس به يـې وکړو او د ماسپښين نه مخکښې به يـې **درې سوه رکعتونه** ادا کول او په هغې کښې به يـې د سُوْرَةُالْفَاتِحَه نه پس **مُعَوَّذَتَيْن** (سُوْرَةُالْفَلَق او سُوْرَةُالنَّاس) لوستل، بيا به يـې لږ ساعت آرام وکړو او د ماسپښين د **نمانځهٔ** نه پس نه واخله تر ماښامه پورې به په خپلو يادو کړو څيزونو (يعني حديثونو او مسائلو) کښې ځان سره بيا زباني وئيلو کښې يا ليکلو کښې مشغول اوسيدلو، بيا به يـې که روژه وه نو روژه به يـې ماته کړه ګنې د ماښام نه ماسخوتنه پورې به يـې (نفل) **نمونځونه** کول. د ماسخوتن نه پس نيمې شپې پورې يا د دې نه څه زياته حِصَّه آرام به يـې کولو، بيا به داسې راپاځيدلو لکه يو انسان چې يـې راپاڅوي! څه ساعت به يـې دُرُود شريف ولوستلو، بيا به يـې اودس وکړو او د سحر نه لږ ساعت مخکښې پورې به يـې (نفل) **نمونځونه** کول، بعضې وخت به يـې په يوه شپه کښې 7 يا 8 ځله اودس کولو او د هغې وجه به يـې دا اِرشاد فرمائيله چې ما ته **نمونځ** هُغه وخت مزه راکوي چې کله مې اندامونه لامده وي. بيا به څه ساعت د سحره پورې اُودهٔ شولو او دا د هغوئي د روزانه معمول وو. (سير اعلام النبلاء ج١٦ص٢٥) **د اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د جَنَّت والؤ هُم افسوس!

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** واقعي ژوند بيحده مختصر دے، د دې خبرې په صحيح معنو کښې احساس لرونکي يوه ساه هُم فالتو تيرول نهٔ خوښوي. بس مسلسل ثوابونه ګټي. د **اللّٰه** پاک د ياد او د هغهٔ د ذِکر نه کله هم نهٔ غافِله کيږي. دوه فرامينِ مُصطَفیٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم:

﴿۱﴾ د سړي چې کوم ساعت داسې تير شي چې په هغې کښې هغه د **اللّٰه** پاک ذِکر اُونکړے شي نو د قِيامت په ورځ به هغهٔ ته په هغه ساعت افسوس کيږي. (شُعَبُ الْاِيمان ج١ص٣٩٢ حديث٥١١)

﴿۲﴾ جَنَّتيانو ته به د هُغه ساعت نه سِوا په يو څيز هُم افسوس نهٔ کيږي په کوم [ساعت] کښې چې هغوئي د **اللّٰه** پاک ذِکر نهٔ وو کړے." (مُعجَم کبِير ج٢٠ ص٩٣ حديث١٨٢)

**شرحِ حديث:** حضرت عَلّامه علي قاري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د حديثِ پاک د دې حِصّې (اَهلِ جَنَّت [يعني جَنَّت والؤ]) نه لاندې ليکي: د جَنَّتيانو دا افسوس به د قِيامت په ورځ جَنَّت ته داخليدلو نه مخکښې وي ځکه چې جَنَّت کښې به پښيماني او افسوس نهٔ وي. (حرزثمين شرح حَصْنِ حَصِيْن ص ۲۰۹)

عبادت میں گزرے مری زندگانی　　　کرم ہو کرم یاخدایاالٰہی

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۱۰۵)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۷۷﴾ په دوو رکعاتو کښې يې پوره شپه تيره کړه

حضرت شيخ بهاءُ الدِّين زَکَرِيَّا مُلتاني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه يوه شپه خپلو دوستانو ته اِرشاد اُوفرمائيلو: په تاسو کښې څوک داسې کس شته چې هغه نن شپه په دوو رکعاتو کښې پوره کړي او په يو رکعت کښې کامِل قرآن شريف ولولي. په حاضرو خلکو کښې هيچا هُم هِمَّت اونکړو. شيخ بهاءُ الدِّين زَکَرِيَّا مُلتاني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه پخپله وړاندې لاړلو او دوه رکعاته **نمونځ** يې شروع کړو. په وړومبي رکعت کښې يې پوره قرآنِ کريم او څلور سيپارې نورې تِلاوت کړې او دويم رکعت کښې يې سُوۡرَةُ الۡاِخلاص اُووئيلو او **نمونځ** يې ختم کړو. (فيضانِ بهاءُ الدّين زکريا ملتانی ص ۳۳) (فوائد الفواد مترجم ص ٦٢)

## ﴿۷۸﴾ اعلٰى حضرت ماشوم والي نه د نمانځهٔ پابند وو

اعلٰى حضرت رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه به د ماشوم والي نه **نمونځ** کولو. د هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه وراره مولانا حَسنَين رضا خان صاحب رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: د هغوئي (يعني د اعلٰى حضرت) د همزولو او بعضو مشرانو د بيان نه معلومه شوې ده چې هغوئي (يعني سيّدِی اعلٰى حضرت رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه) چې څنګه په ښهٔ بد پوهه شولو نو د جُمعې د نمانځهٔ سخته پابندي يې شروع کړه، لکه هغوئي چې د بالِغ کيدلو نه مخکښې اصحابِ ترتيب کښې شامل شوے وو او د وفات د وخته پورې صاحبِ ترتيب وو. (سيرتِ اعلٰى حضرت ص ۹۲. فيضانِ اعلٰى حضرت ص ۸٦ مُلَخَّصاً) **صاحبِ ترتيب:** يعني هُغه کس د چا چې د

بُلوغت (يعني بالِغ کيدلو) نه پس مسلسل د پينځهٔ فرض نمونځونو نه زيات يو **نمونځ** هُم نهٔ وي قضا شوے. (د دې مسئلې نور تفصيل زده کولو د پاره بهارِ شريعت جِلد اوّل صفحه 703 تا 706 (مسئله نمبر 18 تا 34) ولولئ)

## ﴿۷۹﴾ اعلٰی حضرت او د جَمعې نمونځ

د **اعلٰی** حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ د ښپې غټه ګوته ږخه شوې وه، د هغوئ خاص جَرَّاح (يعني سرجَن) د هغه ګوتې آپريشن وکړو، پټئ تړلو نه پس هغه [جرَّاح] عرض وکړو: مُحترم حضرت صاحب! که حرکت نهٔ کوئ نو دا زخم به لس دولس ورځو کښې جوړ شي، ګني زيات وخت به لګي. هغه دا اُووئيل او لاړو. داسې کله کيدے شوه چې اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ د جومات حاضرې او د **جَمعې** پابندي پريښودے وے. چې د ماسپښين وخت شو نو اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ اودس وکړو، ودريدلے نهٔ شولو نو په ناسته ناسته دروازې پورې راغللو، خلکو په کرسئ کښينولو او جومات ته يې اورسولو او هُم هغه وخت د محلّې خلکو او د کورنئ کسانو دا طے کړه چې د هر اذان کيدلو نه پس به مونږ کښې د ټولو نه مضبوط څلور سړي کرسئ راوړو او حاضريږو. به او د پالنګ نه به يې په کرسئ کښينوو او د جومات د مِحراب خوا ته به يې کښينوو، دا سلسله تقريباً يوې مياشتې پورې پابندئ سره روانه وه. چې زخم يې صحيح شو او پخپله د تلو راتلو قابِل شولو نو دا سلسله ختمه شوه. د اعلٰی حضرت **نمونځ** څه چې شايد چا ته به د هغوئ د شرعي عُذرِ نه بغير جَمعه پريښودل هُم ياد نهٔ وي. (فيضانِ اعلٰی حضرت ص ۱۳۶) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئ رَحمت وي او د هغوئ په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

الٰہی نمازوں کا پابند کردے    مرا دل جماعت کی الفت سے بھر دے

اٰمين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب!    صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۸۰﴾ د نمانځهٔ د پاره يې قافِله پريښودله.... نو غيبي مدد

اعلٰی حضرت امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ چې کله د دوه پنځوسو کالو په عُمر کښې دويم

ځل د حج په سفر تلے وو نو د حج مناسِک ادا کولو نه پس داسې بيمار شولو چې د دوو مياشتو نه زيات په کټ پروت وو، چې کله لږ صِحَت ياب شولو نو د زيارتِ رَسُولِ اَنور د سفر د پاره يې ملا اوتړله او د جدّه شريف په لاره د کشتۍ په ذريعه درې ورځو کښې د ''رابِغ'' مُقام ته ورسيدلو او د هغه ځائے نه يې د مدينةُ الرَّسُول د پاره سوَرلۍ د پاره اوښ اونيولو. په هُم هغه لاره چې کله ''بيرِ شيخ'' ته ورسيدلو نو منزِل نزدې وو خو د سحر وخت لږ پاتې وو، اوښانو والؤ په منزِل باندې د اوښانو ودَرولو بخه اراده ښکاره کړې وه خو د هُغه وخته پورې د سحر د نمانځۀ وخت د ختميدو انديښنه وه، سيِّدِي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې دا صُورتِ حال وليدو نو سره د خپلو ملګرو هُم هلته ايسار شولو او قافِله لاړه. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره د کِرمِچ (يعني د يو مخصوص ټاټ جوړه شوې) بوقه وه خو رسۍ نۀ وه او کوهے هُم ژَوَر وو، لِـهٰذا په بوقه پورې يې عِمامه اوتړله او اوبه يې راوِيستلې، اودس يې وکړو او په وخت کښې دننه يې **نمونځ** ادا کړو. خو بيا ورسره دا فِکر پيدا شو چې اوږده موده بيمارې تيرولو نه پس مې کمزورې ډيره زياته شوې ده چې اوس به دومره ميلونه پيدل څنګه ځم! چې مخ يې واړولو نو يو غير جَمَّال (يعني ناپيژندګلو اوښ والا) خپل اوښ ودَرولے وو او په انتظار ولاړ وو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه حَمدِ اِلٰهی اووئيلو او په هغې سور شولو. (مَلفُوظاتِ اعلیٰ حضرت ص ۲۱۷، بِالتَّصرُّف)

## سوَرلۍ او نمونځ

**ماشآءَالله** د اعلیٰ حضرت **د نمانځۀ شوق** صَد کروړ مرحبا! مونږ ته هُم پکار دي چې په سفر کښې هُم د **نمانځۀ** ډير خيال ساتُو. اول خو په بس يا ريل ګاډي يا هوائي جهاز کښې د سِيټ بُک کولو وخت کښې د دې خبرې خيال ساتۍ چې د سفر په دوران کښې د نمانځۀ وخت رانشي. که داسې سوَرلۍ مِلاؤ نۀ شي او پته وي چې په هوائي جهاز يا ريل ګاډي کښې به نمونځ کووم نو حَتَّى الاِمکان [يعني چې څومره کيدے شي] په اوداسه کښې اوسۍ، ګني د اوداسه ازميښت کيدے شي. بعضې وخت په ښار کښې دننه هُم د بس وغيره په سفر کښې د نمونځونو په باره کښې مشکلات پيښ شي، اول خو که د نمانځۀ وخت تنګ وي نو هغه وخت

کښېږي سفر مه کوئ، کڼي په لاره کښېږي کوز شئ او **نمونځ** وکړئ بيا په بل بس کښېږي سفر وکړئ. هُم دغسې رکشه، ټيکسي او د کرايا نورو سوَرلو کښې هُم احتياط کوئ.

نمازوں میں محتاط ہم کو بنادے گناہوں سے بچنے کا جذبہ خدادے

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۸۱﴾ د نمانځهٔ په حالت کښې خِدمت

**يوه** ورځ (اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ جَمعه ورکوله) حاجي کفايَتُ الله صاحِب (رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ) په جَمعه کښې شامل نه وو، هغوئي د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ نه د نمانځهٔ په حالت کښې **مچان** شړل شروع کړل، (اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ) د سلام ګرځولو نه پس اِرشاد اُوفرمائيلو چې د نمانځهٔ په حالت کښې خدمت کول نهٔ دي پکار ځکه چې هغه د عَبدِيَّت (يعني بندګئ) حالت وي، د مخدُومِيَّت (يعني خدمت اخستلو) حالت نهٔ وي. (مَلفُوظاتِ اعلیٰ حضرت ص ۲۵۶)

## ﴿۸۲﴾ د پير مهر علي شاه صاحب موټر واووښتو

يوه ورځ په شاهراهِ اعظم باندې پرسنګ جاني (ګولړه شريف) طرف ته بيرته راتللو وخت کښې حضرت پير مهر علي شاه صاحِب رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د سفر په دواران کښې اُوفرمائيل چې د ماښام د **نمانځهٔ** وخت نزدې دے يو مناسب ځائے کښې موټر ودَروئ چې **نمونځ** ادا کړو، يو صاحِب عرض وکړو چې نمر لا نهٔ دے پريوتے، د نمانځهٔ د وخته پورې به د ګولړه شريف په موړ باندې واقع خانقاه ته ورسيږو. چنانچه سفر يې جاري وساتلو، لږ ساعت پس جُهنګي سَيِّدان ته نزدې ناڅاپه موټر د سړک نه کوز شو او واووښتو! حضرت پير صاحِب رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ او بابُوجي خو بهر اوغورزيدل خو مَولانا مَحبوب عالَم هزاروِي او ډرائيور د موټر نه لاندې شو، چې کله يې هغوئي بهر راوِيستل نو حضرت پير صاحِب رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ اُوفرمائيل چې دا تکليف او ازميښت د ماښام په **نمانځهٔ** کښې د ناوخته کيدلو ويره نهٔ لرلو باندې د غيرتِ اِلٰهي په وجه

پيبنې شو، اِنْ شَآءَاللّٰه سُودمند (يعني فائده مند) به ثابتيږي. (فيضانِ پير مهر علی شاه ص ۱۵)(مهر منير، ص ۳۲۵ مُلَخَّصاً) د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د دې حِکايت نه دا درس حاصل شو چې د نمانځهٔ فِکر کول پکار دي، د وخت نه مخکښې د دې اِهتمام کول مناسب وي. لکه څنګه چې په بس، ريل ګاډي يا هوائي جهاز کښې سفر کوونکي هُم ضرورتاً د روانيدلو نه ډير مخکښې د سفر تياري شروع کړي.

فکرِ نماز مجھ کو عطا کر دے کبریا دیتا ہوں تجھ کو واسطہ پیارے رسول کا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۸۳﴾ لږ څه کښې کوهي ته غورزيدلو نه بچ شو

د "بَهارِ شَريعت" مُصَنِّف، حضرت مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې خبرې سخت پابند وو چې جومات ته حاضر شي او جَمعې سره نمونځ ادا کړي. بلکې که په څه وجه به مُـؤَذِّن صاحِب په مُقَرَّره وخت راونه رسيدو نو پخپله به يې اذان کولو. د هغوئي قديمي آستانې (يعني زوړ کور) ته جومات بالکل نزدې وو، هلته خو څه تـکليف نۀ وو خو چې کله يې نوې آستانې (يعني نوي کور) قادِرِي منزِل کښې اوسيدل اختيار کړل نو خوا و شا کښې دوه جوماتونه وو. يو د بازار جومات، بل د هغوئي د مشر وررور د کور خوا ته وو چې د "نَـوّا کی مسجِد" په نُوم مشهور دے. دا دواړه جوماتونه لږ لرې وو، هغه وخت يې بِينائي هُم کمزورې شوې وه، بازار والا جومات د هغه بل جومات نه لږ نزدې وو خو په لاره کښې ګډې وډې نالئ وې څکه به "نَـوّا کی مسجِد" ته نمانځهٔ له تللو، يوه ورځ داسې وشو چې د سحر نمانځهٔ له روان وو، په لاره کښې يو کوهے وو، لږه تِياره هُم وه او لاره هُم سمه هواره نۀ وه، بې خيالئ کښې د کوهي په غاړه ور وختلو، نزدې وه چې د کوهي په خُله کښې يې ښپه ايښودې وے چې په

دي کښې يوه ښځه راغله او په زوره يې اُووئيل: ”مولوِي صاحب! کوهے دے ودريږۍ! ګنې غورزيږۍ پکښې!“ دا يې چې واوريدل نو حضرت په ځائے ودريدلو او بيا د کوهي [غاړې] نه راکوز شولو او جومات ته لاړلو. د دې باوجود يې د جومات حاضري نۀ پريښودله. (تَذکرۀصدر الشَّرِيعه ص۳۱) د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

عطا کر نمازوں کا جذبہ الٰہی گناہوں کی میرے مٹادے سیاہی

اِلٰهي راکړې جذبه د نمونځونو تيارې لرې کړې زما د ګناهونو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۸۴﴾ حضرت مُفتي احمد يار خان د نمانځۀ عاشِق وو

مُفَسِّرِ قرآن، حضرت مُفتي اَحمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه به نمانځۀ سره داسې مَحَبَّت لرلو چې ډيره موده چا په تَکبِيرِ اُولٰی پاتې کيدلو هُم نۀ دے ليدلے، خاموشۍ سره د اذان اوريدلو به يې داسې اِهتِمام کولو چې د اذان په وخت کښې به يې په کور کښې بالکل خاموشي شوه، د جَمعې نمونځ ادا کولو د پاره خپل دواړه زامن ځان سره جومات ته بوتلل د هغوئي په مَعمُولاتو کښې شامل وو. (حالاتِ زندگی سوانحِ عُمری ص۲٤ تا ۲۵)

## ﴿۸۵﴾ د زړۀ بيماري يې ښه شوه

د صَدرُ الشَّرِيعه صاحبزاده مُحَدِّثِ کبِير حضرتِ عَلّامه ضياءُ المُصطفٰے اعظمي صاحب په يو بيان کښې اُوفرمائيل چې يو ځل زۀ د زړۀ بيمار شوم، زۀ د خپل اُستاذ، اُستاذُ العُلَماء حافِظِ مِلّت (حضرت عَلّامه حافِظ عبدُ العزيز رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه) په دربار کښې حاضر شوم، حالت مې ډير خراب وو، ما دا سوچ کولو چې بس ډير زر قَبَر له روان يم، ما عرض وکړو: حضرت صاحِب! په دې زلمي توب کښې زما دا حال شو، لږه دُعا را ته وکړئ. نو هغوئي لږ دَم کړو

او ويـې فرمائيل چې يو کار وکړه، (د هر) فرض نمانځۀ نه سلام ګرځولو نه پس سمدستي خپل ښـے لاس په زړۀ کيږده او يوولس (11) ځله (د سيپاره 13 سورةُالرَّعْد آيت نمبر 28 دا حِصَّه:) اَلَا بِذِكۡرِ اللّٰهِ تَطۡمَئِنُّ الۡقُلُوۡبُ ﴿۲۸﴾[1] لوَله. ما درې څلور ورځې ولوستلو، ما دا محسوسه کړه چې زۀ په يو نوي ژوند کښې يم. يوې مياشتې پورې مې دا عمل جاري وساتلو او په دې دوران کښې د نن ورځې پورې تقريباً 38 کاله وشو خو تر اوسه پورې ما ته د څه ګهبراهَټ بيماري هُم نۀ ده پيښه شوې. اوس زۀ دا ګڼم چې قرآنِ عظيم صرف د روحاني مرضونو نُسخه نۀ ده بلکې د جِسماني مرضونو نُسخه هُم ده، (په حاضرو خلکو کښې يو کس عرض وکړو: حضرت! د دې اجازت ټولو ته عطا کړئ) (هغوئي اُوفرمائيل:) آؤ! څنګه چې ما ته زما اُستاذ اجازت راکړے وو، زۀ ټولو احبابِ اهلِ سُنَّت ته د دې اجازت ورکووم چې چا ته د دې ضرورت وي هغه دې دا عمل لوَلي او که بل چا ته د دې ضرورت پيښ شي هغۀ ته يـې (هُم) تَلقِين کړئ. (بعضې ځايونو کښې د الفاظو لړ شان بدلون شوے دے)

## د مار ويره

حافِظِ مِلَّت حضرت عَلَّامه مولانا حافِظ عبدُ العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مِيلاد شريف په يوه جَلسه کښې د نمانځۀ په اَهَمِّيَّت او فرضِيَّت باندې بيان کښې د سحر په وخت کښې د خوبه (سترګې) نۀ غړيدلو عُمومي عُذر (يعني د عوامي مجبورئ کمزورے بيان) پيش کولو په باره کښې اُوفرمائيل: دا راته اُووائې چې يو داسې انسان چې د ډيرو شپو نه وِيښ وي، ستړے ستومانه هُم وي، د هغۀ د پاره په يوه ښه کوټه کښې پسته بستره خوره کړے شي او هغۀ ته د هر قِسم آرام سامان ورکړے شي او بيا هغه ستړي ستومانه انسان ته اووائي چې په دې کوټه کښې اُودۀ شه خو دا هُم ورته اُووائي چې په دې کوټه کښې يو **مار** اوسيږي! نو اُووائې چې هغه ستړي ستومانه او د ډيرو شپو نه ويښ انسان ته به په هغه آرام ده کوټه کښې خوب ورشي؟ په هغه

---

[1] [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: واورئ! صرف د الله په ياد کښې د زړونو سکون دے.

ګڼه کښې چا اُووئيل: نه. نو هغوئي اُوفرمائيل: ولې به نۀ ورځي؟ ځکه چې د هغه انسان په زړۀ کښې د **مار** ويره کښيناستله، د **مار** ويره پيدا شوه نو د هغۀ خوب وتښتيدو. چې د **مار** د ويرې خوب تښتيدلے شي، نو د چا په زړۀ کښې چې د **الله** ويره وي او بيا هغۀ ته د نمانځۀ په وخت کښې خوب ورشي دا چرته کيدے شي؟ (حياتِ حافِظِ مِلّت ص۲۳۰)

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** واقعي که څوک يو کار کول غواړي نو لارې ډيرې او که يو کار يې زړۀ نه غواړي نو بهانې ډيرې، بس دا خو د خپل خپل نصيب خبره ده چې که تاسو نمونځ ګزاره جوړيدل غواړئ، بِالخصوص که د سحر پابندي کول غواړئ نو الارم لګولے شئ، يو اسلامي ورور ته وئيلے شئ چې هغه د سحر جَمعې ته د "صدائے مدينه" يا د کور د تلئ [يعني ګينټئ] يا د موبائل فون د رِنګ په ذريعه تاسو راپاڅوي.

نماز پڑھنے کی توفیق عطا یا رب!      مری نماز کبھی بھی نہ ہو قضا یا رب!

## د رَمَضَانُ الْمُبَارَک اِعتِکاف يې ژوند بدل کړو

د نمونځونو پوخ عادت جوړولو، ګناهونو نه ځان خلاصولو او خپل سِيرت په سُنَّتو روښانه کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې هر وخت شامل اوسئ. **مَدَني سپرلے:** د اورنګي ټاؤن، کراچئ اوسيدونکي يو اِسلامي ورور به مخکښې ماډرنو او بدو دوستانو سره ناسته ولاړه کوله، نمونځ به يې بالکل نۀ کولو، چې کله به مور پوهه کولو چې بچيه! نمونځ کوه نو هغۀ به اخوا ديخوا کول، د هغۀ خوش نصيبي وه چې هغۀ ته په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې په اِعتِکاف کښې او هغه هُم په فيضانِ مدينه کراچئ کښې د کښيناستلو شوق پيدا شو! حالانکې هغۀ مخکښې کله د لسو ورځو سُنَّت اِعتِکاف هُم نه وو کړے. هغه وائي چې زما نِيَّت دا وو چې په بدل ماحول کښې به څه نا څه تفريح [يعني سَيل] هُم وشي. هغۀ چې څنګه کور کښې اُووئيل چې زۀ اِعتِکاف کښې کښينم نو د کور ټول کسان خوشحاله شو، هغۀ له

يـې پخپله فارم وغيره راوړلو او فيضانِ مدينه کښې يـې جمع کړو، هغه چې کله عاشِقانِ رَسُول سره اِعتِکاف کښې کښيناستلو نو هلته يـې سوچ بالکل بدل شو، د سيل په نِيَّت راغلـے وو خو چې کله هلته په مَدَني حلقو کښې شامل شو او شرعي احکام يـې زده کړل، بيانونه يـې واوريدل، مَدَني مُذاکرو کښې شامل شو نو په زړهٔ يـې ښهٔ اثر کيدل شروع شو، يوه ورځ يـې ډير زيات اوژړل او د ګناهونو نه يـې په رښتيني توبه وکړه او نِيَّت يـې وکړو چې نور به کله هُم **نمونځ** نهٔ قضا کووم، بيا يـې د تيرو نمونځونو حساب ولګوو او هغه يـې هُم شروع کړل. **اللّٰه** پاک دې هغهٔ ته او مونږ ته هُم **دعوتِ اسلامي** کښې د شامل اوسيدلو او د سُنَّتو مطابق ژوند تيرولو توفيق راکړي. اٰمِين.

صحبت بد میں رہنے کی عادت چھٹے | دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
خصلت جرم وعصیاں تمہاری مٹے | دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٤)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ماسخوتن په اوداسه باندې د سحر نمونځ ادا کوونکي بُزُرګانِ دِين

حضرتِ سَيِّدُنا شيخ ابُو طالِب مکـی رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: هُغه بُزُرګانِ دِين رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِم چې د هغوئي په باره کښې مشهور دي چې هغوئي به ټوله شپه په عبادت کښې مصروف اوسيدل او ديرشو يا څلويښتو کالو پورې يـې د ماسخوتن په اوداسه د سحر نمونځ ادا کولو، د هغوئي شمير په تابِعِينِ عِظامو کښې 40 دے، په هغوئي کښې د يو څو (19) مبارک نومونه دا دي: ❖ د مدينے شريفې نه حضرتِ سَيِّدُنا سعيد بِن مُسَيَّب او حضرتِ سَيِّدُنا صَفوان بِن سُلَيم ❖ مَکے مُکرَّمے نه حضرتِ سَيِّدُنا فُضَيل بِن عِياض او حضرتِ سَيِّدُنا **وَهْب** بِن وَرد ❖ د يمن نه حضرتِ سَيِّدُنا طاؤس بِن کيسان او حضرتِ سَيِّدُنا **وَهْب** بِن مُـنَـبِّه ❖ د کوفې نه حضرتِ سَيِّدُنا رَبِيع

بِن خُثَيم او حضرتِ سَيِّدُنا حَکم بِن عُيَيْنه ❖ د شام نه حضرتِ سَيِّدُنا ابُو سُلَيمان داراني او حضرتِ سَيِّدُنا علي بِن بَکّار ❖ د ايران نه حضرتِ سَيِّدُنا حبيب ابو محمد او حضرتِ سَيِّدُنا ابو جابِر سَلماني ❖ د بصرې نه حضرتِ سَيِّدُنا مالِک بِن دِينار، حضرتِ سَيِّدُنا سُلَيمان تيمي، حضرتِ سَيِّدُنا يَزِيد رَقّاشي، حضرتِ سَيِّدُنا حبيب بِن ابو ثابِت او حضرتِ سَيِّدُنا يحيىٰ بَکّاء رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم (قُوتُ الْقُلُوب ج۱ ص۷۲) (قُوتُ الْقُلُوب (اُردو) ج۱ ص۲۲۷) **د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

امتحاں کے کہاں قابل ہوں میں پیارے اللہ — بے سبب بخش دے مولیٰ ترا کیا جاتا ہے

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٤٣٢)

## د 14 کالو د نشې عادت يې ختم شو

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د جګړو عادتونه ختمولو، د نشو د عادتونو نه ځان خلاصولو د پاره او ځان د نمونځونو پابند جوړولو د پاره د دعوتِ اسلامي مَدَني قَافِلو کښې سفر کوئ. ستاسو شوق زياتولو د پاره يو "مَدَنـي سپرلے" وړاندې کيږي: راولپنډۍ ته نزدې د يو کلي "مال خیالاں" يو اِسلامي ورور د 14 کالو نه د نشې په عادت کښې اخته وو. نمونځونه به يـې نۀ کول او د کلي خلکو سره به يـې جنګ جګړې هُم کولې. خپل ورور پرې اِنفرادي کوشش وکړو چې په څه طريقه دے د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته راشي او د ګناهونو نه توبه ګار شي او د نيکۍ په لاره روان شي. بيا يوه ورځ د الله پاک داسې کرم وشو چې هغۀ ته د يوې مياشتې مَدَني قَافِله کښې د سفر کولو سعادت حاصل شو، د هغې په بَرَکت هغۀ د ګناهونو نه توبه وکړه. بيا يـې د 63 ورځو مَدَني تربِيَّتي کورس هُم وکړو. هلته ورته د اوداسه، غُسل او نمانځۀ سره سره د ډيرو سُنَّتو زده کولو موقع هُم په لاس ورغله، اَلْحَمْدُ لِلّٰه د هغۀ د نشې زوړ عادت هُم ختم شو، ګيره مبارکه يـې هُم پريښوده او عِمامه شريفه يـې هُم په سر کړه. په

قلاره قلاره يـې د کلي خلکو سره جګړې هُم ختمې شوې. هغه وائي چې پينځهٔ ويشتو کالو کښې راته کله داسې سُکون نهٔ دے مِلاؤ شوے کوم چې را ته په ديني ماحول کښې مِلاؤ شو تر څو چې ژوندے يم د دعوتِ اسلامي ديني کارونه کول به جاري ساتم. اِنْ شَآءَاللّٰه

اچھی صحبت ملے خوب برکت ملے　　　چل پڑو چل پڑیں قافلے میں چلو

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٧١)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

| |
|---|
| غمِ مدینہ بقیع، مغفرت و بې حساب جَنَّتُ الْفِرْدَوْس میں آقا کے پڑوس کا طالب |
| رَمَضَانُ الْمُبَارَک ١٤٤٠ ھ<br>جون 2019ء |



اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# ”زهٔ دعوتِ اسلامي سره مِينه لرم“ د ۲۲ حروفو په نِسبَت د درسِ فيضانِ سُنَّت دوه وِيشت مَدَنی ګلونه

❖ **فرمانِ مُصطفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ”ځوک چې زما اُمَّت ته يوه اِسلامي خبره اورسوي چې د هغې په ذريعه سُنَّت قائم شي يا د هغې په ذريعه بدمذهبي لرې کړے شي نو هغه جَنَّتي دے. (حِلْيَةُ الْاَوْلِياء ج۱۰ص۴۵ رقم ۱۴۴۶٦)

❖ **سردار د مدينے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: ”اللّٰه تعالٰی دې هٰغه [کس] تر و تازه لري ځوک چې زما حديث واوري، ياد يې وساتي اونورو ته يې اورسوي.“ (سُنَن تِرمِذی ج۴ص۲۹۸حديث ۲۶۶۵)

❖ **د حضرت سَيِّدُنا اِدريس** عَلَيْهِ السَّلَام د نوم مبارک يو حکمت دا هم دے چې د کُتُبِ اِلٰهي په کثرت سره د درس و تدريس کولو په وجه د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام نوم اِدريس شولو. (تفسيرِ کبير ج۷ ص۵۵۰، تفسير الحسنات ج۴ ص۴۸)

❖ حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: **دَرَسْتُ الْعِلْمَ حَتّٰى صِرْتُ قُطْبًا** يعنې ما د علم **درس** حاصِلَولو تر دې چې زهٔ د **قُطْبِيَّت** مقام ته ورسيدم. (قصيده غوثيه)

❖ **فيضانِ سُنَّت** نه درس ورکول هم د دعوتِ اسلامي يو ديني کار دے. کور، جومات، دُکان، سکول، کالج، چوک وغيره کښې وخت مُقرر کړئ او هره ورځ د درس په ذريعه ډير ډير د سُنَّتو **مَدَني ګلونه** عام کوئ او ډير ثوابونه ګټئ.

❖ **فيضانِ سُنَّت** نه هره ورځ کم نه کم د دوو درسونو ورکولو يا اوريدَلو سعادت حاصلوئ (په دې دوو کښې يو ”د کور درس“ ضرور پکار دے)

❖ د سیپاره ۲۸ **سُوْرَةُ التَّحْرِيْم** شپږم آیت کښې ارشاد دے:

**يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّ قُوْدُهَا النَّاسُ وَ الْحِجَارَةُ**

مفہوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: **اے ایمان والؤ! خپل ځانونه او د خپل کور کسان د هغه وور نه وساتئ چې د هغې خَشاک انسانان او کاڼي دي.**

خپل ځان او د خپل کور کسان د دوزخ د وور نه د بچ کولو یوه ذریعه د **فیضانِ سُنَّت** درس هم دے. (د درس نه علاوه د کور کسانو ته د "**مَدَنِي چینل**" کتلو ترغیب هُم ورکوئ)

❖ ذِمه دار دې د ګرځ وخت مقرر کړي او هره ورځ دې د چوک درس اهتمام کوي مثلاً د شپې نهه بجې **مدینه چوک** کښې، (نهه نیمې) بجې **بَغدادي چوک** کښې وغیره. د چوټئ په ورځ یو نه زیاتو ځایونو کښې د چوک درس اهتمام کوئ (خو چې حُقُوقِ عامَّه ضائع نهٔ شي مثلاً ستاسو په وجه د مسلمانانو لار بنده نهٔ شي ګنې ګنهګار به شئ)

❖ **درس** د پاره داسې نمونځ وټاکئ چې په هغې کښې زیاتو نه زیات اسلامي وروڼه شریک کیدے شي.

❖ **درس** والا نمونځ هم په هغه جومات کښې په اولنې صف کښې د **جَمعې** او تکبیرِ اُولٰی سره ادا کوئ.

❖ **مِحراب** نه یو طرف ته (د جومات په انګڼ وغیره کښې) یو داسې ځائے د درس د پاره مخصوص کړئ چې په هغه ځائے کښې نورو نمونځ کوونکو او تِلاوَت کوونکو ته تکلیف نهٔ رسي.

❖ د **ذِيلي** مُشاوَرَت نګران ته پکار دي چې خپل جومات کښې دوه خیر خواه مقرر کړي چې هغه د درس (یا بیان) په موقع باندې روان کسان نرمئ سره ایساروي او ټول نزدې نزدې کښینوي.

❖ درس ورکولو وخت کښې د پردې د پاسه پرده کوئ او د قَعدې [یعني د اَلتَّحِیَّات] په حالت کښې کښینئ. که اوریدونکي زیات وي نو په ولاړه باندې یا د مائیک په ذریعه هم درس ورکولو کښې باک نشته، خو هله چې نمونځ کوونکو او تِلاوَت کوونکو وغیره ته تکلیف نۀ رسي.

❖ آواز نۀ زیات اوچت پکار دے او نۀ ډیر کم، حَتَّی الْاِمکان دومره آواز کښې درس ورکوئ چې صرف حاضر خلک یې اوري. د دې خبرې همیشه اِحتیاط کوئ چې د درس او بیان په آواز یو اُودۀ کس یا نمونځ کوونکي یا تِلاوت کښې مشغولو کسانو وغیره ته تکلیف نۀ رسي.

❖ درس په قلاره رفتار کښې او درمیانه آواز کښې ورکوئ.

❖ چې کوم درس ورکوئ اول کم از کم هغه یو ځل لولئ چې غلَطۍ پکښې نۀ کیږي.

❖ د فیضانِ سُنَّت مُعَرَّب [یعني زیر، زوَر، پیښ والا] الفاظ د اِعرابو مطابق ادا کوئ دغسې به مو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د تَلَفُّظ صحیح ادا کولو عادت جوړ شي.

❖ حَمد و صَلوٰة، د دُرُود و سلام دواړه صیغې، آیتِ دُرُود او اِختتامی آیتونه وغیره یو سُنِّي عالِم یا قاري ته ضرور واوروئ، هم دغه شان د عربۍ دُعاګانې وغیره مو چې تر څو سُنِّي عالم ته نۀ وي اورَوَلې تر هغې یې یواځې هم مۀ وائې.

❖ فیضانِ سُنَّت نه علاوه د دعوتِ اسلامي اِشاعتي اداره مَکتَبَةُالْمَدِیْنَه نه شائع شوو مَدَنی رِسالو نه هُم درس ورکولے شئ.[1]

❖ درس سره د اِختِتامي دُعا اووه مِنټه کښې دننه دننه مکمل کړئ.

---

[1] (د اَمیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه د رِسالو نه علاوه بل کتاب نه د درس کولو اِجازت نشته. مرکزی مجلس شوریٰ)

❖ هر مُبَلِّغ ته پکار دي چې هغه د **درس طريقه**، آخِري ترغيب **او اِختِتامی دُعا** په يادو زده کړي.

❖ د **درس** په طريقه کښې دې اسلامی خويندې د ضرورت مطابق بدلون وکړي.

# فيضان سُنَّت نه د درس ورکولو طريقه

درې ځله داسې اعلان وکړئ: ”نزدې نزدې تشرِيف راوړئ.“ [بيا درس ورکوونکے پخپله د پردې د پاسه پرده وکړئ او د قَعدې په انداز کښينئ او داسې شروع وکړئ.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

دې نه پس داسې دُرود و سلام اووائې:

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

که جومات کښې يې نو [پخپله هم او په نورو هم] داسې د **اِعتکاف** نِيَّت وکړئ.

**نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف**

(ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت وکړو)

بيا داسې اُووائې: **خوږو خوږو اسلامی ورونو!** په تَوَجُّه او نظر ښکته ساتلو سره د **اللّٰه تَعَالٰی** د رضا د پاره د عِلمِ دِين حاصلولو په نِيَّت د ”فيضانِ سُنَّت“ **دَرس واورَئ** اخوا دِيخوا کتلو، په ځمکه باندې په ګوته لوبې کولو، د جامو، بدن يا وِيښتو وغيره سَمَولو راسَمولو په وجه کيدے شي چې د دې بَرَکتونو ضائع شي. (د بيان په شروع کښې هُم په دې انداز کښې ترغيب ورکوئ او [پخپله او په اوريدونکو هم] ښۀ ښۀ نِيَّتونه کوئ)

د دې وئيلو نه پس **فيضانِ سُنَّت** وغيره نه په کتلو د درود شريف يو فضيلت بيان

کړئ او بيا داسې اُووائې:

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

څه چې ليکلي شوي وي هم هغه لولئ. د آيتونو او عربي عبارتونو صرف ترجَمه لولئ، د يو آيت يا د يو حديث هُم د خپل طرف نه بالکل هيڅ خُلاصه مهٔ بيانوئ.

## د درس په آخره کښې داسې ترغيب ورکړئ

(هر مُبَلِّغ ته پکار دي چې دا په يادو زده کړي او د درس او بيان په آخِره کښې بغير د څه کمي زياتي نه هم داسې ترغيب ورکوي)

خوفِ خُدا او عِشقِ مُصطَفیٰ حاصلولو د پاره په هر خيالي [يعنې د اتوار په شپه] د اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مَدَني مُذاکره د کتلو او اوريدلو او په هر زيات [يعنې د جُمُعې په شپه] د ماښام د نمانځهٔ نه پس د عاشِقانِ رَسُول ديني تنظيم دعوتِ اسلامي د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتِماع کښې د ثواب په نِيَّت د ټولې شپې تيرولو عرض دے د ماسخوتن [د نمانځهٔ] نه پس هلته آرام وکړئ او که **الله** تعالیٰ توفيق درکړي نو د **تَهَجُّد** نمونځ هُم ادا کړئ هره مياشت کم از کم د درې ورځو **مَدَني قافِله** کښې د سُنَّتو ډک سفر او هره ورځ د "**اعمالو جائزه اخستلو**" په ذرِيعه "د نيک جوړيدو مَدَني نُسخه" [يعنې] د **نيک اعمالو** رِساله [کښې خانې] ډکوئ او د هرې اسلامي مياشتې په يکم تاريخ يې د خپل ځائے ذِمَّه دار ته د جَمع کولو معمول جوړ کړئ. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د دې په برکت به مو د سُنَّتو پابند جوړيدو، د ګناه نه د نفرت کولو او د ايمان د حفاظت د پاره د سوچ او فکر ذِهن جوړ شي.

په آخِره کښې په خُشُوع او خُضُوع (يعنې د بدن په عاجزۍ او د زړهٔ په حاضرۍ) او د قبليدو د يقين سره په دُعا کښې د لاس اوچتولو د آدابو د خيال ساتلو سره بغير د څه کمي او زياتي داسې دُعا اُوغواړئ.

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَا مُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط یا اللہ پاکه! په خاطِر د مُصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زمونږه، زمونږ د مور او پلار او د ټول اُمَّت بخښنه وکړې. یا اللہ پاکه! د درس غلطۍ او زمونږه ټول ګناهونه معاف کړې، مونږه عاشِقانِ رَسُول، پرهیز ګاره او د مور او پلار فرمانبردار جوړ کړې. یا اللہ پاکه! مونږ ته په مَدَنی انعاماتو باندې د عمل کولو، مَدَنی قافلو کښې د سفر کولو او د نیکۍ دعوت عام کولو توفیق راکړې. یا اللہ پاکه! مسلمانانو ته بیمارو، قرضدارۍ، بې روزګارۍ، بې اولادۍ، دروغژنو مُقَدَّمو، او قِسماقِسم پریشانو نه خلاصے ورکړې. یا اللہ پاکه! اسلام ته غَلَبه ورکړې او د اسلام دُښمنان مخ تورن کړې. یا اللہ پاکه! مونږ ته د دعوتِ اسلامي دِینی ماحول کښې استِقامَت راکړې. یا اللہ پاکه! مونږ ته د شین ګنبد نه لاندې ستا د خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دِیدار کولو کولو کښې شَهادَت، جَنَّتُ البقیع کښې ښخیدل، او جَنَّتُ الفِردَوس کښې د خپل مَدَنی حبِیب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګاونډ رانصیب کړې. یا اللہ پاکه! د مدینے مُنَوَّرې د خوشبودارو او یخو هواګانو په خاطِر زمونږه جائز مُرادونه پوره کړې.

کہتے رہتے ہیں دعا کے واسطے بندے ترے　　کردے پوری آرزو ہر بیکس و مجبور کی

(وَسائِلِ بخشش (مرمّم) ص۹٦)

وائي بندګان ستا، د پاره د دُعا یا ربّ　　پوره کړې د هر بې وسه او مجبوره مُدَّعا یا ربّ

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

شعر نه پس دا آیتِ مبارک ولولئ:

اِنَّ اللّٰہَ وَمَلٰٓىِٕكَتَهٗ یُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِیِّ ط یٰۤاَیُّهَا

الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَیْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا ﴿۵۶﴾

(پ۲۲، الاحزاب: ٥٦)

تہول دي دُرود اُووائي بیا دا آیتونه ولولئ.

سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۸۰﴾

وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۸۱﴾ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۸۲﴾

(پ ۲۳، اَلصّٰٓفّٰت)

(آخره کښي کلِمه ولولئ او په سُنَّتو د عمل کولو په نِیَّت دواړه لاسونه په مخ راښکاږئ)

## د درس په اخره کښې داسې ترغیب ورکړئ

د الله پاک ویره او د خوږ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عشق حاصلولو د پاره د هر خیالي او اتوار په مېنځنۍ شپه د ماسخوتن د لمونځ نه پس د امیرِ اهلِسنّت مَدَني مذاکره د کتلو اورېدلو او هر زیارت [یعني د جمعې په شپه] د ماښام د لمونځ نه پس د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي په هفته واره د سُنّتو ډکه اجتماع کښې د ثواب په نیت د ټولې شپې تېرولو خواست دے، د ماسخوتن نه پس بې شکه هلته ارام اوکړئ او که الله پاک توفیق درکړي نو تهجد هم ادا کړئ هره میاشت حکم از حکم د درې ورځو مَدَني قافله کښې د سُنّتو ډک سفر او روزانه د خپلو اعمالو د جائزې اخستلو په ذریعه "نیک اعمال" رساله [کښې د خانو] ډکولو او د هرې اسلامي میاشتې په ابتدا کښې تاریخ خپل ذِمه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰه د دې په برکت به مو د سُنّتو د پابند جوړېدو، د ګناهونو نه د نفرت او د ایمان د حفاظت د پاره د فکر مند اوسېدو ذهن جوړېږي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

یا رَبِّ مصطفٰی! د رسولِ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسیله مونږه زمونږ مور پلار او ټول اُمت اوبخښې. یا الله پاکه د درس غلطیانې او زمونږ ټول ګناهونه معاف کړې، مونږه عاشقانِ رسول پرهېزګاره او د مور او پلار تابعدار جوړ کړې، یا الله پاکه! مونږ ته په "نیک اعمالو" د عمل کولو، په مَدَني قافلو کښې د سفر کولو او د نېکۍ د دعوت خورولو توفیق رانصیب کړې. یا الله پاکه! مسلمانانو ته د بیمارو، قرضونو، بې روزګارۍ، بې اولادۍ، د دروغو د مقدمو او د قِسما قِسم پرېشانو نه خلاصے ورکړې. یا الله پاکه! اِسلام ته ترقي ورکړې. یا الله پاکه! مونږ ته د دعوتِ اِسلامي دیني ماحول کښې اِستقامت رانصیب کړې. یا الله پاکه! مونږ ته د ګنبدِ خضرا لاندې، د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دیدار په نظارو کښې شهادت، په جَنّتُ البقیع کښې دفن کېدل او په جَنّتُ الفردوس کښې د خپل مَدَني حبیب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ رانصیب کړې. یا الله پاکه! د مدینې د خوشبودارو ښځو هواګانو په وسیله زمونږ جائزو مرادونو باندې د رحمت نظر اوفرمائې.


فیضانِ مدینه محله سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ.

UAN +92 21 111 25 26 92 / 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net